عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابوحذیفه

مولوی سلطان عزیز عزیز عفی الله عنه

ناشر

دار الکنوز العلمیة

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ ﴾ [حم السجدة]
او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

د "البقرة" [۲۲۹] ایت څخه د "ال عمران" تر [۱۸۰] ایت پورې

دوهم ټوک

مولوي سلطان عزیز (عزیز) أبو حذیفه عفی الله عنه
حسن خیل مومند، د نجم المدارس پخوانی استاذ

ناشر: دار الکوثر العلمیة

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پیښور پاکستان) کې په ۱۴۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نیټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱۴۲۶/۴/۱۲ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۳۱ هـ ش نیټه پای ته ورسیده.

- په ۱۴۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸۶/۱۰/۲۰ هـ ش نیټه بیا کتنه، تصحیح او دېزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.

- له شروع نه تر پایه ورباندې اوولس کاله، حدود میاشتې او اوولس ورځې تیرې شوې، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیول شوې ده.

- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني، تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکاری، دیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکاری.

څلورم چاپ

۱۴۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش

د اړیکو پتې:

۱) برېښنالیک azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۴۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)


د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان

ګرځنده تلفون (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شانه، پیښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵۶۵۵۳۸)


بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ ۖ فَإِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌۢ بِإِحْسَٰنٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُوا۟ مِمَّآ
ءَاتَيْتُمُوهُنَّ شَيْـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا
جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا ٱفْتَدَتْ بِهِۦ ۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ
فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٢٩﴾ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُۥ ۗ
فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ۗ وَتِلْكَ حُدُودُ
ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾ ﴾

[۲۲۹] (رجعي) طلاق دوه ځله دي بيا نو په تاسو باندې يا په معروفه (شرعي) طريقه ساتل واجب دي او يا په احسان سره خوشې کول.

او تاسو ته حلاله نه ده چې د هغه مهر څخه څه شی (د طلاق په بدل کښې) بېرته واخلئ چې ښځو ته مو ورکړی وه، مګر که دوی دواړه (ښځه او مېړه) د دې خبرې څخه په ډار کښې وه چې (د نکاح د بقاء په صوررت کښې به) دوی دواړه د الله ﷻ حدود قائم نه کړی شي.

نو که تاسو ډارېدلئ چې دوی دواړه به د الله ﷻ حدود قائم نه کړي نو په دوی دواړو باندې په هغه شي کښې څه ګناه نشته چې په هغه سره ښځه د طلاق فديه (بدله) ورکړي.

دغه د الله ﷻ حدود (احکام) دي د دې څخه تجاوز مه کوئ. او هر څوک چې د الله ﷻ د حدودو څخه تجاوز وکړي نو دغه کسان همدوی ظلم کوونکي دي.

[۲۳۰] نو که (په دریم ځل باندې) طلاق ورکړي (برابره خبره ده چې د طلاق بدل يې اخستی وي او که نه، نو مطلقه ښځه) دغه مېړه ته د دې څخه وروسته تر هغه حلاله نه ده تر څو د ده څخه پرته (بل) مېړه سره نکاح وکړي (حقيقتاً ورسره جنسي ارتباط ونيسي)، نو که بيا دغه (دوهم مېړه) طلاقه کړه نو بيا په دواړو باندې په دې کښې څه باک نشته چې يو تربله (په نکاح سره) رجوع وکړي که د دواړو دا ګومان وه چې د الله ﷻ حدود به قائم کړي (او پخوانی جنجال به تکرار نه شي). او دا د الله ﷻ حدود (احکام) دي چې د داسې قوم دپاره يې بيانوي چې هغوی پوهېږي (ښه او بد لې پېژني).

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ دا ايتونه د وړاندې ايت دپاره بيان واقع شوي دي چې هلته محض د رجوع کولو حق مېړونو ته ثابت کړی شوی وه او دلته د همدغه حق تفصيل بيانېږي چې ترڅه وخته پورې دوام کوي.

۲ـ يعنې د هغه طلاق شمېر چې د هغه څخه وروسته د عدت په داخل کښې رجوع کول صحت لري صرف دوه طلاقه دي، چې يو ځل طلاق ورکړي نو رجوع کولی شي او که بل ځل بيا طلاق ورکړي هم رجوع کولی شي، او که دوه طلاقونه په يو ځل ورکړي هم رجوع کول صحت لري.

نو د دوهم طلاق څخه وروسته، چې د رجوع کولو آخرنی فرصت دی، په مېړونو باندې واجبه ده چې ښځې په معروفه شرعي توګه وساتي او رجوع ورته وکړي او یا یې په احسان او ښکه طریقه باندې خوشې کړي، چې لاندې صورتونه درلودلی شي:

الف: چې سپکې سپورې خبرې ورته ونه کړي، کرار غلی کیني ترڅو د مطلقې عدت تېر شي او ترې جدا شي نو بیا دې د خپلې وسې په اندازه یو جوړ جامه هم ورکړي او رخصت دې کړي. تر څه وخته پورې چې مېړه ته د رجوع کولو حق شته دا حق هم ورته حاصل دی چې خلعه وکړي (د طلاق په بدل کښې ترې څه مال او پیسې واخلي).

ای مسلمانانو! ستاسو یوه نارینه ته هم هیڅ وخت حلال نه دی چې ورکړی شوی مهر لږ یا ډېر د طلاق په بدل کښې بېرته واخلي ترڅو ورباندې بله ښځه په نکاح واخلي چې د ورکړی شوي مال بېرته اخستل ستاسو د نارینتوب سره منافي کار دی، په احسان سره د پرېښودلو څخه دا هم ده چې څه ترې وانه خلې: او نه ستاسو یوې زنانه ته حلال دي چې اخستل شوی مهر د طلاق په بدل کښې بېرته ورکړي؛ ترڅو د بل مېړه څخه غټ مهر ترلاسه کړي، یعنې طلاق ته تجارتي رنګ ورکول یوه ته هم جائز نه دي. مګر د هغه صورت څخه په غیر چې د دواړو او یا د یوه سره خطر وي چې د نکاح د بقاء په حالت کښې به شرعي حدود د پښنو لاندې کړي.

نو ای مسلمانانو! که دغه خطر څه شواهد هم درلوده حتی چې تاسو سره یې هم ډار وه نو په دې صورت کښې د طلاق په بدله اخستلو باندې مېړه ته او په ورکولو باندې یې ښځې ته څه ګناه نشته.

دا د الله ﷻ شرعي حدود دي، د دې څخه تجاوز مه کوئ چې نه به په دنیا کښې خیر وګورئ او نه به مو په آخرت کښې څه خیر په برخه شي ځکه چې د الله ﷻ د حدودو څخه چې څوک تېری او تجاوز کوي هغوی دومره غټ-غټ ظالمان دي ته به وایې چې د دوی څخه په غیر نور غټ-غټ ظالمان نشته.

ب: چې درېم طلاق هم ورکړي. نو که دغه طریقه یې خوښه کړه بیا نوموړې مطلقه ښځه په هیڅ صورت پخواني مېړه ته جائزه نه ده چې دوهم ځل یې په نکاح کړي ترڅو چې د ده څخه په غیر بل مېړه وکړي او د هغه سره جنسي ارتباط هم قائم کړي.

هو! که دوهم مېړه یې هم طلاقه کړې او عدت یې تېر شو نو بیا په دواړو باندې څه باک نشته چې یو تربله سره په نوې نکاح باندې رجوع وکړي مګر په دغه وخت کښې دې هم دواړه په خیال کښې وساتي چې د الله ﷻ شرعي حدود تر پښنو لاندې نه کړي او که دواړو یا یوه دا ګومان درلود نو ښه دا ده چې د دوهم ځل د نکاح څخه خانونه بچ وساتي ترڅو تېره شوي نادوده او لانجه بیا تکرار نه شي.

۳_ دا چې بیان شوه د الله ﷻ حدود دي، په سپک نظر ورته مه ګورئ، الله ﷻ په هر څه باندې عالم دی او هر کار یې د حکمت څخه ډک دی، خو د دې بیان څخه هغه قوم ګټه اخستلی شي چې هغوی پوهېږي او د اسماني شریعت او بشري قوانینو فرق کولی شي او د دواړو په تفاوت باندې یې ه نه خلاصېږي.

توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې: د ﴿ ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِ ﴾ څخه خو مطلب دا دی چې رجعي طلاقونه صرف دوه دي، نو د څه حکمت په بنياد "الطلاقُ اثْنَتَانِ" ونه ويل شوه، چې د هغه عبارت څخه واضحه دی؟.

مونږ وايو چې: د ﴿مَرَّتَانِ﴾ کلمه بالعبارة او بالإشارة په دوه عددونو او دوه زمانو، دوارو باندې دلالت کوي. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې د رجعي طلاقونو شمېر صرف دوه دی خو په دوه زمانو (دوه وارونو) کښې[1]. که دواړه په يوه زمانه (يو وار) باندې ورکړی شي، په واقع کېدلو کښې خو يې شک نشته مګر د سنتو په طريقه باندې برابر نه دي بلکې بدعي ګڼل کېږي[2].

نو که د "اِثْنَتَانِ" کلمه ويلې شوې وی، دوهم مطلب به پاتې شوی وی.

د ګناه په لحاظ د طلاق ډولونه

۲ـ څرنګه چې طلاق په واقع کښې د يوې کورنۍ ورانول دي نو بايد چې د اشد ضرورت څخه پرته ورته څوک اقدام ونه کړي د همدې کبله د "أَغْلَظُ المُبَاحات" په نامه يادېږي يعنې طلاق ډېر غليظ مباح دی.

نو شريعت ورته يوه طريقه ټاکلې ده چې د همدې طريقې په اعتبار په دوه ډوله وېشل کېږي[3]:

الف: سُني طلاق: يعنې هغه يو رجعي طلاق چې په داسې طُهر کښې ورکړی شي چې په هغه کښې يې ورسره جنسي ارتباط نه وي نيولی، او بيا په همدغه يوه طلاق باندې تر آخره اکتفاء وکړي ترڅو يې چې عدت تېر شي او ترې جدا شي. دا ډېره ښه طريقه ده.

او که په نوموړي صورت کښې يې په دوهم طُهر کښې دوهم طلاق ورکړ او په درېم طهر کښې يې درېم ورکړ، نو دا هم د سنتو طريقه ده خو ډېره ښه نه ده، لږ ښه ده.

ب: بِدعي طلاق: يعنې هغه طلاق چې د سنتو په طريقه برابر نه وي، چې لاندې صورتونه لري:

اول: چې په حيض کښې يې طلاقه کړي حال دا دی چې ښځه واده شوې وي.

دوهم: چې په داسې طهر کښې يې طلاقه کړي چې په هغه کښې يې جنسي ارتباط ورسره نيولی وي.

درېم: چې دوه طلاقونه يا درېواړه طلاقونه په يو ځل او يا په يوه طهر کښې ورکړي[4].

هېر مو نه شي!

۳ـ هېر مو نه شي چې که څوک خپلې ښځې ته د حيض په حالت کښې او يا په هغه طهر کښې چې جنسي ارتباط يې ورسره نيولی وي طلاق ورکړي نو په کار دي چې بېرته ورته رجوع وکړي ترڅو

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۸۵؛ تفسير أبي السعود ج۱ ص۲۲۶؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۳۶

(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۳۵؛ البحر المحيط ج۲ ص۱۹۲

(۳) تفسير القرطبي ج۳ ص۱۳۲؛ التفسيرات الأحمدية ص۱۲۴؛ تفسير المظهري ج۱ ص۲۰۲

(۴) روح المعاني ج۲ ص۱۳۷

د ګناه څخه خلاص شي نو که طلاقولو ته يې ضرورت وه په وخت سره به يې د سنتو په طريقه باندې برابره طلاقه کړي. نبي کريم ﷺ د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په باره کښې چې خپله ښځه يې د حيض په حالت کښې طلاقه کړې وه په همدې ډول هدايت کړی وه[١].

د وقوع په اعتبار سره د طلاق اقسام

۴ـ د وقوع په اعتبار سره طلاق په درې ډوله دی: (١) رجعي طلاق، (٢) خفيف بائن طلاق، (٣) غليظ بائن طلاق:

رجعي طلاق

۵ـ رجعي طلاق د هغه طلاق نوم دی چې د طلاق په صريح لفظ سره ورکړی شي او شمار يې درېوو ته نه وي رسېدلی.

د دې ډول طلاق حکم دا دی چې ترڅو يې عدت نه وي تېر شوی مېړه کولی شي چې په قول يا فعل باندې خپلې ښځې ته بېرته رجوع وکړي او د طلاق څخه صرف نظر شي. د نکاح تجديد ته يې حاجت نشته.

خفيف بائن

۶ـ خفيف بائن طلاق د هغه طلاق نوم دی چې رجوع پکښې صحت نه لري خو د بل مېړه کول هم پکښې ضرور نه دي يوازې د نکاح تجديد لازم دي. د خفيف بائن (اسان جداکېدونکي) طلاق لاندې صورتونه ولولی:

الف: چې په صراحت سره طلاق ورنه کړي بلکې د کنايې په توګه وي، لکه چې ورته ووايي چې د کوره ووځه، او د طلاق نيت وکړي. که د طلاق نيت يې ونه کړ طلاق نه واقع کېږي. په ټولو کناياتو کښې نيت ضرور دی.

ب: چې د پيسو په بدل کښې طلاق ورکړي، نو که په همدې صورت کښې يې د طلاق کلمه استعماله کړه د "طلاق علی مال" په نوم يادېږي او که د طلاق د لفظ په عوض يې د خلعې (خوشې کولو) کلمه استعماله کړه نو د خلعې په نوم يادېږي، چې په همدې ايت کښې د بحث لاندې ده.

په هر تقدير، خلعه بائن طلاق دی او د مال اندازه هم پکښې محدوده نه ده، لږ وي او که ډېر، په مهر کښې ورکړی شوي وي او که نه[٢].

د خلعې په ارتباط وضاحتونه

اول: په مسلمانانو کښې اولنۍ ښځه چې د خپل مېړه څخه يې د مال په بدل کښې طلاق اخستی وه (خلعه يې ورسره کړې وه) هغه "جميله" نومېده او د مېړه يې "قيس" نوم وه، چې په مهر کښې يې

(١) صحيح مسلم ج١ ص۴٧۵

(٢) التفسير الکبير ج۶ ص١٠٩: روح المعاني ج٢ ص١۴١

ورته يوه باغچگۍ ورکړې وه او د خلعې په صورت کښې يې ترې بېرته ترلاسه کړه او د ښځې څخه صرف نظر شو[۱].

دوهم: که څوک وايي چې: د ايت شريف څخه څرگندېږي چې خلعه په هغه صورت کښې جائزه ده چې د مېړه او ښځې سره خطر وي چې د نکاح د بقاء په صورت کښې به شرعي حدود قائم نه کړی شي، نو که دا شرط نه وي خلعه کول صحت نه لري؟

مونږ وايو چې: صحت لري او دا خکه چې ښځه د خپل مال مالکه ده لکه چې په [النساء:۴] ايت کښې ورته اشاره شوې ده، مگر د مجبورولو په صورت کښې پکښې گناه شته.

ذکر شوی مطلب په لاندې حادثه کښې ښه واضحه شوی دی چې:

د عمر بن الخطاب ﷺ په خلافت کښې يوې ښځې د خپل مېړه سره بده گوزاره اختياره کړه چې عمر ﷺ د خرو په تبيله کښې درې ورځې بندۍ کړه، په څلورمه ورځ يې ترې پوښتنه وکړه چې په تبيله کښې دې شپې څنگه دي؟، هغې جواب ورکړ چې همدغه درې شپې مې د خوشالۍ وې چې د مېړه څخه جدا وم يعني د مېړه سره اوسېدل راته د خرو د تبيلې څخه هم ډېر بد په نظر راځي.

نو عمر ﷺ يې مېړه ته وويلې چې خلعه ورسره وکړه که په ډېر لږ شي باندې وي هم، په ښځه کښې دې خير نشته. مونږ هم پوه شوو چې شپه مو سره نه تېرېږي او گوزاره مو خرابه ده[۲].

ج: چې د خپلې ښځې سره ايلاء وکړي. لکه چې د [البقرة: ۲۲۶] ايت لاندې يې بحث تېر شوی دی.

د: چې د خپلې ښځې سره ملاعنه وکړي، چې د [النور: ۶] ايت کښې يې بحث راروان دی.

ﻫ: د هغې ښځې چې واده شوې نه وي، هر يو طلاق بائن دی، رجعي طلاق د دې په هکله نشته او نه ورباندې عدت شته.

و: چې په رجعي طلاق کښې عدت تېر شي، هم بائن گرځي.

هېر مو نه شي!

۷_ هېر مو نه شي چې که څه هم په ذکرو شوو دوارو دولو طلاقونو کښې دا حکم دی چې مطلقه ښځه بېرته خپل مېړه ته يا په رجوع او يا د نکاح په تجديد سره ورتاوېدلی شي لکه څنگه يې چې وړاندې بيان تېر شو مگر په هر يو صورت کښې يې د درې طلاقونو د مجموعې څخه هغه طلاق وضعه کېږي کوم يې چې ښځې ته ورکړی دی. لاندې صورتونه يې د ښه وضاحت په غرض ولولی:

الف: که دوه رجعي طلاقونه يې ورکړه او بيا يې ورته رجوع وکړه نو دغه مېړه د يو طلاق خاوند دی، نو که بالفرض بل وار يو طلاق ورکړي ښځه ورباندې غليظه بائنه گرځي.

ب: که په خفيف بائن باندې يې طلاقه کړه او بيا يې د نکاح تجديد وکړ نو د طلاقونو د مجموعې څخه يې يو کم شو، همدارنگه د يو رجعي طلاق حکم هم درواخلی:

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۹۴
(۲) البحر المحيط ج۲ ص۱۹۹

هوا په یو صورت کښې مېړه د دوهم ځل دپاره د درې طلاقونو خاوند ګرځي چې مطلقه ښځه په هر یو طلاق باندې چې طلاقه شوې وي بل مېړه وکړي او د شرعي مراحلو د سر ته رسولو څخه وروسته د دوهم ځل دپاره د اول مېړه په عقد کښې راشي[۱].

غلیظ بائن طلاق

۸ـ کله چې د طلاقونو شماره دریوو ته ورسېږي نو دریم طلاق ته د غلیظ بائن (سخت جدا کوونکي) لقب ورکول کېږي.

د دې طلاق حکم

۹ـ د دې طلاق حکم دا دی چې په لاندې شرطونو سره په دغه طلاق باندې د مطلقې ښځې نکاح صحت پیدا کوي:

الف: چې عدت تېر کړي.

ب: چې دوهم مېړه وکړي.

ج: چې دوهم مېړه ورسره جنسي ارتباط حقیقتاً قائم کړي.

د: چې دوهم مېړه یې طلاقه کړي.

ه: چې د دوهم مېړه عدت یې هم تېر شي.

په دغو پنځو شرطونو کښې د نورو شرطونو اثبات ته حاجت نشته، واضحه دي، یوازې دریم شرط په لاندې دلایلو باندې جمهورو علماوو لازم ګرځولی دی:

اول: په ایت شریف کښې د ﴿ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا ﴾ کلمات تلاوت کوو چې د ﴿ زَوْجًا ﴾ کلمه په نکاح باندې دلالت کوي او د ﴿ تَنكِحَ ﴾ کلمه په جماع (جنسي ارتباط) باندې.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې تر هغه اولني مېړه ته جواز نه لري ترڅو د بل مېړه سره، چې په نکاح سره یې مېړه شوی وي، جماع وکړي.

دوهم: نبي کریم ﷺ ته یوه ښځه راغله او ورته یې وویلې چې: زه د رفاعه ؓ ښځه وم خو په غلیظ بائن طلاق باندې یې طلاقه کړم، ما د دې څخه وروسته عبد الرحمن بن الزبیر ؓ په نکاح واخست خو د هغه سره د څادر د پیڅکې (زوڼدې) څخه په غیر بل شی نه وه (په جماع باندې یې وسه نه کېدله) خو دغه دوهم مېړه هم طلاقه کړم. نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: شاید ته غوارې چې بېرته رفاعه ؓ ته ورتاوه شې (هغه په نکاح واخلې)؟، دغسې کار امکان نه لري «حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ»[۲] یعني: ترڅو چې ته د هغه مزه ګوټې وڅکې او هغه ستا څخه مزه کې وڅکي.

دریم: د عبد الله بن عمر ؓ څخه روایت دی چې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې که یو سړی

(۱) البحر المحیط ج۲ ص۲۰۳؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۵۲؛ التفسیرات الأحمدیة ص۱۳۲

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۹۱

ښځه په درې طلاقونو باندې طلاقه کړې او هغه بل سړي په نکاح واخلي نو دروازه بنده کړي او پردې راخورې کړي (خلوت ورسره وکړي) خو جنسي ارتباط ورسره ونه نیسي، نو که دغه دوهم مېړه يې طلاقه کړي (ايا اول مېړه ته روا ده چې په نکاح باندې يې واخلي)؟.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «لَا تَحِلُّ لِلْأَوَّلِ حَتَّى يُجَامِعَهَا الْآخَرُ»[۱] يعني: اول مېړه ته تر هغې نه حلالېږي ترڅو چې بل مېړه ورسره جماع وکړي.

سوال جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: د تحليل په غرض د ذکر شوي مطلقې ښځې نکاح کول صحت لري او که نه؟

موږ وايو چې: په دې باره کښې د نبي کريم ﷺ څخه زښت ډېر احاديث روايت شوي دي[۲]، چې لاندې يو حديث د مثال په توګه ولولئ:

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې: «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْمُحِلَّ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ»[۳] يعني: نبي کريم ﷺ لعنت ويلی دی په محلل (هغه څوک چې نوموړې مطلقه ښځه په دې نيت نکاح کړي چې طلاق کوونکي سړي ته بېرته جائزه شي)، او په محلل لهٗ (هغه څوک چې د هغه دپاره دغه کار صورت نیسي ترڅو ورته نوموړې ښځه جواز پیدا کړي).

ځينې علماء د ذکر شوي حديث حاصل داسې اخلي چې دغسې نکاح جائزه نه ده څکه دواړه ورباندې د لعنت مستحق ګرځي[۴].

اما احناف رحمهم الله تري داسې معنی اخلي چې دغه نکاح صحت لري، څکه چې نبي کريم ﷺ ورڅخه د محلل په نوم تعبير کړی دی، که صحت يې نه درلودی نو دغه نوم (حلالوونکی) به يې ورباندې نه وی ايښی. اما د لعنت استحقاق يې په لاندې وجوهو سره منځ ته راځي:

الف: چې د نکاح په عقد کښې بېرته طلاقول شرط کړي، نه هغه چې په زړه کښې يې طلاق وي خو تلفظ ورباندې ونه کړي[۵].

ب: چې يو سړی دغه ډول کار د خپل ځان دپاره کسب جوړ کړي، که محض د خير رسونې په غرض ورته اقدام وکړي او خپل کسب يې نه وي جوړ کړی نو د اجر اميد هم پکښې شته[۶].

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۱۰۱.
(۲) تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۷۹؛ تفسير القاسمي ج۳ ص۲۵۱
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۱۳
(۴) تفسير القاسمي ج۳ ص۲۵۲
(۵) تفسير المظهري ج۱ ص۳۱۴
(۶) روح المعاني ج۲ ص۱۴۲

وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا۟ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا ۚ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾

[۲۳۱] او کله چې تاسو ښځې طلاقې کړئ نو هغوی خپلې نیټې ته ورنږدې شي نو یا یې په معروفه شرعي طریقه باندې رابندې کړئ (وېې ساتئ) او یا یې په معروفه شرعي طریقه باندې خوشې کړئ.

او تاسو یې د ضرر رسونې د کبله مه رابندوئ چې په دوی باندې تېری وکړئ. او څوک چې دغه کار (تېری) وکړي نو بې شکه په خپل ځان باندې یې ظلم وکړ.

او تاسو د الله ﷻ ایتونه (احکام) مسخره مه جوړوئ.

او د الله ﷻ نعمتونه چې په تاسو باندې یې کړي دي درپه یاد کړئ او (مه) په هغه شي باندې (ملنډې وهئ) چې (الله ﷻ) په تاسو باندې نازل کړی دی چې هغه (د الله ﷻ) کتاب او حکمت (د نبي کریم ﷺ احادیث) دي چې الله ﷻ ورباندې ستاسو خیر غواړي او د عذاب څخه مو ورباندې داروي.

او د الله ﷻ څخه ودار شئ او پوه شئ چې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی (هیڅ شی ترې نه شي پټېدلی).

د مطلب خلاصه

۱_ کله چې تاسو ښځې طلاقې کړئ او هغوی خپل عدت تېرېدلو ته ورنږدې شي، نو ستاسو دپاره وروستنی چانس (فرصت) دی چې یا یې په مشروعه طریقه وساتئ رجوع ورته وکړئ او ټول شرعي حقوق یې ادا کړئ او بې موجبه ورباندې تېری ونه کړئ، او یا یې په مشروعه طریقه خوشې کړئ او د رجوع کولو څخه یې صرف نظر وکړئ.

په مشروعه توګه ساتل یې دا دي چې د ضرر رسولو په نیت ورته رجوع مه کوئ چې په دغو مطلقو ښځو باندې تجاوز وکړئ او عدت ورباندې اوږد کړئ، او یا چې په دغه کار کښې مو د ښځو (مطلقو) زوررول مطلب وي او یا مو پکښې خلعې ته د هغې مجبورول مطلب وي چې ترڅو ترې په مهر کښې ورکړی شوی مال په همدې بهانه بېرته ترلاسه کړئ.

۲_ هو، په دغو درې طلاقونو کښې هم څه اندازه د عدت د اوږدوالي امکان شته خو هرڅوک چې دغه ډول معامله وکړي هغه په خپل ځان باندې ظلم وکړ چې د الله ﷻ د عذاب دپاره یې خپل ځان مستحق وګرځاوه. نو لکه څنګه چې یې مطلقه ښځه په عدت کښې محبوسه کړه همدارنګه به یې الله ﷻ په عذاب (دوزخ) کښې محبوس کړي.

۳_ د الله ﷻ ایتونه او احکام د مسخرو او ټوکو (سات تېری) ذریعه مه ګرځوئ ځکه چې الله ﷻ

عبث نه دي نازل کړي، که بالفرض تاسو د الله ﷻ احکامو ته عملي بڼه ورنه کړئ او د قانون څخه بده استفاده وکړئ او په دې بهانه چې دوه کرته درته د رجوع کولو حق شته په ښځو باندې عدتونه اوږده کړئ نو دا کار په اسلامي شریعت باندې ملنډې وهل دي.

۴_ تاسو باید په دې خوشاله شئ چې الله ﷻ د اسلامي نعمت پېرزوینه درباندې وکړه او د جاهلیت د تورو تیارو څخه یې رابهر کړئ، د دغه لوی نعمت یادونه په شکر او عمل سره کېږي، نه په دې چې د خپل بد عمل دپاره ترې لباس او جامه جوړه کړئ.

۵_ همدارنګه تاسو د هغه شي تذکر او یادونه هم وکړئ چې الله ﷻ په خپل فضل باندې په تاسو نازل کړی دی چې هغه د الله ﷻ کتاب او د نبي کریم ﷺ د احادیثو څخه عبارت دی.

د نعمتونو د جملې څخه دا هم ده چې طلاق یې ستاسو په لاس ګرځولی دی، که بالفرض طلاق د ښځو په لاس وی او په تاسو باندې یې د عدت د اوږدوالي په غرض رجوع کولی نو تاسو ته به څومره مشکله تمامېدلی. نو تاسو ته په کار دي چې د الله ﷻ د نعمتونو څخه د الله ﷻ په عصیان او نافرماني کښې استفاده ونه کړئ.

او الله ﷻ په همدغه شي باندې ستاسو خیر غوښتنه کوي او د خوشالۍ ژوند ته مو رابولي.

۶_ د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ او په دې باندې پوه شئ چې ستاسو هیڅ کړه وړه او هیڅ نیت او اراده ورڅخه پټه نه ده. برسېره په دې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی او هر څه ورته معلوم دي.

توضیحات

۱_ په دې مقام کښې د "بَلَغۡنَ" کلمه د "قَارَبۡنَ" په معنی سره ده[1]، ځکه چې مطلقې ښځې ته تر هغه د رجوع کولو صحت شته چې عدت آخر ته نه وي رسېدلی او کله چې آخر ته ورسېده او تمام شو نو د نکاح د تجدید څخه په غیر ورته مېړه نه شي ورتاوېدلی.

هوا که په ﴿ فَأَمۡسِكُوهُنَّ ﴾ کښې "إِمۡسَاكٌ" (د خانه سره ساتل) عام واخستل شي چې په رجوع کولو سره وي او که د نکاح په تجدید سره، نو بیا یې د خپلې معنی په صحت کښې شک نشته[2].

مګر اکثرو علماوو کرامو اوله معنی غوره کړې ده.

سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د دغه ایت حکم د [البقرة:۲۲۹] ایت کښې نازل شوی دی نو څه حکمت دی چې په همدا یو محل او یوه موضوع کښې دوهم ځل نازل کړی شو؟

الف: په دري طلاقونو کښې هم څه ناڅه د عدت اوږدېدل ممکن دي چې د دریم حیض په آخر کښې ورته رجوع وکړي او په متصل طهر کښې یې بیا طلاقه کړي، بیا ورته د دریم حیض په آخر کښې رجوع وکړي او په متصل طهر کښې یې دریم خل طلاقه کړي.

نو په دې تقدیر هم وړاندې درې حیضونه نهو حیضونو ته اوږدېدلی شي، سره د دې چې دغه ډول اوږدول قانوني بڼه هم لري چې که په وړاندېني ایت کښې یې مخه نه وه نیولې شوې.

نو الله ﷻ نوموړی حکم د تاکیداتو او وعیداتو په ضمن کښې دوهم ځل توضیح کړ چې مسلمانان د جاهلیت بد رواج ته په شرعي لباس کښې اقدام ونه کړي.

ب: هلته وړاندې د خلعې بیان مرتب شوی وه چې په رجعي طلاقونو سره د عدت په داخل کښې د خلعې فرصت باقي دی، او دلته وړاندې دا مرتبېږي چې طلاقونه په درېوو کښې منحصر دي، ټوکه او مسخرې وړاندې تاثیر نه اچوي ترڅو د جاهلیت د یوه بد رواج مخه ونیوله شي چې یو خل به یوه سړي خپله ښځه طلاقه کړه خو بیا به یې ویلې چې ما ټوکه کوله او کله به یې خپل غلام ازاد کړ خو بیا به یې ویلې چې ما ټوقه کوله؛ نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو، چې د الله ﷻ په احکامو باندې ټوکې مه کوئ که بالفرض تاسو وړاندې ټوکې وکړئ هم هغه په شریعت کښې ټوکې نه ګڼلی کېږي[1] نو ټوکه به مو تکاله شي.

لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ النِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ»[2]

یعنې: درې شیان دي چې قصد یې هم قصد دی او ټوکه کول هم پکښې قصدي ګڼل کېږي چې یوه نکاح ده بل طلاق دی او بل مطلقې ښځې ته رجوع کول دي.

ج: هلته د جاهلیت د زماني رواج ته اشاره شوې وه چې لاس ترې واخلي چې یا یې په معروفه طریقه وساتئ او یا یې په نېکۍ سره خوشې کړئ، او دلته نوموړی رواج په صراحت سره غیر شرعي ګڼلی شوی دی چې: ﴿ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا ﴾ یعنې: او تاسو یې د ضرر رسولو د کبله مه ایساروئ چې تجاوز پرې وکړئ.

برسېره په دې دلته د دې دپاره د "مامور به" په ضد ﴿ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ﴾ باندې صراحت وکړی شو چې ټولو اوقاتو ته شامل شي. یعنې په هیڅ وخت یې د ضرر رسوني په غرض مه ساتئ او تکلیف مه ورکوئ"[3].

د: د همدې ایت سره متصل د دوهم مېړه طلاق ذکر شوی دی چې که ښځه طلاقه کړي بیا اول مېړه ته جائزه ده چې په نکاح باندې یې واخلي که څه هم هغه په درې طلاقونو باندې طلاقه کړې وه.

په همدې مناسبت باندې ذکر شوی حکم بیا ذکر شو چې د ښځو په طلاقونو کښې باید دوهم مېړه هم د بیان شوې طرز العمل څخه کار واخلي، او په مطلقه باندې د عدت موده اوږده نه کړي.

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۴۳
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۲۵؛ سنن أبي داوٗد ج۱ ص۲۹۸
(۳) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۱۶

نو په دې تقدير به دې خبرې ته هم نړۍ اشاره وي چې بايد صرف د دې دپاره طلاقه نه کړی شي چې اولني مېړه ته حلاله وګرځي، او دا خکه چې دا ډول خوشې کول په ﴿ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ﴾ کښې شامل نه دي

د الله ﷻ په ايتونو باندې استهزاء

۳_ که څه هم د الله ﷻ په ايتونو او احکامو باندې استهزاء کول (ملنډې وهل) کفر دی مګر په دې مقام کښې مسلمانانو ګناه کوونکو ته په ډېره سخته لهجه سره خطاب کړی شوی دی، چې ستاسو حالت چې د ايمان او اسلام دعوه کوئ خپل خانونه د الله ﷻ او د هغه ﷻ د رسول ﷺ د احکامو منونکي ګڼئ خو سره د دې هم په طلاق، رجوع، خلعه او نورو تکليفونو کښې ورته غاړه نه ږدئ؛ داسې ګڼل کېږي لکه چې په شريعت باندې ملنډې وهئ او خندا ورپورې کوئ"[۱].

خينو مفسرينو کرامو هغه استغفار هم د ملنډو غونډې ګڼلی دی چې د يو پلوه په ګناه باندې اصرار او همېشه والی کوي او د بل پلوه ترې د مغفرت طلب او غوښتنه کوي[۲].

وَعظ څه ته وايي؟

۴_ هغه کلمات د وعظ په نامه يادېږي چې د يو پلوه پکښې د مخاطب خير او ګټې نغښتې وي او د بل پلوه يې په زړه باندې رقت او نرمي راولي[۳].

په دې مقام کښې يې حاصل داسې کېږي چې: الله ﷻ تاسو ته خپل احکام په ډېره موثره طريقه باندې بيان کړي دي چې بايد تاسو ورته لبيک ووايئ، خکه چې دغه ټول احکام او حدود خصوصاً هغه احکام چې ستاسو ازدواجي ژوند پورې تعلق لري، ستاسو د ګټو او منافعو څخه ډک دي، تاسو نه به کار دي چې سستي پکښې ونه کړئ، که نه نو د الله ﷻ د عذاب سره به مخامخ شئ.

﴿ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْا۟ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (۲۳۲) ﴾

[۲۳۲] او کله چې تاسو ښځې طلاقې کړئ نو هغوی خپلې نېټې (عدت) ته ورسېږي نو هغوی مه منعه کوئ چې خپل (پخواني) مېړونه په معروفه (شرعي) طريقه باندې په نکاح سره واخلي کله چې دوی دواړه خواوې سره يو تربله راضي وي.

---

(۱) تفسير المنار ج۲ ص۳۹۷

(۲) تفسير القرطبي ج۳ ص۱۵۷

(۳) مفردات الراغب ص۵۶۴

دا کار چې دی ستاسو څخه ورباندې هغه چا ته پند ورکول کېږي کوم چې په الله ﷻ او وروستنۍ ورځ باندې یې ایمان راوړی وي.

دا کار ستاسو دپاره ډېر مفید دی او ښه پاکوونکی دی. او الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

ارتباط

۱ ـ تردې خایه هغه احکام او حدود بیان کړی شوه چې د نکاح او عدت په داخل کښې باید د زنانه وو په اړوند مراعات کړی شي او ظلم ورباندې ونه کړی شي.

د دې خای څخه وروسته هغه احکام بیانېږي چې باید په زنانه وو باندې د عدت د تېرېدنې څخه وروسته هم د ظلم څخه خان وساتل شي. چې د ټولو څخه وړاندې باید دوی خپلې خوښې ته پرېښودلې شي هرڅوک یې چې خوښ وي همغه ته خپل خان په نکاح باندې ورکړي، په دوی باندې دې د مېړه په انتخاب کښې هیڅوک بندیز نه لګوي برابره خبره ده چې بندیز لګوونکی د دې ښځې پخوانی مېړه وي یا یې خپلوان او اقارب وي او یا حتی حاکمان او قاضیان وي.

شان نزول

۲ ـ د ذکر شوي ایت شریف په شان نزول کښې مفسرینو کرامو څو روایتونه لیکلي دي خو د هغو د جملې څخه یو لاندې روایت دی چې:

معقل بن یسار ؓ یو صحابي وه چې خپله خور یې یوه بل صحابي (أبي البداح ؓ) ته په نکاح ورکړې وه خو هغه په رجعي طلاق باندې طلاقه کړه او د عدت په دننه کښې یې ورته رجوع هم ونه کړه ترڅو چې تري جدا شوه.

د عدت د تېرېدلو څخه وروسته د نورو صحابه وو کرامو ؓ ترڅنګ چې د ذکرې شوې مطلقې د نکاح غوښتنه یې کوله أبو البداح ؓ هم په غوښتونکو کښې خان وشمېره او د دوهم ځل دپاره یې د ذکرې شوې مطلقې د نکاح کولو هیله څرګنده کړه او د مطلقې هم همدغه صحابي ؓ ته خوښه وه چې بیا خپل خان په نکاح باندې ورکړي، مګر د دې ورور (معقل ؓ) قسم وکړ چې دوهم ځل به خپله خور هغه چا ته ورنه کړم چې هغه یو ځل طلاقه کړې ده.

نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو او لانجه یې هواره کړه. معقل ؓ د خپل قسم کفاره اداء کړه او خپله خور یې أبو البداح ؓ ته د دوهم ځل دپاره په نکاح ورکړه[۱].

که څه هم د ایت شریف د نازلېدلو سبب یوازې د مطلقې د ورور ممانعت وه مګر الله ﷻ ټول مسلمانان مکلف وګرځول چې باید هیڅوک د طلاقې شوې ښځې د نکاح مانع ونه ګرځي، کله یې چې عدت تېر شي باید په خپله خوښه بل مېړه وکړي، هرڅوک چې وي، پخوانی مېړه وي او که بل نوی مېړه وي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۹

د مطلب خلاصه

۱_ يعني: اى مسلمانانو! كله چې تاسو ښځې طلاقې كړئ او هغوى خپلې تاكلې شوې نېټې ته ورسېږي او عدت تېر كړي نو هغوى بيا مه منعه كوئ چې خپل پخواني مېړونه او يا نور مېړونه ـ هرڅوک يې چې خوښ وي ـ په نكاح باندې واخلي.

هو! دا په هغه وخت كښې چې دوى سره راضي او خوشاله وي او شرعي مانع هم موجود نه وي.

۲_ په دغې خبرې باندې الله ﷻ ستاسو خير غواړي او د مخالفت په صورت كښې مو د خپل عذاب څخه وېروي مگر په همدې موعظه باندې هغه څوک عمل كوي چې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې باندې يې ايمان راوړى وي. ځكه چې ايمان د عمل غوښتونكى دى او د مؤمن په ټول بدن باندې حكومت كوي.

۳_ اى مؤمنانو! دا كار ستاسو دپاره گټور دى، كومه كينه چې د طلاق څخه راپورته شوې وى هغه پرې د منځه ځي او په عوض يې مينه او محبت ځاى نيسي.

برسېره په دې دا كار ستاسو د نېكنامى دپاره هم ډېر گټور دى چې په دې سره ټولې هغه شبهې او اشتباهات لرې كېږي چې په خينو ذهنونو كښې راپيدا كېږي چې فلانۍ ښځې ته به يې په څه سبب باندې طلاق وركړى وي؟ ايا په دې كښې به څه بدخوى او بد خاصيت موجود وه؟.

۴_ همدارنگه د مطلقې دپاره د پخواني مېړه څخه په غير بل مېړه كول همداسې گټې او فايدې لري چې د وخت په تېرېدنې سره د پخواني مېړه كينه وركېږي او هم خلكو ته معلومېږي چې په مطلقه كښې څه بد خاصيت موجود نه وه. كه بالفرض ښكښې موجود وى نو دغه بل سړي به ولې په نكاح كولى. خصوصاً په هغه وخت كښې چې د دوهم مېړه سره يې ښه گوزاره خلک وگوري.

الله ﷻ پوهېږي چې د مطلقې مخه ازاده پرېښودل گټور كار دى، تاسو نه پوهېږئ، څوک چې نه پوهېږي بايد د علم د خاوند خبره ومني، د زمانو په مرور سره به درته ثابته شي چې رښتيا الله ﷻ پوهېده او مونږ نه پوهېدو.

توضيحات

۱_ د پخواني مېړه منعه كول په لاندې څېرو كښې څرگندېدلى شي:

الف: چې خپلې مطلقې پسې پروپاگند او بدې ردې ووايي، ترڅو د رغبت كوونكو رغبت مات كړي او د نكاح مخه يې ونيسي.

ب: چې د شخصي نفوذ څخه كار اخلي او په مخ او خاطر سره د خلكو څخه وغواړي چې فلانۍ په نكاح باندې وانخلي.

ج: چې په خپل زور او قوت باندې نازېږي او څوک يې نكاح كولو ته نه پرېږدي.

۲_ كه څه هم په شريعت كښې د كفائت (سيالى) مسئله شته مگر د نكاح په صحت باندې څه تاثير نه اچوي، د غير سيال سره هم نكاح كول صحيح دي خو د ژوند د ترېخوالي خطره ښكښې شته.

نو په دې مقام کښې د ايت حصل داسې کېږي چې: بايد د معروفې شرعي نکاح مخه څوک ونه نيسي. که بالفرض ښځه غواړي چې خپله نکاح د غير سيال سره وتړي او خپلوان يې د ښه معاشرت په خاطر ورباندې اعتراض وکړي نو دوی د دې ايت د حکم لاندې نه راځي ځکه چې د غير سيال سره نکاح کول په شريعت کښې معروف نه دي خو صحت لري.

﴿ وَٱلْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَـٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَ ۚ وَعَلَى ٱلْمَوْلُودِ لَهُۥ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦ ۚ وَعَلَى ٱلْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ ۗ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُوٓا۟ أَوْلَـٰدَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّآ ءَاتَيْتُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾ ﴾

[٢٣٣] او مورګانې دې خپلو اولادونو ته پوره دوه کاله تی ورکوي (خو دا حکم) د هغه چا دپاره دی چې هغه د تي ورکولو د مودې د تمامولو اراده لري.

او په هغه چا باندې چې ماشوم ورته زېږول شوی دی د هغوی (مورګانو) روزي او جامه په معروفه طريقه واجبه ده. (نو) هيچا ته دې د هغه د توان د اندازې څخه زيات تکليف ونه رسول شي.

مور دې د خپل ماشوم په ذريعه (د ماشوم پلار ته) ضرر نه رسوي، او نه دې مَولُود لَهٗ (يعنې پلار، د ماشوم مور ته) د ماشوم په ذريعه ضرر رسوي. او (د پلار د وفات په صورت کښې) د ماشوم په (نږدې) وارث باندې ذکر شوي احکام لازم دي.

نو که دوی دواړه (موز او پلار) يې د تي څخه د پرېې کولو اراده وکړي چې د دواړو د خوښې او مشورې څخه (يې منشا نيولې) وي نو په دواړو باندې (د دوه وو کالو څخه په زيادت او يا کمبود کښې) څه باک نشته.

او که تاسو اراده وکړئ چې خپلو ماشومانو ته (د مور څخه په غير بله) تی ورکوونکې زنانه مونده کړئ نو هم په تاسو باندې څه باک نشته خو چې هغه څه ورته تسليم کړئ کوم مو چې په معروفه طريقه ورکړي وي (ورته مو منلي وي).

او د الله ﷻ څخه وډار شئ او پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ په هغو کارونو باندې بينا دی چې تاسو يې کوئ (ستاسو ټول کړه وړه ګوري).

ارتباط

د وړاندېنيوايتونو او د هغو احاديثو څخه چې د تفسير په هکله يې د نبي کريم ﷺ څخه روايت شوي دي د لاندې مشکلاتو د حل لارې ښودلې شوې دي:

۱ـ د هغو ظلمونو مخه ونیوله شوه چې په ښځو باندې به د میړونو د پلوه کېدل، او طلاقونه محدود کړی شوه چې د طلاقونو شمېر او اندازه محدوده نه وه نو ځومره به چې د یوه میړه خوښه وه په هماغې اندازه باندې یې د طلاقو شوو ښځو عدت اوږدولی شو او په حرج کښې یې اچولی شوې.

۲ـ د طلاقونو د شمېر د محدودیت په صورت کښې هم د دریوو حیضونو څخه تر نهو حیضونو پورې د عدت د تمدید امکان وه خو د دې مخه هم الله ﷻ په ډېرو شدیدو وعیداتو سره ونیوله چې د الله ﷻ په ایتونو باندې مسخرې او ملندې مه وهئ او د قانون څخه بده استفاده مه کوئ.

۳ـ مسلمانان په دې پوه کړی شوه چې د شدید ضرورت څخه په غیر د ښځو طلاقولو ته اقدام مه کوئ. په شدید ضرورت باندې نښه او علامه دا ده چې په داسې طهر کښې طلاق ته اقدام وکړي چې په هغه کښې مو ورسره جنسي ارتباط نه وي نیولی چې د رغبت او شوق وخت دی، او هم یې په حیض کښې مه طلاقوئ.

۴ـ باید طلاقونه په تدریج ورکړی شي ترڅو میړه په خپله کړنلاره باندې موقع په موقع ښه فکر او غور وکړي او په عجله سره خپله اندیوالډ د خانه جدا نه کړي.

۵ـ همدارنګه د عدت د تېرېدلو څخه وروسته هم باید په ښځو باندې ظلم او تېری ونه کړی شي چې د بل میړه په نکاح کښې یې خنډ وغورځول شي او خپلې خوښې ته پرې نه ښودله شي.

اما د اولاد معضله لانجمنه موضوع پاتې وه چې د طلاق څخه وروسته د ډېرو جنجالونو سبب ګرځېدلی شوه. لکه:

الف: که مطلقه امیدواره مېرمن د طلاق څخه لږ وروسته حمل وضعه کړي نو د یو پلوه به وروباندې پخوانی مېړه نفقه قطعه کړي چې عدت یې تېر شو او د بل پلوه به یې بل مېړه د نفاس د کبله په نکاح کولو کښې رغبت نه کوي چې نفقه یې په اوږو واخلي، ځکه چې نفاس په جنسي ارتباط اثر اچوي که څه هم د نکاح د عقد مانع نه دی، نو په دې وخت کښې به نوموړې مطلقه د سخت مشکل سره مخامخه شي.

ب: امکان لري چې بل مېړه یې د اولادونو د کبله په نکاح کولو کښې بې رغبته شي نو د اولاد څخه به د فټبال غونډوسکه جوړه شي، پلار به یې مور ته وراچوي چې ته یې ساته او مور به یې پلار ته ورګوزاروي چې ته یې ساته.

ج: که د رضاع دپاره اجرت ته حاجت شي نو مسئول به یې معلوم نه وي چې پلار دی او که مور.

د: ممکنه ده چې مور یې د طلاقولو غچ د اولادونو په ذریعه د پلار څخه واخلي او د اولاد روزنې څخه انکار وکړي، ترڅو یې په دې هکله د جنجال سره مخامخ کړي.

هـ: مور کولی شي چې د پلار د خپه کولو دپاره اولاد بل وطن ته د خانه سره نقل کړي او یا یې د پلار څخه پټ وساتي او د لیدنې کتنې فرصت ورنه کړي که څه هم پلار یې د لیدلو ارزومند وي.

و: پلار هم کولی شي چې د مور په عوض ورته بله تی ورکوونکې ښځه په اُجرت سره مونده کړي او د مور غېږ یې ترې خالي کړي، په داسې حال کښې چې مور یې په روزنه کښې علاقمنده وي.

لنډه دا چې د ذکر شوو معضلو او د نورو جنجالونو د حل کولو دپاره الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ چې د فقهې په کتابونو کښې د حضانت (اولاد روزنې) دپاره اساس ګڼل کېږي او زیات تفصیل یې هلته وګورئ، خو دلته یې د مطلب خلاصه په لاندې کرښو کښې وړاندې کوو:

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: مورګانې دې خپلو اولادونو ته پوره دوه کاله تی ورکړي، برابره خبره ده چې دوی مطلقې وي او که نه.

هو! دغه حکم د هغه مور او پلار دپاره دی چې د هغوی دواړو مشوره په دې خبره باندې راشي چې د خپل اولاد د تي ورکولو موده صرف تمام ته ورسوي او د کمال د مودې څخه یې صرف نظر شي چې دوه نیم کاله ده.

۲ـ د اولادونو په پلار باندې د مورګانو نفقه او جامه هم لازم حق دی چې د خپلې وسې په اندازه یې هغوی ته ورکړي. که دغه مورګانې د نکاح یا عدت د بقاء په حالت کښې وي نو هیڅ خبره پکښې نشته او که نه نو باید د خپل اولاد د تي ورکولو په خاطر ورته د هغې ضروریات په غاړه واخلي.

۳ـ د تي ورکولو په باره کښې باید په هیچا باندې د خپلې وسې د اندازې څخه زیات مکلفیت کېنښودل شي، چې د پلار څخه د هغه د وسې څخه بېرون خرڅه وغوښتله شي او یا د مور ناروغتیا او نور تکلیف ته ونه کتلی شي او په هر حال کښې ورباندې د تي ورکول ضرور کړی شي.

۴ـ هیڅ یوه مور باید د خپل اولاد په ذریعه سره چا ته ضرر ونه رسوي چې پلار یې د کتلو څخه منعه کړي او یا ترې د استحقاق څخه اضافه اجرت وغواړي او یا د ماشوم د تي ورکولو څخه انکار وکړي. همدارنګه باید پلار هم د خپل ماشوم په ذریعه څوک خپه نه کړي چې د مور څخه یې وشکوي او بله تی ورکوونکې ښځه ورته په أجرت سره مونده کړي په داسې حال کښې چې مور یې دغه کار ته چمتو وي.

۵ـ که د ماشوم پلار وفات شي نو د ماشوم په نورو وارثانو باندې هم ذکر شوی چال چلند لازم دی چې د تي ورکوونکې أجرت په غاړه واخلي او د مور د خپه کولو دپاره یې ذریعه ونه ګرځوي.

۶ـ هو! که مور او پلار په رضا او مشورې سره د ماشوم د تي ورکولو په موده کښې څه تجدید النظر وکړي چې د دوه کالو څخه یې اضافه کړي او یا یې ترې کمه کړي هم څه باک یې نشته.

۷ـ که بالفرض طلاقه شوې مور د عدت څخه وروسته ماشوم ته د تي ورکولو څخه منعه وکړي او تاسو مجبور شئ چې خپل اولاد ته بله تي ورکوونکې مونده کړئ نو هم په تاسو باندې څه ګناه نشته، خو په دې شرط چې هغې ته مو د وطن د نرخ او رواج په مطابق مزدوري او اجرت ورتسلیم کړی وي او کوم لوظ او قول مو چې ورسره کړی وي په هغه باندې ورسره ودرېږدئ.

۸ـ د الله ﷻ څخه ودار شئ او پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ ستاسو عملونه ګوري. نو که ماشومان د خپل حق د غوښتنې وسه نه لري او یا په تاسو کښې کومه یوه مور او یا کوم یو پلار

خپل حق نه شي ترلاسه کولی او تاسو یې په حقونو باندې پښې کېږدئ نو الله ﷻ به جزا درکړي او د مظلوم انتقام به درڅخه واخلي. همدارنګه الله ﷻ ستاسو ټول کړه وړه ګوري او هیڅ یو نېک عمل به مو بې نتیجې پاتې نه شي.

توضيحات

۱ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د ښځو څخه په ﴿ وَٱلْوَٰلِدَٰتُ ﴾ مورګانو سره تعبیر وکړ ترڅو لاندې ټولو ښځو ته شامل شي[۱]:

الف: هغه ښځه چې په نکاح یا عدت کښې وي.

ب: هغه ښځه چې مطلقه وي او عدت یې هم تېر شوی وي.

ج: هغه ښځه چې نه مطلقه وي او نه په نکاح او نه په عدت کښې وي، لکه کونډه چې عدت یې تېر شوی وي.

که بالفرض په زوجاتو یا مطلقاتو سره یې ترې تعبیر کړی وی نو د ښځو ټولو ډولونو ته به نوی شامل شوی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په ټولو مورګانو باندې لازمه ده چې خپلو ماشومانو ته تی ورکړي، دې ته ونه ګوري چې مېړه یې مړ دی که ژوندی؟ طلاق یې ورکړی دی که نه؟، ځکه چې دغه ماشومان د همدوی ماشومان دي، د همدوی د بدنونو بځرکي او ټوټې دي، نو دوی ته په کار دي چې د تولد څخه وروسته یې د مېړه سره د جنجال او یا نورو اغراضو په سبب ضائع نه کړي او تر دوه کالو پورې تی ورکړي ترڅو هغه د غذا د حیثه په پښو ودرېږي او خپله چاره پخپله وکړي. ځکه چې د خپلې مور شوده د ماشوم دپاره د نورو ټولو شودو څخه مفید او ګټور دي[۲].

د تي ورکولو موده

۲ـ آبو حنیفه رحمه الله وايي چې د يو ماشوم د تي ورکولو موده دوه نیم کاله (۳۰ میاشتې) ده او د [الأحقاف:۱۵] ایت څخه استنباط کوي لکه چې مشرحه بیانه شوې ده.

په دې مقام کښې چې پوره دوه کاله ښودلې شوي ده د نوموړي امام علیه الرحمة د اجتهاد سره د لاندې وجوهو د کبله څه منافات نه لري:

الف: لکه څنګه چې د ارتباط په بیان کښې واضحه شوې ده چې په دې مقام کښې د تي ورکولو موده ځکه بیانه شوې ده چې د ښځې او مېړه د دعوو او دنګلو فیصله وربانديې وکړی شي یعنې د جګړې په وخت کښې باید قاضیان په همدغو دوه کالو باندې فیصله وکړي او بس، او د دې څخه زیات په پلار باندې د اُجرت د لزوم حکم ونه کړي[۳].

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۴۵؛ تفسير ابي السعود ج۱ ص۲۳۰

(۲) تفسير المنار ج۲ ص۴۱۶، ۴۱۷

(۳) احکام القران للجصاص ج۱ ص۴۰۹

ب: دلته پوره دوه کاله د تي ورکولو د مودې تمام ښودلی شوی دی: ﴿ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَ ﴾ او د "الاحقاف" په سورت کښې يې کمال بيان شوی دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د تي ورکولو د تمام موده پوره دوه کاله ده او د کمال موده يې دوه نيم کاله ده چې شپږ مياشتې پکښې په غذا باندې د اموخته کېدلو دپاره کفايت کوي.

تمام دې ته وايي چې د يو شي اصل پوره شي، که څه هم په عوارضو او صفاتو کښې يې نقصان موجود وي. او کمال دې ته وايي چې برسېره په اصل په عوارضو او صفاتو کښې يې هم نواقص ورک شي، لکه چې سړی د يوه عمارت د جوړولو څخه وروسته هغه رنګ کړي او دول او سنګار يې هم برابر کړي[۱].

ج: دلته الله ﷻ د تي ورکولو په پوره دوه کاله موده کښې د مور او پلار مشوره هم موثره ښودلې ده: ﴿ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا ﴾ الآية، چې د دوه کالو څخه يې زيادت او کمبود دواړه په مشوره سره ممکن دي او څه باک يې نشته. لکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما يې همداسې تفسير کړی دی[۲].

نو معلومه شوه چې دلته دوه کاله د تحديد په توګه نه دي چې زيادت ورباندې ممنوع وي، بلکې صرف د منازعې د پرېکولو دپاره دي او بس[۳].

يوه مسئله

۳_ د همدې ايت شريف څخه څرګندېږي چې هيڅ يوې مور ته روا نه ده چې د خپل بچوړي په تي ورکولو باندې څه اجرت واخلي، خو په دې شرط چې په نکاح يا په عدت کښې وي. همدا د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دی[۴].

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د مورګانو څخه په ﴿ وَٱلْوَٰلِدَٰتُ ﴾ سره تعبير وکړی شو او پلار د ﴿ ٱلْمَوْلُودِ لَهُۥ ﴾ په نوم ياد کړی شو، يعنې هغه څوک چې د هغه دپاره ماشوم زېږول شوی وي؟

موږ وايو چې ﴿ ٱلْمَوْلُودِ لَهُۥ ﴾ په داسې مطالبو باندې دلالت کوي چې د "والد" کلمه يې ورباندې نه کوي هغه دا دي

الف: ترڅو پلار ته قناعت ورکړی شي چې د ماشوم نفقه او مصارف يوازې په پلار دي، نه په مور او پلار، ځکه چې پلار هغه څوک دی چې د ماشوم نسب د همده څخه ثابتېږي، ته به وايې چې ماشوم د همده دپاره زېږول شوی دی نه د مور دپاره.

(۱) الاتقان في علوم القرآن ج۱ ص۱۹۶
(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۴۷، احكام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۱۳
(۳) تفسير الطبري ج۲ ص۵۰۷
(۴) التفسيرات الاحمدية ص۱۴۰، حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۴۲

ب: څرنګه چې مور د ماشوم د پلار دپاره په اولاد زېږولو باندې بوخته ده او د هغه د امر اطاعت کوي، نو باید چې د ټولو منکوحو نفقات او مصارف د مېړونو په غاړه وي، که څه هم د تي ورکولو په مرحله کښې یې قدم نه وي ایښی او ماشوم یې لا نه وي زېږولی او یا سمدستي په تي ورکولو باندې مصروفه نه وي. ځکه چې مطیعه مېرمن په هر وخت کښې د خاوند دپاره د ماشوم زېږولو په قدمه کښې قرار لري. د همدې کبله فقهاوو ویلي دي چې ناشزه مېرمن چې د خپل خاوند اطاعت نه کوي په خاوند باندې د نفقې حق نه لري[۱].

ج: مګر مونږ ته داسې ښکاري ـ والله ﷻ اعلم ـ که ناشزه مېرمن ماشوم ته تي ورکوي نو بیا د نفقې حق لري، د دې کبله نه چې هغه منکوحه ده بلکې د دې کبله چې د ایت شریف په مصداقاتو کښې شامله ده او د پلار دپاره په ماشوم روزنه کښې مصروفه ده.

لنډه دا چې که د "مَولُود لَهُ" په ځای د "وَالِدْ" کلمه استعماله شوې وی، ذکر شوي مطالب به پاتې وی، د الله ﷻ هر یو کلام د بې شمېره اسرارو څخه ډک دی.

سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د اجرت څخه په نفقې او جامې سره تعبیر وکړی شو او داسې ونه ویل شوه چې: "وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ أُجْرَتُهُنَّ" یعنې: په پلار باندې د تي ورکوونکو مېرمنو مزدوري لازمه ده؛ سره د دې چې دا عبارت دهغه څخه لنډ دی؟

مونږ وایو دا ځکه چې:

الف: که دغسې ویل شوې وی نو منکوحو مېرمنو ته په مېړونو باندې نفقه نه وی لازمه شوې، ځکه چې تی ورکول خو په هغوی باندې واجب دي او خپله فریضه یې ده لکه چې د همدې ایت شریف د اول سر څخه څرګندېږي.

هو! که د څه معذرت د کبله د ماشوم د تي ورکولو څخه منعه وکړي نو جبر ورباندې په کار نه دی، خو په دې شرط چې په مزدورۍ باندې یې تي ورکولو ته هم تیاره نه وي.

که بالفرض خپلې مور د مزدورۍ څخه په غیر په هیڅ صورت تي ورکولو ته غاړه نه ایښودله او بله تی ورکونکې هم نه موندل کېده نو مزدوري ورکول ورته جائز دي ترڅو ماشوم ضائع نه شي[۲]، که څه هم اخستل یې ورته جواز نه لري او پرې ګناهګاره کېږي.

لنډه دا چې ذکره شوې نفقه او جامه د ماشوم خپلې مور ته چې په نکاح یا په عدت کښې وي د اجرت په صفت نه ده بلکې د تي ورکولو څخه په غیر یې هم حق لري، او که دغه حق یې د پښو لاندې کړ او د خپل مېړه څخه یې نشوز (بې اطاعتي) اختیاره کړه نو د اجرت په حیث یې هم اخستلی شي چې ماشوم ضائع نه شي، که څه هم غاړه یې ورباندې بنده ده.

---

(۱) الهدایه ج۲ ص۱۳۲

(۲) الهدایه ج۲ ص۱۳۹

اما د هغې مور دپاره چې په نکاح او عدت کښې نه وي او یا بالکل مور نه وي، پردۍ تی ورکوونکې ښځه وي نو ذکره شوي نفقه او جامه ورنه د اجرت ښځه په غیر بل شی نه دی.

په دې تقدیر چې په هر څه باندې سره جوړ راتلله هماغه شی په پلار واجب دی، که د جامې او څه خوراکي شیانو په شکل کښې وي او که د نغدو پیسو په صورت کښې، میاشتنۍ وي او که کلنۍ او یا نور شکلونه ولرې ټول جائز دي.

ب. د دې دپاره وربانديې د اجرت نوم کښېښودل شو چې په پلرونو باندې یې ورکول درانه تمام نه شي او پوره ورکولو ته یې ترغیب کړی شي چې کله تی ورکوونکې زنانه ستاسو د ماشوم په روزنه کښې مشغولې دي نو باید ستاسو مروت او خواني خو د دې خبرې تحمل وکړي چې د هغوی خوراک او څښاک په غاړه واخلئ، ترڅو په هغوی کښې وینه پیدا شي او ستاسو د ماشوم تغذیه وکړي، او هم یې جامه په غاړه واخلئ چې په ارامو زړونو سره یې خدمت وکړي.

یو صرفي تحلیل

۶ـ د «لا تُضَارَّ» کلمه په اصل کښې "لا تضارر" وه چې معلومه نهي ده[۱]، حتی چې د عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما څخه د "لا تضارر" قرائت هم روایت کړی شوی دی[۲]. که څه هم څینو مفسرینو کرامو یې اصل "لا تضارر" مجهوله نهي ښودلې ده مګر د دوارو د معنی حاصل یو شی کېږي[۳]، چې باید مور او پلار د ماشوم په ذریعه باندې یو بل ونه ازاروي چې خپله غُصه د ماشوم په ذریعه په یو بل باندې سره کړي او د ماشوم څخه ملعبه جوړه کړي، لکه چې د مطلب په خلاصه کښې یې څو صورتونو ته اشاره شوې ده.

وارث یعني څوک؟

۷ـ که څه هم مفسرینو کرامو په دې کښې ډېر اختلاف کړی دی چې په ﴿ وَعَلَى ٱلْوَارِثِ ﴾ کښې د وارث څخه کوم وارث او د چا وارث مرادی دی، د ماشوم که د ماشوم د پلار، حتی چې ټول تفسیرونه پکښې لس ته رسېدلي دي[۴]، چې د ټولو شرحه دلته نه شو رانقلولی، مګر هغه تفسیر چې ابو حنیفه رحمه الله غوره کړی دی هغه دا دی:

دلته د وارث څخه د ماشوم وارث مراد دی او د ماشوم د پلار وارث مطلب نه دی، لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او نورو علماوو څخه یې روایت هم راغلی دی[۵].

برسېره په دې د ماشوم په وارث کښې هم هغه وارث مطلب دی چې د ماشوم سره یې نکاح کول

---

(۱) المحرر الوجیز ج۲ ص۲۱۱

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۶۸

(۳) تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۷۱

(۴) البحر المحیط ج۲ ص۲۱۷

(۵) زاد المسیر ج۱ ص۲۴۲

ابدي حرام وي، لکه چې د عبد الله بن مسعود ﷜ په قرائت کښې "وَعَلَى الْوَارِثِ ذِي الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ" لوستل شوی دی[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د ماشوم د پلار د وفات په صورت کښې که ماشوم ته د پلار څخه څه مال پاتې نه وي او مسکین وي نو د ده د روزنې مصارف په هغو وارثانو باندې لازم دي چې د ماشوم سره داسې قرابت ولري چې نکاح یې ورسره د ابد دپاره جائزه نه وي.

نو په دې تقدیر که یو ماشوم ماما او د تره زوی ولري نو مصارف به یې ټول په ماما باندې راځي که څه هم په وراثت کښې د تره د زوی څخه وروسته دی[۲]، ځکه چې ماما ذو الأرحام دی، او د تره زوی عصبه دی او دوی خو په هغوی باندې مقدم دي.

سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: د فقهي قاعده ده چې "الْغُنْمُ بِالْغُرْمِ" یعنې: ګټه په تاوان ده یعنې هغه څوک باید ګټه واخلي چې تاوان ګالي، نو څرنګه چې د ماشوم د مرګ په صورت کښې د تره زوی ګټه (میراث) اخلي نو باید چې د ماشوم د ژوند مصارف هم همدی وګالي او په ماما باندې دا بوج رانه شي ځکه چې په میراث کښې وروسته دی؟.

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د وارث څخه بالفعل وارث مطلب نه دی ځکه چې ماشوم خو ژوندی دی او عاقبت معلوم نه دی چې ماشوم به د هغوی وارث وګرځي او که هغوی به د ده؟ بلکې دلته وراثت د زړه سوي او ترحم د معیار په توګه تاکلی شوی دی او په دې کښې خو شک نشته چې په ذکر شوي صورت کښې د تره د زوی څخه د ماما شفقت او ترحم ډېر دی.

د دې ایت ارشادات

۹ـ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته لاندې ارشادات او لارښونې کوي:

الف: باید د ماشومانو په روزنه کښې زیات اهتمام وکړو چې په همدوی باندې دنیا ودانه پاتې کېږي، د جهاد په مرحله کښې همدوی د شهیدانو په ځای ودرېږي او جهاد ژوندی ساتي.

ب: د هر ماشوم دپاره د خپلې مور شوده ډېر مفید دي او په فکري او بدني روزنه کښې یې زیاته اغېزه لري، نو باید دخپلې وسې پورې خپل ماشومان د خپلو میاندو په شودو غټ کړو.

ج: باید د چا حق د پښو لاندې نه کړو که څه هم د حق خاوند لکه زنانه او ماشومان کمزوري وي ځکه چې الله ﷻ د هغه ملګری دی او الله ﷻ په هر چا زورور دی.

د: چې د یو ماشوم د تې څخه پرې کول هم د دوه نیم کالو په داخل کښې په مشوره باندې زیادت او کمبود قبلولی شي نو په کار دي چې مونږ په هر کار کښې خصوصاً په جهادي او ټولنیزو کارونو کښې مشورې وکړو ترڅو مو اتفاق او اتحاد نصیب شي.

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۴۷

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۰۹

په موجوده وخت[۱] کښې د مجاهدینو د بې اتفاقۍ یو عامل دا هم دی چې دوی یوه مشترکه شوری نه لري او واحد تصمیم نې نشته

﴿ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (٢٣٤) ﴾

[۲۳۴] او هغه کسان چې ستاسو د جملې څخه وفات کړی شي او میرمنې پرېږدي نو (د دوی میرمنې) دې خپل ځانونه څلور میاشتې او لس ورځې منتظر کړي.

کله چې خپله نېټه یې ورسېدې (عدت یې پوره شو) نو په تاسو باندې په هغه کار کښې څه پاک نشته چې دوی یې د خپلو ځانونو په مخه کې په معروفه (شرعي) طریقه باندې ترسره کوي.

او الله ﷻ په هغه څه باندې خبردار دی چې تاسو یې کوئ.

ارتباطونه

۱ ـ وړاندې د طلاقې شوې ښځې عدت بیان شوی وه، او دلته د هغې ښځې عدت بیانېږي چې مېړه یې وفات شوی وي او یا یې د شهادت لوړه مرتبه په برخه شوې وي، ترڅو څرګنده شي چې د دې عدت د هغې څخه بېل دی. د دې مېړه وفات یا شهید دی او د هغې مېړه ژوندی دی.

۲ ـ برسېره په دې وړاندې د هغو ظلمونو مخه نیوله شوې ده چې د طلاق په ارتباط به په زنانه وو باندې کېدل. او دلته د هغو نورو ظلمونو مخنیوی شوی دی چې کونډې به ورسره لاس او ګرېوان وې. لاندې څو مثالونه یې وګورئ:

الف ـ ځینو قبائلو به کونډه ښځه په اور باندې سوزوله. ځینو به د مېړه سره ژوندۍ ښخوله. ځینو به د همېشه دپاره د بلې نکاح څخه محروموله. په ځینو قبیلو کښې رواج وه چې کونډې به د خپل مېړه په قبر باندې خیمه وهله او په ځیرنو جامو کښې به یې هلته شپې او ورځې تېرولې[۲].

ب ـ خصوصاً په عربي جزیره کښې به کونډه په ډېره ناپاکه او مرداره کوټه کښې ننوتله، ناپاکه جامې به یې اغوستې، او تر یو کاله پورې به یې په اصطلاح په سیاچاه کښې ژوند کاوه او بیا به د څه بې معنی او مزخرفو رواجونو په سر ته رسولو سره د ذکر شوې کوټې څخه راوتله او عدت به یې تېر ګڼل کېده[۳].

د مطلب خلاصه

۱ ـ یعنې د کومو ښځو چې مېړه وفات شي او یا شهید شي د هغوی عدت دا دی چې څلور میاشتې او لس ورځې به خپل ځانونه منتظر کوي چې نه به بله نکاح کوي او نه به په خپل ځان

---

(۱) ۱۳۷۰ هـ ش کال
(۲) تفسیر نمونه ج۲ ص۱۳۶
(۳) في ظلال القرآن ج۱ ص۲۵۵، تفسیر البغوي ج۱ ص۲۱۲

باندې داسې ګوتې منې وهي چې خلک پوه شي چې بلې نکاح ته یې خپل خان تیار کړی دی. نو نکریزې به نه ږدي، سترګې به نه توروي، سنګارې جامې به نه اغوندي، بلکې د دغسې نورو بل مېړه رابلونکو شیانو څخه به خان ساتي. که بالفرض دغسې شیانو ته یې اقدام وکړ نو په هر مسلمان باندې لازمه ده چې د دغو منکراتو مخه یې ونیسي او نوموړې ښځه ترې منعه کړي.

۲ـ کله چې خپلې نېټې ته ورسېږي او عدت یې پوره شي نو بیا په تاسو باندې څه ګناه نشته، چې دوی په خپلو خانونو باندې په شرعي چوکاټ کښې هر څه کوي ودې کړي، او خپلې خوښې ته دې پرېښودلې شي چې مېړه کوي او که د مېړه کولو نښې او علامې په خان کښې څرګندوي، څکه چې د دې وخت څخه وروسته ذکر شوي شیان د دې په باره کښې منکرات نه ګڼل کېږي.

۳ـ هو! که د مېړه غوښتنه یې د بې حیائی او بې شرمی درجې ته ورسوله نو په مسلمانانو باندې یې بیا مخنیوی په کار دی. الله ﷻ ستاسو په ټولو عملونو باندې خبردار دی، د ښځو په غلط قدم ایښودلو باندې هم پوهېږي او ستاسو په بې خایه او بې موجبه تنګي راوستلو باندې هم، باید تاسو ټول په هیڅ وخت کښې د الله ﷻ څخه غافل نه شئ.

توضیحات

۱ـ د ټولو علماء کرامو اجماع ده چې د وفات یا شهادت په عدت کښې واده شوې ښځه او ناواده شوې ښځه برابرې دي همدارنګه د بالغو او نابالغو ښځو هم پکښې څه فرق نشته[1]، برسېره په دې د علماء کرامو په دې خبره باندې هم اجماع ده چې که طلاقه شوې ښځه په عدت کښې وي او کونډه شي د وفات عدت وربانډې لازم دی خو په هغه وخت کښې چې طلاق رجعي وي، او که د رجعي طلاق څخه په غیر بل طلاق وي نو په دې کښې اختلاف دی.

هیله ده چې د فقهي کتابونو ته یې د تفصیل دپاره مراجعه وکړی شي[2].

د دې عدت پیل

۲ـ ذکر شوی عدت د هغه وخت څخه پیل کېږي چې ښځه پکښې کونډه شي، برابره خبره ده چې ښځه وربانډې خبره وي او که نه[3]. که بالفرض یوې ښځې ته په داسې وخت کښې خبر ورسېده چې د مېړه د وفات او یا شهادت یې څلور میاشتې او لس ورځې تېرې شوې وې نو د دغې ښځې عدت تېر شو او سمدستي کولی شي چې بل مېړه وکړي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د امیدوارې ښځې چې مېړه وفات یا شهید شي هم څلور میاشتې او لس ورځې په عدت تېروي؟

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۴۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۸۴

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۸۲؛ الهدایة باب العدة

(۳) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۱٦؛ البحر المحیط ج۲ ص۲۲۴

مونږ وایو چې: د نوموړې ښځې عدت د امید (ماشوم) وضعه کول دي، که څه هم میړه یې لا دفن شوی نه وي او جنازه یې په کور کښې ایښې وي خو ماشوم وزیږوي. دا ځکه چې الله ﷻ د امیدوارو ښځو په باره کښې فرمایلي دي چې: ﴿ وَأُولَٰتُ ٱلْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ [الطلاق: ۴] یعنې او د امیدوارو ښځو نېټه دا ده چې هغوی خپل امید (ماشوم) وضعه کړي.

دغه ایت شریف د هغه ایت شریف څخه چې اوس د بحث لاندې دی وروسته نازل شوی دی[۱] نو د امیدوارو ښځو په باره کښې ناسخ ګڼل کېږي، لکه چې په همدې باندې علماوو کرامو اجماع کړې ده[۲]، او د عبد الله بن مسعود ؓ څخه یې په ډېرو کلکو الفاظو کښې د ناسخیت روایت نقل شوی دی، چې که څوک راسره مباهله کوي هم، ورسره یې کوم چې دغه ایت د هغه دپاره ناسخ دی[۳].

په دې ټولو د پاسه د امیدوارې ښې عدت په لاندې حدیث کښې پوره واضحه شوی دی چې د هیڅ اشتباه ځای پکښې نه پاتې کېږي حدیث دا دی چې

یوه ښځه چې سُبَیْعَة رضي الله عنها نومېده امیدواره وه او میړه یې (سعد ؓ د بدر غازي) په حجة الوداع کښې وفات شو، میاشت لا پوره نه وه چې نوموړې بي بي رضي الله عنها خپل ماشوم وضعه وکړ، نو د نفاس د تېرېدلو څخه وروسته یې په خپل ځان باندې څه داسې ښې او آثار ښکاره کړه چې بلې نکاح ته یې اشارې کولې او معلومېده چې بل میړه کوي.

نو یوه صحابي (ابو السنابل ؓ) دغه کار منکر وګاڼه او غږ یې ورباندې وکړ چې ستا خو خلور میاشتې او لس ورځې نه دي تېرې شوې نو ولې په ځان ګوتې متې وهې، لکه چې د بل میړه نیت لرې؟، قسم دی چې بل میړه درته جواز نه لري

نوموړې بي بي رضي الله عنها وایي چې کله مې دغه خبره واورېدله پېڅې مې رابدوهلې او نبي کریم ﷺ ته ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه.

نو نبي کریم ﷺ فتوی راکړه چې د ماشوم په زیږولو سره زه د عدت څخه خلاصه شوم او امر یې راته وکړ چې که میړه نه دې خوښه راخلې میړه وکړه څه باک یې نشته[۴].

انتظار څه معنی؟

۴. په دې کښې خو ټول علماء کرام متفق دي چې د کومې ښځې میړه وفات شي او یا شهید شي نو تر څلورو میاشتو او لس ورځو پورې به بله نکاح نه کوي او انتظار به وباسي. اما په دې کښې اختلاف دی چې د خپل ځان سنګارولو ته به هم انتظار کوي او که څنګه؟

جمهور علماء وایي چې ځان سنګارول ورته جواز نه لري[۵]، لکه چې لاندې احادیث په همدې

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۷۵، تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۷۲
(۲) تفسیر المظهري ج۱ ص۳۴۸
(۳) سنن النسائي ج۲ ص۱۱۵، المعجم الکبیر للطبراني ج۹ ص۳۲۹
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۲۰۸، صحیح مسلم ج۱۰ ص۴۸۶
(۵) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۷۶

مطلب باندې دلالت کوي.

الف: د ډېرو امهات المؤمنین (ام حبیبه، زینب، عائشه رضي الله عنهن) څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «لا یحل لامرأة تؤمن بالله والیوم الآخر أن تحد علی میت فوق ثلاث لیال إلا علی زوج أربعة أشهر وعشرا»[۱] یعنې: هیڅ ښځې ته چې په الله ﷻ باندې او په وروستنۍ ورځې باندې یې ایمان راوړی وي حلال نه دي چې په کوم مړي باندې د درېیو ورځو څخه اضافه وېر او سینګار پرېږدي مګر په مېړه باندې څلور میاشتې او لس ورځې.

ب: د ام سلمی (ام المؤمنین رضي الله عنها) څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «المتوفی عنها زوجها لا تلبس المعصفر من الثیاب ولا الممشقة ولا الحلي ولا تختضب ولا تکتحل»[۲] یعنې: د کومې ښځې چې مېړه وفات شوی وي رنګ کړي جامې دې نه اغوندي چې په سره خاوره او یا په مشقه ګل باندې رنګ کړی شوې وي (په هغې زمانه کښې همدا شیان د جامو په سینګار کښې استعمالېدل)، او نه دې ګاڼې په ځان اچوي، او نه دې نکریزې ږدي، او نه دې سترګې تورېږي.

سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: د طلاق په عدت کښې هم په ښځه باندې د سینګار پرېښودل لازم دي او که څنګه؟

ځواب دا دی چې: په رجعي طلاق کښې خو سینګار کول مفید او ګټور دي ترڅو خپل مېړه رجوع کولو ته ترغیب ګړي، اما د خلعې او نورو بائنو طلاقونو په باره کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه روایت دی چې د زینت پرېښودل پرې واجب دي او په کونډه باندې یې قیاس کړی دی[۳].

په یاد ولرئ!

۶_ په یاد ولرئ چې د کونډې نفقه د عدت په حالت کښې په وفات شوي مېړه باندې نشته بلکې کونډه هم د وارثانو د جملې څخه یوه وارثه ده چې متروکه مال د دوی ټولو پورې تعلق نیسي، هرڅوک به د شرعي قانون په مطابق یې خپله برخه اخلي[۴].

دعدت تېرولو بهتر صورت

۷_ که د کونډې مېړه د میاشتې په اول سر کښې وفات او یا شهید شي نو عدت یې په میاشتو باندې محاسبه کېږي چې د پنځمې میاشتې څخه به لس ورځې وروباندې اضافه کړي.
او که د میاشتې د اول سر څخه لږ یا ډېر وروسته کونډه شوه نو باید چې د اولې میاشتې کمبود

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۸۰۴؛ مسلم شریف ج۱ ص۴۸۶
(۲) سنن ابي داود ج۱ ص۳۱۵
(۳) تفسیر المعبود ج۱ ص۲۱۵
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۲۱

د پنځمې میاشتې څخه پوره کړي او په منځ کښې درې میاشتې دې پوره-پوره محاسبه کړي، همدا یې بهتر صورت دی[۱].

د کونډې په عدت کښې څه حکمت دی؟

۸ـ ځینو مفسرینو کرامو په دغو څلورو میاشتو او لس ورځو کښې لاندې حکمتونه ښودلي دي:

الف: د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې تر څلویښتو ورځو پورې یو ماشوم د مور په ګېډه کښې نطفه وي او په نورو څلویښتو ورځو کښې ترې د وینې یوه ټوټه جوړه شي او په نورو څلویښتو ورځو کښې ترې د غوښې ټوټه جوړېږي چې کله دغه یو سل او شل ورځې (څلور میاشتې) پوره شي نو په ماشوم کښې روح پو کول کېږي. ځرنګه چې په میاشتو کښې ځینې نهه ویشت ورځې وي نو لس ورځې یې ورسره اضافه کړی چې. د یو طرفه د میاشتو کمبود پوره کړي او د بله طرفه د ماشوم حرکت ښه ځرګند شي او معلومه سي چې کونډه امیدواره ده او که نه[۲].

ب: په څلورو میاشتو کښې د ښځې اشتیاق اضافه کېږي او صبر یې انتهاء ته رسېږي لکه چې د [البقرة: ۲۲۶] ایت لاندې یې شرحه تېره شوې ده، نو غم او حزن یې کمبود پیدا کوي او په زړه کښې یې د بل مېړه د محبت ځای پیدا کېږي، او لس ورځې ورباندې د احتیاط دپاره اضافه شوې دي[۳].

ج: مګر ښه دا ده چې د دغــې مقادیرو علم او حکمت د لمانځه د رکعتونو د شمېر په څېر الله ﷻ ته وسپارو او بس[۴].

ارشادات

۹ـ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته لارښوونې کوي چې د لاندې رواجونو څخه لاس واخلو.

الف: ځینې ښځې د مېړه څخه په غیر د نورو خپلوانو په مرګ باندې هم په میاشتو او کلونو د خپل خان د جوړولو څخه لاس اخلي، ښکلې جامې نه اغوندي، نکریزې نه ږدي او سترګې نه توروي، حال دا چې دغه وضعه ورته د مېړه څخه پرته د بل چا په مرګ باندې د درې ورځو څخه اضافه جواز نه لري.

ب: په ځینو خلکو کښې مروجه ده چې د کورنۍ د یوه غړي په مړینې باندې، علاوه په کونډې د کورنۍ، ټول غړي او مربوطین تر ډېره وخته پورې د ماتم اظهار کوي، خاصې جامې اغوندي او د واده یا نورو خوشالیو څخه لاس اخلي، بلکې د نورو کلیوالو څخه هم د ماتم غوښتنه کوي.

ج: ځینې کونډې په خپل مېړه باندې په کلونو-کلونو ماتم کوي، ته به وایې چې عدت یې نه دی تېر شوی، حال دا چې دا کار ورته د څلورو میاشتو او لسو ورځو څخه اضافه روا نه دی.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۱۷

(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۴۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۸۵

(۳) تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۷۵؛ تفسیر تیسیر الرحمن ج۱ ص۸۵

(۴) روح المعاني ج۲ ص۱۴۹

د: په ډېرو خلکو کښې د عدت ځخه وروسته کونډې ازاد فکر ته نه پرېښودلې کېږي، مثلا ورته وايي چې که مېړه کوې نو لیور (د مېړه ورور) یا د هغه بل خپلوان به په نکاح اخلې او که نه نو د نکاح نوم به نه یادوې مونږ ته شرم او پیغور دی. د کونډې چې لیور ته زړه نه کېږي د مجبورۍ د کبله وایي چې مېړه نه کوم.

ه: ځینې خلک کونډه په زور او جبر نکاح کوي.

و: ځینې خلک کونډې د مالونو په څېر خرڅوي او پیسې ورباندې اخلي.

ز: ځینې خلک یې ماشوم ته په نکاح کوي ترڅو چې هغه بلوغ ته رسېږي د کونډې سر سپین وي.

ح: که بالفرض کونډه په خپله خوښه پردی څوک په نکاح واخلي نو د دې کار ځخه غټه دښمني جوړوي او د ناروا وژنو لامل جوړېږي، او داسې نور.

یادونه

۱۰ـ مونږ ځکه د کونډو په باره کښې خبره لږ څه اوږده کړه چې د روسانو په مقابل کښې د جهاد دیارلسم کال دی او د شهیدانو کاروان لا روان دی او کونډې زښتې ډېرې دي، څرنګه چې مېړونه یې په اسلام باندې شهیدان شوي دي نو په کار دي چې د کونډو او یتیمانو سره یې غیر اسلامي چال چلند ونه کړی شي او د رواج په سبب د اسلام احکام د پښو لاندې نه کړی شي.

﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِۦ مِنْ خِطْبَةِ ٱلنِّسَآءِ أَوْ أَكْنَنتُمْ فِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُوا۟ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا۟ عُقْدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْكِتَٰبُ أَجَلَهُۥ ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ فَٱحْذَرُوهُ ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٣٥﴾ ﴾

[۲۳۵] او په تاسو باندې په هغه خبره کښې هیڅ ګناه نشته چې په هغې سره تعریض کوئ چې هغه د ښځو د غوښتنې ځخه عبارت ده او (نه درباندې په دې کښې ګناه شته) چې په زړونو کښې یې پټه وساتئ.

الله ﷻ پوهېږي چې بې شکه تاسو به دوی ډېرې ژر یادې کړئ (د نکاح وړاندیز به ورته وکړئ) خو د دوی سره په پټه کښې (د نکاح) وعده په هیڅ حالت کښې مه کوئ مګر دا چې شرعي معروفه خبره وکړئ (یعنې د اشارې په توګه).

او تاسو د نکاح د تړلو فیصله قدرې هم سمدستي مه کوئ، ترڅو چې فرض کړی شوی (عدت) خپلې نېټې ته ورسېږي.

او پوه شئ چې یقینًا الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي چې هغه ستاسو په زړونو کښې دي، نو ترې ودار شئ، او پوه شئ چې په یقین سره الله ﷻ بښونکی (او) د حلم (صبر) خاوند دی.

ارتباط

په تېر شوي ایت شریف کښې کونډې ښځې مکلفې کړې شوې وې چې په عدت کښې باید په خپلو خانو باندې داسې نښې او آثار ښکاره نه کړي چې د بلې نکاح په لور ناړې وهي او خلک ورباندې پوهېږي چې دوی مېړه کوي.

په دې ایت شریف کښې نارینه مکلف ګرځولي شوي دي چې دوی دې هم کونډو ښځو ته د معینې نېټې پورې په صریحو الفاظو باندې د نکاح دعوت نه ورکوي. او کونډې دې پرېږدي چې څلور میاشتې او لس شپې په پخواني مېړه باندې خپلې غمګینۍ ښکاره کړي ترڅو د دې ژبې دا متل ورباندې رښتیا نه شي چې بُز در جان کندن و قصاب درغم چربو.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: په تاسو باندې په دې کښې څه ګناه نشته چې کونډې ښځې په تعریضاتو یا اشاراتو باندې داسې پوه کړئ چې زه (احمد، محمود) ستا په نکاح کولو کښې رغبت لرم او یا همدغه خبره په زړه کښې پټه وساتئ چې که فلانۍ کونډه د عدت څخه فارغه شوه نو زه به ورته په صریحو الفاظو سره وړاندیز کوم چې ماته خپل خان په نکاح باندې راکړي.

۲ـ تاسو ته دغه تعریض یا وړاندیز ځکه جائز وګرځولی شو ترڅو د یو پلوه کونډې ښځې ستاسو په مطلب باندې پوه شي ترڅو په دې اړوند فکر وکړي په داسې حال کښې چې د پخواني مېړه آداب او احترام یې هم ساتلی وي؛ او د بله پلوه تاسو هم څه ناڅه د هغه شي اظهار وکړی شئ چې ستاسو په زړونو کښې وي. الله ﷻ ته ستاسو بې صبري معلومه ده. تاسو نه شئ کولی چې د عدت د تېرېدلو پورې صبر او حوصله وکړئ او د زړونو څخه یې وباسئ، که د الله ﷻ هدایت نه نوی نو د کونډې مېړه به لا په جنازه کښې اېښی وي او تاسو به ورته د نکاح وړاندیزونه کولی. خو الله ﷻ فضل وکړ او ستاسو د زړه خبرې د ښکاره کولو یو څه اندازه حق یې درکړ ترڅو ورباندې د عدت د تېرېدلو پورې خپلې خواوې یخې کړئ او زړونه پرې ډاډه کړئ.

۳ـ نو خیر دی د تعریض یا اشارې په توګه ورته خپل مرام ښکاره کړئ مګر د صریحو الفاظو څخه خانونه وساتئ؛ چې په پټه کښې د نکاح کولو وعده ورکړئ.

دغه مواعده خو په ښکاره ډول هم حرامه ده چې د خلکو په وړاندې ترې د خپل خان دپاره لوظ او قول اخلئ؛ مګر په پټه سره ډېره شدیده حرامه ده ځکه چې د غیر محرم سړي د غیر محرمې ښځې سره په یوه ګوښه کښې د نکاح د بحث په دوران کښې د نورو ډېرو منکراتو قوي احتمالات شته.

۴ـ لنډه دا چې د نکاح په باره کښې نه په پټه او نه په ښکاره په هیڅ ډول تاسو ته جائزه نه ده چې وینا وکړئ مګر هغه وینا چې هغه په شریعت کښې معروفه ده او الله ﷻ یې اجازه درکړې ده، چې هغه تعریضي وینا ده.

۵ـ او تاسو د نکاح د عقد پرېکړه مه کوئ چې بالفعل ایجاب او قبول وکړئ ترڅو هغه عدت

چې الله ﷻ په کونډو باندې فرض کړې دی خپلې نېټې ته ورسېږي او پوره شي.

۶ـ یوه شئ چې بې شکه الله ﷻ په هغو ټولو خبرو باندې پوهېږي چې ستاسو په زړونو کښې تاوېږي او راتاوېږي، پاتې خو لا هغه چې په خوله باندې څه ووایئ او یا یې په جوارحو باندې وکړئ. نو تاسو ټول نارینه او ښځینه د الله ﷻ د غضب څخه وډار شئ.

او پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ ښښونکی دی توبه قبلوي او ګناهونه ښښي نو مغفرت ترې وغواړئ او توبه ورته وکړئ او هم حلیم دی که سمدستي جزا درنه کړي، نو داسې خیال مه کوئ چې ګناه به یې درته ضرور عفوه کړې وي. او توبې ته به حاجت نه وي، بلکې د الله ﷻ د حلم څخه د خانو دپاره د توبې فرصت ترلاسه کړئ.

توضیحات

۱ـ د "جُنَاح" کلمه په لغت کښې سخت او مشقتي کار ته وایي او په شریعت کښې د ګناه په معنی سره ده[۱]، نو مونږ ځکه د ﴿وَلَا جُنَاحَ﴾ کلمه د ګناه په نشتوالي باندې ترجمه کړه.

تعریض څه ته وایي؟

۲ـ یو مطلب چې د اشارې په ډول ښکاره کړی شي او صراحت ورباندې ونه شي د تعریض په نامه یادېږي، کله-کله ورباندې دتلویح (تغیر ورکول) اطلاق هم کېږي[۲]، مګر مونږ ترې په غوږ وهلو باندې تعبیر کوو.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: که څوک کونډه ښځه په غوږ ووهي چې د عدت څخه وروسته دې زه په نکاح کوم او یا ماته خپل ځان په نکاح باندې راکړه څه پروا نه کوي، خو په دې شرط چې په غوټه خوله ورته ونه وایي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ یوې ښځې ته چې فاطمه بنت قیس رضي الله عنها نومېده په عدت کښې فقط همدومره وفرمایل چې: «فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي»[۳] یعني: کله چې دې عدت تېر شو نو ما خبر کړه، هغې بي بي چې خبر کړ نو اسامه بن زید ؓ ته یې په نکاح کړه.

ب: چې کونډې ته ووایي زه په کور کښې د زنانه وو سره ډېره ښه ګوزاره کوم، تقوادار سړی یم، د ښځو په نوبت کښې بي عدلي نه کوم، زما سره زنانه هیڅکله نه خپه کېږي، پیسې ډېرې لرم، اعتبار مې زیات دی، ټول خلک مې عزت کوي، او داسې نور.

ج: یا ورته ووایي چې ته ډېره ښه ښځه یې، فلانی دې الله ﷻ وبښي ډېر بختور سړی وه چې ستا غوندې ښځه یې په برخه شوې وه، ستا غوندې ښځې خو هر چا ته نه رسېږي، او داسې نور.

د: چې د کونډې په وړاندې بل چا ته ووایي چې زه یوې ښې ښځې پسې ګرځم چې په نکاح یې

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۸۷
(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۲۸۲
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۳۷۳

واخلم او یا د هغې په غیاب کښې د واده خبره وکړي څو د کونډې علاوه نه یې په څه ډاربعه ورسوي چې فلانۍ واده کوي، او داسې نور.

لنډه دا چې د خلکو په عرف او عادات کښې تعریض وېناوې ډېر تفاوت کوي او ډېر صورتونه لري، ځینې وېناوې په یوه قوم کښې تعریض ګڼلې کېږي، مګر همغه خبرې په بل قوم او بل محیط کښې د تصریحاتو څخه شمېرل کېږي، نو باید چې هر څوک خپل رواج په نظر کښې ونیسي.

سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې کله الله ﷻ د کونډې د نکاح په باره کښې تعریض وېنا ته اجازه ورکړه نو په زړه کښې تېرولو ته خو یې اجازه، اجازه ده، نو د څه حکمت په بنا یې ورباندې صراحت وکړی شو او ﴿أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ﴾ یې نازل کړ؟

موږ وایو چې د ﴿أَكْنَنتُمْ﴾ مفعول د نکاح نه ده تر څو وراندې یې اعتراض وارد شي بلکې مفعول یې صریحې وېنا ده[1] نو حاصل یې داسې کېږي چې که په زړه کښې پټه وساتئ چې د عدت څخه وروسته به ورته په صراحت سره د نکاح وړاندیز کوم هم باک یې نشته، تر څو مسلمانان مطمئن شي چې په دغسې نیت کښې نه ګناهګار کېږي.

خطبه څه معنی؟

۴ـ "خِطْبَة" د "خَطْب" لکه "زَخْم" څخه اخستله شوې ده، "خَطْب" همغه لوی کار ته وایي چې خبرې ترې او مباحثه پکښې ډېره واقع کېږي او په لږو خبرو باندې نه حل کېږي[2]. د ښځې په نکاح باندې اخستل هم څه اسان کار نه دي او ژر نه فیصله کېږي نو ځکه ورته "خِطْبَة" وایي او خبرې کوونکي ته یې "خَاطِب" وایي.

یوه جمعیت او ټولنې ته د وعظ او تذکیر خطاب کول د "خُطْبَة" په نامه یادېږي او همغه څوک چې دغه ډول خبرې په ښه وضاحت او بلاغت سره کولی شي هغه ته خطیب وایي. د همدې کبله شعیب ﷺ ته د "خطیب الأنبیاء" لقب ورکړی شوی دی.

د "سِرّ" معناوې

۵ـ که څه هم د "سِرّ" کلمه د "عَلَانِیَة" مقابله ده چې پټې خبرې معنی ورکوي، مګر په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو ډېر تفسیرونه کړي دي[3]، چې ځینې تفسیرونه یې دومره ارزښت نه لري چې دلته یې رانقل کړو، نو د همدې کبله یې په لاندې دوه تفسیرونو باندې اکتفاء کوو:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې دلته د "سِرّ" څخه په صراحت سره د نکاح

(۱) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۴۱، حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۴۷
(۲) مفردات الراغب ص۱۵۲.
(۳) زاد المسیر ج۱ ص۲۴۵

وړاندېز مراد دی. دا تفسير جمهورو علماء كرامو خوښ كړی دی[۱].

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: تاسو كونډو ښځو ته په صريحو الفاظو كښې د نكاح وړاندېز مه كوئ. ځرنګه چې همدا مطلب وړاندې بيان شوی دی نو په دې تقدير تاكيد ګڼل كېږي.

ب: دلته د "سِرّ" كلمه په خپله حقيقي معنى سره ده، چې حاصل يې داسې كېږي چې: د كونډو ښځو سره د عدت په موده كښې په پټه سره هم د نكاح كولو وړاندېز مه كوئ؛ چې په دې تقدير تاسيس ګڼل كېږي او د تاكيد څخه تاسيس بهتر دی.

عزم څه ته وايي؟

۶ـ "عزم" د زړه فيصلې ته وايي. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: د نكاح په عقد باندې فيصله مه كوئ چې په عدت كښې په نكاح كولو باندې اقدام وكړئ او بالفعل نكاح وتړئ. دغه نكاح صحت نه لري، باطله ده[۲]. پاتې شوه دا خبره چې په زړه كښې فيصله وكړي چې د عدت څخه وروسته به فلانۍ كونډه په نكاح اخلم نو د دې فيصلې هيڅ باک نشته لكه چې د ايت شريف د اولنۍ برخې څخه په ډاګه ځرګندېږي.

﴿ لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلْمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلْمُقْتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَٰعًۢا بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾ وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّآ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَاْ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ عُقْدَةُ ٱلنِّكَاحِ ۚ وَأَن تَعْفُوٓاْ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنسَوُاْ ٱلْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾ ﴾

[۲۳۶] په تاسو باندې ګناه نشته چې ښځې طلاقې كړئ هغه ښځې كومې مو چې نه وي مسه كړې او هغوی لره مو مهر هم نه وي ټاكلی، او څه متاع (ذوی لره وركړئ چې په شتمن باندې د هغه د توان په اندازه ده او په تنګ لاسي باندې د هغه د تنګ لاسۍ په اندازه ده، په معروفه طريقه متاع وركول، چې په نېكوكارانو باندې حق دي.

[۲۳۷] او كه دوی د مسه كولو څخه وړاندې طلاقې كړئ (چې واده كړې مو نه وي) او حال دا چې مهر مو ورته ټاكلی وي نو د ټاكل شوي مهر نيمائي درباندې لازم دی، مګر كله چې زنانه يې دروبښي (نو هيڅ درباندې نشته) او يا يې هغه څوک عفوه كړي چې د نكاح عقد يې په لاس دی (چې تاسو د نيمائي څخه ورتېر شي نو په دې صورت كښې به ټول وركوئ).

---

(۱) احكام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۲۴؛ تفسير المنار ج۲ ص۴۲۶
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۲۵

او ستاسو عفوه تقوی ته ډېره نژدې ده (که د هر یوه د پلوه وي)، او په خپل منځکښې بهترې مه هېروئ. بې شکه الله ﷻ په هغه څه باندې چې تاسو یې کوئ ښه بینا دی.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې د ځینو مناسباتو د کبله د کونډو ښځو څه احکام بیان کړی شوه خو په دې ایتونو کښې د اصلي مضمون د تکمیل دپاره د طلاق په متعلق لاندې دوه حکمونه نور هم ذکر کېږي:

الف: باید چې طلاقې شوې زنانه ته متعه ورکړی شي ترڅو د یوه طرفه د هغه زخم دپاره پټی شي چې د طلاق په سبب باندې یې په زړه باندې خوړلی دی. او د بله پلوه خلک پوه کړی شي چې په مطلقې ښځې باندې بدګوماني ونه کړي، که په دې کښې څه ناپاکي وی نو طلاقوونکي مېړه به د طلاق څخه وروسته ورسره مالي مرسته نه وی کړې.

ب: د.ناواده ښځې په مهر کښې د جګړې امکان وه چې ښځې به ټول تعین شوی مهر غوښتی او د عدم تعین په صورت کښې به یې د خپلو سیالانو مهر ته سترګې نیولې وی، او سړي به هیڅ شی نه ورکولی چې ما درڅخه لږ استفاده هم نه ده کړې نو د تعین شوي مهر او یا د مهر المثل څه حق لري؟؛ نو الله ﷻ لطف وکړ او د پورتنیو دوه وو حکمونو په بیان سره یې د طلاق بحث تکمیل کړ، چې د مطلب خلاصه یې لاندې وړاندې کېږي:

۲_ یعنې: ای مسلمانانو! لکه څنګه چې په تاسو باندې د واده شوو ښځو د طلاق په باره کښې څه ګناه نشته همدارنګه د ناواده ښځو په طلاق کښې هم تاسو ته څه ګناه متوجه نه ده. لکه چې په هغو کښې درته د طلاق ضرورت پېښېږي، په دوی کښې هم د ضرورت احتمال شته.

۳_ خو کله چې تاسو ناواده ښځو ته طلاق ورکړ او هغوی ته مو مهر نه وه تعین کړی، نو په تاسو باندې لازمه نه ده چې هغوی ته د مهر المثل نیمائي ورکړئ بلکې درباندې واجبه ده چې خالي لاس یې پرې نه ږدئ او څه دنیاوي متاع ورکړئ.

۴_ د دغې متاع په اندازه کښې د یو پلوه خپلو ځانونو ته وګورئ چې څومره مو وسه کېږي، د پراخۍ خاوند دې د خپلې پراخۍ په اندازه او تنګ لاسی سړی دې د خپلې تنګ لاسۍ په اندازه اقدام وکړي، او د بله پلوه د عرف او رواج مراعات هم په نظر کښې ونیسئ چې د مطلقې ښځې سره په څه ښه جامه مناسبت لري او په اولس کښې مو څرنګه لباس رواج دی.

۵_ برسېره په دې باید ذکر شوې متعه په ډېر انسانیت او ښه وضعیت باندې ورکړئ، په تاسو باندې یې حق دی، په خپلو ځانونو باندې یې پېټی مه ګڼئ: محسنانو او نېکانو ته په کار نه دي چې د چا په حق باندې ګېډه واچوي او یا یې په بده وضعه ورکړي.

۶_ او که ناواده ښځو ته مو مهر ټاکلی وه او طلاق مو ورکړ نو د همدغه تعین شوي مهر د نیمائي برخې ورکول دربانډې لازم دي، مګر که طلاقو شوو ښځو په خپله خوښه درته عفوه کړ

نو بيا درباندې هيڅ شی نه لازميږي.

٧_ هو! كه تاسو دېته ګورئ چې د نكاح غوټه ستاسو په لاس وه او تاسو پرانستله او د زنانه وو پكښې هيڅ قصور نه وه او د مهر نيماني كول درته مزه نه دركوي او رجوليت (سړيتوب) مو نه مني، نو بيا ټول وركړئ ډېره ښه ده.

٨_ په ياد ولرئ چې ستاسو عفوه كول د نارينه وو له طرفه وي او كه د زنانه وو له طرفه وي، تقواداري او ديندارۍ ته ډېر نژدې كار دی بايد چې يو د بل څخه په عفوه كښې وړاندې والی وكړئ ترڅو مو خلكو ته د مينې او محبت مظاهره وشي او په راتلونكي كښې د دواړو جانبو د عداوت او دښمنۍ سبب ونه ګرځي، امكان شته چې د نكاح په تجديد باندې په دوهم ځل نوی كور جوړ كړئ.

٩_ اما د خپلو منځو بهتري او فضيلت مه هېروئ او په همدې مقام كښې يې هم نښې او علامات ښكاره كړئ. يا په بل عبارت: ذكر شوې عفوې ته بايد نارينه اقدام وكړي او خپل نارينتوب څرګند كړي او د ښځو وړو-وړو خبرو ته ونه ګوري.

بې شكه الله ﷻ په هغو ټولو كارونو باندې بينا دی چې تاسو يې كوئ. او هيڅ شی يې د نظره پټ نه دی، ډېر پام كوئ چې نا مناسب كارونه ونه كړئ.

توضيحات

١_ كه څوک وايي چې: طلاق خو ټولو ښځو ته جائز دی او جواز يې اسلام تائيد كړی دی مګر د جاهليت د زمانې مفاسد يې ورڅخه ساقط ګرځولي دي لكه چې وړاندې بيان شو، نو په دې كښې څه حكمت دی چې په دې مقام كښې يې ترې په ﴿ لَّا جُنَاحَ ﴾ ګناه پكښې نشته، سره تعبير وكړ؟.

موږ وايو چې:

الف: دلته د جناح څخه د مهر مطالبه مطلب ده. نو معنی يې داسې كېږي چې په تاسو باندې په ناواده ښځې كښې د مهر مطالبه نشته كه د نكاح كولو په وخت كښې مو ورته مهر نه وی ټاكلی[1].

ب: جناح په خپله معنی اخلو. نو معنی يې داسې كېږي چې په ذكر شوي صورت كښې په تاسو باندې څه ګناه نشته چې مهر ورنه كړئ خكه چې مهر مو نه دی ټاكلی[2].

ج: د طلاق تشريع په ضرورت باندې بناء ده او ضرورت د واده څخه وروسته په معاشرت كښې ښه څرګندېږي نو امكان لري چې د چا ذهن ته ورغلي وي او يا ورشي چې د ناواده ښځې طلاقول به جواز ونه لري نو الله ﷻ مهرباني وكړه چې تاسو نه پوهېږئ په ناواده ښځې كښې هم كله-كله درته ضرورت پېښېږي نو د ضرورت په وخت كښې د ناواده ښځې په طلاقولو كښې هم درباندې ګناه نشته.

څرنګه چې د ناواده ښځې ټول حالت د رغبت دي نو د حيض په حالت كښې هم د هغې طلاق

---

(١) تفسير كشاف ج١ ص٢٨٤

(٢) تفسير المنار ج٢ ص٤٢٩؛ تفسير ابي السعود ج١ ص٢٣٣

بدعي نه ګڼلی کېږي. همدا خبره ظاهره ده، په دې باندې د علماوو کرامو اکثریت دی[۱].

په یاد ولرئ!

۲ـ په یاد ولرئ چې په ﴿ أَوْ تَفْرِضُوا ﴾ کښې د "أوْ" کلمه د تنويع دپاره نه ده چې په پښتو کښې ترې په "یا" سره تعبیر وکړو، بلکې د عاطف "و" په معنی سره ده چې په پښتو کښې ترې په "او" سره تعبیر کوو. نو معنی یې داسې کېږي چې د هغو ښځو په طلاقولو کښې درباندې ګناه نشته چې هغو ته مو نه لاس وروړی وي او نه مو ورته مهر ټاکلی وي.

په عربي ژبه کښې په ډېرو ځايونو کښې د "أوْ" کلمه د واو په معنی سره استعماله شوې ده او په قرآن کریم کښې یې هم مثالونه شته چې مفسرینو کرامو په ګوته کړي دي[۲]. لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴾ [الدهر: ۲۴] یعني ای پیغمبره! د کافرانو څخه نه د ګناهګار خبره منه او نه د ناشکره.

متعه څه ته وايي؟

۳ـ "متعه" هغه شي ته وايي چې د استفادې ور وي خو په سرعت سره د زوال سره مخامخ کېږي[۳]، د همدې کبله ټولې دنیا ته "مَتَاع" ویل کېږي چې نظر آخرت ته ډېر ژر فاني کېدونکې ده. په هغه کومک باندې چې طلاقو شوو ښځو ته ورکول کېږي د متعې نوم اېښودل شوی دی چې د لږوالي او ناچیزه توب معنی پکښې د ورایه ښکاري. د همدې کبله احنافو په درې شیانو باندې تفسیره کړې ده: ۱ـ یو جوړ جامه. ۲ـ وړوکی ټکری. ۳ـ لوی ټکری او یا څادري[۴].

اما د قیمت په اعتبار سره پکښې د مېره حالت ته کتل په کار دي چې څه ډول قیمت ته یې وسه کېږي. که بالفرض د مېړه توان بالکل اوچت وه نو باید چې عرف او رواج هم بالکل د نظره ونه غورځول شي. او د هغه مراعات هم په کار دی لکه چې د ﴿ بِٱلْمَعْرُوفِ ﴾ کلمې څخه څرګندېږي[۵].

أبو حنیفه رحمه‌الله‌علیه وايي چې د متعې قیمت باید دومره پورته نه شي چې د مهر المثل د نیمايي څه اضافه شي خکه چې د مهر د تعین په صورت کښې یې د نیمايي څخه اضافه حق نه وه نو باید د عدم تعین په صورت کښې یې هم د متعې قیمت د مهر المثل د نیمايي څخه هغې خوا نه شي[۶].

یادونه

۴ـ د نکاح په سبب مېره په خپلې مېرمنې باندې همدومره حق لري چې د استفادې دپاره خپل

---

(۱) البحر المحیط ج۲ ص۲۳۲؛ احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۲۸
(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۹۹
(۳) تفسیر المراغي ج۲ ص۱۹۶
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۳۴
(۵) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۳۳
(۶) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۴۹

خان ورتسلیم کړي، خو چې هیڅ موانع موجود نه وي، هغه دا:

الف: هغه موانع چې په سترګو لیدل کېږي لکه چې میرمن "رَتْقَاء" وي (چې جماع ورسره ممکنه نه وي)، یا په کوټه کښې دریم نفر موجود وي که څه هم هغه په خوب باندې ویده وي[۱].

ب: هغه موانع چې شریعت موانع ګڼلي دي لکه حیض، نفاس، فرضي روژه، فرضي لمونځ او مطلق احرام نفلي وي او که فرضي.

دغه ډول خان تسلیمول چې موانع ونه لري د صحیحه خلوت په نامه یادېږي. نو هره یوه زنانه چې د خپل مېړه سره صحیحه خلوت وکړي که څه هم جنسي ارتباط ورسره ونه نیسي د طلاق په صورت کښې د ټول مهر خاونده ګرځي او که مهر یې ورته نه وي ټاکلی نو د مهر المثل حق لري.

هو! په صحیحه خلوت کښې ضرور نه ده چې د مېړه په کور کښې دې صورت ونیسي، که بالفرض د واده څخه وړاندې د پلار په کور کښې همدا ډول خلوت پېښ شو هم د امام أبو حنیفه رحمه الله علیه په نزد د واده شوې ښځې حکم اخلي او مهر یې د مېړه په غاړه لازمېږي.

یادونه

۵ـ مفسرینو کرامو ﴿ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِ ﴾ په دوه ډوله تفسیر کړی دی:

الف: ځینې مفسرین کرام وایي چې دلته د ښځې ولي او خپلوان مطلب دی. همدا تفسیر امام الشافعي رحمه الله علیه غوره کړی دی[۲]. د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په نوموړي صورت کښې نیمایي مهر په دوه وجو باندې سقوط کوي چې یا ورته طلاقې شوې ښځې عفوه وکړي او یا ورته د هغې ولي او خپلوان عفوه وکړي او بس.

ب: مګر اکثرو علماوو کرامو د ذکر شوي عبارت څخه مېړه مراد کړی دی[۳] ځینې مفسرین کرام لا وایي چې همدا تفسیر صحیح دی او بس[۴]، همدا تفسیر امام أبو حنیفه رحمه الله علیه خوښ کړی دی چې د معنی حاصل یې هغه دی کوم ته چې په خلاصه مطلب کښې اشاره شوې ده.

د همدې تفسیر څو لاندې دلایل ولولئ:

اول: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم په همدې ډول باندې تفسیر رانقل شوی دی[۵].

دوهم: د [البقرة:۲۳۵] ایت شریف کښې الله ﷻ نارینه مخاطب کړي دي چې په عدت کښې د نکاح عقد په لاس کښې مه اخلئ: نو معلومه شوه چې دلته هم همغه نارینه مطلب دي چې د نکاح عقد یې په لاس کښې اخستی دی او بیا د واده څخه وړاندې طلاق ورکړي.

دریم: خاوند په مېرمنې باندې فضل او بهتري لري لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ

(۱) التفسیر الکبیر ج۶ ص ۱۵۰؛ احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۳۶

(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۲۸۶

(۳) تفسیر المنار ج۲ ص۴۳۴

(۴) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۰۷

(۵) البحر المحیط ج۲ ص۲۳۶؛ الدر المنثور ج۱ ص۶۹۹

عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ [النساء: ۳۴] یعني: نارینه په زنانه وو باندې حاکمان دي په دې سبب چې الله ﷻ ځینو (نارینه وو) لره په ځینو (زنانه وو) باندې فضیلت ورکړی دی.

نو ځرنګه چې الله ﷻ د مهر د عفوې ځخه وروسته فرمایي چې: ﴿وَلَا تَنسَوُاْ ٱلْفَضْلَ بَيْنَكُمْ﴾ یعني: په خپلو منځو کښې بهتري او فضل مه هېروئ. یعني سړی باید خپله بهتري ښکاره کړي که ټول مهر یې ورکړی وی د نیماني ځخه دې ورتېر شي بېرته دې ترې نه اخلي، او که ټول یې نه وي ورکړی نو نیماني مهر دې ترې نه ایساروي ټول دې ورکړي او باید د زنانه عفوې ته سترګې ونه نیسي چې دا کار د ده د رجولیت سره مناسب نه دی. نو معلومه شوه چې په ﴿ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ عُقْدَةُ ٱلنِّكَاحِ﴾ ځخه مېړه مراد دی.

ځلورم: لکه ځنګه چې د زنانه وو په نورو مالونو کښې د هغوی خپلوان د اجازې ځخه په غیر تصرف نه شي کولی نو باید چې په مهر کښې یې هم تصرف ونه کړي او نیماني عفوه نه کړي. نو معلومه شوه چې په دې مقام کښې د ښځو خپلوان او ولیان مطلب نه دي.

سوال جواب

۶ـ که ځوک وایي چې: که په دې مقام کښې مېړونه مطلب وی نو په ﴿إِلَّآ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَاْ﴾ عبارت باندې به اکتفاء کړې شوې وی. یعني مګر نماني مهر متعین نه دی چې مېرمني عفوه وکړي او یا خاوندان عفوه وکړي؛ چې په اول صورت کښې بالکل مهر نشته او په دوهم صورت کښې ټول مهر دی، نو په ﴿ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ عُقْدَةُ ٱلنِّكَاحِ﴾ عبارت کښې ځه حکمت دی چې ورسره اضافه شو؟.

مونږ وایو چې: دغه عبارت صرف د نارینه وو د ترغیب دپاره اضافه شوی دی چې باید دوی په عفوې سره خپل قیمومت او واکداري ځرګنده کړي او د زنانه وو عفوې ته سترګې په لار نه شي په همدې متعلق لاندې قیصه ولولئ:

یوه قیصه

۷ـ جُبیر بن مُطعم د هوازن د قبیلې ځخه یوه ښځه په نکاح کړه او بیا یې د واده ځخه وړاندې طلاق ورکړ او هم یې تعین شوی مهر ټول ورواستاوه، نو ذکر شوی ایت شریف یې تلاوت کړ او ویې ویل چې د دې ځخه چې زنانه راته نیماني مهر عفوه کړي، دا ښه ده چې زه یې ورته عفوه کرم[۱].

﴿حَـٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَـٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾﴾

[۲۳۸] په ټولو لمونځونو باندې (عموماً) او په غوره لمانځه باندې (خصوصاً) محافظت وکړئ

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۰۶

او خاص الله ﷻ ته ودرېږئ په داسې حال کښې چې دوامداره اطاعت کوونکي (او عاجزي کوونکي) یاست.

[۲۳۹] نو که ډاربدلئ نو (لمونځونه په اشاره وکړئ) په داسې حال کښې چې خاې په خاې ولاړ یاست او یا سواره یاست نو کله چې په امن کښې شوئ نو الله ﷻ هغسې یادوئ (لمونځونه کوئ) لکه چې درته ښودلي یې دي په داسې حال کښې چې تاسو نه وئ چې ورباندې پوه وئ (او زده مو نه وه).

ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱ـ د دې ایتونو اړوند د وړاندېنیو ایتونو سره د لاندې وجوهو د کبله په نظر راځي:

الف: د ډېر وړاندې ځای څخه په دنیاوي معاملاتو کښې بحث راروان دی لکه د شرابو او قمار تحریم، په یتیمانو ترحم، د مشرکې ښځې د نکاح عدم جواز، د حیض په حالت کښې د جنسي ارتباط ممنوعیت، د یمین او ایلاء بیان، د طلاقو شوو ښځو عدت، د طلاقونو تحدید، د طلاق څخه وروسته د بلې نکاح مخه نه نیول، اولاد ته د تي ورکول، د کونډو عدت، کونډو ته د نکاح وړاندیز، طلاقو شوو ښځو ته متعه ورکول او داسې نور چې لا پوره شوي نه دي.

څرنګه چې ذکر شوي احکام ایماني قوت ته ضرورت لري نو الله ﷻ د معاملاتو د بحث د اتمام څخه مخکښې په لمانځه باندې د ډېر کلکوالي امر وکړ ترڅو د سړي په ایمان کښې صفائي زیاته شي او د ذکرو شوو احکامو اجراء کول ورته اسان شي.

ب: ذکر شوو ټولو بحثونو معاملاتو پورې اړه درلوده د هغو د تمام څخه وړاندې یې د لمانځه په حفاظت باندې امر وکړ ترڅو مسلمانان پوه شي چې معاملاتي احکام هم عبادتونه دي او الله ﷻ ورباندې داسې حکم کړی دی لکه په لمانځه باندې یې چې حکم کړی دی باید چې څوک ورته په سرسري نظر ونه ګوري.

ج: د دې دپاره چې د ښځو او اولادونو په بحث باندې د مسلمانانو څخه بدني عبادات هېر نه شي نو ځکه د لمانځه بحث په منځکښې راوغورځولی شو چې پام کوئ لمونځ هېر نه کړئ لکه چې فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ﴾ [المنافقون: ۹] يعني: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو دې نه مالونه او نه اولادونه د الله ﷻ د ذکر څخه غافل کړي، او هرڅوک چې دغه کار وکړي نو همدوی تاوانیان دي.

د: بالآخره د دې دپاره چې باید مسلمانان په دعوو او دنګلو باندې خانونه دومره مشغول نه کړي چې د لمونځونو څخه پرې غافل شي. نو په لمانځه باندې د حفاظت امر په دې مقام کښې ډېر ښه مناسب ښکاري.

۲ـ يعني: ای مسلمانانو! په لمونځونو باندې پوره حفاظت وکړئ چې لمونځونه ستاسو حفاظت کوي او د ګناهونو او منکراتو څخه مو ساتي او خصوصاً په منځني او غوره لمانځه باندې زیاته پاملرنه وکړئ چې د مازدیګر لمونځ دی.

۳_ الله ﷻ ته د کامل اطاعت او عاجزۍ په حالت کښې ودرېږئ د عبادتونو څخه رسم او رواج مه جوړوئ. بلکې کله چې لمانځه ته ودرېږئ نو دړېه زړه کړئ چې تاسو د الله ﷻ په وړاندې ودرېږئ او همغه ﷻ ته په سجده پرېوزئ. نو بايد چې د لمانځه څخه د فراغت څخه بعد هم په تاسو کښې د اطاعت او بندګۍ نښې او اثار څرګند شي.

۴_ لمونځونه د ايمان صفائي زياتوي او ستاسو دپاره داسې وسله ده چې د بلې هرې وسلې څخه زياته موثره او ګټوره ده، نو بايد چې په هيڅ دعوه دنګله باندې ترې غافل نه شئ خصوصاً د جهاد په حالت کښې ورباندې زياته پاملرنه وکړئ حتی که وېره او ډار درباندې بالکل زيات شو نو د پياده توب او سورلۍ په حالت کښې يې په اشاره باندې اداء کړئ که مخ مو د قبلې څخه يو پلوه او بل پلو کېږي هم باک يې نشته.

هو! کله مو چې ډار د منځه لاړ او امنيت مو په نصيب شو نو بيا يې په همغه کيفيت سره اداء کړئ چې الله ﷻ درښودلی دی او ستاسو زده نه وه. څکه چې الله ﷻ په تاسو باندې ډېر لوی احسان کړی دی، که د خپل ذکر او يادونې طريقه يې نه وی درښودلې نو په جهالت کښې به پراته وی او د هدايت لار به مو هيڅکله په برخه شوې نه وی.

توضيحات

۱_ نظر دې ته چې د ﴿ حَٰفِظُوا ﴾ کلمه د مفاعلې د باب څخه ده، نو د معنی حاصل يې داسې رااوخي چې: مسلمانان او لمونځونه بايد يو تربله حفاظت وکړي خو د مسلمانانو حفاظت بايد قصدي وي. نو د مسلمانانو حفاظت خو معلوم دی چې بايد لمونځونه په ټولو حقوقو سره اداء کړي، فرائض، واجبات، سنن او حتی د وختونو مراعات هم بايد په نظر کښې ونيسي؛ اما د لمانځه په حفاظت کښې لاندې معناوې ممکنې دي.

الف: دلته د الله ﷻ حفاظت مطلب دی لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «احْفَظْ اللهَ يَحْفَظْكَ»[۱] يعني: ته د الله ﷻ د احکامو ساتنه کوه نو الله ﷻ به ستا ساتنه وکړي.

ب: په لمانځه سره الله ﷻ مسلمان ته توفيق ورکوي چې د ګناهونو څخه ځان وساتي، لکه چې الله ﷻ فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ﴾ [العنکبوت: ۴۵] يعني: بې شکه لمونځ (لمونځ کوونکی) د بې شرمۍ او په شريعت کښې د نااشنا کارونو څخه منعه کوي.

ج: په لمونځونو سره الله ﷻ خپل بندګان د بلاګانو او آفتونو څخه ساتي، لکه چې فرمايي: ﴿ ٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ﴾ [البقرة: ۱۵۳] يعني: د الله ﷻ څخه په صبر او په لمانځه سره کومک وغواړئ (چې کومک درسره وکړي).

د: لمونځ په قرائت باندې مشتمل دی او د قيامت په ورځ قرآن کريم د خپل قاري دپاره شفاعت

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص ۲۷۶۴

کوي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1] يعني: روژه او قرآن کريم دواړه به د قيامت په ورځ د بنيادم دپاره شفاعت کوي. همدې مضمون باندې نور احاديث هم ډېر دي.

"الْوُسْطَى" د کوم يوه لمانځه نوم دی؟

۲ـ د ﴿ اَلْوُسْطٰى ﴾ کلمه د "وَسَطْ" څخه اخستله شوې ده، "وَسَطْ" دوه معناوې لري[2]:

الف: غوره او بهتر. يعنې په تېره بيا په هغه لمانځه باندې زياته پاملرنه وکړئ کوم چې په نورو لمونځونو کښې غوره او بهتر دی.

ب: منځ او ميانه. يعنې د هغه لمانځه زيات حفاظت وکړئ کوم چې په نورو لمونځونو کښې متوسط او منځنی دی.

پاتې شوه دا خبره چې هغه کوم يو لمونځ دی چې د ﴿ اَلْوُسْطٰى ﴾ لقب ورکړی شوی دی؟، نو په دې کښې آن د صحابه کرامو ﷺ د زمانې څخه اختلاف موجود دی او واضحه خبره پکښې نشته چې فلانی لمونځ مطلب دی. که په يوه ځای کښې د مازديګر لمانځه ته دغه لقب ورکړی شوی دی نو په بل ځای کښې د ماسپښين لمونځ په همدې نوم باندې نومول شوی دی او داسې نور.

د همدې کبله پکښې علماء کرامو رحمهم الله زښت ډېر اقوال ذکر کړي دي چې تقريبًا اوولس (۱۷) قولونو ته رسېږي، که څوک شوق لري نو هملته ته دې مراجعه وکړئ[3] او تفصيل دې هلته وګوري. مونږ دلته لاندې درې قولونه ذکر کوو چې د نورو قولونو څخه راته قوي ښکاري:

الف: ځينو علماء کرامو ته (چې د دلايلو تعارض ته يې کتلي دي) ښه ښکاره شوې ده چې "صَلاَةُ الْوُسْطَى" په ټولو لمونځونو کښې داسې پټ دی لکه چې "لَيْلَةُ الْقَدْرِ" په شپو کښې پټه ده او اسم اعظم د الله ﷻ په نومونو کښې پټ دی او ګناه کبيره په ګناهونو کښې ورکه ده، او داسې نور[4]. دا د دې دپاره چې بايد د هر يوه لمانځه حفاظت او ساتنه وکړی شي هر يوه ته پام په کار دی.

ب: يوه لويه ډله علماء کرام د ماسپښين په لمانځه باندې نوموړی لقب ږدي او په ټولو لمونځونو کښې د ماسپښين لمونځ غوره لمونځ ګڼي. ځينې مفسرين کرام همدې قول ته تحقيقي قول وايي[5].

ج: مګر جمهورو علماء کرام وايي چې د وُسطی لمونځ د مازديګر لمونځ دی. همدا قول ابو حنيفه رحمه الله عليه غوره کړی دی او بي بي عائشې رضي الله عنها هم همدې قول ته ترجيح ورکړې ده[6]. د همدې قول مويدات زښت ډېر دي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۶۶۲۶
(۲) تفسير المراغي ج۲ ص۲۰۰
(۳) التفسير الكبير ج۶ ص۱۵۷؛ البحر المحيط ج۲ ص۲۴۱؛ تفسير القرطبي ج۲ ص۲۰۹؛ تفسير المنار ج۲ ص۴۳۷
(۴) تفسير القرطبي ج۳ ص۲۱۳؛ نشر المرجان من مشكلات القرآن ص۱۸۶
(۵) روح المعاني ج۲ ص۱۵۶
(۶) تفسير القرطبي ج۳ ص۲۱۰؛ نشر المرجان من مشكلات القرآن ص۱۸۶

د درېم قول مؤیدات

۳_ د درېم قول د مؤیداتو مثالونه ولولئ، هغه دا چې:

الف: نبي کریم ﷺ د احزابو د غزا په ورځې وفرمایل چې: «شَغَلُونَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى صَلَاةِ الْعَصْرِ مَلَأَ اللَّهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا»[1] یعني: دوی (کافرانو) مونږ د وُسطی لمانځه څخه مشغول کړو چې د مازدیگر لمونځ دی، الله ﷻ دې د دوی کورونه او قبرونه د اوره ډک کړي.

ب: د نبي کریم ﷺ څخه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روایت کوي چې فرمایلي یې دي چې: «الَّذِي تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ»[2] یعني: د هغه چا څخه چې د مازدیگر لمونځ فوت شي داسې دی لکه چې مال او اهل یې ټول تباه شوي وي.

ج: نامتو مفسر علامه ابن کثیر رحمه الله وایي چې د وُسطی لمانځه په تعین کښې صحابه کرامو ﷺ زښت ډېر اختلاف کړی دی خو د احادیثو په رڼا کښې دا خبره ثابته ده چې د وُسطی لمونځ د مازدیگر لمونځ دی[3].

د: معروف مفسر جمال الدین القاسمي رحمه الله په خپل تفسیر کښې د مازدیگر د لمانځه او د مازدیگر وخت دپاره دیارلس امتیازات ذکر کړي دي چې مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه، که څوک فرصت لري هملته دې وگوري[4].

قنوت څه معنی؟

۴_ د ﴿قَٰنِتِينَ﴾ کلمه د "قنوت" څخه اخستله شوې ده، خینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې قنوت شپږ معناوې لري[5]، مگر مونږ یې دلته صرف لاندې دوه معناوې لیکو:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې په دې مقام کښې قنوت د کامل اطاعت په معنی سره دی[6]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ ته په لمانځه کښې د کامل اطاعت په توګه ودرېږئ هسې نه چې محض د عادت او رواج په توګه ولاړ اوسئ.

برسېره په دې باید د لمانځه د اول څخه تر آخره پورې دوامدار اطاعت وکړئ هسې نه چې په منځکښې یې څه داسې کارونه او قولونه وکړئ چې د الله ﷻ اطاعت نه تمثیلوي. لکه خبرې کول، تلل، خوراک، څښاک او داسې نور.

ب: خینې علماء کرام وایي چې دلته قنوت د سکوت په معنی سره دی لکه چې د زید بن ارقم ﷺ څخه روایت دی چې مونږ به په لمانځه کښې خبرې کولې تردې چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۲۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۷۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۹۴
(۴) تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۸۴
(۵) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۶۳
(۶) روح المعاني ج۲ ص۱۵۷

چې: ﴿وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ﴾[1] یعنې: الله ﷻ ته په داسې ډول ودرېږئ چې ساکت یاست یعني د بېودلو شوو کلماتو څخه پرته پکښې نور څه مه وایئ.

صلاة الخوف

۵ـ په یاد ولرئ هغه لمونځ چې د خوف او ډار د کبله د خپل اصلي شکل څخه تخفیف شي د صلاة الخوف (د وېرې لمونځ) په نامه یادېږي، دغه لمونځ په ډېرو ډولونو سره روایت کړی شوی دی چې مفسرینو کرامو د [النساء: ۱۰۱، ۱۰۲] ایتونو لاندې لیکلي دي.

په دې مقام کښې د صلاة الخوف یو ډول بیان شوی دی چې وېره او خوف زیات شي تر دې چې رکوع او سجده هم د لمونځ کوونکي د توان څخه خارجه شي، نو په دې کښې شرعي حکم دا دی چې باید لمونځ په اشاره باندې وکړي، برابره خبره ده چې په خپلو پښو باندې ولاړ وي او که په کوم بارګیر باندې سور وي مګر په جنګ باندې مشغول نه وي.

د جهاد په دوران کښې کله-کله په مجاهدینو باندې داسې حالت راځي چې دښمن سره په نژدې منطقه کښې یوې ورې پولې ته پټ شي چې که ودرېږي او یا کښېني نو دښمن یې ګوري.

په دغسې حالت کښې هم مجاهدینو ته په کار ده چې خپل لمونځونه په ناسته او یا په ملاسته په اشاره باندې وکړي. لکه چې د روان جهاد په ۱۳۶۴ هـ ش کال د ننګرهار د غرونو په لمن کښې یو ګروپ مجاهدین د همدغسې وضعې سره مخامخ شوي وه، د سهار څخه یې تر بېګا پورې ټوله ورځ په ناسته او ملاسته تېره کړې وه او ټول لمونځونه یې په تیمم او اشاره سره کړې وه، الله ﷻ ورته د ماښام په تیاره کښې د روسیانو د ټانګونو او الوتکو څخه نجات ورکړ ولله الحمد. دوی ته د روسانو قوه د سل متری په شاوخوا کښې چارچاپېره پرته وه چې د هلیکوپټرو په ذریعه ناڅاپه د دوی ورانډې ببرته ځای په ځای شوې وه خو الله ﷻ په ذکر شوي ګروپ باندې ړانده او کاڼه کړه.

اما په دې کښې اختلاف دی چې عین د جنګ په حالت کښې په اشاره لمونځ جائز دی او که څنګه؟، دغه لمانځه ته صلاة المسایفة (د توري د وهلو د حال لمونځ) وایي.

امام الشافعي رحمه الله علیه دغه ډول لمونځ هم جائز ګڼي لکه چې د همدغه ایت شریف څخه څرګندېږي. او دا څکه چې ﴿رِجَالًا﴾ د ﴿رَاجِل﴾ جمعه ده. او ﴿رَاجِل﴾ د پیاده په معنی سره دی لکه چې همدغه د پیاده معنی د ﴿رُكْبَانًا﴾ ترڅنګه په تبادر سره ذهن ته راځي. د همدې کبله د احنافو لوی مفسر علامه الآلوسي رحمه الله علیه وایي چې په دې مقام کښې د امام الشافعي رحمه الله علیه اجتهاد منصفانه ښکاري[2]. چې پیاده ته په اشاره باندې الله ﷻ لمونځ جائز کړ نو معلومېږي چې صلاة المسایفة هم جائز دی، پیادګان د پښو په حرکت باندې مزل کوي او په جنګ کښې مشغول مجاهد خپلو لاسونو

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۰۴

(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۵۸

ته حرکت ورکوي يا توره وهي او يا په کلاشنکوف باندې فيرونه کوي او داسې نور.

اما امام أبو حنيفه رحمه‌الله صَلاة المسايفة جائز نه ګڼي ځکه چې د نبي کريم ﷺ څخه د خندق په غزا کښې د بالفعل محاربې د کبله څو لمونځونه قضا شوه چې د کفارو د ماتې څخه وروسته يې بيا په ترتيب سره قضائي راوړه[۱]، نو که صَلاة المسايفة جائز وی نو نبي کريم ﷺ به کړې وی او لمونځونه به يې نه وی قضاء کړي، سره د دې چې د خوف د کبله د لمانځه تخفيفونه خو د خندق د غزا څخه پخوا په ذات الرقاع نومې غزا کښې نازل شوي وه[۲].

اما "رِجَالٌ" د "رَاجِلٌ" جمعه ده، خو "رَاجِلٌ" په دې مقام کښې د "ماشي" (په خپلو پښو تلونکي) په معنی سره نه، بلکې د قائم (ولاړ) په معنی سره دی، لکه چې د عبد الله بن عمر رضي‌الله‌عنهما څخه يې روايت شوی دی[۳]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د خوف په حالت کښې په اشاره باندې لمونځ وکړئ خو چې پخپلو پښو ولاړ ياست او يا په سورليو باندې سواره ياست، د همدې قبيلې څخه په خمکه د ناست يا ملاست مجاهد حکم هم دی.

يادونه

۶_ مونږ ته د امام أبو حنيفه رحمه‌الله اجتهاد منصفانه ښکاري، ځکه چې د معذرتونو د کبله خو الله ﷻ د لمانځه په ارکانو کښې اسانې راوستله او په اشاره باندې يې جائز کړ، نو اقلا بايد چې د لمانځه توجه خو د اشارې په حالت کښې باقي پاتې وي، که توجه هم پاتې نه شي نو د لمانځه هيڅ شی نه پاتې کېږي او بالکل بيخ او بنياد يې اوځي.

ښکاره ده چې په يوه وخت کښې انسان دوه شيانو ته توجه نه شي کولی نو عين د سلاح د استعمال په حالت کښې به څنګه خپل لمانځه ته متوجه شي که څه هم د اشارې لمونځ وي. د دې مثال د سخت مريض دی چې مرض يې ډېر سخت شي او خپل د اشارې لمانځه ته اقلا توجه هم نه شي کولی نو لمونځ يې بل وخت ته پاتې کېږي، نو په کار دي چې د مسايفې لمونځ هم بل وخت ته پاتې شي لکه چې نبي کريم ﷺ د خندق په غزا کښې بل وخت ته پرېښی وه.

﴿ وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾ ﴾

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۹۱
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۴۹، تفسير القاسمي ج۳ ص۲۹۰، تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۹۶
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۲۹، ج۲ ص۶۵۱

[۲۴۰] او هغه کسان چې ستاسو د جملې څخه وفات شي (وفات ته نژدې شي) او دوی (کونډې) ښځې پرېږدي، (دوی دې وصیت وکړي) د خپلو کونډو دپاره وصیت کول (چې وارثان یې هغوی ته د یو کال پورې (نفعه ورسوي) نفعه رسول په داسې حال کښې چې (د کورونو څخه به یې) نه اوباسي.

(هو!) که دوی په خپله خوښه ووتلې نو په تاسو باندې په هغه شي کښې ګناه نشته چې دوی یې د خپلو نفسونو په باره کښې په معروفه شرعي طریقه باندې اجراء کوي.

او الله ﷻ غالب دی د حکمت والا دی.

[۲۴۱] او شته دي طلاقو شوو ښځو لره په ښکه طریقه باندې نفعه رسول، لیاقت لري په متقیانو باندې.

[۲۴۲] همدارنګه الله ﷻ خپل احکام بیانوي شاید چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ (چې په اسرارو باندې یې پوه شئ او عملي یې کړئ).

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ څرنګه چې الله ﷻ د معاملاتو د احکامو په منځکښې د څه حکمتونو په بنیاد د لمانځه حکم بیان کړ، نو په دې ایتونو کښې یې د لاندې احکامو متباقي بیان نازل کړ:

الف: په دې ایتونو کښې الله ﷻ هغه عدت ته اشاره کړې ده چې د اسلام په ابتداء کښې به کونډو ښځو تېراوه، ترڅو د یو پلوه دوی تخفیف شوي عدت (څلورو میاشتو او لسو ورځو) ته په اخلاص سره تن ورکړي او د منکراتو څخه پکښې خانونه وساتي، او د بله پلوه نارینه هم حوصله خرابه نه کړي او د عدت په داخل کښې ورته په صریحو الفاظو د نکاح وړاندیز ونه کړي.

ب: همدارنګه په دې ایتونو کښې د واده شوو ښځو، چې طلاق ورکړی شوی وي، متعې ته هم اشاره شوې ده، او په وړاندې ایتونو کښې صرف د ناواده مطلقو متعه بیانه شوې وه.

۲ـ نو د دغه ایتونو د مطلب خلاصه هم په دوه وو برخو وېشله کېږي، هغه دا چې:

الف. یعنې ای مسلمانانو! تعین شوی عدت په خانونو باندې بوج مه ګڼئ، هغه وخت درپه زړه کړئ چې د جهالت په تورو تیارو کښې پراته وئ او کونډو به په ډېرو سختو شرائطو کښې شپې او ورځې تېرولې چې د اسلام په راتګ سره هغو مشکلاتو خاتمه وموندله خو پوره لا نه وه حل شوي بلکې همدومره هدایت درکړی شوی وه چې:

ای مسلمانانو! ستاسو څخه چې څوک مرګ ته ورنژدې شي او هغوی میرمنې ولري نو هغوی دې د خپلو پاتې مېرمنو (کونډو) دپاره وصیت وکړي ترڅو د دوی وارثان ورته پوره د یو کال پورې څه متاع ورکړي، خوراک او څښاک او د اوسېدانې ځای دې وربرابر کړي او د کال پورې دې د کوره ونه باسي.

هو! که بالفرض دوی په خپله خوښه د مېړه د کوره اوځي نو په تاسو باندې ـ ای مسلمانانو! ـ په هغه شي کښې څه ګناه نشته چې کونډې د خپلو خانونو په باره کښې څه تصمیم نیسي او په شرعي معروفه طریقه باندې د خان دپاره د نفقې او مسکن څه بندوبس کوي. او الله ﷻ عزیز دی د ارادې مخه یې هیڅوک نه شي نیولی، که تاسو یې جبراً نفقه بنده کړئ او یا یې د اصلي مسکن څخه بې

وخت وساتي، تر څو يې په ترکړې او هيڅوک يې مو تري خلاص نه شي کړي. او هم د حکمت والا دي چې په همدې وخت کښې همدغه حکم د حکمت غوښتنه ده. امکان لري چې په راتلونکي وخت کښې ذکر شوی حکم تغيير ومومي او په بېل ډول حکم باندې بدل شي. او دا هم د حکمت اقتضاء ده چې د جاهليت د رسمونو څخه يې خلاص کړئ او د ژوند نظام يې درنازل کړ.

ب ـ اې مسلمانانو! د متعې په باره کښې دغه نور هدايت هم درواخلئ چې هرې يوې مطلقې لره په شرعي معروفه طريقه باندې متعه شته او په متقيانو باندې حقه ده. څوک چې ځان ته متقي وايي بايد هغوی ته څه نه څه دنيوي متاع ورکړي چې د دردېدلي زړه د باره يې مرهم شي او د خلکو د بد ګومان څخه وبيونه شي. برسېره په دې ترڅو چې د دوی دواړو د پيوند غوڅېدل نهائي مرحلې ته ونه رسيږي. امکان لري چې د دوهم ځل د باره نوی او تازه نکاح وتړي.

هو! په کومو ښځو کښې چې بالکل مهر نه وي تعين شوی او لا واده شوې هم نه وي نو هغو ته د ځينو متاع ورکول لازم دي ځکه چې په دغه صورت کښې نه مهر شته او نه مهر المثل، چې د زړه د باره يې مرهم شي. او په هغو ښځو کښې چې مهر يا مهر المثل وي نو برسېره په ټول يا نيمائي مهر، نوره څه متاع ورکول هم ښه کار دی خو لازم نه دي ځکه چې د زخمي زړه څه دارو درمل يې شوي دي.

الله ﷻ ستاسو د ژوند او ښه معيشت د باره دغه ډول احکام نازل کړه شايد چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ او پوه شئ چې دا ټول ستاسو د باره د اکسير مثال لري. په راتلونکي کښې هم همدغسې خونديور حکمونو ته منتظر اوسئ، چې د ژوند په هره برخه کښې او په خانګړي توګه د کورني نظام په هکله به څنګه احکام درنازل کړي.

توضيحات

۱ ـ د ذکر شوي ايت شريف څخه د کونډو په باره کښې لاندې احکام څرګندېږي:

الف: په مېړونو باندې لازم دي چې د مرګ د نږدې کېدلو په وخت کښې د پاتې کونډو په متعلق وصيت وکړي.

ب ـ د کونډو عدت پوره يو کال دی، بايد تر يو کاله پورې د عدت د منکراتو څخه ځان وساتي.

ج ـ بايد تر يو کاله پورې کونډو ته نفقه ورکړی شي.

د ـ د همدې مودې پورې بايد د مېړه د کوره ونه ويستله شي.

په دې مقام کښې د [۱] متاع څخه مراد د کونډې ضروريات پوره کول دي، چې خوراک، څښاک او مسکن ته شامل دي.

مفسرين دوه ډلې دي

۲ ـ د همدې ايت په تفسير کښې مفسرين کرام په دوه ډلو وېشل شوي دي:

(۱) تفسير القرطبي ج ۳ ص ۲۲۸

الف: یوه ډله مفسرین کرام وايي چې ذکر شوی ایت شریف منسوخ نه دی محکم دی او ذکر شوي څلور واړه حکمونه په استحباب باندې بناء دي[۱]، نو که مېړه د مرګ په حالت کښې خپلو وارثانو ته د خپلې کونډې په باره کښې وصیت وکړي چې د کاله پورې ورته نفقه ورکړئ او د کوره يې مه وباسئ، او هغوی په خپله خوښه دغه وصیت عملي کړي نو ښه خبره ده.

برسېره په دې که د مېړه د وارثانو د زړه ښه کولو دپاره آن تر یو کاله پورې خپل خان سنګار نه کړي او د بل مېړه هڅه ونه کړي هم ښه خبره ده، که څه هم عدت خو يې په څلورو میاشتو او لسو ورځو باندې پوره کېږي او تر کاله پورې وړباندې څه لزوم نشته بلکې د کونډې د خوښې پورې اړه لري او بس.

ب. عام مفسرین کرام[۲] وايي چې دغه ایت شریف منسوخ دی. خېنې لا وايي چې د عدم نسخې خبره د لومړي خل دپاره د مشهور مفسر مجاهد رحمه الله څخه روایت شوې ده چې وروسته يې بعضو مفسرینو کرامو متابعت کړی دی، خو بعض راویان وايي چې مجاهد رحمه الله د خپلې رايې څخه رجوع کړې ده او په نسخه باندې قائل شوی دی. نو د دې روایت په بناء د ټولو مفسرینو کرامو په اجماع باندې باید قائل شو چې دا ایت منسوخ دی[۳].

په هرتقدیر، جمهور علماء کرام وايي چې د اسلام په ابتداء کښې په سړي باندې د خپل مال په وېش کښې وصیت کول لازم وه لکه چې د [البقرة: ۱۸۰] ایت لاندې يې څه تفصیل تېر شوی دی، نو په هغه وخت کښې د ښځې دپاره هم د یو کاله پورې وصیت واجب وه خو کله چې د مړي متروکه مال الله ﷻ پخپله تقسیم کړ او د میراث ایتونه يې نازل کړه او هم نبي کریم ﷺ د وارث دپاره بالکل وصیت باطل وګرخاوه نو د ذکر شوو څلورو احکامو څخه درې احکام (وصیت، نفقه او د کوره نه ویستل) منسوخ شوه.

دا خکه چې د مړي ټوله دارايي د مسکن په شمول په ترکه کښې شامله شوه چې د هر وارث دپاره پکښې برخه تعینه شوه، کونډه هم د وارثانو د جملې څخه یوه وارثه ده، چې د مېړه د اولاد په موجودیت کښې ورته اتمه برخه او د نه موجودیت په حالت کښې ورته څلورمه برخه ټاکله شوې ده، نو باید چې کونډه په همدغې خپلې برخې باندې اکتفاء وکړي د همدې څخه وخوري او په همدې کښې استوګنه وکړي خکه چې د نورو وارثانو په برخو باندې د تعرض حق نه لري.

کله چې الله ﷻ د [البقرة:۲۳۴] ایت کښې د کونډو عدت څلور میاشتې او لس ورځې تعین کړ نو د یو کاله څخه عدت هم راښکته شو چې نه وړباندې د سنګار پرېښودل شته او نه د بلې نکاح نه کول، بلکې د خان سنګارول او بله نکاح کول ورته د تجرد څخه بهتر دي.

---

(۱) في ظلال القرآن ج۱ ص۱۵۹؛ تفسیر المنار ج۲ ص۴۴۶

(۲) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۶۹؛ روح المعاني ج۲ ص۱۵۹؛ البحر المحیط ج۲ ص۲۴۴؛ تفسیر المظهري ج۱ ص۳۳۹؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۲۲۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۹۶؛ زاد المسیر ج۱ ص۲۵۲

(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۲۷

سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: ناسخ بايد د منسوخ څخه وروسته وي نو بايد چې دا ايت د هغه ايت دپاره ناسخ وګرځي او عدت يو کال شي؟

مونږ وايو چې: د قرآن کريم عثماني ترتيب (موجوده ترتيب) توقيفي دی يعنې د نبي کريم ﷺ په امر مرتب شوی دی او نزولي ترتيب نه دی. نو په قرآن کريم کښې داسې ايتونه ډېر دي چې په نزول کښې وړاندې دی خو په عثماني ترتيب کښې وروسته دی. ذکر شوی ايت د همدې قبيلې څخه دی[1].

يادونه

۴ـ په دې مقام کښې د ﴿ وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ ﴾ څخه هغه څوک مراد دی چې مرګ ته نژدې وي خو لا مړه شوي نه وي. نو د ايت شريف متباقي برخه ورسره منافات نه لري، چې مړی خو وصيت نه شي کولی[2].

دلته کومې مطلقې مرادې دي؟

۵ـ د ﴿ وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ ﴾ په کلمه کښې مفسرينو کرامو په لاندې دولونو سره تفسيرونه کړي دي:

الف: ځينې مفسرين کرام وايي چې دلته همغه مطلقې ښځې مرادې دي کومو ته چې د [البقرة: ۲۳۶] ايت کښې اشاره شوې وه. او دا ځکه چې هلته د حکم په آخر کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ حَقًّا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ يعني: دا په محسناتو او نېکوکارانو باندې حق دی.

نو يوه مسلمان سړي وويلې چې په مونږ باندې متعه واجبه نه ده بلکې که څوک غواړي چې د نيکوکارانو څخه شمېر شي متعه دې ورکړي او بس. الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ او په ﴿ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ باندې يې ختم کړ[3]، يعني ناواده ښځو دپاره درباندې متعه د استحباب په توګه نه، بلکې د وجوب په توګه ده، چې په متقيانو باندې حق ده، او ښکاره ده چې ټول مسلمانان متقيان دي، لږ تر لږه د کفر څخه خو هر يو تقوی کوي.

ب: ځينې نور مفسرين کرام وايي چې په تېر شوي ايت کښې الله ﷻ د ناواده مطلقو په باره کښې حکم نازل کړی وه او دلته د واده شوو مطلقو حکم دی، دوی وايي چې واده شوو ټولو ښځو لره متعه حق دی که مهر يې ورته تعين کړی وي او که مهر المثل يې اخستی وي[4].

---

(۱) تفسير الكشاف ج۱ ص۲۸۹
(۲) التفسير الكبير ج۶ ص۱۷۱
(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۲۲۳
(۴) تفسير القرطبي ج۳ ص۲۲۹

ج: يوه لويه ډله مفسرين کرام وايي چې د ذکرې شوې کلمې څخه ټولې طلاقې شوې ښځې مرادې دي چې واده شوي وي او که نه، مهر ورته ټاکلی شوی وي او که نه.

ځينې مفسرين کرام لا وايي چې همدغه تفسير چې ټولو ته شامل شي، صواب او حق دی[1].

امام ابو حنيفه رحمه‌الله عليه همدغه دريم تفسير غوره کړی دی مګر دومره خبره ورسره زياتوي چې ټولې مطلقې د متعې حق لري، خو په لاندې تفصيل سره[2]:

اول: هغه مطلقه ښځه چې واده شوې وي خو مهر ورته ټاکلی شوی وي نو بايد چې مهر ترې بېرته وانخستل شي، لکه چې الله ﷻ ورته د [البقرة:۲۲۹] ايت کښې اشاره کړې ده، او د استحباب په توګه ورته متعه ورکول هم ښه دي.

دوهم: هغه چې واده شوې وي خو مهر ورته نه وي ټاکلی شوی نو بايد چې مهر المثل ورکړی شي او متعه هم ورته استحبابي ده بلکې دغه مطلقه په اول ډول کښې شامله ده.

دريم: هغه چې ناواده وي او مهر سم ورته نه وي ټاکلی شوی د دې دپاره متعه واجبه ده، چې الله ﷻ ورته د [البقرة:۲۳۶] ايت کښې اشاره کړې ده.

څلورم: هغه چې ناواده وي خو مهر ورته ټاکلی شوی وي د دې د مهر نيمائي کېږي، چې الله ﷻ د [البقرة:۲۳۷] ايت کښې بيانه کړې ده، او متعه يې هم د استحباب په درجه کښې ده.

په دې مقام کښې د احنافو استدلال قوي دی، څکه چې کله په څلورم ډول کښې د نيمائي مهر سره متعه واجبه نه کړی شوه نو بايد چې د ټول مهر سره هم واجبه ونه ګڼله شي، اولنيو دوارو ډولو مطلقو ته ټول مهر ورکول کېږي، يوې ته ټاکلی شوی مهر او بلې ته مهر المثل[3].

سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په دې مقام کښې الله ﷻ د متعې څخه په "حق" سره باندې تعبير کړی دی چې: ﴿ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾، او حق لازم شي ته وايي، ايا د دې خبرې امکان شته چې ذکر شوی ايت شريف مستحبې متعې ته هم شامل شي؟.

مونږ وايو چې: "حق" ډېرې معناوې لري چې کله-کله د ثابت معنی ورکوي. د همدې معنی څخه "حقيقة" اخستل شوی دی يعنې ثابت شی. او د لايق په معنی هم راغلی دی چې د همدې معنی څخه (حقيق) اشتقاق موندلی دی[4]، نو د حق کلمه په دې مقام کښې د "ثابت" او يا د "حقيق" په معنی سره ده. يعنې هره يوه متعه، واجبه وي او که مستحبه په متقيانو باندې ثابته ده او يا ورسره لياقت لري چې ورېې کړي، او ښکاره ده چې د حق دغه معنی واجبې او مستحبې دوارو ته شاملېږي.

(۱) تفسير الطبري ج۲ ص۵۸۵
(۲) تفسير المراغي ج۲ ص۲۰۵
(۳) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۲ ص۳۰۲
(۴) مفردات الراغب ص۱۲۵

یادونه

۷_ نبي کریم ﷺ خپلو بیبیانو ته اختیار ورکړ او ورته یې وفرمایل چې: ﴿ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴾ [الأحزاب: ۲۸] یعنې: که چیرې تاسو نژدې ژوند او سنګار بې غواړئ نو راشئ چې څه متعه درکړم او خوشې مو کړم د ښه خوشې کول. دا هم مفسرینو کرامو په استحبابي متعې باندې تفسیره کړې ده[۱].

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُوا۟ ثُمَّ أَحْيَـٰهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَـٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَـٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ۚ وَٱللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾ ﴾

[۲۴۳] (ای پیغمبره یا هر لیدونکیه!) ته هغو خلکو ته نه ګورې چې د خپلو کورونو څخه په داسې حال کښې د مرګ د ډاره وتلي وه چې دوی زرګونه نفر وه. نو الله ﷻ ورته وویلې چې: مړه شئ (ټول مړه شوه) بیا یې (ورته امر وکړ چې ژوندي شئ نو) ژوندي یې کړه.

بې شکه الله ﷻ په خلکو باندې د لوی فضل خاوند دی خو اکثره خلک شکر نه کوي.

[۲۴۴] او تاسو (د دې قیصې څخه عبرت واخلئ) د الله ﷻ په لار کښې وسله وال جهاد وکړئ او پوه شئ چې یقیناً الله ﷻ اوریدونکی (او) پوه دی.

[۲۴۵] هغه کس څوک دی چې الله ﷻ ته قرض ورکوي نیک قرض، چې چندونه یې ورته وګرځوي زښت ډېر چندونه (بې شماره عوضونه یې ورکړي).

او الله ﷻ د (رزق) تنګي راولي (چې چا ته یې اراده وشي) او پراخه یې ګرځوي (چې چا ته یې اراده وشي) او خاص همده ﷻ ته به تاسو ورتاو کړی شئ.

ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې مقام کښې د ایتونو د اړوند په هکله لاندې وجوه په نظر راځي:

الف: په وړاندې ایتونو کښې څه احکام او حدود بیان شوي وه. په دې ایتونو کښې د جهاد بیان بیا پیل کېږي چې د حدودو د اجراء دپاره اسلامي حکومت ضرور دی او د اسلامي حکومت اولنی شرط دا دی چې مسلمانان په سر او مال سره جهاد وکړي او دغې سربښندنې ته خانونه چمتو کړي هسې نه چې د جهاد څخه وتښتي لکه چې په دغې قیصه کښې ورته اشاره شوې ده، او یا د

---

(۱) تفسیر المظهري ج۱ ص۳۴۲

لارې په منځ کښې د جهاد څخه لاس واخلي لکه چې په راتلونکو [البقرة:۲۴۶_۲۵۲] ایتونو کښې یې قیصه را روانه ده.

ب: هلته شخصي احکام بیان شوي وه لکه طلاق، عدت او داسې نور، او دلته اجتماعي احکام بیانېږي ترڅو مسلمانانو ته ورمعلومه شي چې اسلام د ژوند یوه ځانګه هم بې هدایته نه ده پرېښې لکه څنګه چې الله ﷻ د غرائزو د اشباع دپاره دنکاح قانون نازل کړی دی همدارنګه یې د دین د ساتنې دپاره جهاد یا اسلامي حکومت جوړول هم فرض کړي دي نو ځکه نبي کریم ﷺ همدې سورت ته د «سَنَامُ القُرْآن»[۱] لقب ورکړی دی. یعني هغه سورت چې د قرآن کریم د هر مهم مطالب پکښې بیانېږي لکه سنام (بوکان) چې د اوښ د هر مهم جز دی چې قوت او ضعف یې ورباندې څرګندېږي.

ج: د احکامو د بیان څخه وروسته الله ﷻ د باغیانو د انزجار دپاره په اوله قیصه کښې د خپل غضب یوه نمونه ښودلې ده چې زرونه خلک یې په یو امر باندې مړه کړه او په دوهمه قیصه کښې یې د خپل فضل یو مثال بیان کړی دی چې یوه وړوکي ټولګي ته یې په غټ لښکر باندې نصرت او غلبه ورکړه، نو مسلمانانو ته په کار دي چې د جهاد په باره کښې بهانې انې ونه کړي او د الله ﷻ احکام په د هر اخلاص سره عملي کړي او د یاغیتوب څخه ځانونه وژغوري.

د: بالآخره هلته د صلاة الخوف څخه د اشارې په ډول جهاد معلومېده، خو الله ﷻ په دې ایتونو کښې ورباندې صراحت وکړ، یعنې لکه څنګه چې دربانديې د خوف په حالت کښې لمونځ فرض دی که څه هم په اشاره سره وي، همدارنګه دربانديې جهاد هم فرض دی چې باید د خوف د کبله د جهاد څخه لاس وانخلی:

۲_ یعني: ای مسلمانانو ستاسو ټول شته او دارایي د الله ﷻ د پلوه ده، که تاسو د الله ﷻ په لار کښې په خپل سر باندې ودار شئ او جهاد ونه کړئ نو په دې باندې پوه شئ چې د جهاد څخه په غیر هم الله ﷻ ستاسو څخه روحونه قبض کولی شي. ایا تاسو هغو خلکو ته نه ګورئ چې د خپلو کورونو څخه وتښتېدل او جهاد یې ونه کړ، سره د دې چې د جهاد توان یې درلود ځکه چې په زرګونو خلک وه، کمزوري نه وه، خو دوی د مرګ د وېرې څخه جهاد ته شا کړه.

۳_ په هغه ځای کښې کوم چې دوی د خپلو ځانونو دپاره د مرګ څخه د نجات ځای ګڼاه، الله ﷻ امر وکړ چې مړه شئ، نو سمدستي ټول مړه شوه او ارواګاني یې قبض شوې، او د کوم شي څخه چې په تېښته کښې وه په همغه شي باندې مبتلاء شوه.

۴_ بیا الله ﷻ ژوندي کړه، ترڅو دوی پوه شي چې مرګ او ژوند دواړه د الله ﷻ په واک او قدرت کښې دي او بس، نه د مرګ څخه تېښتېدل چا ته ګټه رسولی شي او نه جهاد ته تلل چا ته په تاوان تمامېږي.

بې شکه الله ﷻ په خلکو باندې د لوی فضل خاوند دی چې ثانیه په ثانیه حیات وربښي، ژوند

---

(۱) مستدرک الحاکم ج۲ ص۲۸۵

ورکوي، بې اندازې بدني او مالي نعمتونه وربښي خو اکثره خلک شکر نه کوي، د الله ﷻ ورکړې شوي امکانیات په هغه څه کښې نه مصرفوي چې الله ﷻ وربانديې امر کوي.

۵ـ نو ای مسلمانانو! کله چې تاسو ذکره شوې قیصه واورېده او سرونه مو وربانديې خلاص شوه چې هر څه د الله ﷻ په لاس دي، نو د همده ﷻ په لار کښې په سرونو او مالونو باندي جهاد وکړئ او پوه شئ: چې الله ﷻ ستاسو ټولې خبرې او بهانې اني اوري او په هر څه باندې پوه دی حتی چې په زړونو کښې مو چې څه تېرېږي هغه هم ترې پټ نه دي او دا هم ورته معلومه ده چې په چل ول سره جهاد ته شا کوئ او په خوله لاپې شاپې وهئ؛

۶ـ برسېره په دې جهاد لکه څنګه چې مجاهدینو ته ضرورت لري همدارنګه پکښې پیسو ټکو ته هم ضرورت شته، په کار دي چې په دواړو ډولو جهادونو کښې برخه واخلئ: وسله وال او غیر وسله وال جهادونه دواړه وکړئ او د چا په حق باندې خېټه مه اچوئ، چې د کمزورو مطلقو زنانه وو څخه متعه یا مهر ایسار کړئ او یا یې خلعې ته مجبورې کړئ، په دې ټولو باندې الله ﷻ پوهېږي.

۷ـ هغه څومره هوښیار سړی دی چې الله ﷻ ته حسنه قرض ورکړي، چې الله ﷻ یې ورته په چندونو-چندونو سره عوضونه په دنیا او آخرت کښې ورکړي، الله ﷻ ستاسو في سبیل الله مالونه په خپل خان باندې داسې ګڼي لکه چې قرض مو ورکړی وي او په وخت سره یې ترې باید ضرور وغواړئ چې الله ﷻ به یې په بېرته درکولو کښې په هیڅ ډول باندې هاغه او دغه ونه کړي بلکې د دې په ځای چې یوازې قرض درخلاص کړي په څو چنده به یې بېرته درکړي.

۸ـ په دې مه ډارېږئ چې تاسو به فقیران شئ: ځکه چې واک او اختیار یوازې د الله ﷻ دی، چې څوک تنګ لاسي جوړوي او که پراخي وربانديې وروليي.

او هم تاسو یوازې الله ﷻ ببرته ورتاوول کېږئ. لکه چې په ابتداء کښې مو هیڅ نه درلوده همدغسې به د الله ﷻ په حضور کښې تش لاس ودرول کېږئ، که څه مو وړاندې استولي وي هغه به درته په درد وخوري او که نه نو نور به درسره هیڅ نه وي.

توضیحات

۱ـ په ﴿ أَلَمۡ تَرَ ﴾ کښې دا احتمال شته چې نبي کریم ﷺ ته خطاب وي او یا د مسلمانانو هر فرد مخاطب ګرځولی شوی وي او ټول مسلمانان مطلب وي.

خو په هر تقدیر دلته د "رُؤیَة" څخه د سترګو رُؤیت (لیدل) مراد نه دي بلکې د زړه لیدل مطلب دي او هم پوښتنه د تعلیم دپاره ده یعنې په دې خبره باندې پوه شئ. دغه ډول استعمالات په ټولو ژبو کښې شته دي چې د قلبي رُؤیت څخه په بصري رُؤیت سره تعبیر کوي.

۲ـ په ذکر شوې قیصه کښې لاندې پوښتنې الله ﷻ په ابهام کښې پرېښې دي:

الف: دغه خلک څوک وه او په کومه ژبه یې خبرې کولې؟.

ب: دا واقعه په کومه زمانه کښې تېره شوې ده؟.

ج: د دې حادثې موقعیت کوم ځای دی؟.
د: د دغو خلکو شماره څو زرو ته رسېدله؟.
هـ: دوی د خپلو کورونو څخه څومره لرې شوي وه چې مرګ ورباندې نازل شو؟.
و: دوی څومره وخت مړه پراته وه؟.
ز: ایا د دوی مړي خاورې شوي وه او که کالبوتونه یې روغ رمټ وه؟.
ح: د ژوند څخه وروسته د دوی څه حال وه، نسل یې پاتې شو او که څنګه؟.
ط: د بیا راژوندي کېدلو څخه وروسته هغوی جهاد وکړ او که نه؟.
دغو پوښتنو او دغسې نورو پوښتنو ته الله ﷻ ځکه جوابونه نه دي نازل کړي چې:

اول: په جوابونو کښې یې څه خاصه فائده او ګټه نشته، مثلاً که وویل شي چې نوموړي خلک عرب وه او یا بني اسرائیل، په عربي ژبه یې خبرې کولې او یا په سریاني، د موسی ﷺ څخه دا واقعه پخوا پیښه شوې وه او یا وروسته، د دې حادثې موقعیت د عراق د واسط ښار وه او یا بل ځای، د دغو خلکو شمېر څلور زره وه او یا اویا زره، دوی د خپلو کورونو څخه څو میله وړاندې تللي وه او یا ورسره نژدې وه، دوی اته ورځې مړه شوي وه او یا کلونه، کالبوتونه یې روغ رمټ وه او یا خاورې شوې وه، د ژوند څخه وروسته یې نسل باقي پاتې شوی وه او یا نه وه پاتې شوی، بیا یې جهاد وکړ او یا یې ونه کړ، بالآخره د پیغمبر ﷺ نوم یې خرقیل وه او یا بل شی.

لنډه دا چې دغو پوښتنو ته چې هر څه جواب ورکړی شي په اصلي مطلب (عبرت اخستلو) باندې څه تاثیر نه پرېوزي، نو ځکه ترې قرآن کریم صرف نظر کړی دی.

دوهم: قرآن کریم د قیصه خوانانو د کتاب په شان کتاب نه دی چې په هره حادثه کښې تولې ورې او غټې خبرې ذکر کوي بلکې قرآن کریم د هرې یوې قیصې د پند او عبرت برخې یادوي او په نورو باندې تېره ړدي. برسېره په دې د یوې قیصې په هر ځای کښې همغومره څنډه ذکر کوي چې هلته ورپورې مطلب ارتباط لري د همدې کبله ډېرې قیصې د قرآن کریم په مختلفو ځایونو کښې په مختلفو طرزونو سره ذکرې شوې دي چرته اوږدې او چرته لنډې او کله لا ورته محض اشاره کړې شوې وي.

درېم: که قرآن کریم بالفرض په نوموړې قیصه کښې د جزئیاتو په بیان باندې زور اچولی وی نو د اورېدونکو توجه د اصلي مطلب څخه فرعیاتو ته اوښتله او اصلي مطلب پاتې کېده.

د همدې کبله مونږ هم د ذکر شوو سوالونو هغه جوابونه نه لیکو چې خینو مفسرینو کرامو ذکر کړي دي[۱]، ترڅو د یو طرفه د محترمو لوستونکو په بې ضرورته شیانو کښې وخت ضائع نه کړو او د بله پلوه مو په ذکر شوو جوابونو باندې د زړه پوره اطمنان نشته، چې ثابت به وي او که نه.

د الله ﷻ څخه توفیق غواړو چې په همدې خط السیر باندې د تللو توفیق راکړي.

(۱) تفسیر زاد المسیر ج۱ ص۲۵۳؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۳۰_ ۲۳۱؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۳۶۸؛ تفسیر البحر المحیط ج۲ ص۲۴۹

دا واقعي قيصه ده خيالي نه ده

۳ـ ځيني مفسرين كرام وايي چې ذكره شوې قيصه واقعيت نه لري بلكې الله ﷻ د يو قوم د ترقۍ ځخه په ژوند باندې تعبير كړى او د هغوى ذلت يې مرګ ګڼلى دى[۱].

زمونږ په ګومان دوى ځكه ذكره شوې قيصه خيالي قيصه ګڼي چې:

الف: الله ﷻ د كافرانو د خولې ځخه فرمايي چې: ﴿ قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ وَأَحۡيَيۡتَنَا ٱثۡنَتَيۡنِ ﴾ [غافر: ۱۱] يعني: دوى به ووايي چې: اى ربه! مونږ دې دوه كرته مړه كړو او دوه كرته دې ژوندي كړو. نو كه په ذكرې شوې قيصې كښې واقعاً په زرګونو خلك مړه شوې وي او بيا راژوندي شوي وي نو مرګ به هم درې ځلې تحقق پيدا كړى وي او ژوند به هم درې ځلي منځ ته راغلى وي.

ب: په شريعت كښې هغه ايمان معتبر دى چې بالغيب وي د قيامت په ورځ خو ټول كافران أيمان راوړي خو اعتبار نه لري. نو په همدې بنا كه ذكر شوي خلك د مرګ ځخه وروسته بېرته راژوندي شوي وى نو د هغوى ايمان خو بالغيب نه شو بلكې ايمان يې بالمشاهده وګرځيده نو لكه چې د قيامت په ورځ د كافرانو ايمان مقبول نه دى نو بايد چې د دوى ايمان هم نه وى مقبول شوى.

علاوه په دې بايد دوى مرفوع القلم وګرځي، ځكه چې مكلفيت خو په ايمان بالغيب باندې مرتب دى او بس.

مګر مونږ ته دغه ډول تاويل ښه نه ښكاري، په كار دي چې بې ضرورته د قرآن كريم مصرحاتو ته تاويل ورنه كړو او دلته ورته ضرورت نشته ځكه چې مونږ د دوى ذكر شوي دوه دلايل په لاندې ډول باندې جوابوو:

د ذكر شوي تاويلي تفسير رد

۴ـ كه ځه هم ذكر شوى تاويلي تفسير په لاندې وجوهو سره رد شوى دى چې:

الف: ځيني مفسرين كرام وايي چې نوموړى مرګ حقيقي مرګ نه وه چې د [غافر:۱۱] ايت سره يې ځه تضاد راشي او يا وربانديې د مكلفيت لمن ټوله شي بلكې دا خوب ته ورته يو مرګ وه[۲]، چې د كالبوتونو د انحلال مخه يې نه وه نيولې، د قبر عذاب وربانديې نه وه ورغلى، د روح قبضوونكو ملكو سره يې ليدل كتل نه وه واقع شوي، قبرونه يې د جنت باغچې يا د دوزخ خندقونه نه وه جوړ شوي، الله ﷻ هر ځه كولى شي.

ب: كه ځه هم دوى د آخرت عجائب او غرائب ليدلي وه خو الله ﷻ ترې بېرته هېر كړي وه لكه چې د ټولو انسانانو ځخه يې چې د عالم الذر عهد هېر كړى دى.

ج: چرته چې د مرګ شمېره دوه خله ښودله شوې ده هلته هغه مرګ مراد دى چې د هغه ځخه وروسته حشر قائمېږي، مطلق مرګ په دوه خلو كښې نه دى منحصر شوى. ذكر شوى د [غافر:۱۱]

---

(۱) تفسير المنار ج۲ ص۴۵۷

(۲) تفسير المراغي ج۲ ص۲۱۰؛ التفسير الكبير ج۶ ص۱۷۶

ايت هم د كافرانو څخه د قيامت د ورځې حكايت كوي چې دوى به د حشر په ميدان كښې داسې داسې وايي، نه په دنياكښې[1].

د: مگر مونږ ته دا ښه ښكاري چې د اول دليل څخه يې داسې جواب ووايو چې د [غافر: ۱۱] ايت كښې د مرگ او د ژوند عمومي قانون ښودلى شوى دى چې د ځينو شاذ او نادر ژوند او مرگ سره څه منافات نه لري. د دې خبرې نظير دا دى چې الله ﷻ ټولو انسانانو ته خطاب كوي او فرمايي چې: ﴿إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ﴾ [الحجرات: ۱۳] يعني: بې شكه تاسو مو د نارينه او ښځينه څخه پيدا كړي ياست.

خو لاندې شاذ او نادر ورسره څه منافات نه لري چې ذكر شوى خطاب وربانديې نه تطبيقېږي:

اول: ادم ﷺ نه د نارينه څخه پيدا شوى وه او نه د ښځينه څخه.

دوهم: بي بي حواء رضي الله عنها الله ﷻ د آدم ﷺ د چپې پوښتۍ څخه خلق كړې ده، نه يې پلار درلود او نه مور.

دريم: عيسى ﷺ الله ﷻ يوازې د بي بي مريمې رضي الله عنها څخه تولد كړى دى چې پلار يې نه درلود.

او د دوهم دليل داسې جواب وايو چې د ټولو لويو قدرتونو مشاهده د ايمان د قبول مخه نه نيسي او مكلفيت نه پورته كوي، بلكې د معجزاتو او خوارقو مشاهده كول د انسان مكلفيت لا پياوړى كوي.

كله چې د قيامت په ورځ كافران دنيا ته د بېرته راگرځېدلو ارزو وكړي نو الله ﷻ يې د همدې كبله صرف د ارزو رد كوي او فرمايي چې: ﴿وَلَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ﴾ [الأنعام: ۲۸] يعني: كه بالفرض دوى بېرته دنيا ته تاو كړى شي نو دوى به بيا همغو كارونو ته وروگرځي چې دوى ترې منعه كړى شوي وه. او داسې جواب ورته نه كوي چې د دوى مكلفيت پاى ته ورسېده او ايمان يې نه قبلېږي.

هو! كه د كوم لوى خارق العاده په باره كښې په همدې مطلب باندې تصريح شوې وى نو په هغه كښې څه خبره نشته. د همدې قبيلې څخه د غرب څخه د لمر راختل دي چې الله ﷻ ورته د [الأنعام: ۱۵۸] ايت كښې اشاره كړې ده.

لنډه دا چې په عملي احكامو كښې قياس د اعتبار قابل دى او د څلور حجتونو څخه يو حجت گڼل كېږي، مگر په عقيدوي احكامو كښې اعتبار نه لري. نو څرنگه چې په دې مقام كښې د زرگونو خلكو د بېرته راژوندي كېدلو د امله د مكلفيت د سلب په هكله څه صراحت نه دى شوى نو بايد چې په بل ځاى باندې قياس نه شي كړى او دا ځكه چې دا عقيدوي حكم دى.

---

(۱) تفسير روح المعاني ج۲ ص۱۶۱

دوی د جهاد څخه فرار کړی وه

۵ـ ځینې مفسرین کرام وايي چې ذکر شوي زرګونه خلک د طاعون (وبا) مرض څخه تښتېدلي وه[۱] لکه چې ﴿ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ﴾ وربانديې دلالت کوي، که بالفرض دوی د جهاد څخه تښتېدلي وی نو "حَذَرَ القَتْلِ" به نازل شوی وی. مګر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دوی د جهاد څخه تښتېدلي وکړه[۲] کله یې چې پاچا او مشر نفیر عام اعلان کړ او د دوی څخه یې وغوښتل چې په جهاد کښې برخه واخلي[۳]. همدغه روايت په لاندې دلایلو سره تائید مومي:

الف: راتلونکی ایت د جهاد په ارتباط هدايت کوي چې په سرونو باندې جهاد وکړئ: ﴿ وَقَـٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ الآية. ځکه چې محققین علماء وايي په ﴿ وَقَـٰتِلُوا۟ ﴾ کښې محمدي امت ته امر دی چې د ذکر شوې قيصې څخه عبرت واخلئ او تاسو د هغوی په شان مه کېږئ چې جهاد ته شا کړئ[۴].

ب: همدارنګه ﴿ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ ﴾ الآية په مال سره جهاد باندې دلالت کوي.

ج: راتلونکې قيصه چې د [۲۴۶] ایت څخه شروع کېږي هم په جهاد پورې ارتباط لري، نو معلومه شوه چې دغه قيصه هم د جهاد سره اړونده ده.

او "حَذَرَ القَتْلِ" ځکه ونه ويل شو چې قتل د مرګ يوه ځانګه ده او د ژوند مقابل نه ده. نو که بالفرض دغسې ويل شوي وی نو د دوی حرص به په ژوند باندې ښه نه وی تمثيل شوی، ځکه چې د معنی حاصل به داسې راوتلی وی چې دوی د مرګ د هرې يوې نوعې څخه نه ډارېده او په ژوند باندې یې پوره حرص نه درلوده، بلکې يوازې د قتل (وژلو) څخه تښتېدلي وه، سره د دې چې اصلي مطلب خو دا دی چې دوی په ژوند باندې زيات حارصان وه او د هغه شي څخه یې چې د ژوند سره منافات لري کامل نفرت درلود، برابره خبره ده چې هغه وژل وي او که مړه کېدل وي.

دا هم احتمال لري

۶ـ مونږ ته ذهن ته راځي چې په هغه ښار کښې به (چې دوی جهاد ته وربلل کېدل) د وبا مرض هم ګډ وه، نو په دې تقدیر ذکر شوې دواړه تفسيرونه سره جمعه کېږي چې دوی هم د جهاد څخه تښتېدلي وه او هم د طاعون (وبا) څخه. (والله ﷻ أعلم).

قرض او صدقه

۷ـ قرض دې ته ويل کېږي چې سړی چا ته څه مال ورکړي په دې شرط سره چې د همغه ورکړی شوي مال مثل به ترې بېرته اخلي[۵]. نو د قرض په مفهوم کښې درې شیان اصلي ارکان دي:

---

(۱) تفسير القرطبي ج۳ ص۲۳۲

(۲) تفسير القاسمي ج۳ ص۲۹۶؛ التفسير الكبير ج۶ ص۱۷۴

(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۲۲۳

(۴) التفسير الكبير ج۶ ص۱۷۷

(۵) مفردات الراغب ص۴۱۶؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۲۳۹؛ التفسير الكبير ج۶ ص۱۷۹

الف: مال به د سري خپل وي، پردی به نه وي.

ب: مال ورکوونکی به د خپل مال د مثل مطالبه کوي او غواړي به يې.

ج: د مال نيوونکی به د دې التزام کوي چې مثل به يې خپل خاوند ته ضرور ورکوي.

او په صدقاتو کښې ذکر شوي التزامات نشته. نه يې څوک مثل غواړي او نه يې څوک د مثل د ورکولو ژمنه کوي، برسيره په دې کله-کله شرې د پردی مال څخه د همغه دپاره هم صدقه کوي، چې خاوند يې ورته معلوم نه وي ترڅو يې ورباندې وسپاري او يا مړ شوی وي.

نو په همدې بناء د قرض او صدقې فاصله سره يو ترېله ډېره زياته ده خو سره د دې هم په دې مقام کښې الله ﷻ د صدقاتو څخه په قرض سره تعبير وکړ ترڅو مسلمانان مالي جهاد ته ترغيب کړي، دا څکه چې په دې تعبير کښې لاندې ترغيبات پراته دي.

اول: الله ﷻ د مسلمانانو څخه د هغو مالونو تصدق غواړي چې همده ﷻ ورکړي دي. خو ورته وايي چې هغه به څوک وي چې الله ﷻ ته قرض ورکړي، نه به وايي چې مالونه د بندګانو مخلوق دي او د الله ﷻ د پلوه ورته نه دي ورکړی شوي.

دوهم: بندګان هغوی چې بدل او عوض يې راڅخه ضرور وغواړي.

دريم: پخپله الله ﷻ هم عهد کوي چې عوضونه به يې ضرور درکوم.

څلورم: دغه قرض به د بندګانو د قرض په شان په يو عوض سره نه اداء کېږي بلکې په ډېرو چندونو باندې ورکول کېږي.

پنځم: په دې ټولو باندې د پاسه الله ﷻ فقيرانو ته صدقات ورکول داسې ګڼي لکه چې الله ﷻ ته يې ورکړي وي، او د هغوی احتياج داسې ګڼي لکه چې د الله ﷻ ورته حاجت وي.

همدا مطلب د يوه اوږده قدسي حديث شريف[1] څخه هم څرګندېږي چې دغه برخې حاصل يې دا دی چې: ای بنيادمه! زه مريض وم زما پوښتنه دې ونه کړه او خوراک مې درڅخه وغوښت خواره دې رانه کړه او څښاک مې درڅخه طلب کړه خروب دې نه کړم. بنده به ورته ووايي چې: ای ربه! زه به تا څنګه خروب کړم ته خو رب العالمين يې د خوراک، څښاک او امراضو هرڅه څخه منزه او پاک يې. الله ﷻ به ورته ووايي چې زما فلانی بنده درڅخه څښاک غوښتنی وه او تا خروب نه کړ، خبردار! که هغه دې خروب کړی وی نو دا به دې زما سره موندلی وی. يعنې اجر به مې درکړی وی.

د صدقاتو چندونه

د دغو چندونو اقله (کمه) درجه يو په لسه ده چې الله ﷻ ورته د [الأنعام: ۱۶۰] ايت کښې اشاره کړې ده، او د دې څخه ورپورته شمېره يې اوه سوه ده چې الله ﷻ د [البقرة: ۲۶۱] ايت کښې بيانه کړې ده. د اوه سوو څخه لا هم پورته کېږي چې په همدې ايت شريف چې اوس د بحث لاندې دی په

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۸

﴿أَضۡعَافًا كَثِيرَةً﴾ "ډېر چندونه" سره ورته اشاره کېږي، او هم نبي کریم ﷺ د ابو هریره رضی الله عنه په روایت باندې فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَيُضَاعِفُ الْحَسَنَةَ أَلْفَيْ أَلْفِ حَسَنَةٍ»[۱] یعنې: بې شکه الله ﷻ د یوې نېکۍ چندونه دوه زره-زره نېکیو ته پورته کوي. یعنې په یوه نېکۍ دومره اجر او ثواب ورکوي، ته به وایې چې دوه ملیونه یا شل لکه (۲۰۰۰۰۰۰) نېکۍ یې کړې دي. ابو هریره رضی الله عنه د همدې روایت په وخت کښې د بحث لاندې ایت شریف هم د استدلال په توګه باندې ولوست.

د ابو هریره رضی الله عنه څخه د همدې حدیث په تعقیب کښې روایت شوی دی چې «هَذَا فِيْ نَفَقَةِ الْجِهَادِ»[۲] یعنې: دغه چندونه د جهاد په لښکرتونو کښې ورکول کېږي.

د عوضونو ورکولو شرط

۹ـ الله ﷻ د صدقاتو د قبول دپاره او د چندونو د زیادت دپاره فقط یو شرط ایښی دی چې باید قرض حسن وي. د نورو نصوصو څخه ځرګندېږي چې په لاندې صفاتو سره صدقات په حسن باندې موصوفېږي:

الف: چې باید مال حلال وي، د حرام څخه صدقات نه قبلېږي.

ب: چې باید په اخلاص سره وي، ځکه چې د ریا عبادت د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

ج: چې باید په احسان ایښودلو او نور ضرر رسولو باندې بېرته ضائع نه شي.

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾﴾

[۲۴۶] ایا ته د بني اسرائیلو څخه یوې (د اشرافو) ډلې ته د موسی علیه السلام (د وفات) څخه وروسته نه ګورې چې کله دوی خپل پیغمبر علیه السلام ته وویلې چې مونږ ته یو (د جنګ) مشر ورباکه چې د الله ﷻ په لاره کښې وسله وال جهاد وکړو.

پیغمبر علیه السلام ورته وویلې چې: ایا تاسو دې خبرې ته نژدې یاست که وسلوال جهاد درباندې فرض کړی شي نو تاسو به وسلوال جهاد ونه کړئ (بلکې نژدې یاست). دوی وویل چې: مونږ لره به څه (وجه) وي چې د الله ﷻ په لار کښې به وسلوال جهاد نه کوو حال دا چې مونږ د خپلو کورونو او اولادونو څخه ویستلي شوي یو.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۵۳

(۲) تفسیر المرغي ج۳ ص۲۴۲

خو کله چې ورباندې وسلوال جهاد فرض کړی شو دوی (ټولو) ورته شا کړه مګر د دوی یوه وړوکې ټولګې (ورته شا نه کړه) او الله ﷻ په ظالمانو باندې ښه پوهېږي.

ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې مقام کښې د اړوند وجوه په لاندې ډول سره په نظر راځي:

الف: په تېره شوې قیصه کښې چې کومو خلکو جهاد ته شا کړې وه هغوی جهاد نه وه غوښتی، او په دې قیصه کښې چې کومو خلکو جهاد ته شا کړې وه هغوی په خپله خوله غوښتې وه او بیا یې ورته شاګانې وراړولې وې. خو هلته پکښې یوې ورې ډلې هم جهاد ونه کړ، چې الله ﷻ ټول مړه کړه، او دلته پکښې د مجاهدینو یوه کوچنۍ ډله په خپله ژمنه باندې کلکه ودرېده چې الله ﷻ د همدې ډلې په برکت د متقاعدینو آبرو او عزت هم وساته او دښمن یې ورته په کونډو کړ.

د دوی مثال کټ مټ د افغانستان د مجاهدینو دی چې یوه ټولګې جهاد وکړ او روسیان یې د وطنه وشړل او د ټولو افغانانو آبرو په ځای شوه که څه هم ځینې افغانان مختلفو مملکتونو ته تښتېدلي وه او جهاد یې ونه کړ.

ب: هلته بالکل جهاد ته اماده او تیار نه شوه او په دې کښې د تیارۍ څخه وروسته په نیمه لاره کښې پښېمانه شوه.

ج: د ډېر نژدې ایت مضمون دا وه چې قبض او بسط (اخستل او ورکول) د الله ﷻ په لاس کښې دي، په دې قیصه کښې یې د همدې مضمون ژوندی مثال بیان کړ چې د جالوت څخه یې خوشالي او برم قبض کړ او په داود ﷺ او نورو مسلمانانو باندې یې ورېبرزو کړ.

۲ـ یعنې: د ژوند دپاره جهاد یو ضرورت دی چې پرته د جهاد څخه په دنیا کښې ارام ژوند امکان نه لري همدغه حقیقت په ټول تاریخ کښې خلانده دی او د هرې زمانې خلک ورباندې پوه شوي دي چې د جهاد د پرېښودلو لازمه نتیجه ذلت او حقارت دی.

ایا ته د بني اسرائیلو یوه ټولګې ته نه ګورې چې هغوی په خپل قوم کښې د اعتبار خاوندان وه او خلکو یې په خبرو عمل کاوه او د خیر او شر په سنجولو کښې د نورو څخه څه پورته وه په بالآخره دوی یو ټولګی وه چې د مشورې دپاره راغونډ شوي وه، دوی د وخت پیغمبر ته د جهاد وړاندیز وکړ.

۳ـ د دې وړاندیز وجه دا وه چې د موسی ﷺ څخه ډېر کلونه تېر شوي وه او هغه وقار چې دوی ته د هغه په ذریعه په نصیب شوی وه هغه یې د لاسه وتلی وه، په قوم کښې سستي او بې همتي خوره شوې وه، دښمنانو ورباندې د هره طرفه د لېوانو په شان حملې کړې وې، وطنونه یې ترې نیولي وه، ښځې یې ترې ببولې وې، اولادونه یې ترې غلامان کړي وه او داسې نور.

نو دغو هوښیارو خلکو فکر وکړ چې د دې ذلت څخه د خلاصون دپاره د جهاد څخه پرته بله هیڅ لاره نشته، د همدې جهاد په ذریعه باندې د موسی ﷺ په زمانه کښې او د هغه څخه راوروسته هم د څه وخته پورې مونږ د عزت خاوندان وو خو چې مونږ جهاد ته شا کړه عزت او وقار مو د لاسه لاړ.

۴ـ په هر تقدير، دوی د وخت پيغمبر ﷺ ته وړانديز وکړ چې مونږ ته د جنګ قومندان وټاکه ترڅو د الله ﷻ په لار کښې وسلوال جهاد وکړو څکه چې که مونږ ټول د يوې قومندې لاندې راټول نه شو او اتفاق ترلاسه نه کړو نو د جهاد نتيجه به په خطر کښې واقع شي.

۵ـ د وخت پيغمبر ﷺ ورته وويلې چې دغه کار خو زما آرزو ده خو زه په تاسو باندې باور نه لرم چې تاسو به په خپله خبره باندې ودريږئ او جهاد به وکړئ، رښتيا ووايئ چې که جهاد درباندې فرض کړی شي تاسو دې خبرې ته نژدې ياست چې جهاد به ونه کړئ؟، ماته خو داسې ښکاري چې په خپله ژمنه باندې به ونه دريږئ او په نيمايي لاره کښې به د جهاد څخه لاس واخلئ.

۶ـ هغوی وويلې چې دغسې بې غيرتي به مونږ ولې کوو، چې د يو پلوه به راباندې جهاد فرض کړی شوی وي او د بله پلوه به زمونږ جهاد د هغه پوخ دښمن په مقابل کښې وي چې زمونږ څخه يې وطنونه نيولي دي، ښځې يې راڅخه بېولې دي او زمونږ ماشومان يې غلامان جوړ کړي دي. ايا مونږ به دومره بې همته يو چې د خپلو وطنونو د ازادۍ او د ښځو او ماشومانو د خلاصون دپاره به هم جهاد نه کوو؟.

۷ـ کله يې چې پيغمبر ﷺ ته کلک عهد ورکړ او د هغه قناعت يې حاصل کړ او برسېره په دې، همدغه فيصله په ټول ملت کښې خوره شوه او ټولو درباندې ژمنه وکړه نو الله ﷻ د همدغه وسلوال جهاد دپاره قومندان وټاکه او جهاد فرض شو، خو په نتيجه کښې دوی ټولو ورته شا کړه او په ځانونو باندې يې ظلم وکړ مګر يوه واړه ټولګي په خپل عهد وفا وکړه او جهاد ته يې ملا وتړله چې په نتيجه کښې الله ﷻ کامياب کړل او مطلب ته يې ورسول.

توضيحات

۱ـ دغه قيصه د موسى ﷺ دوفات څخه تقريباً يو زر (۱۰۰۰) کاله وروسته پېښه شوې ده[۱]، د دې مودې په اوږدو کښې په بني اسرائيلو کښې زښت ډېر پيغمبران تېر شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو يې نومونه هم اخستي دي[۲].

اما د همدغه وخت د پيغمبر ﷺ په نوم کښې ډېر اختلاف دی، نو څرنګه چې د نوم تشخيص کوم خاص ارزښت نه لري د همدې کبله الله ﷻ نه دی ښودلی، خو زيات مفسرين کرام وايي چې شمويل ﷺ نومېده[۳].

په هر تقدير، کله چې په بني اسرائيلو کښې د واحد قيادت روحيه ژوندۍ شوه په همغه وخت کښې د دوی د ترقۍ او پرمختګ ډېره کېښودله شوه. همدارنګه په هر قوم کښې چې د قيادت د وحدت روحيه ژوندۍ کېږي د عزت او وقار ډېره به يې ايښودله کېږي.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۰۰

(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۶۵؛ تفسير البغوي ج۱ ص۲۲۶؛ تفسير ابي السعود ج۱ ص۲۳۹

(۳) تفسير القرطبي ج۳ ص۲۴۳؛ روح المعاني ج۲ ص۱۷۳؛ التفسير الکبير ج۶ ص۲۰۲

دلته علمي رؤيت مطلب دی

۲ـ د ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ کلمه د علمي رؤيت څخه اخستله شوې ده خطاب نبي کريم ﷺ ته دی او پوښتنه تعليمي ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې ای پيغمبره! ايا ته د بني اسرائيلو د "ملا" په قيصه پاندې پوه نه يې؟ يعنی په قيصه باندې يې پوه شه.

که څه هم خطاب نبي کريم ﷺ ته دی مګر مطلب پکښې ټول امت دی چې بايد تاسو د موسی ﷺ د قوم په شان نه شئ چې د هغه د وفات څخه وروسته يې جهاد ته شا کړه او جالوتيانو يې کورونه تالا والا کړه. بايد تاسو د قيادت د وحدت روحيه هميشه ژوندۍ وساتئ لکه چې هغوی ته د لاسه وتلې عزت د همدې روحي د کيله بېرته لاس ته ورغی. خو د هغوی په خبر د قائد په قيادت کښې هانګه او دغه مه کوئ او قومندې ته يې تسليم شئ. که دا کار مو وکړ نو بيا ستاسو په برخه دی او الله ﷻ ستاسو ملګری دی.

. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې او فرمايي: ﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ﴾ [الحديد ۱۶] يعنې ايا هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی دغه وخت نږدې نه دی چې بايد زړونه يې د الله ﷻ د ذکر او د هغه شي دپاره عاجزي وکړي چې نازل شوی دی چې د حق څخه عبارت دی. او د هغو خلکو په څېر نه شي چې هغوی ته مخکښې کتاب ورکړی شوی وه خو چې وخت ورباندې ډېر تېر شو نو زړونه يې کلک شول او ډېر يې فاسقان دي.

د "عسی" کلمه

۳ـ د "عسی" کلمه د طمعې او توقع دپاره استعمالېږي. او هغه شي ته چې سړی طمعه کوي هغه ورته نږدې ښکاري. نو نږدېوالی يې په مفهوم کښې پروت دی. د همدې کيله يې مفسرين کرام په دې مقام کښې په "هَلْ عَسَيْتُمْ" سره تعبيروي او استفهام پکښې تقريري اخلي

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې که جهاد درباندې فرض کړی شي لکه چې تاسو يې غوښتنه کوئ نو ايا تاسو نږدې ياست چې جهاد به ونه کړئ؟. بلکې نږدې ياست[۱].

يادونه

۴ـ که څه هم ټول بني اسرائيل خو د کورونو او اولادونو څخه نه وه وېستل شوي بلکې هغه کسان وېستلي شوي وه چې هغوی د دښمن (جالوتيانو) په لاس کښې بنديان وه. مګر دوی د هغوی بندیتوب داسې وګانه لکه چې دوی ټول بنديان او نيولي شوي وي.

په دې عصر کښې موږ وليو چې موږ ټول افغانان وژل شوي او شړل شوي يو. اګر که شهيدان تقريباً يو نيم مليون نفره دي او د وطنه شړل شوي تقريباً پنځه نيم مليونه کسان دي کله چې

(۱) تفسير الكشاف ج۱ ص۲۹۱، تفسير القاسمي ج۳ ص۱۸۳

خواخوږي فوې شي يو د بل په درد باندې دردېږي.

په غالب گومان چې په بنديانو کښې خو به زنانه هم شاملې وې خو هغه يې د زيات خجالت د کبله ذکرې نه کړې، چې زمونږ څخه يې لا زنانه هم بېولې دي.

څومره کسان جهاد ته تيار شوه؟

۵ـ که څه هم قيصه پاتې ده او په راتلونکي ايتونو کښې بيانېږي خو الله ﷻ د هغو کسانو يادونه د اجمال په توگه په اول سر کښې د دې دپاره وکړه ترڅو د دوی بې وفائي د ژمنې په څنگ کښې واضحه څرگنده شي.

نو مفسرين کرام وايي چې د طالوت ټول لښکر اتيا زره کسان وه خو په دوی کښې په خپله ژمنه باندې يوازې درې سوه او ديارلس کسان ودرېده او جهاد ته چمتو شوه او الله ﷻ ورته کاميابي په برخه کړه. لکه چې د بدر په غزا کښې صحابه کرام ﷺ هم درې سوه او ديارلس کسان وه[1].

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾﴾

[۲۴۷] او د دوی پيغمبر ﷺ دوی ته وويلې چې: بې شکه الله ﷻ تاسو ته طالوت پاچا (قومندان) مقرر کړی دی. دوی وويلې چې په مونږ باندې به هغه لره پاچاهي د کومه شي حال دا چې په پاچاهۍ کښې مونږ ورځخه بهتر (غوره) يو، او ده لره د مال پراخي هم نه ده ورکړه شوې.

(پيغمبر ﷺ) وويلې چې: بې شکه الله ﷻ هغه په تاسو باندې غوره کړی دی او هغه ته يې (په تاسو باندې) په علم (پوهه) کښې او په جسم کښې پراخي ورزياته کړې ده.

او الله ﷻ هر چا ته يې چې خوښه شي پاچاهي ورکوي. او د الله ﷻ د پراخه فضل (او) علم (پوهې) خاوند دی.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: د وخت پيغمبر ﷺ دوی ته وويلې چې ستاسو د غوښتنې سره سم مې د الله ﷻ څخه سوال وکړ چې زما غوښتنه يې ومنله او طالوت نامي يې په تاسو باندې د عمومي قومندان په توگه وټاکه ترڅو د هغه اطاعت وکړئ او د هغه د قومندې لاندې جهاد ته ملاوې وتړئ، دا ټاکل الله ﷻ کړي دي ما نه دي کړي.

۲ـ څرنگه چې بني اسرائيل د هغو خلکو اولاده وه کومو چې د موسی ﷺ څخه د غوا په قيصه کښې متعددې پوښتنې رابرسېره کړې نو خپل پيغمبر ﷺ ته يې وويلې چې که طالوت په بل چا

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۶۶

باندې واكدار مقرر شي هر څه چې وي هغه به وي. مګر په مونږ باندې به هغه په څه دول د قومندان په حيث مقرر شي؟، مونږ خو د هغه څخه د پاچاهۍ او قومندانۍ په باره كښې بهتر يو. چې د پخوا څخه په مونږ كښې پاچاهان تېر شوي دي، مونږ خوشاهي كورنۍ ياستو.

بله دا چې هغه غريب سړى دى. د مال څه پراخي نه لري، هغه به پاچاهۍ باندې څه پوهېږي؟. په كار داسې وه چې زمونږ د جملې څخه دې كوم يو سړى د همدې مطلب دپاره ټاكلى وي او زمونږ سپكاوى دې نه وى كړى.

دوى د طالوت په مقابل كښې داسې خبره وكړه لكه څنګه چې ابليس د آدم ﷺ په مقابل كښې كړې وه چې: ﴿أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ﴾ [ص: ٧٦] يعنې: زه د ده څخه بهتر يم.

٣ـ پيغمبر ﷺ ورته وويلې چې دا كار خو ما نه دى كړى ترڅو چې په ما اعتراض وكړئ بلكې ما خو په څرګندو الفاظو كښې وويلې چې بې شكه طالوت الله ﷻ په تاسو باندې غوره كړى دى او د الله ﷻ انتخاب دى. ايا په الله ﷻ باندې اعتراض كول معقول دي؟، ايا تاسو د الله ﷻ څخه ښه پوهېږئ؟.

كه طالوت د مال پراخي نه لري خو د علم پراخي لري هغه په تاسو باندې پوه دى، د رعيت ساتل مال ته دومره ضرورت نه لري لكه څومره چې علم ته ضرورت لري خصوصاً د وسلوال جهاد په مرحله كښې چې جنګي مهارت ته ډېر ضرورت دى ترڅو د جنګ نقشه جوړه كړي او د حملې دقيق پلان وركړي. د طالوت بدني قوت هم په تاسو باندې د پاسه دى په تاسو كښې يو كس هم د هغه په شان پهلوان نه دى او نه د هغه په شان ښايسته څېره لري، نو كله چې تاسو هغه ته په بدني توان كښې نه شئ رسېدلى نو د هغه حوصله، صبر او شجاعت په تاسو باندې د پاسه دى او دغو شيانو ته په جهاد كښې اشد ضرورت دى.

په دې ټولو باندې برسېره، د الله ﷻ د فضل تقيسمات خو ستاسو په لاس كښې نه دي، په دې مقام كښې يې چې په طالوت باندې د عمومي قومندانۍ فضل وكړ نو تاسو په الله ﷻ باندې نيوكه كوئ؟. د الله ﷻ فضل خو ډېر پراخه دى هر چا ته يې د رسېدلو امكان شته څومره غير معقوله خبره ده چې د الله ﷻ د فضل دپاره د خپلو خانونو څخه پرته بل څوك لائق نه ګنئ او په خپلو خانونو كښې يې منحصر بولئ، تاسو خو علم نه لرئ، څه پوهېږئ چې د الله ﷻ د فضل دپاره كوم محل صلاحيت لري!؟، په دې كار باندې يوازې الله ﷻ پوهېږي او بس.

توضيحات

١ـ انسانان د پاچاهۍ دپاره داسې سړى خوښوي چې يا د پاچاهي كورنۍ څخه وي چې پلار او نيكه يې پاچاهان تېر شوي وي، او يا ښه ډېره پانګه او سرمايه ولري، كه دغه دواړه صفات پكښې موجود وي نو خلك ورته غاړه ږدي او اطاعت يې كوي. د همدې كبله بني اسرائيلو د طالوت په پاچاهۍ كښې ذكر شوي دواړه وجې وړاندې كړې، دا څكه چې په دوى كښې پاچاهي كورنۍ د

یعقوب ﷷ په دولسو زامنو کښې د "لاوي" په اولاده کښې جاري وه او طالوت د بنیامین د اولادې څخه وه، برسېره په دې نوموړی څه سرمایه دار هم نه وه بلکې د اهل الحرفه وو (کسبه وو) څخه وه چې دباغت یا بل کسب یې درلود او خپله گوزاره یې ورباندې روانه وه"[۱].

۲ـ دوی غکه د امیر غوښتنه وکړه چې په بني اسرائیلو کښې به امیر د پیغمبر څخه بېل سړی وه، که داسې نه وی نو د وخت پیغمبر ﷷ نه به یې وړاندیز کړی وی چې مونږ جهاد ته سوق کړه او د امیر غوښتنه به یې ترې نه وی کړې. خو اول سړی چې نبوت او امارت دواړه ورپه غاړه شو هغه داوُد ﷷ وه لکه چې وروسته واضحه کېږي"[۲].

مگر الله ﷻ بني اسرائیل پوه کړه او مونږ یې په غوږ ووهلو چې د ملوکیت معیار هغه څه نه دی چې تاسو ورته ناکلی دی بلکې معیار یې لاندې څلور صفات دي:

الف: چې الله ﷻ هغه ته فطري استعداد ورکړی وي او د سیاستمدارۍ قوت پکښې موجود وي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ ﴾.

ب: چې پوهه ولري جاهل او ناپوه نه وي بلکې پوهه یې په نورو باندې د پاسه وي: ﴿ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ ﴾.

ج: چې جسمي فضلیت هم ولري، ناروغ، گوزڼ وهلی او نور داسې امراض ونه لري چې د هغو د کبله د حکم چلولو دپاره فراغت نه شي موندلی. خلک وایي چې: "العَقْلُ السلِيم في الجِسْمِ السلِيم" یعني: سالم عقل په سالم بدن کښې وي، په همدغسې بدنونو کښې شجاعت، هیبت او وقار زیات وي د هغو خلکو په پرتله چې روغ او سالم بدن ونه لري.

د: په دې ټولو باندې د پاسه، چې الله ﷻ ورته د ملوکیت اسباب برابر کړي وي او د حکمرانۍ توفیق یې ورکړی وي: ﴿ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ﴾.

په طالوت کښې ذکر شوي څلور واړه صفات موجود وه. په همدې مطلب باندې لاندې شواهد ولولئ:

اول: کله چې طالوت د قومندانۍ واگې په لاس کښې واخستلې نو د لښکر کشۍ په اوله مرحله کښې یې وویلې چې په لښکر کښې زه هغه څوک نه شاملوم چې د زړه فراغت ونه لري، مثلا کوژده یې کړې وي خو لا واده یې نه وي کړی ځکه چې دغسې خلک په پوره فراغت سره جهاد ته نه شي وړاندې کېدلی"[۳]. دا د فطري ذکاوت او زیرکۍ یو مثال دی.

دوهم: د بني اسرائیلو بدعهدي او بې وفائي ورته معلومه وه او هم په دې باندې پوهېده چې د الله ﷻ نصرت د ډېروالي سره نه دی بلکې د اخلاص سره ملگری دی، نو ځکه یې د جنگ د میدان څخه وړاندې د ټول لښکر ازموینه ترلاسه کړه چې بې وفا خلک او وفادار مجاهدین سره جدا شوه.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۴۵

(۲) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۴۵

(۳) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۴۲؛ البحر المحیط ج۲ ص۲۶۴

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «كَانَ طَالُوت أَعْلَمُ بَنِي إِسْرَائِيل بِالْحَرْبِ»[١] يعني: په بني اسرائيلو کښې په جنګ باندې ډېر پوه سړی يوازې همدا طالوت وو او بس.

دريم: جسمي فضليت يې په نورو باندې دومره زيات وه چې په ټول لښکر کښې داسې سړی نه وه چې د طالوت اوږې ته يې سر ورسېږي، په ټول لښکر کښې يوازې د همده هسکه غاړه وه او همدې مهيب سړی وه.

څلورم: د الله ﷻ توفيق خو بالکل ښکاره دی چې د وخت پيغمبر ﷺ ته الله ﷻ وحې وکړه او نوموړی يې د ملوکيت دپاره انتخاب کړ، پخپله يې ورپسې بلې نه وې وهلې او کور په کور ورپسې نه وه ګرځېدلی بلکې کوم يو څاروی ترې ورک شوی وه او د پلټنې پسې يې ګرځېده، نه ورسره د پاچاهۍ فکر وه او نه يې هڅه کوله، د وخت پيغمبر ﷺ ته محض د دعاء غوښتنې دپاره ورغی چې ګوندې ورک شوی څاروی راته الله ﷻ راوموند کړي، خو ناڅاپه پرې هغه د پاچا نوم کېښود[٢].

د امير د ټاکلو طريقه

٢ـ د امير ټاکنه په دوه ډوله ده: يو ډول دا ده چې د يو چا د پلوه وټاکل شي او د عمومي اجتماع اهل الحل والعقد ته يې ټاکل ونه سپارل شي، دغه ډول ته انتصابي ټاکل وايي؛ بل ډول دا ده چې د عمومي اجتماع د اهل الحل والعقد د پلوه انتخاب شي، دغه ډول ته انتخابي ټاکل وايي.

بني اسرائلو د شمويل ﷺ څخه د امير ټاکنه په اوله طريقه (انتصاب) سره غوښتنې وه خو کله چې ورته د الله ﷻ د پلوه وټاکل (نصب) شو نو بيا يې ورباندې اعتراضات شروع کړه، لکه چې دوی د خپل نظر څخه اوښتي وه او غوښتل يې چې بايد مونږ ته د انتخاب د لارې امير وټاکل شي.

د جواب حاصل يې دا دی چې که بالفرض په انتخاب سره وټاکل شي هم بايد چې طالوت انتخاب شي، چې د امير د لياقت صفات يوازې په همده کښې دي او بس.

يادونه

٣ـ بايد مونږ هم ذکر شوي څلور واړه صفات په نظر کښې ونيسو. او دا ځکه چې الله ﷻ ذکر شوو صفاتو ته په قرآن کريم کښې اشاره وکړه او وروسته يې رد نه کړه، نو د دې معنی دا ده چې بايد مونږ هم د همدغو صفاتو په رڼا کښې امير وټاکو.

سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنْ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ»[٣] يعني: امر يې قبول کړئ او اطاعت يې وکړئ اګر که داسې تور حبشي غلام درباندې مقرر کړی شي چې سر يې لکه د پرسېدلي مميز په څېر وي. يعني چې هر څومره

(١) زاد المسير ج١ ص٢٥٧

(٢) زاد المسير ج١ ص٢٥٧؛ تفسير البغوي ج١ ص٢٢٨

(٣) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٥٧

بد قواره سړی وي هم اطاعت يې کوئ.

او نبي کريم ﷺ داسې هم فرمايلي دي چې: «إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا»[۱] يعني: که چېرې درباندې پوزه پرې کړی شوی غلام آمر وټاکلی شي او هغه مو د الله ﷻ د کتاب مطابق قيادت کوي نو امر يې قبول کړئ او اطاعت يې وکړئ.

نو پوښتنه دا ده چې: د دغو احاديثو څخه خو معلومېږي چې د هر ډول امير اطاعت واجب دی، که د طالوت په شان دنګه غاړه او ښائسته څېره ولري او که نه؟.

مونږ وايو: لکه چې وړاندې مو ورته اشاره وکړه په ايتونو کښې د امير ټاکنه په انتخابي طريقې سره د بحث لاندې ده، او ذکر شوي احاديث يې انتصابي طريقې ته اشاره کوي لکه چې «وَإِنْ اسْتُعْمِلَ» او «إِنْ أُمِّرَ» کلمې ورباندې دلالت کوي.

برسېره په دې، ايتونه د امير ټاکونکو ته هدايت کوي، او احاديث هغو خلکو ته ارشاد کوي چې امير ورباندې ټاکل شوی وي يعنې امير چې په هره طريقه وټاکل شي اطاعت يې ضرور دی د ټاکلو څخه وروسته پکښې هاغه او دغه کول جائز نه دي. لکه چې نبي کريم ﷺ د مرض الموت په حال کښې أُسامه بن زيد ؓ په يو ګروپ مجاهدينو باندې قومندان وټاکه، سره د دې چې د أُسامه ؓ پلار آزاد کړی شوی غلام وه او په مجاهدينو کښې لوی‌لوی صحابه کرام ؓ شامل وه، خو ټولو يې اطاعت وکړ او غاړه يې ورته کېښودله[۲].

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: اهل الحل والعقد به إلهي پېرزوينه په څه ډول معلومه کړي چې د فلاني سره يې پېرزوينه شته او د فلاني سره نشته؟.

مونږ وايو چې: دوی بايد هغه چا ته د انتخاب رايه ورنه کړي چې په اصطلاح هغه امارت ته کانديد وي او ورپسې لېوال وي، بلکې هغه څوک انتخاب کړي چې د طالوت په شان د امارت هڅه نه کوي، څکه چې عبد الرحمن بن سمره ؓ وايي چې نبي کريم ﷺ راته وفرمايل چې: «لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعْطِيتَهَا مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا»[۳] يعني: امارت مه غواړه څکه چې که د غوښتنې د کبله درکړی شي نو همغه ته به ورسپارلی شې (د الله ﷻ کومک او توفيق به درسره نه وي) او که بې د غوښتنې څخه درکړی شي نو په امارت باندې به درسره کومک وکړی شي (الله ﷻ به توفيق درکړي) يعنې دا به د الله ﷻ پېرزوينه وي.

بله دا چې د اهل الحل والعقد د ټولګي څخه شمېرل کېدل پخپله د الله ﷻ پېرزوينه ده او د دوی پېژاندنه خو په هيڅ باندې مشکله نه تمامېږي. يا په بل عبارت: که د اهل الحل والعقد ټولګی د

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۱۲۵
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۴۱
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۵۸

خپل منځ څخه یو نفر د امارت چوکۍ ته انتخاب کړي دېر په خای کار به وکړي.

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ مُلْكِهِۦٓ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحْمِلُهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾﴾

[۲۴۸] او دوی ته خپل پیغمبر (شمویل) ﷺ وویلې چې: بې شکه د نوموړي د قیادت نښه دا ده چې تاسو ته به صندوق راشي چې په هغه کښې به ستاسو د رب ﷻ د پلوه سکینه او داد وي او هم به پکښې د موسی ﷺ د ټبر او د هارون ﷺ د ټبر څخه څه پاتې شیان وي (په داسې حال کښې) چې ملائک به يې درانتقال کړي.

بې شکه په دغه کار کښې ستاسو دپاره (د طالوت د قیادت) غټه نښه او معجزه ده خو که تاسو ایمان راوړونکي یاست.

د مطلب خلاصه

د بني اسرائیلو پخوانۍ عادت وه چې په هر شي کښې یې شک او شبهې کولې، د دې خبرې سره-سره چې د موسی ﷺ په رسالت باندې معتقد وه خو په یو وخت کښې یې ورته وویلې چې: ﴿يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً﴾ [البقرة: ۵۵] یعني: ای موسی! مونږ به هیڅکله تا له معتقد نه شو ترڅو چې الله ﷻ په خپلو سترګو باندې په ښکاره توګه ونګورو.

همدارنګه دوی شمویل ﷺ ته وویلې چې مونږ د طالوت په قیادت باندې چې د الله ﷻ د پلوه ټاکلی شوی دی تر هغه عقیده نه شو کولی چې څرګند برهان او دلیل ورباندې ټېر نه کړې یعنې ترڅو چې په دې باره کښې معجزه ونه ګورو چې دا رښتیا قائد ګرځولی شوی دی.

نو شمویل ﷺ دوی ته وویلې چې د طالوت د قیادت نښه دا ده چې تاسو ته به یو غیبي صندوق راشي چې په هغه کښې به ستاسو د رب ﷻ د پلوه اطمنان اینبودلی شوی وي او هم به پکښې د موسی ﷺ او د هارون ﷺ د ټبرونو د متروکانو څخه څه پاتې شوني موجود وي ترڅو بې تاسو وپېژنئ چې رښتیا دا غیبي صندوق دی چې د کلونو-کلونو پخواني څیزونه پکښې پراته دي چې د هیچا څخه پاتې نه وه او نه د چا په وسه کښې وه چې هغه ترلاسه کړي، دا برسېره په دې چې تاسو به یې په خپلو سترګو وګورئ چې ملائک به یې درانتقال کړي او په غیبي توګه به د طالوت په وړاندې کښېنودل شي. بې شکه دغه ډېره لویه معجزه ده او د طالوت د قیادت ډېره لویه نښه ده خو که تاسو ورباندې باور وکړئ او قیادت یې ومنئ.

کله چې ذکره شوې معجزه ترسره شوه نو د ټولو ورباندې ظاهري قناعت راغی او طالوت یې د قائد په صفت ومانه.

توضیحات

۱_ که څه هم مفسرینو کرامو د تابوت په اړوند ډېر څه لیکلي دي چې په ځینو باندې د سړي اطمنان هم نه شي راتلی خو هغه څه چې مونږ ته یې یادونه ضرور ښکاري، لاندې څو معلومات دي:

الف: ځینې مفسرین کرام وايي چې د "تَابُوت" کلمه د "تَوْبَة" څخه اخستل شوې ده چې د رجوع معنی ورکوي. نو هغه صندوق ته چې سړی پکښې څه مهم شیان ساتي ځکه تابوت وايي چې هغه ته بیا-بیا رجوع کېږي[۱]. مګر ډېره ښه خبره دا ده چې د تابوت کلمه عجمي ده لکه چې غیر انصراف یې په همدې مطلب باندې څرګند دلیل دی.

په هر تقدیر، زمونږ په پښتو ژبه کښې تابوت هغه خاص صندوق ته وايي چې هغه د مړي د کالبوت دپاره جوړ شوی وي، خو په نورو ژبو کښې د مړي کالبوت پورې اختصاص نه لري، بلکې د مهمو شیانو صندوق ته تابوت وايي.

ب: دا خبره ثابته نه ده چې دغه تابوت بني اسرائیلو ته د آدم ﷺ په سلسله باندې د جنت څخه راغلی وه[۲] او که نه هغه تابوت وه چې د موسی ﷺ مور پکښې موسی ﷺ د ماشومتوب په حالت کښې سیند ته اچولی وه، چې د [طه:۳۹] ایت کښې ورته اشاره شوې ده[۳]، او یا د موسی ﷺ په ژوند کښې دوی پخپله د لرګي څخه جوړ کړی وه[۴]؛ خو دا خبره ثابته ده چې ذکر شوی تابوت د برکت څخه ډک وه او څه امتیازي صفات یې درلوده چې بني اسرائیلو ته ډېر ښه معلوم وه، که څه هم مونږ ته په یقین سره نه شي معلومېدلی چې هغه به څه صفات وه ځکه چې:

زمونږ په لاس کښې خو د علم دوه یانګې دي چې یو قرآن کریم دی او بل احادیث دي، په دې دواړو کښې د تابوت په اړوند هغه معلومات نشته کوم چې د اهل الکتابو په کتابونو کښې لیکل شوي دي، او مونږ وریاندې ځکه باور نه شو کولی چې په دې کتابونو کښې ګوتې وهل شوې دي، مونږ څه پوهېږو چې خبرې به یې رښتیا وي او که دروغ.

أبو هریره ﷺ وايي چې اهل الکتابو به تورات په خپله ژبه (عبراني) لوسته او مسلمانانو ته به یې په عربي ژبه باندې ترجمه کاوه نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: چې: «لَا تُصَدِّقُوا اهل الْكِتَابِ وَلَا تُكَذِّبُوهُمْ وَقُولُوا ﴿ آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا ﴾ الْآيَةَ»[۵] یعنې: د اهل الکتابو مه تصدیق کوئ او مه یې تکذیب کوئ فقط همدومره وايي چې مونږ په الله ﷻ او په هغه شي باندې ایمان راوړی دی کوم چې مونږ ته الله ﷻ نازل کړی دی.

ج: نوموړی تابوت د اهل الکتابو د لاسه بالکل وتلی وه، برابره خبره ده چې الله ﷻ د دوی د ګناه

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۵۸
(۲) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۸۸
(۳) تفسیر سومه ج۲ ص۱۷۴
(۴) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۵۹
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۹۴

په سبب باندې اسمان ته خېژولی وي[۱] او که د جنګ په مرحله کښې ترې دښمنانو وړی وه کله یې چې د دوی کورونه تالا والا کړه او ماشومان او زنانه یې ترې بیولي وه[۲].

په هر تقدیر، دوی ته د تابوت بېرته لاس ته راوړل نه کېدونکی کار ښکارېده، او په واقع کې هم نظر بشري توان ته نه کېدونکی کار وه.

د: د طالوت په قیادت باندې الله ﷻ دوی ته د نورو معجزاتو په عوض څکه د تابوت راتلل انتخاب کړه ـوالله ﷻ أعلمـ ترڅو دوی پوه کړی شي چې الله ﷻ به تاسو ته هغه عزت بیا درپه برخه کړي چې د تابوت په وخت کښې مو درلوده، او د طالوت قیادت چې تاسو ته نه کېدونکی ښکاري دا کېدونکی وګڼئ: نو د تابوت راتګ د یو پلوه معجزه وه او د بله پلوه بشارت وه ترڅو دوی جهاد ته ترغیب شي او په خپل عهد باندې وفا وکړي.

هـ: ذکر شوی تابوت الله ﷻ بني اسرائیلو ته په خارق العاده توګه بېرته ورکړ، که د اسمانه ورته الله ﷻ بېرته راستون کړی وی نو د دې په خارق العاده والي کښې خو هیڅ شک نه پاتې کېږي، لکه چې د قیامت د نژدېوالي په وخت کښې به الله ﷻ عیسی ﷺ د اسمانه څخه راښکته کړي او یا لکه چې په بني اسرائیلو باندې د عیسی ﷺ په زمانه کښې د اسمانه مائده نازله شوې وه. او که د جالوتیانو د مملکت څخه ورته ملائکو راوړی وي نو د دې ډول راوړلو مثالونه هم شته، لکه چې سلیمان ﷺ ته د بلقیس تخت هغه چا ورانتقال کړ چې هغه ته الله ﷻ غیبي علم ورکړی وه لکه چې فرمایي: ﴿قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ﴾ [النمل: ۴۰] یعني: هغه چا وویلې چې هغه ته الله ﷻ د کتاب علم ورکړی وه چې زه به یې درته مخکښې د دې چې تاته د خپلو سترګو رپول بېرته راتاو شي، راوړم.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه همدغه قول روایت شوی دی چې ذکر شوی صندوق د اسمان څخه ملائکو راښکته کړ او دوی ورته کتل چې د طالوت په وړاندې یې کېښود[۳].

د همدې قول تائید د دې کېله هم کېدلی شي چې بني اسرائیل لجوج خلک وه، که د جالوتیانو څخه ورته ذکر شوی صندوق رانقل شوی وی نو شاید چې باور یې ورباندې نه وی کړی او په اصطلاح دوه سوه بهانې به یې ورته تراشلي وی خصوصاً په هغې طریقه باندې خو به یې هیڅکله قناعت نه وی شوی چې د صندوق په انتقال کښې مفسرینو کرامو لیکلي دي چې په جالوتیانو کښې د طاعون (وبا) مرض ګډ شو نو هغوی په ذکر شوی صندوق باندې بد فالي ونیوه، په قولبه (دوه غوایانو) باندې یې بار کړ او د خپل ښار څخه یې وشړل چې قولبه برابره د طالوت مخې ته ودرېده او صندوق یې ترې راکوز کړ[۴].

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۶۸

(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۶۸

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۰۱

(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۳۰؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۴۸

دوی وايي چې د دغه کار سوق او اداره ملائکو کوله نو ځکه يې د انتقال نسبت دوی ته شوی دی او حمل د انتقال په معنی استعمال شوی دی. که داسې شوی وی نو بني اسرائيلو ته به چا قناعت ورکړی وی چې حقيقةً د صندوق انتقال دوه غوايانو نه دی کړی بلکې ملائکو کړی دی.

نو چې د دوی قناعت ورباندې راغلی دی معلومېږي چې دوی بله هيڅ بهانه په لاس کښې نه درلوده او د مجبوريت د کبله يې د خپل جارو جنجال څخه لاس اخستی دی چې د صندوق انتقال په بې اندازې خارق العاده طريقې سره صورت نيولی دی، چې دوی ټولو ورته رړ رړ کتل او ملائکو د طالوت په وړاندې ذکر شوی صندوق کېښود[۱].

سکينة او بقية

۲ـ د ايت شريف څخه په ښکاره توګه څرګندېږي چې په همدغه صندوق سره او هم په هغو شيانو سره چې د صندوق په داخل کښې موجود وه د بني اسرائيلو د زړونو اطمنان حاصل شو، ځکه چې دوی وپېژاندل چې دغه شيان د موسی ﷺ او هارون ﷺ او د دوی دواړو د تېرونو څه بقايا دي، او يقين يې ورباندې راغی.

خو دا معلومه نه ده چې دغه بقايا د څه‌څه شيانو څخه عبارت وه، قرآن کريم يې د بيانولو څه ضرورت نه دی ليدلی نو ځکه پکښې ساکت پاتې شوی دی. اما مفسرينو کرامو پکښې ډېر څه ليکلي دي چې د "سَكِينَة" په بيان کښې يې اوه قوله کړي دي او د "بَقِيَّة" په باره کښې آن تر نهو قولو پورې رسېدلي دي[۲]، چې په يوه ليکنه باندې هم سړی کامل باور نه شي کولی. يا په بل عبارت: د يوه مفسر سره هم د ذکر شوي صندوق کونجي موجوده نه وه او د ټولو څخه قلف پاتې شوی دی. د همدې کبله مونږ ته ښه ښکاره شوه چې همداسې قلف يې پرېږدو او ترې تېر شو. که څوک يې د لوستلو شوق لري نو خپنو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۳].

خينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې په تعين باندې يې څه دليل نشته نو تعينول يې ګناه ده او جواز نه لري[۴]. که داسې وي نو ورپسې ګرځېدل به هم ګناه وي، والله ﷻ اعلم.

﴿ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّى وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ

(۱) تفسير ابي السعود ج۱ ص۲۴۱؛ روح المعاني ج۲ ص۱۹۸
(۲) زدا المسير ج۱ ص۲۵۸
(۳) تفسير القرطبي ج۳ ص۲۴۹؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۵۹؛ التفسير الكبير ج۶ ص۱۹۰؛ روح المعاني ج۲ ص۱۶۹
(۴) تفسير الطبري ج۲ ص۶۱۵

قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾

[۲۴۹] نو کله چې طالوت خپل لښکر جدا (تکمیل) کړ نو ورته یې وویلې چې: یقیناً الله ﷻ تاسو لره په یوې ویالې باندې ازمویونکی دی (یې ازمویني مو نه پرېږدي)، نو چا چې ترې (د ویالې څخه اوبه) وڅښلې نو هغه زما څخه نه دی (په لښکر کښې ورته ځای نه ورکوم)، او څوک یې چې بالکل (د ویالې اوبه) ونه څښې نو بې شکه چې زما ملګری دی، مګر هغه څوک (مې هم ملګری دی) چې (اوبه) غرپ کړي په یو لاس غرپ کول.

نو ټول لښکر ترې (د ویالې څخه اوبه) وڅښلې (او ناکام شوه) مګر د دوی څخه لږو خلکو (د ویالې څخه اوبه ونه څښلې).

نو کله چې د ویالې څخه دی (طالوت) او ورسره هغه کسان تېر شوه چې ایمان یې راوړی وه (کامل ایمان) نو دوی وویلې چې نن ورځ مونږ لره هیڅ وسه نشته چې د جالوت او لښکر سره یې مقابله وکړو (که د الله ﷻ فضل راسره نه وي).

(بیا) هغو کسانو وویلې د کومو چې یقین وه چې بې شکه دوی د الله ﷻ سره ملاقي کېدونکي دي چې: ډېر کرته ورکوټي ټولګي په ډېر لوی ټولګي باندې د الله ﷻ په حکم غلبه ترلاسه کوي (نو باید چې وارخطا نه شو). او الله ﷻ د صابرانو ملګری دی.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ کله چې په ذکر شوي تفصیل سره بني اسرائیلو ومنله چې طالوت دې زمونږ عمومي قومندان وي نو طالوت په سوق الجیشی باندې پیل وکړ او د مجاهدینو په راغونډولو کښې مشغول شو، هرڅوک یې په لښکر کښې نه شاملاوه ترڅو به چې ترې مطمئن نه شو چې دغه مجاهد څه ذهني مصروفیت نه لري نو د خپلو شرطونو په مطابق یې اتیا زره مجاهدین وسلوال جهاد ته تیار کړه او د جالوت په طرف یې د خپلو کلیو څخه جدا کړه، الله ﷻ پوهېږي چې په تجهیزاتو باندې به یې ترې څومره وخت لګېدلی وي.

د هغه وخت څخه نیولې تردې وخته پورې ذکر شوی عمومي قومندان ټوله صحنه ولیدله او د نظره یې تېره شوه چې په څومره مشکلاتو سره شمویل ﷺ وکړی شو چې بني اسرائیل یې د ده قومندۍ ته چمتو کړه.

نو غالبه دا ده چې د طالوت سره تشویش پیدا شوی وي چې دغه لښکر چې په دومره لَيْتَ او لَعَلَّ سره زما قومندۍ ته چمتو شو، تر آخره به راسره په ژمنه ودرېږي او که نه، که د جنګ د میدان څخه راوتښتي نو د یو پلوه به د مخلصو مجاهدینو مورال کمزوری کړي او د بل پلوه به دښمن ته خجالت شو. نو ښه دا ده چې د جنګ د میدان څخه وړاندې د دوی مخلص او غیر مخلص وپېژنم. نو

شمویل ﷺ ته به یې پیشنهاد کړی وي چې الله ﷻ ته سوال وکړي او الله ﷻ به سوال قبول کړی وي او د ازموینې طریقه به یې ورته ښودلې وي چې په دغه ډول سره یې ازموینه واخله او په لښکر کښې همدغه طریقه اعلانه کړه. که بالفرض د ازموینې منظوري یې د الله ﷻ څخه نه وی ترلاسه کړې نو ګومان نه کوم چې دغو لجوجو خلکو به امتحان ته غاړه ایښې وی بلکې په اصطلاح دوه سوه بهانې به یې ورته جوړې کړې وی، چې امتحان ته حاجت نشته. نو ځکه الله ﷻ فرمایي چې طالوت خپل لښکر ته وویلې چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مُبۡتَلِيكُم بِنَهَرٖ ﴾ یعنې: بې شکه الله ﷻ په یوې ویالې باندې ستاسو ازمویونکی دی.

۲ـ یعنې شمویل ﷺ ته الله ﷻ وحي کړې ده چې تاسو په یوه ویاله باندې امتحان کړې. نو د همدغه امتحان اعلان د طالوت د پلوه وشو چې الله ﷻ تاسو په یوه ویاله باندې امتحانوي او د امتحان طریقه دا ده چې که هرڅوک د همدغې ویالې (لښتې) څخه اوبه وڅښي هغه زما ملګری نه دی او هغه زه د خپل خان سره جهاد ته نه بیایم زما ملګری هغه څوک دی چې د ذکر شوې ویالې (لښتې) اوبه هیڅ ونه څښي او یو غړپ هم ترې ونه کړي. هوا که د ویالې څخه یې اوبه په لاس باندې وڅښلې او ورباندې ور ونه لوېده، خیر دی هغه هم زما ملګری دی او د اندیوالی څخه یې نه وباسم.

۳ـ نو کله چې دوی ویالې ته ورسېده په داسې حال کښې چې سخته تودوخه وه او ټول لښکر تږی وه، نو ټول په ویالې باندې ورولوېده او د څارویو په دود یې په خولو باندې اوبه وڅښلې، مګر لږو خلکو دا کار ونه کړ، یا یې بالکل ونه څښلې او یا یې په لاس باندې وڅښلې.

۴ـ د دې امتحان څخه وروسته د طالوت ملګري د ورایه وټاکلی شوه، کله چې طالوت او هغه کسان چې په ازموینه کښې کامیاب شو (چې ایمانونه یې قوي وه او کمزوري نه وه او د ده اندیوالي یې ترلاسه کړې وه) د ویالې څخه تېر شوه، نو دوی د ځانو سره وویلې چې اوس خو مونږ ډېر لږ کسان پاتې شوو او د لښکر قوت بالکل مات شو، نن ورځ مونږ سره هیڅ وسه نشته چې د جالوت او د هغه د غټ لښکر سره مقابله وکړو که د الله ﷻ مرسته نه وي نو مونږ نه شو کامیابېدلی.

۵ـ بیا د همدوی د ډلې څخه هغه ټولګي چې د هغوی ګومان وه چې مونږ د الله ﷻ سره ملاقي کېدونکي یاستو او همدا نن به د شهادت جامونه وڅښو وویلې چې وارخطا کېږئ مه، نظر زمونږ ناتوانی ته خو ګومان کوو چې شهیدان به شو، زمونږ سره دا توان نشته چې د جالوتیانو په مقابله کښې ودرېږو پاتې خو لا دا چې نصرت به ترلاسه کړو. اما نظر د الله ﷻ د نصرت اوکومک ته نژدې ده چې الله ﷻ مو غلبه په نصیب کړي او مونږ ورباندې برلاسي شو، ځکه چې غلبه خو د نفرو او وسائلو د ډېروالي پورې مربوطه نه ده بلکې د الله ﷻ د ارادې پورې ارتباط لري، د تاریخ په اوږدو کښې داسې ډېر شوي دي چې ډېر وړوکی ټولګی د ناچیزه وسائلو سره د الله ﷻ په امر په ډېر لوی ټولګي باندې غالب شوی دی، خو د الله ﷻ نصرت د صابرانو ملګری دی.

نو لکه څنګه مو چې د ویالې په امتحان کښې صبر وکړ همدارنګه باید د جنګ په میدان کښې هم صبر وکړو، اُمید دی چې غلبه به زمونږ په نصیب شي او دښمن به ماتې وخوري.

توضیحات

۱ـ امتحان ځکه په اوبو باندې د اجراء لاندې راغی چې مجاهدین په ډېرو وختونو کښې د لوږې او تندې سره مخامخ کېږي خو د لوږې مقاومت نسبت د تندې مقاومت ته اسان دی، نو نتیجه یې داسې کېږي چې څوک نن ورځ د تندې مقاومت نه شي کولی نو هغه به یې سبا ورځ د جنګ په ډګر کښې څنګه وکړی شي؟، خصوصاً چې تنده اوږده شي.

سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: "طعم" په خوراکي شیانو کښې استعمالېږي ا لا په دې مقام کښې خو امتحان په ویالې باندې صورت نیولی وه نو په کار وه چې د ﴿لَّمْ يَطْعَمْهُ﴾ په ځای باندې "لَّمْ يَشْرَبْهُ" نازل شوی وی چې "شُرْب" د اوبو سره مناسبت لري.

موږ وایو چې: د "طعم" کلمه د ذوق (څکلو) په معنی سره هم استعماله شوې ده[1]، په دې مقام کښې همدا معنی په زړه پورې ده چې لاندې صورتونو ته شامله ده:

الف: چې په ویالې باندې ورڅملي او په خوله یې ترې وڅښي.

ب: چې په لوښي کښې یې د ویالې څخه راپورته کړي او ویې څښي.

ج: چې څه خوراکي شیان ورباندې لامده کړي او بیا یې وخوري، لکه چې ډوډۍ د اوبو سره وخوري.

د: چې په دوارو ورغوو (لپو) باندې یې وڅښي.

هـ: چې بل څوک یې په خوله کښې ورواچوي او ده ورته خوله وازه کړې وي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې هغه څوک زما ملګری دی چې په هیڅ ډول سره د ویالې څخه استفاده ونه کړي په اصطلاح اوبه په ژبه باندې هم کېښنږدي، مګر که په لاس یې ترې استفاده وکړه باک یې نشته او د اندیوالۍ څخه نه اوځي. که بالفرض "لَّمْ يَشْرَبْهُ" ویل شوي وی نو ذکره شوې مطلوبه معنی یې نه شوه اداء کولی.

د امتحان نتیجه

۳ـ په پورتني امتحان سره خلک په درېوو ګروپونو ووېشل شوه:

الف: چې بالکل یې د اوبو څخه په هیڅ ډول استفاده ونه کړه.

ب: چې په یوه لاس یې وڅښې.

ج: چې په ویالې باندې ورڅملاسته او آن د بسو پورې وڅښي.

نو طالوت یوازې اولني دواړه ګروپونه د خانه سره ملګري کړه چې شمېر یې درې سوه او دیارلس (۳۱۳) تنو ته رسېده او د درېیم ګروپ سره یې اندیوالي وشکوله چې شمېر یې نهه اویازره شپږسوه

---

[1] روح المعاني ج۲ ص۱۷۰؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۴۲

اوه اتیا (۷۹۶۸۷) کسان وه، او د طالوت اصلي لښکر اتیا زره (۸۰۰۰۰) ته ښودلی شوی دی.
بالمقابل د جالوت لښکر یو لک یا درې لکه ښودلی شوی دی، والله ﷻ أعلم بالصواب[1].

دا د چا خبره ده؟

۴_ ځینې مفسرین کرام وايي چې دغه جمله ﴿ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلۡيَوۡمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ﴾ د ناکامانو خبره ده[2] دوی چې کله اوبه وڅښلې ګېډې یې درنې شوې او تندې پسې واخسته سات په سات یې د اوبو څښلو ته اړتیا پېښېدله نو وېې ویلې چې زمونږ سره نن ورځ په دغه حالت کښې د قوي دښمن د مقابلې توان نشته. دوی وايي چې ذکره شوې خبره ډېره کمزورې ده چې د کامیابانو سره مناسبه نه ده نو په دې تقدیر به د ویالې څخه تول تېر شوي وي او بیا به ناکامانو په اعتذار شروع کړې وي.

مګر اکثره مفسرین کرام وايي چې ناکامان د ویالې څخه تېر نه شوه او یوازې کامیابان پورې وتل[3] ځکه چې طالوت خو وړاندې فیصله کړې وه چې زما د اندېوالی معیار یوازې همدغه ویاله ده، څوک چې په امتحان کښې ناکام شوه نو ځای په ځای یې اندیوالې پرېښوده او دې ته حاجت پاتې نه شو چې د نه تګ اعتذار وړاندې کړي چې مونږ جنګ نه شو کولی. که بالفرض دوی اعتذار نه وی وړاندې کړی هم طالوت به د خانه سره نه وی بیولي.

دا هم احتمال لري چې ځینو قصداً اوبه څښلې وي ترڅو د طالوت د اندیوالی څخه بېرون شي او د قوي دښمن د مقابلې څخه خانونه وژغوري.

نو معلومه شوه چې ذکر شوې جمله د ناکامانو مقوله نه بلکې د کامیابانو مقوله ده، چې نن ورځ اکثریت ناکام شوه او د جنګ د میدان څخه بېرته تاو شوه. برسېره په دې، دښمن بې اندازې ډېر او قوي دی نو نظر زمونږ بې وسی او کمزورۍ ته د نصرت اُمید ډېر کم دی ځکه چې مونږ د مقابلې توان نه لرو. نو نصرت او کامیابي به څنګه ترلاسه کړو.

هوا د الله ﷻ فضل او کرم بېل شی دی چې په اسبابو پورې موقوف نه دی.

نو په دې تقدیر لاندې دواړه جملې د طالوت ملګرو ویلې دي:

الف: نن ورځ د جالوت او د ده لښکر په مقابل کښې توان نه لرو.

ب: داسې ډېر پېښ شوي دي چې د الله ﷻ په امر سره وړوکی تولګی په ډېرې غټې ډلې باندې غالب شوی دی.

مګر الله ﷻ د هغوی څخه یو ځل په ایماندارانو سره تعبیر وکړ چې: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ ﴾ او بل ځل یې په الله ﷻ باندې د ښه ګومان کوونکو په نامه باندې یاد کړه چې: ﴿ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ ﴾، ترڅو د هغوی دوه عالي صفاتو ته اشاره وکړي.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۹۲؛ روح المعاني ج۲ ص۱۷۱

(۲) تفسیر المنار ج۲ ص۴۸۸

(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۵۴؛ روح المعاني ج۲ ص۱۷۱؛ التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۹۶

دا هم احتمال لري چې اولنۍ جمله د طالوت په ملګرو کښې هغو کسانو ویلې وي چې هغوی په یو لاس باندې اوبه څښلې وې، او دوهمه جمله د هغو کسانو وي چې هغوی بالکل اوبه نه وي څښلې، والله ﷻ أعلم.

په کمزورۍ کښې غلبه

۵ـ دغه ډول جملې د جهاد په پیل کښې د افغان مجاهدینو د خولو څخه هم وتلې دي چې کمزوري افغانان به د روسي ابر قدرت په مقابل کښې څنګه کامیاب شي، دوی به څنګه وکړی شي چې روسان د افغانستان څخه وباسي، حتی چې شهید ضیاء الحق د پاکستان پخواني ولسمشر د خولې څخه داسې جمله هم وتلې وه چې که د افغانستان څخه روسیان مخ په شا شي نو دا به د شلم قرن معجزه وي یعنې دا کار صرف د الله ﷻ په قدرت سره کېږي او بس.

همدغه جمله د لوط ﵇ د خولې څخه هم وتلې وه چې مونږ ته الله ﷻ په قرآن کریم کښې رانازله کړې ده چې: ﴿ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴾ [هود: ٨٠] یعنې: کاشکې چې یقیناً په تاسو باندې ما قوت درلودی او یا مې یوې محکمې پناځای ته پنا وړې وی.

لنډه دا چې الله ﷻ د خپل فضل په وړاندې په زیاتو وختونو کښې داسې حالت راولي چې مسلمانان په خپله کمزورۍ باندې معترف شي، ترڅو د یو پلوه الله ﷻ ته زارۍ او سوالونه وکړي ـچې دا هم یو عبادت دی ـ او د بله پلوه د الله ﷻ فضل او کرم په معجزانه توګه باندې وګوري.

په امتحان کښې ناکامي کفر نه دی

۶ـ د ایتونو څخه داسې دلایل په نظر نه راځي چې ذکر شوو ناکامانو به د طالوت د قومندانۍ څخه انکار کړی وي خو یوازې د ایمان کمزوري ده چې دوی په امتحان کښې پاتې راغله[1]. د همدې کبله الله ﷻ کامیابان د ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ ﴾ مؤمنانو په نامه باندې یاد کړه چې دوی صرف د ایمان په رڼا کښې د امتحان څخه بریالي ووتل، که ایمان یې کمزوری وی نو دوی به هم ناکام شوي وی. څکه چې ایمان په ټولو جوارحو باندې حکومت کوي.

"لِقَاءُ الله" د څه شي څخه عبارت ده؟

۷ـ په دې مقام کښې د الله ﷻ لقاء چې په ﴿ مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده د لاندې معناوو احتمال لري:

الف: د الله ﷻ دیدار.

ب: اجرونه او ثوابونه.

ج: د شهادت مرګ.

---

(١) البحر المحيط ج٢ ص٢٦٢

خرنګه چې ذکر شوي دربواره شیان په یقین سره چاته معلوم نه دي، خاتمه مستوره ده چې د الله ﷻ دیدار به یې په نصیب شي او که نه، د اجرونو او ثوابونو استحقاق به لاس ته ورشي او که نه، بالآخره د شهادت لوړه درجه به یې په برخه شي او که څنګه؟ نو ځکه الله ﷻ د طالوت د ملګرو د خولو څخه به ﴿ یَظُنُّونَ ﴾ سره حکایت وکړ چې دوی د "لِقَاءَ اللَّهِ" ګومان وه، یقین یې نه وه خو لوی اُمید یې درلود.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸ـ که څوک وایي چې: ګومان په هغې شي کښې استعمالیږي چې هغه د یقین درجې ته نه وي رسېدلی، مګر بالمقابل د "اَنْ" کلمه د تحقیق دپاره ده چې په یقیني شیانو کښې استعمال مومي، او په دې مقام کښې دواړه په یوه موضوع کښې استعمال شوي دي چې ظاهراً سره ضدیت لري؟.

مونږ وایو چې: ګومان دېرې مرتبې لري، کله چې پوره قوي شي او یا ګومان کوونکی خپل ګومان د مبالغې د کبله یقین وګڼي نو د "اَنْ" کلمه ورسره منافات نه لري ځکه چې په دې تقدیر باندې ګوماني شی ادعاءً یقیني ګڼل کېږي[1] او په دې مقام کښې د طالوت ملګرو هم ادعاءً د الله ﷻ سره لقاء (یوځای کېدل) داسې ګڼله لکه چې یقیني وي.

﴿ وَلَمَّا بَرَزُوا۟ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ تِلْكَ ءَايَـٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾ ﴾

[۲۵۰] او کله چې دوی (تول) د جالوت او د ده د لښکر (مقابلې) ته ورووتل نو ویې ویلې چې: ای زمونږ ربه! په مونږ باندې په ښېرو ښېړو صبر راوورو او قدمونه مو محکم کړې او په کافر قوم باندې نصرت راکړې.

[۲۵۱] نو دوی (طالوت او ملګرو یې) هغوی (جالوتیان) د الله ﷻ په حکم مات کړه (شکست یې ورکړ) او داوُد علیه السلام جالوت لره وواژه.

او ده (داوُد علیه السلام) ته الله ﷻ پاچاهي او پیغمبري ورکړه او هم یې د هغو علومو څخه دومره علوم ورزده کړه چې څومره (د الله ﷻ) خوښه وه.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۳۲۷

او که خینو خلکو لره د خینو نورو خلکو په ذریعه د الله ﷻ مخه نیول نه وی نو ضرور به ځمکه فاسده شوې وی، خو الله ﷻ په عالمونو باندې د لوی فضل خاوند دی (چې د مفسدانو مخه نیسي).

[۲۵۲] دغه (نېږ شوي بیانات) د الله ﷻ اېتونه دي چې په تاباندې یې په حقه (والعیت) سره لولو او یقیناً چې ته د پیغمبرانو د جملې څخه یې (که نه نو دغه بیانات به دې له وی وراندې کړي).

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱_ د طالوت ملګرو یقین درلود چې د الله ﷻ په اذن سره هرڅه کیږي او دا یې هم یقین وه چې الله ﷻ د صبر کوونکو ملګری دی نو دوی د هغه زمانې د فرعون او د ده د لښکرو مقابلې ته د زمریانو په شان د جنګ په میدان کښې بروز وکړ. ته به وایې چې د یوه ډېر کمزوري دښمن مقابلې ته وراوځي.

۲_ نو دوی ووېلې چې ای زمونږ ربه! د هر څه څخه وړاندې په مونږ باندې د صبر پېرزوینه وکړې ترڅو ستا د معیت او اندېوالۍ مستحق وګرځو او بیا د جنګ په میدان کښې مو پښې قوې کړه چې د بشري کمزورۍ د کبله تېښته ونه کړو.

ای ربه! مونږ مؤمنان یو او د کافرو سره مو مقابله ده، په خپل فضل باندې په کافرانو باندې نصرت راکړې ترڅو د فساد مخه ونیسو او ستا دین ستا په ځمکه کښې پیاده کړو.

۳_ لنډه دا چې د دوی وینا الله ﷻ رښتیا کړه او څه یې چې غوښتنه هغه یې ورکړه، چې رښتیا وروکي ټولګي د الله ﷻ په حکم لوی ټولګي ته بلکې د وخت غټو طاغوتانو ته ماتې ورکړه، چې یوه ډېر کمزوري مجاهد داوُد ﷺ جالوت (د وخت فرعون) په قتل ورساوه او په لښکرو کښې یې ماتې ګډه شوه.

۴_ الله ﷻ دوی په میدان کښې ثابت قدمه وګرځول او دښمنان یې وتښتېده او میدان یې پرېښود او په کافر قوم باندې یې همدوی ته نصرت ورکړ.

۵_ د طالوت په ملګرو کښې چې څوک په امتحان کښې په ډېره لویه پیمانه کامیاب شو هغه داوُد ﷺ وه نو په هغه باندې الله ﷻ نور انعامونه هم وکړه چې:

د وخت په تېرېدنې سره یې همده (داوُد ﷺ) ته پاچاني هم ورکړه او پیغمبري هم. برسېره په دې الله ﷻ د هغو علومو څخه هم څه برخه ورکړه چې د الله ﷻ خوښه وه او اراده یې شوې وه. که څه هم داوُد ﷺ نه د پاچاهي او پیغمبرۍ سوال کړی وه او نه یې ترې د نااشنا علومو غوښتنه کړې وه مګر دغه ټول د الله ﷻ فضل او رحمت وه چې په داوُد ﷺ باندې یې د باران په شان په شېبو شېبو ووراوه. او تر ډېرو زمانو پورې ترې ټولو بني اسرائیلو استفاده وکړه.

۶_ په ذکر شوي تفصیل سره الله ﷻ د جالوتیانو د فساد مخه ونیوه او د ځمکې مخ یې د فساد څخه خلاص کړ، که الله ﷻ د طالوت واړه ټولګي ته نصرت نه وی ورکړی نو په ټوله ځمکه کښې به د فساد لمن خوره شوې وی او د الله ﷻ نوم به چا نه وی اخستی. خو الله ﷻ په عالمونو باندې د

لوی فضل خاوند دی چې په هره زمانه کښې په یوه مجاهد ټولګي باندې د جالوتیانو او فرعونیانو مخه نیسي او خلکو ته فرصت ورکوي چې په خپل رغبت سره د الله ﷻ عبادت وکړي او رضا یې حاصله کړي، ترڅو چې د قیامت په ورځ هیڅوک بهانه ونه کړی شي چې موږ د مفسدانو د لاسه د الله ﷻ عبادت نه شا کړه او د شیطان اطاعت مو غوره کړ.

لنډه دا چې په تېرو شوو بیاناتو کښې لاندې دوه مهم مطالب په نظر کښې نیولی شوي دي:

الف: الله ﷻ په هره زمانه کښې د فساد مخه نیسي، د همدې کبله یې جهاد فرض کړی دی. او دا څکه چې دنیا د الله ﷻ په نوم آباده ده، که په دنیا کښې د الله ﷻ نوم اخستونکی موجود نه وي نو دنیا به ورانېږي.

ب: تېر شوي بیانات ستا د رسالت دپاره لوی لوی معجزات شمېرل کېږي، که بالفرض ته په ربښتیا پیغمبر نه وی نو نه به دې په نکاح، طلاق او نورو اجتماعي قوانینو کښې چا ته څه هدایت ورکړی وی او نه به دې د بني اسرائیلو د قیصو یوه وروکې کړی بیان کړې وی څکه چې ته خو نه د زرګونو خلکو په زمانه کښې موجود وې چې د جهاد څخه تېښتېدلي وه او نه د طالوت مجاهدین تا چرته لیدلي وه. خو اصلي خبره دا ده چې بې شکه ته د پیغمبرانو د ډلې څخه یې، نه کوم فیلسوف یې او نه بل څوک یې لکه چې کافران درباندې نومونه ږدي.

توضیحات

۱ـ د ذکر شوو ایتونو څخه موږ ته د نصرت اسباب لاندې ښیان ښودل کېږي چې باید په هره زمانه کښې درباندې مجاهدین منګولې ښخې کړي:

الف: باید په الله ﷻ باندې پوره کلکه عقیده ولري چې په هر څه باندې قادر دی او په هر چا باندې زورور دی.

ب: د الله ﷻ د نومونو څخه یو نوم صابر دی، نو لکه څنګه چې پخپله صبر کوونکی دی همدارنګه د صابرینو ملګری هم دی، مجاهدینو ته په کار دي چې صبر کوونکي اوسي.

ج: د جنګ په میدان کښې باید د الله ﷻ څخه د صبر وروړلو سوالونه وکړي.

د: هم باید د الله ﷻ څخه د خپلې ثابت قدمی او په کافر قوم باندې د نصرت غوښتنه وکړي.

ه: بالآخره باید مجاهدین د خپل مشر اطاعت وکړي لکه څنګه چې د طالوت د ملګرو څخه همغې ورو کې ډلې ته نصرت ورکړی شو چې د ویالې په امتحان کښې یې د طالوت اطاعت کړی وه.

داود څوک وه؟

۲ـ په دې مقام کښې د داوُد څخه هغه داوُد ؑ مراد دی چې د سلیمان ؑ پلار وه. او د طالوت په امتحان شوو ملګرو کښې شامل وه[۱].

---

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۲۶۲

د لاندې وجوهو د کبله ـ والله ﷻ أعلم ـ الله ﷻ د نومورې په نامه باندې صراحت وکړ:

الف: کله چې الله ﷻ د مجاهدینو ملګری شو نو جالوت یې د داسې یو مجاهد په لاس د منځه یوړ چې د طالوت په ملګرو کښې د شهرت خاوند نه وه او د چا په زړه کښې هم نه تېرېدله چې نوموړی به د هغه قاتل وګرځي، چې نه په سیاست کښې وارد وه او نه د پاچا زوی وه بلکې یو غریب سړی وه چې خپلې مېږې یې څرولې، کله چې طالوت مجاهدین جهاد ته سوق کړه نوموړي خپلې مېږې پرېښودلې او په مجاهدینو کښې شامل شو.

ب: داوُد ﷺ د کومې قاتلې اوقوي وسلې خاوند هم نه وه، نه یې بدن په زغرو باندې پټ کړی وه او نه یې په سر باندې د اوسپنې خولۍ وه او نه د جالوت په شان په جنګي آس باندې سور وه، بلکې د نومورې وسله میچنوغزه وه چې د وړیو څخه یې جوړه کړې وه او مرمیات یې ډبرې وې چې د همدغې ناچیزه وسلې په یو فیر باندې یې د جالوت ککرۍ ورماته کړه او د ده لښکر ته یې ماتې ورکړه[۱].

ج: د نورو مجاهدینو تعرض او حملې ته نه حاجت پاتې شو او نه پکښې د چا (په اصطلاح) پوزه وینې شوه، که څه هم دوی خپل ځانونه شهیدان ګڼل او فکر یې کاوه چې سات ګړی ته به د شهادت لوړ مقام ته رسېږو. مګر الله ﷻ روغ رمټ خپلو کورونو ته ورستانه کړه، د غنیمتونو اندازه خو لا معلومه نه ده چې څومره به لاس ته ورغلې وي.

د: د قرآن کریم د نزول په وخت کښې بلکې په هره زمانه کښې داوُد ﷺ او د ده زوی (سلیمان ﷺ) نړیوالو ښه پېژانده او د دوی شان او شوکت د هیچا څخه پټ نه وه، نو د داوُد ﷺ د نوم په ذکر کولو سره د وړوکې ټولګې مجاهدینو (چې الله ﷻ ورسره ملګری وه) د جهاد برکت ډېر ښه څرګند شو چې تر کلونو کلونو پورې د هیچا څخه پټ نه وه.

هم پاچا او هم پیغمبر

۳ـ په بني اسرائیلو کښې معموله وه چې پاچا او پیغمبر به بېل بېل سړی وه، او په یو سړي کښې د دواړو جمعه کېدل دوی ته بالکل ناآشنا خبره ښکارېدله، خو الله ﷻ داوُد ﷺ هم پاچا وګرځاوه او هم پیغمبر.

که څه هم دوی ډېر لجوج خلک وه لکه چې د طالوت په پاچاهۍ کښې یې په اصطلاح دوه سوه بهانې وړاندې کړې، سره د دې چې د پاچا د ټاکنې غوښتنه یې پخپله کړې وه، خو د داوُد ﷺ په پاچاهۍ کښې یې په هیڅ ډول هاغه او دغه ونه کړه، ځکه چې:

الف: د شتو او مالونو خاوندان او هم د شاهي کورنیو غړي ټول حاضر وه چې داوُد ﷺ یوه لوی دښمن ته ماتې ورکړه، دوی هر یوه خپله ـ خپله کمزوري او ناتواني په سترګو ولیده.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۳۳

ب: دوی ته د خپلو استدلالاتو خامي او د پیغمبر (شمویل ﷺ) د خبرو صدق او رښتینوالی په ثبوت ورسېده حتی چې د انکار کولو جرئت یې بالکل سلب شو.

یادونه

۴_ که څه هم د حکمت کلمه به په نورو ځایونو کښې نورې معناوې لري مګر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د تفسیر په بناء په دې مقام کښې ترې نبوت (پیغمبري) مطلب ده[1].

سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د نبوت د ورکړې څخه یې د پاچاهۍ ورکړه وړاندې ذکر کړه، سره د دې چې نبوت لوی نعمت دی باید چې مخکښې ذکر شوی وی؟

مونږ وایو چې:

الف: داوُد ﷺ ته د شمویل ﷺ د وفات څخه وروسته نبوت ورکړې شوی دی او د طالوت د وفات څخه وروسته ورته ملوکیت ورکول شوی دی[2]، نو غالب تخمین دا دی چې طالوت به د شمویل ﷺ څخه مخکښې وفات شوی وي. نو په دې بناء به داوُد ﷺ د نبوت څخه وړاندې په ملوکیت باندې سرلوړی شوی وي.

ب: ترڅو خلکو ته ورڅرګنده کړې چې بني اسرائیلو د داوُد ﷺ پاچاهي د پیغمبرۍ او معجزو په زور سره نه ده قبوله کړې بلکې د هغې مېړانې په قوت یې منلې ده چې علی رُؤس الأشهاد یې څرګند کړه او هیچا ترې انکار ونه شو کړی. نو د همدې کبله یې د نبوت څخه مخکښې ذکر کړه چې د داوُد ﷺ د کسب یعني د جالوت د وژلو سره څنګ په څنګ ذکر شي، ترڅو خلکو ته معلومه شي چې پاچاهي کسبي شی دی او نبوت فضلي شی دی چې هیڅ کسب پورې اړه نه لري.

که بالفرض د "حِکْمَة" کلمه د "مُلْك" د کلمې څخه وړاندې ذکره شوې وی نو چا به ګومان کړی وی چې حکمت یعني پیغمبري داوُد ﷺ ته په کسب سره لاس ته ورغلې ده او حال دا دی چې خبره داسې نه ده.

هغه علوم چې داود ﷺ ته وربښودلي شوي وه

۶_ الله ﷻ په داوُد ﷺ باندې برسېره په نبوت د څه علومو فضل هم وکړ چې تفصیل یې صرف الله ﷻ ته معلوم دی او بس. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د جهادي ساز او سامان جوړول یې په امتیازي توګه وربښودلي وه چې وروسته ترې ټول خلک مستفید شوه لکه چې فرمايي: ﴿وَعَلَّمْنَـٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ﴾ [الأنبياء: ۸۰]

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۲۶۲

(۲) التفسیر الکبیر ج۶ ص۲۰۲؛ روح المعاني ج۲ ص۱۷۳؛ البحر المحیط ج۲ ص۲۶۹

يعني او داؤد ﷺ ته مو ښاسو د پاره د زغرو جوړول وروزده کړه ترڅو مو د جنګ په مقابله کې حفاظت وکړي (د وسلې ملحه د رښخه ونيسي).

ب: د مرغانو او حشراتو په خبرو باندې الله ﷻ پوه کړ لکه چې فرمايي: ﴿وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ ۖ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ﴾ [النمل: ۱۶] يعني: او سليمان ﷺ د داؤد ﷺ په نبوت او علومو کښې وارث وګرځيد، او خلکو ته يې ووېلې چې: اى خلکو! مونږ ته د مرغانو خبرې رابنودلې شوې دي.

هېر مو نه شي!

۷ـ هېر مو نه شي چې مفسرينو کرامو په ذکر شوو قيصو کښې زياتې ډېرې وړې او غټې خبرې ليکلې دي[۱]. غالبه دا ده چې اکثره به د اسرائيلو د کتابونو څخه استفاده شوې وي. خينو خو لا د هغوى په کتابونو باندې حوالې هم ورکړې دي او کټ مټ يې په خپلو کتابونو کښې د ترجمې په دول رانقل کړي دي[۲]. مونږ د هغو د ذکر څخه صرف نظر کيږو که څوک يې د لوستلو شوق لري هغو تفاسيرو ته دې مراجعه وکړي.

دوهمه سپاره د الله ﷻ په توفيق ختمه شوه.
۱۳۷۰/۱۰/۴ هـ ش.

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۲۲۶، ۲۲۹، ۲۳۲، ۲۳۶؛ البحر المحيط ج۲ ص۲۶۱ـ۲۶۳؛ التفسير الكبير ج۶ ص۲۰۱؛ تفسير الطبري ج۲ ص۴۰۰

(۲) تفسير القاسمي ج۳ ص۳۰۶، ۳۱۰؛ تفهيم القرآن ج۱ ص۲۴۴

﴿ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخْتَلَفُوا۟ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَٰعَةٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾ ﴾

[۲۵۳] دغه پیغمبران مو ځینې په ځینو نورو باندې بهتر ګرځولي دي، چې ځینې یې هغه دي چې الله ﷻ (ورسره) خبرې کړې دي او ځینو نورو ته یې درجات پورته کړي دي. او عیسی ؑ بن مریم ته مو ځرګندې معجزې ورکړې دي او په روح القدس (جبرائیل امین ؑ) سره مو قوي کړی دی.

او که د الله ﷻ اراده شوې وی نو هغو کسانو به جګړې نه وی کړې چې د دوی (پیغمبرانو) څخه وروسته وه (د دوی تابعان وه) پس د هغه څخه چې هغوی ته ښکاره معجزات هم ورغلي وه. مګر هغوی (برسېره په معجزاتو) اختلاف وکړ، نو ځینې یې هغه وه چې ایمان یې راوړ (یا په ایمان باقي پاتې شوه) او ځینې یې هغه وه چې کافران شوه (او یا په کفر باقي پاتې شوه).

او که د الله ﷻ اراده شوې وی (چې دوی دې اختلاف ونه کړي) نو دوی به قتل (اختلاف او جګړې) نه وی کړې. مګر الله ﷻ هغه څه کوي چې اراده یې وشي (په ده ﷻ باندې نه زور چلېږي او نه یې کارونه په ایجاب او اضطرار سره دي چې د اختیاره یې وتلي وي).

[۲۵۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د هغو مالونو څخه چې مونږ دربېرزو کړي دي د هغه څخه مخکښې انفاق (خرڅ) وکړئ چې داسې ورځ راشي چې نه پکښې فدیه ورکول شته او نه دوستي او نه شفاعت. او کافران چې دي همدوی ظالمان دي.

ارتباطونه

۱ـ دغه ایت شریف تقریباً د هغه سوال جواب دی چې د وړاندېنیو ایتونو څخه ځرګندېده، هغه دا چې بې شکه پیغمبران علیهم السلام د دې دپاره را استولي شوي دي چې د مفسدانو د فساد مخه ونیسي. خو چې نړۍ ته کتل کېږي اکثره اختلافات او فسادونه د همدوی (پیغمبرانو علیهم السلام) په پیروانو کښې واقع شوي دي، نو داسې ښکاري لکه چې همدوی د اختلافاتو او فسادونو مناشي او اسباب وي.

د جواب حاصل یې دا دی چې ټول پیغمبران علیهم السلام د یو الله ﷻ د پلوه را استولي شوي دي او ټول یو هدف تعقیبوي چې د فساد مخه نیول دي، په حقانیت کښې سره ټول یو برابر دي، او همدغه مطالب الله ﷻ په معجزاتو سره ځرګند کړي هم دي، نو په دوی کښې د اختلاف هیڅ باعث نشته

بلکې همدوی علیهم السلام ټول د شیطاني متعددو او متشتتو لارو څخه خلک یوې لارې (د الله ﷻ توحید) ته رابللي او د بنده ګانو د عبادت څخه یې خلاصوي.

هو! په پیغمبرانو علیهم السلام کښې یو تربله د الله ﷻ د حکمت په غوښتنه څه تفاضل شته چې هغه باید د اختلاف سبب ونه ګرځول شي، خو افسوس چې خلکو همدغه تفاضل د اختلاف منشا جوړ کړ او د اصلي هدف څخه یې سترګې پټې کړې، چې په نتیجه کښې دوه ډلې تشکیل شوې، چې یوه ډله مؤمنان او بله ډله کافران دي او په مؤمنه ډله باندې جهاد د همدې کبله فرض شو چې منحرف خلک اصلي مطلب ته راتاو کړي.

البته چې په جهاد کښې مالي مصارفو ته هم ضرورت شته نو ځکه الله ﷻ د مالونو انفاق ته هم ترغیب نازل کړ.

۲ـ امکان لري چې دغه ایتونه د نبي کریم ﷺ دپاره د تسلیت په سبب نازل شوي وي چې: ای پیغمبره! ته خپه کېږه مه، دنیا په همدې بنېره باندې ودانه ده چې انسان با اختیاره او باعقله حیوان دی که هرڅومره دلایل وړاندې کړې هم داسې خلک به پکښې موجود وي چې هغوی د جهاد څخه په غیر نه اصلاح کېږي، که بالفرض اختلافات بالکل ورک شي او د انسان څخه د فساد استعداد واخستلی شي نو بیا به انسان انسان نه وي بلکې پرښتې به ترې جوړې شي.

۳ـ په تېرو شوو ایتونو کښې د مال د انفاق په باره کښې ترغیبي احکام وه چې الله ﷻ چندونه چندونه عوضونه ورکوي، او په دې مقام کښې ترهیبي احکام دي چې د انفاق وخت روان دی تېرېدونکی دی، یو وخت به راشي چې د مالدار به هیڅ شی په لاس کښې نه وي چې یا پرې تجارت وکړي او یا بله معامله.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! بې شکه ته په هغه ډله کښې چې د فساد د مخنیوي دپاره پیدا کړی شوي دي غوره او بهتر یې، یهودو او نصاراوو بلکې ټولو خلکو ته په کار دي چې ډېر په جلتۍ سره په تاباندې ایمان راوړي ترڅو د خیر الأُمم افتخار یې په نصیب شي.

دغه ټول پیغمبران علیهم السلام د الله ﷻ د پلوه صرف د یو مطلب دپاره استولي شوي دي چې هغه د فساد مخه نیول دي.

۲ـ هو! دوی ټول زمونږ په نزد یو برابر نه دي لکه څنګه چې عوام خلک ټول یو برابر نه دي، مونږ ډېر ښه پوهېږو چې فلانی څومره مستحق دی او فلانی څومره، د همدې کبله مو د شمویل علیه السلام په زمانه کښې د طالوت فضیلت خلکو ته ورڅرګند کړ.

۳ـ لنډه دا چې ځینې پیغمبران علیهم السلام مو په ځینو نورو باندې د رسالت څخه په غیر ـ چې ټول پکښې یو برابر دي ـ بهتر ګرځولي دي چې د ځینو سره الله ﷻ خبرې کړې دي او د مناجات افتخار یې وربښلی دی لکه موسی علیه السلام، او ځینو نورو لره یې زښتې ډېرې درجې پورته کړي دي چې هغو درجو ته بل څوک نه شي ورختلی او نه د هغو درجو بل پیغمبر تمه کولی شي لکه محمد ﷺ یعنې تاسو.

۴_ او عیسی ﷺ ته مو ځه امتیازي معجزې ورکړي دي حتی چې د بي بي مریمې رضي الله عنها د ګېډې څخه مو په معجزانه توګه تولد کړ، او هم مو نوموړي ته په روح القدس (جبرائیل ﷺ) سره تائید ورکړی وه. همدارنګه مو ځینې نور پیغمبران په ځینو نورو افتخاراتو سره سرلوړي کړي وه، لکه چې د طالوت په قیصه کښې د داوُد ﷺ او د سلیمان ﷺ ځینو امتیازاتو ته اشاره شوې ده چې پاچاني، نبوت او لوی علم مو وربښلی وه.

۵_ په هر تقدیر د پیغمبرانو علیهم السلام امتیازات د دې دپاره نه دي چې خلک پکښې په فرق باندې قائل شي چې ځینې مني او ځینې نه مني، لکه نصارا چې یوازې عیسی ﷺ مني، او یهود چې یوازې موسی ﷺ مني.

مګر خلکو هغه امتیازات چې دوی پورې یې هیڅ اړه نه درلوده او صرف عند الله امتیازات وه د خپلو اختلافاتو دپاره اسباب جوړ کړه، چې څوک په یو پیغمبر باندې کلک شوه او څوک په بل باندې، په داسې حال کښې چې د ټولو پیغمبرانو پیغمبري په واضحه دلایلو باندې ثابتې شوې وې چې باید د هیچا پکښې اشتباه نه وی پاتې شوې او ټولو په اتفاقي توګه ټول پیغمبران منلي وی.

۶_ که الله ﷻ اراده کړې وی چې د دغو اختلافونو بېخ وباسي نو د اختلافونو مخه به یې نیولې وی چې یا به یې د انسانانو څخه ازادي اخستې وی او یا به یې د پیغمبرانو په منځو کښې د فضائلو تفاوت د منځه وړی وی، خو دغه کار الله ﷻ ونه کړ ځکه چې د دوی اختلافونه په ضد او عناد باندې بنا دي، او د پیغمبرانو علیهم السلام فضائل یې ورته محض پلمې او بهانې جوړې کړې دي.

که بالفرض الله ﷻ د پیغمبرانو علیهم السلام په منځو کښې دغه کار نه وی کړی هم لجوجو خلکو به د اختلافاتو او جګړو څخه لاس نه وی اخستی او همدغسې به پکښې اخته وی لکه چې اوس پکښې اخته دي. او دا ځکه چې الله ﷻ په هره زمانه کښې د مطلب د وضاحت دپاره پوره معجزات او دلایل نازل کړي وه چې په هدف کښې هیڅ خفا پاتې نه وه. خو دوی دغو دلایلو ته شا کړه او په اختلاف کښې ورګډ شوه.

۷_ نو الله ﷻ د دوی په اختلافاتو باندې مقرره نتائج مرتب کړه چې ځینو د دلایلو په رڼا کښې په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان راوړ او ځینې نور ورباندې کافر شوه او داسې هیڅ پیغمبر پاتې نه شو چې د اُمت ټولو افرادو بالاتفاق منلی وي.

۸_ بیا هم په یاد ولرئ چې د دوی اختلافات د الله ﷻ د ارادې څخه وتلي نه دي، که د الله ﷻ اراده شوې وی چې د اختلافاتو لمن یې ټوله کړې وی نو هیڅ کله به هیڅ چرته جګړه او اختلاف نه وی واقع شوی مګر الله ﷻ همغه څه کوي چې اراده یې وشي، د ده هر یو کار د حکمت څخه ډک دی.

نو کله چې ثابته شوه چې اختلافات ضرور واقع کېدونکي دي او دا هم واضحه شوه چې په هر اختلاف کښې یوه ډله په حقه وي او بله په باطله، نو د باطلې ډلې په مقابل کښې د حق په پلویانو باندې جهاد فرض دی او جهاد لکه څنګه چې د سر ورکولو ته حاجت لري همدارنګه د مال انفاق هم پکښې ضرور دی.

۹ـ نو ای مؤمنانو! د هغو مالونو څخه چې مونږ درپېرزو کړي دي په همدې لاره کښې څه برخه مصرف کړئ، او د هغې ورځې دپاره تیاری ونیسئ چې په هغې کښې نه تجارت شته چې مالونه وګټئ او خپل مشکلات ورباندې حل کړئ او یا یې د خپلو جنایتونو دپاره فدیه کړئ، او نه هلته دوستي او نه شفاعت چې مشکل مو ورباندې حل شي.

دغه ډله چې په تاسو باندې ورسره جهاد فرض شوی دی او د واضحه دلایلو په مقابل کښې په کفر باندې کلک ولاړ دي او په ځمکه کښې فساد خوروي، همدوی ظالمان دي چې هم په خپلو ځانونو ظلم کوي او هم په نوره دنیا.

د قیامت په ورځ چې د دوی دپاره نه فدیه شته، نه دوستي او نه شفاعت، دا هم د دوی د جنایتونو نتیجه ده او د هغه لوی ظلم اثار دي چې دوی پکښې مبتلاء دي. نو په تاسو باندې لازمه ده چې د ظلم او تیرې مخه یې ونیسئ او جهاد ته یې ملاوې وتړئ.

توضیحات

۱ـ په یاد ولرئ چې ټول پیغمبران علیهم السلام په دې خبره کښې یو برابر دي چې د الله ﷻ د پلوه استولي شوي دي او هر یوه په مربوطه زمانه کښې خلکو ته د الله ﷻ احکام رسولي دي او هدایت یې ورته کړی دی.

سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په احادیثو کښې ثابته ده چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «لَا تُخَيِّرُوا بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ»[1] یعنې: تاسو د پیغمبرانو علیهم السلام ترمنځ یو په بل باندې بهتر مه ګرځوئ. نو باید چې د ایت او حدیث په ترمنځ تطبیق وکړی شي.

مونږ وایو چې: په حدیث شریف کښې د «لَا تُخَيِّرُوا» د کلمې څخه څرګندېږي چې په منعه کښې هغه غوره والی او فضیلت مراد دی چې ایت یا حدیث ورباندې ناطق نه وي او بې د شرعي دلیل څخه ورته ورکړی شي. هو! په کوم ځای کښې چې شریعت په تفضیل او غوره والي باندې نطق کړی وي لکه په تېر شوي ایت شریف کښې، نو بیا ورباندې خوله بنوورول د احادیثو سره څه ټکان نه لري؛ نو مطلب دا شو چې بې دلیله دغه کار مه کوئ.

ب: امکان لري چې د حدیث شریف مطلب د جدال او جګړې د منځه وړل وي. یعنې: په دغه باره کښې جنګ او جګړه مه کوئ او وخت ورباندې مه مصرف کوئ، زیات کوښښ په اتباع او پیروی کښې وکړئ چې د قیامت په ورځ به درڅخه د همدې پوښتنه کېږي.

ج: د ټولو څخه احسن جواب هغه دی چې خپله د ایت شریف څخه څرګندېږي، هغه دا چې ټول پیغمبران علیهم السلام په نبوت کښې سره یو برابر دي لکه د ﴿وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ [البقرة: ۲۵۲]

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۲۵

څخه چې معلومېږي، که څوک بې په نبوت کښې په فرق باندې قائل شي چې ځينې ورته پيغمبران ښکاري او ځينې نه. نو هغه کافر دی.

اما د نبوت څخه علاوه ټول پيغمبران يو برابر نه دي لکه چې پخپله ايت شريف ورته په لاندې تفصيل سره اشاره کوي:

اول: د ځينو سره الله ﷻ په بلا کيفه د عزت او توقير په توګه خبرې کړې دي. لکه موسی ؑ.

دوهم: او د چا يې درجې زښتې ډېرې پورته کړې دي چې بې شماره معجزات يې ورکړي دي، د قيامت د ورځې پورې يې نبوت باقي ګرځولی دی، دائمي معجزات لري چې په هره زمانه کښې يې د رسالت اثبات کوي او تابعان يې په ټولو پيغمبرانو باندې زيات دي، ټوله ځمکه يې ورته جومات ګرځولې ده او بالآخره د کُبرى شفاعت يې په همدوی پورې خاص کړی دی.

دغه بعض د نبي کريم ﷺ څخه په غير په بل پيغمبر ﷺ باندې نه تطبيقېږي. د همدې کبله يې ورباندې صراحت ونه کړ ځکه چې هرڅوک پوهېږي چې د ده ﷺ څخه په غير بل څوک مراد نه دی.

درېيم: عيسی ؑ ته يې هم پوره خوارق ورکړي دي چې په دعا باندې يې مړي ژوندي کېده، د برګي مرض معالجه يې کولی شوه او هم به ورسره جبرائيل ؑ په امتيازي توګه اوسېدلو چې کوله او داسې نور.

لنډه دا چې ټول پيغمبر عليهم السلام د کمالاتو خاوندان دي خو د چا کمال ډېر پورته دی او د چا لږ، نو بايد چې د کمال د لږ پورته والي او ډېر پورته والي په اعتبار سره پکښې انسانان ونه وايي چې دا منم او دا نه منم.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د عيسی ؑ نوم دلته په صراحت سره ذکر شو او د نورو پيغمبرانو عليهم السلام محض فضائلو ته اشاره وشوه او بس؟

مونږ وايو چې: دا ځکه چې د عيسی ؑ په باره کښې يهودو تفريط کاوه حتی چې په توهين آميزه کلماتو باندې يې يادا‌وه او نصارا وو افراط کاوه حتی چې د الوهيت درجې ته يې رساوه. نو مطلب دا شو چې تاسو بايد نه د عيسی ؑ سپکاوی وکړئ چې د نبوت د درجې څخه يې وغورځوئ او نه يې دومره توقير وکړئ چې ابن الله ورته ووايئ: او دا ځکه چې: ﴿ مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٌ ﴾ [المائدة: ۷۵] يعني: مسيح ابن مريم بل څوک نه دی مګر لېږلی شوی دی (او بس).

د "بَيع" معنی

۴ـ په دې مقام کښې د ﴿بَيۡعٌ﴾ څخه فديه مطلب ده، او دا ځکه چې:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې د ﴿ لَّا بَيۡعٌ فِيهِ ﴾ تفسير يې په "لَا فِدْيَةَ فِيهِ" سره کړی دی[1].

---

(۱) زاد المسير ج۱ ص۲۶۴

ب: د قرآن کریم په څینو نورو ایتونو کښې همدغه مطلب په صراحت سره نازل شوی دی لکه د [آل عمران: ۹۱] ایت او د [المائدة: ۳۶] ایت. او د قرآن کریم څینې ایتونه د څینو نورو دپاره تفسیر واقع کیږي.

ج: برسېره په دې د قیامت په ورځ بیع او شراء (اخستل او خرڅول) نه د کافر دپاره شته او نه د مسلمان دپاره. نو معلومه شوه چې دلته د ﴿بَيْعٌ﴾ څخه هغه څه مطلب دي چې د مسلمان دپاره شته او د کافر دپاره نشته، چې هغه فدیه ورکول دي. او دا څکه چې د کفر سره حسنات ضائع کیږي، د کافر په لاس کښې څه نه پاتې کیږي چې د خپلو جنایتونو دپاره یې فدیه کړي اما مسلمان کولی شي چې د ډېرو عذابونو څخه خپل ځان د فدیې یعني حسناتو په بدل کښې خلاص کړي.

همدارنګه کولی شي چې د هغو مظالمو په بدل کښې خپل حسنات ورکړي چې په دنیا کښې یې په نورو باندې کړي وه، لکه چې همدا مسئله په احادیثو کښې ډېره ښه شرحه شوې ده.

هو! څرنګه چې په بَیع او فدیه دواړو کښې مبادله پرته ده نو څکه د فدیې څخه په بیع باندې تعبیر کولو صحت ترلاسه کړ.

د ایت شریف ارشاد

۵ـ د وړاندې ایت شریف څخه څرګندېږي چې هر شی (نېک وي او که بد، شر وي او که خیر) د الله ﷻ په اراده پورې تړلی دی چې د ده ﷻ د ارادې څخه په غیر هیڅ شی نه شي موجودېدلی، نو د پیغمبرانو علیهم السلام په تابعینو کښې اختلاف او جنګ او جدل هم ټول د الله ﷻ په اراده باندې څرخېږي او بس.

مګر په یاد ولرئ چې په نېکو او د خیر په کارونو لکه څنګه چې د الله ﷻ اراده شته همدارنګه یې خوښي او رضا هم شته خو په بدو او د شر په کارونو کښې یې یوازې اراده شته او خوښي او رضا یې نشته. لکه چې فرمایي: ﴿إِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۖ وَإِن تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ﴾ [الزمر: ۷] یعني: که تاسو کفر اختیار کړئ نو بې شکه الله ﷻ ستاسو څخه بې پروا دی او خپلو بندګانو ته کفر نه خوښوي (ورباندې نه راضي کېږي) او که تاسو شکر وکړئ (ایمان راوړئ) نو الله ﷻ یې درته خوښوي (ورباندې راضي کېږي).

سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: ذکر شوي مضمون ته په یوه ایت کښې دوه څله اشاره شوې ده، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په یو ځل باندې اکتفاء ونه کړی شوه؟

موږ وایو چې: څینو مفسرینو کرامو خو ذکر شوی تکرار په تاکید باندې حمل کړی دی څکه چې د تقدیر مسئله ډېره مهمه ده، نو تاکید ورسره مناسبت لري[1].

(۱) تفسیر المظهري ج۱ ص۳۵۵

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې ذکره شوه شرطيه جمله په هر يو خای کښې بېل بېل مطلب ته اشاره کوي چې:

په اوله جمله ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم ﴾ کښې د دې خبرې بيان دی چې هر څه د الله ﷻ په اراده پورې تړلي دي که څه هم هغه د بندګانو کړه وړه وي، داسې نه ده لکه چې معتزله يې وايي چې بنده د خپلو کړو وړو په خپله پيدا کوونکی دی.

په دوهمه جمله ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې هر څه د الله ﷻ په ارادې پورې تړلي دي خو سره د دې الله ﷻ د هر شي په کولو کښې فاعل مختار دی، نه مکره او مجبور دی او نه کوم يو کار په ايجاب او اضطرار سره کوي.

د همدې کبله وروستنۍ جمله په ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾ سره تعقيب شوه چې په اصل مطلب باندې پوره صراحت وکړي. يعنې: هر څه د الله ﷻ په واک او اختيار کښې دي که څه هم تاسو ورباندې نه پوهېږئ او حکمتونو ته مو فکر نه رسېږي.

کافران يعنې څوک؟

۷ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې په دې مقام کښې د ﴿ وَٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ څخه هغه مؤمنان مراد دي چې هغوی فرضي انفاق نه کوي او زکات نه ورکوي، دوی ته تغليظًا دغه لقب ورکړی شوی دی[1]، ناشکري يې داسې ګڼله شوې ده لکه چې کفر يې کړی وي.

د همدې قبيلې څخه هغه ايت هم دی چې د حج په باره کښې نازل شوی دی او د حج نه کول يې په کفر سره تعبير کړي دي، لکه چې فرمايي: ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [آل عمران: ۹۷] يعنې: او خاص الله ﷻ لره په خلکو باندې د بيت الله حج دی خو چې څوک هغه ته د لارې وسه لري، او څوک چې کفر وکړي (حج ونه کړي) نو بې شکه الله ﷻ د ټولو عالمونو څخه بې پروا دی.

د دوی بل دليل دا دی چې همدغه ايت شريف په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ﴾ سره پيل شوی دی او مخاطبه د مؤمنانو سره ده نو ښه دا ده چې آخر يې هم په مؤمنانو پورې تعلق ونيسي.

مګر بهتره دا ده چې د ﴿ وَٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ څخه عقيدوي کافران مراد شي، او دا ځکه چې:

الف: د دې ايت څخه په مخکښې ايت کښې د پيغمبرانو عليهم السلام تابعان په دوه ګروپونو باندې ويشلي شوي وه چې ځينې مؤمنان او ځينې کافران وه ﴿ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ ﴾، نو الله ﷻ مؤمنان مخاطب کړه چې تاسو د کافرانو په شان مه کېږئ، هغوی خپل مالونه په کفرياتو کښې مصرف کوي او د الله ﷻ غضب ورباندې خانو ته ګټي، تاسو يې بايد د الله ﷻ په عباداتو کښې مصرف کړئ او د هغه ﷻ رضا پرې وګټئ؛

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۵۴

برسېره په دې چې هغوی د کفر دپاره په سر او مال سره تاند وهي نو تاسو چې مؤمنان هم یاست ولې په خپل مال او سر سره جهاد نه کوئ.

ب: دغه کلمه ﴿ لَّا بَيْعٌ ﴾ د عقیدوي کافرانو سره ښه مناسبه ده ځکه چې د قیامت په ورځ کافران د خپلو جنایتونو دپاره څه حسنات نه لري چې فدیه یې کړي، اما مؤمنان کولی شي چې د خپلو خینو جنایتونو مخه په حسناتو سره ونیسي او د فدیې په ډول یې ورکړي.

دغه جمله ﴿ وَلَا خُلَّةٌ ﴾ د عقیدوي کافرانو سره ښه مناسبت لري ځکه چې د قیامت په ورځ خو د مؤمنانو دوستي لا پسې قوي کېږي او د کافرانو په شان په عداوت باندې نه بدلېږي، لکه چې فرمايي: ﴿ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ [الزخرف: ۶۷] یعنې: ټول دوستان به په دغې ورځ کښې یو تربله دښمنان وي، مګر متقیان چې په هغې ورځ به هم خواږه دوستان وي او دوستي به یې لا قوي شي.

د: همدارنګه د مؤمنانو دپاره په دغې ورځ کښې د الله ﷻ په اذن سره شفاعت هم شته خصوصاً د نبي کریم ﷺ کُبری شفاعت خو بالکل څرګند دی، نو دغه جمله ﴿ وَلَا شَفَٰعَةٌ ﴾ چې جنس شفاعت پکښې نفي شوی دی هم د عقیدوي کافرانو سره مناسبه ده.

ه: برسېره په دې، نظر د بلاغت د علم قواعدو ته په ﴿ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ کښې مسند إلیه په مسند پورې قصر شوی دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: کافران بل شی نه دي مګر ظالمان دي یعنې دوی په ظلم کښې کامل دي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ [لقمان: ۱۳] یعنې: بې شکه شرک (کفر) لوی ظلم دی.

ښکاره ده چې د زکات نه ورکوونکي هم ظالمان دي خو په ظلم کښې کامل نه دي ترڅو د دوی په باره کښې وویل شي چې دوی د ظالمانو څخه په غیر بل شی نه دي.

﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ ﴾

[۲۵۵] الله ﷻ چې دی د عبادت لایق نشته مګر همدی ﷻ دی، همېشه ژوندی دی (د ټولو امورو په تدبیر باندې) همېشه ولاړ دی. په ده ﷻ باندې نه پرکالي راځي او نه خوب. خاص همده ﷻ لره دي هغه څه چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه چې په ځمکو کښې دي.

څوک دی هغه کس چې د ده ﷻ په نزد کښې شفاعت وکړی شي مګر د ده ﷻ په اجازې سره.

(الله ﷻ) به هغه څه باندې پوهېږي چې د دوی وړاندې دي او په هغه څه باندې هم چې د دوی وروسته دي او دوی د الله ﷻ د معلوماتو څخه په یو شي باندې هم احاطه نه شي کولی مګر په هغه شي چې د ده ﷻ اراده وي

د الله ﷻ کرسي اسمانونه او ځمکې ځایوي. او د دغو دوارو ساتنه (حفاظت) هغه ﷻ نه ستوماته کوي (دا ورته مشکل نه دي) او همدي ﷻ د زښت ډېر پورته والي او زښت ډېر عظمت څښتن دی.

ارتباط

په تېرو شوو ایتونو کښې دا مضمون پروت وه چې ټول پیغمبران ﷺ د مقاصدو د ورکولو مطلب تعقیبوي خو خلک غلط فهمي کوي او د دوی فضائل د اختلافاتو موجبات جوړوي

په دې ایت کښې د دغو غلط فهمیو اصلي سبب ښودلی شوی دی چې که انسانان الله ﷻ وپېژني نو ټول اختلافات به د منځه ورک کړي او متحداً به د الله ﷻ بندګي اختیار کړي او دا څرګنده چې د اختلافاتو اصلي منشې دا دي چې ځینې خلک د الله ﷻ د علم په کمال باندې قائل نه دي او یا ورسره په کښې بندګان شریک ګڼي

همداړنګه ځینې خلک د الله ﷻ قدرت کامل نه ګڼي او یا ورسره بندګان شریکوي او ځینې لا دې ته په تمه وي چې لحاظ داره بندګان شته او هرومرو به مو په الله ﷻ باندې وبښي که هرڅه جنایات او کفریات وکړو هم هغوی کولی شي چې زموږ په باره کښې سپارښتنه وکړي

بالآخره ځینې خلک په الله ﷻ باندې نور توهمات کوي او لکه څنګه چې واقعیت دی هغسې یې نه پېژني نو الله ﷻ "آیة الکرسي" نازله کړه او څپل ځان یې کما حقه خلکو ته وروپېژاند. که د دې څخه وروسته هم څوک اختلافاتو ته ملا تړي او د جګړو اور تازه کوي نو دا به د عناد څخه په غیر بل شی نه وي

د مطلب خلاصه

یعني: ای بندګانو! تاسو الله ﷻ په حقیقي معناوو کښې وپېژنئ چې د جګړو او دعوو دنګلو څخه خلاص شئ:

۱ـ الله ﷻ د هغه پاک ذات نوم دی چې د هغه ﷻ څخه غیر په حقه بل هیڅ معبود نشته ټول معبودیت همده ﷻ پورې مختص دی، نو تاسو صرف د همده ﷻ عبادت وکړئ او د ده ﷻ د مخلوق عبادت مه کوئ:

ولې به د ده ﷻ لره عبادت خاص نه وي چې همدی ﷻ دائمي، ازلي او ابدي دی، همېشه ژوندی دی او همېشه به ژوندی وي، حیات (ژوند) یې ذاتي صفت دی چې هیڅکله ترې نه شي منفک کېدلی، د ده ﷻ څخه په غیر د نورو ټولو مخلوقاتو ژوند عارضي دی تر هغه به ژوندی وي چې د الله ﷻ ورته د ژوند اراده شوې وي کله چې ترې د ژوند اراده سلبه کړي، په همغې ثانیه کښې به نشت کېږي

۲ـ ولې به همدی ﷻ په حقه معبود نه وي چې د ټولو مخلوقاتو څارنه او حفاظت کوي، احتیاجات یې پوره کوي، ژوند ته یې ادامه ورکوي او په هیڅ وخت کښې هیڅ شی د ده ﷻ د ساتنې څخه نه شي بې پروا کېدلی.

۳ـ د ده ﷻ ساتنه او څارنه به ولې دوامداره نه وي چې په ده ﷻ باندې پرېشاني (پرمانیی) نه راځي چې ادنی بې خبري د ډېر لږ وخت دپاره ورسره ملګرې ده پاتې خو لا خوب شو چې بې خبرې او غفلت پکښې څه وخت نیسي او لږ څه دروند وي.

او دا ځکه چې د اسمانونو او ځمکو بلکې د ټولو مخلوقاتو یوازېنی حقیقي او دائمي مالک همدی ﷻ دی او همدی ﷻ پکښې تصرفات کوي او بس.

۴ـ د نورو ټولو مخلوقاتو ملکیتونه عارضي دي او تصرفات یې مجازي او ظاهري دي، د هر شي تکوین (ایجاد) همده ﷻ پورې اختصاص لري هیڅا ته یې په تکوینانو کښې برخه نه ده ورکړې که څه هم هغه پیغمبر وي او یا پرښته او یا بل مخلوق.

۵ـ برسېره په دې، ټول مخلوقات په دې کښې یو برابر دي چې د الله ﷻ ممالیک او بندګان دي نو باید چې څوک په بنده باندې دا ګومان ونه کړي چې هغه د بندګۍ د درجې څخه پورته دی لکه چې په عیسی ﷺ باندې خینو خلکو دا خیال کړی دی.

د الله ﷻ مالکیت تر دې اندازې پورې حقیقي او واقعي دی چې د ده ﷻ په دربار کښې هیڅوک بې اجازې په شفاعت باندې خوله نه شي ښورولی او نه جرئت کولی شي.

او دا ځکه چې د الله ﷻ څخه په غیر د نورو ټولو مخلوقاتو علوم ناقص او ناچیزه دي، دوی لا په هغه څه باندې نه پوهېږي چې هغه د دوی په حضور کښې دي، پاتې خو لا هغه چې د دوی څخه وړاندې یا وروسته واقع شي، نو د همدې کبله دوی ته هیڅ پته نه لګېږي چې فلانی د شفاعت کولو لیاقت لري او که نه.

یوازې الله ﷻ دی چې په هغو شیانو باندې هم پوهېږي چې د خلکو څخه وړاندې تېر شوي دي یا ورسره همزمان دي او یا یې مخې ته ورروان دي، او په هغو شیانو باندې هم پوره عالم دی چې د دوی څخه وروسته تېرېږي یا یې د مخې څخه په شنګ وي او یا ترې وروسته پاتې کېږي.

۶ـ هو! دوی (خلک) د الله ﷻ د علم څخه په هیڅ شي باندې احاطه نه شي کولی مګر په هغې اندازه چې پخپله د ده ﷻ ورته اراده وشي چې دوی ته یې ورزده کړي.

او ځنګه به څوک د الله ﷻ په مخلوقاتو د پوهېدلو توان ولري چې د الله ﷻ یو مخلوق چې کرسي نومېږي دومره لوی او پراخه دی چې ټول اسمانونه او ټولې ځمکې یې په داخل کښې پراته دي او د ټولو څخه یې احاطه کړې ده.

۷ـ برسېره د علم په پراخۍ باندې د الله ﷻ قدرت هم بې اندازې پراخه او لوی دی تردې چې اسمانونه او ځمکې یې په کرسي کښې ځای په ځای کړي دي او ثانیه په ثانیه یې د انحلال او تصادم څخه ساتنه کوي چې نه ستوري یو تربله ټکر ته پرېږدي او نه اسمان په ځمکه رالوېږي او نه

خمکه ښکته ښویږي. خو په الله ﷻ باندې دغه حفاظت او څارنه هم څه درونډوالی نه شي راوستلی بلکې دغسې کارونه الله ﷻ ته ډېر اسان دي. نو همدغه علیم او همدغه قدیر ذات د عبادت لایق دی او بس.

٨ـ د ټولو په آخر کښې په دې باندې هم پوه شئ چې الله ﷻ ستاسو د ادراک څخه ډېر پورته او متعالي دی. په دې ایت کښې چې ستاسو د لغاتو په قالبو کښې څه نازل شوي دي دا صرف ستاسو د پوه کولو دپاره دی. که نه نو الله ﷻ د دې خبرې څخه ډېر پورته او لوړ دی چې ستاسو خیالات او توهمات ورته ورسېږي او یا یې تاسو په خپلو لیدلو او کتلو باندې قیاس کړئ. نو تاسو ته په کار دي چې نه د الله ﷻ حیات خپل حیات باندې قیاس کړئ او نه یې کرسي ته د خپلې کرسۍ په نظر وګورئ. که بالفرض داسې وکړئ نو تاسو به الله ﷻ ته د حقارت په نظر کتلي وي، خو الله ﷻ د لوی عظمت خاوند دی.

توضیحات

١ـ د ﴿ ٱلْحَيُّ ﴾ کلمه د "حَيَاة" څخه اخستله شوې ده او "حَيَاة" په قرآن کریم کښې په لاندې شپږو معناوو باندې استعمال شوی دی[1]:

اول: هغه قوت ته حَيَاة ویل کېږي چې د هغه په ذریعه باندې د "حَيَاة" په خاوند کښې نشا او نمو (زرغونېدل او وده کول) تحقق مومي. لکه چې فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾ [الأنبياء: ٣٠] یعنې: او موږ د اوبو څخه هر یو ژوندی شی پیدا کړی دی. لکه حیوان او نبات.

دوهم: هغه قوت هم د حیات په نامه یادېږي چې په هغه سره په یو شي کښې حس او حرکت پیدا کېږي. لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَحْيَآءُ وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ﴾ [فاطر: ٢٢] یعنې: او نه ژوندي برابر دي او نه مړي (یو تربله).

درېیم: هغه قوت هم د حَيَاة په نوم بلل کېږي چې هغه د عقل او عمل مبدأ ګرځي لکه چې فرمايي: ﴿ أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ ﴾ [الأنعام: ١٢٢] یعنې: ایا هغه څوک چې مړ وي نو هغه ژوندی کړو چې د عقل په مقتضٰی عمل نه کوي او بیا دغه توفیق ورپېرزو کړو.

څلورم: "حَيَاة" د خوشالۍ او بې غمۍ په معنی هم استعمال شوی دی، لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴾ [آل عمران: ١٦٩] یعنې: او په هغو کسانو باندې چې د الله ﷻ په لار کښې وژل شوي وي د مړو ګومان مه کوئ بلکې دوی د خپل رب په نزد ژوندي دي. یعنې دوی خوشاله او بې غمه دي چې خاص ډول روزي ورکوله کېږي.

پنځم: د آخرت ابدي ژوند هم د "حَيَاة" په نامه یادېږي لکه چې فرمايي: ﴿ يَٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى ﴾ [الفجر: ٢٤] یعنې: ای کاش! چې خپل ژوند دپاره مې څه استولي وی (چې د شریعت په مطابق مې چال چلند کړی وی).

---

(١) مفردات الراغب ص ١٣٨

شېږم: د الله ﷻ د صفاتو څخه يو صفت "حَيَاة" دى چې د داسې ژوند په معنى سره اخستل کېږي چې په هغه باندې د مرګ د ورتللو امکان نه وي، يعنې ابدي او ازلي ژوند.
په دغه ايت شريف کښې همدغه شپږمه معنى مراده ده چې الله ﷻ پورې اختصاص لري او بس.

د "الْقَيُّوم" معنى

۲_ ﴿ ٱلْقَيُّومُ ﴾ په اصل کښې "قَيْوُوْم" _لکه: "فَيْعُوْل"_ وه. دا د مبالغې صيغه ده[١]. که څه هم اصلي معنى يې "ډېر ښه ودرېدونکى" دى خو کله چې د الله ﷻ په صفت کښې استعماله شي نو هغــې ځارونکى او ساتونکى ترې مرادېږي چې په حفاظت او ځارنه يې هيڅ زوال نه راځي او همېشه په هر شي باندې ولاړ وي او ضروريات يې ورپوره کوي[٢]، لکه چې فرمايي: ﴿ ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ [طه: ۵۰] يعنې الله ﷻ هغه ذات دى چې هر شي ته يې د هغه موجوديت ورکړى دى او بيا يې ورته لارښودانه هم کړې ده.

"سِنَةٌ" څه معنى؟

۳_ د ﴿ سِنَةٌ ﴾ کلمه د "وسن" څخه اخــستله شوې ده چې په اصل کښې "وِسْنٌ" وه لکه "عِدَةٌ" چې په اصل کښې "وِعْدٌ" وه. که څه هم د "سِنَةٌ" لغوي معنى غفلت او ناخبري ده خو په دې مقام کښې ترې هغه باريکه ســتوالى او ناخبري مطلب ده چې د خوب په ابتداء کښې په خوب کوونکي باندې غلبه کوي او د ځانه يې په غفلت کښې اچوي خو د "نوم" خوب مرتبې ته نه وي رسېدلى[٣].
ځينې مفسرين کرام وايي چې: "سِنَة" هغه دروندوالي ته وايي چې په سر کښې راپيدا کېږي، "نُعَاس" هغه ته وايي چې سترګې نيــسي او "نَوْم" هغه ته وايي چې په زړه باندې غلبه وکړي او انسان پکښې د هر څه څخه ناخبره شي[۴].

کرسي څه ته وايي؟

۴_ د "كُرْسِي" کلمه د نسبتي "ي" په ذريعه د "كُرْس" کلمې ته منسوبه شوې ده او "كُرْس" د يو شي د أجزاوو اجتماع او انضمام ته وايي، د همدې کبله کتابچې ته "كُرَّاسَة" وايي چې پاڼې يې سره يو ترېله منضمې شوې وي[۵].
خو په عام عرف کښې د چوکۍ او تخت په معنى استعمالېږي چې په هغه باندې يو ادارچي د

(١) زاد المسير ج١ ص٢٦٥
(٢) مفردات الراغب ص٤٣٢
(٣) روح المعاني ج٣ ص٨؛ مفردات الراغب ص٥٦١
(۴) تفسير المدارک ج١ ص١٧٨
(۵) لسان العرب ج۶ ص١٩۴

اداري دپاره کیښني(۱)، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ﴾ [ص: ۳۴] يعني: او مونږ د ده (سليمان ؑ) په تخت باندې د غوښې يوه ټوټه ورواچوله.

اما په دې مقام کښې د "كُرْسِي" په معنی کښې اختلاف دی، ځينې علماء کرام وايي چې دلته ترې علم مراد دی او ځينې نور وايي چې دلته ترې عَرش العظيم مراد دی(۲). مګر دغه دواړه تفسيرونه خلاف الظاهر دي بې ضرورته دغسې معنی اخستل ښه کار نه دی، برسيره په دې د علم بحث خو په همدې ايت کښې يو ځل په ﴿ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ کښې تېر شوی دی، نو که دلته هم علم مراد شي نو دا به تاکيد شي حال دا چې د تاکيد ځخه تاسيس بهتر دی چې نوې معنی مراده کړی شي.

نو که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د "كُرْسِي" په هکله څه زيات بيان ليکلی دی(۳)، خو مونږ په همدومره بيان باندې اکتفاء کوو چې دا د يوه داسې مخلوق نوم دی چې په ټولو اسمانو او ټولو ځمکو باندې يې احاطه کړې ده او د عرش العظيم ځخه کوچنی دی.

نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: د الله ﷻ معلوماتو ته به د چا علم ورسېږي حال دا چې د هغه ﷻ يو مخلوق (کُرسي) په اووه اسمانو او اووه ځمکو احاطه کړې ده او بيا دا ټول عرش العظيم ته داسې نسبت لري لکه يوه وړه کړۍ چې په يوه چولې بيابان کښې پرته وي.

سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: ايا د کرسي اضافت الله ﷻ ته داسې دی لکه چې يو پاچا ته خپله کرسي مضافه شي، او يا لکه په تېر شوي ايت شريف کښې چې سليمان ؑ ته د خپلې کرسي اضافت شوی دی؟

مونږ وايو چې:

الف: الله ﷻ ته د کرسي اضافت د تشريف او تعظيم دپاره دی لکه په بيت الله کښې چې ورنه د بيت اضافت شوی دی. يعنې کرسي دومره لوی عظيم الشان مخلوق دی چې بايد د الله ﷻ ځخه پرته يې بل چا ته نسبت ونه کړی شي(۴).

ب: لکه ځنګه چې د الله ﷻ وجود، علم، حيات او نور صفات د بندګانو د صفاتو سره محض په نوم کښې اشتراک لري او په حقائقو کښې يو تربله بالکل جدا او بېل دی همدارنګه د الله ﷻ کرسي هم د بندګانو د کرسي سره محض په نوم کښې شريکه ده او بس؛ نو الله ﷻ ته د کرسي اضافت هم بلا کيفه دی.

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۵
(۲) تفسير القاسمي ج۳ ص۳۲۰، زاد المسير ج۱ ص۲۶۵
(۳) تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۱۰، روح المعاني ج۳ ص۹
(۴) تفسير کبير ج۷ ص۱۲، حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۶۹

په مونږ همدومره عقیده واجبه ده چې د الله ﷻ کرسي حقه ده خو څنګه چې د هغه ﷻ د عظیم شان سره مناسبه وي. د دې څخه وړاندې بندګان حق نه لري چې داسې خبرې اترې پکښې وکړي چې هغه یې د بندګانو په کرسیو کښې لیدلي یا اورېدلي وي.

امکان لري چې د همدې کبله به الله ﷻ آیة الکرسي په ﴿ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴾ سره ختم کړې وي ترڅو د دغـــې قیاساتو او توهماتو مخه ونیوله شي.

ج: دا هم لرې نه ده چې په دې مقام کښې الله ﷻ ته د کرسي د اضافت څخه کنایةً د الله ﷻ د ملک پراخي مطلب وي[١]. نو په دې تقدیر د مفرداتو معناوې په نظر کښې هیڅ نه نیولی کېږي ترڅو سوال ته موقع ورکړی شي او بیا جواب ته حاجت پاتې شي.

ایا ایتونه یو په بل فضیلت لري؟

۵_ که څه هم ځینې علماء کرام په دې عقیده دي چې د قرآن کریم د ایتونو په منځکښې سره تفاضل نشته خکه چې ټول د الله ﷻ کلام دی، د الله ﷻ په کلام کښې په افضل او فاضل باندې قول کول ښه کار نه دی[٢]، مګر تحقیقي خبره دا ده چې نظر دې خبرې ته چې ټول د الله ﷻ کلام دی یو ایت په بل باندې فضیلت نه لري، ټول سره یو برابر دي لکه چې پیغمبران نظر نبوت ته ټول یو برابر دي او فرق نه لري.

هو! د تاثیر کثرت، د معناوو عمق، د بحث موضوع او نورو شیانو ته په نظر سره ایتونو کښې لوی-لوی فرقونه شته[٣]، چې په احادیثو کښې هم ثابت شوي دي.

د مثال په توګه: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَفِيهَا آيَةٌ هِيَ سَيِّدَةُ آيِ الْقُرْآنِ هِيَ آيَةُ الْكُرْسِيِّ»[٤] یعنې: په "البقرة" سورت کښې یو ایت دی چې د قرآن کریم د ایتونو رئیس دی چې هغه د آيَةُ الْكُرْسِي څخه عبارت دی.

لکه څنګه چې د قرآن کریم په ایتونو کښې د فضائلو په لحاظ فرقونه شته حال دا چې په قرآنیت کښې یو برابر دي، همدارنګه د پیغمبرانو ترمنځ هم فضائل فرق لري حال دا چې په نبوت کښې یو برابر دي. لکه چې په [البقرة: ۲۵۳] ایت کښې وړباندې صراحت نازل شوی دی.

د آیة الکرسي فضائل

۶_ لکه څنګه چې د قرآن کریم سورتونه خاص-خاص نومونه لري همدارنګه په ځینو ایتونو باندې هم خاص خاص نومونه اېښودل شوي دي. د همدې جملې څخه دغه ایت شریف دی چې اوس د بحث لاندې دی.

---

(١) في ظلال القرآن ج١ ص٢٩٠
(٢) تفسیر الخازن ج١ ص٣٩٥
(٣) روح المعاني ج٣ ص١١
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص١١٥

دې ایت ته څکه د "آیة الکرسي" نوم ټاکل شوی دی چې د "کرسي" په کلمه باندې مشتمل دی.

د دې ایت شریف په فضائلو کښې زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې ځینو مفسرینو کرامو راغونډ کړي دي[۱] هیله ده چې هلته مراجعه وکړی شي. مګر مونږ په همدې ارتباط په هغه حدیث باندې علاوه کوم چې په وړاندې توضیح کښې ذکر شوی دی یو بل حدیث هم ذکر کوو هغه دا چې:

یو خل یوه سړي د نبي کریم ﷺ څخه متعددې پوښتنې وکړې، یوه پکښې دا وه چې په قرآن کریم کښې کوم یو ایت ډېر لوی دی؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «آيَةُ الْكُرْسِيِّ»[۲] یعني د قرآن کریم عظیم الشان ایت همدغه ایت دی چې بحث پکښې روان دی.

۷_ امکان لري چې د نوموړي ایت شریف د سیادت او عظمت وجه به دا وي چې په دې کښې د الله ﷻ د صفاتو اصول بیان شوي دي، لکه: الوهیت، وحدانیت، حیاة، علم، مالکیت، قدرت، اراده او داسې نور. نو په دې ایت کښې د الله ﷻ دومره صفات بیان شوي دې چې څومره د یوه مسلمان د عقیدې دپاره ضرورت دی. او اکثره خلک چې کافران شوي دي غټه وجه یې دا ده چې د ذکر شوو صفاتو څخه په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د انکار مرتکب شوي دي، العیاذ بالله.

په ټول قرآن کریم کښې بل داسې ایت نشته چې الله ﷻ پکښې خپل جلالي او جمالي صفات په داسې جامعه توګه بیان کړي وي لکه په آیة الکرسي کښې یې چې بیان کړي دي، تر دې چې په نوموړي ایت کښې د الله ﷻ کلمه اتلس (۱۸) کرته ذکره ده، یو کرت د اسم ظاهر په توګه او نور اوولس (۱۷) کرته د ضمائرو په توګه چې ځینې ضمائر بارز دي او ځینې مستتر دي[۳].

﴿ لَآ إِكْرَاهَ فِي ٱلدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَيِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾ ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥٧﴾ ﴾

[۲۵۶] په (قبول د) دین کښې زور نشته (ځکه چې) یقیناً سم اعتقاد د باطل اعتقاد څخه ښکاره (جدا) شوی دی. نو څوک چې په طاغوت باندې کافر شي او په الله ﷻ باندې ایمان راوړي نو بې شکه هغه په قوي کړۍ باندې منګولې لګولې دي، چې دغې کړۍ لره پرې کېدل نشته (مطلب ته پرې رسېږي). او الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۰۴؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۶۹؛ الدر المنثور ج۳ ص۵
(۲) سنن الدرامي ج۲ ص۳۲۱
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۱

[۲۵۷] الله ﷻ د هغو کسانو دوست دی چې ایمان یې راوړی دی، چې د کفر د تیارو څخه یې د اسلام رڼا ته وروباسي (او یا یې نه پرېږدي چې په تیارو کښې ورداخل شي).
او هغه کسان چې کافر دي د هغوی دوستان طواغیت (سرکشان) دي، چې د ایمان د رڼا څخه یې د کفر تیارو ته ورداخلوي (او یا یې نه پرېږدي چې ایمان ته ورداخل شي). دوی د اور ملګري (اندیوالان) دي دوی به په دې اور کښې همېشه وي.

ارتباط

دغه ایتونه داسې ښکاري لکه چې د یو سوال جواب وي، هغه سوال چې د آيَةُ الْكُرْسِي څخه راپیدا کېږي چې حاصل یې داسې کېږي:
څرنګه چې الله ﷻ خپل خان په ډېره بلیغه ډ.ګه خپلو بندګانو ته وروپېژاند تر دې چې د هغو ټولو شبهاتو او اشتباهاتو مخه یې ونیوله شوه چې ځینو خلکو ته پېښېدل او یا پېښې شوې وې مګر سره د دغسې کافي، شا.ي بیان څخه وروسته هم معاندین د عناد څخه لاس نه اخلي، په داسې حال کښې چې د الله ﷻ د نازل کړی شوو ایتونو ردول هم نه شي وراندې کولی.
نو مسلمانانو ته په کار دي چې دغسې لجوج او عنادیان په زور او اکراه باندې مسلمانان کړي او په زور باندې پرې د توحید کلمه درسته کړي.
د جواب حاصل یې د ایتونو په خلاصه مطلب کښې لوستلی شئ:

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: د الله ﷻ شریعت د عقیدې په باره کښې جبر او اکراه په رسمیت نه پېژني نو باید چې تاسو هم په بندګانو باندې د زور څخه کار وانخلئ: الله ﷻ د حق او باطل دواړو په منځکښې په کافي پیمانه وضاحت کړی دی، په هیڅ باندې په دې باره کښې څه خفا نه راخي. نو څرنګه چې الله ﷻ انسان باعقله او باشعوره حیوان پیدا کړی دی نو تاسو ته هم په کار دي چې هغه (انسان) ته موقع ورکړئ چې د خپل اختیار څخه کار واخلي او عقل ته یې زندۍ وروانه چوئ.
۲ـ برسېره په دې، د عقیدې په باره کښې جبر او اکراه څه فائده هم نه کوي ځکه چې عقیده د زړه کار دی او د اکراه تاثیر د جوارحو څخه وراندې نه شي تېرېدلی ترڅو په زړونو باندې هم اثر وکړي.
۳ـ نو کله چې انسان د خپل عقل سره پرېښودل شي نو د لاندې دوه لارو څخه به ضرور یوه اختیاروي او په یوه نه یوه ډله کښې به شمېرل کېږي:
یا به د طاغوتانو او سرکشانو خبرو ته شا کوي او هغه به د پښو لاندې کوي او بالمقابل به په الله ﷻ باندې ایمان راوړي او شریعت ته به غاړه ږدي نو چا چې دا کار وکړ بې شکه چې هغه په کلکې او قوي کړۍ باندې منګولې ښخې کړې چې هغه نه په دنیا کښې انقطاع ومومي او نه په آخرت کښې، بلکې دا هغه کړۍ ده چې انتهاء یې جنت ته رسېدلې ده او همېشه ختمېږي، په دغې کړۍ باندې شبهات او اعتراضات څه تاثیر نه لري.

او که چا بالعکس په الله ﷻ باندې، کفر اختیار کړ او په طواغیتو باندې یې عقیده وکړه نو هغه به همدغسې معکوسه نتیجه وګوري. هغه د غنې د جال پورې خپل خان نښلولی دی چې په نن سبا کښې به قطعه شي او په هیڅ درد به یې دوا نه شي.

هو! د دغو دواړو ډلو په دروغ او رښتیا باندې یوازې الله ﷻ پوهیږي چې وېناګانې یې اوري او د زړونو حالت یې ورته معلوم دی، د قیامت په ورځ به ورسره موافق چال چلند وکړي.

۴ـ په یاد ولرئ چې الله ﷻ دا لطف په هر انسان باندې کړی دی چې عقل یې ورکړی دی، حواس یې ورښنلي دي، پیغمبران یې ورته را استولي دي او کتابونه یې ورباندې نازل کړي دي. مګر په مؤمن انسان باندې یې علاوه په ذکرو شوو الطافو دا لطف هم کوي چې د نېکو عقائدو او نېکو کارونو توفیق هم ورکوي چې د کفر د تیارو څخه یې د باندې ساتي او د شبهاتو او اشتباهاتو څخه یې رڼا ته راوباسي. او دا ځکه چې الله ﷻ د مؤمن دپاره نصرت کوونکی او دوستي کوونکی دی.

دا خو د الله ﷻ د دنیا دوستي ده، د آخرت دوستي یې ډېره لوړه ده چې په جنتونو کښې به یې خای په خای کړي او په دوامداره توګه به هلته یې غمه اوسیږي او د الله ﷻ په دیدار به خپلې سترګې خوږې کړي (الله ﷻ مو دې پکښې نصیب وکړي).

اما د کافرانو سره د الله ﷻ توفیق نشته ځکه چې د دوی ناصر او معین نه دی، د دوی دوستان طاغوتان او سرکشان دي چې بالعکس د کفر په تیارو کښې یې دننه ساتي او د عقائدو د لږ صفائي څخه یې د شبهاتو او اشتباهاتو تیارو ته ورداخلوي.

دا ده د طواغیتو د دنیا دوستي چې په څو ورځو کښې انتهاء ته رسیږي، اما په اخرت کښې خو د دوی دوستي په دښمنۍ بدلیږي او دوی ټول (تابعان او متبوعان) به په اور کښې همېشه وي.

توضیحات

۱ـ که څه هم د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول په ارتباط مفسرینو کرامو تقریباً څلور وضاحتونه لیکلي دي مګر مونږ یوازې د لاندې یوه وضاحت په ذکر باندې اکتفاء کوو:

د یوه صحابي ﷺ (چې په أبو الحصین سره مشهور وه) دوه زامنو نصرانیت قبول کړی وه، هغه غوښتل چې دواړه په زور سره مسلمانان کړي نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[1] او دا کار په ابلغه طریقه رد کړی شو، چې نهي یې د نفې په قالب کښې نازله کړی شوه[2]. لفظي معنی یې دا ده چې په دین کښې جنس اکراه نشته خو مطلب پکښې دا دی چې په دین کښې جنس اکراه مه کوئ.

سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ د همدې سورت په [۱۹۳] ایت کښې فرمایي چې: ﴿ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ ﴾ یعني: د دوی سره تر هغه مقاتله وکړئ چې ترڅو فتنه ورکه

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۵۲
(۲) تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۲۴

شي او دین د الله ﷻ شي. نو پوښتنه دا ده چې دغه ډول مقاتله خو عین د اکراه معنی ورکوي چې تر هغه د کافرانو سره وجنګېږو چې ترڅو یې د باطل دین څخه لاس په سر کړو؟

مونږ وایو چې: د نوموړي سوال دپاره مفسرینو کرامو لاندې مختلف جوابونه کړي دي:

الف. ځینې مفسرین کرام وایي چې دلته د فطري اکراه نفي مراده ده. یعنې د الله ﷻ په ایجادي قانون کښې دا نشته چې څوک په زور باندې مسلمان کړي بلکې د پیغمبرانو په ذریعه محض حق او باطل سره جدا کوي نور نو د مسلمانېدلو او نه مسلمانېدلو خبره د بنده کسب ته سپاري که څوک ایمان راوړي هغه ته توفیق ورکوي او څوک یې چې نه راوړي هغه ته تر یوه حده مهلت ورکوي[1].

که څه هم په ذکر شوي جواب سره ددوارو ایتونو تطبیق په لاس راځي او في نفسه دغه ډول مضمون هم صحت لري مګر د ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِ﴾ دپاره یې د تفسیر په توګه منل ډېر سخت دي، او دا ځکه چې د وړاندې او بېرته ایتونو لړۍ توله شرعي قانون په ګوته کوي، نه فطري قانون. نو که دغسې تفسیر وکړی شي نو داسې مثال به ولري لکه چې د ملغرو مزی وشکول شي او تولې ملغلرې دانه دانه شي.

ب: ځینې مفسرین کرام دا ایت شریف د اهل الکتابو پورې خاصوي او د دوارو ایتونو تطبیق کوي، چې په اهل الکتابو باندې زور نشته اما نور کافران باید جبراً مسلمانان کړی شي ځکه چې د دوی څخه جزیه اخستل جواز نه لري او د هغوی سره مقاتله په جزیه اخستلو باندې اختتام پیدا کوي[2].

مګر څرنګه چې د ایت شریف مفهوم عام دی او د تخصیص دپاره یې هیڅ قانوني لار نشته، نو محض د دوارو ایتونو د مشکل د حل دپاره تخصیص ورکول ښه نه برېښي.

ج: ځینې مفسرین کرام[3] دا ایت شریف د ځینو خاصو مواردو پورې خاصوي چې د نزول په روایتو کښې ذکر شوي دي او د هغو د جملې څخه مونږ مخکښې یو شان نزول لیکلی دی. مګر دغه تفسیر هم په قانون باندې برابر نه دی ځکه چې په شرعي نصوصو کښې قانون دا دی چې د مفهوم عموم ته اعتبار وي نه د مورد خصوص ته.

د: ځینې مفسرین کرام وایي چې دغه ایت شریف په هغه باندې منسوخ دی، یعنې په اولو وختونو کښې په اسلام کښې جبر نه وه خو په آخر کښې پکښې جائز کړی شو، دا ځکه چې هلته مسلمانان کمزوري وه جبر یې نه شو کولی خو کله چې قوي شوه نو په اسلام باندې مجبورول هم ورته جائز کړی شو[4].

دا ډول تفسیر هم د لاندې وجوهو د کبله د منلو وړ نه دی:

(۱) تفسیر تدبر القرآن پښتو ترجمه ج۱ ص۲۴۲

(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۱۷

(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۸۰

(۴) زاد المسیر ج۱ ص۲۶۷

اول. دواړه ایتونه مدني دي، دغه جواب به هلته صحت درلودی چې د ﴿ لَآ إِكْرَاهَ فِى ٱلدِّينِ ﴾ ایت مکي وی.

دوهم. د جبر د نفي کولو دپاره الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَىِّ ﴾ یعني: حق او باطل سره جدا شوي دي. که نوموړی تفسير مراد وی نو الله ﷻ به داسې استدلال کړی وی چې یقيناً تاسو کمزوري یاست.

د. ځینې مفسرین کرام لا وایي چې د ﴿ لَآ إِكْرَاهَ فِى ٱلدِّينِ ﴾ معنی دا ده چې کله يو کافر ایمان راوړي نو هغه ته پیغور مه ورکوئ چې ته په زور باندې مسلمان شوی يي[1]، لکه چې په بل ځای کښې فرمايي: ﴿ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ بَعْدَ ٱلْإِيمَـٰنِ ﴾ [الحجرات: ۱۱] یعني: د ایمان راوړلو ځخه وروسته فاسق نوم ډېر بد دی. یعني: کوم مجرم چې د خپل جرم ځخه توبه وباسي نو بیا ورته د جرم پیغور مه ورکوئ.

مونږ ته دا تفسير هم ډېر لرې او غیر متبادر ښکاري.

مونږ ته دا ښه ښکاري چې د ذکرو شوو دواړو ایتونو هیڅ تعارض نشته ترځو جواب ته حاجت پاتې شي، بلکې د [البقرة: ۱۹۳] ایت معنی دا ده چې د کافرو سره تر هغه وجنګېږئ چې زور یې مات او فتنه ورکه شي چې دوی د چا د مسلمانېدلو مخه ونه شي نیولی او د اسلام حاکمیت ومني که څه هم مسلمانان شوي نه وي، او دا ځکه چې د اسلامي حکومت مثل هم اسلام ته يو ډول غاړه اېښودل دي. یا په بل عبارت: د کفري حاکمیت مخه ونیسئ ترڅو خلک په سمه لاره او ناسمه لاره کښې فکر وکړي او يوه يکښې د خپل ځان دپاره انتخابه کړي. هسې نه چې خلک په زور باندې مسلمانان وګرځوئ.

په دې تقدير باندې هغه سوال هم دفعه کېږي چې ځینې دښمنان يې کوي چې په اسلامستان کښې کفري اقليتونه استوګنه نه شي کولی مجبور دي چې اسلام ومني نو اسلام جامع دين نه دی.

د دفعې حاصل يې دا دی چې په اسلامستان کښې کفري اقليتونه استوګنه کولی شي خو په دې شرط چې اسلامي حکومت ومني، په موجوده وخت کښې چې په دنيا کښې کټل کېږي همدا روحيه په ټوله دنيا کښې خوره ده چې په کفري دولتونو کښې اسلامي اقليتونه بغاوت نه کوي او په اسلامي دولتونو کفري اقليتونه بغاوت نه کوي او د عمومي قوانينو ځخه يې غاړې نه غړوي. اما د سياسي قوانينو ځخه پرته په نورو قوانينو کښې هر څوک ازاد دي.

د ټول بحث لنډ مطلب

۴_ د ټول بحث زېښېل شوې نتیجه دا ده چې په اسلام کښې جهاد د توسعه طلبی دپاره نه دی بلکې د لاندې اهدافو د پوره کولو دپاره کله فرض عين او کله فرض کفائي ګرځول شوی دی:

---

(۱) تفسیر کبیر ج۷ ص۱۶

الف: ترڅو داسې طاغوتي ځواک نه شي چې هغه د يو سړي د مسلمانېدلو مخه نيسي لکه چې همداسې کارونه د مکې طاغوتانو کول.

ب: ترڅو د کافرانو زور مات شي او د حيلو، دسيسو او فتنو مخه يې هم ونيوله شي چې مسلمانان بېرته کفر ته نه واړولی شي او نه ورته کفري دعوت ورانديې کړی شي، او ترڅو هغوی د دې مثل مصداق وګرځي چې: "شوله خودرا بخور و پرده، خودرا بکن" يعنې چې دوی فقط خپله شپه تېرول غنيمت وګڼي او بس هسې نه چې کفري دعوت ته ملا وتړي، لکه چې په افغانستان کښې کمونستانو همدا کار کاوه او حکومت يې مخه نه نيوله.

ج: ترڅو اسلامي حکومت قائم کړي. دا ځکه چې ضرور ذکر شوی اهداف تر هغه نه شي ترلاسه کېدلی ترڅو مسلمانان د مملکت واګې په خپل لاس کښې ونه نيسي.

د: ترڅو مسلمانان د اسلام دعوت په ازادانه توګه وکړی شي او د دعوت مخه په پوره معنی پرانستلې شي چې هيڅوک يې په مقابل کښې خنډ نه شي واقع کېدلی.

هـ: ترڅو کفري دولتونه ونه شي کړی چې په اسلامي دولت باندې تېری وکړي، او که تېری وکړي نو چې مسلمانان يې تېری دفعه او غاښونه يې ورمات کړي.

د مرتد مسئله

۵_ امکان لري چې په دې مقام کښې د چا په ذهن کښې وګرځي چې اسلام د مرتد په باره کښې حکم کوي چې بايد تر درې ورځو پورې فرصت ورکړی شي ترڅو د ارتداد څخه لاس واخلي او بېرته مسلمان شي که دا کار يې ونه کړ نو بايد ووژل شي. ايا دا حکم د "إِكْرَاه فِي الدِّين" معنی نه ورکوي؟

موږ وايو چې: د مرتد وژل د دې دپاره نه دي چې هغه په زور باندې بېرته مسلمان کړی شي ځکه چې مسلمانېدل او عقيده سمول د زړه کار دی چې زورورباندې تاثير نه شي اچولی، بلکې دا کار د هغې حيلې او دسيسې د مخنيوي دپاره صورت نيسي د کومې څخه چې په هره زمانه کښې اسلام دښمنه خلک کار اخلي. يوه بېلګه يې الله ﷻ بيانه کړې ده چې فرمايي: ﴿ وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ [آل عمران: ۷۲] يعنې: او د اهل الکتابو څخه يوه ډله وايي چې په هغه شي (قرآن) باندې چې په مؤمنانو باندې نازل شوی دی په سبا کښې ايمان راوړئ او د ورځې په آخر کښې پرې بېرته کافر شئ، شايد چې مؤمنان هم د اسلام څخه (ستاسو په پيروی باندې) بېرته رجوع وکړي.

نو په دې بناء د مرتد وژل د جهاد د اهدافو څخه په دوهم هدف کښې شاملېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه ارتداد يو جرم دی چې په شريعت کښې ورته وژل جزا ټاکلې شوې ده هسې نه چې اعدامول (وژل) يې د جبراً مسلمانولو دپاره دي. د همدې کبله نبي کريم ﷺ ارتداد د هغو جرائمو څخه يو جرم ګڼلی دی چې په هغه باندې د يو مسلمان اعدامول (وژل) جائز ګرځي لکه چې په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې: «لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ أَوْ

ارْتِدَادٍ بَعْدَ إِسْلَامٍ أَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ حَقٍّ فَقُتِلَ بِهِ»[۱] يعني: د مسلمان وينه (وژنه) روا نه ده مګر د دريو شيانو څخه په يوه باندې چې د احصان څخه وروسته يې زنا کړې وي، يا د اسلام څخه وروسته بېرته کافر شوی وي او يا يې په ناحقه سره بل څوک وژلی وي نو وريانديې ووژل شي.

د همدې قبيلې څخه ټول حدود ګڼل کېږي چې د "إِكْرَاه" معنی نه ورکوي بلکې د جرائمو د مخنيوي دپاره د اسلامي قوانينو په چوکاټ کښې د جرمونو جزاګانې ټاکل شوې دي او بس.

د "رُشد" او "غَي" معناوې

۶ـ که څه هم "رُشد" د هدايت په معنی باندې استعمالېږي مګر اصلي معنی يې سالم اعتقاد دی، او دا ځکه چې په مقابل کښې يې د "غَيّ" کلمه استعمال مومي او "غَيّ" خو د فاسد اعتقاد څخه عبارت دی[۲]. يعني هغه څوک چې خالي الذهن وي، نه فاسد اعتقاد لري او نه سالم، هغه ته "ضَال" يعني ګمراه وايي. خو چې څوک فاسد اعتقاد ولري هغه د "غَاوِيْ" په نامه يادېږي[۳].

څرنګه چې هر شی د هغه د ضد په پېژاندلو سره ښه پېژاندل کېږي نو معلومه شوه چې رُشد د سالمې عقيدې څخه عبارت دی.

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې کېږي چې: نن ورځ زور او اکراه ته حاجت نشته ځکه چې سالمه عقيده د فاسدې عقيدې څخه په ډېرې واضحې طريقې سره څرګنده شوې ده چې هرڅوک وريانديې پوهېږي.

هو! که چېرته د دغې څرګندونې مخه ونيوله شوه نو بيا تورې ته لاس کړئ.

طاغوت څه ته وايي؟

۷ـ د "طَاغُوت" کلمه "طَغٰى يَطْغٰى طُغْيَانًا" يا "طغى يطغو طغوانًا" څخه اخستله شوې ده چې په اصل کښې په اول تقدير "طَغَيُوت" وه، "غين" او "ي" يې سره قلب مکاني وکړه او بيا يې "ي" په "الف" باندې بدله کړه. او په دوهم تقدير "طغووت" وه، "غين" او "واو" په منځکښې يې سره قلب مکاني وکړه بيا "واو" په "الف" بدل کړی شو. په دواړو تقديرونو باندې ترې "طَاغُوت" جوړ شو! نو د قلب مکاني څخه مخکښې يې وزن "فَعَلُوت" وه او وروسته "فلعوت" شو[۴].

"طَاغُوت" يا د صفت (طَاغِي) د مبالغې دپاره دی او يا پکښې د مصدر (طُغْيَان يا طُغْوَان) مبالغه ده، په هر تقدير نوموړې کلمه د مفرد، مثنی، جمع، مذکر، مؤنث، د ټولو دپاره په يوه بڼه استعمالېږي څه تغير پکښې نه راځي. هو! کله-کله يې جمعې (طَوَاغِيت) هم استعمال موندلی دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۳۸
(۲) لسان العرب ج۳ ص۱۷۵
(۳) مفردات الراغب ص۳۸۰
(۴) روح المعاني ج۳ ص۱۳

که څه هم اصلي معنی یې د حد څخه تېري او تجاوز دی، لکه چې الله ﷻ د نوح ﷺ د قوم د غرق کوونکو اوبو په باره کښې فرمایي: ﴿ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلْمَآءُ حَمَلْنَٰكُمْ فِى ٱلْجَارِيَةِ ﴾ [الحاقة: ١١] یعني: مونږ په هغه وخت کښې چې اوبو طُغیان وکړ تاسو مو په بېړۍ کښې پورته کړئ.

خو د مبالغې په لحاظ سره یې معنی د حد څخه په ډېر زیات تجاوز سره کېږي. کافران تول طاغیان دي چې د بندګۍ د حد څخه یې تجاوز کړی دی خو هغه انسان چې نور ګمراه کوي او د حقې لارې څخه یې اړوي او په عقیده کښې یې د انحراف سبب ګرځي د طاغوت په نامه یادېږي، ځکه چې د هغه سرکشي متعدي سرکشي ده، برابره خبره ده چې هغه انسان، یا شیطان، یا کاهن، یا ساحر او یا بل څوک وي. همدارنګه هغه شی هم د طاغوت په نامه یادېږي چې د ډېر تجاوز سبب ګرځي که څه هم هغه پخپله په تجاوز باندې نه شي موصوف کېدلی، لکه: بوت، حب المال، حب الرئاسة او داسې نور.

نو مفسرینو کرامو چې د "طَاغُوت" کلمه د ذکر شوو معناوو څخه په ځینو ځینو سره تفسیره کړې ده[1] حصر یې مطلب نه دی بلکې د دغې کلمې بعض مصداقونه یې ښودلي دي او بس.

"نُور" او "ظُلُمَات"

٨ـ نور او ظلمت (رڼا او تیاره) سره یو تربله داسې مقابله لري لکه څنګه چې په وړاندېنۍ ایت کښې "رُشْد" او "غَيّ" مقابله درلوده. یوه د آخرت رڼا ده چې په دنیا کښې یې کیفیت مجهول دی بالمقابل د هغه خای ظلمت (تیاره) هم همداسې درواخلئ: او بله د دنیا رڼا ده چې په لاندې دوه ډولونو باندې وېشلې شوې ده[2]:

یوه هغه رڼا ده چې د سر په سترګو لیده کېږي لکه د لمر، سپوږمۍ او د نورو روښانه شیانو رڼاګانې. او بل هغه رڼا ده چې د زړه په سترګو (بصیرت) باندې لیدلې کېږي لکه د قرآن کریم رڼا، د عقل رڼا، د علم رڼا، د ایمان رڼا، د برهان (دلیل) رڼا او داسې نور. بالمقابل په دنیا کښې ظلمت (تیاره) هم همدغسې حسي او معنوي اقسام لري.

په دې مقام کښې د نُور څخه معنوي نُور مطلب دی چې په سترګو باندې نه لیده کېږي همدارنګه ظلمت هم معنوي ظلمت دی. او دا ځکه چې په دې مقام کښې د عقیدې بحث دی او عقیده معنوي شی دی چې د سر په سترګو نه لیده کېږي، چې نور یې د سموالي څخه عبارت دی او ظلمت یې د کوږوالي او انحراف څخه تعبیر دی.

سوال جواب

٩ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د نُور (مفرد) په مقابل کښې "ظُلُمَات" جمعه ذکره شوې، د تقابل په بنا خو باید چې یا دواړه کلمې مفردې وي او یا دواړه جمعې؟

---

(١) زاد المسیر ج١ ص٢٦٧؛ تفسیر الطبري ج٣ ص١٨؛ تفسیر البغوي ج١ ص٢٤٠.
(٢) مفردات الراغب ص٥٣٠

مونږ وایو چې: حق همېشه یو دی چې په "نُور" باندې ترې تعبیر شوی دی او باطل متعدد دي چې په "ظُلُمَات" سره ترې تعبیر کېږي. او دا څکه چې د نفس، شیطان، بوت او د بې شماره نورو طواغیتو ګمراه کول هر یو بېل بېل ظلمت او تیارې ګانې دي.

همدارنګه په دنیا کښې د حق دین څخه پرته نور ټول مختلف ادیان د ظلمتونو مجموعه ده. نو د حق سره افراد مناسب دی او د باطل سره جمعه مناسبت لري.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: اخراج (ویستل) د داخلېدلو څخه وروسته تحقق مومي نو په دې بنا دا سوال پیدا کېږي چې مؤمنان کله په ظلمت کښې وه چې الله ﷻ ورباندې د توفیق پېرزوینه وکړه او نُور ته یې راویستل، همدارنګه کافران څه وخت په نُور کښې وه چې د طواغیتو په سبب ظلمت ته ورداخل شوه؟

مونږ وایو چې:

الف: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوی ادخال او اخراج اهل الکتابو پورې خاص کړی دی[1]، چې د نبي کریم ﷺ د بعثت څخه مخکښې په عیسی ؑ باندې ځینو خلکو ایمان راوړی وه او د ایمان په رڼا کښې وه، همدارنګه یې د نبي کریم ﷺ آخر الزمان پیغمبر په راتلو هم عقیده درلوده خو کله چې نبي کریم ﷺ مبعوث شو د دغې ډلې څخه ځینې خلک د طغواغیتو په سبب د رڼا څخه تورې تیارې (کفر) ته ورووتل. همدارنګه ځینې خلک په همغه وخت کښې ورباندې کافر وه خو د مبعوثیت په وخت کښې د کفر د تیارو څخه د اسلام رڼا ته د الله ﷻ په فضل راوویستلي شوه او د ایمان راوړلو توفیق یې وموند.

مګر دا جواب په زړه پوری نه دی. او دا څکه چې د تخصیص دپاره هیڅ وجه نه لیده کېږي ترڅو ورباندې د سړي قناعت راشي.

ب: ځینې نور مفسرین کرام وایي چې په دې مقام کښې د اخراج څخه هغه اخراج مطلوب نه دی چې هغه د دخول غوښتونکی وي بلکې دلته د اخراج دا معنی ده چې الله ﷻ خپل دوستان مؤمنان د کفر د ظلمت او شبهاتو څخه ساتي او ورداخلېدلو ته یې نه پرېږدي، بالمقابل طواغیت د دې خبرې سبب ګرځي چې خپل دوستان (کافران) د اسلام نوراني کوټې ته ورداخل نه شي[2].

دا جواب که څه هم د اولنې جواب څخه لږ څه ښه دی چې په قرآن کښې داسې ځایونه شته چې د شي قریب لره د عین شي حکم ورکړی شوی دی، لکه چې الله ﷻ د یوسف ؑ د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ [یوسف: ۳۷] یعني: یقینًا ما د داسې قوم دین ترک

---

(۱) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۲؛ زاد المسیر ج۱ ص۲۶۸

(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۴۱

کړی دی چې هغوی په الله ﷻ باندې ایمان نه راوړي. که څه هم ترک غوښتنه کوي چې مخکښې دې باید پکښې داخل وي خو پیغمبران علیهم السلام د جمله ګناه او جمله کفریاتو څخه معصوم دي.

نو مطلب یې دا شو چې ما د کافر قوم د دین څخه خپل ځان ساتلی دی اګر چې زه د بې کسۍ او کوچنیتوب په حالت کښې د کافرانو په منځکښې واقع شوی وم، که بالفرض زما په عوض بل ماشوم په دغسې شرائطو کښې واقع شوی وی نو سالم به ترې نه وی وتلی.

مګر دا جواب هغو مؤمنانو ته نه شاملیږي چې په حقیقي توګه په یو وخت کښې کافر وه او د الله ﷻ په توفیق سره د اسلام رڼا ته راووتل، همدارنګه هغه کافران هم ترې خارج پاتې کیږي چې د اسلام څخه وروسته د طواغیتو په لمسون او سبب سره بیرته مرتد شوي دي.

ج. موږ ته دا ښه ښکاري چې په دې مقام کښې د اخراج څخه د مجاز د عموم په طریقه عامه معنی واخستلی شي، یعنې "ما یطلق علیه الإخراج" هغه حالت چې په هغه باندې د اخراج اطلاق کیږي. برابره خبره ده چې حقیقتاً اخراج وي. لکه د کافر مسلمانیدل او یا د مسلمان مرتد کیدل -العیاذ بالله- او یا مجازاً وي، لکه اخراج چې په معنی د ساتنې او حفاظت سره واخستل شي چې الله ﷻ خپلو دوستانو ته توفیق ورکوي او د کفر څخه یې ساتي او طواغیت د خپلو دوستانو دپاره په کفر کښې د پاتې کیدلو سبب ګرځي.

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥٨﴾ ﴾

[۲۵۸] ایا ته هغه کس ته نه ګوري (د زړه په سترګو) چې د ابراهیم علیه السلام سره یې د هغه د رب ﷻ په باره کښې (صرف) د دې کبله جګړه پیل کړه چې الله ﷻ ورته پاچاهي ورکړې وه.

څه وخت چې ابراهیم علیه السلام وویلې چې: زما رب هغه څوک دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي. هغه وویلې چې: زه هم ژوندي کول کوم او مړه کول کوم. ابراهیم علیه السلام وویلې چې: نو بې شکه الله ﷻ لمر د مشرق څخه راخېژوي نو ته یې د مغرب څخه راوخېژوه. نو هغه څوک چې کافر وه حیران (شرمنده) شو. او الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي (نو هدایت یې په برخه نه شو).

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱_ دغه ایت شریف د تېرو شوو ایتونو دپاره په لاندې څو نکاتو کښې توضیحات ورکوي:

الف: په طاغوت کښې دا ضرور نه ده چې هغه دې د روح خاوند وي لکه شیطان او بل سرکشه پاچا بلکې کله-کله ډېره دارایي او سلطه هم د طغیان سبب ګرځي او د سړي دپاره ترې طاغوت جوړیږي، لکه نمرود ته چې د پاچاهۍ څخه بلا جوړه شوه او بې لارې یې کړ.

ب: داسې هم کله کېږي چې يو سړی د نورو دپاره طاغوت وي چې په حيلو او پلمو سره يې د حقې لارې څخه را ايساروي خو د هغه دپاره بل شی طاغوت ګرځېدلی وي، لکه د نمرود دپاره چې د پاچاهۍ څخه طاغوت جوړ شو او نوموړی د نورو خلکو دپاره طاغوت وه.

ج: نه څه هم د ابراهيم ﷺ په استدلال سره د نمرود ژبه ونښتله، په خوله کښې يې لارې وچې شوې او حيران شو، نو په کار وه چې ايمان يې راوړی وی مګر الله ﷻ توفيق ورنه کړ ځکه چې الله ﷻ د کافرانو سره دوستي نه نري، بالمقابل يې ابراهيم ﷺ ته د څومره ښه قوي استدلال توفيق ورپه نردي چې نمرود يې په مقابل کښې هک پک پاتې شو.

د: هغه کړی چې کافران ورپورې نښلي ډېره ژر پرېکېدونکې ده، لکه د نمرود په لاس کښې چې پرې شوه، او هغه کړی چې مؤمنان ورپورې نښتي دي هغه ډېره قوي او دائمي ده، لکه چې د ابراهيم ﷺ د غلبې سبب شوه، د قيامت د ورځې پورې تواو مسلمانانو ته په حريفانو باندې د غلبې سبب ګرځي او پرېکېدل نه لري.

هـ: د طاغوتانو د اغواګرۍ يوه ښېلګه يې واضحه کړه چې څومره په کمزورو او ضعيفو پلمو سره په خلکو باندې سترګې پټوي او د حقې لارې څخه يې اړوي.

و: بالآخره، د ابراهيم ﷺ د مجادلې قيصه د ﴿ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّ ﴾ دپاره ډېر په زړه پورې مثال دی، په کار دي چې د همېشه دپاره يې د اسلام داعيان د دعوت سرمشق وګرځوي.

۲ـ يعنې: ای پيغمبره! د خپلې زمانې د فراعنه وو په مقابل کښې د حوصلې څخه کار واخله او د خپل نيکه ابراهيم ﷺ اتباع وکړه، چې د وخت د فرعون سره يې په څومره لوړه حوصله مقابله وکړه او په څومره قوي براهينو سره يې ملامته کړ خو هغه د خپل ضد او عناد څخه لاس وانخست او د نړۍ اومرې تار پورې يې خپل خان نښلولی وه.

د وخت فرعون د جګړو بل باعث نه وه فقط همدا باعث وه چې الله ﷻ ورته پاچاهي ورکړې وه چې نوموړی پرې مغرور شو او د پاچاهۍ څخه ورته طاغوت جوړ شو. په کار خو دا وه چې د الله ﷻ شکريه يې کړې وی خو د هغه شکر دا شو چې ناشکري ته يې ملا وتړله او پخپله يې د الوهيت دعوه وکړه، که الله ﷻ ورته پاچاهي نه وی ورکړې او يو غريب سړی وی نو الوهيت ته به يې لاس نه وی اچولی.

۳ـ قيصه داسې وه چې کله ابراهيم ﷺ نوموړی د الله ﷻ توحيد ته دعوت کړ نو هغه ورته وويلې ته مې چا ته دعوت کوې؟ هغه څوک دی چې ته ورته خپل رب وايې؟

نوموړي ځکه دا پوښتنه وکړه چې هغه د خپل خان څخه پرته په بل رب باندې عقيده نه درلوده او خپل خان ته يې د رب لقب ورکاوه.

۴ـ ابراهيم ﷺ ورته الله ﷻ په اختصاصي صفاتو (إحياء، إماتة) سره ورمعرفي کړ، چې زما رب ﷻ هغه څوک دی چې ژوندي کول او مړه کول کوي، او هغه څوک چې دغه کارونه نه شي کولی هغه ته رب نه شي ويل کېدلی نو بايد چې ته خپل خان ته د رب لقب کېښږدې.

۵ـ د وخت فرعون وویلې چې دغه کار خو زه هم کوم چې څینې ژوندي کوم او څینې مړه کوم نو ابراهیم ﷺ وویلې چې ټوله دنیا خو په یوه قدرت باندې اداره کېږي، څوک چې څمکه اداره کوي د اسمانو اداره هم د همغه په اختیار کښې ده. زما خبره څکه واقعیت لري او ستا خبره دروغ ده چې یقیناً زما رب (الله ﷻ) د مشرق څخه لمر راخېژوي چې ټولې دنیا ته حیات وربښې او نباتات وربانډې وده کوي نو ته دغه لمر د مغرب څخه راوخېژوه چې مونږ ستا د تصرف یوه نمونه وګورو، او که دا کار نه شې کولی نو معلومه شوه چې ژوند او مرګ ستا په لاس نه دي.

۶ـ نو هغه څوک چې کافر وه (د وخت فرعون)، هک پک او حیران شو. که څه هم د دې لویې ملامتی څخه وروسته په کار وه چې ایمان یې راوړی وی او د کفر څخه یې لاس اخستی وی خو څرنګه چې الله ﷻ د ظالمانو دوست او ولي نه دی نو د ایمان راوړلو توفیق یې ورنه کړ. همدارنګه الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي او د توبې توفیق نه ورکوي بلکې په عناد او تعصب بانډې ورته نتیجه مرتبوي او په زړونو یې مهر او ټاپه لګوي.

توضیحات

۱ـ که څه هم الله ﷻ د هغه چا نوم نه دی اخستی چې د ابراهیم ﷺ سره په مجادله کښې ناکام شو، د نامه په ښودانه کښې یې چندان فائده هم نشته خو مفسرینو کرامو یې نوم نمرود په ګوته کړی دی[۱]. نوموړی د وخت پاچا وه او د فرعون په شان یې د الوهیت دعوه کوله. د مجادلې موقعیت یې په عراق کښې د بابل ښار وه[۲]. والله ﷻ اعلم.

مفسرین کرام په دې کښې اختلاف لري چې دا واقعه د اور د قیصې څخه مخکښې وه او که وروسته[۳]. څینې وایي کله چې نمرود په دلایلو کښې ملامته شو نو خپله غصه یې په دې سره کړه چې ابراهیم ﷺ یې په اور کښې واچاوه خو په هغه کښې هم الله ﷻ ناکام او شرمنده کړ.

او څینې وایي چې د اور قیصې څخه وراندې خو ابراهیم ته د مباحثې موقع لاس ته نه ورتله، کله چې نمرود هلته ناکام شو نو د بحث موقع یې ورکړه او بالآخره دلته یې هم ښاغلی مات شوه.

مونږ ته داسې ښکاري چې دا واقعه که د اور د قیصې څخه وراندې وي او که وروسته خو دا قیصه اور ته د اچولو سبب نه ده، څکه چې د اور د اچولو سبب الله ﷻ پخپله په ډاګه کړی دی چې د بوتانو ماتول وه، لکه چې په [الأنبیاء:۵۱ـ۷۰] ایتونو کښې په مفصل ډول بیان شوی دی.

نمرود په څه شي باندې هلاک شو؟

۲ـ الله ﷻ دغه طاغوت په خپل یوه کمزوري مخلوق باندې هلاک کړ چې ماشی یې وربانډې مسلط کړ او د نوموړي لښکر یې تول وخوړ. او دا څکه چې ماشي دومره ډېر وه چې څمکه یې د

---

(۱) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۵

(۲) الدر المنثور ج۲ ص۲۵

(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۷۱؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۲۴۱؛ تفسیر تیسیر الرحمن ج۱ ص۹۱

لمر د رڼا څخه پټه کړې وه، بالآخره یو ماشی د نوموړي طاغوت په دماغ کښې ورداخل شو چې تر څلوېښت ورځو پورې ورسره په لوی عذاب باندې اخته وه، خپل سر به یې په خپله په څمکه واهه او یا به یې نژدې دوستانو په څمکه واهه ترڅو چې ذکر شوی ماشی سکون وکړي او د خوزښت اوحرکت څخه صرف نظر شي، څکه چې نوموړی د ماشي په حرکت باندې ډېر متضرر کېده.

بالآخره د څلوېښتو ورځو څخه وروسته هلاک شو[1]، چې نه یې خپل ځان د مرګ څخه خلاص کړ او نه یې په دماغ کښې ننوتلی ماشی مړ کړی شو، سره د دې چې د دغو دواړو کارونو (مرګ او ژوند) دعوه یې کوله.

څلور پاچایان

۳ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې په ټوله معموره ځمکه باندې څلورو کسانو پاچاهي کړې ده چې دوه یې مسلمانان وه او دوه یې کافران دوه مسلمانان یو ذو القرنین وه او بل سلیمان ﷺ وه. او کافران یو همدغه نمرود وه او بل بخت نصر[2] والله ﷻ اعلم بالصواب

د مفسرینو کرامو نظر

۴ـ ابراهیم ﷺ د هر څه څخه رومبی د نمرود په مقابل کښې په إحیاء او إماتة (ژوندي کولو، مړه کولو) باندې استدلال ونیوه. خو نمرود دعوه وکړه چې دا کار زه هم کولی شم نو زه هم رب یم او زما الوهیت هم باید ومنل شي، او د خلکو د إغفال دپاره یې دوه سړي ځان ته وغوښتل یو یې ووژه او بل یې ژوندي پرېښود[3].

نو ابراهیم ﷺ دا دلیل پرېښود او د لمر په راختلو باندې یې استدلال قائم کړ چې بالآخره نمرود حیران شو او خپله پړه یې د عوامو څخه پټه نه شوه کړی.

دا وه د ځینو مفسرینو کرامو نظر[4]. مګر ځینې نور مفسرین کرام وایي چې ابراهیم ﷺ د اول حجت څخه دوهم حجت ته انتقال نه دی کړی بلکې اولنی حجت یې په یو مثال کښې وړاندې کړ، خو نمرود وکولی شو چې په عوامو باندې سترګې پټې کړي او په خپله ملامتیا پرده واچوي.

نو ابراهیم ﷺ دوهم ځل همغه حجت په ډېر واضحه مثال کښې وړاندې کړ چې د وخت فرعون په خپله ملامتیا باندې پرده وانه چولی شوه. او د ټولو کتونکو په نظر کښې حقیر او سپک شو[5].

مګر مونږ ته وروستنی نظر نه کاري څکه چې په لومړني دلیل کښې په عوامو باندې د دې کبله خفا نه وه راغلي چې نمرود یو نفر مړ او بل یې خوشې کړ. که بالفرض داسې شوې وی نو حاجت

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۸۴

(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۵، زاد المسیر ج۱ ص۲۶۸، تفسیر البغوي ج۱ ص۲۴۱، تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۵۸

(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۷

(۴) تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۲۸

(۵) تفسیر کبیر ج۷ ص۴۶

نه وه چې ابراهیم ﷺ د الوهیت بل اختصاصي صفت بیان کړی وی او خبره د لمر خېژولو ته رسېدلې وی بلکې په دې تقدیر باندې خبره دېره لنډه فیصله کېده چې ابراهیم ﷺ ورته ویلي وو چې ژوندی سړی خو فقط همدومره شو چې مړ دې نه کړ ژوند خو پکښې تا نه دی اچولی او که رښتیا ته دا کار کولی شې نو دغه د خپل لاس وژل شوی سړی بېرته راژوندی کړه او حیات ورکړه. ښکاره ده چې د نمرود داړې به چینګې ختلې وی او د ﴿ فَبُهِتَ ٱلَّذِي كَفَرَ ﴾ سره به مخامخ شوی وی.

د همدې کبله مونږ ته د هغو مفسرینو کرامو روایت قوي ښکاري چې هغوی وايي: نمرود فقط لاپې شاپې وکړې چې اوس به دوه کسه راولم یو به قتل کړم او بل به خوشې کړم خلک به مې وګوري چې زه مړه کول او ژوندي کول کولی شم او که نه. اما دا کار یې په عمل کښې پیاده نه کړ او سړی یې ونه واژه[۱]، که بالفرض سړی یې وژلی وی نو په لوی لاس به یې خپل ځان ملامته کړی وی، بلکې په عوامو باندې به خکه خفا راغلې وه او سترګې به وربانډې پټې شوې وې چې نمرود یې د ځمکې رب ګاڼه او د ځمکې د إله په نامه باندې یې ورته سرونه ټیټ کړي وه.

کله چې نمرود دعوه وکړه چې ژوندي کول او مړه کول (إحیاء او إماتة) زه هم کولی شم نو عوامو ورسره دستي ومنله ځکه چې هغوی خو لا ورته مخکښې د رب لقب ورکړی وه.

نو ابراهیم ﷺ ورته د الوهیت اختصاصي صفت په اسمان کښې وړاندې کړ چې د اسمان د ربوبیت دعوه نه نمرود کړې وه او نه ورته خلکو دغه لقب ورکړی وه، نو ځکه هک پک ودرېده.

یادونه

۵ـ که څه هم په ځمکه کښې ځینو طاغوتانو د الوهیت دعوې کړې دي خو په اسماني کائناتو باندې هیچا دعوه نه ده کړې چې یا ما ودرولي دي او یا پکښې زه تصرف کوم. د همدې کبله فرعون د خپل ربوبیت استدلال په ځمکه کښې قائم کړی دی لکه چې الله ﷻ د فرعون د خولې څخه فرمايي: ﴿ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِي مِن تَحْتِيٓ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴾ [الزخرف: ۵۱] یعني: ایا د مصر پاچاهي زما نه ده او دغه ویالې چې زما څخه لاندې بهېږي، ایا نو تاسو نه ګورئ (تاسو خو ړانده نه یاست)؟.

یوه کمزورې توجیه

۶ـ اوس نو د هغو خلکو د توجیه کمزورې پوره څرګنده شوه چې هغوی وايي چې نمرود د تېښتې درک درلود خو الله ﷻ ورته هدایت ونه کړ ځکه چې ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ یعني: الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

که بالفرض د الله ﷻ اراده شوې وی چې نمرود دې خجالت نه شي نو ابراهیم ﷺ ته به یې جواب ورکړی وی چې لمر خو د مشرق څخه زه راخېژوم ستا رب دې د مغرب څخه راوخېژوي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۱۳؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۲۴

دا توجیه ښکه خامه ده چې د اسمانونو د ربوبیت دعوه نه نمرود کوله او نه ورته د عوامو دا عقیده وه؛ بلکې د نمرود د تولد څخه مخکښې هم لمر د مشرق څخه راخوت او په مغرب باندې لوېده.

نو د عدم هدایت معنی یې دا ده چې نمرود د حق پلټنه نه کوله او دا جګړه یې د ابراهیم ﷺ د تخجیل دپاره پیل کړې وه لکه چې د ﴿ حَآجَّ ﴾ د کلمې څخه د ورایه ښکاري نو الله ﷻ د ایمان توفیق ورنه کړ او کافر پاتې شو. که بالفرض نوموړی دغه مباحثه د حق د لاس ته راوړلو دپاره کړې وی نو الله ﷻ به د ایمان راوړلو توفیق هم ورکړی وی.

﴿ أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِا۟ئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِا۟ئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ ۖ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾ ﴾

[۲۵۹] او یا د هغه سړي امثالو ته (نه ګورې) چې هغه په یو ښار باندې تېرېده په داسې حال کښې چې د هغه ښار (دېوالونه) په خپلو چتونو باندې پرېوتلي وه. نو ده وویلې چې: څرنګه به الله ﷻ دغه ښار (د قیامت په ورځ) د هغه د مرګ څخه وروسته راژوندی کړي.

نو الله ﷻ هغه سړی سل کاله مړ کړ (سل کاله مړ پروت وه) بیا یې راپورته (ژوندی) کړ، ورته یې وویلې چې: (دلته) دې څومره وخت مکث (دمه) کړی دی؟

هغه وویلې چې یوه ورځ او یا د ورځې څه برخه.

الله ﷻ (ورته) وویلې چې: بلکې (دلته) دې سل کاله معطل کړی دی، (خو) خوراک او څښاک ته دې وګوره چې (په سل کاله کښې) نه دی تغییر شوی او خره ته دې وګوره (چې څنګه هډوکي هډوکي پروت دی)، او (دا کار مو د دې دپاره وکړ چې ستا عقیده سمه او یا ستا اطمنان حاصل شي او هم) د دې دپاره چې تا د خلکو دپاره (د خپل قدرت) نښه وګرځوو.

او (اوس نو د خره) هډوکو ته ګوره چې څنګه یې راپورته کوو او بیا ورته غوښه وراغوندو.

نو کله چې (دا کار وشو او) ده ته پوره څرګند شو نو ویې ویلې چې: زه پوهېږم چې یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

ارتباط

په وړاندېنې ایت کښې د ﴿ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَىِّ ﴾ دپاره تشریعي استدلالي مصداق بیان شوی وه. او په دغه ایت شریف کښې ورته تکویني مصداق بیان شوی دی چې عملا مړی راژوندی

شو او بیا د هغه د سترګو لاندې د مړه خره د هډوکو څخه ژوندی خر جوړ شو. او په نتیجه کښې نمرود طبیعته خلک په غوږ ووهل شوه چې د مړو ژوندي کول دغسې وي نه هغسې، لکه چې نمرود یې وچه کلکه دعوه کوله او عملا یې اقدام نه شو کولی. نو هغه څوک چې په دنیا کښې مړي راژوندي کولی شي د قیامت په ورځ هم ورته د مړو ژوندي کول څه ګران کار نه دی.

برسېره په دی، په دغه ایت شریف کښې د الله ﷻ د توفیق ورکولو مثال هم ښودلی شوی دی چې راژوندي شوي سړي ناره کړې چې: ﴿أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ﴾ یعني: زه پوهېږم چې الله ﷻ په هر څه باندې قدرت درلودونکی دی. او د نمرود په شان هک پک ونه درېد.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! ته خو پوه شوې چې د الله ﷻ توفیق د چا سره نه وي هغه سمه لاره نه شي موندلی، د همدې کبله نمرود په خپل کفر باندې قائم پاتې شو، سره د دې چې حق او باطل ورته ښه څرګند شو، او د چا سره چې د الله ﷻ توفیق ملګری وي هغه په دغسې موقع کښې په حق باندې منګولې ښخوي او د باطل څخه راګرځي.

۲ـ ایا ته د هغه سړي امثالو ته نه ګورې چې هغه په یوه وران ویجاړ ښار باندې تېرېده چې اوسېدونکي یې ټول مړه شوي وه او پخپله په ښار کښې هم ولاړ دېوال پاتې نه وه، بلکې اول یې چتونه لوېدلي وه او په چتونو باندې یې د پاسه دېوالونه هم ورچپه شوي وه.

نو نوموړي د ځانه سره وویلې چې دغه ښار به الله ﷻ په څه کیفیت باندې راژوندی کړي او د قیامت په روځ به یې په خپل حضور کښې د حساب کتاب دپاره ودروي.

ته ګوره چې الله ﷻ د هغه عقیده څنګه سمه کړه او د پوخ اعتقاد توفیق یې ورکړ او یا یې ورته څنګه اطمنان ورکړ، که د الله ﷻ توفیق یې لاس نیوی نه وی کړی نو د هغه به نه عقیده سمه شوې وی او نه به یې اطمنان حاصل شوی وی.

۳ـ د قناعت طریقه یې دا وه چې هغه الله ﷻ مړ کړ او سل کاله وروباندې تېر شوه چې خای په خای پروت وه سل کاله وروسته یې راپورته کړ او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې دلته دې څومره وخت تېر کړی دی؟ هغه وویلې چې دلته مې ډېر وخت نه دی شوی، یا به پوره یوه ورځ وي او یا به د ورځې څه برخه وي.

۴ـ نو الله ﷻ ورته وویلې چې دلته دې سل کاله تېر کړي دي نو ته که خپل خوراک او څښاک ته ګورې چې هیڅ نه دي تغیر شوي او خیال ته دې درځي چې ورځ نیمه به دې دلته مکث کړی وي نو خره ته دې هم وګوره چې هډوکي-هډوکي پروت دی او د ډېرې زمانې د تېرېدلو ښکاره او څرګندنښه ده.

هو! خوراک او څښاک دي که څه هم ډېر ژر تغیرېدونکی څیز دی خو د الله ﷻ د ساتنې په بناء په سلو کلونو کښې نه دي خراب شوي او خره ته چې د الله ﷻ د ساتنې اراده نه ده شوې ګوره چې څومره ټوټه-ټوټه شوی دی.

مونږ دا کار د دې دپاره وکړ چې تا د ټولو خلکو دپاره د خپل قدرت يوه نښه جوړه کړو، ستا په زمانه کښې خو به دې خلک وګوري او د قيامت ورځې پورې نورو خلکو ته به مونږ د خپلو پيغمبرانو په ذريعه خبر ورکړو.

د دې څخه وروسته اوس ستا د هغې خبرې جواب ته متوجه شه چې دا ښار به الله ﷻ څنګه ژوندی کړي، جواب يې دا دی چې:

۵_ مونږ به يې د قيامت په ورځ داسې راژوندي کړو لکه دغه هډوکي- هډوکي خر چې راژوندی کوو، نو ته ورته ګوره چې د خره هډوکي يو بل ته څنګه ورپورته کوو او څنګه يې يو په بل پورې نښلوو او څنګه ترې د خره د ټول بدن اسکلېټ جوړوو او بيا يې په غوښه کښې پټوو او خر ترې جوړوو، لکه څنګه يې چې پخوا هنګ واهه همغسې به هنګېږي.

۶_ نو کله چې دغه ټوله ماجرا د نوموړي سړي د نظر لاندې تېره شوه او هر څه يې په خپلو سترګو باندې وليده نو وېې ويلې چې: زه په علم اليقين سره پوهېږم چې الله ﷻ په هر څه باندې د قدرت څښتن دی، لکه څنګه يې چې زه د سلو کالو څخه وروسته راژوندی کړم او هم يې زما خر چې ټوټه-ټوټه پروت وه زما په وړاندې راژوندی کړ همدارنګه به د قيامت په ورځ ټول مړي راژوندي کړي او محاسبه به ورسره وکړي.

توضيحات

۱_ په قرآن کريم کښې اکثره د يوې قيصې هغو اجزاو ته اشاره کېږي چې د هغو په يادونه کښې څه ناڅه ګټه او فائده مرموزه وي. د همدې کبله په دې قيصه کښې لاندې پوښتنې نه دي جواب شوي:

دا قيصه د کومې زمانې ده؟ د هغه ښار يا کلي نوم څه شی دی چې دا قيصه پکښې واقع شوې وه؟ هغه سړی څه نومېده چې د سل کلن مرګ څخه وروسته بېرته راژوندی شو؟ بالآخره هغه سړي کافر وه او که څنګه؟

ځينو مفسرينو کرامو پرې داسې تيره اينبې ده لکه چې قرآن کريم پرې اينبې ده[1]، او ځينو پکښې لږ- ډېر توضيحات ورکړي دي چې په لاندې کرښو کښې يې څه لنډيز لوستلی شئ:

د قيصې زمان او مکان

۲_ د زمانې په باره کښې يې راته معلومات نشته خو د مکان په باره کښې ځينې مفسرين کرام وايي چې هغه قريه چې دغه قيصه پکښې واقع شوې وه هغه قريه وه چې د دې سورت په [۲۴۳] ايت کښې ورته اشاره شوې ده چې: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ﴾ الآية[2].

دوی وايي چې د ﴿وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ﴾ څخه د همدغو زرګونو خلکو هډوکي مراد دي، نه د

[1] في ظلال القرآن ج۱ ص۲۹۹

[2] تفسير البغوي ج۱ ص۲۴۳

خره هډوکي، بلکې خر هم روغ جوړ سالم پاتې وه لکه خوراک څښاک یې چې څه تغیر نه وه خوړلی[۱].

او ځینې نور مفسرین کرام وايي چې نوموړې قریه د بیت المقدس څخه عبارت ده چې بخت نصر البابلي خرابه کړې وه[۲].

مګر د مفسرینو کرامو اکثریت د هډوکو څخه د خره هډوکي مرادوي او وايي چې خر دانګې- دانګې شوی وه او د خوراک او څښاک په شان په خپل حال باندې باقي نه وه پاتې شوی[۳].

که د هډوکو څخه د زړګونو خلکو هډوکي مراد شي نو د ﴿ أَنَّىٰ يُحْيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ سره هم ښه مطابقت نه لري ځکه چې دلته خو د قیامت په ورځ د مړو راژوندي کول مطلب دي چې د سمې عقیدې او ایمان یوه مهمه برخه ده او په دنیا کښې د مړو راژوندي کول خو د اسلامي عقیدې جزء نه دی.

راژوندی کړی شوی سړی څوک وه؟

۳- ځینو مفسرینو کرامو یې نوم ارمیا، یا خضر، شعیا ښودلی دی. مګر په تفاسیرو کښې دا خبره مشهوره ده چې نوم یې عُزیر وه او په همدې باندې ډېر خلک معتقد دي[۴].

او ځینو نورو دا خبره حقه ګڼلې ده چې نوم یې ثابت او متحقق نه دی، کېدلی شي چې نوم عُزَیر وي او یا بل څوک وه[۵].

نو کله چې د نوموړي سړي د نامه خبره سپینه نه شوه نو دا هم معلومه نه ده چې هغه به مسلمان وه او که به کافر وه. د همدې کبله ځینو مفسرینو کرامو د دواړو جانبو دلایل بیان کړي دي، که څوک یې شوق لري نو هلته دې مراجعه وکړي[۶].

مګر مونږ دلته صرف هغه دلایل د مقارنت په توګه لیکو چې پخپله د قرآني کلماتو او جملو څخه د سړي ذهن ته ورځي:

الف: که سړی دې ته ګوري چې ﴿ أَنَّىٰ يُحْيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ د الله ﷻ نوم یې یاد کړی دی نو ذهن ته ورځي چې هغه به اقلا مسلمان وه.

خو که دې ته ګوري چې ټول کافران د الله ﷻ څخه منکر نه دي، لکه چې الله ﷻ د دوی څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ﴾ [الزمر: ۳۸] یعني: او که بالفرض د دوی (کافرانو) څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي دي نو ضرور به ووايي چې: الله ﷻ (پیدا کړي دي). نو په دې صورت کښې امکان لري چې نوموړی سړی

---

(۱) البحر المحیط ج۲ ص۲۹۳؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۸۹

(۲) زاد المسیر ج۱ ص۲۶۹

(۳) روح المعاني ج۳ ص۲۰

(۴) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۱۴؛ روح المعاني ج۳ ص۲۰

(۵) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۹

(۶) تفسیر کبیر ج۷ ص۳۰

به د معاد څخه منکر وه. د همدې کبله یې د مړو بېرته راژوندي کول بعید ګڼلي دي او د ځانه سره یې تړې په ﴿ أَنَّىٰ ﴾ سره تعبیر کړی دی چې الله ﷻ به دغه قریه د مرګ څخه وروسته څنګه راژوندی کړي. د ځینو مفسرینو کرامو همدا نظر دی[١].

ب: که دې ته ګورو چې د ﴿ أَنَّىٰ ﴾ کلمه خو په هر ځای کښې د عقیدې په خاموالي دلالت نه کوي ځکه چې دغه کلمه خو زکریا ﷺ هم استعماله کړې وه، لکه چې الله ﷻ د هغه د خولې څخه وايي: ﴿ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَـٰمٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ ٱلْكِبَرُ وَٱمْرَأَتِي عَاقِرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴾ [آل عمران: ۴۰] یعني: (زکریا ﷺ وویلې چې) ای ربه! څنګه به ما لره هلک وي حال دا چې ماته زوړوالی رسېدلی دی او ښځه مې شنډه ده. الله ﷻ (ورته) وویلې چې: همدارنګه الله ﷻ هغه څه کوي چې اراده یې وشي.

او د بي بي مریم رضي الله عنها د خولې څخه هم الله ﷻ حکایت کوي او فرمایي چې: ﴿ قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ [آل عمران: ۴۷] یعني: مریم وویلې چې اي ربه! څنګه به ما لره ماشوم وي حال داچې ماته بشر لاس قدرې هم نه دی راوړی؟! الله ﷻ وویلې: همدارنګه الله ﷻ هغه څه پیدا کوي چې اراده یې وشي.

نو لرې نه ده چې دغه کلمه ﴿ أَنَّىٰ ﴾ نوموړې سړي هم د خپل زړه د اطمنان دپاره ویلې وي، هسې نه چې په عقیده کښې یې نواقص موجود وه.

ج: خو چې دې ته ګورو چې د اطمنان حاصلولو دپاره پوښتنه خو د ابرهیم ﷺ په راتلونکې قیصه کښې ډېره ښه جواب شوې ده، که دا قیصه په اطمنان باندې حمل کړو نو هغه به د دې دپاره تاکید واقع شي، او که د عقیدې په نقصان یې حمل کړو نو هغه به تاسیس شي او د تاکید څخه خو تاسیس بهتر دی.

برسېره په دې، اطمنان خو صرف د الله ﷻ په بیان باندې هم حاصلېدلی شو، لکه د زکریا ﷺ او د بي بي مریمې ﷺ اطمنان چې محض د الله ﷻ په اخبار سره حاصل شو.

علاوه په دې، که دغه جواب نوموړې ته د اطمنان د ورکولو دپاره وي نو تاکیداتو ته به حاجت نه وی پاتې شوی. ځکه چې علم المعاني وايي چې د جواب تاکیدات د انکار په قوت باندې دلالت کوي. په دې مقام کښې تاکیدات دا دي چې تر سلو کالو پورې یې د دعوت دروازه بنده شوه او دا صرف د دې دپاره چې د نوموړې اطمنان حاصل شي.

د صرف اطمنان خبره خو په ډېر لږ وخت کښې پوره کېدلی شوه چې مړي یې ورته راژوندي کړي وی او د ده د سترګو لاندې یې دغه ټوله ماجرې په بل شي باندې تېره کړې وی، دې ته حاجت نه وه چې پخپله د همده په بدن باندې یې ټول سرګذشت تېر کړ، او په دې یې لا هم اطمنان حاصل نه شو

---

(١) المدارک ج١ ص١٨٢؛ تفسیر الکشاف ج١ ص٢٥٩

ترڅو چې د مړه خره هډوکې د ده په وړاندې راټول کړی شوه او د اسکلېټ د جوړولو څخه وروسته پکښې روح پو کړی شو او په هنګارې یې پیل وکړ.

په دې ټولو باندې د پاسه، بې اطمناني خو بې ایماني نه ده لکه چې په راتلونکې ایت شریف کښې الله ﷻ ورته اشاره کوي. نو د بې اطمناني ورک کول دومره نه ارزي چې ذکره شوې ټوله نقشه یې ورباندې تطبیق کړې وی. که بې اطمناني بې ایماني وي نو بیا به یې څه ارزښت درلودلی وی.

د: که دې ته ګورو چې الله ﷻ ورسره په ﴿ كَمْ لَبِثْتَ ﴾، ﴿ وَٱنظُرْ ﴾ او نورو کلماتو سره مخاطبه کړې وه، نو دې ته ترجیح ورکوو چې نوموړی مسلمان بلکې پیغمبر وه. لکه چې په تفاسیرو کښې هم مشهوره ده چې نوموړی عُزیر ﷺ وه او هم دا تفسیر ډېرو خلکو خوښ دی[۱].

خو که دې ته ګورو چې الله ﷻ کله-کله د خپل مخلوق فعل یا وینا خپل ځان ته نسبتوي لکه چې فرمايي: ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ﴾ [السجدة: ۱۱] یعنې: ورته ووایه چې هغه ملک الموت به مو روحونه قبض کړي چې په تاسو باندې مقرر کړی شوی دی. خو په بل ځای کښې یې همدغه فعل خپل ځان ﷻ ته نسبت کړی، لکه چې فرمايي: ﴿ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا ﴾ [الزمر: ۴۲] یعنې: الله ﷻ ارواګانې د مرګ په وخت کښې قبضوي. یا لکه چې فرمايي: ﴿ وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ ﴾ [الإسراء: ۱۰۴] یعنې: او مونږ د فرعون د مرګ څخه وروسته بني اسرائیلو ته وویلې چې په ځمکه کښې استوګنه وکړئ. ښکاره ده چې بني اسرائیلو ته خو ذکره شوې وینا د وخت پیغمبر ﷺ کړې وه، مګر الله ﷻ خپل ځان ته نسبته کړه چې مونږ ورته وویلې.

نو په دې مقام کښې هم لرې نه ده چې د وخت پیغمبر د ژوندي کړی شوي سړي سره مخاطبه کړې وی او یا الله ﷻ هملته د پوهولو بله کومه ذریعه پیدا کړې وي چې د غیبو ورباندې غږ شوی وي، یا ورباندې تېرو غږ کړی وي. ځکه چې هرڅه د الله ﷻ په امر سره خبرې کولی شي لکه چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې تېږو او حیواناتو خبرې کړې دي[۲].

په دې ټولو باندې د پاسه دا هم احتمال لري چې الله ﷻ نوموړي ته په زړه کښې ذکره شوې وینا وراچولې وي، خو څرنګه چې دغه کارونه ټول د الله ﷻ دي نو ځکه یې ترې داسې تعبیر کړی دی چې ته به وايي چې الله ﷻ ورسره مخاطبه کړې ده.

د دې جملې څخه د شاتو مچیو ته او د موسی ﷺ مور ته وحي هم ګڼلې کېږي لکه چې فرمايي: ﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ ﴾ [النحل: ۶۸] یعنې: او ستا رب ﷻ د شاتو مچیو ته وحې (اشاره) وکړه. او هم فرمايي: ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِ ﴾ [القصص: ۷] یعنې: او مونږ د موسی ﷺ مور ته وحې (الهام او اشاره) وکړه چې موسی ﷺ ته تی ورکړه کله چې ورباندې ووداره شوې نو په دریاب کښې یې ورواچوه.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۱۴؛ روح المعاني ج۳ ص۲۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۳

ه: که دې ته ګورو چې الله ﷻ د نوموړي سړي څخه ﴿ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ ﴾ په ایت سره تعبیر کړی دی چې د اکرام او اعزاز نښې او آثار پکښې د ورایه ښکاري نو وایو چې هغه به مسلمان وه. خو چې دې ته ګورو چې هر یو مخلوق د الله ﷻ د قدرت نښې او علامات دي اګر که هغه کافر وي هم. د همدې کبله الله ﷻ د فرعون څخه هم په "آية" سره تعبیر کړی دی لکه چې فرمایي: ﴿ فَٱلْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ ءَايَةً ﴾ [یونس:۹۲] یعني: نو نن ورځ دې بدن ته نجات ورکوو ترڅو د هغه چا دپاره چې ستا څخه وروسته دي (ای فرعونه!) د قدرت نښه جوړه شې.

نو الله ﷻ چې د نوموړي سړي څخه د خپل قدرت نښه جوړه کړه دا یې د اعزاز معنی نه ورکوي ترڅو سړي ته یقیناً مسلمان ښکاره شي بلکې که کافر وي هم د الله ﷻ د قدرت نښه ګرځېدلی شي.

تبصره

۴ـ څرنګه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق وړاندې ولیکل چې په تفاسیرو کښې مشهوره ده چې ذکر شوی شخص پیغمبر وه او عُزیر ﷺ نومېده نو مونږ صرف د همدوی سره د موافقت په لحاظ دې ته ترجیح ورکوو چې نوموړی مسلمان بلکې پیغمبر وه چې عُزَیر ﷺ نومېده او پوښتنه یې د ابراهیم ﷺ په شان د اطمنان دپاره کړې وه، نه د شک او تردد د کبله. که نه نو مونږ کوم حدیث مونده نه کړ چې اطمنان مو حاصل شوی وي.

سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: ﴿ أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ ﴾ خو په ﴿ ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ ﴾ باندې عطف دی او د عربیت قانون دی چې د معطوف علیه عامل په معطوف کښې مقدر وي چې تقدیر یې داسې کېږي: "أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ"، "أَوْ إِلَى كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ". نو د "إلى" کلمه په "كاف" باندې داخله شوه که څه هم په دې مقام کښې "كاف" د "مثل" په معنی سره دی، اسم دی حرف نه دی، مګر دغسې کار په عربي ژبه کښې نه دی اورېدلی شوی چې "إلى" حرف جر په "كاف" باندې داخل شي.

مونږ وایو چې:

الف: دلته د کاف کلمه زائده ده. نو تقدیر یې "أَوْ إِلَى الَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ" کېږي[1]، مګر دا جواب په زړه پورې نه دی ځکه چې د قرآن کریم په یوه کلمه باندې هم باید د ممکن حده پورې د زائدې حکم ونه کړی شي.

ب: ﴿ أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ ﴾ د مخکښې ایت په مضمون باندې عطف دی، نه په خپله نظم باندې. نو تقدیر یې داسې کېږي چې: "أَرَأَيْتَ مِثْلَ الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ"، "أَوْ مِثْلَ الَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ"[2].

(۱) تفسیر کبیر ج۷ ص۳۰؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۸۸
(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۸؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۱۴

په دې جواب کښې يو نقصان دا دی چې په معطوف عليه کښې يې بې ضرورته د "مثل" کلمه اضافه کړې ده. او بل نقصان يې دا دی چې متبادر نه دی (په چټکۍ سره د سړي ذهن ته نه ورځي).

ج: په عربي ژبه کښې کله-کله داسې پېښېږي چې يو ترکيب قصداً نه وي اوږدلی شوی خو همغه ترکيب بالتبع او په ضمني توګه ډېر استعمالېږي او د هر چا غوږ ته رسېدلی وي. په ﴿ وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ ﴾ [البقرة: ۳۵] کښې د "زَوْجُكَ" کلمه د "أَنتَ" په کلمه باندې عطفه ده او د "أَنتَ" عامل (اسْكُنْ) ورسره مقدر دی، چې تقدير يې داسې کېږي: "اسْكُنْ أَنْتَ وَاسْكُنْ زَوْجُكَ الْجَنَّةَ". مګر دغه ډول ترکيب په قصدي توګه بالکل د فصاحت سره مخالف دی، بلکې فصيح ترکيب داسې دی "اسْكُنْ أَنْتَ وَلتسكن زَوْجُكَ الْجَنَّةَ".

نو په دې مقام کښې هم مونږ وايو چې: د "إِلَى" کلمه خو په "كاف" باندې قصداً نه ده داخله شوې چې د فصاحت سره منافات ولري او څوک اعتراض وکړي، بلکې په ضمني توګه ورباندې داخله شوې ده او دا د فصاحت سره منافي نه ده.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په معطوف عليه کښې الله ﷻ د "كاف" کلمه ذکره نه کړه او "أَلَمْ تَرَ إِلَى كَالَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ" يې ونه ويلې او په معطوف کښې ذکره کړه، او وې ويلې چې: ﴿ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ ﴾؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ علمـ دا څکه چې:

اول: که هلته يې ذکره کړې وی نو د "إِلَى" کلمه به په "كاف" باندې قصداً داخله شوې وی چې دا مانوسة الاستعمال نه ده او فصاحت سره مخالفه ده.

دوهم: په اول ايت کښې د هغه چا بيان دی چې هغه د ربوبيت دعوه کوله او ښکاره ده چې دا ډول خلک لږ دي، او په دوهم ايت کښې د هغه چا بيان دی چې هغوی د معاد څخه منکر دي او يا د معاد په باره کښې د عقيدې اطمنان حاصلوي، او دا ډول خلک خو ډېر دي نو الله ﷻ يې ډېروالي ته په اسمي کاف سره اشاره وکړه.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای پيغمبره! او يا ته د هغه سړي امثالو ته نه ګورې چې د معاد څخه يې انکار کاوه چې الله ﷻ په څومره بليغه توګه ورته قناعت ورکړ.

طعام او شراب څه شی وه؟

۷ـ ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې طعام (خوراک) انځر او انګور وه او شراب (څښاک) يې د ميوجاتو زېښلې شوې اوبه او يا شوده وه[۱].

---

(۱) تفسير المدارک ج۱ ص۱۸۲

یو صرفي تحلیل

۸ـ خینې مفسرین وایي چې په ﴿ لَمْ يَتَسَنَّهْ ﴾ کښې د "هٔ" توری اصلي دی ځکه چې "سَنَةٌ" په اصل کښې "سَنَهَةٌ" دی چې اسمِ تصغیر یې "سُنَيْهَةٌ" راځي او په تصغیر کښې خو کلمات اصل ته اړول کیږي[۱].

خینې نور مفسرین کرام وایي چې د "هٔ" توری پکښې د سکتې دپاره دی چې محض د صوت (اواز) دپاره وروپورې نښلولی شوی دی لکه چې په "کتابیه" او "حسابیه" کښې همدغه د "هٔ" توری په نظر راځي[۲].

نو په دې تقدیر باندې پکښې دریم حرف په جزم سره ساقط شوی دی چې هغه د "وٌ" توری دی ځکه چې د "سنة" جمعه "سَنَوَات" راځي او په جمعه کښې هم کلمات خپل اصل ته رجوع کوي.

او خینې لا وایي چې دریم توری یې "نٌ" دی چې د "سَنَةٌ" اسم تصغیر "سُنَيْنَةٌ" هم اورېدلی شوی دی، نو په دې تقدیر به دریم نون په "يٌ" باندې بدل شوی وي، لکه چې په "تَقَضّيَ الْبَازِي" کښې چې "ضٌ" په "يٌ" بدل شوی دی چې په اصل کښې "تَقَضُّضَ الْبَازِي" وه خو بیا ذکره شوې مبدله "يٌ" په جزم سره ساقطه شوې ده[۳].

مګر په دې ټولو تقادیرو سره د ﴿ لَمْ يَتَسَنَّهْ ﴾ په معنی کښې څه تغیر نه راځي ځکه چې معنی یې داسې کیږي چې هر یو د طعام او شراب څخه کلونو نه وه خراب کړی، یعنې داسې تر او تازه وه تا به ویل چې لږ وخت هم ورباندې نه دی تېر شوی پاتې خو سل کلونه.

سوال جواب

۶ـ که څوک وایي: په ﴿ لَمْ يَتَسَنَّهْ ﴾ کښې مستتر ضمیر مفرد دی حال دا چې مرجع یې مثنی ده چې د "طعام" او "شراب" څخه عبارت ده.

مونږ وایو چې: دغه مطابقت په لاندې وجوهو سره راتلی شي:

الف: هر واحد ته راجع دی. یعنې هر یوه ته په انفرادي توګه راجع دی چې په عربیت کښې ترې په "کلُّ واحدٍ" سره تعبیر کیږي.

ب: "شَرَاب" ته راجع دی چې قریب دی، او بله جمله حذفه ده چې په هغې کښې ضمیر "طَعَام" ته راجع کیږي[۴].

ج: څرنګه چې طعام او شراب سره ډېره نږدې علاقه لري نو دواړه داسې ګڼل شوي دي لکه چې دواړه یو شی وي، مونږ ته همدا نظر غوره ښکاري.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۲۹

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۹۳

(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۷۴

(۴) تفسیر کبیر ج۷ ص۳۴

یادونه

۷_ په دې باره کښې (چې سل کلن مړی راژوندی شو او اوس هم په ایمان بالغیب باندې مکلف دی) د [البقرة: ۲۴۳] ایت لاندې بحث تېر شوی دی هیله ده هغه په دې مقام کښې هم یو ځل د نظره تېر کړی شي.

﴿ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ۝٢٦٠ ﴾

[۲۶۰] او هغه وخت (وریاد کړه) چې ابراهیم ﷺ وویلې چې: ای ربه! ماته راولید کړه چې ته مړي څنګه ژوندي کوې. هغه (رب یې) وویل چې: ایا ته (وربانديې) ایمان نه لرې؟ ده (ابراهیم ﷺ) وویلې چې: ولې نه (ایمان وربانديې لرم) خو د دې دپاره (مې غوښتنه وکړه) چې زړه مې ارام شي (او د څنګه- څنګه سلسله قطعه شي).

هغه (رب یې) وویلې چې: نو څلور مرغان ونیسه نو خپل خان ته یې مائل کړه (ځان ته یې ښه درنژدې کړه چې درځخه غلط نه شي)، بیا (هغه حلال کړه ټول میده- میده او خلط ملط کړه او) د هر یو غره په څوکه باندې د هر یوه د مرغه د غوښو څخه څه برخه کېږده، بیا یې نو (خپل خان ته) دروبله، دوی ټول به درشي په داسې حال کښې چې تلوار کوونکي به وي. او پوه شه چې یقیناً الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی.

ارتباط

الله ﷻ د مؤمنانو کارساز دی، لکه څنګه یې چې د عقاندو د کوږوالي څخه په امن کښې ساتي همدارنګه یې د عدم اطمنان څخه هم ژغوري. نو په دغه ایت شریف کښې یې د اطمنان د حاصلولو نمونه بیانه کړه لکه څنګه یې چې په مخکنیو ایتونو کښې د عقیدې د سمولو مثال بیان کړی وه.

د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای پیغمبره! خپل اُمت ته دې د ابراهیم ﷺ هغه وخت هم وریه زړه کړه چې هغه د خپل رب ﷻ څخه د بېرته راژوندي کولو په باره کښې په ډېره مؤدبانه طریقه سره سوال وکړ چې: ای ربه! ماته د مړو د بېرته راژوندي کولو کیفیت په سترګو راولید کړه.

نو الله ﷻ ورته وویلې چې: اې ابراهیمه! چې ته د ذکر شوي کیفیت د لیدنې غوښتنه کوې نو عقیده وربانديې نه لرې که څنګه؟

ابراهیم ﷺ وویلې چې: ای ربه! بې شکه ته خو زما په زړه باندې عالم یې چې په عقیده کښې مې د یوې ذرې په اندازه هم کمزوري نشته مګر دغه غوښتنه د دې دپاره کوم چې زړه مې مطمئن

شي، د فکري سرګرداني څخه فارغ شم، ستا د قدرت په کتنه باندې خوند او تلذذ واخلم، هغه څه چې د زړه په سترګو ګورم هغه د سر په سترګو هم وګورم، او بالآخره د دې دپاره درڅخه سوال کوم چې علم اليقين مې د حق اليقين درجې ته پورته شي.

۲ـ الله ﷻ ورته وویلې چې ښه نو څلور مرغان واخله خپل خان ته یې ښه درنژدې کړه چې ښه یې وپېژنې ترڅو درڅخه غلط نه شي، بیا یې ذبحه کړه او د څلورو واړو څخه کوفته جوړه کړه چې د ټولو وینې، غوښې، هډوکې، بڼکې، بلکې ټول اجزاء سره ګډ وډ شي، بیا د همدغې کوفته شوي مجموعې څخه څو غونډاري جوړه کړه او په هر یوه غره باندې چې ستا توان رسېږي یو یو غونډاري کېږده، او بیا د همدغو مرغانو په نوم غږ وکړه او هر یو خپل خان ته دروبله؛ نو د هر یوه جزونه به د هره طرفه سره وخغلي راوخغلي او د پخوا په شان څلور مرغان به ترې جوړ شي او ستا مخې ته به په منډه- منډه درشي.

۳ـ نو کله چې ابراهیم ﷺ ذکره شوې ټوله نقشه عملي کړه او مرغان ژوندي شوه نو الله ﷻ ورته وویلې چې ای ابراهیمه! په دې پوه شه چې بې شکه الله ﷻ غالب دی چې د ارادې مخه یې څوک نه شي نیولی، او د حکمت څښتن دی چې د مړو د ژوندي کولو یوه نمونه یې درته وښودله ترڅو د قیامت د ورځې پورې پرې مؤمنان د خپلو زړونو اطمنان حاصل کړي او پوه شي چې د مړو بېرته راژوندي کول د حکمت غوښتنه ده، ترڅو هر څوک د خپلو کړو وړو ثمره وګوري دا هم د الله ﷻ د حکمت ښه ده چې د مړو ژوندي کول په دنیا کښې هر چا ته نه ورلیده کوي ترڅو یې ایمان بالغیب، ایمان بالمشاهده ونه ګرځي او د ازمېښت مفهوم د منځه لاړ نه شي.

توضیحات

۱ـ که څه هم د آخرت دپاره بالغیب ایمان ضرور دی خو څرنګه چې د الله ﷻ د پلوه پیغمبران د دې دپاره دنیا ته استول کېږي چې بالغیب ایمان ته خلک دعوت کړي، نو الله ﷻ د دعوت د ښه تاثیر په بنا دوی ته ځینې غیبي شیان بالمشاهده ورلیده کوي ترڅو په دعوت کښې خلکو ته د سر په سترګو لیدلی حال بیان کړي چې د خلکو ښه په چټکۍ یقین او باور راشي.

اوس چې په افغانستان کښې جهاد روان دی مونږ ګورو چې د هغه ملا وعظ او تبلیغ ښه مؤثر واقع کېږي چې هغه عملا په جهاد کښې برخه اخستې وي او د جهاد کوائف یې د سر په سترګو لیدلي وي، نسبت هغه واعظ ته چې په عملي توګه یې په جهاد کښې برخه نه وي اخستې او خلکو ته د جهاد فضائل بیانوي.

د همدې کبله الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته د معراج په شپه د اسمانونو، جنتونو، دوزخونو او علویاتو دوره ورکړه او د تېرو شوو پیغمبرانو سره یې ملاقي کړ. د همدې جملې څخه د ابراهیم ﷺ ذکره شوې قیصه هم وګڼئ چې الله ﷻ د خپل کامل قدرت لږ څه نښې او آثار وربښکاره کړه او د څلورو مرغانو د ژوندي کولو صحنه یې وروليده کړه.

دا تمثیل نه دی واقعیت دی

۲_ ټول مفسرین کرام متفق دي او اجماع يې کړې ده چې د ابراهیم ﷺ په وړاندې څلور مرغان واقعاً راژوندي کړی شوه[۱]، یوازې یوه سړي د اجماع څخه مخالفت کړی دی او قیصه يې محض یو تمثیل ګڼلې ده، هغه سړی ابو مسلم نومېږي. نظر زما معلوماتو ته د ده نظر په وروستنیو مفسرینو کښې هم چا نه دی تائید کړی یوازې د تفسیر المنار لیکونکي خوښ شوی دی او آفرین يې ورباندې ویلی دی[۲].

نوموړی ابو مسلم وایي چې الله ﷻ ابراهیم ﷺ ته په جواب کښې وویلې چې څلور مرغان د خانه سره ښه اموخته کړه او بیا يې په غرونو باندې کښېنوه او بیا يې راوبله، لکه څنګه چې تا ته دغه اموخته شوي مرغان په منډه-منډه درځي همدارنګه به ماته د قبرونو څخه مړي په منډه-منډه راپورته کېږي.

د دغه نظر رد

۳_ که څه هم مفسرینو کرامو هر یوه د نوموړي نظر رد کړی دی چې دا کتاب يې د رانقلولو حوصله نه لري که څوک يې شوق لري هملته دې مراجعه وکړي[۳]، مګر مونږ په خپل نوبت سره فقط همدومره لیکو چې:

الف: د ابراهیم ﷺ ذکره شوې قیصه الله ﷻ د امتنان او احسان په موقع کښې بیانه کړې ده لکه چې د ﴿ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ څخه نیولې تر دې ځایه د ټولو ایتونو سیاق ورباندې دلالت کوي. که دغه قیصه په تمثیل باندې حمله شي نو د ابراهیم ﷺ امتیازي احسان بالکل د منځه ځي څکه چې په دې کښې خو ټول خلک یو برابر دي چې اموخته شوی مرغه ورته د بللو په وخت کښې منډې وروهي.

ب: که د ابو مسلم خبره سمه وی نو دې ته حاجت نه وه چې ابراهیم ﷺ يې مکلف کړی وی چې څلور مرغان ونیسه او هغه بیا د خانه سره اموخته کړه په اصطلاح خپل قیمت بها وخت ورباندې مصرف کړه چې زه درته پکښې یو مثال بیانوم. دا مطلب خو په همدې باندې هم حاصلېده چې ورته يې ویلي وی چې که چرته یو بابښه والا خپلې اموخته بابښې په غرونو کښې کښېنوي او بیا ورته غږ وکړي څنګه په چالاکۍ باندې ورته ورځي، همدارنګه ماته هم د قبرونو څخه مړي په چالاکۍ سره راپورته کېږي او ژوندي کېږي.

ج: ابراهیم ﷺ خو د الله ﷻ څخه د مړو د ژوندي کولو کیفیت غوښتی وه ﴿ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ﴾ او د ابو مسلم په مثال کښې خو مړي نه دي ژوندي شوي بلکې ژوندي وریه منډه شوي دي.

---

(۱) البحر المحیط ج۲ ص۳۰۱

(۲) تفسیر المنار ج۳ ص۵۶

(۳) التفسیر الکبیر ج۷ ص۴۵؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۹۸

نو په دې تقدير سوال د جواب سره نه شي مطابق کېدلی.

د: د ﴿ أَرِنِي ﴾ څخه واضحه څرګندېږي چې د ابراهيم ﷺ د بصري رويت (د سر په سترګو کتل) مطلب وه، نه قلبي روئيت (د زړه په سترګو ليدل). دا ځکه چې قلبي روئيت خو هغه ته په ډېره اوچته درجه کښې حاصل وه چې د نمرود په مقابل کښې يې څرګند کړی وه چې ﴿ رَبِّيَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ ﴾ يعني: زما رب هغه څوک دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي. خو غوښتل يې چې د بصيرت سره بصر هم ملګری شي چې علم اليقين د حق اليقين درجې ته ورسېږي. نو که قيصه محض تمثيل وګڼل شي ذکر شوی مطلب د لاسه اوځي.

ه: بالآخره د ابو مسلم نظر بالکل بې ضرورته نظر دی، نه د الله ﷻ په قدرت کښې څه کمزوري شته چې په دنيا کښې مرغان نه شي ژوندي کولی او نه د ابراهيم ﷺ (رئيس الموحدين) په قدر او عزت کښې څه شبه شته چې الله ﷻ به د مرغانو د معجزې لائق نه وی ګڼلی او نه يې په قرآن کريم کښې څه مخالف او مناقض ټکي شته چې سړی تاويل ته مجبور شي. نو د نومړي توجيه بالکل بې ځايه او خطا ده.

سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې خو د دې څه ذکر نشته چې ابراهيم ﷺ ذکره شوې نقشه عملي کړه نو ايا دا د دې خبرې تائيد نه کوي چې قيصې محض تعليمي او تمثيلي بڼه درلوده؟

مونږ وايو چې: په نقشه کښې امر کوونکی الله ﷻ دی او مامور ابراهيم ﷺ دی نو په تعميل کښې يې څه شک نه پاتې کېده نو ځکه يې عملي صورت ذکر نه کړ. ايا هغه څوک چې د خپل زوی (اسماعيل ﷺ) د ذبحې په تعميل کښې يې څه ځنډ ونه کړ د مرغانو په ذبحه به يې څه ليت او لعل کړي وي؟

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې تاسو د کوم ټکي څخه د مرغانو ذبحه معلومه وي؟

مونږ وايو چې: د ذبحې خبره د لاندې وجوهو څخه څرګندېږي:

الف: ﴿ فَصُرۡهُنَّ ﴾ وربانديې دلالت کوي چې په معنی د "قَطِّعۡهُنَّ" (ټوټه- ټوټه يې کړه) سره ده، چې د دې کار سره ذبحه لازمه ده.

مګر دا جواب کمزوری دی ځکه چې دا غير معروفه معنی ده، اتفاقي او معروفه معنی د ﴿ فَصُرۡهُنَّ ﴾ دا ده چې خان ته يې مائل کړه او ښه يې وګوره چې وروسته درته پکښې بې اطمناني پېښه نه شي چې دا به مړه شوي او بيا راژوندي شوي مرغان نه وي[١].

ب: په ذبحه بانديې ﴿ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ﴾ دلالت کوي ځکه چې پوره واضحه مطلب يې دا

---

(١) لسان العرب ج۴ ص۴۷۴، ۴۷۸

دی چې د هر یوه مرغه ځنځه ځه برخه په هر یوه غره باندې کېږده. او د برخه-برخه کولو سره ذبحه لازمه ده.

که بالفرض د هر یوه مرغه تجزیه مطلب نه وی نو داسې به یې فرمایلي وی چې "عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ طَيْرًا" په هر یوه غره باندې یو-یو مرغه کېښېنوه.

ج: رئیس المفسرین (عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما) ایت شریف په همدې شکل تفسیر کړی دی چې حاصل یې دا دی[1]:

کله چې ابراهیم ﷺ څلور مرغان راونیول او وېې تړل او ذبحه یې کړه او سرونه یې په لاس کښې ونیول، نو چې ځان ته یې راوبلل هره بڼکه خپلې بڼکې ته او د وینې هر ځاځکی خپل ځاځکي ته او هره غوښه خپلې غوښې ته ورروالوته، ورسره متصله شوه بلکې ټول اجزاء هر یو د خپل جنس سره ضمیمه شوه او څلور جوثې ترې جوړې شوې او د ابراهیم ﷺ مخې ته په زغرده ورغله ترڅو د سرونو سره هم اتصال ومومي.

کله به چې یوې جوثې ته خپل سر وراندې کړی شو ورپورې به نښتله، خو که د بلې جوثې سر به وردمخه شو ترې به تښتېدله او نفرت به یې ترې کاوه.

د مرغانو د معجزې باعث

۶- مفسرینو کرامو د دې خبرې ډېر اسباب ذکر کړي دي حتی چې د ټولو شمار یې دولسو ته رسولی دی[2].

مګر مونږ په همغه یوه سبب باندې اکتفاء کوو چې الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د مبارکې خولې ځنځه مونږ ته بیان کړی دی. هغه دا دی چې: ﴿ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ﴾ یعني: الله ﷻ د ابراهیم ﷺ ځنځه د دغه سوال د باعث پوښتنه وکړه چې ستا زړه خو ماته معلوم دی چې زما په قدرت باندې پخه عقیده لرې نو د څه دپاره دغه سوال کوې؟ هغه وویل: صرف د دې دپاره چې په همدې متعلق مې د زړه اطمنان حاصل شي که نه نو نوره څه خبره نشته.

او په دې کښې شک نشته چې د معاینې علم د سړي آرام پیدا ګوي. مثلا که چا کعبه شریفه نه وي لیدلې او د کوم یو حاجي د خولې ځنځه یې کیفیات اوري، امکان لري چې زړه یې اطمنان پیدا نه کړي او د سوالونو ځنځه صرف نظر نه شي چې کیف، کیف (ځنګه-ځنګه) ونه وایي، خو چې پخپله یې وګوري في الحال یې زړه د ځنګه-ځنګه ځنځه لاس اخلي او سلسله یې ختموي او ارامېږي.

همدغه حالت نبي کریم ﷺ اشاره کوي او فرمایي چې: «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ»[3] یعني: وینا د لیدلو غوندې نه ده.

بلکې مونږ په خپل ځان کښې دغه کیفیت ګورو چې په یو شي باندې مو یقیني علم حاصل وي

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۱۵؛ الدر المنثور ج۲ ص۳۵

(۲) البحر المحیط ج۲ ص۲۹۷؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۲۴۷؛ زاد المسیر ج۱ ص۲۷۲؛ تفسیر کبیر ج۷ ص۴۱

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۴۴۸

په هیڅ وجه شک او شبه پکښې نه وي خو د دې سره-سره زړه مو د څنګه او څنګه پوښتنې کوي او ارام یې نه وي حاصل شوی شوق مو کېږي چې په کیفیتونو کښې یې څه نور معلومات هم حاصل کړو. د همدې جملې څخه مخابره، ټلیفون، رادیو او نور شیان دي چې هیڅوک پکښې شک نه کوي خو د خاصو اینجینرانو څخه پرته، د عوامو څخه هیڅوک هم وربانډې اطمناني علم نه لري چې د څنګه او څنګه سلسله یې قطعه شوې وي او دا ونه وایي چې دا څنګه سېسټم دی چې د ملیونونو کیلو مترو څخه لرې په یوه آن کښې دلته اواز رارسېږي؟! او عجیبه خو لا دا ده چې د مسافې په اوږدو کښې یې څنګه نور خلک نه اوري؟ او داسې نور.

بلکې د "کَیْفَ" کلمه په حقیقت کښې د دې دپاره وضعه شوې ده چې اصل یې منلی وي خو په کیفیت کښې یې معلومات غواړي. مثلا یو سړی پوهېږي چې فلانی ښه مجاهد دی خو د دې سره-سره پوښتنه کوي چې: څنګه، څنګه، څنګه. یعنې بهتري یې په اخلاص کښې ده، په صداقت کښې، په شجاعت کښې او یا په نورو شیانو کښې؟.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي: هر کله چې د "کَیْفَ" کلمه د اصل په منلو باندې د پاسه د حال د غوښتنې د پاره وضعه شوې ده نو الله ﷻ یې د څه دپاره د ابراهیم ﷺ څخه وضاحت وغوښت؟

مونږ وایو چې: یو د دې دپاره چې د "کَیْفَ" کلمه مجازاً د تعجیز دپاره هم استعماله شوې ده. مثلا څه وخت چې ستا یقین وي چې فلانی مجاهد هوان توپ نه شي اوچتولی خو سره د دې هغه وایي چې زه یې اوچتولی شم، نو ته د هغه د کمزورۍ د ښکاره کولو دپاره ووایې چې ته یې پورته کړه څنګه یې پورته کوې؟. یعنې ته یې نه شې پورته کولی.

نو الله ﷻ د دې دپاره پوښتنه وکړه (که څه هم الله ﷻ په هر شي باندې عالم دی) ترڅو ابراهیم ﷺ ووایي چې زما د تعجیز معنی مطلب نه ده، بلکې د کیفیت معنی مې مطلب ده چې حقیقي معنی یې ده.

او بل د دې دپاره چې الله ﷻ د قیامت د ورځې پورې د ابراهیم ﷺ د جواب تصدیق ټولو مسلمانانو ته اعلان کړي چې ایمان یو شی دی او اطمنان بل شی دی، که بې اطمناني بې ایماني ګڼله شوې وی نو هیڅوک به مسلمان نه وی پاتې شوی. د همدې کبله عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې په ټول قرآن کریم کښې د همدې ایت غوندې د زیاتې امیدوارۍ بل ایت نشته[۱].

سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ»[۲] یعنې: مونږ د ابراهیم ﷺ څخه ډېر مستحق یو چې شک وکړو. چې هغه شک کړی دی نو که مونږ یې وکړو هم باک یې نشته.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۹۸

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۱

مونږ وايو چې: د حديث مطلب داسې نه دی لکه چې سائل ذکر کړ بلکې مطلب يې دا دی چې ابراهيم ﷺ د مړي د ژوندي کولو غوښتنه د شک د کبله نه وه کړې. که بالفرض هغه د شک د کبله کړې وی نو مونږ خو به ضرور شک کړی وی، خو څرنګه چې مونږ شک نه کوو نو معلومه شوه چې ابراهيم ﷺ هم هيڅکله ذکره شوې غوښتنه د شک د کبله نه وه کړې. مونږ خو احق يو چې شک وکړو.

يو پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ که څوک وايي چې: په ﴿ ثُمَّ ٱدْعُهُنَّ ﴾ کښې خو د "هُنَّ" ضمير مرغانو ته راجع دی حال دا چې په دغه وخت کښې خو د مرغانو جسدونه ټوټه-ټوټه په غرونو باندې پراته وه چې وروسته ژوندي شوه، ايا مړي رابلل معقول کار دی؟

مونږ وايو چې: د مرغانو رابلل خو اصلا د ابراهيم ﷺ رابلل نه وه بلکې صرف د الله ﷻ د رابللو اعلان يې ورته وکړ. او ښکاره ده چې د الله ﷻ تکويني امر د مامور وجود ته ضرورت نه لري بلکې په همدغه امر سره موجودېږي لکه چې هر شی د "کُنْ" په کلمې سره موجودېږي. هوا تشريعي امر د مامور د سابق موجوديت اقتضاء کوي ترڅو هغه د امتحان لاندې راوستلی شي.

څو نکات

۱۰ـ بايد محترم لوستونکي لاندې څو نکات د ځانه سره په ياد ولري ترڅو د قيصې په تاثير کښې ورسره لاس وکړي:

الف: الله ﷻ ابراهيم ﷺ ته د مړو د ژوندي کولو تجربه په وحشي حيواناتو کښې وښودله او په وحشيو کښې يې ورته د مرغانو څخه وټاکل، چې په وحشت او ژر تښتېدلو کښې د ټولو څخه وړاندې دي، دا د دې دپاره چې د الله ﷻ په امر سره وحشيان د وحشت څخه تېرېږي او په منډه-منډه د هغه چا مخې ته ودرېږي چې همغه ذبحه کړي وه او وحشت يې د دوی څو چنده کړی وه. نو الله ﷻ د امر منل په وحشي حيواناتو کښې ډېر ښه څرګندېږي په نظر سره غير وحشيانو ته.

امکان لري چې د دغو مرغانو په رانيولو کښې به هم ابراهيم ﷺ نه وي په تکليف شوی فقط رابللي به يې وي او په حضور کښې به يې ارام ودرېدلي وي.

د دغو مرغانو نوعيت معلوم نه دی چې مفسرينو کرامو پکښې مختلف تعينات کړي دي ترڅو چې ټول تعينات يې اووه قولو ته رسېږي[۱]، مونږ په دغه لاندې يو قول باندې اکتفاء کوو:

د مجاهد او عطاء رحمة الله عليهما څخه روايت دی چې څلور مرغان يو طاوس، بل کوتره بل کارغه او څلورم چرګ وه[۲]. زما په ګومان که چرګ وي نو سارانی چرګ به وي چې د نورو مرغانو سره په وحشت کښې يو برابر شي.

---

(۱) زاد المسير ج۱ ص۲۷۲

(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۲۴۸

په هر تقدير، احتمال شته چې الله ﷻ ورته څلور مرغان مشخص ښودلي وي او يا يې د ابراهيم ﷺ تشخيص ته پرېښي وي. دوهم احتمال قوي ښکاري.

څلور مرغان راژوندي شوه

ب: الله ﷻ غوښتل چې په دې مقام کښې ابراهيم ﷺ ته د خپل کامل قدرت ښودانه په دوه برخو کښې وکړي چې يو د مړو ژوندي کول دي او بل د مختلطو اجزاوو بېلول دي.

اوله برخه خو د يوه مرغه په راژوندي کولو سره هم ترلاسه کېدلی شوه، ځکه ځوک چې يو مړی راژوندی کولی شي هغه ډېر مړي هم راژوندي کولی شي چې ټول مړي د روح په بيا وراچولو کښې يو برابر دي.

او په دوهمه برخه کښې چې څومره مړي ډېرېږي هماغومره يې د اجزاوو يو تربله بېلول نظر انساني عادت ته ګرانېږي. د دوه مړو اجزاء بېلول اسان دي نظر د درېوو مړو د اجزاوو جدا کولو ته، همداسې د څلورو او د ورپورته.

څرنګه چې ډېره وړه جمعه درې دي نو الله ﷻ د خپل قدرت نمايش په څلورو کښې وکړ ترڅو دې خبرې ته اشاره شي چې د هر څومره مړو اجزاء چې سره ګډ شي د اقلې جمعې څخه نيولې تر لا نهايته پورې، هغه ټول الله ﷻ په يوه امر سره جدا جدا کولی شي او د هر يوه ګروپ څخه بېل- بېل حيوان د پخوا غوندې جوړولی شي. نو د همدې کبله يې ابراهيم ﷺ ته د څلورو مرغانو په رانيولو باندې امر وکړ، که بالفرض يا يې په وړه جمعه (چې درې افراد لري) او يا يې د دې څخه په کمو افرادو (دوه وو) باندې اکتفاء کړې وی نو د غير متناهي مختلطو جمعو د اجزاوو جدا کول به ښه نه وی څرګند شوي.

دا تجربه او غرونه

ج: د تجربې د عملي کولو دپاره الله ﷻ د غرونو ځوکې غوره کړې ترڅو ابراهيم ﷺ په ډېر وضاحت سره د اجزاوو ليدنه کتنه وکړي چې سره تبادله کېږي او بيا ترې بې سره تنې جوړېږي، که دا کار په هواره ځمکه کښې شوی وی نو مطلب پوره نه په ډاګه کېده.

مګر دا خبره په ايت شريف کښې ګونګه پاتې ده چې هر يو مرغه ځوځو برخې کړی شو او د څو غرونو په سرونو باندې کېښودل شو.

د ځوځو برخو په متعلق جواب واضحه دی چې هر مرغه د غرونو د شمار په اندازه ووېشلی شو ترڅو د هر يوه غره په ځوکه باندې د هر مرغه څه برخه موجوده وي.

اما د غرونو په شمار کښې مفسرين کرام په دوه ګروپونو ويشل شوي دي[1]. يوه ډله د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په شمول وايي چې د غرونو تعداد څلور وه، او بله ډله وايي چې د غرونو شماره اوو ته رسېدلې وه.

---

(۱) زاد المسير ج۱ ص۲۷۴

مونږ ته داسې ښکاري چې په هغو ټولو غرونو باندې به يې د چکنې شوې کوفتې يوه-يوه برخه اېښې وي چې هغه ابراهيم ﷺ ته د نقشې د عملي کولو په وخت کښې په سترګو ښکارېده ترڅو عمليه په سترګو وګوري، نور نو که غرونه څلور وي، يا اوه او يا لا د دې څخه زيات وي هم وي به.

د ايت شريف ارشاد

۱۱_ دغه ايت شريف په نورو ارشاداتو باندې د پاسه په لاندې دوه مهمو ټکو باندې هم ارشاد کوي:

الف: د أهل السنة والجماعة د مذهب په مطابق د برزخي حيات (ژوند) دپاره دا ضرور نه ده چې د مړي ټول اجزاء دې سره غونډ وي، نه ګورئ چې د څلورو مرغانو هر يو جزء د غونډېدلو څخه مخکښې ژوندي شو او د ابراهيم ﷺ په لور يې حرکت وکړ.

نو د برزخي ژوند څخه اندراګاندي (د هند صدر اعظمه) هم نه شي خلاصېدلی چې د هغې د سوزول شوي بدن ايره يې د الوتکې په ذريعه د هماليا د غرونو په څوکو باندې وشيندله او تار په تار يې کړه.

ب: د امام أبو حنيفه رحمه الله د مذهب مطابق، په منصوصي حکم کښې علت قاصره لټول جواز نه لري[1]. مثلاً د روژې په باره کښې الله ﷻ قرآن نازل کړی دی نو که څوک وايي چې روژه ولې فرض ده، جواب يې دا دی: ځکه چې قرآن کريم پکښې نازل شوی دی. دا يې جواب نه دی چې په روژه باندې صحت ښه کېږي، د جهاد دپاره پرې سړی تربيه کېږي، د فقيرانو د حاله پرې سړی خبرېږي او داسې نور.

هو! که دغسې اسرار او حکمتونه په روژه کښې څوک د دې دپاره ولټوي چې د زړه اطمنان يې پرې حاصل شي نو بيا يې باک نشته، لکه ابراهيم ﷺ (خليل الله، رئيس الموحدين) چې همدا کار د زړه د اطمنان دپاره د مړو ژوندي کولو په باره کښې کړی دی. او د الله ﷻ د پلوه نه رد شوی او نه د ايمان سره منافي ګڼل شوی دی.

﴿ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّاْئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ ﴾

[۲۶۱] د هغو کسانو چې د الله ﷻ په لار (خيريه کارونو) کښې خپل مالونه مصرفوي، مثال يې داسې دی لکه چې يوه دانه (تخم) اوه وږي زرغون کړي او په هر يوه وږي کښې سل دانې وي (چې ټولې اوه سوه دانې کېږي).

او د هر چا دپاره چې د الله ﷻ اراده وشي (د عوضونو او اجرونو) چندونه يې لا زياتوي (جبر او زور ورباندې نشته). او الله ﷻ د پراخه فضل خاوند دی (څه ورسره ختمېږي نه، او) پوه دی (مستحق پېژني).

---

(۱) نور الانوار ص۲۴۲

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱_ په دې مقام کښې د ایتونو د اړوند لاندې وجې ولولی:

الف: په مخکښې ایتونو کښې د معاد (بیا ژوندي کولو) بحث تېر شوی وه او په دې ایت کښې د بیا ژوندي کولو یوه نمونه بیانېږي، چې څوک د تخم څخه غټه ونه راززغونوي هغه د عجب الذنب څخه انسان هم جوړولی شي.

("عَجْبُ الذَّنَب" په انسان کښې یو ډېر وړوکی هډوکی دی چې ټول انسان خاورې هم شي هغه نه خاورې کېږي)[1].

ب: هلته د تبين الرشد عقیدوي مثالونه وه او دلته یې عملي مثالونه بیان شوي دي، او دا ځکه چې د مسلمان مکلفیت یوازې په عقیده او یا یوازې په عمل کښې نه خلاصېږي. د همدې کبله په ټول قرآن کریم کښې د بیان طریقه دا ده چې د یوه په څنګ کښې بل ذکر کوي ترڅو د چا فکر په یوه پورې منحصر نه شي.

ج: هلته د الله ﷻ د توفیق او خذلان (نه توفیق) مثالونه په عقیده کښې بیان شوي وه او دلته د دغو دواړو مثالونه په عمل کښې بیانېږي، چې څوک په اخلاص سره خپل مال مصرفوي او څوک یې په بې اخلاصۍ سره او یا یې څوک په ریاکارۍ سره ثواب د منځه وړي.

د: بالآخره هلته د آخرت اثبات په ډېره موثره طریقه وکړی شو او دلته د هغه چا نښې او علامات بیان کړی شوي دي چې په آخرت باندې عقیده لري. دا ځکه چې في سبیل الله انفاق هیڅوک تر هغه نه شي کولی چې په آخرت باندې معتقد نه شي.

۲_ د قرآن کریم عادت دی چې خپل احکام په چا باندې په اجباري توګه نه تحمیلوي بلکې محاسن او فضائل یې بیانوي ترڅو د یو پلوه خلکو ته اسان شي او ثقل وریاندې رانه وړي او د بل پلوه یې په نیتونو کښې اخلاص ورروزي. او دا ځکه چې: ﴿أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ﴾ [الزمر: ۳] یعني: خبردار! خاص الله ﷻ لره هغه انقیاد دی چې سوچه وي.

د همدې کبله د شرعي احکامو نتائج -چې د معقولاتو څخه شمېرل کېږي- په داسې مثالونو کښې څرګندوي چې په سترګو لیده کېږي او په هیڅا باندې هغه نتائج (ښه وي او که بد) پټ نه وي. دا د بیان ډېره موثره طریقه ده چې په علم البیان کښې پوره شرحه شوې ده.

۳_ په دې مقام کښې الله ﷻ د مالونو د انفاق په باره کښې د [۲۶۱] څخه نیولې تر [۲۶۶] ایتونو پورې څلور مثالونه ذکر کړي دي چې د هغو څخه یو همدغه مثال دی چې اوس د بحث لاندې دی.

یعنې د هغو خلکو مثال چې د الله ﷻ په لار کښې خپل مالونه مصرفوي داسې دی لکه څوک چې یوه دانه تخم په ځمکه کښې وکري او په خپله کرونده کښې پوره زیار وباسي ترڅو چې همدغه

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۵

يوه دانه تخم ورته غټ شي او اوه وږي ورته ونيسي او په هر يوه وږي کښې سل داني وي، نو بنکاره ده چې د يوې داني په عوض به نوموړي کروندګر ته اووه سوه داني لاس ته ورشي.
چا ته چې د الله ﷻ اراده وشي چندونه يې لا نور هم زياتوي لکه چې دغه کروندګر ته يې د يوې دانې څخه اووه سوه دانې جوړې کړې. همدارنګه چې څوک د الله ﷻ په لار کښې په اخلاص سره د خپل مال څه برخه مصرفه کړي، نو يو په اووه سوه چنده به الله ﷻ ورته په دنيا او آخرت کښې عوضونه ورکړي. برسېره لا په دې چا ته چې د الله ﷻ اراده وشي چندونه يې نور هم زياتوي او د بغير حساب درجې ته يې رسوي خو زور ورباندې نشته د خپلې خوښې خاوند دی.
۴ـ نو مسلمانانو ته په کار دي چې په دغې باره کښې زړه ونه وهي او په جرئت سره په خيريه لارو کښې انفاق ته ملا وتړي، برابره خبره ده چې جهادي وي او که بل د خير کار وي.
د الله ﷻ سره نه اجرونه (ثوابونه) تمامېږي او نه عوضونه، د رحمت خزانې يې تولې ډکې دي او ورکړه يې پراخه ده، خو دومره ده چې هغه ﷻ د هر چا په زړه باندې پوهېږي چې په څومره اخلاص سره يې ورکړه کړې ده او يا يې په څه غرض باندې کړې ده، نو د خپل علم په مطابق د نفقه کوونکو سره معامله کوي، او د ده ﷻ په نزد کښې ظاهري تقرير او ظاهري کړه وړه د اعتبار قابل نه دي.

توضيحات

۱ـ په احاديثو کښې د صدقاتو فضائل ډېر بيان شوي دي چې د قرآن کريم دپاره د تفسير حيثيت لري، مونږ يې دلته د اوږدوالي د کبله نه شو رانقلولی هيله ده چې محترم لوستونکي ځينو تفاسيرو ته مراجعه وکړي چې ښه ډېر احاديث يې پکښې راغونډ کړي دي[1].
۲ـ که څه هم د دې مثال په بيانولو کښې ډېر لنډ عبارت دا وه چې فرمايلي يې وی چې: الله ﷻ د مالي خيرات عوضونه يو په اوه سوه چنده ورکوي، خو ذکر شوی عبارت يې ځکه پرېښود ـ والله ﷻ اعلم ـ چې:
الف: ټول خلک په دې يقين لري او په تجربه ورته ثابته ده چې څومره په کرونده کښې په ډېر اخلاص سره کار وکړی شي په هماغې اندازه ښه حاصلات ورکوي نو همدارنګه د مال انفاق هم دی چې څومره پکښې نيت ښه وي او اخلاص پکښې زيات وي عوضونه او اجرونه به يې هم زيات وي.
ب: اګر که په خاورو کښې تخم اچول ظاهراً ضائع کول دي خو عاقبت پکښې غټه ګټه ده، همدارنګه خپل مال د الله ﷻ په لار کښې مصرفول ظاهراً د خپله لاسه ويستل دي خو په واقع کښې د ډېرو عوضونو لاس ته راوړل دي.
ج: ذکر شوی عبارت د يو پلوه د عوضونو په چندونو باندې په قصدي توګه لارښوونه کوي خو په اشارو سره مسلمانان د کښت او زراعت خوا ته ترغيبوي چې په اسلامي نظام کښې د اقتصاد لويه پايه ده. نو که الله ﷻ ذکر شوی عبارت نه وی نازل کړی دغه مطالب به پاتې وه.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۱۶؛ روح المعاني ج۳ ص۳۲؛ الدر المنثور ج۲ ص۳۷

د غنمو حاصلات

۳_ د غنمو څخه په غیر په ځینو نورو حبوباتو(دانو) کښې، لکه جوار، مونږ په یوه وږي کښې د سلو دانو څخه لا زیاتې دانې هم لیدلې دي خو د غنمو په وږي کښې نظر زموږ معاصاتو ته ذکر شوی عدد نه پوره کېږي، برسېره په دې په جوارو کښې مو هم اوه وږي نه دي لیدلي

مګر په ایت شریف کښې دې ته اشاره ده چې که تاسو په کرونده کښې ښه زیار وباسئ دغه مقدرا او لا د دې څخه زیات مقدار وږي او دانې به لاس ته درشي، لکه چې مصریانو په تجربوي فارمونو کښې اثبات ته رسولې ده چې د غنمو یوه دانه تخم د یوې ځانګې څخه نیولې تر شپږ پنځوسو (۵۶) ځانګو پورې نیولې دي او د هر ځانګې په وږي کښې تر یو سلو اوه (۱۰۷) دانو غنمو پورې لیدل شوي دي[۱]، په دې تقدیر د یوې دانې څخه پنځه زره نهه سوه او دوه نوي (۵۹۹۲) دانې غنم حاصلات هم اخستل شوي دي.

برسېره په دې، د تشبیه دپاره دا ضرور نه ده چې مشبه به دې په خارج کښې په ښودل شوي کیفیت سره موجود وي، لکه چې دا خبره په علم البیان کښې د تشبیهاتو په بحث کښې پوره څېړله شوې ده[۲].

زراعت په اسلام کښې

۴_ په اسلام کښې کروندې ته زیات اهمیت ورکړی شوی او د اسلامي اقتصاد یوه لویه پایه ګڼله شوې ده، په دې باره کښې زښت ډېر احادیث هم روایت کړی شوي دي چې مونږ دلته د هغو څخه یوازې په لاندې یوه حدیث باندې اکتفاء کوو چې:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ»[۳] یعنې: هیڅ یو مسلمان د نیالګیو څخه یو نیالګی او د کروندو څخه یوه کرونده نه کري چې د هغه څخه یو مرغه یا انسان یا څاروی خوراک وکړي، مګر هغه ذکر شوي کروندګر ته صدقه جوړېږي.

دا خو لا پرېږده چې سیوري ته یې کښیني او یا ترې نورې استفادې وکړي برابره خبره ده چې کروندګر مړ وي او که ژوندی، او چې هرخومره کلونه پاینښت وکړي.

په اسلام کښې کښت او زراعت کفائي فرض دی[۴]، د اسلامي حکومت دنده ده چې خپل رعیت ورته وهڅوي او د کروندې وسائل ورته برابر کړي، ترڅو یې خپلې ارتیاوې په خپل کور کښې پوره او هم شاړې ځمکې ابادې شي. بالفرض که په اسلامي مملکت کښې د کروندګرو ډله موجوده نه وي نو ټول ګناهګار دي او د قیامت په ورځ به ترې پوښتنه وکړه شي.

---

[۱] تفسیر المراغي ج۲ ص۳۰
[۲] مختصر المعاني ص۳۲۱
[۳] صحیح مسلم ج۲ ص۱۶
[۴] تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۰۶؛ البحر المحیط ج۲ ص۳۰۵

﴿ اَلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُوا مَنًّا وَلَآ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ۗ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾ ﴾

[۲۶۲] هغه کسان چې هغوی خپل مالونه د الله ﷻ په لاره (رضا) کښې خرڅوي، بیا وروسې (د آخر عمره پورې) نه (په چا) احسان باروي او نه (ورته) ضرر رسوي. دوی لره د خپل رب ﷻ په نزد (په آخرت کښې) د دوی اجرونه دي. او نه به په دوی باندې ډار وي (چې دوزخ ته داخل شي) او نه به دوی غمژن شي (چې ولې به مو په خپل مال باندې د آخرت کور نه جوړاوه).

[۲۶۳] (فقیر ته) نېکه خبره او (هغه ته) تېرېدنه د داسې خیرات څخه بهتره ده چې وروسې اذیت (ضرر) وي. او الله ﷻ زېښت ډېر بې پروا (او) زېښت ډېر د حلم څښتن دی.

ارتباط او شان نزول

۱ـ په مخکني ایت شریف کښې الله ﷻ في سبیل الله صدقات په حاصلاتو کښې د زراعت سره تشبیه کړې وه. په دغو ایتونو کښې په هماغه تعقیب مهرباني کوي لکه څنګه چې کرونده د کرولو څخه وروسته حفاظت غواړي، همدارنګه صدقات هم باید د هغو شیانو څخه محفوظ وساتل شي چې هغه یې د خاورو سره برابروي، لکه تکلیف رسول او یا احسان اېښودل.

۲ـ که څه هم اعتبار خو د معنی عموم ته دی چې د قیامت د ورځې پورې ټولو مسلمانانو ته شاملېږي، مګر مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ذکر شوي ایتونه د عثمان ؓ او د عبد الرحمن بن عوف ؓ په باره کښې نازل شوي دي چې دوی دواړو د تبوک د غزا په تجهیزاتو کښې غټې‌غټې برخې اخستې وې[۱].

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: هغه کسان چې د الله ﷻ په لار کښې صرف د ده ﷻ د رضا حاصلولو په خاطر خپل مالونه مصرفوي، نه په چا باندې احسان کوي او نه ورته اذیت رسوي چې سپکې سپورې خبرې ورته وکړي او یا ورسره بده وضعه وکړي، او خپل همدغه حالت ته تر آخره عمره پورې دوام ورکوي، هسې نه چې نن نه بلکې سبا بل سبا ترې په خپل خیرات سترګې راوباسي.

څوک چې په ذکر شوي شرط سره خپل مال مصرف کړي نو برسېره په دې چې الله ﷻ به ورته په چندونو عوضونه ورکړي هغوی لره د الله ﷻ په نزد (د قیامت په ورځ) لوی اجر هم شته، هسې نه چې په دنیا کښې یې عوضونه ورکړه او په آخرت کښې یې برخه نشته.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۰۶

په هغوی باندې به الله ﷻ خپل اطمنان نازل کړي چې په دنیا کښې به د فقر ډار په دوی باندې نه وي او په آخرت کښې به دوزخ ته د ورلوېدلو د ډاره بې غمه وي. نه به دوی په دنیا کښې غمژن شي چې په خپله ورکړه پښېمانه شي او نه به په آخرت کښې د غم سره مخامخ شي چې افسوس په دنیا کښې مې مال درلود خو د آخرت کور مې وربانديې آباد نه کړ.

۲_ نو د هغو صدقاتو څخه چې اذیت ورسره ملګري وي دا بهتره ده چې فقیر ته څه ورنه کړي او ښه خبره ورته وکړي او رخصت يې کړي، که بالفرض په غوښتنه کښې الحاح وکړي ورته زړه تنګی نه شي او د ښېښې څخه ورسره کار واخلي.

۳_ دا ځکه بهتر دی چې په اول صورت کښې د يو پلوه ستاسو مال مصرفېږي او عوض او اجر يې نه درکول کېږي او د بله پلوه ستاسو د لاسه د يو مؤمن زړه زخمي کېږي چې د الله ﷻ د عذابه وېره پکښې شته ده. اما په دوهم صورت کښې مو مال په خپل لاس کښې پاتې کېږي او په ښې خبرې باندې الله ﷻ اجر هم درکوي او د فقیر زړه هم نه ازارېږي.

الله ﷻ غني دی، خزانې يې ډکې دي ستاسو انفاق ته ضرورت نه لري، مستقیمًا هم فقیران مړولی شي خو ستاسو په لاس ځکه د هغوی احتیاجات پوره کوي ترڅو تاسو د اجرونو مستحق وګرځئ او په مینه محبت سره په دنیا کښې ژوند وکړئ.

او حلیم هم دی، د هغه چا په تعذیب باندې عجله نه کوي چې په فقیرانو باندې احسان ږدي او یا اذیت ورته رسوي، نو په کار دي چې د عذاب په تاخیر سره د الله ﷻ د حلم څخه په عفوې باندې تعبیر ونه کړي، نن وي او که سبا دوی به د ناکاره عاقبت سره مخامخ شي.

توضیحات

۱_ د قرآن کریم په اصطلاح هغو ټولو خرڅونو ته في سبیل الله خرڅونه ویل کېږي په کومو کښې چې صرف د الله ﷻ رضا مطلب وي، که څه هم هغه په جهاد کښې وي یا په هجرت کښې، که څه هم هغه فرضي وي یا نفلي، که څه هم هغه په افرادو باندې وي او که په خیریه مؤسسو باندې لکه: روغتونونه، ښوونځي، چاپخانې او داسې نور[۱]، بالآخره که څه هم هغه په خپل ځان او په خپل اولاد باندې وي. دغه ټول خرڅونه في سبیل الله ګڼل کېږي.

په دې باره کښې د نبي کریم ﷺ څخه ډېر احادیث روایت کړي شوي دي چې في سبیل الله انفاق يې ښه پوره واضحه کړی دی، چې ځینو مفسرینو کرامو يې ښه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[۲] خو مونږ د مثال په توګه فقط د يوه حدیث په ذکر باندې اکتفاء کوو، هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا أَنْفَقْتُمْ عَلَى أَهْلِيكُمْ فِيْ غَيْرِ إِسْرَافٍ وَلَا تَقْتِيْرٍ فَهُوَ فِيْ سَبِيلِ اللهِ»[۳]

---

(۱) تفسیر کبیر ج۷ ص۴۷
(۲) الدر المنثور ج۲ ص۴۰
(۳) مصنف ابن ابي شیبه ج۵ ص۳۳۱؛ شعب الایمان للبیهقي ج۵ ص۲۵۱

یعني: هغه څه چې تاسو په خپلو فامیلونو باندې مصرفوئ چې نه پکښې اسراف وي او نه پکښې تنګ لاسي وي هغه ټول في سبیل الله دي.

بالمقابل هغه مالونه چې یا کفریاتو او ګناهونو کښې لګېږي یا پکښې د الله ﷻ د رضا څخه په غیر ریاکاري مطلب وي یا پکښې فقیرانو باندې احسان ایښودل کېږي او نور څه اذیت ورته رسول کېږي او داسې نور، هغه ټول في سبیل الشیطان ګڼل کېږي.

"مَنّ" څه ته وایي؟

۲_ د "مَنّ" کلمه په عربي ژبه کښې د هغه "مَنّ" په معنی سره ده چې د موزوناتو د اندازې دپاره استعمالېږي[1].

دغه مَن په افغانستان کښې پخوا څه د پاسه اوه کیلو وه اوس پوره اوه کیلو ته یو من وایي. په پاکستان کښې د ثقیلو شیانو د اندازې دپاره دوه ډوله منونه استعمالېږي چې یو کچه من دی (څلوېښت کیلو) او بل پوخ من دی (پنځوس کیلو).

مګر نوموړې کلمه او د هغې مشتقات په قرآن کریم کښې په لاندې درېو معناوو سره استعمال شوي دي:

الف: د نعمت ورکولو ته مَن وایي. ځکه چې په هر نعمت کښې څه اندازه ثقل او درونډوالی وي، که څه هم هغه ثقل معنوي ثقل وي لکه د علم ښودانه. الله ﷻ فرمایي: ﴿ هَٰذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ ﴾ [ص: ۳۹] یعني: دا زما ورکړې شوی نعمت دی نو خوښه دې (ای سلیمانه!) چې چا ته یې ورکوې او یا یې نه ورکوې.

د همدې جملې څخه د الله ﷻ نوم "اَلْمَنَّان" هم دی چې د هر نعمت حقیقي ورکوونکی دی.

ب: د نعمت قطعه کول او منعه کول د "مَمْنُون" په نامه یادېږي. لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴾ [ن: ۳] یعني: او بې شکه تا لره (ای پیغمبره!) داسې اجر دی چې درڅخه قطعه کېدونکی نه دی.

ج: د ورکړې شوي نعمت یادونه. په دې مقام کښې همدغه درېیمه معنی مراده ده چې د ورکړې شوي نعمت یادونه د هغه نعمت اجر او ثواب د منځه وړي، برابره خبره ده چې پخپله فقیر ته یې وخت په وخت وریادوي او صدقات یې د سترګو څخه راوباسي او یا یې د هغه چا وړاندې یادوي چې فقیر د هغه په خبرتیا باندې خپه کېږي، چې فلاني ته مې دا شی ورکړی دی.

"أذی" څه معنی؟

۳_ د "أذی" کلمه د [البقرة:۲۲۲] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د ضرر رسولو معنی ورکوي برابره خبره ده چې هغه ضرر مادي وي او که معنوي، دنیاوي وي او که اُخروي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۹۴

خو په دې مقام کښې ترې هغه ټوله بده وضعه مراده ده چې د يو فقير سره د ورکړې څخه وروسته د ورکړې په ارتباط باندې وکړى شي چې يا پېغور ورکړى شي يا ورته توهين آميزه خبره وکړي يا ورسره د سپکاوي چال چلند وکړي او يا يې دې ته مجبور کړي چې بې أجرته (د بېګار په توګه) يې خدمت وکړي او داسې نور.

سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: فقير خو په احسان اچولو باندې هم متضرر کېږي او خپه کېږي، په همدې بنا، هغه څه چې د "مَنّ" په کلمه باندې مراد وه هغه د "اذى" په کلمه کښې شامل دى.

د همدې کبله په راتلونکي ايت شريف ﴿ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ﴾ کښې يوازې د "اذى" کلمه ذکره شوې، او داسې ونه ويل شوه چې: "مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا الْمَنَّ وَالْأَذَى". نو د څه حکمت په بناء په دې مقام کښې يوازې د "أذى" په کلمه باندې اکتفاء ونه کړى شوه؟

مونږ وايو چې: حکمت پکښې مونږ ته دا ښکاري چې د غنيانو د پلوه په فقيرانو باندې احسان اچول ډېر پېښېږي او ډېر کم ظرفه خلک ورباندې اخته دي. نو الله ﷻ يې په ضمني ذکر باندې اکتفاء ونه کړه او په استقلال سره يې ذکر کړه ترڅو ورته دوى ښه متوجه شي او د دې مهلکې او خطرناکې بلا څخه خانونه وساتي.

يادونه

۵_ په دې باره کښې (چې د صدقاتو ثوابونه په احسان اچولو او ضرر رسولو باندې د منځه ځي او دغه دواړه لويې ګناهونه دي) ډېر احاديث روايت شوي دي چې مونږ په دې ځاى کښې يوازې يو حديث او يو اثر رانقلوو:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ خَمْرٍ وَلَا عَاقٌ وَلَا مَنَّانٌ»[۱] يعني: جنت ته نه شراب خور داخلېږي، نه د مور او پلار ازاروونکى او نه په فقيرانو باندې د ورکړې څخه وروسته احسان باروونکى.

ب: د حضرت عمر ؓ څخه روايت دى (امکان لري چې د نبي کريم ﷺ څخه به يې اورېدلي وي) چې لنډ حاصل يې دا دى: د سائل سره ښه وضعه کوئ احتمال شته چې د سړي په څېره کښې درته پرښته راغلې وي او د امتحان دپاره يې درڅخه سوال کړى وي[۲]، لکه چې په بني اسرائيلو کښې درې کسان (پېس، پک، ړوند) الله ﷻ د يوې ملکې په ذريعه د امتحان لاندې راوستلي وه چې د سړي په څېره ورته ورغلې وه[۳].

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج۱۱ ص۹۸؛ سنن النسائي الكبرى ج۳ ص۱۷۶

(۲) تفسير القرطبي ج۳ ص۳۱۰

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۹۲

مغفرت څه معنی؟

۶_ "مَغفِرَة" د غُفران څخه اخستلی شوی دی چې د پټولو په معنی دی. د همدې کبله "خول" ته "مِغفَر" وايي[۱] ځکه چې په هغه سره د مجاهد سر د مرمیو څخه پټ پاتې کېږي، د الله ﷻ څخه مونږ د مغفرت غوښتنه کوو چې د دوزخ د اوره څخه مو پټ او په امن کښې وساتي.

مګر په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو زښتې ډېرې معناوې کړې دي چې تولې تقریباً دولسو ته رسېږي[۲]، خو مونږ ته داسې ښکاري چې اصلي معنی یې فقط تېرېدنه ده خو هر یوه مفسر یې یو یو مصداق ښودلی دی، مثلا د فقیر احتیاج د ښکار کولو څخه تېرېدنه یا د هغه الحاح څخه د راپیدا شوي اذیت څخه تېرېدنه او داسې نور.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبۡطِلُواْ صَدَقَـٰتِكُم بِٱلۡمَنِّ وَٱلۡأَذَىٰ كَٱلَّذِي يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفۡوَانٍ عَلَيۡهِ تُرَابٞ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٞ فَتَرَكَهُۥ صَلۡدٗاۖ لَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّمَّا كَسَبُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَـٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾ ﴾

[۲۶۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! خپل خیراتونه په احسان اچولو او (فقیرانو ته) په ضرر رسولو سره مه خرابوئ لکه هغه څوک (یې چې خرابوي) کوم چې خپل مال خلکو ته د ښودانې (ریاکارۍ) په غرض نفقه کوي او په الله ﷻ او وروستنۍ ورځې باندې عقیده نه لري.

نو د ده (ریاکار) مثال د ښویه تیږې په شان دی چې څه خاوره ورباندې پرته وي خو تېز باران ورباندې نازل شي نو پاکه (صافه وینځل شوې) یې پرېږدي.

دوی (ریاکاران) د هغه مال څخه چې دوی کسب کړی (نفقه کړی) دی په هیڅ شي باندې وسه نه لري (چې ترلاسه یې کړي). او الله ﷻ کافر قوم ته لارښودانه نه کوي.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د في سبیل الله صدقاتو په باره کښې ترغیبي څنډه بیانه کړې ده چې باید مؤمنان یې په لاس ته راوړلو کښې زیار وباسي او د زراعت په یوه محسوس مثال کښې یې د اوه سوه چندونو وعده ورکړې وه. په دې ایت کښې د ذکر شوو چندونو د حفاظت او ساتنې څنډه په نظر کښې نیوله شوې ده او په همدې اړوند یې دوه مثالونه بیان کړي دي چې یو مثال معقول دی او بل محسوس.

۲_ یعني: ای مؤمنانو! خپل صدقات په احسان اچولو او ضرر رسولو باندې د منځه مه وړئ چې اجرونه او ثوابونه یې ضائع کړئ.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۴
(۲) البحر المحیط ج۲ ص۳۰۷

په دغو دواړو باندې د خيراتونو ثمرات داسې د منځه ورک کېږي لکه رياکار چې د خپل خيرات ثوابونه ضائع کوي او د منځه يې وړي، خصوصاً هغه رياکار چې هغه يا منافق وي او يا کافر وي چې په آخرت باندې عقيده نه لري ترڅو ورته تياري ونيسي، دوی د خپلو خيراتونو اجرونه فقط همدومره په نظر کښې نيسي چې خلک ورباندې آفرين ووايي.

٣ـ نو ای مؤمنانو! تاسو بايد د کافرانو او د منافقانو د خوی او خاصيت څخه خپل خانونه ډېر لرې وساتئ او د هغوی په قدم باندې قدم کښېنږدئ، تاسو خو په الله ﷻ او په آخرتي ورځې باندې عقيده لرئ ستاسو سره دغسې کار ډېر نامناسبه دی چې خپل اجرونه او ثوابونه په احسان اچولو، ضرر رسولو او يا په رياکارۍ باندې ضائع کړئ.

٤ـ د دغه کار محسوس مثال داسې دی چې څوک خپل با ارزښته تخم په پسته حاصلناکه خمکه کښې وانچوي، بلکې په هغې رنګی-رنګی خاوره کښې يې پټ کړي کومه چې په يوه ښويه تېږه باندې پرته وي، کله چې په دغې کرونده باندې شديد باران وورېږي نو تخم او لږ پوټې خاوره چې تخم يې پټ کړی وه هغه ټول د منځه يوسي او تېږه پاکه صافه وينځله شوې پاتې شي چې نه ورباندې څه ګرد ګورد وي او نه د تخم څه پته لګي چې کوم طرف ته ورک شو، نه يې د خاورې راغونډول د لاسه پوره وي او نه د تخم لاس ته راوړل چې د دوهم ځل دپاره يې په حاصلناکه ځمکه کښې وکري. دا وه د رياکارۍ محسوس مثال.

٥ـ الله ﷻ کافر قوم ته هدايت نه کوي چې په خپل ګټه او تاوان باندې پوه شي همدارنګه هغه څوک هم د هدايت څخه بې برخې کېږي چې د کافرانو په پله باندې پل ږدي او هغوی پسې اقتداء کوي. نو دوی يو هم خپل مراد ته نه شي رسېدلی.

توضيحات

١ـ معتزله وايي چې څوک لويه ګناه (کبيره ګناه) وکړي نو مخکني نېک عملونه يې ټول ضائع کېږي د همدې کبله دوی وايي چې د کبيرې ګناه مرتکب به په دوزخ کښې همېشه وي دوی په همدې ايت باندې دليل نيسي چې الله ﷻ وفرمايل چې خپل عملونه په مَن او آذی باندې مه باطلوئ.

مګر دوی اصلا د ايت شريف په معنی نه دي پوه شوي ځکه چې په دې مقام کښې د﴿ لَا تُبْطِلُوا ﴾ څخه دا مطلب نه دی چې په "مَنّ" او "أذیٰ" باندې پخواني ټول نېک اعمال د منځه مه وړوئ، بلکې مطلب پکښې دا دی چې يوازې د خپلې ورکړې شوې صدقې اجر او ثواب او کومه نتيجه چې ورباندې مرتبېږي چې د الله ﷻ رضا او ستاسو اصلاح او د حرص ماتول دي هغه مه خرابوئ او د الله ﷻ د قبول څخه يې مه وباسئ[١].

٢ـ د مَن او أذی په بحث کښې ځکه د رياکار بحث راغی چې دغه کارونه په اکثره وختونو

(١) تفسير المنار ج٢ ص٦٥؛ تفسير القرطبي ج٣ ص٣١١

کښې ریاکاران کوي، کله چې څوک ورباندې آفرین ونه وایي نو په غُصه شي او د مَن او أذی څخه کار اخلي، ته به وایې چې فقیران خپل توصیف او یادونې ته مجبوروي.

ریاکاري کفر نه دی

۳ـ په یاد ولرئ چې ریاکاري ځکه کفر نه دی چې عمل پورې ارتباط لري او کفر عقیدوی شی دی. هو! په احادیثو کښې ریاکاري د خفي شرک په نامه یاده شوې ده خو هلته هم عملي شرک مطلب دی نه عقیدوي[۱]. نو که ریاکار عقیدوي منافق او یا کافر وي هغه بېله خبره ده.

۴ـ ځینې مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ذکر شوی محسوس مثال د احسان اینبودونکي، ضرر رسوونکي، او ریاکار درېوارو دپاره دی چې د ﴿ لَا يَقْدِرُونَ ﴾ کلمه جمعه ده نو که یوازې ریاکار مراد شي نو مطابقت به ورسره پیدا نه کړي[۲].

• مګر مونږ ته داسې ښکارې چې ذکر شوی محسوس مثال یوازې د ریاکار دپاره ښه خوندور واقع کېږي چې د مشبه او مشبه به په منځکښې فصل هم نه راځي او په نتیجه کښې هغوی دواړه هم ورسره تشبیه کېږي، ځکه چې یو شی بل ته ورته وي او بل شی دریم شي ته ورته شي نو لومړنی شی هم دریم ته ورته ګڼل کېږي.

او په ﴿ لَا يَقْدِرُونَ ﴾ کښې د "الَّذِي" کلمې ته د معنی په لحاظ د جمعي ضمیر راجع شوی دی که څه هم لفظ یې مفرد دی او په ضمائرو کښې د لفظ او معنی دواړو مراعات جائز ګڼل کېږي.

یادونه

۵ـ مونږ د دې ایت محسوس مثال ﴿ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ ﴾ په زراعتي مثال باندې حمل کړ ترڅو د نورو درېوو محسوسو مثالونو سره په یوه څېره باندې توافق وکړي. ځکه چې د تېر شوي [۲۶۱] ایت مثال او هم د راتلونکو [۲۶۵ـ ۲۶۶] ایتونو محسوس مثالونه درېواړه په زراعتي ځمکه کښې ترتیب شوي دي، خو دلته په زراعت باندې صراحت نه دی شوی او په نورو درېوو مثالونو کښې ورباندې تصریح شوې ده.

﴿ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (٢٦٥) ﴾

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۸۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۱۳

[۲۶۵] او د هغو خلکو مثال چې خپل مالونه صرف د الله ﷻ د رضا د کبله او د دې کبله نفقه کوي چې د خپلو خانونو د پلوه خپل ایمان ښه قوي او کلک کړي د داسې باغ په شان دی، چې په لوړه حاصلناکه ځمکه باندې کښېنول شوی وي، تېز باران ورباندې ورېږي نو خپل حاصلات دوچنده ورکوي، نو که تېز باران ورته ونه رسېږي نو نرۍ باران (ورباندې ورېږي او حاصل ورکوي). او الله ﷻ په هغه څه باندې بینا دی چې تاسو یې کوئ (ستاسو ښکاره او پټ ورته ښه څرګند دي).

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ دغه مثال د تېر شوي مثال په مقابل کښې د في سبیل الله صدقاتو څرګندونه کوي چې خلاصه یې دا ده:

۲ـ یعنې: اوس د هغو خلکو د خیراتونو محسوس مثال ولولئ چې هغوی صرف د الله ﷻ د رضا دپاره خپل مالونه نفقه کوي چې الله ﷻ د خپله خانه راضي کړي او خپله عقیده ورباندې لا کلکه او قوي کړي ترڅو د خپل د ایمان او عقیدې تاثیرات په اعمالو کښې هم څرګند کړي چې رښتیا په آخرت معتقد دي (تیاري ورته نیسي) او د حرص، بخل او نورو نفساني امراضو څخه پرې خپل ځان خلاص کړي.

۳ـ نو د دوی محسوس مثال داسې دی لکه چې دوی په یوه لوړه ځمکه کښې باغ جوړ کړی وي چې صافه هوا ورباندې چلېږي، په عوض د دې چې د خپلو ویالو په اوبو باندې خړوب شي او حاصل ورکړي، وخت په وخت شرقنده باران هم ورباندې ورېږي (هغه باران چې په ښویه تیږه باندې یې هیڅ ګرد نه پرېږدي)، نو د باران اوبه د ویالو د اوبو په نسبت دوه چنده حاصل ورکړي او دا خکه چې باران اوبه نظر نورو اوبو ته د کروندې دپاره ښه ګټه رسوي چې هم د بېخ له طرفه اوبه خوري او هم د څانګو او پاڼو له طرفه.

۴ـ څرنګه چې ذکر شوی باغ په پسته او حاصلناکه ځمکه کښې کېنولی شوی دی نو هم د تېز باران څخه استفاده کولی شي او هم د نرۍ باران څخه نو که یو ډول باران ورباندې ونه ورېږي بل ډول باران خو ورباندې ورېږي، په هر تقدیر د نورو باغونو په نسبت دوه چنده حاصل ورکوي.

او الله ﷻ ته ستاسو کړه وړه ټول څرګند دي او هغه ټول ګوري چې لږ مال خیراتوي او که ډېر، په زیات اخلاص سره او یا په کم اخلاص، ډېر محتاج ته یې ورکوي او که لږ محتاج ته: هیڅ شی او هیڅ حالت ورڅخه پټ نه دی نو باید چې تاسو ترې تل په وېره کښې واوسېږئ او هم ورته تمه ولرئ.

توضیحات

۱ـ دغه محسوس مثال کټ مټ د ریاکار د محسوس مثال په مقابل کښې واقع دی لاندې څو نکاتو ته یې توجه وکړئ:

الف هلته ښویه تیږه په مثال کښې ښودلې شوې ده چې لږ څه خاوره ورباندې پرته وي او دلته لوړه ځمکه ښودل شوې چې د ډېرې حاصلناکې خاورې څخه تشکیله شوې وي.

ب: هلته په لږ پوتې خاوره کښې اول تخم نه شي پټېدلی او که پکښې په چل ول پټ کړی شي نو هغه به هم ډېر لږ وي او ډېر لږ وخت به پکښې پټ وساتل شي، او دلته داسې ځمکه ده چې باغ ورباندې جوړ وي او کلونه کلونه دوام کوي، نه پکښې چل شته او نه په چا باندې سترګې پټول.

ج: هلته شدید باران ډېر مضر وه او دلته چې څومره باران شدت پیدا کوي په هماغه اندازه یې ګټه او فائده زیاتېږي.

د: هلته کروندګر په هیڅ ګټه لاس او قدرت نه شي پیدا کولی بلکې د زیات زیان او خجالت سره مخامخ کېده او دلته د نورو ځمکو په دو چنده حاصل لاس ته ورځي، چې هم یې په دنیا کښې عوضونه ترلاسه کوي او هم په آخرت کښې.

ه: هلته د صدقې د ورکولو، یا په بل عبارت د تخم کرلو باعث صرف د خلکو خوشالول وه او دلته صرف د الله ﷻ رضاء ده او بس.

و: بالآخره، هلته د عقیدې خاموالی وه ﴿ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ ﴾ او دلته د عقیدې پخول او لا قوي کول دي، برسېره په هغه کلکوالي باندې چې الله ﷻ ورپېرزو کړی دی. او دا ځکه چې په في سبیل الله صدقاتو باندې حرص ماتېږي او ایمان ورباندې قوي کېږي او اخلاص ورباندې اضافه کېږي بلکه دغه ډول صدقات د واقعي ایمان ښکارندوی دي.

"رَبْوَة" څه معنی؟

۲ـ "رَبْوَة" اصلا پورته کېدلو او زیادت ته وایي. د همدې کبله سُود د "ربا" په نامه یادېږي، خو کله هغې ځمکې ته هم "رَبْوَة" ویلی شي چې په هغې باندې باران وشي نو هغه د بوټو د زرغونېدلو سره پورته کېږي. لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ﴾ [فصلت: ۳۹] یعني: او کله چې مونږ ورباندې باران نازل کړو نو هغه وښورېږي او پورته شي.

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو لوړه ځمکه مراده کړې ده چې صافه هوا ورباندې لګېږي خپلې اوبه نه لري للمي وي[۱]، مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې حاصلناکه ځمکه مراد کړی شي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴾ [المؤمنون: ۵۰] یعني: او دوی دواړو (عیسی ؑ او مریم رضی الله عنها) ته مونږ په یوه ځمکه کښې پنا ورکړه چې هغه ځمکه ښه استوګنځای او چینې درلودونکې وه.

وَابِل، طَلّ

۳ـ ځینې مفسرینو کرامو د شدید باران څخه د ډېر مال صدقه او د نري باران څخه یې د لږ مال صدقه مراده کړې ده[۲]، او ځینو ترې لږ اخلاص او ډېر اخلاص مراد کړی دی[۳]. یعني: هغه صدقه

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۱۵
(۲) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۶۰
(۳) تفسیر المنار ج۲ ص۶۸

چې د الله ﷻ د رضا دپاره وي هغه په هر تقدير ګټوره ده چې لږه وي او که ډېره، په لږ اخلاص سره وي او که په ډېر.

﴿أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾﴾

[۲۶۶] ايا ستاسو کوم يو دا خوښوي چې هغه لره دې د خرماګانو او انګورو يو باغ وي چې د ونو لاندې يې ويالې بهېږي، ده لره په دې باغ کښې د هر ډول ميوجاتو څخه وي، او هغه لره زوړوالی (بوډاتوب) رسېدلی وي، او ده لره کمزوري (ضعيفان) اولادونه وي، نو نوموړي باغ ته يې تېزه برېبوړکی، ورسېږي چې په هغې کښې اور وي چې ټول باغ يې وسوزېږي؟(توره ايره شي، معلومه ده چې هيڅوک يې نه خوښوي).

په دغه ډول (وضاحت) سره الله ﷻ تاسو ته خپل احکام بيانوي چې تاسو پکښې فکر وکړئ.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: اوس د هغه چا محسوس مثال ولولئ چې هغه خپل صدقات په احسان اېښودلو او ضرر رسولو باندې د منځه وړي وي او اجرونه او ثوابونه يې د لاسه وتلي وي، هغه دا چې:

کله چې تاسو په حاصلناکه ځمکه کښې تخم وکړئ او باغ پکښې جوړ کړئ چې په هغه کښې د اوبو ويالې روانې وي په څنډو کښې يې ،نګې دنګې د خرماوو ونې کښېنول شوې وي او ځای په ځای پکښې صوفې جوړې وي او د انګورو چيلې وربانډې راپرتې وي او ځينې لا د تاکونو په شکل پکښې ولاړې وي.

په دغه باغ کښې برسېره په مېوه دارو ونو باندې چې هر ډول مروجې مېوې پکښې موجودې وي، د کروندې ځمکه هم موجوده وي چې هلته يې دانې مانې کرلې وي او هغو هم پوره حاصل نيولی وي، نژدې وي چې په نن سبا کښې مېوجات راټول کړي او نور کښتونه راورېبي: خو په عين دغه وخت کښې په نوموړي باندې تېزه برېبوړکی، وروالوزي چې اور ترې بادېږي او ټول باغ توره ايره کړي چې نه يې مېوه معلومه شي، نه حاصل او نه بل شی.

۲ـ په ټولو باندې د پاسه د باغ خاوند زوړ بوډا وي، د لاسه يې پوره نه وي چې دغه په اور سوی باغ دوباره سمسور کړي او بيا پکښې د سره ونې کښېنوي، او هم يې اولاده کمزوري او ضعيفان وي، څوک ګوډ او ړانده وي او څوک ماشومان او زنانه وي، چې د دوی هم د باغ بيا جوړول د لاسه نه کېږي. نو دوی ټول د يو پلوه باغ نه شي سمسورولی او د بل پلوه ټولو همدغه باغ ته سترګې نيولې وي چې بله وجه او د خرڅ خراجات مدرک ونه لري.

۳ـ نو ای مؤمنانو! تاسو د خانو سره فکر وکړئ، ایا ذکر شوی کیفیت د خان دپاره خوښوئ؟ معلومه ده چې جواب منفي دی، هیڅوک دغه کیفیت نه خوښوي.

نو تاسو ته په کار دي چې خپل صدقات په احسان اینبودلو او ضرر رسولو باندې خراب نه کړئ، څکه چې د قیامت په ورځ به مو د صدقاتو باغ اور واخلي او د ثواب څخه به یې محروم شئ، نه به مو وسه وي چې بېرته دنیا ته لاړ شئ او په اخلاص سره صدقات وکړئ او نه به ثوابونه لاس ته دروړلی شي. د قیامت په ورځ به هیڅ شی د اجر او ثواب په شان قدرمند نه وي څکه چې هلته همدا سړي ته په درد خوري او بس.

۴ـ اوس نو پوه شوئ چې الله ﷻ په څومره موثره توګه تاسو ته خپل احکام بیانوي ترڅو تاسو فکر وکړئ او خپل خیر او شر وسنجوئ او په خوښئ او اخلاص سره د خپلو مالونو په انفاق کښې اقدام وکړئ. که د الله ﷻ فضل او کرم په تاسو باندې نه وي نو ستاسو پوهولو دپاره به یې په دومره زیات تفصیل سره قرآن کریم نه وی نازل کړی نو د الله ﷻ د فضل شکریه ادا، کړئ او ناشکري مه کوئ.

توضیحات

۱ـ د جنت د کلمې په دوه شیانو باندې اطلاق کېږي، یو هغه ځمکه چې ګڼې ونې ورباندې ولاړې وي او بل پخپله ګڼې ونې.

نو که اوله معنی مراده شي نو په ﴿ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ کښې یې معنی داسې کېږي چې ویالې د باغ د ونو لاندې بهېږي. او که دوهمه معنی مراده شي نو بیا حذف ته حاجت نشته او معنی یې داسې کېږي چې ویالې د باغ لاندې بهېږي. خینو مفسرینو کرامو دوهمې معنی ته په دې مقام کښې ترجیح ورکړې ده[۱].

۲ـ ﴿ إِعْصَارٌ ﴾ خو اصلا په معنی د زیبښلو دی، لکه سړی چې لمدې جامې زیبښي. هغه باد ته چې په یو ځای باندې په شدت سره تاوېږي څکه "إعْصَار" وایي چې سړي ته داسې ښکاري لکه چې یوه لمده جامه زیبښل کېږي، چې په پښتو کښې د "بربورکی" په نامه یادېږي.

۳ـ ﴿ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ﴾ څخه إشارةً دا هم معلومېږي چې د پلار د نېکیو څخه چې په سوچه نیت سره صدقات کوي د هغه اولادونو ته هم ګټه رسېږي، بالمقابل د ریاکار د خیراتونو څخه نه هغه په خپله ګټه اخستلی شي او نه یې د اولادې په ښه باندې راځي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُواْ فِيهِ ۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾ ﴾

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۳۷

[۲۶۷] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د خپلو هغو غوره مالونو څخه تاسو په کسب سره ګټلي دي او د هغو (غوره) مالونو څخه چې مونږ درته د ځمکې څخه راویستلي دي، صدقات ورکړئ او ردي (غیر جید) مال ته قصد قدرې هم مه کوئ، چې د هغه څخه خیرات وکړئ (لاسي ګټه وي او که زمیني) او حال دا چې تاسو د هغه (غیر جید مال) په خپله اخستونکي نه یاست مګر هله چې په (اخستلو) کښې یې سترګې پټې کړئ.

او پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ بې پروا دی او ستایل شوی دی (نه ستاسو د خیراتونو پروا لري او نه ستاسو د حمد او ثناء).

ارتباط

پوه صدقه په درېوو څنډو باندې تمام ته رسېږي چې یو صدقه لرونکی، بل صدقه قبلوونکی او درېیم هغه مال دی چې د هغوی دواړو په منځکښې تحقق مومي.

په تېرو شوو ایتونو کښې هغه ښه صفات چې باید صدقه کوونکی یې ولري او هغه ذمیمه (بد) صفات چې باید ځان ترې وساتي په تفصیل سره بیان شوه.

اوس نو د صدقه شوي مال په متعلق ارشادات بیانېږي چې خلاصه مطلب یې په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ:

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني ای مؤمنانو! که تاسو غواړئ چې په خیراتونو باندې درته د ډېرې لوړې درجې او عوضونه درکړی شي نو علاوه په اخلاص او ایماني جذبې باندې د هغو جیدو او غوره مالونو څخه صدقه وکړئ چې هغه تاسو په خپلو لاسونو باندې ګټلي وي او یا درته په میراث باندې لاس ته درغلي وي.

برسېره په دې، د هغو مالونو څخه هم غوره او جید مالونه د صدقې دپاره تخصیص کړئ چې هغه درته مونږ د ځمکې څخه دروېستلي دي لکه مېوجات، غلې دانې، جامد معادن، مائع معادن او نور که زمونږ اراده نه وی شوې نو د ځمکې څخه به تاسو هیڅ شی نه وی ترلاسه کړی.

ستاسو د مسلمانۍ سره دا مناسبه ده چې خاص د ناغوره او ردي مال صدقه کولو ته اقلا قصد قدرې هم ونه کړئ یاتې خو لا دا چې عملا اختصاص ورکړئ چې د ردي (ناغوره) مال څخه په غیر نور مال نه خیراتوئ. البته چې ناغوره مال تاسو په لاندې صورتونو کښې ښه تشخیصولی شئ:

الف چې تاسو ته په خپل حق (دین) کښې دروراندې کړی شي ښکاره ده چې د سترګو پټولو څخه په غیر یې نه قبلوئ چې د خپل حق د څه برخې څخه ورتېر شئ.

ب که بې ارزښته مال درته څوک په تحفه کښې درکوي هم په هغه وخت کښې به یې ښه قبول کړئ چې د تحفه دروړونکي دوست خوشالي په نظر کښې ونیسئ او د مال د ارزښت څخه اغماض وکړئ او سترګې پرې پټې کړئ.

ج: په بازار کښې هم تاسو عیبجن (غیر جید) شی نه رانیسئ مګر هله چې په عیب یې سترګې پټې کړئ او یا درته ارزان درکړی شي.

۲ـ کله چې تاسو بې عزته مال وېږانده نو پوه شئ چې د همدغه بې عزته مال په صدقه کولو باندې ډېرې لوړې درجې ته نه شئ پورته کېدلی. او هم د دغه مال صدقه د ایمان او عقیدې قوي کول نه فائده کوي، او همدارنګه د ډېرو چندونو امید یې هم بې خایه دی او د حاصلناکه باغ مثال هم نه شي درلودلی.

بالآخره تاسو پوه شئ چې الله ﷻ بې پروا دی ستاسو د صدقاتو پروا نه لري او خزانې یې مالا مال ډکې دي، ذکر شوي ترغیبات یې صرف د دې دپاره تاسو ته درنازل کړه چې ستاسو پکښې ګټه او فائده ده. او هم ستایل شوی دی، نه ستاسو بدني عباداتو ته اړ دی او نه مالي عبادتونو ته.

توضیحات

۱ـ الله ﷻ په دې مقام کښې دوه ډوله مالونه ذکر کړه، یو هغه چې سړی یې په خپل کسب سره وګټي که څه هم د لاس کسب وي او یا تجارت وي او بل هغه چې د ځمکې څخه لاس ته ورشي. دا څکه چې د مال د لاس ته راوړلو دغه دواړه ډېر عمده مدرکونه دي.

او په دغو دواړو کښې بې حصر مطلب نه دی کله-کله سړي ته د میراث د لارې څخه هم مالونه لاس ته ورخي بلکې مطلب پکښې دا دی چې مسلمانانو ته په کار دي چې خپل مصارف هم د همدې دواړو لارو څخه پوره کړي او خیراتونه هم ترې ورکړي چې یوه کرهڼه ده او بل خپل کسب دی.

فرضي انفاق او که نفلي؟

۲ـ په دې مقام کښې د شان نزول د څینو روایاتو څخه فرضي صدقات او د څینو څخه نفي صدقات معلومېږي[۱]. په هر تقدیر، د احکامو په استنباط کښې خاص مورد ته نه کتل کېږي بلکې د مفهوم عموم په نظر کښې نیولی کېږي او د ایت مفهوم خو عام دی.

همدارنګه د تفسیر د څینو مشرانو د بیان څخه معلومېږي چې دلته فرضي صدقات او د څینو څخه څرګندېږي چې نفلي صدقات مراد دي. لاندې بیان ته متوجه شئ[۲]:

الف: عبد الله بن عباس رضی الله عنهما او څینې نور مشران وایي چې د ﴿ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ ﴾ معنی دا ده چې د الله ﷻ د حق په ورکړه کښې د هغسې مال صدقه کولو ته نیت مه کوئ چې هغه په خپل حق (دین) کښې د اغماض څخه په غیر نه اخلئ.

ب: البراء بن عازب رضی الله عنه وایي معنی یې دا ده چې د الله ﷻ د رضا دپاره هغه مال مه خیراتوئ چې په خپله یې اقلا په هدیه (تحفه) کښې نه قبلوئ مګر هله چې د هدیه ورکوونکي د خفګان د کبله پرې سترګې ورپټې کړئ.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۲۰؛ الدر المنثور ج۲ ص۵۸ـ ۵۹

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۲۶

مونږ ته داسې ښکاري چې دلته مطلق انفاق مراد دی چې فرضي او نفلي دواړو ته شامل دی او مفسرینو کرامو یې محض ځینې مثالونه ښودلي دي، حصر یې مطلب نه دی. برسېره په دې، د ایتونو سیاق او سباق هم په عمومیت باندې دلالت کوي.

په یاد ولرئ!

۳ـ په یاد ولرئ چې په دې مقام کښې د خطاب مخ مالدارانو ته اوښتی دی چې غوره مالونه نفقه کړئ. اما زکات ټولوونکو ته جائزه نه ده چې په جبر او زور سره د خلکو څخه په زکات کښې غوره مالونه واخلي. ځکه چې نبي کریم ﷺ معاذ ؓ ته امر کړی دی چې: «فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ»[1] د خلکو د غوره او جیدو مالونو څخه خان وساته. یعنې متوسط مالونه ترې قبول کړه.

هو! که د کوم یو مالدار ټول مال غوره (جید) وي او یا په خپله خوښه جید مال په زکات کښې ورکوي نو هغه بېله خبره ده او د نهي لاندې نه راځي.

هېر مو نه شي!

۴ـ هېر مو نه شي چې د غیر جید مال تصدق هغه وخت د ایت د حکم لاندې راځي چې د تصدق باعث د هغه مال حقارت وي او بس. او دا ځکه چې په مشتقی باندې د حکم باعث یوازې مشتق منه (مصدر) وي چې په دې ځای کښې خباثت (حقارت) دی. نو که په ضمني (غیر قصدي) توګه غیر جید مال خیرات شي باک یې نشته لکه د انګورو د یوه وږي په خیرات کښې چې ځینې غیر جیدې (تروې، وچې) دانې هم خیراتې شي.

همدارنګه هغه وخت هم د ناکاره مال خیرات د ایت د حکم لاندې نه راځي چې د سړي مال ټول غیر جید وي، غوره مال هیڅ نه لري.

لنډه دا چې نوموړی حکم هغه چا ته متوجه دی چې د ښه او بد دواړو مالونو درلودونکی وي خو د خیرات دپاره یې ناکاره مالونو ته اختصاص ورکړي او جیدو مالونو ته هیڅ ګوتې نه وروړي.

طیب او خبیث

۵ـ د تېر شوي بیان څخه څرګنده شوه چې په دې مقام کښې د طیب او خبیث څخه حلال او حرام مالونه مراد نه دي ځکه چې د حرام مال څخه انفاق کول هیڅکله د قبول درجې ته نه رسیږي. نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ»[2] یعنې: بې اودسه لمونځ نه قبلیږي او نه صدقه (قبلیږي) د حرام مال څخه. او د ایت شریف څخه خو معلومیږي چې د هغه مال څخه چې دلته د خبیث په نامه یاد شوی صدقه کول قبلیږي خو مسلمان ته مناسب نه دي چې في سبیل الله داسې مال ورکړي چې پخپله یې خوښ نه وي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۶
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۱۱۹

سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا تَيَمَّمُوا۟ ٱلْخَبِيثَ ﴾ څخه په صراحت سره معلومېږي چې د غير جيد مال څخه مطلقًا خيراتونه مه کوئ. نو د غير مناسب خبره د کوم ټکي څخه معلومه شوه؟

مونږ وايو چې: د نورو نصوصو څخه څرګندېږي چې د حقير مال څخه خيرات او صدقه منعه نه ده. لاندې څو نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَىْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ﴾ [سبأ: ۳۹] يعني: او هغه څه چې تاسو يې انفاق کوئ هر شی چې وي (لږ وي او که ډېر، جيد وي او که ناکاره) نو الله ﷻ درته خلف (عوض) درکوي.

لنډه دا چې په دې مقام کښې د ﴿ طَيِّبَٰتِ ﴾ څخه چې د "طَيِّبٌ" جمعه ده، غوره مالونه مطلب دي او د خبيث څخه ناغوره او غير جيد مال مراد دی، که د دې څخه اضافه اوږد بحث ته مو شوق کېږي نو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړئ[۱].

ب: الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُۥ ﴾ [الزلزال: ۷] يعني: نو هرڅوک چې د يوې ذرې په اندازه نيکي وکړي هم هغه به وګوري (جزا به وکړه شي).

ج: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ»[۲] يعني: ای مسلمانو ښځو! يوه ګاونډۍ دې د خپلې ګاونډۍ دپاره (هديه ورکول) حقير نه ګڼي اګر که د پسه د دوه نوکانو د منځه غوښه وي هم.

او ښکاره ده چې دغه غوښه حقيره ده مګر نبي کريم ﷺ مسلمانو ښځو ته امر کوي چې د همدغې غير جيدې غوښې په تصدق باندې هم صرفه مه کوئ.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وايي چې: په کسبي مال کښې د صدقاتو دپاره د طيب قيد اضافه کړی شو او د ﴿ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ ﴾ نازل شو، او د ځمکې په حاصلاتو کښې ورسره ذکر شوی قيد نشته خکه چې داسې نه دي ويل شوي چې: "مِنْ طَيِّبَاتِ مَا أَخْرَجْنَا لَكُمْ". نو دې کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د "طَيِّبٌ" قيد په ځمکني حاصلاتو کښې هم مراد دی چې د ايت شريف بله ټوکړه ﴿ وَلَا تَيَمَّمُوا۟ ٱلْخَبِيثَ ﴾ ورباندې دلالت کوي. يعني: د غير جيد مال صدقه کولو ته قصد مه کوئ که هغه مکسوبه مال وي او که د ځمکې د حاصلاتو څخه وي. نو د همدغه دلالت د کبله يې دوهم ځل صراحت ته حاجت پاتې نه شو.

(۱) تفسير کبير ج۷ ص۶۶؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۳۲۱؛ تفسير المنار ج۲ ص۶۱
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۳۳۱

مسئله

۸ـ څرنګه چې د ﴿ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا ﴾ کلمه مطلقه ذکره ده نو امام ابو حنیفه رحمه‌الله وربانديې استدلال کوي او وايي چې د ځمکې په ټولو حاصلاتو کښې عشر واجب دی، که څه هم هغه لږ وي او یا ډېر، میوجات وي او یا ترکاري، چې د فقهې په کتابونو(۱) کښې مفصل بیان شوی دی.

﴿ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٦٨﴾ يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ ﴾

[۲۶۸] شیطان تاسو ته د فقر وعده (خبر) درکوي او په ناکاره کارونو (بخل) باندې درته امر کوي او الله ﷻ د خپل جانب څخه هم د مغفرت وعده درکوي او هم د فضل.

او الله ﷻ پراخه دی (فضل د ده) او پوه دی (هر څه ورته معلوم دي).

[۲۶۹] چا ته یې چې اراده وشي هغه ته حکمت (باعمله علم) ورکوي او هر چا ته چې حکمت ورکړی شي نو هغه ته زښت ډېر لوی خیر ورکړی شو. او پند نه اخلي مګر د عقلونو خاوندان (چې په دوارو وعدو کښې فکر وکړي چې کومه یې په ګټه ده).

[۲۷۰] او هغه څه چې تاسو نفقه کوئ هر څومره نفقه چې وي او (هغه څه) چې تاسو نذر کوئ په هر ډول نذر چې وي، نو یقیناً الله ﷻ وربانديې پوهېږي (مطابقه جزا به درکړي).

او ظالمانو لره هیڅ نصرت کوونکی نشته (چې د الله ﷻ د نیونې څخه یې خلاص کړي).

ارتباط

په مخکښې ایت کښې الله ﷻ مؤمنانو ته امر کړی وه چې د خپلو غوره او جیدو مالونو څخه انفاق وکړئ، په دې ایتونو کښې هغه چا ته اشاره شوې ده کوم چې مؤمنان د جیدو مالونو تصدق ته نه پرېږدي.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: شیطان ستاسو دښمن دی هغه شي ته مو نه پرېږدي چې په هغه سره تاسو د الله ﷻ رضا حاصله کړئ، د همدې کبله مو اول د صدقاتو څخه منعه کوي او که هلته یې دربانديې زور ونه رسېده نو بیا مو د جیدو مالونو د خیراتولو څخه را ایساروي، چې مالونه درسره وساتئ د لاسه یې

(۱) روح المعاني ج۳ ص۴۰

مه وباسئ زه درته په کلکه وایم چې فقیران به شئ او بل ته به مو لاسونه نیولي وي نو ښه دا ده چې خپل فامیل هم لږ څه کم کړئ او لورګانې ژوندۍ ښخې کړئ خو خانونه ترې خلاص کړئ.

کله مو چې د شیطان ذکر شوی پېشنهاد منظور کړ او شیطان پوه شو چې تاسو یې د تاثیر لاندې راغلي یاست، نو بیا درته په ناکاره او بې شرمه کارونو باندې امر کوي، چې په دې مال باندې فسق او فجور وکړئ. په سود باندې یې ورکړئ. او په ناجائزو کارونو کښې یې مصرف کړئ. په دې وخت کښې پخوانۍ نصیحت (چې فقیران به شئ) هېروي او درته وایي چې پام کوئ د فقیرۍ څخه ونه دار شئ او مطلب یې دا وي چې پرېږده چې فقیران شي ترڅو یې بیا د خیرات في سبیل الله خیال په دماغ کښې ونه ګرځي.

لنډه دا چې په دې وخت کښې درته د وراندېز په عوض امر کوي چې په ښکو کارونو کښې بخیلان شئ او په بدو کارونو کښې سخیان.

۲ـ بالمقابل الله ﷻ تاسو ته د خپل خان د پلوه د مغفرت وعده درکوي چې په صدقاتو باندې به مو ګناهونه وبښل شي او هم به درباندې الله ﷻ فضل وکړي په دنیا او آخرت کښې به د خیراتونو عوضونه درکړي او درته وايي چې د فقیرۍ څخه مه دارېږئ د الله ﷻ فضل پراخه دی د فقیرۍ مخه به مو ونیسي. او پوه دی، ستاسو وړاندې او ېېرته ورته ټول معلوم دي او د اړتیاوو څخه مو خبر دی.

۳ـ د الله ﷻ وعده ځکه ریښتیا ده چې هم یې قدرت کامل دی او هم یې علم پوره دی، څه چې وایي هغه کولی شي. او د شیطان خبره ځکه دروغ ده چې نه یې څه د لاسه کېږي ستاسو په شان یو مخلوق دی او نه یې پوهه شته چې ستاسو په آینده باندې علم ولري.

د الله ﷻ د پراخه علم او پراخه قدرت یوه نښه دا ده چې برسېره په مالي ورکړې باندې ثبات او استقامت او باعمله علم هم چا ته یې چې خوښه شي ورکوي. د مال ورکړه خو لا دومره مهمه نه ده چا ته چې استقامت او کلک ایمان وربښزو کړی شي چې شیطان یې نه شي غولولی نو بې شکه چې هغه ته زښته ډېره ښېګڼه ورکړه شوه.

۴ـ نو خیراتونه کوئ او خپله عقیده لا پسې تثبیت او قوي کړئ ترڅو د حکمت دپاره لائق وګرځئ، د عقل د خاوندانو څخه پرته نور څوک د دغو احکامو څخه پند نه شي اخستلی، او دا ځکه چې دروغ او ریښتیا او هم دوست او دښمن په عقل سره یو تر بله جدا کېږي او بس، بلکې دغسې عقل هم د حکمت یوه برخه ده چې هر چا ته په نصیب شي هغه حکیم ګڼل کېږي.

۵ـ د ټولو په آخر کښې واورئ چې دا یو نصیحت وه چې تاسو ته درکړی شو نور نو تاسو مختار یاست هر څه چې کوئ الله ﷻ درباندې پوه دی د خپل عمل په مطابق به جزا درکړی شي، که ښک مصرف کوئ او که بد، د شیطان په لار کښې یې لګوئ او که د الله ﷻ په لار کښې، جائز نذر ږدئ او که ناجائز. خو په دې هم پوه شئ چې ظالمانو لره څه کومکیان نشته چې د الله ﷻ څخه یې خلاص کړي او د خپلو کړو وړو په جزا ونه رسول شي. هغه ظالمان چې یا ریاکاري کوي یا په فقیرانو باندې احسان ږدي یا ورته ضرر رسوي یا د غیر جید مال څخه نفقه کوي او جید خان ته پرېږدي یا بالکل خیرات نه کوي یا خپل مالونه په معاصیو کښې لګوي او بالآخره یا خپل نذرونه نه پوره کوي.

توضیحات

۱_ "وَعَدَ یَعِدُ" ډېر مصدرونه لري، لکه: وَعْدًا، عِدَةً، مِیْعَادًا، وَعِیْدًا؛ مګر "وَعْدًا" په اکثره وختونو کښې په خیر کښې استعمالېږي او "وَعِیْدًا" یوازې په شر کښې استعمال مومي او بس[۱].
مونږ ته داسې ښکاري چې ﴿ یَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ ﴾ د "وَعِید" څخه اشتقاق موندلی دی او ﴿ یَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ ﴾ د "وَعْدًا" څخه مشتق شوی دی، ځکه چې فقر شر دی او مغفرت خیر دی.

سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: "وَعْد" یا "وَعِید" خو هغه خبر ته وایي چې هغه د وعده کوونکي د قدرت لاندې وي لکه د الله ﷻ چې مغفرت د قدرت لاندې دی، اما فقر خو د شیطان په وسه کښې نشته نو په کار وه چې: "الشَّیْطَانُ یُخْبِرُکُمْ بِالْفَقْرِ" ویل شوی وی چې شیطان تاسو ته د فقیر کېدلو خبر درکوي، نه داسې چې شیطان تاسو ته د فقیر کېدلو وعده درکوي؟
مونږ وایو چې: د غولونې دپاره شیطان خپله خبره په داسې قوت سره اداء کوي لکه چې یقینًا ورته معلومه وي، او واقع کېدل یې د ده په لاس کښې وي. نو الله ﷻ مونږ ته د هغه خبره همغسې حکایت کړه لکه څنګه یې چې خپلو تابعانو ته وړاندې کوي که څه هم واقعیت نه لري.

فَحشَاء څه ته وایي؟

۲_ هر هغه فعل یا قول چې د هغه قُبحه ډېره لویه او شدیده وي د "فَحْشَاء" په نامه یادېږي[۲] لکه بې شرمه کارونه، پوچې او کفري خبرې. په دې مقام کښې چې ځینو مفسرینو کرامو[۳] په بخل سره تفسیر کړی دی امکان لري چې د هغوی به حصر مطلب نه وي او محض یو مصداق به یې ښودلی وي.

د حکمت معنی

۳_ مفسرینو کرامو د حکمت دپاره زښتې ډېرې معناوې کړې دي لکه باعمله علم، د الله ﷻ څخه وېره، قرآن کریم، احادیث او داسې نورې چې ټولې نهه ویشتو ته رسېږي[۴]. مګر هغه مفهوم چې په ټولو معناوو کښې مشترک ښکاري هغه ثبات او استقامت دی چې چا ته یې الله ﷻ ورپېرزو کړي نو په هر کار کښې ثابت قدم وي او د سمې مستقیمې لارې څخه یې څوک نه شي ښویولی.
یوه ورځې سفیان ؓ د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: یا رسول الله! داسې یو پوخ او قوي شی په اسلام کښې رازده کړه چې د بل چا څخه سوال ونه کړم. نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ»[۵] یعني: ووایه چې په الله ﷻ مې ایمان راوړی دی او بیا پرې کلک اوسه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۶۳؛ روح المعاني ج۳ ص۴۰
(۲) مفردات الراغب ص۳۸۷
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۵۹
(۴) زاد المسیر ج۱ ص۲۸۰؛ البحر المحیط ج۲ ص۳۲۰؛ الدر المنثور ج۲ ص۶۶
(۵) صحیح مسلم ج۱ ص۴۸

او هم الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته امر کوي چې: ﴿ فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ﴾ [هود: ۱۱۲] یعني: نو لکه څنګه چې درته امر شوی دی هماغسې مستقیم اوسه او هغه څوک (دې هم مستقیم اوسېږي) چې ستا سره یې الله ﷻ ته رجوع کړې ده (ایمان یې راوړی دی) او سرکشي مه کوئ.

نو هر شی چې په ثبات او استقامت کښې دخل لري هغه ټول د حکمت په معنی کښې داخل ښکاري. او په دې مقام کښې همدغه معنی ډېره په زړه پورې ده؛ ځکه چې د حکمت خاوند د شیطان په دروغجنو وعدو نه غولېږي.

یادونه

۴ـ الله ﷻ د دنیا ټول سازوسامان (سره د دې طول او عرضه) د لږ متاع په نامه یاد کړي دي چې د څه لنډې تنګې استفادې څخه په غیر بل شی نه دی ﴿ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ ﴾ [النساء: ۷۷] یعني: ورته ووایه چې د دنیا متاع ډېره لږه ده. خو بالمقابل یې حکمت ته خیر کثیر ویلی دی؛ نو اوس سړی پوهېږي چې حکمت څومره لوی نعمت دی الله ﷻ مو دې په نصیب کړي.

نذر څه ته وایي؟

۵ـ "نذر" دې ته وایي چې په خپل ځان باندې داسې یو شی واجب کړې چې هغه ورباندې واجب نه وي[۱]. خو دغه وجوب کله مطلق وي چې مشروط یې نه کړي لکه چې څوک په خپل ځان باندې لمونځ یا روژه او یا بل کوم عبادت نذر کړي، او کله په یو شرط پورې تړل شوی وي لکه چې څوک ووایي: که فلانی مطلب مې ترسره شو او یا د فلاني آفت څخه بچ شوم نو دومره-دومره خیرات به وکړم: نو که شرط موجود شي وفا پرې واجبه ده. خو دومره ده چې په الله ﷻ فشار نه شي راوړی چې څوک خیال وکړي چې د نذر د برکته مې مطلب ترسره شو، ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَنْذِرُوا فَإِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ»[۲] یعني: نذرونه مه ردئ، ځکه چې نذر د لیکل شوو مقدراتو د هیڅ شي مخه نه شي نیولی خو فقط د بخیلانو د مالونو څخه ورباندې خیرات راویستل کېږي (د همدې کبله یې تصدق په شرط پورې تړلی دی).

هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي چې کله-کله په عباداتو باندې هم د نذرونو اطلاق کېږي. ځکه چې د "نذر" په تعریف کښې د الله ﷻ سره کلکه معاهده پرته ده او ایمان راوړل هم د الله ﷻ سره یوه معاهده ده؛ چې احکامو ته به یې پوره اطاعت کوم. همدې معنی ته الله ﷻ اشاره کوي چې د جنتیانو په صفاتو کښې فرمایي: ﴿ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا ﴾ [الدهر: ۷] یعني: دوی په خپلو نذرونو باندې وفا کوي او د داسې ورځې څخه دارېږي چې د هغې شر پلن دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۰۸

(۲) سنن النسائي ج ۲ ص ۱۴۵

د نذر احکام او مسائل

۷ـ د نذر په متعلق فقهي کتابونو پوره بیان کړی دی، دلته رانقلولو ته یې حاجت نه ګورو، مګر د دې دپاره چې دا مقام هم پکښې څه برخه ولري لاندې څو مطالب لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف: "نذر" عبادت دی. نو څرنګه چې د الله ﷻ څخه په غیر بل چا ته عبادت جائز نه دی نو بل چا ته نذر ایښودل هم جائز نه دي. که څوک دغسې ناجائز کار وکړي او چا ته په خپل خان باندې بدني عبادت نذر کړي، نو په دې کښې خو شک نشته چې سړی وربانده کافر کېږي چې کوم زیارت ته سجده وکړي.

اما په مالي عبادت کښې هم زیات علماء کرام وایي چې سړی وربانده کفر ته رسېږي، او په دې کښې خو د هیڅ اختلاف نشته چې لويه ګناه خو ده. نو که څوک په خان باندې د فلاني بابا او یا فلاني زیارت دپاره اوزګوري او یا بل شی نذر کړي، نو د خلاصون لار یې دا ده چې توبه دې وباسي او په خپل ایمان باندې دې تجدید النظر وکړي.

ب: که څوک د الله ﷻ په نامه په خان باندې څه عبادت نذر کړي او ثواب یې چاته وبښي په دې کښې څه خبره نشته، روا کار دی.

ج: که په خان باندې داسې عبادت نذر کړي چې د لاسه یې کېږي په هغه باندې وفاء کول واجب دي. هو! که داسې عبادت وي چې هغه ته یې وسه نه کېږي د خپل نذر څخه په دې خلاصېږي چې د یوه قسم کفاره ورکړي. نبي کريم ﷺ په یو اورده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُطِقْهُ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا أَطَاقَهُ فَلْيَفِ بِهِ»[۱] یعني: څوک چې داسې نذر کېږدي چې د وسې یې پوره نه وي نو کفاره یې د یمین کفاره ده، او څوک چې داسې نذر کېږدي چې وسه یې ورته کېږي نو په هغه دې وفا وکړي.

د: او که داسې عبادت چا نذر کړ چې په څه برخه یې وسه کېږي او په څه برخه یې وسه نه کېږي نو په خپله وسه دې وفا وکړي او د بې وسې برخې څخه دې د یمین کفاره ورکړي.

او دا خکه چې نبي کريم ﷺ ته یو سړی راغی او ورته یې وویلې چې: یا رسول الله! زما خور په خان باندې نذر ایښی دی چې په پیاده (په پښو) باندې حج وکړي. نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمایل چې: «إِنَّ اللهَ لَا يَصْنَعُ بِشَقَاءِ أُخْتِكَ شَيْئًا فَلْتَحُجَّ رَاكِبَةً وَلْتُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهَا»[۲] یعني: په یقین سره الله ﷻ ستا د خور په مشقت باندې څه شی نه کوي، نو سوره دې حج وکړي او د خپل یمین کفاره دې ورکړي.

هـ: که څوک په خان باندې ګناه نذر کړي مثلاً چې د فلاني سره به صِلَةُ الرَّحِم قطعه کړم نو په دې کښې هم د یمین په کفاره باندې خلاصېږي، خپلولي دې ورسره نه پرېکوي. نبي کريم ﷺ فرمایي: «لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةٍ وَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ»[۳] یعني: په ګناه کښې نذر نشته او کفاره یې د یمین کفاره ده.

---

(۱) سنن ابن ماجه ج۱ ص۱۵۴
(۲) سنن ابي داؤد ج۲ ص۱۱۲
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۷۹

سوال جواب

که څوک وايي چې: د غیر الله په نذر باندې کفاره نشته حال دا چې هغه هم ګناه ده او لا لویه ګناه یا کفر دی ـلکه چې د "الف" په توضیح کښې مخکې بیان شو۔ نو باید چې که څوک په خان باندې ګناه نذر کړي په هغه دې هم د یمین کفاره واجبه نه شي؟

مونږ وایو چې: په غیر الله نذر کښې نذر اېښودل د ببخه څخه باطل دي او د کفر خبره ده، اما په نذر بالمعصیة کښې خو اصل صحت لري چې د الله ﷻ دپاره دی خو خطا یې پکښې خکه عارضې راغله چې د ګناه څخه یې عبادت جوړ کړ.

د دې مثال کتب مې د منطقیانو مقوله ده چې هغوی وايي چې: يو د محال شي فرضول (فرض المحال) دي او بل هغه فرضول دي کوم چې پخپله فرضول محال (الفرض المحال) دي؛ نو دلته د دواړو مسئلو څخه داسې عبارتونه جوړوو چې: "نذرُ المَعْصِيَة، النَّذرُ المَعْصِيَة" اول په اضافت سره د "ه" توضیح سره تطبیق مومي او دوهم په توصیف سره د "الف" توضیح سره سمون خوري.

﴿ إِن تُبْدُوا۟ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾ ﴾

[۲۷۱] که تاسو خیراتونه ښکاره ورکړئ نو دا (خیراتونه) مو ډېر ښه دي، او که پټ یې کړئ او فقیرانو ته یې ورکړئ نو دا (خیرات هم) درته ډېر ښه دی. او (په دواړو تقدیرونو باندې به مو خیراتونه) د څه ګناهونو دپاره کفاره جوړ شي. او الله ﷻ په هر شي باندې خبردار دی (پټ او ښکاره ورته فرق نه لري).

شان نزول او ارتباط

کله چې تېر شوي ایت شریف ﴿ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ ﴾ الآیة نازل شو نو صحابه وو کرامو ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! پټ خیراتونه افضل دي او که ښکاره؟، نو دغه ایت شریف نازل شو[۱] او د هغه ایت اجمال یې رفعه کړ.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: الله ﷻ ته هر څه ښکاره دي دا تاسو یاست چې پټ او ښکاره درته تفاوت لري په خینو وختونو کښې درته د خیرات پټ ورکول ګټه لري او په خینو کښې درته ښکاره ورکول واره دار وي.

نو که خیراتونه په ډاګه فقیرانو ته ورکړئ دا هم ښه کار دی او که پټ یې ورکړئ او د فقیرانو په پېژاندنه کښې خطا نه شئ نو دا هم درته خیر او بهتر کار دی. خو په دواړو صورتونو د خیراتونو

(۱) روح المعاني ج۳ ص۴۳؛ البحر المحیط ج۲ ص۳۲۳

په ورکړه باندې (چې د الله ﷻ د رضا دپاره وي) ستاسو د ګناهونو خینې برخې د منځه ځي او درته عفوه کېږي.

٢_ نو هیڅ تشویش مه کوئ، هلته به درته تشویش په کار وی چې په یو ډول باندې مو ګناهونه عفوه کېدلی او په بل ډول نه عفوه کېدلی او یا هله چې الله ﷻ ته پټ او ښکاره فرق درلودی هغه ﷻ خو ستاسو په ټولو اعمالو باندې خبردار دی او هیڅ شی یې د علم څخه نه شي وتلی.

توضیحات

١_ په دې کښې څه شک نشته د صدقاتو په ښکاره ورکولو کښې خینې فوائد شته چې هغه یې په پټ ورکولو کښې نشته او په پټ ورکولو کښې یې خینې ګټې نغښتې دي چې هغه په ښکاره ورکولو کښې نه لیدل کېږي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

د ښکاره خیرات ورکولو ګټې

٢_ د ښکاره خیرات ورکولو ګټې دا دي:

الف: په ښکاره کولو باندې فقیران ټول خبرېږي چې فلانی سړی خیرات ورکوي، نو هر یو فقیر کوښښ کوي چې خان ور ورسوي او ټول فقیران ترې استفاده کولی شي.

ب: کله چې څوک ښکاره خیرات ورکړي نو په بخل باندې یې څوک نه شي تورن کولی چې فلانی سړی غني دی او خیرات نه ورکوي، نو مالدار د تهمت څخه خلاصېږي او نور خلک یې د غیبت څخه.

ج: کله چې خلک وګوري چې فلانی مالدار خیرات کوي نو نور غنیان هم خیرات کولو ته تشویق کېږي، امکان لري چې هغوی وریسې اقتداء وکړي. او داسې نورې ګټې لري.

د صدقاتو د پټ ورکولو فوائد

٣_ د صدقاتو پټ ورکولو خینې ګټې دا دي:

الف: د صدقاتو په پټ ورکولو کښې د ریاکارۍ خطر نشته او نه پرې بل څوک د ریاکار ګومان کولی شي.

ب: په فقیرانو باندې هم پرده اچولی کېږي، څوک ورته د خیرات خور لقب نه شي ورکولی.

ج: د فقیرانو خوشاله ساتل، چې هر یو دا ګومان کوي چې یوازې ماته یې خیرات راکړی او بس. او د دې څخه په امن کرځي چې فلاني ته یې ډېر ورکړي او ماته لږ، او یا فلانی دومره مستحق نه وه لکه چې زه مستحق یم، او داسې نورې.

یادونه

٤_ د احادیثو په رڼا کښې داسې ښکاري چې په دواړو جانبو کښې احادیث روایت کړی شوي دي، اما د خیرات په پټه ورکولو کښې احادیث ډېر دي. لاندې د دواړو جانبو څو مثالونه ولولئ:

د خیرات ښکاره ورکولو اړونده احادیث

الف: یوه سړي نبي کریم ﷺ ته یوه ناقه مخطومه (اوښه چې تېر سري پکښې پروت وه او سورېدلو ته اماده وه) وروستله او ورته یې وویلې چې ای د الله ﷻ پیغمبره! دا د الله ﷻ په لار کښې شوه. نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «لك بها يوم القيامة سبع مائة ناقة»[۱] یعني: تالره په همدې اوښه باندې د قیامت په ورځ اوه سوه اوښې دي. یعنې د اوه سوه اوښانو اجر به الله ﷻ درکړي. دا خیرات خو په ډاګه وه (اوښ خو په پټه نه وهل کېږي) خو اجر او ثواب یې د کاملې صدقې ونښودل شو.

ب: د تبوک د غزا په تجهیزاتو کښې په عثمان ﷺ او عبدالرحمن بن عوف ﷺ باندې نبي کریم ﷺ آفرین وویلې او د غټو اجرونو بشارتونه یې ورکړه، سره د دې چې د هغوی دواړو صداقات بالکل په ډاګه وه حتی چې د یهودانو څخه هم پټ نه وه، چې د [التوبة:۷۹] ایت پکښې نازل شو.

د خیرات پټ ورکولو احادیث

الف: نبي کریم ﷺ فرمايي چې: «صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ»[۲] یعني: په پټه صدقه ورکول د رب العالمین ﷻ د غضب (اور) مړ کوي.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې هغه څوک هم د عرش العظیم د سیورې لاندې ښودلی دی چې: «تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ»[۳] په دومره پټه باندې خیرات ورکړي چې چپ لاس یې په هغه خیرات باندې پوه نه شي کوم یې چې ښي لاس ورکړی وي. یعنې په بې اندازې پټه توګه یې ورکړي. په دې اړوند نور هم ډېر احادیث شته.

د پټ او ښکاره په هکله د قرآن فیصله

۵ـ په همدې موضوع کښې د مثال په توګه دوه ایتونه ولولئ: هغه دا چې:

الف: راتلونکی د [البقرة ۲۷۴] ایت د صدقاتو پټ او ښکاره ورکوونکو دواړو ته یو برابر د اجرونو او ثوابونو وعدې ورکړې دي.

ب: دغه ایت شریف چې اوس د بحث لاندې دی هم په دواړو (د صدقاتو پټ او ښکاره ورکوونکو) باندې آفرین وایي، خو د یوه په باره کښې د ﴿ فَنِعِمَّا هِيَ ﴾ کلمه او د بل په باره کښې ﴿ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ کلمه استعمالوي.

سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې دغه ایت چې اوس د بحث لاندې دی پټ خیرات ورکولو ته ترجیح ورکوي ځکه چې په دې شق کښې یې د ﴿ خَيْرٌ ﴾ کلمه استعماله کړې ده، او د "خَيْرٌ" کلمه خو اسم تفضیل

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۷

(۲) المعجم الصغير ج۲ ص۲۰۵؛ شعب الإيمان للبيهقي ج۳ ص۲۴۴

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۱

دی او مفضل علیه یې ښکاره ورکړه ده ځکه چې هغه یې په مقابله کښې واقع ده. نو معنی یې داسې کېږي چې: دا د هغه څخه بهتره ده.

مونږ وایو چې: د "خَيْرٌ" کلمه لکه څنګه چې د اسم تفضيل په حیث استعمالېږي همدارنګه کله پکښې د تفضیلیت د معنی څخه صرف نظر کېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ [البقرة: ۱۱۰] یعني: او هغه شی چې تاسو یې د خپلو خانو دپاره وړاندې ولېږلی هر څه خیر چې وي نو د الله ﷻ په نزد به یې ومومئ.

او که د تفضیلیت معنی پکښې واخستله شي نو هلته هم احتمال لري چې معنی یې داسې شي چې د خیراتونو پټ ورکول ﴿ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ تاسو ته بهتر دی چې د ریاکارۍ د تهمت څخه پکښې خلاصون مومئ. اما ښکاره ورکول هم بهتر دي خو د نورو غنیانو دپاره، چې تاسو پسې اقتداء وکړي او خیراتونه ورکړي.

د علماؤ خوښونه

۷ـ څرنګه چې په دواړو خواوو کښې د افضلیت دپاره هم عقلي دلایل شته او هم نقلي لکه چې بیان شوه، نو خینو علماء کرامو د صدقاتو مطلقًا پټ ورکول خوښ کړي دي فرضي صدقه وي او که نفلي. او خینو نورو په فرضي صدقاتو کښې ښکاره ورکول غوره ګڼلي دي او په نفلي خیراتونو کښې ورته پټ ورکول بهتر ښکاري، همدا د جمهورو علماء کرامو نظر دی[۱].

دوی د یو پلوه مالي عبادت په بدني عبادت باندې قیاسوي او ښکاره ده چې نفلي لمونځونه په کور کښې بهتر دي د بېرون څخه د همدې کبله انفرادي اداء کېږي او جمع پکښې سنت نه ده، او د بله پلوه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) په تفسیر باندې استدلال کوي چې حاصل یې دا دی: الله ﷻ په نفلي صدقاتو کښې پټه صدقه په ښکاره باندې اویا چنده بهتره ګرځولې ده او په فرضي صدقاتو کښې یې ښکاره صدقه په پټه باندې پنځه ویشت چنده افضله کړې ده[۲].

تحقیقي خبره

۸ـ مګر تحقیقي خبره دا ده چې د صدقاتو پټ یا ښکاره ورکول، فرضي وي او که نفلي د ورکوونکو او قبلوونکو د حالاتو په تفاوت سره فرق پیدا کوي، مثلا:

خینو ضعیف الاراده خلکو ته یې پټ ورکول بهتر دي چې ـالله دې نه کړيـ په ریاکارۍ مبتلا نه شي، خپل خان به اداره نه شي کړی.

او خینو قوي الاراده خلکو ته یې ښکاره ورکول غوره دي چې د یو پلوه به د صدقاتو اجر وګټي او د بله پلوه به د نورو مؤمنانو دپاره امام جوړ شي، الله ﷻ د کلکو مؤمنانو د خولې څخه

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۶۰

(۲) الدر المنثور ج۲ ص۷۷؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۹۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۲۲

فرمایلي دي: ﴿ وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴾ [الفرقان ۷۴] یعني: او مونږ د متقانو دپاره مقتدا جوړ کړې (ای ربه!)

همدارنګه په فقیرانو کښې هم ډېر تفاوت شته ځینې به خیرات اخستلو شرمیږي او د ځینو وریاندې چرت هم نه خرابیږي. ځینې د خیرات ورکولو خای ته رهنما غواړي او ځینې یې پخپله درک پیدا کولی شي.

هر خیرات ورکوونکی چې د ورکړې په وخت کښې د شریعت په رڼا کښې فکر وکړي نو پوهیږي چې په موجوده وخت کښې یې ښکاره ورکړه بهتره ده او که پټه.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې د پټ ورکولو سره یې ﴿ وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ ﴾ تذکره زیاته کړه او د ښکاره ورکړې سره یې زیاته نه کړه، سره د دې چې په دواړو صورتونو کښې بهتره صدقه هغه ده چې ډېرو محتاجانو ته ورکړه شي.

مونږ وایو چې دا د دې کبله چې په پټ ورکولو کښې وېره شته چې غني سړی په ځان باندې د فقیر نوم کېږدي او صدقه ترلاسه کړي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږد حدیث کښې د یوه سړي قیصه بیان کړې ده چې یوه شپه یې د ناآشنائي د کبله غله ته صدقه ورکړه، بله شپه یې فاحشې ښځې ته او بله شپه یې غني سړي ته[۱].

دا ځکه چې څوک چا ته څه شی پټ ورکوي نو هغه بیا چون او چرا نه کوي ترڅو ورباندې خلک خبر نه شي نو الله ﷻ لطف وکړ چې په دې صورت کښې د فقیرانو تشخیص ته ښه متوجه شي:

﴿ لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ ﴾

[۲۷۲] (ای پیغمبره!) په تا باندې د دوی هدایت (مطلب ته رسول) نشته (ستا کار محض ارشاد او تبلیغ دی) مګر د الله ﷻ چې چا ته اراده وشي هدایت ورته کوي (مطلب ته یې رسوي او توفیق ورکوي)، او هغه څه چې تاسو خیراتوئ د هر خیر (مال) ځکه چې وي نو هغه ستاسو د خپلو ځانونو دپاره دی (ولې به مو د ځانو دپاره نه وي چې). او تاسو د بل هیڅ مطلب دپاره صدقه نه کوئ مګر د الله ﷻ د رضا دپاره. او تاسو چې هر شی صدقه کړئ هر یو خیر چې وي نو (اجرونه) به یې پوره درکړی شي او په تاسو باندې به هیڅ تېری ونه کړی شي (چې اجرونه مو ناقص کړی شي، بلکې څو چنده اضافه به درکړی شي).

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۱

ارتباط

د صدقاتو په بحث کښې الله ﷻ د صدقه ورکوونکو بحث پسې د خپله صدقې بیان نازل کړ، اوس دغه دی د صدقه اخستونکو بحث پیل کېږي. نو لکه څنګه چې خیراتونه د صدقه ورکوونکي او اخستونکي په منځکښې واقع کېږي همدارنګه د صدقې بیان هم د هغوی دواړو د بیان په منځکښې ذکر کړی شو ترڅو بیانونه او واقعیتونه دواړه سره سمون وخوري.

شان نزول

د دې ایت شریف په شان نزول کښې څو مختلف روایات شته[1]، خو د ټولو روایتونو مشترک مضمون دا دی چې په هغه وخت کښې خیراتونه د مسلمانانو څخه په غیر بل چا ته نه ورکول کېده که څه هم هغه به د سرې د خپلوانو څخه وه. شاید په دې کښې به یوه وجه دا وه چې ګوندې کافران د مالونو په تمه باندې اسلام ته داخل شي. او بل به دا وه چې د هغه وخت مسلمانانو د خپلو اسلامي ورونو څخه پرته په بل چا پېرزوینه نه درلوده.

په هر تقدیر، مونږ ته داسې ښکاري چې دا ایت شریف د نبي کریم ﷺ د تسلي دپاره نازل شوی دی څکه چې په تېرو شوو ایتونو کښې الله ﷻ د صدقاتو په باره کښې د اندازې څخه وتلی بلیغ بیان وکړ او درې ځلور تشبیهات یې پکښې شرحه کړي دي او د ترهیب د امله یې څو وعیدات نازل کړه. امکان لري چې د نبي کریم ﷺ مبارک زړه غوښتي وي چې اوس نو باید چې ټول خلک راباندې ایمان راوړي او هم هیڅ یو مسلمان باید د شرعي انفاق څخه تخلف ونه کړي. مګر د ایت شریف د مضمون څخه معلومېږي چې ذکر شوي دواړه مطلبه (د نبي کریم ﷺ تسلي کول او کافرانو ته د صدقاتو ورکول) په نظر کښې نیولي شوي دي چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! په تاباندې خو په دې معنی باندې د خلکو لارښوونه نشته چې ته به دوی ضرور مطلب ته رسوې او تکویني هدایت به ورته کوې. دا خو ستا کار نه دی دا ډول هدایت خو صرف د الله ﷻ کار دی چې چا ته یې اراده وشي هغه ته توفیق ورکوي او مطلب ته یې رسوي، ستا په غاړه خو یوازې ارشادي او تشریعي هدایت دی او دا دې په تمامه معنی باندې اداء کړی دی، څه قصور دې پکښې نه دی کړی نو د غمژن کېدلو دپاره دې هیڅ وجه نشته.

۲ـ او تاسو چې هرڅومره مال خیرات کړئ په حقیقت کښې یې د خانو دپاره خیراتوئ ترڅو درته الله ﷻ اجرونه درکړي. او دا مراد مو په هر صورت کښې پوره کېږي چې کافر ته یې ورکړئ او که مسلمان ته. کافر ته ورکړه خو ستاسې د دې دپاره نه ده چې کفر تقویه شي بلکې د دې دپاره ده چې خپل خان ته ګټه ورسوئ. امکان لري چې په خیرات ورکولو سره د کافرانو زړونه اسلام ته ورمات شي او مسلمانان شي. د خلکو په لارښوونه کښې ترغیب د ترهیب څخه زیات موثر واقع کېږي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۵۸؛ البحر المحیط ج۲ ص۳۲۶؛ التفسیر الکبیر ج۷ ص۸۲

۳ـ برسبېره په دې، ای پیغمبره! ستا ارشادات خو بې اثره نه دي، ته نه ګورې چې ستا په تابعانو کښې یې څومره تاثیر کړی دی چې تاسو ټول صرف د الله ﷻ د رضا دپاره خپل مالونه خیرات کوئ، د ریا کارۍ، احسان اېښودلو او د فقیرانو د ضرر رسونې څخه ځانونه ساتئ؛ دا خو ستا د تبلیغ نتیجه ده چې یو لوی ټولګی به د قیامت د ورځې پورې ستا په قدم باندې قدم ږدي او تخلف به نه کوي کله چې تاسو د الله ﷻ احکامو ته منقاد شوئ. نو برسبېره په دې چې الله ﷻ به درڅخه راضي شي. د هر یو خیرات عوضونه اوبدلې به هم پوره درکړی شي او هېڅ نقصان به پکښې واقع نه شي چې تاسو مظلومان جوړ شئ، که څه هم تاسو د خپلو خیراتونو څه برخه کافرانو ته ورکړې وي.

توضیحات

۱ـ په انسان کښې دوه خاصیتونه شته چې که خپل سر ته خوشې شي انسان ته زښت ډېر زیان رسوي چې یو حرص دی او بل شهرت طلبي، خو الله ﷻ په متعددو اسالیبو سره دواړه خاصیتونه رد کړه، چې یو اسلوب یې دغه دی چې اوس پکښې بحث کوو.

"وَجْهِ الله" څه معنی؟

۲ـ په ﴿وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ ٱللَّهِ﴾ کښې د ﴿وَجۡهِ ٱللَّهِ﴾ کلمات مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۱۱۲ـ۱۱۵] ایتونو لاندې توضیح کړي دي چې دا د الله ﷻ د اقدس ذات څخه کنایي دی خو په دې مقام کښې د ﴿وَجۡهِ ٱللَّهِ﴾ څخه "مَرْضَاةِ الله" د الله ﷻ رضامندي مطلب ده، ځکه چې:

الف: دلته ورسره د ﴿ٱبۡتِغَآءَ﴾ کلمه نازله شوې ده چې په پلټنې او غوښتنې باندې دلالت کوي، او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ اقدس ذات من حیث ذات پلټنه او غوښتنه څه معنی نه لري بلکې په انفاق سره د مؤمنانو د الله ﷻ رضامندي حاصلول هدف دي.

ب: په همدغه مطلب باندې لږ وړاندې صراحت نازل شوی دی چې ﴿وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ﴾ [البقرة: ۲۶۵] یعنې: او د هغو کسانو مثال کوم چې خپل مالونه د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره مصرفوي.

ج: شاید چې په دې مقام کښې به د "مَرْضَاةِ الله" څخه په ﴿وَجۡهِ ٱللَّهِ﴾ سره د دې دپاره تعبیر نازل شوی وي ترڅو اشتراک نفي کړی شي او د ریاکارۍ جرړې ووېستلی شي، ځکه چې دا کلمه په اختصاص او په عدم اشتراک باندې دلالت کوي[۱]، نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای مؤمنانو! تاسو خپل مالونه د بل هېڅ شي دپاره نه مصرفوئ مګر فقط او فقط د الله ﷻ د رضامندۍ د تحصیل دپاره او بس.

د: د "وَجْه" کلمې سره په استعمال کښې اختصاص او عدم اشتراک ملګری دی لکه چې الله ﷻ د

(۱) روح المعاني ج۳ ص۸۳

یوسف ﷺ د وروڼو د خولې څخه وايي چې: ﴿ اَقْتُلُوا یُوسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا یَّخْلُ لَکُمْ وَجْهُ اَبِیْکُمْ ﴾ [یوسف: ۹] یعني: یوسف ﷺ ووژنئ او یا یې په کومه ځمکه کښې ګذار کړئ چې د پلار وجه (مخ) درته خالي شي او یوسف ﷺ درسره پکښې اشتراک ونه لري. او د قرآن کریم دا خاصیت دی چې ځینې ایتونه یې د ځینو نورو دپاره تفسیر واقع کېږي.

۳ ـ پاتې شوه دا خبره چې د رضا څخه په "وَجْه" باندې ولې تعبیر کړی شوی دی، نو د دې باره کښې وایو چې قرآن کریم په عربي ژبه نازل شوی دی او د دې ژبې ټول قوانین پکښې په اکمله او بشپړه توګه رعایت شوي دي. که بالفرض د ژبې قوانین پکښې نه وی مراعات شوي نو د چلنج اعلان به بې هم بې معنی وی، ځکه چې عربانو به په خپل عُجز باندې پرده اچولې وی چې زمونږ عُجز د دې کبله نه دی چې دا د الله ﷻ کتاب دی بلکې د دې کبله دی چې په دې کښې زمونږ د ژبې قوانین او اسالیب نه دي مراعات شوي.

لنډه دا چې په دې تقدیر به چلنج داسې مثال درلودی لکه چې یوه عجمي سړي ته وویل شي چې که دا قرآن درته حق نه ښکاري نو ته په عربي ژبه یو سورت جوړ کړه، نو عجمي سړي ته (چې بالکل په عربي باندې نه پوهېږي) د ټولو عربانو خبرې معجزې ښکاري.

۴ ـ په دې باندې علاوه، په عربي ژبه کښې عادت دی چې کله-کله د "وَجْه" کلمه کنایهٔ د رضا په معنی استعمالېږي، بلکې نورې ژبې هم دغه کنایي استعمالوي، لکه چې په پښتو کښې وایي: "په یوه څېره سل مخه خوړېږي" یعني: په یوه څېره د سلو کسانو دوستي او خوشالي د منځه ځي ځکه چې ټول دوستان یې ورباندې خپه کېږي.

۵ ـ تفسیر المنار وايي چې په دې مقام باندې تر هغه سړي ښه نه پوهېږي چې ترڅو د یو مجازي پاچا د خدمتګارانو مراتب ونه پېژني، چې هغه دا دي:

الف: ځینې خلک د پاچا د عقوبت او تعذیب د ډاره په خدمت مشغول وي.

ب: ځینې خلک د معاشاتو او مادي ګټې په تمه خدمت کوي.

ج: ځینې د دې دپاره په خدمت کښې اخلاص ښکاره کوي چې ترفیه وکړي او رتبه یې لوړه شي.

د: او ځینې خدمتګاران صرف د پاچا رضا غواړي چې په خدمت کښې یې وګوري او خوشاله شي، نو په دغې مرتبه کښې سړی ویلی شي چې فلانی خدمتګار د پاچا په مخ او خاطر په خدمت کښې مخلص دی د بل هیڅ شي پروا نه لري. الله ﷻ زمونږ څخه غواړي چې په خپله صدقه کښې همدغسې مخلص اوسو او بس[۱].

ایا کافر ته خیرات ورکول جائز دي؟

۶ ـ ذکر شوي ایت شریف ته چې د شان نزول په اعتبار وکتل شي معلومېږي چې کافرانو ته هر ډول صدقات ورکول جائز دي. مګر نبي کریم ﷺ د زکاتونو ورکړه مسلمانانو پورې ځانګړې کړې ده

[۱] تفسیر المنار ج۳ ص۸۵.

د همدې کبله یې معاذ بن جبل ته په یوه حدیث کښې همدغه توصیه کړې وه چې: «فأخبرهم أن الله قد افترض عليهم صدقة تؤخذ من أغنيائهم وترد على فقرائهم»[۱] یعنې: خلک پوه کړه چې الله ﷻ په دوی باندې د دوی په مالونو کښې صدقه فرضه کړې دی چې د همدوی د غنیانو څخه به اخستل کېږي او د همدوی په فقیرانو باندې به ویشل کېږي.

نو ځکه ټول علماء کرام متفق دي او اجماع یې کړې ده چې فرضي صدقات کافرو ته نه ورکول کېږي[۲]. بلکې دا د حکومت کار دی چې د تېر شوي هدایت په مطابق یې توزیع کړي. اما هغه صدقات چې حکومت یې متولي نه دی که څه هم هغه واجبه صدقه وي، لکه د یمین کفاره او صدقة الفطر او نذرونه، نو هغه د ایت په عموم کښې پاتې دي، اهل الذمه کافرانو ته یې ورکول جائز دي.

دا وه د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب[۳]. اما ځینې نور علماء کرام واجبات هم په فرائضو قیاسوي او اهل الذمه کافرو ته ورکول یې جائز نه بولي.

په یاد ولرئ!

۷- په یاد ولرئ چې د زکات راغونډول او په فقیرانو باندې توزیع کول د اسلامي حکومت وظیفه ده، چې د عثمان رضي الله عنه د خلافت پورې یې په همدې ډول باندې جریان درلود خو عثمان رضي الله عنه خلکو ته اجازه ورکړه چې پخپله یې توزیع کړي. اسلامي حکومت اوس هم کولی شي چې د زکات واکې په خپل لاس کښې واخلي[۴].

او دا هم په یاد ولرئ چې د صدقې اطلاق په ټولو خیراتونو باندې کېږي، فرض وي، که واجب او که مستحب وي. اما د زکات اطلاق په فرضي پورې مختص دی[۵].

﴿لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾﴾

[۲۷۳] (ذکر شوي خیراتونه اصلاً) د هغو فقیرانو دپاره (مشروع کړی شوي دي) چې هغوی د الله ﷻ په لاره کښې بند پاتې دي، په ځمکه کښې د تللو وسه (طاقت) نه لري، په دوی باندې (د دوی) د قناعت د کبله ناخبره سړی د غنیانو ګومان کوي، (حتی) ته هم (ای پیغمبره!) دوی د

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۳
(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۸۵
(۳) روح المعاني ج۳ ص۴۶
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۶۲
(۵) التفسیر الکبیر ج۷ ص۷۶

علاماتو په سبب پېژني (چې فقيران دي). دوی د خلکو څخه په سختۍ سره سوال نه کوي (بلکې دوی بالکل سوالګري فقيران نه دي).

او هغه څه چې تاسو نفقه کړئ د هر څومره (مال) څخه چې وي نو الله ﷻ په هغه باندې يقيناً پوه (خبردار) دی (ضرور به اجرونه ورکړي).

ارتباط

په مخکښې ايتونو کښې خو د هغو خلکو بحث وه چې خيراتونه ورکول ورته محض جواز لري او په دې ايت شريف کښې د هغو خلکو بيان دی چې صدقه ورکول ورته بهتر دي او اصلا د خيراتونو مشروعيت د همدوی دپاره شوی دی.

د مطلب خلاصه

١ـ يعني: که څه هم تاسو ته جواز لرئ چې خپل خپنې خيراتونه حتی کافرانو ته او غنيانو ته هم ورکړئ مګر د خيراتونو اصلي مستحقين هغه کسان دي چې لاندې صفات ولري:

الف: هغه فقيران چې هغوی د الله ﷻ په لار کښې داسې وي لکه تړل شوی چې وي، چې په جهاد باندې مشغول وي او يا په جهاد کښې معيوب شوی وي.

ب: چې هغوی د همدې بنديتوب د کبله په خمکې کښې د نفقې د لاس ته راوړلو دپاره سفر نه شي کولی او د کار او کسب څخه يې لاسونه خنلي وي.

ج: چې هغوی سره د دې چې فقيران وي دومره لوی قناعت لري چې ناخبره سړی ورباندې د غنيانو ګومان کوي، که ګېډې يې وږې وي، وي به، خو سترګې يې مړې وي، په اصطلاح دوی ملنګان وي خو کچکولونه يې د سرو زرو وي.

د: چې هغوی په دومره اندازه مړه خوا وي چې حتی ته هم (ای پيغمبره!) هغوی په غير اختياري علاماتو باندې پېژاندلی شې، لکه زبېښلی زېړ رنګ، زړې جامې او داسې نور.

که دوی د خلکو څخه خپلې وچې شونډې پټولی شوې دا نه يې هم پټې کړې وی خو دا کار يې په اختيار کښې نه دی، نو که بالفرض ته هم د دوی د علاماتو څخه خپل نظر قطعه کړې او صرف قناعت يې په نظر کښې ونيسې نو ته به هم ووايې چې ګنې دوی غنيان دي او فقيران نه دي.

ه: چې هغوی د خلکو څخه هيڅ غوښتنه او سوال نه کوي، هغوی د بې صبره او بې قناعته فقيرانو په شان نه وي چې خپله فقيري خلکو ته په سوال ښکاره کوي او يا حتی په سوال کولو کښې دومره مبالغه کوي چې خلک تنګوي او سخ جواب ته يې مجبوروي، بلکې د هغوی ټول سوال او زاري صرف الله ﷻ ته وي او بس.

٢ـ په آخر کښې يو ځل بيا تېره شوې خبره واورئ! چې ستاسو په ټولو خيراتونو باندې الله ﷻ عالم دی د دغو فقيرانو (چې پنځه صفات ولري) ښودانه د دې دپاره نه ده چې ګنې په بل چا باندې خيرات نه کېږي او سړی د اجر څخه بې برخې کېږي بلکې صرف د دې مطلب دپاره تعين کړی شوه چې هغوی اصلي مستحقين دي او د اوليت حق لري او بس.

توضیحات

۱_ که څه هم اکثرو تفاسیرو لیکلي دي چې ذکر شوی ایت شریف د اهل الصفه وو په باره کښې نازل شوی دی[۱] مګر د قیامت د ورځې پورې هرڅومره فقیران چې نوموړي پنځه صفات ولري هغوی ټولو ته شامل دي. البته چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یې لومړنی مصداق د اهل الصفه وو ډله وه او بس.

اهل الصفه څوک وه؟

۲_ اهل الصفه د هغو فقیرانو مهاجرو لقب دی چې هغوی په مدینه منوره کښې کورکهول نه درلود. په مسجد نبوي کښې صرف د دې دپاره پراته وه چې قرآن کریم زده کړي او د نبي کریم ﷺ احادیث قولا او عملا په یاد کړي. دوی د خپلو خانونو دپاره نه د جامو بندوبس درلود او نه د خوراک او څښاک، خو سره د دې چې په دوی باندې به کله-کله دومره لوږه هم راتله چې د کبله به یې نه شو ودرېدلی او لوېده به، چې خلکو به ورباندې د لیونیانو ګومان کاوه[۲] خو دوی به لوږې ته ویلې چې زه د لوږې نه شم ودرېدلی. همدې حالت ته ابو هریره ﷺ اشاره کړې ده او وایي چې زه به د لوږې د کبله بې هوشه او بې خوده په خمکه پرېوتلم چې داسې ګومان به راباندې کېده چې لیونی یم «وَمَا بِي مِنْ جُنُونٍ مَا بِي إِلَّا الْجُوعُ»[۳] یعنې: حال دا چې په ما پورې به لیونتوب نه وه، په ما پورې به لوږه وه (چې دغه حالت ته به بې رسولی وم).

د اهل الصفه وو ګېډې د خوراک څخه خالي وې او کله-کله به یې ورېورې تېرې ترلې مګر په علم باندې ماړه وه، او په اصطلاح په مړه ګېډه یې د علم زده کړه وکړه، او د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د نن ورځې پورې د همغوی په زده کړې علم باندې خلک خپل مشکلات حل کوي.

اهل الصفه برسېره په دې چې د علم طالبان وه او د دیني مدارسو دپاره یې اساس ایښی دی هغوی مجاهدین هم وه، کله به چې د جهاد اواز پورته شو دوی به د هر چا څخه رومبی ورته تیار شوه او لا تیار به وه چې په دوی باندې د "یو بهلول یو یې کند یو یې کچکول" متل صادق وه.

د دوی شمېره به کله زیاتېده او کله به کمېده، لکه چې د ټولو مدارسو او ټولو عکسري قشلو عادت دی، خو د دوی تعداد د څلور سوه (۴۰۰) تنو په شاوخوا کښې ګڼل کېدل[۴].

الصفه د هغې چوترې نوم دی چې د همدغې بې کوره مسلمانانو دپاره د نبوي جوماتت ترڅنګ جوړه شوې وه. که څه هم هلته یې تر اوسه پورې محوطه معلومه ده مګر اوس د جومات سره ضمیمه شوې ده او خلک ورباندې لمونځونه کوي.

---

(۱) التفسير الكبير ج۷ ص۸۴
(۲) روح المعاني ج۳ ص۴۷
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۸۹
(۴) تفسير البغوي ج۱ ص۲۵۹

ابو ذر ﷺ څه وايي؟

۳ـ ابو ذر الغفاري ﷺ چې د اهل الصفه وو څخه يو مجاهد او متعلم وه خپل حال داسې بيانوي چې زه د اهل الصفه وو څخه وم، زمونږ حالت داسې وه چې څنګه به بېګاه شو نو د نبي کريم ﷺ دروازې ته به ورتول شوو نبي کريم ﷺ به يو او بل ته امر کاوه چې دا درسره بوځه او دا درسره بوځه. په آخر کښې به چې د لسو په شاوخوا کښې نفر پاتې شوه نو نبي کريم ﷺ ته به د هغه ﷺ ماښامی راوړلی شو او همغه به مو سره وخوړ، لږ به وه او که ډېر، بيا به راته نبي کريم ﷺ امر وکړ چې: «نَامُوا فِي الْمَسْجِدِ» ځئ په جومات کښې ويده شئ[۱].

احصار څه معنی؟

۴ـ د ﴿أُحْصِرُوا﴾ کلمه د "احصَار" څخه اخستله شوې ده، کله چې د سړي د يوه کار کولو مخه بنده شي هلته په عربي ژبه کښې د "احصَار" کلمه استعمالېږي برابره خبره ده چې مخه بندونکی په سترګو ليدل کېږي او که نه[۲].

په دې مقام کښې د هغو شيانو (چې د فقيرانو مخه بندوي) څو نومونه ولولئ:

الف: چې د مسلمانانو ښار د کافرانو په محاصره کښې واقع وي، نه شي کولی چې د خپل مملکت څخه خارجي دنيا ته د تجارت دپاره لاړ شي[۳]، نه څوک لار ورکوي او نه وېره.

ب: چې مجاهدين په جهاد باندې مصروف وي کار او کسب ته فراغت ونه لري، که په کار اوکسب باندې بوخت شي نو جهاد پاتې کېږي[۴] او دښمن غلبه کوي.

ج: چې په جهاد کښې معيوب شوی وي او يا ورته مزمن (اوږد) مرض پېښ شوی وي چې د هغه د امله کار او کسب نه شي کولی[۵]. دغه ډله مجاهدين نن ورځ په افغاني تولنه کښې زښت ډېر دي چې چا يو اندام د لاسه ورکړي دي او چا بل او حتی خينې شل او شوټ په ځای ناست دي.

د: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې دلته هغه مجاهدين مراد دي چې په څمکه کښې د جهاد دپاره سفر نه شي کولی، توښه او نور لوازم نه لري چې يو مجاهد ته يې ضرورت وي[۶].

هـ: که فعلا په جهاد باندې مشغول نه وي خو خپل خان ورته ترينتګ کوي او په عسکري تعليماتو باندې بوخت او د خپله کاره وتلی وي[۷].

و: مونږ ته هغه څوک هم په همدې ډله کښې داخل ښکاري چې په کور کښې بل سرپرست نه لري

---

(۱) تفسير القرطبي ج۳ ص۳۴۰

(۲) مفردات الراغب ص۱۱۹

(۳) تفسير القرطبي ج۳ ص۳۴۱

(۴) تفسير الطبري ج۳ ص۹۶

(۵) زاد المسير ج۱ ص۲۸۳

(۶) تفسير كبير ج۷ ص۸۵

(۷) تفسير المراغي ج۳ ص۴۹

ترڅو په څمکه کښې وګرځي راوګرځي او څه روزي پیدا کړي، خصوصاً لا په هغه وخت کښې چې د شهیدانو یتیمان او د شهیدانو کونډې ورپه غاړه وي او د هغوی مشري کوي.

ز: د شرعي علومو زده کوونکي خو په همدې ډله کښې بې شکه او بې شبهې داخل دي.

تعفف څه ته وايي؟

۵ـ د "تَعَفُّف" کلمه د "تَفَعُّل" د باب څخه ده او مزید فیه ده د مجردو مصدر یې "عِفَّةٌ" دی، "عِفَّةٌ" هغه حالت ته ویل کېږي چې سړی د شهوت د غلبې څخه په امن کښې ساتي[1]، چې مونږ ترې په پښتو کښې په پاک لمنۍ سره تعبیر کوو.

مګر په دې مقام کښې ترې هغه حالت مراد دی چې سړی د سوال کولو څخه ساتي چې په مشقاتو صبر کوي خو هغو مالونو ته یې سترګې نه وي نیولې چې د خلکو په لاس کښې دي[2]، د دغه حالت څخه مونږ په قناعت سره تعبیر کوو.

همدغه حالت عبد الرحمن مومند په خپلو اشعارو کښې داسې تمثیل کړی دی چې:

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی :: پټ د درست جهان پاچا ظاهر ګدا یم[3]

د "سیما" د کلمې تحلیل

۶ـ د "سِیمَا" کلمه د "وَسْم" څخه اخستله شوې ده چې د علامې (نښې) معنی ورکوي، نو په اصل کښې "وِسْمَی" ـلکه "ذِکْرَی"ـ وه، بیا "واو" او "سین" وراندې ببرته کړی شوه نو "سِوْمَی" ترې جوړه شوه او قانون ته برابره شوه چې "واو" یې په "ي" باندې بدل شي او "سِیمَا" ترې جوړه شي.

د فقیر علامات

۷ـ په دې مقام کښې مفسرین کرام دوه ډوله نظرونه لري:

الف: ځینې وايي چې دلته مراد هغه علامات دي چې هغه صرف په ایماني فراست سره پېژاندل کېږي، ښودانې ته حاجت نه لري[4] ځکه چې ظاهري وضعه یې غنیانو ته ورته وي چې خپل ډول او سنګار یې ښه برابر کړی وي، په اصطلاح که وږی وي هم خو خپل بریتونه غوړ ساتي، د همدې کبله وربانديې نابلده او ناخبره خلک د غنیانو ګومان کوي.

مګر مونږ ته دا تفسیر د لاندې وجوهو د کبله غوره نه ښکاري:

اول: مخکښې مونږ لیکلي دي چې د دې ایت اولنی مصداق اهل الصفه ﷺ وه او ښکاره ده چې دغه ډول علامات خو په هغوی کښې بالکل موجود نه وه ځکه چې نه هغوی دومره وسه درلوده چې

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۱

(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۹۷

(۳) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۱۰۱

(۴) التفسیر الکبیر ج۷ ص۸۶ـ ۸۸؛ في ظلال القرآن ج۷ ص۳۱۵؛ تفسیر المراغي ج۳ ص۵۰؛ تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۵۱

د خپلو خانونو په تجمل (سنګارولو) کښې یې مصرف کړي او نه ورسره دومره توان وه چې د خپلو خانو دپاره اقلا څه بربت غوري پیدا کړي.

دوهم: دغسې تفسیر متبادر نه دی، ترڅو چې متبادر تفسیر محال شوی نه وي غیر متبادر تفسیر خوښول ښه کار نه دی.

ب: اکثره مفسرین کرام وايي چې د علاماتو څخه هغه علامات مراد دي چې هغه د فقیرانو سره لازم وي او تر ې نه جدا کېږي، لکه زېړ رنګ، وچې شونډې، زړې جامې او داسې نور.

سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: په کوم فقیر کښې چې د فقیرۍ ذکرې شوې علامې وموندل شي نو په هغه باندې خو نابلده سړی هم د فقیر یقین کوي دا لا خو پرېږدئ چې د غني ګومان ورباندې وکړي، نو دغه تفسیر خو د دې ټکي سره سمون نه خوري چې ﴿يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ﴾.

مونږ وايو چې: مطابقت يې د ﴿مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ﴾ ټکي څخه فهمېږي او بس. چې خلاصه یې داسې راووځي چې: په ذکر شوو فقیرانو کښې د یو پلوه د فقیرۍ نښې موجودې دي چې ناخبره او باخبره ټول خلک يې پېژني چې دوی فقیران دي او د بل پلوه پکښې د غنا قوي نښه (قناعت او صبر) په سترګو لیده کېږي چې نه چا ته سوال کوي، نه چا ته تمه کوي او نه د چا مال ته لاس اوږدوي. نو هغه څوک چې په حال باندې يې خبر وي هغه پوهېږي چې دا کار یې د قناعت د کبله دی، کېدې يې وږې دي خو سترګې يې مړې دي.

اما هغه څوک چې هغه ورسره پوره بلدتیا نه لري هغه ورباندې د غنیانو ګومان کوي او په هغه یقین کښې (چې د علائمو د کبله ورته پیدا شوی شوه) شک ورلوېږي، ځکه چې غنیان هم کله-کله د حرص د کبله خپل خانونه د فقیرانو په څېره څرګندوي، نو د دوی په خیال کښې راځي چې دوی حرصناک غنیان دي.

"اِلْحَاف" څه معنی؟

۹_ "اِلْحَاف" اصلا د "لِحَاف" څخه دی. یعنې هغه شی چې سړی ورباندې خپل خان راپټوي[۱]، چې مونږ ورته په پښتو کښې "برستن" وايو او دري ژبه پکښې لږ څه تخفیف کوي چې د لحاف په ځای "لیاف" وايي.

په دې مقام کښې يې د جمهورو علماء کرامو په نزد د معنی حاصل داسې کېږي[۲] چې: ذکر شوي فقیران د قناعت د کبله د غنیانو په څېره ښکاري چې نه د چا مال ته سترګې اوږدوي او نه د چا څخه سوالونه کوي او نه په سوال کښې مبالغه کوي چې د مالدار څخه تاو راتاو شي، ته به وايې چې د هغه دپاره ترې برستن جوړه شوه چې د خان د خلاصون چاره يې ترې غلطه کړې ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴٦۸؛ زاد المسیر ج۱ ص۲۸۴

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۴۲؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۹۹

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ که څوک وايي: نفي چې په مقيد باندې داخله شي نو اصلا قيد ته متوجه کېږي، دلته خو په سوال باندې نفي داخله شوې ده چې په الحاح (مبالغه) باندې مقيد دی نو په کار دي چې دلته هم قيد ته متوجه شي، نو معنی به يې داسې شي چې: دوی خو سوال نه کوي خو کله چې سوال کوي الحاح او مبالغه پکښې نه کوي، لکه چې همداسې معنی يې ځينو مفسرينو اخستې ده[۱].

مونږ وايو چې: دغسې معنی په دې مقام کښې د ايت شريف د وړاندېنی برخې سره منافات (ضديت) لري چې هغه ﴿ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ ﴾ دی، لکه چې مخکښې په "پنځمه" توضيح کښې يې بيان تېر شوی دی.

او نفي لکه چې يوازې قيد ته متوجه کېږي همدارنګه کله قيد او مقيد دواړو ته هم متوجه کېږي او دواړه د منځه وړي، لکه چې الله ﷻ د ظالمانو په باره کښې فرمايي: ﴿ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴾ [غافر:۱۸] د قيامت په ورځ به ظالمانو لره نه دوست وي او نه داسې شفاعت کوونکی چې د هغه خبره منلی کېږي. يعنې دوی به مطلقًا شفيع نه لري.

سوال جواب

۱۱_ که څوک وايي چې: کله د ﴿ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ ﴾ څخه معلومېده چې دوی مطلقًا سوال نه کوي، نه په الحاح سره او نه بې الحاحه، نو په دې مقام کښې د ﴿ إِلْحَافًا ﴾ د ټکي په زيادت کښې څه حکمت دی ځکه چې مطلب خو د دې ټکي څخه په غير هم ترلاسه کېده؟

مونږ وايو چې:

الف: په دې کښې د ذکر شوو فقيرانو د مدحې زيادت ته اشاره ده چې د دوی د پريشانحالی غوښتنه دا وه چې په الحاح سره يې سوالونه کړي وي او تر هغه د غنيانو پورې نښتي وي چې ترڅو يې ترې څه ترلاسه کړي، خو دومره صابران دي چې په خپلو نفسي غوښتنو باندې يې هم قدم ايښی دی او په الحاح سره سوال نه کوي.

ب: الله ﷻ په خيراتونو باندې په ډول-ډول اساليبو سره زور اچولی دی، نو کېدلی شي چې د ځينو فقيرانو په زړه کښې وګرځي چې په هره طريقه چې کېږي بايد د غنيانو څخه مالونه ترلاسه کړو، که څوک يې نه راکوي نو بايد چې په غوښتنه کښې يې د الحاح څخه کار واخلو.

نو الله ﷻ دغه ډول فقيران إشارةً پوه کړه چې په غنيانو کښې ورکړه کمال دی او په فقيرانو کښې قناعت کمال دی، ډېر ښه فقير هغه دی چې په هغه حالت کښې هم لا سوال ونه کړي چې ورته جواز لري، پاتې لا هغه حالت چې ورته ناجائز وي.

(۱) تفسير الكشاف ج۱ ص۳۱۸

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يو حديث کښې اشاره کړې ده چې: «لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَلَا اللُّقْمَتَانِ إِنَّمَا الْمِسْكِينُ الَّذِي يَتَعَفَّفُ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ يَعْنِي قَوْلَهُ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا»[۱] يعني: هغه مسکين نه دی چې يوه کجوره يا دوه کجورې او يوه مړۍ يا دوه مړۍ يې ستنولی شي بې شکه (مختار) مسکين هغه دی چې د سوال کولو څخه مطلقًا ځان ساتي، که مو خوښه وي دغه ايت شريف ولولئ (چې ښه اطمنان مو حاصل شي): ﴿لَا يَسْئَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا﴾.

ايا سوال کول جائز دي؟

۱۲_ د سوال کولو په باره کښې زښت ډېر احاديث روايت شوي دي چې دا يو ناجائز کار دی، مګر په ځينو ځايونو کښې يې جواز شته. لاندې دوه حديثونه د مثال په توګه ولولئ:

الف: «لَا تَزَالُ الْمَسْأَلَةُ بِأَحَدِكُمْ حَتَّى يَلْقَى اللهَ وَلَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ»[۲] يعني: سوال کول سړی دې ته رسوي چې د قيامت په ورځ به يې په مخ باندې يو پوټی غوښه نه وي.

ب: يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل هر څوک چې يو شی غواړي حال دا چې هغه دومره څه لري چې هغه غني کوي نو دغه سوالګر خپل ځان ته د دوزخ سکروټې ډېروي. صحابه کرامو ﷺ ورته وويلې چې هغه څومره شی دی چې سړی ورباندې غني کېږي؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «قَدْرُ مَا يُغَدِّيهِ وَيُعَشِّيهِ»[۳] يعني: هاغومره څه چې يا يې پرې د سبا چاره کېږي او يا د ببګاه (چې يو وخت ډوډۍ ولري).

د سوال تحقيقي حکم

۱۳_ ځينو علماء کرامو د سوال په اړوند ټول نصوص په نظر کښې نيولي او د حنفي مذهب په بنا يې ترې دا حکم راويستلی دی چې هر څوک د نصاب خاوند نه وي نو هغه ته د زکات قبلول هم جائز دي او سوال کول هم، که څه هم سوال نه کول ورته بهتر دي[۴]، که څوک غواړي چې د دې حکم تحقيق د نظره تېر کړي نو هلته دې مراجعه وکړي.

يوه عجيبه قيصه

۱۴_ يوه ورځې عمر ﷺ يو سائل وليد چې يوه کڅوړه يې په شا وه او سوال يې کاوه، نو امر يې وکړ چې تاسو يې وګورئ چې په دې کڅوړه کښې څه شی دي، چې وليدل شوه په هغې کښې ډوډۍ وه، نو امر يې وکړ چې دا ترې واخلئ او د زکات اوښانو ته يې واچوئ.

نو د دې اثر څخه څرګند ېږي چې حرفوي سوالګر ته که څوک څه شی ورنه کړي باک يې نشته[۵].

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص٦٥۱
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۳۳۳
(۳) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۳۰
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص٤٦۳
(۵) تفسير المراغي ج۲ ص۵۱

﴿ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾ ﴾

[۲۷۴] هغه کسان چې خپل مالونه هم په شپه کښې خیراتوي او هم په ورځ کښې، هم په پټه کښې او هم په ښکاره کښې. نو دوی لره د هغوی اجر د دوی د رب ﷻ په نزد شته دی (ضائع به نه شي). او په دوی باندې به نه ډار وي او نه به دوی غمژن شي.

شان نزول

د دې ایت په شان نزول کښې متعدد روایتونه شته. په څینو کښې ابو بکر الصدیق ؓ، په څینو کښې علي ؓ او په څینو کښې عبد الرحمن بن عوف ؓ ښودلی شوی دی چې خپل مالونه یې د شپې او ورځې او ښکاره او پټ خیرات کړي وه[۱].

او څینې نور روایات شته چې ذکر شوی ایت شریف یې د جهاد په آسونو کښې ښودلی دی چې د شپې او ورځې ښکاره او پټ وریاندې مصرف کیږي او په هر وخت کښې په خوراک او څښاک باندې لګیا وي خو الله ﷻ هغه ټول په خیراتونو کښې شمېري او اجرونه ورکوي[۲].

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوو روایتونو د دې ایت شریف دپاره محض څو مصداقونه ښودلي دي. خو څرنګه چې د ډېر ځای څخه راپه دې خوا الله ﷻ د خیراتونو ډولونه او کیفیتونه بیان کړه نو د ټول بحث په آخر کښې یې د ټول بحث خلاصه په دغه ایت کښې یو ځل بیا نازله کړه ترڅو ورته غنیان ښه متوجه شي او په عمل کښې یې پیاده کړي.

د مطلب خلاصه

یعني: الله ﷻ ستاسو په هر خیر خیرات باندې پوه دی، د ده ﷻ په نزد صدقات د قبول او د عوضونو تفاوت لري خو بې اجره نه پاتې کیږي، په آخر کښې یو ځل بیا پوه شئ: هغه کسان چې خپل مالونه د شپې او ورځې، پټ او ښکاره د الله ﷻ د رضا دپاره خرڅوي بلکې په ټولو وختونو کښې او په ټولو حالاتو کښې وریاندې ځنډ نه کوي، داسې نه کوي چې یا شپه بهانه ونیسي او یا ورځ، او یا د پټ ورکولو په بهانه سره او یا د ښکاره ورکولو په بهانې سره د صدقې څخه صرف نظر شي چې د دوی د الله ﷻ رضا مطلب وي نه د وخت د تاثیر لاندې راځي او نه د حالت، نو دغسې خلکو ته د الله ﷻ په نزد د دوی اجر شته، نه به په دوی باندې وېره وي چې اجر به رانه کړی شي او نه به دوی خپه شي چې ولې به مو خیرات نه کاوه.

---

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۲۸۵؛ تفسیر ابي السعود ج۲ ص۲۶۵
(۲) الدر المنثور ج۲ ص۱۰۰

د پام وړ تبصره

الله ﷻ کولی شو چې هرڅوک یې په خپل کور پوره کړی وی او د خیرات سلسله یې ختمه کړې وی خو په دې تقدیر به د انسانانو په منځکښې مینه او محبت نه وی او د ځارویو په څېر به هر یو د خپلې ګېډې په غم کښې وی او بس. نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایي چې: «تَهَادَوْا تَحَابُّوا»[۱] یعني: یو بل ته تحفې ورکړئ چې یو تریله مو مینه او محبت زیات شي.

خو په خیراتونو کښې دا وېره وه چې فقیران د غنیانو دپاره غلامان جوړ نه کړي لکه چې فعلا کفري نړۍ د مالونو په ذریعه فقیر دولتونه د خپلو ځانو دپاره اقمار جوړ کړي دي او دوی هم دغه حالت طوعًا او کرهًا قبول کړی دی او خیني پرې ویاړي. نو الله ﷻ غنیان پوه کړه چې خیرات قبلوونکی اصلا الله ﷻ دی او فقیران محض د مصارفو دپاره ټاکلي شوي دي. نو تاسو ته په کار دي چې ناغوره مالونو ته د خیراتونو قصد قدرې هم ونه کړئ پاتې خو لا دا چې د الله ﷻ په لار کښې یې خیرات کړئ.

که اصلا الله ﷻ خیرات قبلوونکی نه وی نو د غیرو جیدو مالونو د خیراتونو به هم باک نه وی، نو تاسو ته په کار دي چې نه په فقیرانو باندې احسان کېږدئ او نه یې خپه کړئ حتی که ناپېژاندل شوي فقیر ته یې ورکړئ نو هغه لا ډېر ښه خیرات دی.

همدارنګه الله ﷻ فقیران هم پوه کړه چې په خیراتونو کښې د ذلت او خوراک ځخه ځانونه وساتئ ترڅو چې نابلده سړي وربانديې د غنیانو ګومان وکړي. او داسې نور هدایتونه یې دوارو ډلو ته ورکړه، دا ټول د دې دپاره چې اسلام دښمنه خلک د خیر خیرات ځخه معکوسه نتیجه وانخلي.

﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰاْ ۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ ۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ (۲۷۵) يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ (۲۷۶) إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (۲۷۷) ﴾

[۲۷۵] هغه کسان چې سود خوري (اخلي) دوی به (د قبرونو څخه) نه پاځېږي مګر د هغه چا په شان به پاځېږي چې هغه شیطان ګډ وډ کړی وي د لاس وروړو د کبله (چې هغه مېرګیو نیولی وي).

[۱] موطا الإمام مالک ص ۵۶۶

دا ځکه چې دوی به یقیناً ویل چې بې شکه بیعه خو د سود غوندې ده (دواړه حلال دي). او الله ﷻ بیعه (تجارت) حلاله کړې ده او سود یې حرام کړی دی.

نو هغه څوک چې هغه ته د خپل رب د پلوه نصیحت وررسېده نو (د سود څخه) منعه شو، نو هغه (سود) چې پخوا یې کړی وه هغه د هغه شو، او کار یې الله ﷻ ته (سپارل)، کېږي او څوک چې (خپلې خبرې ته) بېرته وګرځېده (سود او بیعه یې یو شی وګڼل) نو همدوی د اور اندېوالان دي چې دوی به پکښې همېشه وي.

[۲۷۶] الله ﷻ (د) سود (برکت) محوه کوي او صدقاتو ته زیادت ورکوي، او الله ﷻ د هر سخت کافر (او سخت) ګناهکار سره دوستي نه کوي.

[۲۷۷] یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه کوي او لمونځونه ودروي او زکاتونه ورکوي دوی لره د دوی د رب په نزد د دوی اجر شته. او نه به په دوی باندې وېره وي او نه به دوی غمژن شي.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې مقام کښې مونږ ته د ایتونو د اړوند لاندې وجهې په نظر راځي:

الف: په وړاندېنیو ایتونو کښې د صدقاتو بیان وه چې اجتماع وریاندې آبادېږي او دلته د سود بیان دی چې اجتماع خرابوي او د مناسباتو څخه تضاد هم یو مناسبت دی. ځکه چې هر شی د ضد په پېژاندلو سره ښه پېژاندل کېږي.

ب: هلته د بې عوضه ورکړې بیان وه چې الله ﷻ وریاندې راضي کېږي او دلته د بې عوضه اخستلو بیان دی چې الله ﷻ وریاندې په غضب کېږي او د جنګ اعلان ورسره کوي.

ج: په صدقاتو باندې مینه او محبت زیاتېږي او په سود باندې کینه او عداوت وده کوي، هغه د زړه اطمنان پیدا کوي او دا سړی لیونتوب ته رسوي، هلته مالونه برکت کوي او دلته آخر د مالونو بېخ او بنیاد وځي.

د: هلته د مال د مصرفولو طریقه ښودلې شوې وه او د دې ځای څخه وروسته د مال د ګټلو طریقه بیانېږي چې کومه حرامه ده او کومه حلاله ده. نو خلاصه یې داسې راځېږي:

۲ـ یعنې: سود خواره به د قیامت په ورځ د لیونیانو په شکل د قبرونو څخه راپورته کېږي او د محشر خلک به یې تول پېژني چې دا سود خواره دي، حرکات او سکنات (ناسته ولاړه) به یې کټ مټ د هغو خلکو په شان وي کوم چې پېریانو نیولي وي او اوتې بوتې وايي.

او دا ځکه چې په دنیا کښې د سودخور کړه وړه د لیوني غوندې وي چې سود او بیعه ورته یو ډول ښکاري، حال دا چې سود الله ﷻ حرام کړی دی او بیعه یې حلاله کړې ده. که څوک مسلوب العقل نه وي نو دواړه به څنګه سره یو برابر وګني. دوی د الله ﷻ د حکم په مقابل کښې په عقلي دلیل اتکا کوي که څه هم خام او بې سنجشه وي.

۳ـ نو اوس چې الله ﷻ د سود په باره کښې قطعي حکم نازل کړ او خپل بندګان يې د سود پرېښودلو ته وهڅول او نصيحت يې ورته وکړ نو که څوک د خپل رب خبره مني او د سود څخه لاس اخلي نو پخوا يې چې څه کړي وي (سود يې خوړلی وي) هغه تېر په هېر. د هغه کار ټول الله ﷻ ته سپارلی کېږي، يعنې پرته نيول کېږي به نه اما نور نو د الله ﷻ کار دی چې په مال کښې به ورته برکت واچوي او که نه؟ هوا که څوک خپلې زړې خبرې ته بېرته ورتاو شي او زړه بېولاله بيا تازه کړي چې سود او بيعه يو شی دی نو دغه څوک يقيناً کافر دی او په اور کښې به همېشه وي.

۴ـ د سود خوړو دا خبره هم د بې عقلی څخه نمايندګي کوي چې په صدقه کښې د مال کمبود ګڼي او په سود کښې زيادت. ځکه چې خبره بالکل معکوسه ده. الله ﷻ سود بې برکته ګرځوي چې عاقبت يې خراب دی او په صدقاتو کښې برکتونه اچوي او چندونه يې اضافه کېږي. او دا ځکه چې الله ﷻ د هيڅ کافر سره او هيڅ ګناهګار سره چې د خلکو په مالونو باندې تجاوز کوي مينه او محبت نه لري.

۵ـ بالمقابل هغه کسان چې مؤمنان او صالح عمل کوي (سود نه خوري) خپل بدني عبادتونه په ډېره ښه توګه اجراء کوي او هم زکاتونه ورکوي، هغوی لره خپل رب لوی اجرونه ورکوي. ځکه چې الله ﷻ د همدوی سره مينه او محبت لري، په دوی باندې به نه د الله ﷻ د پلوه ډار او وېره واقع شي او نه به غمژن شي.

توضيحات

۱ـ "رِبَا" په لغت کښې زيادت، ډېروالي او پورته کېدلو ته وايي لکه چې ﴿ وَيُرْبِي ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ وربانديې دلالت کوي. نظر د ليک قواعدو ته بايد په "الف" (رِبَا) سره ليکلی شوی وی، خو د دې کبله چې ډېره عظيم الشانه ګناه ده په واو (رِبَوا) سره وليکلی شوه ترڅو لوستونکي ورته ښه متوجه شي. او دا ځکه چې همغه شی د لوستونکو توجه ډېره جلبوي چې د قواعدو څخه مخالف وي.

د همدې وجې څخه د "صلوة" او "زکوة" دواړه کلمې هم په واونو سره ليکلی کېږي که څه هم قانوني ليکنه يې د الفونو په څېره کښې (صَلاة، زَکاة) ده. دغه دواړه ډېر لوی عظيم الشانه بدني او مالي عبادتونه دي بايد چې په سرسري نظر ورته څوک ونه ګوري.

۲ـ "رِبَوا" په شريعت کښې هغې خاصې ګټې او زيادت ته وايي چې يو قرض ورکوونکی يې په خپل قرض باندې علاوه اخلي.

د قرآن کريم د نزول په وخت کښې همدا ډول سود رواج وه. څرنګه چې دغسې بې عوضې ګټې او زيادت کله-کله سړي ته په بيعه کښې هم لاس ته ورځي، مثلاً يو شی په يو زر روپۍ راونيسي او په بيولس سوه يې وپلوري نو يو سل روپۍ بلاعوضه ګټه پاتې شوه نو ځکه لږ څه نور بيان ته هم حاجت وه چې نبي کريم ﷺ په شپږو شيانو کښې لږ توضيح ورکړه[۱] خو سره د دې عمر رضی الله عنه ويلي دي چې:

[۱] صحيح مسلم ج۲ ص۲۴

«وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ وَلَمْ يُفَسِّرْهَا لَنَا فَدَعُوا الرِّبَا وَالرِّيبَةَ»[1] يعني: نبي كريم ﷺ وفات شو خو مونږ ته يې سود پوره تفسير نه كړ. نو حقيقي سود او اشتباهي سود دواړه پرېږدئ.

۳ـ الله ﷻ په هر څه باندې ښه پوهېږي، څه يې چې پوره نه دي تفسير كړي په نه تفسير كښې يې حكمتونه دي او څه يې چې تفسير كړي دي په تفسير كښې يې حكمتونه دي، لكه چې فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ [مريم: ۶۴] يعني: او ستا رب (اې پيغمبره!) هېروونكى نه دى، څه شى چې لږ څه په اجمال كښې پرېږدي د دې دپاره چې مجتهدين پكښې اجتهاد وكړي د يو پلوه به هغوى ته اجرونه وركړي او د بل پلوه به د اُمت دپاره د تللو لارې ډېرې شي.

كه څوك د شپږو شيانو نومونه او د مجتهدينو د اجتهاداتو د لوست فرصت لري نو د فقهې او اصول الفقه كتابونو ته دې مراجعه وكړي، مونږ په دې مقام كښې همدومره ليكو چې:

سود مختلف شكلونه لري او ټول شكلونه يې په قطعي صورت حرام دي. لاندې څو صورتونه يې د مثال په توګه ولولئ:

الف: چې د يوه غريب سړي څخه ګټه اخلي او هغه د خوراك او څښاك دپاره قرض كړى وي.

ب: چې هغه د يوه مړي د تكفين او تجهيز دپاره ترلاسه كړي وي او يا د واده د رسم او رواج دپاره.

ج: چې كوم بډاى (غني) سړى يې د تجارت دپاره پور كړي او سودخور ته سود وركوي.

د: چې كومه فابريكه او يا حكومت دا كار وكړي.

هـ: چې د نوو او زړو نوټونو په مبادله كښې څه تفاوت ترلاسه كړي.

و: چې د تخمي او غير تخمي غنمو په تبادله كښې څه زيادت واخلي.

يادونه

۴ـ لكه څنګه چې نن ورځ سود اخستونكى د سودخور په نامه يادېږي همدارنګه د عربو هم رواج وه چې هغه ته به يې "آكِلُ الرِّبَا" ويلې، نو قرآن كريم هم د خلكو په مروجه لهجه باندې سود اخستونكي په ﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ ﴾ كښې د سود خوړونكو په نامه ياد كړه.

"خَبْط" څه معنى؟

۵ـ د ﴿ يَتَخَبَّطُهُ ﴾ كلمه د "خَبْط" څخه اخستله شوې ده، "خَبْط" هغو ګډو وډو حركتونو ته وايي چې په ليونتوب او پرېشانۍ باندې دلالت كوي، لكه ړنده اوښه چې پښې ترپوي او يا لكه ونه چې په لكړه ووهله شي او غير منظمې پاڼې ترې راتوى شي[2].

او د ﴿ مِنَ ٱلْمَسِّ ﴾ توري د ﴿ يَتَخَبَّطُهُ ﴾ پورې تعلق نيسي. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې:

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۶۴: مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۸۵

(۲) تفسير المراغي ج۳ ص۵۴: مفردات الراغب ص۱۴۲

د قیامت په ورځ به سود خواره د قبرونو څخه داسې راپورته کېږي لکه چې په دنیا کښې څوک د شیطان د لاس وهنې د کبله ګډوډ حرکتونه کوي او لیونی شوی وي. چې په پښتو کښې وايي. فلانی میرګیو نیولی دی. همدغه مرض ته په عربي کښې "صرعه" وايي.

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وايي چې: «آكِلُ الرِّبَا يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَجْنُونًا يُخْنَقُ»[۱] يعني سودخور به د قيامت په ورځ د ليونتوب په حال کښې راپورته شي چې غاړې ته به يې زندی وراچوله کېږي (د مرۍ څخه به نيول کېږي).

که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د ﴿ مِنَ الْمَسِّ ﴾ په توري کښې ځينې نور تعلقات هم ښودلي دي[۲] او مَس يې د جنون (ليونتوب) څخه کنايه اخستې دی[۳]، مګر مونږ ته لږ څه بعيد په نظر راغله ځکه مو خوښ نه کړه.

سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: طبيبان خو د صرعې (ميرګيو) ناروغي د اخلاطو څخه ګڼي چې د چا په سر کښې څه ګډوډي راشي نو ذکر شوی مرض ورته پيښېږي، نه د شيطان څخه. د همدې کبله ځينو مفسرينو د ايت شريف تفسير داسې کړی دی چې دا د عربو د عادت په بناء شيطان ته نسبت شوی دی چې هغوی به دغسې مرضونه د شيطان څخه ګڼل[۴].

مونږ وايو چې: د پيريانو واقعات چې د انسانانو سره پيښ شوي دي په احاديثو کښې دومره ډېر دي چې انکار ترې ممکن نه دی لکه چې ځينو مفسرينو کرامو يې بعضې واقعات نقل کړي دي[۵]، مونږ يې د اوږدوالي د کبله نه شو ښنتو کولی.

نو څه لرې نه ده چې د ميرګيو مرض په ځينو وختونو کښې د اخلاطو د کبله سړي ته پيښ شي چې طبيبان يې په دارو درمل سره معالجه کوي، او په ځينو وختونو کښې پرې د پيريانو او شيطانانو د کبله سړی مبتلا شي چې معالجه يې په مادي دواګانو باندې نه کېږي بلکې آية الكرسي او نورو ماثوره اورادو باندې يې علاج کېدلی شي، او کله به يې اخلاط او پيريان دواړه سبب وي نو بايد چې علاج يې د ماديانو او ماثوراتو دواړو څخه مرکب وي.

نو لکه څنګه چې مادي امراض د الله ﷻ د اجازې څخه په غير چا ته نه شي عارض کېدلی همدارنګه جنيان او شيطانان هم د الله ﷻ د اذن څخه په غير په چا نه شي کيناستلی. اما انکار ورڅخه د أهل السنة والجماعة عقيده نه ده بلکې د معتزله وو مسلک دی[۶].

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۱ ص۳۲۶
(۲) تفسير كبير ج۷ ص۹۴؛ تفسير القاسمي ج۳ ص۳۶۱
(۳) مفردات الراغب ص۴۸۷
(۴) تفسير الكشاف ج۱ ص۳۲۰
(۵) تفسير القاسمي ج۳ ص۳۶۲
(۶) روح المعاني ج۳ ص۴۹

او که د جنیانو او شیطانانو څخه د مرضونو مکروبونه مراد کړی شي نو بیا خو نه سوال ته حاجت شته او نه جواب ته، ځکه هغه شی چې طبیبان یې د مهرګیو سبب ګڼي شریعت یې هم ګڼي[۱]، خو فقط په نوم کښې یې فرق راغی چې په شریعت کښې ورته شیطانان وایي او په طب کښې ورته جنیان. مګر دا معنی متبادره (څرګنده) نه ده خان ساتل ترې په کار دي.

۷ـ په هر تقدیر، د قیامت په ورځ د خینو جرائمو دپاره الله ﷻ څه خاصې نښې او علائم ټاکي لکه د غدار په کوناټي باندې به د هغه د غدر (ټګی) په اندازه بیرغ ریږدي[۲] او د چا زړه چې په دنیا کښې روند وي د قیامت په ورځ به رانده راپورته کړی شي [طه: ۱۲۵، ۱۲۶]. همدارنګه الله ﷻ د سود خورو دپاره دا نښه او علامه ګرځولې ده چې د محشر په میدان کښې به د لیونیانو په شکل راپورته شي[۳].

ایا سود او بیعه یو شی دی؟

۸ـ د قرآن کریم د وخت سودخورو سود او بیعه دواړه حلال ګڼل او حتی سود یې په حلالوالي کښې اصل ګاڼه. ځکه چې په معاملاتو کښې خو مهم شی ګټه ده او ګټه په بیعه کښې شکمنه او احتمالي ده خو په سود کښې یقیني او بې شکه ده، د همدې کبله یې په مقلوبه تشبیه باندې ورڅخه تعبیر وکړ چې: ﴿ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْ ﴾ او داسې یې ونه ویلې چې: "إِنَّمَا الرِّبَا مِثْلُ الْبَيْعِ".

عجیبه خبره

۹ـ عجیبه خبره ده لکه څنګه چې د سودخورو عقلونه مقلوب وه هماغسې یې د خولو څخه خبره هم مقلوبه راووتله او د وارخطانۍ او اضطراب نښې یې پکښې ښکاره شوې، ته به وایې چې کوم لیونی خبرې کوي. لاندې دوه صورتونه د نظره تېر کړئ ترڅو د سود خورو اعتراض او د الله ﷻ جواب درته ښه څرګند شي:

الف: که یو مجاهد د غنیمت یوه وسله د دوه کالو په وعده باندې په درې لکه افغانۍ خرڅه کړي نو دا بیعه شوه او جائزه ده.

که بالفرض همدغه وسله د دوه کالو په وعده باندې په دوه لکه افغانۍ خرڅه کړي خو کله چې دوه کاله تېر شي او د قرضدار وسه نه کېږي چې د وسلې قیمت ورکړي خو دوی دواړه سره راضي شي، مجاهد یو کال وراضافه کړي او پوروړی یو لک افغانۍ زیاتې کړي، یعنې یو کال وروسته درې لکه افغانۍ ورکوي؛ نو دا سود شو او حرام دی.

په دې مقام کښې کافرو ته دا سوال پیدا کېده چې د ذکر شوو دواړو معاملو نتیجه یوه شوه چې په دریو کالو کښې درې لکه افغانۍ شوې، نو کله چې لومړی صورت جائز شو باید چې دوهم صورت هم جائز شي.

---

(۱) تفسیر المنار ج۲ ص۹۶
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۷
(۳) روح المعاني ج۳ ص۴۹؛ تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۵۴

شرعي جواب يې دا دی چې دا کار الله ﷻ کړی دی او هغه ﷻ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ دی څه يې چې اراده وي هغه کوي، د تحليل او تحريم واک د بل چا سره نشته هغه ﷻ زمونږ رب دی او مونږ يې بندګان يو.

هو! که دوی د سودي جنون څخه رابهر شي او د عقل څخه کار واخلي هم پوه به شي چې په لومړي صورت کښې درې لکه افغانۍ د تولې وسلې په مقابل کښې ثمن واقع شوي دي چې بې عوضه پکښې هيڅ شی نشته، او په دوهم صورت کښې دوه لکه افغانۍ د وسلې په مقابله کښې واقع شوي دي او يو لک افغانۍ دوه کاله وروسته بې عوضه په پوروړي باندې کېښودلی شوې.

که څوک وايي چې يو لک افغانۍ د يو کال په بدل اضافه شوې. بې عوضه خو نه دي؟!

مونږ وايو چې کال خو زمانه ده، نه د چا مال دی او نه پکښې څوک تجارت کولی شي، په معاملاتو کښې خو د مالونو راکړه ورکړه وي نه دا چې هوا او يا وخت څوک په چا خرڅ کړي.

برسېره پر دې، په لومړي صورت کښې مشتري په خپله خوښه درې لکه افغانۍ په خان باندې د مبيعې په مقابل کښې منلې دي، نوموړي کولی شو چې بالکل يې نه وی خرېداري کړي، او په دوهم صورت کښې خو يې فقط دوه لکه منلې وي خو يو لک نورې ورباندې جبري راغلې خکه دوه کاله وروسته خو ورته د سود خور د پلوه دوه لارې ښودلې شوې دي چې يا دوه لکه افغانۍ ورکړي او يا په خان باندې د بل کاله پورې درې لکه ومني، دريمه لار ورباندې په بشپړه توګه بنده ده.

ب: که يو سړی د يوه مجاهد څخه د غنيمت وسله په دوه لکه افغانۍ خريداري کړي او يو کال وروسته يې په درې لکه افغانيو باندې وپلوري نو دا بيعه ده او ګټه يې جائزه ده.

خو بالفرض که نوموړی مجاهد هماغه دوه لکه افغانۍ چاته د يو کال دپاره په يو لک افغانيو باندې په ګټه ورکړي نو دا سود دی او حرام دی.

سره د دې چې په دواړو صورتونو کښې دوه لکه افغانيو يو لک افغانۍ د يو کال په اوږدو کښې وګټلې، په يو صورت کښې جائزې دي او په بل کښې ناجائزې دي!

دلته هم شرعي جواب دا دی چې الله ﷻ چې هر څه کوي د حکمت څخه ډک دی څوک ورباندې د اعتراض حق نه لري او د ده ﷻ په کار باندې واقعاً د ګوتې د اېښودلو ځای نشته.

هو! که سود خواره ورته په خير شي دواړه صورتونه يو تربله د ځمکې او د اسمان فرق لري. ځکه چې په لومړي صورت کښې مشتري د يو کاله پورې د وسلې حفاظت او ساتنه په غاړه واخستله، د نقل او انتقال مصارف يې ورباندې ورغله، د سلاپاکۍ تکاليف او تاوانونه يې وګالل خو د دې ټولو سره-سره يې ګټه يقيني نه وه، احتمال وه چې بازار لوېدلی وی او تاوان يې پکښې کړې وی او يا ورباندې کوم آفت نازل شوی وی او ګټه لا څه چې اصل سرمايه يې هم د منځه تللې وی.

اما په دوهم صورت کښې په مجاهد باندې نه د تاوان احتمال شته او نه ورباندې د کوم تکليف ګالل. خو د دې سره-سره يې ګټه يقيني ده او شک شبه پکښې نشته، نوموړي به ورته په اصطلاح د شاجهان پاچا د لټانو په شان بې غمه ناست وي، يو پښه به يې په بله اړولې وي خو د ګټې په وخت کښې به بې تکلفه ګټه په جيب کښې اچوي او خوري به يې.

نو که د سود خورو په شان څوک په عقل کښې خلل ونه لري، پوهېږي چې د دواړو صورتونو په منځکښې ډېر لوی فرق شته.

•أَمْرُهُ إِلَى اللهِ• څه معنی؟

۱۰_ د دغو ایتونو د نزول په وخت کښې سود یوه مباحه معامله وه چې اکثره خلکورباندې اخته وه خو کله چې الله ﷻ فضل وکړ دغه ایتونه یې نازل کړه نو مسلمانانو ورته لبیک ووېل او غاړې یې ورته کېښودې. خو بالمقابل کافرانو په اعتراضاتو او ګوتنیونو باندې پیل وکړ چې سود او بیعه خو یو شی دی چندان توپیر نه لري، نو ولې یو حرام او بل حلال ګڼل کېږي؟، لکه چې وړاندې یې بیان تېر شو.

دوی خکه سپکو سپړودو خبرو ته شروع وکړه چې په هغه وخت کښې ځینې داسې سودونه هم وه چې یوه خوا به یې کافر وه او بله به یې مسلمان وه، نو مسلمان به د مسلمانۍ قانون غوښت او کافر ته به یې خوند نه ورکاوه.

امّا د سود خورو په منځکښې د تېرو شوو سودونو لانجه پرته وه، امکان لري چې ځینو خلکو یې غوښتنه هم کړې وي چې اخستل شوی سود بېرته راکړه نو الله ﷻ دا لانجه غوځه کړه او وېې فرمایل چې قانون به په راتلونکي باندې اغېزه کوي، نه په تېر شوي. خو دا ټکی یې ورسره اضافه کړ چې: ﴿وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ﴾ کار یې د الله ﷻ سره دی او بس. همدغه ټکی لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

الف: یوه دا چې قانونًا ترې نه غوښتل کېږي. هو! که سود خور د الله ﷻ د رضا دپاره څه ورکړي نو ښه خبره ده.

ب: بله دا چې د راتلونکي سود په باره کښې د الله ﷻ پرېکړه دا ده چې هغه محق کوي (د منځه به یې وړي) اما د تېر شوي سود په باره کښې الله ﷻ ته فیصله سپارله کېږي چې د منځه به یې یوسي نظر دې ته چې که اسلام یې د پښو لاندې کړی نه وه نو انساني همدردي خو یې د پښو لاندې کړې وه. او یا به یې محوه نه کړي خکه په هغه وخت کښې خو لا خطاب ورته نه وه متوجه شوی.

یادونه

۱۱_ په هر تقدیر، دا حکم د هغو سود خورو په باره کښې دی چې د ایت د نزول څخه پخوا یې په سودونو سره سرمایې راغونډې کړې وي.

اما هغه څوک چې د ایت د نزول څخه وروسته په سود باندې مبتلا وي او بیا غواړي چې توبه ترې وباسي نو د هغه د توبې یو جزء دا دی چې د سود پیسې خپل خاوند ته بېرته ورکړي او خپله غاړه خلاصه کړي. که هغه مړ وي او یا یې درک معلوم نه وي نو یا دې اسلامي بیت المال ته وسپاري او یا دې په فقیرانو باندې ووېشي[۱].

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۶۶

مونږ ښکه دغسې معنی واخستله چې د ایت وروستنی ټکړه ورباندې دلالت کوي چې: ﴿وَمَنْ عَادَ﴾ الآية يعنې: او څوک چې خپلې خبرې ته وروګرځي او سود او بيعه يو رنګ وګڼي نو هغوی د اور ملګري دي چې دوی به پکښې همېشه وي[1].

په سود څوک نه کافر کېږي

۱۲_ په تېر شوي بيان باندې د دې اعتراض مخه هم ونيوله شوه چې سود خو عمل دی او په عمل باندې خو څوک نه کافر کېږي او په دوزخ کښې خو د تل دپاره کافران پراته وي، نه ګناهګاران مسلمانان.

د جواب حاصل دا دی چې: د ايتونو د سياق څخه څرګندېږي چې دلته مراد قطعي کافران دي چې سود عقيدةً حلال ګڼي او د بيعې په شان ورته ښکاري او بس.

سود ګټه نه ده تاوان دی

۱۳_ مونږ پخوا ليکلي دي چې د "رِبَا" کلمه د زيادت، ډېروالي او ګټې معنی ورکوي. د همدې کبله د سود پيسو ته دغه نوم خوښ کړی شوی دی، ته به وايې چې دا معامله ټوله ګټه ده او ويښته تاوان هم پکښې نشته.

نو الله ﷻ دغه نظر رد کړ، چې سود سراسري تاوان دی الله ﷻ يې بربادوي او هغه شی چې ظاهراً تاوان ښکاري هغه سراسري ګټه ده او وېې فرمايل چې: ﴿وَيُرْبِي ٱلصَّدَقَٰتِ﴾ يعنې: الله ﷻ صدقات ډېروي، زياتوي او برکت پکښې اچوي، برسېره په دې اجرونه ورکوي. لاندې دوه حديثونه ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايي چې: «الرِّبَا وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ إِلَى قُلٍّ»[2] يعنې: د سود پانګه اګر که ډېره شي خو عاقبت يې د کمبود طرف ته دی.

ب: نبي كريم ﷺ فرمايي چې ستاسو صدقات د الله ﷻ په لاس کښې پرهوونزي نو داسې يې درته تربيه کوي لکه چې ستاسو کوم يو سړی د خپل آس کوتی او يا د اوښ جونګی تربيه کوي، تردې چې د قيامت په ورځ به يوه لمړی د أحد د غره په اندازه غټه شوې وي[3].

يادونه

۱۴_ الله ﷻ لطف وکړ او د سود د بحث په منځکښې يې د لمانځه او زکات بحث ته اشاره وکړه. شايد چې په دې کښې دې خبرې ته اشاره وي چې که سود خور وغواړي چې د سود څخه توبه وباسي او توفيق يې په نصيب شي نو په لمانځه دې مداومت وکړي ځکه چې لمونځ د بدو کارونو مخه نيسي. او زکات ته دې ادامه ورکړي چې حرص يې مات شي او په خلکو باندې يې زړه سوي پيدا شي.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۳ ص۳۶۹؛ تفسير الطبري ج۳ ص۱۰۴؛ البحر المحيط ج۲ ص۳۳۵
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۰۹؛ سنن ابن ماجه ص۱۶۵
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۹

۱۵ـ که څوک د سود د تحریم حکمتونه او نور اسرار غواړي نورو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[1]. موږ به دې مقام کښې په نور بحث باندې تېر نه شو.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَذَرُوا۟ مَا بَقِىَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ فَأْذَنُوا۟ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۖ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَٰلِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾﴾

[۲۷۸] ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! د الله ﷻ څخه ووېرېږئ او هغه څه پرېږدئ چې د سود څخه پاتې دي. که تاسو مؤمنان یاست.

[۲۷۹] نو که تاسو ونه کړه (متباقي سود مو پرېنښود) نو د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ د پلوه په (لوی) جنګ باندې خبر شئ، او که توبه تائب شوئ (د متباقي سود څخه صرف نظر شوئ) نو تاسو لره خپل راس المالونه شته (کولی شئ چې د هغو غوښتنه وکړئ) نه به تاسو ظلم کوئ (چې اضافه وغواړئ) او نه به په تاسو ظلم کېدلی شي (چې یا بالکل درنه کړی شي او یا لږ درکړی شي).

[۲۸۰] او که د سختۍ خاوند (مدیون) پیښ شي (چې لاس یې تنګ وي) نو (په تاسو باندې) د اسانۍ د وخته پورې انتظار کول دي (ترڅو یې چې لاس ازاد شي)، او (دا خبره) چې (په هغوی باندې) خیرات وکړئ (لږ یا ټول ورته عفوه کړئ) تاسو ته ډېره بهتره ده، که تاسو پوهېږئ.

ارتباط او شان نزول

۱ـ په تېرو شوو ایتونو کښې دوه حکمونه اثبات ته ورسېده چې یو د سود ابدي تحریم او بل د اخستل شوي سود بېرته نه غوښتل. اما لاندې دوه نور حکمونه په واضحه توګه نه وه نازل شوي:

الف: هغه ګټه چې موده یې پوره شوې وي خو سود خور لا نه وي ترلاسه کړې، ایا کولی شي چې د هغې مطالبه وکړي؟

ب: راس المال (اصلي پانګه) سودخور غوښتلی شي او که نه؟ امکان لري چې د چا ذهن ته ورغلې وي چې کله یې څو چنده ګټه د تحریم څخه وړاندې خوړلې ده نو په کار دي چې د راس المال غوښتنه ونه کړي.

۲ـ په همدې ابهام باندې څه وخت تېر شو ترڅو چې مکه معظمه فتحه شوه او هلته والي مقرر شو چې عتاب بن اُسید ﷺ نومېده. نو یوه قوم (بني عمرو) په بل قوم (بني المغیره) باندې د متباقي

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۶۵؛ في ظلال القرآن ج۱ ص۳۲۲؛ تفسیر المراغي ج۳ ص۵۷؛ التفسیر الکبیر ج۷ ص۹۳

سود غوښتنه پیل کړه، خبره دومره سخته شوه چې عتاب ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه په دې باره کښې د ذوه لپ غوښتنه وکړه، نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه او والي ته ورواستول شوه[١]، چې په نتيجه کښې بني عمرو د خپلې غوښتنې څخه تېر شوه[٢].

د مطلب خلاصه

١ _ یعنې ای مومنانوا ستاسو د ایمان غوښتنه دا ده چې د الله ﷻ احکامو ته غاړه کېږدئ که څه هم هغه ستاسو د خواهشاتو سره مخالف وي. نو د همغه الله ﷻ څخه ودار شئ چې تاسو ورباندې ایمان راوړی دی او د متباقي سود (ګټې) څخه صرف نظر شئ. که چېرې تاسو غواړئ چې د خپل ایمان عملي تصدیق ترلاسه کړئ نو دا کار وکړئ دا د ایمان غوښتنه ده. او که دا کار مو ونه کړ نو تاسو په یوه عظیم الشان جنګ باندې خبردار شئ چې د الله ﷻ او د ده د رسول ﷺ د پلوه ورباندې پیل کېږي ترڅو چې تاسو د خپل غوښتنې څخه توبه وکړئ او د الله ﷻ ته عملا هم غاړه کېږدئ.

٢ _ هوا که د ګټې څخه صرف نظر شوئ نو تاسو د خپلو راس المالونو (پانګو) مستحق ګڼل کېږئ او هغه ترلاسه کولی شئ، په دې تقدیر به نه تاسو ظلم کوئ چې د راس المال څخه د اضافه غوښتنه وکړئ او نه باید په تاسو ظلم وکړی شي چې یا درنه کړی شي او یا مو په نن، اشه او په سبا راشه باندې په مشقت کښې واچوي.

دا په هغه صورت کښې چې ستاسو مدیون (پوروړی) ستاسو قرض درکولی شي. او که داسې صورت پېښ شو چې د هغه لاس تنګ وه او راس المال یې درباندې نه شو سپارلی، په دې صورت کښې په کار دي چې تر هغه انتظار وباسئ ترڅو د هغه لاس ازاد شي او ستاسو د قرض ورکړه ورته اسانه شي چې یا تووله په یو ځل درکړي او یا یې په قسطونو درپوره کړي.

٣ _ که تاسو په خپلو پوروړو باندې زړه سوی وکړئ او په خپله خوښه ورته یا خپل ټول قرض او یا څه برخه وبښئ او صدقه یې کړئ نو دا خو ډېر ښه کار دی که پوهېږئ.

ځکه چې په دې صورت کښې به د صدقه کړی شوي مال عوضونه په دنیا کښې هم درکړی شي او په آخرت کښې به مو هم په داسې وخت کښې په درد وخوري چې ډېر به ورته اړ او محتاج یاست، او هم به الله ﷻ ستاسو د ګناهونو څخه درتېر شي لکه چې تاسو د خپل قرضدار د قرض څخه تېر شوئ او د هغه د اوږو څخه مو درونډ بار لرې کړ.

توضیحات

١ _ که څوک وایي چې ایت شریف په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ باندې پیل شوی او په ﴿ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ باندې پای ته رسېدلی، نو پیل او پای یې سره تضاد غوندې ښکاري ځکه چې د "إِنْ" کلمه د شک دپاره ده.

(١) تفسیر الطبري ج٣ ص١٠٧ ، الدر المنثور ج٢ ص١٠٧
(٢) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٣٣٠

مونږ وايو چې: د دې معنی دا ده چې ای مؤمنانو! د خپل ایمان مظاهره په اعمالو کښې وکړئ او دا خکه چې بوازې الله ﷻ په زړونو باندې پوهېږي، که تاسو په خپلو جوارحو باندې ایمان حاکم ونه ګرځوئ (سود ونه خورئ) نو خلک به تاسو د ایمان په دعوه کښې دروغژن وبولي او ایمان به مو کمزوري وبربښي.

يادونه

۲_ که څه هم د ﴿فَأْذَنُوا﴾ د "أذن" څخه اخستله شوي ده چې د غوږ په معنی سره ده خو په خپرو وختونو کښې هغه علم ته هم "أذن" وايي چې د غوږونو د لارې ورباندې سړی پوه شي، په دې مقام کښې همدغه معنی مطلب ده[۱]. يعني: واورئ او ښه پوه شئ چې تاسو سره د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ جنګ او دښمني ده.

ايا د الله ﷻ سره جنګ؟!

۳_ ښکاره ده چې د الله ﷻ سره خو جنګ غير متصور دی خکه چې جنګ په هغه صورت کښې متصور کېدلی شي چې د دواړو طرفونو په منځکښې څه د قوت تناسب موجود وي که څه هم ډېر لږ وي. نو خکه مونږ وايو چې سود خواره په لاندې لحاظونو سره د الله ﷻ سره جنګيان ګڼل شوي دي:

الف: په جنګ کښې دا قاعده ده چې يو طرف د خپل مقابل طرف په خلاف کار کوي، نو کله چې سودخواره د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ په خلاف چاپېر دي او د سود څخه لاس نه اخلي نو داسې وګڼل شوه لکه چې ورسره په جنګ وي. د همدې کبله باغيان په همدې نامه باندې ياد شوي دي خکه چې الله ﷻ او د ده ﷻ په ځمکه کښې اصلاح راولي او هغوی پکښې فساد کوي. لکه چې فرمايي: ﴿إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوْ يُصَلَّبُوٓاْ﴾ [المائدة: ۳۳] يعني: يقيناً د هغو کسانو کوم چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پيغمبر سره جنګ کوي او هم په ځمکه کښې فساد خوروي جزا دا ده چې ووژل شي او په دار کړی شي، او داسې نور.

ب: په انسانانو کښې دا عادت دی چې کله ډېر لوی شی وګوري کوم چې د دوی په مقياسونو کښې نه ځايېږي نو د هغه نسبت الله ﷻ ته کوي، لکه چې وايي: د افغانستان په جهاد کښې د الله خلک معيوب او د الله خلک شهيدان شول! يعني دومره معيوبين او شهيدان پکښې وشوه چې په شمېر يې يو الله ﷻ خبر دی. همدارنګه هغه شی هم چې په هغه کښې د ټولې ټولنې ګټه وي الله ﷻ ته نسبت کېږي، د همدې کبله د هغو حقوقو څخه چې په انساني ټولنه کښې څه خاص غوښتونکي ونه لري د حقوق الله په نامه يادېږي.

نو په همدې بناء څوک چې د الله ﷻ سره په عام المنفعة شي کښې مقابله کوي نو هغه هم د محارب مع الله په نامه باندې يادېږي. او په دې کښې خو شک نشته چې سود خوري ډېره لويه ګناه

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۰

او د عامو وګړو په ضرر ده. په همدې اړوند زښت ډېر احادیث روایت شوي دي، مونږ یې دلته نه شو رانقلولی، لوستونکي دي اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي[1].

ج: په دې مقام کښې یې مطلب دا دی چې تاسو سره په هغه جهاد پیل شي چې په هغه باندې الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ امر کوي. یعنې تاسو د شرعي جهاد لایق یاست چې د مقاتله في سبیل الله په نامه باندې هم یادېږي. نو دا مقاتله د وطني، مالي، توسعه طلبي او نورو شیانو مقاتله نه ده بلکې دا یوه شرعي مقاتله ده.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: که سود خورو په هغه وخت کښې سود او بیعه یو رنګ ګڼل خو جهاد ورسره في سبیل الله ګڼل کېږي، اما که هغوی مسلمانان وه لکه چې د شان نزول څخه څرګندېږي بیا هم ورسره جهاد واجب دی؟

مونږ وایو چې: د جهاد وجوب دپاره دا ضرور نه ده چې مقابل جانب دې کافر وي بلکې کله-کله د مسلمانانو سره هم جهاد لازم ګرځي، لکه چې څو باغیان او یا قطاع الطریق (لارې شکوونکي) سره یو ځای شي او د اسلامي حکومت په مقابل کښې قوت تشکیل کړي چې بې د جنګه وربانديې د چا زور نه رسېږي نو جهاد ورسره لازم دی. هو! که قوت یې نه درلود نو د اسلامي حکومت وظیفه ده چې ترهغه یې بندیان کړي ترڅو د الله ﷻ حکم ته غاړه کېږدي.

د ابو بکر الصدیق رضی الله عنه د وخت جنګونو هم دوه وجې درلودې، یوه دا چې هغه خلک مرتد شوي وه او بله دا چې د زکات د ورکولو څخه یې ډډه کوله. د همدې کبله نوموړی خلیفه رضی الله عنه وویلې چې ترهغه به ورسره جنګېږم ترڅو د زکات یو سېرلی هم ورته پرېنږدم[2].

یادونه

۵_ د ﴿ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴾ دوه جملو څخه د اشارې په توګه لاندې دوه حکمونه معلومېږي:

الف: د کوم یو مدیون (پوروړي) چې وسه کېږي او خپله غاړه نه خلاصوي هغه ظالم دی.

همدا مضمون نبي کریم ﷺ داسې منعکس کوي چې: «مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ»[3] یعنې: د غني سړي (په قرض ورکولو کښې) معطلي کول ظلم دی.

ب: لکه څنګه چې مسلمان مکلف دي چې د ظالمیت څخه خان وساتي باید چې د مظلومیت څخه هم خان وساتي. څکه څومره چې خلک مظلومیت ته غاړه ږدي په هماغه کچه به ظالمان ډېرېږي. نو اسلام لکه چې ظالم ته وایي چې ظلم مه کوه مظلوم ته وایي چې د ظالم په مقابل کښې مقاومت وکړه.

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۱۰۹؛ تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۶۴؛ تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۷۷

(۲) احکام القرآن ج۱ ص۴۷۲

(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۱۸

د قرض غلامان

۶_ پخوا به چې کله څوک د ډېر قرض څخه لاندې شو او د ورکړې وده به یې نه وه نو مدیون به د مالدار دپاره د غلام په شکل خرڅېده او د هغه قرض به یې ورپوره کاوه[۱]، خو څرنګه چې اسلام د حریت او ازادۍ دین دی نو په ذکر شوي حالت کښې یې مالدارانو ته توصیه وکړه چې بې وسه قرضدارانو ته د هغوی د وسې پورې انتظار وکړئ او بس.

سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: د اینونو د سیاق څخه معلومېږي چې ذکر شوي توصیه صرف د هغو قرضدارانو پورې خاصه ده چې هغوی د سود د تحریم په وخت کښې د درانه قرض څخه لاندې شوي وه، نه دا چې باید هر یو مدیون ته انتظار وویستلی شي؟

مونږ وایو چې: هر یو مدیون ته د هغه د وسې پورې کتل رحم او زړه سوی وي، په دې کښې شک نشته چې رحم او زړه سوی د اسلام یو مهم رکن دی لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایي: «مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ»[۲] یعني: څوک چې په چا رحم نه کوي په هغه به رحم ونه کړی شي.

همدارنګه یو ناداره مدیون ته په مهلت ورکولو او یا ورته د قرض څخه په ابراء ورکولو کښې هم زښت ډېر احادیث روایت کړی شوي دي[۳]، دا لاندې څو حدیثونه د مثال په توګه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایي چې: یو سړی وه چې خلکو ته به یې قرضونه ورکول او خپل مزدور ته به یې ویلې چې کله تش لاسی سړی ته ورغلې نو ورڅخه تېرېږه، شاید چې الله ﷻ به زمونږ د ګناهونو څخه راتېر شي؛ نو کله چې وفات شو، الله ﷻ یې د ګناهونو څخه ورتېر شو[۴].

ب: نبي کریم ﷺ فرمایي: «مَنْ نَفَّسَ عَنْ غَرِيمِهِ أَوْ مَحَا عَنْهُ كَانَ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۵] یعني: څوک چې په خپل قرضدار باندې اساني راولي او یا ورڅخه قرض محوه (عفوه) کړي نو د قیامت په ورځ به د عرش العظیم د سیوري لاندې وي.

اما دا خبره چې د ایت حکم عام دی او که یوازې سودي قرضدارانو پورې خاص دی نو په دې کښې دوه نظره دي: یو دا چې ایت شریف ټولو قرضدارانو ته شامل دی، لکه چې همدا نظر احنافو خوښ کړی دی[۶]، بل دا چې سودي قرضدارانو پورې خاص دی مګر په إشارة النّص سره پکښې ټول قرضداران داخل دي. همدارنګه قیاساً هم ټولو ته شامل دی[۷].

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۷۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۸۸۹
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۳۱؛ تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۷۴
(۴) صحیح مسلم ج۲ ص۱۸
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۳۰۰
(۶) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۷۳
(۷) تفسیر کبیر ج۷ ص۱۱۰

سود د تجارت په غرض

۸ـ په عربي ژبه کښې قانون دی چې د "إذا" کلمه د تحقیق دپاره استعمالېږي او د "إن" کلمه د شک دپاره. نو نظر همدې قانون ته د ﴿ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې اکثرو خلکو د دې دپاره په سود باندې پیسې اخستې وې چې تجارت پرې وکړي او زیاته ګټه ترلاسه کړي، نو دوی غنیان وه او تنګ لاسي نه وه.

اما داسې چې هغوی د ژوند د لمړنیو اړتیاوو د پوره کولو دپاره په سودي پیسو باندې پور وړي شوي وه، لاس یې تنګ وه او د راس المال د ورکړې وسه یې نه وه نو هغوی کم خلک وه. نو خکه الله ﷻ د ﴿ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ ﴾ په عوض "وَإِذَا كَانَ ذُو عُسْرَةٍ" نازل نه کړ ترڅو د تنګ لاسو خلکو په کموالي دلالت وکړي.

نو د دې څخه معلومېږي چې سود مطلقًا حرام دی که څه هم هغه د تجارت دپاره وي او یا د کومې فابریکې او کارخانې د فعالولو دپاره او یا داسې د نورو اجتماعي خدماتو دپاره.

﴿ وَٱتَّقُواْ يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾ ﴾

[۲۸۱] او د هغې ورځې څخه ودار شئ چې په هغې کښې به تاسو الله ﷻ ته بېرته وروګرځول شئ. بیا به هر چا ته هغه څه پوره ورکړی شي چې هغه کړي وي (په دنیا کښې) او په دوی باندې به (په هیڅ ډول) تېری ونه کړی شي.

ارتباط

د دې ایت د وړاندېنیو ایتونو سره اړوند پوره واضحه دی خکه هغه څوک چې په پوره اخلاص سره تصدقات کوي او د سود او نورو معاصیو څخه ځان ساتي بالآخره په غریبانو او تنګ لاسو خلکو باندې ترحم او زړه سوی کوي هغوی د قیامت په ورځ باندې پوره باور لري او د هغې ورځې د مشکلاتو د حل کولو غم ورسره وي. نو خکه الله ﷻ تېر شوي احکام په دغه ایت شریف سره تعقیب کړه.

د مطلب خلاصه

یعنې: د الله ﷻ تېر شوي احکام عملي کړئ، که په تعمیل کښې یې د مشقت او سختۍ سره مخامخ کېږئ نو د قیامت ورځ درېه یاد کړئ چې په تعمیل کښې یې درسره لاس وکړي، خکه چې په هغې ورځ کښې زینت ډېر مشکلات دي خو په هغه وخت کښې یې چاره نه کېږي، نن ورځ کولی شئ چې د هغو مشکلات مخه ونیسئ؛ خکه هلته به ستاسو ټول ظاهري قدرت ختم وي او په سترګو به ګورئ چې ټول قدرت د الله ﷻ سره دی او بس، هلته به د هر چا سره جدا- جدا محاسبه وکړی شي او هر څوک به د خپلو کړو وړو پوره بدله وګوري.

توضیحات

۱_ په انسان باندې لاندې درې مرحلې تېرېږي:

الف: چې د مور په ګېډه کښې وي. په دې مرحله کښې هیڅوک د ډېر وړوکي شي د وسې او توان دعوه هم نه شي کولی.

ب: چې د مور د ګېډې څخه دنیا ته رابهر شي آن د مرګ د ورځې پورې. په دې مرحله کښې په سړي باندې داسې حالت راتلای شي _العیاذ بالله_ چې خپل خان په هر شي باندې قادر وګڼي او د الله ﷻ څخه بالکل انکار وکړي.

ج: چې کله مړ شي او د برزخي حیات سره مخامخ شي او یا د قیامت په ورځ د قبرونو څخه راپورته کړی شي او محاسبه ورسره پیل شي. په دې مرحله کښې انسان بېرته لومړنۍ مرحلې ته ورګرځي او یقین او باور یې راځي چې د ده په وسه کښې هیڅ شی نشته او ټول واک د الله ﷻ دی. د ﴿تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِ﴾ جمله همدغه مضمون ته اشاره ده.

د قرآن کریم آخرنی نازل شوی ایت

۲_ که څه هم علماء کرام په دې خبره کښې (چې د قرآن کریم بالکل وروستنی ایت شریف کوم دی چې د هغه څخه وروسته بل ایت نه دی نازل شوی) په لسو ګروپونو وېشلي دي[1]، شاید چې د دې اختلاف اصلي وجه به یوه دا وي چې هر یوه عالم خپلو معلوماتو ته کتلي دي او نظر یې ورکړي دي، او بله وجه به یې دا وي چې تقدم او تاخر د اضافي اُمورو څخه دی، کېدی شي چې یو ایت نسبت خینو ایتونو ته وروستنی او خینو ته مخکنی وي.

مګر اکثره صالحین سلف چې په هغوی کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) هم شامل دی، په دې نظر دي چې همدغه ایت _چې اوس پکښې بحث روان دی_ د قرآن کریم آخرنی ایت دی چې د دې د نزول څخه وروسته نبي کریم ﷺ محض څو ورځې ژوندی وه، چې څوک یو ویشت ورځې بنیي او څوک کمې او څوک زیاتې.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي: کله چې دغه ایت نازل شو نو جبرائیل امین علیه السلام نبي کریم ﷺ ته وویلې چې د "اَلْبَقَرَة" سورت د دوه سوه او یو اتیا ایت په سر باندې یې کېږده[2]، چې دوه سوه یو اتیا (۲۸۱) نمره شي، والله ﷻ أعلم.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَٱكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِٱلْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ ٱلَّذِى

(۱) مناهل العرفان في علوم القرآن ج۱ ص۹۰

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۷۵؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۶۸؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۶۶

عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ
ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُۥ بِٱلْعَدْلِ ۚ وَٱسْتَشْهِدُوا۟ شَهِيدَيْنِ مِن
رِّجَالِكُمْ ۖ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ
إِحْدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَىٰهُمَا ٱلْأُخْرَىٰ ۚ وَلَا يَأْبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوا۟ ۚ وَلَا تَسْـَٔمُوٓا۟
أَن تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدْنَىٰٓ
أَلَّا تَرْتَابُوٓا۟ ۖ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا
تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوٓا۟ إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ وَإِن تَفْعَلُوا۟ فَإِنَّهُۥ فُسُوقٌۢ
بِكُمْ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ
وَلَمْ تَجِدُوا۟ كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِى ٱؤْتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ
وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ ۗ وَلَا تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا
تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾ ﴾

[۲۸۲] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو په خپلو منځو کښې د ټاکلې شوې نېټې پورې په پور سره د نسیا کارۍ معامله کوئ نو هغه ولیکئ او ستاسو په منځ کښې دې (درہم نف) لیکونکی په انصاف سره لیکنه وکړي، او لیکوونکی دې د دې څخه امتناع نه کوي چې (ستاسو معامله) ولیکي، لکه څنګه چې الله ﷻ نوموړي ته ښودانه کړې ده نو (همغسې) لیکنه دې وکړي (ترڅو یې شکر اداء کړي).

او د (معاملې بیان دې په لیکونکي باندې) هغه څوک وکړي چې د هغه په ذمه باندې حق ثابت شوی دی، او د الله ﷻ څخه دې چې د ده رب دی وډار شي او د حق څخه دې (په خپل اقرار کښې) هیڅ شی نه کموي. نو که چېرته همدغه څوک چې حق ورباندې دی ساده وي یا کمزوری (صغیر یا بوډا) وي (او) یا توان نه لري چې نوموړې معامله بیانه کړي نو د هغه وارث دې په انصاف سره (په لیکونکي باندې) املاء وکړي او (په لیک باندې د پاسه) ستاسو د سړیو څخه دوه تنه شاهدان (هم ورباندې) ونیسئ.

نو که دوه شاهدان دوه سړي نه شوه (تاسو ونه نیوه) نو یو سړی او دوه ښځې (هم کفایت کوي خو) چې د شاهدانو په ډله کښې د هغو خلکو څخه وي چې تاسو ورباندې رضایت لری.

(دوه ښځې د يو سړي په ځای کښې ځکه ودرولی شوي) چې يوه ښځه څه شی هېر کړي نو يوه به بې بلې ته ورپه ياد کړي (او که پکښې خطا شي نو يو به بې بلې نه تصحيح کړي).
او شاهدان دې امتناع نه کوي کله چې دوی (شاهد نيولو يا شاهدي اداء کولو) ته ورو بلل شي.
او تاسو په دې باندې مه ستومانه (زړه تنګي) کېږئ چې خپل حق وليکئ که څه هم هغه وړوکی يا غټ وي خو چې نېټه درلودونکی وي. دا ليکنه د الله ﷻ په نزد ښه د انصاف کار دی او د شهادت دپاره په پښو درونکی دی او دې ته ډېر نژدې دی چې تاسو په اشتباه کښې واقع نه شئ، (نو ليکنه کوئ) مګر هله چې ستاسو معامله لاس په لاس تجارت وي چې په خپلو منځو کښې سره راکړه ورکړه کوئ نو په تاسو باندې باک نشته چې بې ونه ليکئ. او کله چې تاسو (په يوه خطرناک شی کښې لاس په لاس) سودا کوله نو شاهدان درباندې ونيسئ (او وثيقه خط بې وليکئ)، او نه دې بې ... نکي ته ضرر ورسولی شي او نه شاهدي ورکوونکي ته، او که تاسو دا کار (ضرر رسول) وکړئ نو يقيناً دا په تاسو پورې د فاسق کېدلو نوم نښتل دي.
او د الله ﷻ څخه وډار شئ، او (دغه) تعليمات الله ﷻ درکوي (بل څوک يې نه درکوي چې تاسو پکښې سستي وکړئ)، او الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.
[۲۸۳] او که تاسو په سفر باندې ياست او ليکونکی نه شئ موندلی (چې وثيقه خط درته وليکي) نو قبض کړی شوي مرهوني (هم کفايت کوي چې خپله معامله درباندې قوي کړئ).
نو که ځينو په ځينو نورو باندې اعتماد وکړ (چې يا يې مرهونه ورکړه او يا يې د مرهوني څخه په غير نسپاکاري وکړه) نو هغه څوک دې خپل امانت تاديه کړي چې په هغه باندې اعتماد کړی شوی دی، او د خپل رب ﷻ څخه دې وډار شي.
او تاسو شاهدي مه پټوئ (که د ليک څخه په غير شاهدان ودرول شوي باست). او څوک يې چې پټه کړي نو بې شکه چې د هغه زړه ګناهګار دی.
او الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي چې تاسو يې کوئ.

ارتباط

د دې ايتونو په ارتباط کښې لاندې وجهې د نظره تېرې کړئ شايد چې د مطالبو په وضاحت کښې به هم درته ګټه ورسوي.
الف: کله چې الله ﷻ د صدقاتو په باره کښې په ډېره بليغه توګه څو ايتونه نازل کړه د هر چا احساسات يې د مال ګټلو ته وېارول او د سود په باره کښې يې تهديدات او وعيدات نازل کړه چې د هر چا د مال د ګټلو څخه زړه تور شو. نو په دې ايتونو کښې يې معتدله طريقه بيانه کړه چې مال ګټل ورباندې عبادت دی او الله ﷻ ورباندې راضي کېږي ترڅو احساسات توجيه شي (اختناق نه شي).
ب: د انسانانو معشرت او ګوزاره په اکثرو وختونو کښې د معاملاتو د کبله خرابېږي او دوستي په کينه او عداوت باندې بدلېږي. نو الله ﷻ د مشروعو معاملاتو دپاره څه لارې جارې بيانې کړې چې د سودي معاملاتو په شان د عداوت سبب نه شي.

ج: الله ﷻ په تېرو شوو ايتونو کښې د سود تحريم بيان کړ خو په عوض کښې يې په دغو ايتونو کښې د سَلَم د عقد جواز نازل کړ ترڅو خلک متسلي شي، لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه همداسې روايت شوی دی[١].

د: بالآخره هلته الله ﷻ غنيانو ته هدايت کړی وه چې تنګ لاسو خلکو ته د پراخۍ د وخته پورې انتظار وکړئ، خو د دې دار وه چې د هېرېدلو د کبله دا کار په جنګ او جګړه باندې بدل شي، انسان هېردله دی، د آدم عليه السلام څخه لا خپله خبره هېره شوې ده چې داوُد عليه السلام ته يې په عالم الذر کښې د خپل عمر څه برخه ببنلې وه[٢].

نو الله ﷻ دوی ته په دې ايتونو کښې د معاملاتو د ثبت کولو هدايت وکړ ترڅو د شخړو او لانجو مخه ونيوله شي او تجاران په فارغه زړونو تجارت وکړي.

يادونه

د قرآن کريم ټول ايتونه څه د پاسه شپږ زره او دوه سوه (٦٢٠٠) ايتونه دي، خو په دغو ټولو کښې اوږد ايت همدغه ايت دی چې "آية المداينه" نومېږي[٣]. او نظر زمونږ معلوماتو ته په ټولو ايتونو کښې بل داسې ايت نشته چې په يوه موضوع کښې يې په دومره جزئياتو پورې تماس نيولی وي لکه چې همدې ايت د راکړې ورکړې په وړو-وړو خبرو پورې تماس نيولی دی.

برسېره په دې، د قرآن کريم عادت دی چې په مهمو مطالبو باندې صراحت کوي او جزئي مطالبو ته په اشارو اکتفاء کوي مګر په دې مقام کښې يې د خپل عادت په خلاف برسېره په اشارو صراحت هم وکړ، لکه چې د ﴿ تَدَايَنتُم﴾ څخه "دَين" معلومېږي خو په ﴿ بِدَيْن﴾ سره يې صراحت هم وکړ، او داسې نور.

شايد چې دا عادت به د لاندې دوه وجو د کبله پرېښودل شوی وي:

اول: چې خلکو ته د معاملو او تجارتونو اهميت ورتعليم کړي چې په متواتر کلام کښې يې ځای ورکړ، د قيامت د ورځې پورې به يې لولي او اهميت ته به يې متوجه کېږي.

دوهم: چې مؤمنان پوه کړي چې په معاملاتو کښې ډېرو وړو-وړو خبرو ته هم په سرسري نظر ونه ګوري، ځکه چې همدغه جزئيات د لويو او درنو جګړو باعث ګرځي چې په نتيجه کښې تجارت پاتې کېږي او په عوض کښې يې سړی په جنجالونو او ناندريو مشغولېږي.

لنډه دا چې ذکر شوي دواړه ايتونه د زښتو ډېرو مطالبو څخه ډک دي خو کوم مطالب چې مونږ يې دلته ليکل غواړو د لوستونکو د اسانۍ د کبله يې د هغو خلاصه مطلب او توضيحات څنګ په څنګ وراندې کوو.

---

(١) تفسير ابي السعود ج١ ص٢٦٩

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٧٣

(٣) مناهل العرفان ج١ ص٣٣٦

د مطلب خلاصه او توضیحات

۱_ په دې مقام کښې مؤمنانو ته د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ په خطاب سره دې ته اشاره ده چې په راتلونکو احکامو باندې یوازې ایماندار عمل کولی شي، ځومره چې د چا ایمان کمزوری وي په هماغه اندازه به یې معاملې هم ګوډې او ړندې وي د ایمان ځخه بل ښه پولیس او ادارچي نشته.

۲_ د ﴿ تَدَايَنتُم ﴾ کلمه اصلا د دَین ځخه اخستله شوې ده، نظر صرفي قوانینو ته یې معنی داسې کېږي چې کله تاسو یو بل ته دَین ورکړئ چې د دواړو جانبو ځخه نقد څه شی نه وي بلکې دواړه نسیا وي. خو دغه ډول بیعه ناجائزه ده، لکه چې نبي کریم ﷺ منعه کړې «عَنْ بَيْعِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ»[۱] د هغې بیعې ځخه چې دواړه جانبه نسیا وي. نو ځکه ورسره الله ﷻ ﴿ بِدَيْنٍ ﴾ کلمه اضافه کړه چې یو جانبه دَین ته اشاره ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي: چې کله تاسو په خپلو منځو کښې داسې معامله کوئ چې هلته یو جانبه دَین وي که ډېر لږ وي هم هغه ولیکئ.

نو که په ثمنو (پیسو) کښې وعده وه دا د نسیا بیعه ده، او که په مبیعه کښې وعده وه او پیسې نغدې وې نو دا د سَلَم عقد دی چې فقهي کتابونو او تفاسیرو یې شرطونه پوره لیکلي دي[۲].

دَین څه ته وایي؟

۳_ د عربو په اصطلاح دَین د هغې معاملې ځخه عبارت دی په کومه کښې چې په دوه عوضونو کښې یوازې یو عوض نسیا وي لاس په لاس نه وي[۳]. په بل عبارت: هغه مال ته دَین وایي چې د چا په غاړه واجب شي.

نو نظر همدې تعریف ته لاندې عقدونه ټول په حکم کښې داخلېږي، لکه: سلم، اجاره، مهر، خلع، صلح علی مال، قرض. همدا د جمهورو علماء کرامو نظر دی[۴].

سوال جواب

که څوک وایي چې: په دَین کښې خو د ایت شریف حکم دا دی چې تاکله شوې نېټه دې ولیکله شي او شاهدان دې ورباندې ونیول شي، حال دا چې په قرض حسنه کښې د نېټې تاکل ضرور نه دي ځکه چې قرض دېته وایي چې څه مال چا ته بې عوضه په دې شرط ورکړی شي چې بالمثل یې بېرته ورکړي، نور نو که لږ وخت وي او که ډېر، نېټه پکښې تاکله شوې وي او که نه[۵].

مونږ وایو چې: په حسنه قرض کښې که څه هم په قانوني توګه د نېټې تاکل نشته اما لکه ځنګه چې پخپله قرض په اخلاقي توګه ورکړی شوی دی نو د نېټې تاکل هم پکښې په اخلاقي ډول شته،

(۱) سنن الدار قطني ج۳ ص۸۷
(۲) هدایه باب السلم ج۲ ص۹۳. تفسیر المظهري ج۱ ص۴۱۵
(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۷۷
(۴) تفسیر المنار ج۳ ص۱۲۰
(۵) مفردات الراغب ج۴۱۶

ترڅو دواړه طرفه د تاکلې شوې نېټې سره خپل خانونه عیار کړي، نو په قرض کښې یې د نېټې ځخه وراندې هم مطالبه کولی شي مګر مناسبه نه ده. او په نورو معاملاتو کښې د نېټې ځخه مخکښې مطالبه غیر قانوني ده. په هر تقدیر که په قرض کښې نېټه تاکل ضرور نه دي مناسب کار خو دی[1]، ترڅو په راتلونکي کښې د عداوت او کینې سبب ونه ګرځي چې دوستي په دښمنۍ بدله شي.

د دَین توثیق

۴ـ د دې دپاره چې د راتلونکو جنجالونو مخه ونیوله شي الله ﷻ د دین د توثیق (محکمولو دپاره دوه) امرونه کړي دي، یو دا چې: ﴿ فَٱكۡتُبُوهُ ﴾ هغه ولیکئ، او بل دا چې: ﴿ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ ﴾ او شاهدان ورباندې ونیسئ، جمهور علماء وايي چې دغه دواړه امرونه استحبابي دي، واجبي نه دي[2]، ځکه چې:

الف: که کتابت او شهادت واجب وی نو د دغو دواړو د تعذر په وخت کښې به ګروي هم واجب وی لکه د اودس د تعذر په وخت کښې چې تیمم واجب دی، او ګروي خو په اتفاق سره واجبه نه ده؛ نو معلومه شوه چې د دَین کتابت او په هغه شهادت هم واجب نه دی.

ب: په لومړي عصر کښې د دغو دواړو التزام مسلمانانو نه دی کړی، که واجب وی نو هغوی به بې ضرور التزام کړی وی ځکه چې هغوی د قرآن کریم په مراد باندې ډېر ښه پوهېده[3].

نو که مونږ ووایو چې: دغه دواړه امرونه ارشادي امرونه دي په دې معنی چې که څوک ورباندې عمل وکړي نو د جنجال ځخه به خان خلاص کړي او که نه نو احتمال شته چې خان ته کار وګوري؛ هم بده نه ده.

دَین او لیکنه

۵ـ د دَین په لیکنه کښې ایت شریف لاندې احکام بیانوي:

الف: لیکونکی دې د دواړو طرفونو په منځکښې درېم سړی وي لکه چې د ﴿ بَّيۡنَكُمۡ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي، ترڅو یو طرف هم د اتهام لاندې رانه شي.

ب: لیکوونکی باید منصف او عادل وي لکه د ﴿ بِٱلۡعَدۡلِ ﴾ ځخه چې ځرګندېږي، نو باید چې په لیکنه کښې داسې کلمات استعمال نه کړي چې یو طرف ته ګټه وي او بل ته تاوان، او د فیصلې ځخه خلاف لیکنه ونه کړي.

ج: که اسلامي حکومت د قضاء په چوکاټ کښې داسې شعبه ولري چې صرف معاملات لیکي نو دا ډېره ښه ده، لکه چې په دې زمانه کښې همدغه ډول لیکنې ته شرعي وثیقه وايي، او که په حکومتي چوکاټ کښې نه وي نو هغه ته عُرفي وثیقه ویلی کېږي.

---

(1) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۶۷
(2) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۸۲؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۶۹؛ احکام القرآن للجصاص ص۴۸۲
(3) تفسیر المنار ج۳ ص۱۲۳

د: کله چې د لیکونکي څخه د لیکلو غوښتنه وشي نو هغه دې نه وایي چې: نه ﴿ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن يَكْتُبَ ﴾ یعني: او لیکونکي دې د لیکلو څخه ابا (منع) نه څېلوي.

هـ: د ﴿ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُ ﴾ جمله دوه معناوې لري، یوه دا چې د خپل کتابت شکریه دې وکړي لکه چې الله ﷻ ورته دغه نعمت وربېرزو کړی دی او لیک یې ورښودلی دی، بله دا چې څومره پوهه چې الله ﷻ په کتابت کښې ورکړې ده هغه دې د لیکنې څخه نه سپموي او خپله وسه دې پکښې تمامه کړي، ترڅو داسې کلمات ولیکي چې راتلونکي جنجالونه پرې ښه حل کېږي.

و: همدومره نه چې د لیک د غوښتنې په وخت کښې نه ونه وایي بلکې هو دې ووایي او ﴿ فَلْيَكْتُبْ ﴾ ودې لیکي.

ز: علماء کرام وایي چې په کاتب باندې د لیکلو امر هم د وجوب دپاره نه دی، د همدې کبله په کتابت باندې مزدوري اخستل روا دي، که د وجوب دپاره وی نو أجرت اخستل به ورته روا نه وی[۱].

او بل دا چې په متعاقدینو باندې لیکنه مستحبه ده ـ لکه چې مخکښې تېر شوه ـ نو په کاتب باندې به ولې لیکل واجب وي.

ح: په لیکونکي باندې فیصله شوی عقد لوستل د "إملال" په نامه یادېږي، که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د "إملاء" لفظ (چې همدا معنی ورکوي) د "تَقَضِّيَ الْبَازِي" په صرفي قانون باندې د املال څخه مخفف ګڼلی دی مګر څرنګه چې د املاء کلمه په همدې معنی کښې ډېره استعماله شوې ده نو مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوې دواړه کلمې یوه د بلې څخه نه ده اخستلې شوې بلکې د دواړو په منځکښې ترادف دی او بس.

ط: املاء ځکه په مدیون (پوروړي) باندې کېښودله شوه چې دا په واقع کښې اقرار دی ترڅو د راتلونکي وخت دپاره سند شي. د همدې کبله یې ودراوه چې غلط اقرار ونه کړي چې ﴿ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُ ﴾ او د خپل رب الله ﷻ څخه دې ودار شي، او د هغه حق څخه چې د ده په غاړه واجب شوی دی په اقرار کښې څه شی نه کموي.

ي: که مدیون املاء نه شوه کولی ترڅو یې په لیکونکي باندې ولولي، او یا یې اقرار شرعًا د اعتبار وړ نه وي، لکه:

اول: چې شوده بوده وي بلکې کم عقله او سوداني وي.

دوهم: چې وړوکی ماشوم وي، لیونی وي، او یا زوړ بوډا وي.

دریم: چې ګونګ وي، د لیکونکي سره په ژبه نه پوهېږي، یا ډېر مریض وي چې خبرې نه شي کولی او یا په شرعي اقرار باندې قادر نه وي. نو په دې صورتونو کښې باید چې د مدیون متولي او وارث (چې د نوموړي نور کارونه یې په لاس کښې وي) اقرار وکړي او انصاف په نظر کښې

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۴۸۵

ونیسي، که دغسې وارث هم هلته موجود نه وه نو ممکنه ده چې د شاهدانو خولې ته اعتبار ورکړي او عقد ولیکي.

دَین او شاهدان

۶ـ د رجم د حد شاهدان څلور سړي تاکلي شوي دي او په نورو حدودو او کفاراتو کښې د دوه سړیو شهادت کفایت کوي. په هغو احکامو کښې چې هغه ښځو پورې خاص دي، لکه حیض او نور، هلته د سړیو شهادت ته حاجت نشته یوازې د ښځو په شهادت باندې فیصله کېږي[۱].

اما د مالي موضوعاتو په متعلق د شاهدانو حکم دا دی چې یا به دوه سړي وي او یا یو سړی او دوه ښځې وي، لکه چې په همدې ایت شریف کښې ورته اشاره شوې ده او په همدوی پورې مربوط تفسیر لاندې لوستلی شي:

الف: د دې جملې څخه چې ﴿ مِن رِّجَالِكُمْ ﴾ تاسو د خپلو مؤمنانو سړیو څخه شاهدان ونیسئ، دوه شرطونه معلومېږي: یو دا چې شاهدان باید سړي وي او بل دا چې باید مسلمانان وي، نو د صغیرانو او کافرانو شاهدي د اعتبار وړ نه ده.

ب: د ﴿ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ ﴾ څخه (که دوه سړي مو شاهدان جوړ نه کړه نو یو سړی او دوه ښځې شاهدان ودروئ) مطلب دا نه دی چې د سړي په موجودیت کښې ښځې شاهدانې نه شي جوړېدلی، که دا مطلب وی نو ﴿ فَإِن لَّمْ يَكُونَا ﴾ په عوض به "فَإِنْ لَمْ يوجدا" نازل شوی وی، بلکې د یو سړي او یا دوه ښځو په انتخاب کښې د متعاقدینو آزاده اعتبار لري او بس[۲].

ج: د دې جملې څخه چې ﴿ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ ﴾ شاهدان د هغو نارینه وو او ښځو څخه وټاکي چې تاسوورباندې راضي یاست، د شهادت دپاره څه نور شرطونه هم معلومېږي لکه انصاف او عدالت، چې بې انصافه او د کبائرو . مرتکبین د چا نه خوښېږي. یا لکه پوهه (ښه فکر چې ډېر نه غلطېږي) او یا لکه د متعاقدینو د کوم یو سره څه خاصه علاقه او څه خاص عداوت ونه لري چې ترڅو په طرفدارۍ باندې متهم نه شي. او نه د خپل خان دپاره د څه منفعت او مضرت خیال وساتي.

د دې بحث پوره بیان خو د فقهې په کتابونو کښې لیکل شوی دی مګر ځینو مفسرینو د شهادت ټول شرطونه لس ښودلي دي[۳].

یو سړی یا دوه ښځې

د: اسلام دښمنه ټولنې درګرده په اسلام باندې اعتراضات کوي ترڅو یې د خلکو په نظر کښې بې انصافه معرفي کړي او غرب مشربه مسلمانان مرتد کړي.

(۱) هدایه کتاب الشهادة ج۲ ص۱۵۳؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۷۰؛ روح المعاني ج۳ ص۵۸
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۲۹۱
(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج ص۵۹۳

د دې اعتراضاتو څخه یو هم دا دی چې اسلام زنانه وو ته د اهانت په نظر کتلي دي چې دوه ښځې یې د یو سړي سره په شهادت کښې برابرې کړې دي. خو الله ﷻ دا سوال په ډېره معقوله طريقه باندې جواب کړ چې ﴿ أَن تَضِلَّ إِحْدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَىٰهُمَا ٱلْأُخْرَىٰ ﴾ دا کار د دې کبله شوی دی چې د زنانه وو حفظ کمزوری دی کله چې د یوې د یادو څخه د واقعې څه جزئيات ووځي نو بوه به یې بلې ته وریه زړه کوي. شاهد نیول خو د دې دپاره دي چې د جګړې په وخت کښې اصلي واقعه ښه ښکاره کړی شي، د توقیر او توهین خبره دلته مطرحه نه ده.

په همدې مضمون باندې ابو هریره ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه یو اوږد حديث هم روايت کړی دی[۱] چې حاصل یې دا دی: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د ښځو یوې اجتماع ته خبرې کولې او د خبرو په ترځ کښې یې ورته وفرمایل چې ای ښځو! ستاسو څخه په غیر مې داسې څوک نه دي لیدلي چې پخپله سادګان او د کمزوري دین خاوندان وي خو د هوښیار سړي عقل د منځه وړي او د سادګانو کارونه ورباندې کوي.

یوې ښځې وویلې چې: ای د الله رسوله! زمونږ د عقل د کمبود (سادګیو) او د دین د کمزورۍ دلیل څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: د عقل د نقصان دلیل خو دا دی چې الله ﷻ د دوه ښځو شاهدي د یوه سړي د شاهدۍ سره برابره کړې ده ترڅو یوه بلې ته هېره شوې خبره وریه زړه کړي او د شهادت ورکولو تر وخته یې په یاد پاتې شي، او د دین نقصان د دې کبله دی چې په میاشت کښې څو ورځې په کور کښې ناستې یاست چې نه لمونځ کوئ او نه روژې نیسئ؛ او د همدې ورځو د عبادت د اجرونو څخه محرومې پاتې کېږئ.

الله ﷻ ښځې هوښیارې نه دي ګرځولي

۷_ په دغه حديث کښې د هغه چا جواب هم ورکړی شوی دی کوم چې ووايي چې الله ﷻ ښځې هم هوښیارې پیدا کړې دي. د جواب حاصل یې دا دی چې: الله ﷻ د زنانه وو په ګېډه کښې د جنين تغذیه کوي دې کار ته رطوبت په کار دی د همدې کبله هغه زنانه نه شي بارداره کېدلی چې په هغوی باندې د ماهوار رطوبت جریان نه تېرېږي او یا هغه ښځې چې د هغوی ماهوار رطوبت قطعه شي.

د زنانه وو د سترګو څخه چې په ډېره وړه خبره ژر-ژر اوښکې تویېږي دا هم د رطوبت نښه ده، د رطوبت لازمه نتیجه دا ده چې په دماغ کښې یې خبره ښه نه شي نقش کېدلی او چې نقش شي نو ژر ورانېږي او هېرېږي، لکه چې د ختې کربښې او د تیږې کربښې سره ډېر توپیر لري.

د طب کتابونه وايي چې هغه غذا کومه چې مرطوبه وي لکه د ماهي غوښه او یا خام پیاز، د هغه ډېر خوراک د کم عقلۍ سبب ګرځي.

اوس نو هغه سړی چې د نارینه وو عقل لري پوهېږي چې د اسلام حکم څومره په ځای او د انصاف څخه ډک دی، که هغه چا ته (چې خپل ځان د زنانه وو دوست جوړوي او اوبه خړوي او

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۴؛ صحيح مسلم ج۱ ص۶۰

ماهیان پکښې نیسي) څوک ووايي چې هر کله چې تاسو جناب په زنانه وو دومره زره سوی لرئ او د هغوی د هوسایي دپاره هلې ځلې کوئ نو مهرباني وکړئ د زنانه وو سره درونه پېتي نیمايي کړئ، څه ماشومان تاسو وزېږوئ او څه به هغوی وزېږوي ترڅو نارینه او زنانه سره یو برابر شي؛ نو حیران یو چې دغه ښځنوکي سړي به څه جواب ورکړي.

یادونه

۸_ قاضي ته په کار دي چې د شاهدۍ اورېدلو په وخت کښې که یوه شاهده ښځه په خبره کښې څه ګډوډه شوه نو د بلې شاهدې ښځې څخه دې پوښتنه وکړي ترڅو خبره (شاهدي) پوره شي، که بلې هم ونه شوه ویلې بیا دې د دوی شاهدي رده کړي. اما که سړي شاهدي ګډه وډه کړه نو سمدستي دې رده کړي.

۹_ لکه څنګه چې الله ﷻ لیکونکو ته ارشاد کړی وه چې د لیک غوښتنې په وخت کښې دې "نه" نه وایي همدارنګه شاهدانو ته هم لارښوونه کوي چې د شهادت څخه دې خانونه نه په څنګوي لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَا يَأْبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْ ﴾ شاهدان دې د شاهد جوړېدلو څخه او هم د شاهدۍ د ورکولو څخه ابا نه کوي، چې نه شاهد کېږم او یا شاهدي نه وایم.

هره وړه او غټه ولیکئ!

۱۰_ ﴿ وَلَا تَسْـَٔمُوٓاْ ﴾ یعنې: تاسو په دې باندې مه ستومانه کېږئ چې هر یو نېټه لرونکی حق ولیکئ: که څه هم هغه غټ یا وړوکي وي او یا بې اوږده کاغذ ته ارتیا وي چې یا د ډېروالي او یا د اوږدوالي د کبله زړه تنګي شئ.

لکه څنګه چې الله ﷻ هر یو وړوکی او غټ شی بې لیکلو نه پرېږدي او شاهدان هم ورباندې ودروي چې د قیامت په ورځ به کرام الکاتبین عملنامې وړاندې کړي او اندامونه به ورباندې شاهدان تېر شي نو انسان ته هم په کار دي چې د همدې څخه د عبرت درس واخلي او خپل معاملات ولیکي.

که حق وړوکي هم وي خو چې جنجالي شي خفګان بې غټ وي، کله-کله ډېر وړوکی شی د ډېرو لویو مشکلاتو باعث ګرځي. الله ﷻ د لیکنې لاندې خو ګټې نورې هم ښودلې دي، هغه دا چې:

الف: د حق لیکنه د الله ﷻ په قانون کښې د قصدي انحراف دپاره ډېره ښه چاره ده چې د متعاقدینو هر یو د لیک د ډاره انحراف نه شي کولی، خصوصاً هغه لیک چې شاهدان هم ورباندې ودرول شوي وي.

ب: د شاهدانو دپاره هم زیاته ګټوره ده چې شاهدي بې په پښو ولاړه پاتې کېږي او کوږوالي ته بې نه پرېږدي، کله چې په خپل شهادت کښې ورته څه اشتباه پیدا شي د لیک د کتنې په سبب به بې د منځه یوسي، او قصدي انحراف ته خو د لیک د ډاره زړه نه شي ښه کولی.

ج: دا کار د دې دپاره هم ښه دی چې تاسو د شک او شبهې څخه په امن کښې پاتې شئ او په اشتباهي توګه د حق څخه انحراف ونه کړئ.

لاس په لاس معامله

۱۱ـ هوا که ستاسو معامله لاس په لاس تجارت وه چې په حاضر مجلس کښې پای ته رسیدا ار نېته یې نه درلوده، نو بیا یې لیکلو ته چندان حاجت نشته خکه چې په دې صورت کې هغه نولي کشالې خاتمه پیدا کوي چې د نسیا څخه راپیدا کېږي، او هم په دغه ډول لیکنه کښې په ناسو باندې زیات مشقت پرېوزي. نو په دغه وخت کښې د هرې ورې او غټې معاملې د لیکلو پوره اهتمام مه کوئ. هوا که په همدغسې معاملاتو کښې موضوع خطرناکه او با اهمیته وه لکه د ځمکو خرخلاو او داسې نور، نو په دې صورت کښې ﴿ وَأَشْهِدُوٓا ﴾ شاهدان ونیسئ، طبعي ده لیکنه به یې هم وکړئ ترڅو د شاهدانو د ساتنې دپاره کومک وکړي.

یو تذکر

۱۲ـ د ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ﴾ څخه اشارې په توګه فهمېږي چې لاس په لاس تجارت کښې هم لیکنه راجحه ده، مونږ ته داسې ښکاري چې دا هدایت به په هغو لیکونو باندې پوره شي چې په نني عصر کښې د هرې ورې او غټې خریدارۍ سره د بیلونو یا نوملیکونو په نامه باندې کاغذونه لیکلي کېږي، رښتیا چې د بیلونو موجودیت ډېر ګټور شی دی.

لیکونکی او شاهد مه خپه کوئ!

۱۳ـ علماء کرام د ﴿ وَلَا يُضَآرَّ ﴾ جملې په اصلیت کښې اختلاف لري[۱]، ځینې وایي معلومه مضارع ده چې په اصل کښې "ولا يُضَارِر" وه په زیر سره. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې نه دې لیکونکی چاته ضرر رسوي چې غلط شی ولیکي او نه شاهدي ورکوونکی چې واقعیت پټ کړي.

ځینې نور علماء کرام وایي نومړې جمله مجهوله ده او په اصل کښې (ولا يضارَر) په زوَر سره ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: نه باید لیکونکي ته ضرر ورسول شي چې یا مزدوري ورنه کړی شي که هغه یې مطالبه کوله، او یا په خپل کار باندې مشغول وي او فرصت ونه لري او ورته وویل شي چې خپل کار دې پرېږده او زما دپاره لیکنه وکړه، او یا بله څه خبره وي چې هغه ورباندې خپه کړی شي.

همدارنګه باید چې شاهد هم متضرر نه کړی شي چې یا فرصت نه لري او یا د شهادت ځای ته د انتقال مصارف ورنه کړی شي او یا بل داسې کار وي چې د شاهد چرت ورباندې ګډ وډ شي.

مونږ ته د لاندې وجوهو دکبله همدغه دوهم نظر د تائید وړ دی:

الف: د عبد الله بن عباس (رئیس المفسرین) رضی الله عنه څخه د مجهولې مضارع قرائت روایت شوی دی[۲].

---

(۱) تفسیر الطبري ج۳ ص۱۳۴
(۲) تفسیر المدارک ج۱ ص۱۹۶

ب د ایت شریف د پیل څخه لیکونکي او شاهدانو ته او هم متعاقدینو ته په انصاف او تقوی سره ارشادات کړی شوي وه چې په عقد کښې څه نواقص پېښ نه شي، اما دا خبره هېڅ نه ده ذکره شوې چې د لیکونکي او شاهدانو دې څه مراعات وکړی شي او که نه. نو دغه دې د ایت شریف په همدې ټکره کښې د دوی په باره کښې هم توصیه وکړی شوه چې باید دوی ته هیڅ تکلیف ونه رسولی شي. مګر هله چې دوی ورباندې راضي او خوشاله شي، برابره خبره ده چې ضرر د متعاقدینو د طرفه وي یا د دوی د خپلوانو له طرفه او یا حتی د قاضي او د کلي د سپین ږیرو د طرفه وي په مجهوله صیغه باندې اداء کړی شو، ترڅو ټولو ته شامله شي.

لنډه دا چې وړاندې کاتب او شاهد ته توصیه شوې وه چې د ظالمیت څخه خانونه وساتي او دلته نورو ته توصیه کېږي چې دوی دواړه مظلومان جوړ نه کړي.

الله ﷻ همدغه مضمون په وروستیو جملو سره تاکید کړ چې: دا کار ستاسو دپاره فسق دی، د فاسق کېدلو څخه خانونه وساتئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ، څه چې وړاندې بیان شوه د کوم بنده تعلیمات نه دي چې یا ترې پټ شئ او یا ترې خانونه خلاص کړئ بلکې الله ﷻ تاسو ته تعلیمات درکوي چې ستاسو خیر او شر ورته ټول معلوم او څرګند دی. بلکې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

یادونه

۱۴_ وروستنیو درېوو جملو کښې الله ﷻ په خپل مبارک نوم (الله) باندې د ضمائرو په مقاماتو کښې درې کرته صراحت وکړ ترڅو بندګان د تاثیر لاندې راشي او په تېرو شوو احکامو کښې سستي او تنبلي ونه کړي.

که کاتب نه وي؟

۱۵_ الله ﷻ په دې باندې هم پوهېږي چې په انسانانو باندې داسې حالت هم راخي چې هلته نه لیکونکی وي او نه کاغذ او قلم، ترڅو خپل معاملات او راکړه ورکړه د لیک په ذریعه قوي او کلکه کړي. په خینو وختونو کښې به توره شپه وي او یا به د جنګ او جګړې حالت وي او یا به داسې خای وي چې هلته ورته توقف کول خطر ولري، د دې ټولو صورتونو په وخت کښې د لیک خای قبضه کړې مرهونه نیولی شي چې تر آخره پورې همدې حالت ته دوام ورکړي او یا په مناسب خای او مناسب وخت کښې اصل (لیکنې) ته بېرته مراجعه وکړي.

ایا د ګروی دپاره سفر شرط دی؟

۱۶_ د جمهورو علماوو په نزد د ګروی دپاره سفر شرط نه دی، د سفر تخصیص په ایت شریف کښې صرف د دې کبله شوی دی چې دغه د غربت حال په سفر او خصوصاً په هجرت کښې دېر پېښېږي چې نه څوک پېژني او نه د چا سره په ژبه پوهېږي او نه ورته با سواده او بې سواده معلوم وي[1].

---

(1) البحر المحیط ج۲ ص۳۵۵

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِينَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ لِأَهْلِهِ»[١] یعني: د الله ﷺ پیغمبر په داسې حال کښې وفات شو چې زغره یې په دیرش پیمانه وربشو کښې د یوه یهودي سره ګرو وه چې د خپل فامیل دپاره یې ترې راوړې وې.

رهان څه ته وایي؟

۱۷ــ "رِهَان" د "رَهْن" جمعه ده. "رَهْن" په لغت کښې دوام او همېشه والي ته وایي او په شریعت کښې هغه مال ته مرهون وایي چې د حق خاوند یې د مدیون (پوروړي) د مال څخه د دې دپاره د خانه سره کلک وساتي چې حق یې ضائع نه شي او په لاس ته راوړلو کښې ورسره داډ پیدا شي[٢].

نو ترڅو پورې چې مدیون دَین نه وي ورکړی د مرهونې د غوښتنې حق نه لري خو مرهونه په هغه وخت کښې شرعي مرهونه جوړېږي چې د حق خاوند یې قبض کړي، لکه چې د ﴿ مَّقْبُوضَةٌ ﴾ تکی وریاندې دلالت کوي.

ایا په مرهونه باندې فائده اخستل جائز دي؟

۱۸ــ مرهونه په دوه ډوله ده: یوه هغه ده چې په معامله کښې قصدي وي او د دې دپاره چا ته قرض ورکړي چې مرهونې ته بهانه جوړه کړي او استفاده ترې وکړي، لکه چې سمدستي په افغانستان کښې رواج دی. مالداران د "رَهْن" په بهانه د خلکو ځمکې نیسي او حاصلات یې اخلي د دې ډول مرهونې څخه استفاده جائزه نه ده او سود ګڼل کېږي[٣]، شاید چې د سود د بحث څخه وروسته به یې د همدې دپاره ذکر کړی وي چې د سود د ټولو شاخونو تحریم واضحه شي.

بله مرهونه هغه ده چې په معامله کښې قصدي نه وي بلکې د مجبورۍ د کبله واقع شوې وي، لکه څوک چې په چا باندې په نسیا څه شی خرڅ کړي خو مطمئن نه وي چې خپل حق به راباندې وسپاري او که نه، په دې ډول مرهونه باندې هم نفعه اخستل حرام دي، د همدې کبله د مرهونې وینځې وطي کول ناجائز دي[٤].

د دې مقام ښه وضاحت

۱۹ــ د دې دپاره چې دا خبره ښه پوره څرګنده شي چې د ذکرو شوو دواړو ډولونو مرهونو څخه استفاده کول جواز نه لري او د سود خوري څخه شمېرل کېږي نو مونږ د محترمو لوستونکو توجه لاندې وضاحتونو ته را اړوو:

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٤١
(٢) روح المعاني ج٣ ص٦٢؛ تفسير المظهري ج١ ص٤٣٢
(٣) تفسير القرطبي ج٣ ص٤١٢
(٤) احكام القرآن للجصاص ج١ ص٥٣١ـ ٥٣٣

الف: نبي كريم فرمايلي دي چې: «إِذَا أَقْرَضَ أَحَدُكُمْ قَرْضًا فَأَهْدَى لَهُ أَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ فَلَا يَرْكَبْهَا وَلَا يَقْبَلْهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ جَرَى بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ»[۱] يعني: كله چې ستاسو څخه يو كس چا ته قرض وركړي هر ډول قرض چې وي نو پوروړی ورته سوغات وركړي او كه په خپله سورلۍ باندې يې سور كړي نو په هغې دې نه سورېږي او سوغات دې نه اخلي (چې دغه دواړه كارونه جواز نه لري) مګر هله چې د ده ترمنځ او د هغه ترمنځ دغه (كارونه) د قرض د وركړې څخه مخكښې شتون او جريان ولري.

ب: عبد الله بن سلام ﷺ په يوه حديث كښې يو سړي مخاطب كړ چې: «إِذَا كَانَ لَكَ عَلَى رَجُلٍ حَقٌّ فَأَهْدَى إِلَيْكَ حِمْلَ تِبْنٍ أَوْ حِمْلَ شَعِيرٍ أَوْ حِمْلَ قَتٍّ فَلَا تَأْخُذْهُ فَإِنَّهُ رِبًا»[۲] يعني: كله چې په يوه سړي باندې ستا قرض وي نو هغه تاته د بوسو يو انډی يا د اوربشو يو انډی يا د وښو يو انډی سوغات كړي نو ته هغه مه اخله (مه قبلوه) نو بې شكه دا سود دی.

ج: فضاله بن عبيد الله ﷺ وايي چې: «كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ مَنْفَعَةً فَهُوَ وَجْهٌ مِنْ وُجُوهِ الرِّبَا»[۳] يعني: هر يو قرض چې قرض وركوونكي ته څه ګټه وركش كړي نو هغه د سود ډولونو څخه يو ډول دی.

كه څه هم دغه دواړه حديثونه هر يو موقوف دي خو حكمًا مرفوع ګڼلي كېږي چې دغه ډول حكم څوك په عقل سره نه شي كولی.

۲۰_ لنډه دا چې د خپل قرض څخه هر ډول دنياوي استفاده حرامه ده او سود ګڼلی كېږي، د همدې كېله:

الف: د سلفو صالحينو څخه په مختلفو عبارتونو سره دغه تحريم حكايت شوی دی چې تولو سود ګڼلی دی او هيڅ ورته د جواز لقب نه دی وركړی[۴].

ب: فقهاء كرام وايي چې: "كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا فَهُوَ حَرَامٌ"[۵] يعني: هر يو قرض چې څه ګټه كش كړي هغه حرامه ده.

ج: يو خل ابو حنيفه رحمه الله عليه د يوه سړي د دروازې ترڅنګ لمر ته ناست وه، چا ترې پوښتنه وكړه چې دغه دېوال سوري ته كښېنه، څه وجه ده چې ګرم لمر ته ناست يې؟

نوموړي امام عليه الرحمة جواب وركړ چې: "لِيْ عَلَى صَاحِبِ هٰذِهِ الدَّارِ دَرَاهِمُ، فَلَا أُحِبُّ أَنْ اَجْلِسَ فِيْ ظِلِّ فَنَاءِ دَارِهِ"[۶] يعني: د دغه كور په خاوند باندې زما څه درهمه قرض دي نو زه نه خوښوم چې د نوموړي د كور په شاوخوا كښې سوري ته كښېنم او د دېوال د سوري څخه يې استفاده وكړم، ترڅو په سودخورۍ كښې واقع نه شم.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۷۵
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۵۲۸
(۳) سنن البيهقي الكبرى ج۵ ص۵۷۳
(۴) مصنف ابن ابي شيبه ج۴ ص۳۲۷
(۵) الفقه الإسلامي وادلته ج۴ ص۷۲۴
(۶) مناقب الامام ابي حنيفه ج۱ ص۱۹۱

سوال جواب

۲۱_ که څوک وايي چې: که پوروړی د قرض مالک ته اجازه وکړي چې د مرهونې څخه استفاده وکړي او يا يې ورته بخشش کړي، بيا هم استفاده سود ګڼلی کېږي؟

مونږ وايو چې: په شريعت کښې هغه اجازه د اعتبار وړ ده کومه چې په طيب خاطر (په خوشاله زړه) سره صورت ونيسي، حال دا چې دغه اجازه د مجبوريت اجازه ده او هغې اجازې ته ورته ده کومه چې قطاع الطريق د مال دلوټ کولو څخه وروسته د مال د خاوند څخه اجازه او بخشش واخلي.

که بالفرض د مال خاوند ورته بخشش ونه کړي نو خطر شته چې ووژل شي، او که په مرهونه کښې ورته اجازه ونه کړي نو خطر شته چې بالکل قرض ورنه کړي.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲۲_ که څوک وايي چې: ايا دا جائزه ده چې د مرهونې څخه استفاده په قرض کړی شوي مال کښې محاسبه کړی شي؟

مونږ وايو چې: همدغه موضوع عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ډېره ښه جواب کړې ده چې په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي:

الف: د يوه سړي په بل باندې شل درهمه قرض وه او نوموړي ورته وخت په وخت سوغات وروړ.

ب: نو هغه بيا هر يو سوغات خرڅاوه آن تردې چې سوغاتونه (قيمت يې) دريارلسو (۱۳) درهمو ته ورسېد.

ج: نوموړي ته عبد الله بن عباس رضی الله عنهما توصيه وکړه چې: «لا تَأْخُذْ مِنْهُ إِلَّا سَبْعَةَ دَرَاهِمَ»[1] يعني: د خپل پوروړي څخه مه اخله مګر فقط اوه درهمه (چې ديارلس (۱۳) درهمه يې په سوغاتونو کښې درته رسولي دي).

امانت څه ته وايي؟

۲۳_ د "أَمَانَة" کلمه مصدر دی خو په هغه مال باندې يې هم اطلاق کېږي چې د چا په ولکه کښې ورکړی شي ترڅو يې صرف ساتنه وکړي او استفاده ترې ونه کړي.

په دې مقام کښې الله ﷻ مطلقًا امر کړی دی چې کله تاسو يو په بل باندې مطمئن شوئ او امانت مال مو يو تربله ورکړ، نو د امانت خاوند دې خپل امانت اصل حقدار ته وسپاري او د الله ﷻ څخه دې وډار شي، خيانت دې پکښې نه کوي؛ نو دغه مفهوم په لاندې دوه صورتونو باندې د صادقېدلو امکان لري:

الف: چې مديون د مجبورۍ د کبله حقدار ته څه شی د مرهونې په توګه ورکړي نو حقدار ته په کار دي چې د خپل حق د رانيولو په وخت کښې ذکره شوې مرهونه په پوره امانتدارۍ سره بېرته ورمسترده کړي او خيانت پکښې ونه کړي.

---

(۱) سنن الکبری للبيهقي ج۵ ص۵۷۲

ب. چې حقدار په مدیون باندې اعتماد وکړي، نه ترې ګروي واخلي، نه لیک او نه ضمانت، نو مدیون ته په کار دي چې حق پوره ورکړي او داسې دقت پکښې وکړي لکه چې څوک په امانت کښې دقت کوي، او د الله ﷻ څخه دې ووېرېږي.

د دې صورت او د لومړي صورت نور څه فرق نشته، فقط دا فرق یې دی چې هلته امانت د مرهونې څخه عبارت دی چې په حقیقي توګه امانت دی او دلته دَین د مبالغې د کبله د امانت په نامه باندې یاد شو.

سوال جواب

۲۴ـ که څوک وایي چې: د شهادت په باره کښې په اول ایت کښې د هر تاکیدات تېر شوي وه نو په دې ایت کښې یې بیا د څه حکمت په منظور وفرمایل چې: ﴿ وَلَا تَكْتُمُواْ ٱلشَّهَـٰدَةَ ﴾ او شاهدي مه پټوئ؟

مونږ وایو چې: دا شهادت د هغه څخه غیر دی، هلته ورسره لیکنه وه چې د شاهدانو د انحراف مخه یې نیوله ﴿ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَـٰدَةِ ﴾ او دلته یوازې شهادت دی لیکنه ورسره نشته، په "رَهْن" باندې خو د شهادت د انحراف مخه نه نیوله کېږي، نو دلته فقط د ایمان قوت دی چې شاهدان د خپل تاثیر لاندې وساتي او د انحراف مخه یې ونیسي؛ نو ځکه الله ﷻ دلته د ایمان په قوت زور واچاوه او په لاندې تاکیداتو باندې یې خبره تاکید کړه:

الف: ﴿ وَلَا تَكْتُمُواْ ٱلشَّهَـٰدَةَ ﴾ او شاهدي مه پټوئ چې الله ﷻ یې په ښکاره کولو امر کوي.

ب: او څوک یې چې پټه کړي ﴿ فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ﴾ نو بې شکه د هغه زړه ګناهګار دی، عقیده یې کمزورې ده. داسې یې ونه ویلې چې هغه ګناهګار دی بلکې زړه یې ورسره ذکر کړ، ترڅو د عقیدې په کمزورۍ باندې په ابلغه وجه دلالت وکړي، لکه څوک چې وایي: ما د اسلام قوت ولید، ما د اسلام قوت په خپلو سترګو ولید. ګورئ چې دوهمه څومره موثره ده.

ج: او الله ﷻ په هغه څه باندې چې تاسو یې کوئ پوه دی. لکه یو حاکم چې غله ته ووایي چې زه پوهېږم چې ته غلا کوې. یعنې ضرور به جزا درکړم.

که داسې نازل شوی وی چې: "اللهُ یُجَازِیْکُمْ" الله ﷻ به جزا درکړي، نو دومره بلاغت به پکښې نه وې لکه چې اوس پکښې شته ځکه چې جزا کنایةً ذکره شوه او کنایي خو د صریح څخه ابلغه ده.

﴿ لِّلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَإِن تُبْدُواْ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ ٱللَّهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾ ﴾

[۲۸۴] خاص الله ﷻ لره دي هغه څه چې په اسمانو کښې دي او هغه څه چې ځمکو کښې دي (آن تر عرش او کرسي پورې).

او که تاسو هغه څه ښکاره کړئ چې ستاسو په زړونو کښې يې تقرر موندلی دی او که پټ يې کړئ الله ﷻ به پرې درسره محاسبه وکړي. نو هغه چا ته به ببښنه وکړي چې اراده يې ورته وشي (اسان حساب به ورسره وکړي) او هغه څوک به معذب کړي چې اراده يې ورته وشي (په سخت حساب کښې به يې راګير کړي). او الله ﷻ په هر شي باندې قدرت والا دی (د هر کلي او جزئي محاسبه ورته اسانه ده)

ارتباط

د دې ايت شريف د وړاندېنيو نژدې او لرې ايتونو سره ارتباط ډېر واضحه دی چې:

الف: الله ﷻ خکه ستاسو په اعمالو باندې پوه دی چې د ټولې دنيا مالک دی او مالکيت خو بې علمه نه شي کېدلی.

ب: شاهدي خکه مه پټوئ چې الله ﷻ ته پټ او ښکاره يو برابر دي محاسبه به درسره وکړي.

ج: د الله ﷻ څخه خکه وېدار شئ چې په هر شي باندې قدرت لري د تبنتېدلو چاره مو ترې نشته

د: په صدقاتو، سود، معاملاتو کښې خکه د الله ﷻ ارشادات ومنئ چې اصلي واکدار همدی ﷻ دی څوک حق نه لري چې په ورکړی شوي مال کښې بې قيد او شرطه تصرف وکړي او وايي چې زما مال دې څنګه مې چې خوښه وي هغسې به کوم.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: د الله ﷻ د ټولو ارشاداتو پابندي وکړئ چې يوازې د همدی ﷻ د معبوديت مستحق دی، خکه څه چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي هغه ټول د ده ﷻ ملک دی، د ده ﷻ مخلوق دی او د ده ﷻ په اختيار کښې دی، هر ډول تصرف چې پکښې کوي څوک ورته "مه" نه شي ويلی. برسېره په دې، عرش او کرسي چې ستاسو د نظره غائب دی هم خاص همده ﷻ لره دي.

۲ـ ولې به الله ﷻ د عبادت مستحق نه وي چې علم او پوهه يې دومره کامله ده چې حتی د زړونو په پټو خبرو باندې هم پوهېږي، حاجت نشته چې بندګان ورته خپل احتياجات په ژبه بيان کړي، د زړونو ارزوګانې يې ټولې ورته ځرګندې دي او پوره کول يې هم ورته اسان دي.

۳ـ نو که تاسو د خپلو زړونو کيفيتونه ښکاره کړئ چې په ژبه يې ووايي او يا يې پټ کړئ چې تلفظ ورباندې ونه کړئ، په دواړو صورتونو کښې به درسره محاسبه وکړي او هر يو کيفيت به درته ګوته کړي چې ستا قلبي صفت دا وه او ستا قلبي صفت دا وه. برسېره په دې، د ټولو اعمالو عملنامه به په لاس کښې درکړي. بيا به نو مغفرت وکړي چا ته يې چې خوښه وي او معذب به کړي چاته يې چې اراده وي، هلته به تاسو په سترګو باندې وګورئ چې رښتيا الله ﷻ واکدار او اختياردار دی او په هر شي باندې قدرت لري او د عبادت مستحق دی.

توضيحات

۱ـ په دې مقام کښې مفسرينو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی او د بحث د اوږدولو باعث دا شی دی چې د ايت څخه معلومېږي چې الله ﷻ په هغو ټولو شيانو باندې د بنده سره محاسبه کوي

چې د ده په زړه کښې ګرځي، حتی که توان هم نه لري چې په زړه کښې يې د تېرېدلو مخه ونيسي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ»[۱] يعني: يقيناً الله ﷻ زما د امت څخه د هغه شي په باره کښې تېر شوی دی چې هغه د دوی په زړونو کښې ګرځي راګرځي ترڅو چې ورباندې عمل ونه کړي او يا پرې تلفظ ونه کړي.

نو د دغو دواړو (ايت او حديث) د مشکل د حل کولو دپاره هر چا خپلې هلې ځلې کړې دي چې په لاندې ډول شرحه کېږي:

دا ايت منسوخ دی

۲ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې دا ايت شريف چې کله نازل شو نو صحابه کرام ﷺ د ډېر تاثير لاندې راغله او نبي کريم ﷺ ته يې وويلې چې: يا رسول الله! په مونږ باندې چې الله ﷻ هر څه حکم کړی وه، هغه مو د همده ﷻ په توفيق عملي کړی دی، اما د دې ايت حکم خو مونږ نه شو عملي کولی. يعنې مونږ خپل زړونه نه شو اداره کولی، زمونږ په اختيار کښې نه دي نو که مونږ ورباندې ونيولی شو نو هيڅ کله به نجات ونه مومو[۲].

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: ايا تاسو د يهودو په شان "سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا" (وا مو وريده خو منو يې نه) وايئ، بايد "سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا" (وا مو وريده او منو يې) ووایاست. صحابه کرامو ﷺ "سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا" وويلې او حکم ته تسليم شوه.

خو يو کال بعد راتلونکي دواړه ايتونه الله ﷻ نازل کړه[۳]، چې ﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ ﴾ آن تر ﴿ فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ پورې. همدې جواب ته په يوه اوږده حديث کښې اشاره شوې ده[۴].

سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ يُحَاسِبۡكُم بِهِ ٱللَّهُ ﴾ جمله خو د اخباراتو څخه ده او قاعده دا ده چې په اخبار کښې نسخه نه شي راتلی، ځکه چې دا خو د کذب (دروغ) معنی ورکوي. نسخه په احکامو کښې راځي چې دا کوئ او دا مه کوئ؟

مونږ وايو چې: هغه اخبار چې يو حکم ته متضمن وي هلته هم نسخه راتلی شي او دلته همداسې ده ځکه چې د ذکر شوې جملې مطلب دا دی چې په زړونو کښې هم چټيات مه تېروئ، الله ﷻ به درسره محاسبه وکړي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۴۳
(۲) تفسير القرطبي ج۳ ص۴۲۵
(۳) اسباب النزول للواحدي ص۶۱
(۴) صحيح مسلم ج۱ ص۷۷

دلته نسخه دقبول وړ نه ده

۴ـ مګر دغه قول د لاندې وجوهو د کبله د قبلولو وړ نه دی:

الف: اسلام د نزول سره سم څمکې ته اسان رانښکته شوی، تردې چې په ژبه باندې د کفر کلمه هم د مجبوریت په حالت کښې رخصت ګڼله شوې ده، د مردارې خوراک ته د اضطرار په وخت کښې جواز ورکړی شوی دی او حتی پنځوس لمونځونه پنځو لمونځونو ته رانښکته کړی شوي دي او داسې نور. نو هغه دین چې په هغه کښې د دغسې اسانیو مراعات شوی وی هیڅکله د دې قابلیت نه لري چې د زړونو په وسوسه باندې څوک معذب کړي.

ب: که څه هم په دې کښې اختلاف دی چې تکلیف ما لا یطاق عقلا جواز لري او که نه، خو په دې کښې په پوره توګه اتفاق دی چې واقع شوی خو نه دی او د نسخې په صورت کښې لازمېږي چې تر یو کاله پورې هر مؤمن مکلف وه چې د خپلې وسې څخه پورته کار وکړي او د خپل زړه د وسواس مخه ونیسي، چې دا تکلیف بما لا یطاق ګڼل کېږي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ په دې مقام کښې ډېره مهمه پوښتنه دا ده چې: که نسخه نه وی واقع شوې نو نه به صحابه وو کرامو ﷺ ته تشویش پېښ شوی وی او نه به یې د تشویش د پورته کولو د کبله ایتونه نازل شوي وی، هغه احادیث چې دا واقعه یې بیانه کړې ده کمزوري او ضعیف هم نه دي[1].

مونږ جواب کوو چې:

د صحابه وو کرامو ﷺ ایمانونه ډېر صفا وه او اخلاصونه یې ډېر زیات وه نو د زیات احتیاط د کبله دوی د دې څخه هم په ډار کښې وه هسې نه چې الله ﷻ راڅخه په هغو وسوسو باندې ناراضه شي کومې چې بلا اختیاره زمونږ په زړونو کښې تېرېږي.

ممکن دا تشویش ټولو صحابه وو کرامو ﷺ ته ورلوېدلی هم نه وی او چا ته چې ورلوېدلی وی نو د هغه څخه به د څه وخت دپاره هغه ټول نصوص د یاده وتلي وي چې د اسانۍ په باره کښې نازل شوي دي، لکه چې د حضرت عمر ﷺ څخه د نبي کریم ﷺ د وفات په وخت کښې د وفات ټول ایتونه د یاده وتلي وه او توري ته یې لاس کړ او ویې ویلې که هرڅوک ووایي چې نبي کریم ﷺ وفات شوی دی نو په دې توره به یې سر پرې کړم نبي کریم ﷺ خو وفات شوی نه دی بلکې معراج ته تللی دی. تردې چې ابو بکر الصدیق ﷺ راغی او د وفات ایتونه یې ولوستل او د عمر ﷺ غُصه سړه شوه ټولو صحابه وو کرامو ﷺ ته لوستل شوي ایتونه داسې ښکاره شوه تا به ویل چې د هیچا هم د دې څخه وړاندې زده نه وه[2].

نو که مونږ وایو چې په حدیث شریف کښې نسخه په اصطلاحي معنی باندې نه ده بلکې د تشویش پورته کول د نسخې په نامه باندې یاد شوی دی هم څه باک یې نشته.

---

(١) روح المعاني ج٣ ص۶۴

(٢) تفسیر ابن کثیر ج١ ص۴٠٩

پاتې شوه دا خبره چې نبي کريم ﷺ څنګه دوی ته اطمنان ورنه کړ چې تشويش مه کوئ په وسوسو باندې نه نيولی کېږئ خاطر جمعه اوسئ؟ د دې جواب دا دی چې هغه ډار په اطمنان سره د منځه ځي چې سړی ورسره د خارجي عواملو د کبله مخامخ کېږي، اما هغه ډار چې چا ته د خپلې کمزورۍ د کبله او د زيات احتياط د وجې وړاندې شوی وي په هغه باندې اطمنان ورکول څه تاثير نه غورځوي. لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: د ملائکو په باره کښې الله ﷻ فرمايي: ﴿ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ ﴾ [الأنبياء:۲۶] يعني: بلکې دوی مکرم بندګان دي. الله ﷻ ورته د کرامت والا بندګان وايي خو سره د دې هغوی د الله ﷻ څخه په ډار کښې دي لکه چې فرمايي: ﴿ يَخَافُونَ رَبَّهُم ﴾ [النحل: ۵۰] يعني: دوی د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي.

ب: عمر ؓ د عشره مبشره وو څخه وه، خو سره د دې به يې د حذيفه ؓ څخه پوښتنه کوله چې زما نوم خو به په هغو منافقانو کښې نه وي چې تاته نبي کريم ﷺ د اسرارو په توګه دربښودلي دي؟!

ج: د قيامت په ورځ به په پيغمبرانو علیهم السلام باندې داسې حالت راځي چې «نَفْسِي نَفْسِي» به وايي، خو دا ډار به په دوی باندې د الله ﷻ د پلوه نه وي بلکې دا به د بندګۍ او عبوديت اثار وي چې په دوی باندې به څرګند شي.

۶_لنډه دا چې نبي کريم ﷺ به دوی ته د دين د سهولت ايتونه د لاندې وجوهو د کبله نه وي لوستي:

اول: پوهېده چې د دوی ډار ورباندې نه ورکېږي ځکه چې عوامل يې خارجي نه دي داخلي دي.

دوهم: چې د دين په کارونو کښې همداسې احتياط کاره پاتې شي، لکه چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ حق په بندګانو دا دی چې عبادت يې وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي، او د بنده حق په الله ﷻ باندې دا دی چې هغه څوک معذب نه کړي چې هغه ورسره شريک نه وي درولی. نو معاذ ؓ ورېلې چې: ای د الله رسوله! ايا په دې خبره خلکو ته زېری نه ورکوم؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: زېری مه ورکوه «فَيَتَّكِلُوا» چې په همدې به اتکا وکړي او سست به شي[۱].

درېم: د دوی تشويش عارضي وه، پوهېده چې په ادنا تفکر سره د منځه ځي بيان ته يې حاجت ونه ليده. لکه چې يوه ورځې ابو بکر الصديق ؓ د نبي کريم ﷺ په حضور کښې د يوه خوب تعبير وکړ نو ورته يې وويلې چې: «أَصَبْتَ بَعْضًا وَأَخْطَأْتَ»[۲] يعني: چې په څه برخو کښې حقيقت ته ورسېدلې او په ځينو کښې خطا شوې. مګر تفصيل يې ورنه کړ چې په کومو کښې خطا شوی وه او په کومو کښې رسېدلی وه ځکه چې چندان حاجت ورته نه وه.

دا ايت مخصوص البعض دی

۷_ ځيني علماء کرام وايي چې دا ايت د حديث سره څه تضاد نه لري ځکه چې دا يوازې د شهادت په پټولو کښې نازل شوی دی او يا يوازې د کافرانو په دوستۍ کښې. يعنې که څوک په زړه

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۴۴
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۴۳

کښې شاهدي پټه وساتي او یا د کافرانو سره پټه دوستي وکړي نو که تلفظ ورباندې ونه کړي هم نیول کېږي. مګر څرنګه چې د ایت شریف مفهوم عام دی چې ټولو پټو ته شامل دی نو د دې عمومي مفهوم څخه ذکر شوي دوه مصداقونه که د مثال په توګه واخستل شي باک یې نشته، او که په همدې دوه مصداقو کښې په کوم یوه پورې تخصیص کړی شي دا ډېره بې دلیله خبره ده او د شرعي قوانینو څخه مخالفه ده[۱].

دا ایت عام دی

۸ـ ځینې علماء کرام وایي چې ایت شریف عام دی خو د ذکر شوي حدیث سره څه منافات نه لري، ځکه چې هلته اُخروي مواخذه مراده ده او دلته دنیاوي[۲]، یعني: د زړونو په پټو شیانو باندې الله ﷻ صرف په دنیا کښې جزا ورکوي او بس. لکه چې بي بي عائشه رضي الله عنها وایي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه د همدې ایت په باره کښې پوښتنه وکړه، نو هغه راته وویلې چې: ای عائشې! په دې ایت کښې دنیاوي عذابونه مراد دي، لکه: تبه، اغزي (چې په پښه کښې مات شي)، څه سامان چې سړي په خپل جیب کښې اچولی وي خو هېر یې وي او خفګان ورباندې تېر شي چې ورک شو، نو په دغسې غمونو او دردونو باندې عفوه کېږي تردې چې: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوبِهِ كَمَا يَخْرُجُ التِّبْرُ الْأَحْمَرُ مِنَ الْكِيرِ»[۳] یعني: یقینًا مؤمن بنده د خپلو ګناهونو څخه داسې صاف راوځي لکه چې د یخ د نغري څخه د اوسپنې سور رنګې ټوټه راوځي.

۹ـ مونږ ته دا تطبیق هم په زړه پوری نه ښکاري. او دا ځکه چې د بي بي عائشې رضي الله عنها د حدیث معنی دا نه ده چې سړی په غیر المقدورو شیانو باندې په دنیاوي کشالو اخته کېږي په داسې حال کښې چې په آخرت کښې یې ورته عفوه کړې وي، بلکې مطلب یې دا دی چې الله ﷻ په مؤمنانو باندې مهربان دی، د آخرت پېټی یې سپکوي او په دنیاوي مشکلاتو باندې ورڅخه لرې- لرې ځنډې پرې کوي ترڅو چې د قیامت په ورځ ورباندې د ګناه پېټی بالکل نه وي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه بل حدیث کښې اشاره کوي چې فرمایي: «إِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۴] یعني: کله چې الله ﷻ خپل بنده ته د خیر اراده وکړي نو هغه ته په عاجله توګه په دنیا کښې عذاب ورکوي او کله چې الله ﷻ خپل بنده ته د شر اراده وکړي نو ګناه یې ورپورې بنده ساتي (په دنیا کښې یې په مشکلاتو باندې نه اخته کوي چې ګناهونه یې عفوه شي) تردې چې د قیامت په ورځ پوره جزا ورکړی شي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۴۲۱
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۷۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۸
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۶۵

محاسبه په دوه ډوله ده

۱۰ ـ ځيني علماء کرام وايي چې: د ﴿ يُحَاسِبْكُم ﴾ کلمه د محاسبې څخه اخستله شوې ده او محاسبه په دوه ډوله ده، يوه هغه ده چې مواخذه او نيونه ورسره ملګرې وي او بله هغه ده چې محض وړاندې کړی شي او مواخذه ورباندې ونه شي، لکه چې همدا مضمون په لاندې دوه حديثونو کښې ښه واضحه شوی دی:

الف: يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هر چا سره چې د قيامت په ورځ محاسبه وشي هغه به هلاک شي. بي بي عائشي رضي الله عنها ورته وويلې چې: ايا الله ﷻ نه دي ويلي چې: ﴿ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴾ [الإنشقاق:۸] د دوی (اصحاب اليمين) سره به ډېر ژر اسان حساب وشي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنَّمَا ذَلِكِ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَهْلِكُ»[۱] يعني: بې شکه دا محض وړاندې کول دي مګر د چا سره چې په حساب کښې مناقشه وکړی شي هغه به هلاک (معذب) شي.

ب: همدارنګه په همدې مضمون باندې د مناجات اوږد حديث هم دلالت کوي چې الله ﷻ به په پټه کښې خپل ايماندار بنده په ګناهونو باندې معترف کړي چې دا دې کړي دي او دا دې کړې بيا به ورته ووايي چې په دنيا کښې مې دغه ګناهونه د خلکو څخه پټ کړي وه خو نن ورځ مې درته ښلي دي[۲].

نو د جواب حاصل دا دی چې محاسبه خو په هغو ټولو باندې شته چې نه وي ښکاره شوي مګر په خينو سخته محاسبه ده چې عذاب ورباندې مرتب شي او په خينو اسانه ده چې محض وړاندې کول او تېرېدل دي.

سوال جواب

۱۱ ـ که څوک وايي چې: په غير اختياري وسوسو باندې هم محاسبه شته که څه هم اسانه وي؟

مونږ وايو چې: غير اختياري وسوسې په دې مقام کښې بالکل مطرحې نه دي (ايت ورته بالکل شامل نه دی) ترڅو جواب ته اړتيا پيدا شي، او دا ځکه چې:

اول: په ايت کښې د ﴿ تُبْدُوا ﴾ "چې تاسو يې ښکاره کړئ" او د ﴿ تُخْفُوهُ ﴾ "چې تاسو يې پټ کړئ" جملې نازلې شوې دي چې دواړه په اختيار باندې دلالت کوي، او وسوسې خو د چا په اختيار کښې نه دي.

دوهم: په ﴿ فِيٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ کښې د "فِي" توری د ظرفيت دپاره دی. يعنې هغه کيفيات دلته مطلب دي چې د هغو دپاره د انسان زړه ظرف ګرځېدلی وي او تقرر يې پکښې نيولی وي، لکه شاهدي پټول، تکبر، نفاق، کينه عداوت او داسې نور، او وسوسې خو تقرر نه لري بې اختياره په زړونو کښې ګرځي او راګرځي؛ نو ايت ورته هيڅ شامل نه دی.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۲۱؛ ج۲ ص۷۳۶
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۳۰

همدارنګه د ګناه تصور او په ګناه باندې عزم کول سره فرق لري، چې تصور په زړه کښې تقرر نه لري او عزم په زړه کښې ځای نیولی وي نو د قتل په تصور باندې سړی نه نیول کېږي چې ایت ورته شامل نه دی او په عزم باندې یې نیول کېږي که څه هم عملي نه شي او څه موانع پیدا شي، ځکه چې عزم د زړه تصمیم ته وایي چې یو کار اجراء کړي[۱].

تبصره

۱۲ـ الله ﷻ د هر شه پوهېږي خو مونږ ته همدغه وروستنی جواب په زړه پوری برېښي. نو په دې صورت کښې د ایت او حدیث تطبیق دا دی چې حدیث یوازې په دنیاوي امورو پورې اړه لري او بس[۲]. لکه چې څوک د طلاق تصور وکړي او یا یې پرې عزم کړی وي نو ښځه تر هغه نه طلاقېږي ترڅو چې پرې تلفظ وکړي، همدارنګه څوک د قتل په عزم باندې په دنیا کښې نه محاکمه کېږي ترڅو چې خپل عزم ترسره نه کړي. او دا ځکه چې په دنیا کښې د شریعت د تطبیق دپاره قضاة او ولاة خلیفه ګان ټاکل شوي دي او هغوی د چا په زړه باندې نه پوهېږي، خلک چې وایي چې شرعه ظاهر ګوري، هغه همدا معنی ده.

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ (۲۸۵) لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ (۲۸۶)﴾

[۲۸۵] پیغمبر ﷺ په هغه څه باندې پوخ متعقد دی چې چې ده ته د خپل رب د پلوه ورنازل شوی دی او مؤمنانو هم (د ده د پیروۍ د کبله پرې ایمان راوړی دی چې تفصیل یې دا دی:)

ټولو مؤمنانو په الله ﷻ او د ده ﷻ په ملائکو او د ده ﷻ په کتابونو او د ده ﷻ په پیغمبرانو باندې ایمان راوړی دی (دوی وایي چې:) مونږ د ده ﷻ د پیغمبرانو د جملې څخه د یوه کس په منځکښې هم فرق نه کوو (چې دا منو او دا نه منو). او (هم) دوی وایي چې مونږ (ما أنزل الله) قبول کړي دي او اطاعت یې کوو. (ای ربه!) مونږ ستا څخه ښنه (غواړو) او (زمونږ) بېرته درتلل خاص تاته دي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۳۴۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص ۴۲۲

[۲۸۶] الله ﷻ هیڅوک نه مکلف کوي مګر د هغه د وسې په اندازه، د هر چا دپاره هغه څه (ثوابونه) دي چې هغه ګټلي دي او هغه څه (ګناهونه) وربانديې دي چې دی یې مرتکب شوی دی.

(د مؤمنانومتباقي وینا دا ده چې:) ای زمونږ ربه! ته مونږ مه نیسې که چېرې مونږ (ستا حکم هېر کړو او یا (یکښې) خطا شو. او ای زمونږ ربه! په مونږ باندې داسې درونډ بار مه باروې لکه په هغو کسانو باندې دې چې بار کړی وه چې زمونږ څخه مخکښې تېر شوي دي.

ای زمونږ ربه! په مونږ باندې داسې (افتونه او مصیبتونه) مه باروه چې مونږ لره د هغو په تحمل باندې قوت نه وي (او په ډېر مشقت سره ترې پورته کېږو).

(ای زمونږ ربه!) او مونږ ته عفوه وکړې (معذب مو نه کړې).

(ای زمونږ ربه!) او مونږ ته ببښنه وکړې (ګناهونه مو ښکاره نه کړې).

(ای زمونږ ربه!) او په مونږ رحم وکړې (د ښکیو توفیق راکړې).

(یوازې) ته زمونږ کارسازی یې نو په کافر قوم باندې راسره نصرت (مدد) وکړې. (آمین یارب العالمین).

ارتباط

د دې دواړو ایتونو ارتباط خو د مخکښې نژدې ایت سره ببخي څرګند دی حتی چې ځینو علماء کرامو دا د هغه دپاره ناسخ ګڼلي دي، لکه چې هلته په دوهمه توضیح کښې یې شرحه تېره شوې ده.

اما که په خیر سره ورته وکتل شي نو دا ایتونه د "البقرة" سورت دپاره د "رد العجز علی الصدر" د قبیلې څخه دی، یعنې د سورت آخر د سورت اول ته ورتاو کړی شوی دی. په دې معنی چې: الله ﷻ د سورت په پیل کښې فرمایلي وه چې: ﴿ الٓمٓ ۝ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴾ یعنې: د هدایت دپاره همدغه کتاب درواستول شو چې شک شبه پکښې نشته. خو په دې کتاب باندې صرف متقیان لار موندلی شي چې هغوی دا-دا صفات ولري. نوره خبره یې په همدې خای پرېښودله او احکام یې بیان کړه، لکه: لمونځ، جهاد، زکات، روژه، حج، طلاق، حیض، ایلاء، عدت، قصاص او داسې نور.

نو د دې بیان څخه وروسته دا پوښتنه پیدا کېده چې ایا د دې ﷺ هدایت څخه چا استفاده وکړه او که نه؟ نو الله ﷻ دغه پوښتنه پخپله جواب کړه چې: ﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴾ تر آخره پورې.

د مطلب خلاصه

یعنې: د دې سورت په پیل کښې مونږ ویلي وه چې دا کتاب "هُدًى لِلْمُتَّقِينَ" دی، یعنې د خلکو څخه متقیان جوړوي. نو اوس به تاسو پوه شوي یاست چې زمونږ خبره څومره په خای وه، معاندین او متکبرین لکه څنګه چې ګمراه وه همغسې ګمراهان پاتې شوه.

نبي کريم ﷺ خو مفروغ البحث دی ذکر ته يې حاجت نشته چې په هغه څه باندې ايمان لري چې د خپل رب ﷻ د پلوه ورنازل شوي دي. اما د ده د تابعانو (مؤمنانو) حال دا دی چې دوی ټول د يو-بو هدايت څخه مستفيد شوه او د متقيانو په صفاتو باندې په لاندې تفصيل سره متصف وګرځېدل.

۱ـ د متقيانو يو صفت دا وه چې دوی په غيبو باندې عقيده لري، پيغمبر ﷺ په هغه څه باندې چې ده ته د خپل رب د پلوه نازل شوي دي څومره ښه معتقد دي، او د ټولو مؤمنانو (چې د خپل پيغمبر ﷺ متابعت ته يې ملاوې تړلي دي) په غيبو باندې څومره پخه عقيده ده، دوی ټول په الله ﷻ او په ملائکو باندې معتقد دي.

۲ـ بل صفت يې دا وه چې په ما انزل الله باندې راوړي ﴿ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ﴾ محمدي (ﷺ) اُمت په ټولو اسماني کتابونو باندې ايمان لري چې ټول حق دي، داسې نه وايي چې فلانی کتاب منو او فلانی نه منو. همدارنګه په يو لک څلېرشت زره ـزيات يا کمـ پيغمبرانو باندې هم ايمان لري. دوی وايي چې د پيغمبرانو عليهم السلام په ټولې کتبې مونږ د يوه هم دا فرق نه کوو چې د منلو څخه يې وباسو، لکه څنګه چې د کتابونو په منلو کښې په تفريق باندې قائل نه ياستو همدارنګه پيغمبران عليهم السلام هم نه تفرقه کوو.

۳ـ بل صفت يې دا وه چې لمونځونه ودروي او انفاق کوي ﴿ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴾ محمدي (ﷺ) امت يوازې د لمانځه په ودرولو او د زکات په ورکولو باندې اکتفاء نه کوي بلکې د الله ﷻ د ټولو احکامو په باره کښې وايي چې ﴿ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ قبولوو يې او اطاعت يې کوو. دوی د يهودانو په شان نه وايي چې "سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا" وا مو ورېده خو اطاعت يې نه کوو. هو! که د تعميل په اوږدو کښې ورڅخه څه قصور واقـع کېږي د هغه په اړه سوال کوي چې ﴿ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا ﴾ ای ربه! د مغفرت باران راباندې وکړې او د تقصيراتو څخه راتېر شې.

۴ـ بل صفت يې دا وه چې دوی په آخرت عقيده لري ﴿ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾. محمدي (ﷺ) اُمت په وروستنۍ ورځې باندې مستقيمه عقيده لري، څکه چې دوی وايي: ای ربه! ﴿ وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴾خاص تاته زمونږ بېرته درتلل دي چې د هر څه واک او اختيار به ستا وي. د يهودانو په شان د خپلو اسلافو عبادت ته په تمه نه دي چې هغوی به زمونږ په درد وخوري او يا به هغوی زمونږ په باره کښې حتمي شفاعت کوي او د عذابه به مو خلاصوي او که معذب شو هم هغه به په شمار شمارلې ورځې وي او بس.

دوی د نورو خلکو د ترغيب دپاره او د خپلو خانونو د اطمنان دپاره وايي چې مونږ به ولې د الله ﷻ را استولي احکام په سر او سترګو نه قبلوو چې الله ﷻ په مونږ باندې زمونږ د وسې او توان څخه پورته بار نه دی ايښی بلکې د الله ﷻ د قانون دا دی چې هيڅوک د وسې څخه پورته نه مکلف کوي. او د هر چا ګټه د خپل خان دپاره ده او په هر چا باندې د خپلې ګناه پېټی ورباربږي او بس، نو نه بايد څوک د بل چا نېکيو ته په تمه شي چې هغه به زما په درد وخوري خپلو نېکيو کولو ته مې ارتيا نشته او نه بايد څوک دې ته سترګې په لار شي چې زما د ګناه پېټی به بل څوک پورته کړي،

که هرڅومره فسق او فجور وکړم زما په غاړه کښې نه پرېوزي زور يې بل چا ته ورځي. او نه بايد ځوک د دې ځخه په ډار کښې شي چې په غير اختياري وسوسو به ونيولی شم، ځکه چې سړی په اکتسابي (اختياري) شيانو باندې نيولی کېږي او وسوسې خو اکتسابي نه دي.

۵ـ هلته په تقوی باندې داسې نتيجه مرتبه ښودله شوې وه چې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴾ يعني: همدوی په هدايت باندې روان دي (ټول قول او فعل يې د هدايت په رڼا کښې انجامېږي) او همدوی فلاح موندونکي دي.

محمدي (ﷺ) امت ته هم ذکره شوې نتيجه لاس ته ورغلې ده، د اعمالو په ساحه کښې خو دوی د ﴿ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ ﴾ په قاعده روان دي، او د اقوالو څو مثالونه يې دادي:

الف: دوی خپله عاجزي ښکاره کوي او الله ﷻ ته سوالونه کوي چې ای ربه! مونږ په هغې نافرمانۍ باندې مه نيسې چې مونږ يا د هېرې د کبله کړې وي او يا پکښې خطا شوي ياستو.

ب: دوی وايي چې: ای ربه! مونږ ته خو دې ډېر اسان احکام رانازل کړي دي او د وسې ځخه پورته دې نه يو مکلف کړي، خو ای ربه! دغه اسان احکام راته په ګرانو احکامو باندې د ګناه د کبله مه بدلوه او په مونږ باندې داسې درانه بارونه مه ږده لکه چې په پخوانيو خلکو باندې دې خپل اسان احکام په درنو حکمونو باندې بدل کړه. نو ای ربه! مونږ ته ګناه عفوه کړه.

ج: ای ربه! په مونږ باندې د دنيا په حوادثو کښې هم داسې حوادث مه تحميلوه چې مونږ يې طاقت نه لرو، که څه هم زمونږ ګناهونه غوارې چې د ډېرو درنو مشکلاتو سره مخامخ شو، مګر ای ربه! مونږ لکه څنګه چې ستا ځخه په تشريعي امورو کښې عفوه غواړو همدارنګه ستا عفوې ته په دنياوي مشکلاتو کښې هم سترګې په لار يو چې ښښنه راته وکړې او د هغه عقوبت سره مو لاس او ګرېوان نه کړې چې مونږ يې مستحق يو.

د: ای ربه! مونږ کمزوري بندګان يو، حوصله مو کمه ده او توان مو ضعيف دی، نو په مونږ رحم وکړه او په دنيا او آخرت دواړو کښې مو د مشکلاتو ځخه وساته.

هـ: په دې ټولو باندې د پاسه ای ربه! زمونږ لوی مشکل جهاد دی نو په جهاد کښې راسره امداد وکړې. ای ربه! همدا ته زمونږ کارساز يې نو په کافر قوم باندې نصرت راکړې، که نصرت رانه کړې نو نه بل څوک شته چې يا ورته مونږ سوال وکړو او يا د هغه څه د لاسه وشي. ای ربه! لکه څنګه چې د جهاد په اوږدو کښې درځخه نصرت غواړو همدارنګه د جهاد په نتيجه کښې هم راسره کومک وکړې چې د کافرانو په ګټه باندې تمام نه شي، او داسې وضعه رامنځ ته نه شي چې په استدلال باندې هغوی پياوړي شي او يا زمونږ د بې اتفاقۍ ځخه هغوی فائده پورته کړي.

توضيحات

۱ـ مونږ د مطلب خلاصه داسې واخستله چې په ﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ ﴾ باندې موقوف وکړ او ﴿ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ ﴾ الآية مو بېله جمله ومنله[1]. نو په دې تقدير د سورت

(۱) تفسير ابي السعود ج۱ ص۲۷۳؛ روح المعاني ج۳ ص۶۷

د آخره پورې ټول کیفیات د مؤمنان پورې تعلق نیسي او نبي کریم ﷺ پکښې په طریق اولی سره شامل دی. او دا ځکه: کله چې د ده ﷺ پیروان د دغسې ستاینو لیاقت لري نو پخپله د نبي کریم ﷺ په ستاینه کښې خو څه شک نه پاتې کېږي چې ذکر ته یې اړتیا پېښه شي.

هو! په اول سر کښې د نبي کریم ﷺ د ایمان ذکر صرف د دې دپاره بیان شوی دی ترڅو څرګنده شي چې مؤمنان ځکه د دغو صفاتو خاوندان ګرځېدلي دي چې دوی د نبي کریم ﷺ د ایمان په رڼا کښې خپلو عقائدو او اعمالو ته وده ورکړې ده.

ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ باندې وقف کړی دی او ﴿ كُلٌّ ءَامَنَ ﴾ الآية یې د اولنی جملې بیان ګڼلی دی، چې په دې تقدیر نبي کریم ﷺ هم د سورت د آخره پورې په ټولو کوائفو کښې په صراحت سره شریک ګڼل کېږي[1]، مګر مونږ ته اولنی توجیه په زړه پورې ښکاره شوه، چې د دې توجیه څخه یې بلاغت زیات دی.

کسب او اکتساب

۲_ د "کَسَبَ" او "اِکْتَسَبَ" سره نور څه فرق نشته یوازې دومره ده چې اول مجرد دی او دوهم مزید فیه دی، چې په قرآن کریم کښې دواړه فعلونه هم د شر دپاره استعمال شوي دي او هم د خیر دپاره، خو په خیر کښې ورسره "لِ" استعمال مومي چې سړی ورباندې خوشالېږي او ځان ته یې نسبت کوي، او په شر کښې ورسره "عَلٰی" استعمالېږي چې سړی یې په ځان باندې بار ګڼي، لکه چې وایي: په ما باندې قرض دی (عَلَيَّ دَيْنٌ)؛ نو په دې بناء په دې مقام کښې د دواړو فعلونو استعمال محض تفنن في العبارة دی او بس[2].

مګر ځینې مفسرین کرام د دواړو په منځکښې په لاندې ډول فرقونه کوي:

الف: "کسب" د ځان او غیر دواړو دپاره استعمال مومي او "اِکْتِسَاب" د غیر دپاره نه دی مستعمل شوی. نو داسې ویلی شي چې: فُلانٌ کَاسِبٌ لِاهلهِ، مګر داسې نه شي ویلی چې: فُلانٌ مُکْتَسِبٌ لِاَهْلِهِ[3].

ب: څرنګه چې په "اِکْتِسَاب" کښې حرفونه زیات دي نو په معنی کښې یې په نسبت سره "کسب" ته مبالغه زیاته ده. شاید چې په دې مقام کښې به "اِکْتِسَاب" د ګناه دپاره ځکه خوښ کړی شوی وي چې:

اول: یو مسلمان د ګناه جرئت تر هغه نه شي کولی چې ترڅو په ځان باندې زور واچوي او د ایمان غوښتنه د پښو لاندې کړي.

دوهم: نو کله یې چې د پښو لاندې کړه بیا پکښې په دومره مبالغه سره وراندې قدم ږدي چې په نېکیو کښې هغومره کوښښ نه کوي ځکه چې نفس "اَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ" دی یوازې ایمان دی چې د ګناهونو د ارتکاب مخه یې نیسي. نو کله چې د ایمان رڼا تته شي نو اَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ "نفس" ته مخه خوشې شي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۸۸
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۲۹۷
(۳) مفردات الراغب ص۴۴۸

خطا او نسيان

۳ـ په دې مقام کښې يو مهم سوال منځ ته راځي هغه دا چې: د وړاندې څخه ثابته شوه چې الله ﷻ هيڅوک د توان څخه په پورته حکم باندې نه مکلف کوي، خو سره د دې د مؤمنانو په مدحه کښې مهرباني کوي چې دوی د خپل رب څخه غواړي چې مونږ په خطا او نيسان باندې مه نيسه؛ او دغه دواړه خو د انسان د وسې څخه پورته دي؟

مونږ د دې معضلې د حل دپاره لاندې د حل لارې وړاندې کوو:

الف: د نسيان څخه هغه سستي او تنبلي مطلب ده چې د نسيان باعث وګرځي، لکه چې د چا څخه قرآن کريم او يا يو سورت د دې کبله هېر شي چې د تلاوت تکرار نه کوي. او د خطا څخه هغه بې اهتمامي مراده ده چې د خطا کېدلو باعث شي، لکه کوم روژه دار چې د ماښام يا چرګ بانګ پوره تحقيق ونه کړي او د بې اهتمامۍ د کبله يا د ماښام څخه مخکښې روژه ماته کړي او يا د سهار څخه وروسته څه وخوري[۱].

مګر په دې جواب باندې مشکل نه حل کېږي، ځکه چې که تنبلي يا بې اهتمامي ګناه وګڼله شي نو د سوال بيا ذکر ته يې حاجت نه پاتې کېږي چې د ﴿ غُفْرَانَكَ ﴾ لاندې شاملېږي. او که ګناه ونګڼل شي نو کوم سوال چې د نسيان او خطا په باره کښې وارد شوی وه بعينه همغه سوال د هغو دواړو په متعلق هم تحقق مومي ځکه چې دغه دواړه هم د چا په اختيار کښې نه دي.

ب. نافرماني د ګناه دپاره داسې حيثيت لري لکه څنګه حيثيت چې زهريات د قتل دپاره لري نو لکه چې څنګه چې په سهوه او خطا سره د زهرياتو خوراک د قتل سبب ګرځي همدارنګه عصيان په خطا يا نسيان سره هم د ګناه سبب ګرځېدلی شي نو ځکه د الله ﷻ څخه سوال کول په ځای کار دی ترڅو وربانديې ګناه او مواخذه مرتبه نه کړي. يا په بل عبارت: چې د چا څخه په هر ډول عصيان صادر شي لياقت لري چې د الله ﷻ د خوا څخه ورباندې معذب شي مګر دا بېله خبره ده چې الله ﷻ ورته تېرېږي او د نسيان او خطا په صورت کښې يې ورباندې نه نيسي[۲].

دا جواب هم مونږ ته د مشکل حل کوونکی نه ښکاري، ځکه لکه څنګه چې د خنثی شوو زهرياتو خوراک د قتل موجب نه شي ګرځېدلی همدارنګه خطا او نسيان هم د الله ﷻ د پلوه خنثی کړی شوي دي چې هيڅوک د قدرت څخه په پورته حکم نه مکلف کوي.

ج. په خينو وختونو کښې سرې محض د خپلې عاجزۍ او بندګۍ ښکاره کولو دپاره سوال کوي او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ په حضور کښې د خپلې بندګۍ اظهار هم بندګي او عبادت دی. لکه:

اول: مونږ تـه الله ﷻ دا دعـاء هـم راښـودلې ده چې: ﴿ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ ﴾ [آل عمران ۱۹۴] يعنې: ای زمونږ ربه! او مونږ ته هغه څه راکړه چې زمونږ سره دې د خپلو رسولانو په ذريعه وعده کړې ده. او ښکاره ده چې الله ﷻ مونږ ته خپل مواعيد ضرور پوره کوي.

---

[۱] تفسير کشاف القرآن ج۱ ص۳۳۲؛ تفسير الطبري ج۳ ص۱۵۵

[۲] روح المعاني ج۳ ص۷۰؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۹۹

دوهم: نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ وراندې او بېرته ټول بښلي وه (د ګناه څخه معصوم وه) خو سره د دې هم د الله ﷻ څخه بښنه غوارې. لکه چې وايي: «إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ»[۱] يعني: شان دا دی چې بې شکه زما په زړه باندې څه تیاره راځي او زه په ورځ او په شپه کښې سل خله بښنه غوارم.

نو په دې مقام کښې د خطا او نسیان په باره کښې الله ﷻ ته سوال او زاري کول د بندګۍ د اظهار دپاره ډېر ښه مظهر دی څکه د مؤمنانو په مدحه کښې وشمېرل شو. څوک چې خپل ځان په خطا او نسان کښې د مواخذې ور ګڼي نو د قصدي ګناه څخه خو به خپل ځان ډېر لرې ساتي.

په یاد ولرئ!

۴ـ په یاد ولرئ چې نسیان او خطا د ګناه په باره کښې دواړه عفوه دي، اما د دنیاوي احکامو په هکله وړباندې ډېر احکام ترتب پیدا کوي، چې په لمانځه کښې وړباندې د سهوې سجده لازمېږي، په خطا سره خبرې کول لمونځ باطلوي، په خطا یې قتل باندې کفاره واجبېږي، همدارنګه د اودس ماتېدل قصداً او سهواً څه فرق نه لري او داسې نور[۲].

"إِصْرٌ" څه ته وايي؟

۵ـ که څه هم د "إِصْرٌ" توری اصلا د یو شي غوټه کولو او په غُصه سره بندولو ته وايي[۳]، مګر په دې مقام کښې ترې هغه شرعي احکام مراد دي چې د ډېر دروندوالي د کبله ترې سړی نه شي خوزېدلی او د ناکامی سره پکښې مخامخ کېږي، د قرآن کریم د نزول په زمانه کښې الله ﷻ د مؤمنانو سوال قبول کړ او ثقیل احکام یې راباندې فرض نه کړه، لکه چې فرمايي:

الف: ﴿وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ﴾ [النساء: ۶۶] يعني: او که مونږ په دوی باندې دا حکم فرض کړی وی چې خپل ځانونه ووژنئ او یا د خپلو کورونو څخه بهر شئ، نو دا کار به دوی نه وی کړی مګر کمو خلکو.

ب: ﴿إِن يَسْأَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا وَيُخْرِجْ أَضْغَانَكُمْ﴾ [محمد:۳۷] يعني: که الله ﷻ ستاسو څخه ټول مالونه وغواړي (چې صدقه یې کړي) او په دې زور واچوي نو تاسو به بخل وکړئ او الله ﷻ به ستاسو د زړونو شدیده شومتیا راوباسي.

مګر په پخوانیو قومونو باندې الله ﷻ ځینې درانه او ثقیله احکام فرض کړي وه چې هغوی پکښې ناکام شوه، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: یهودانو د خوسي عبادت کړی وه نو الله ﷻ وړباندې په توبه کولو کښې ځان وژنه فرض کړه، لکه چې د [البقرة:۵۴] ایت کښې تېر شوه.

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۴۶
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۵۳۸
(۳) مفردات الراغب ص۱۴

دوهم: ﴿ وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُواْ فِي ٱلسَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴾ [النساء: ۱۵۴] يعني: او دوی ته مو ويلي وه چې د خالي په ورخ کښې تجاوز (ښکار) مه کوئ، او د دوی څخه مو کلک عهد اخستی وه. چې په نتيجه کښې ترې بېزوګان جوړ شوه.

دریم: په یهودو باندې پنځوس لمونځونه فرض وه، د مال څلورمه برخه ورکول ورباندې په زکات کښې لازم وه او د جامې نجاست يې په قطعه کولو پاکېده، نه په وينځلو[1].

که څوک غواړي چې د دغو درنو احکامو ډېر مثالونه ولولي نو څينو تفاسيرو[2] ته دې مراجعه وکړي چې د يهودو د کتابونو څخه يې ترجمه کړې دي اګر که باور ورباندې په کار نه دی.

هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي چې الله ﷻ په پخوانيو خلکو باندې هم په ابتداء کښې اسان احکام فرض کړي وه خو کله چې هغوی عصيان وکړ نو الله ﷻ هغوی ونيوه او احکام يې ورباندې درانه کړه، لکه چې فرمايي: ﴿ فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ ﴾ [النساء: ۱۶۰] يعني: نو په سبب د ظلم د هغو کسانو کوم چې يهودان وه، په دوی باندې مو هغه پاکيزه شيان حرام کړه چې مخکښې ورته حلال کړی شوي وه.

محمدي (ﷺ) امت الله ﷻ ته سوال کوي چې: ای ربه! په مونږ باندې ثقيله حکمونه د عصيان په سبب مه فرض کوه چې پکښې ناکام نه شو بلکې عفوه راته وکړې. لکه چې راتلونکي کلمات ورباندې دلالت کوي.

طاقة څه معنى؟

۷ـ د ﴿ لَا طَاقَةَ لَنَا ﴾ جمله لاندې درې معناوې درلودلی شي:

الف: چې ﴿ طَاقَةَ ﴾ د قدرت په معنى واخستلی شي. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې ای ربه! داسې بار راباندې تحميل نه کړې چې زمونږ د قدرت څخه وتلی وي. يعني: په هغه کار باندې مو ومه نيسي چې زمونږ د قدرت لاندې نه راځي، لکه خطا او نسيان. په دې تقدير به د وړاندې ايت دپاره تاکيد شي[3].

ب: چې ﴿ طَاقَةَ ﴾ په معنى د هغه کار سره شي چې هغه سړی په اسانۍ سره نه شي کولی او په مشقت سره يې کوي. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې: ای ربه! په مونږ باندې درانه احکام فرض نه کړې چې په اسانۍ سره يې نه شو کولی لکه چې په پخوانو باندې دې دغسې درانه احکام فرض کړي وه. په دې تقدير هم د نژدې مخکښې ايت دپاره تاکيد جوړېږي[4].

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۲۷۴؛ روح المعاني ج۳ ص۷۰
(۲) تفسير القاسمي ج۲ ص۳۹۴
(۳) تفسير القاسمي ج۳ ص۳۹۸
(۴) روح المعاني ج۳ ص۷۰

ج: که ﴿ طَاقَةَ ﴾ په همدغې دوهمې معنی باندې واخستل شي خو تشریعي امور مراد نه کړی شي او دنیاوي بلاګانې او آفتونه مراد شي، نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: ای ربه! په مونږ باندې په دنیا کښې داسې آفتونه او مشقتونه، زحمتونه او لوړې، تندې رانازلې نه کړې چې مونږ ترې په اسانۍ سره نه شو پورته کېدلی، او د دې ډار او خطر وي چې بې صبري او ناشکري وکړو او ته راڅخه ناراضه شې[۱].

په دې تقدیر دا سوال د نورو دپاره تاکید نه شو بلکې تاسیس جوړېږي، نو معلومه شوه چې همدا معنی یې بهتره ده ځکه چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

عَفْو، مَغْفِرَة، رَحْمَة

۸ـ "عَفْو" دې ته وایي چې الله ﷻ د خپل بنده د ګناه څخه ورتېر شي او معذب یې نه کړي.

او "مَغْفِرَة" دې ته وایي چې برسېره په دې، د نورو بندګانو څخه یې پټه هم کړي او څوک پرې خبر نه کړي.

او "رَحْمَة" دې ته وایي چې برسېره په دې، نور مفت اجرونه هم ورکړي او یا د نورو ګناهونو څخه د ځان ساتنې او د نېکیو د کولو توفیق هم ورکړي[۲].

څو تنبیهات

۹ـ لاندې څو تنبیهات د نظره تېر کړئ:

الف: په دغو دواړو ایتونو کښې چې د مؤمنانو د خولو څخه کوم سوالونه حکایت شوي دي دا په حقیقت کښې د الله ﷻ د پلوه د قیامت د ورځې پورې ټولو مسلمانانو ته تلقین او تعلیم شوي دي چې زما څخه داسې-داسې سوالونه کوئ.

ب: عادت دا دی چې یوه غریب سړي ته کوم پاچا د وړاندیزونو طریقه ورزده کړي چې ماته داسې-داسې وړاندیزونه وکړه، نو په حقیقت کښې هغه ته وعده ورکوي چې عرضونه دې منم. نو څرنګه چې مونږ ته الله ﷻ د سوالونو طرز او ډول راوښود بلکې د سوالونو الفاظ او کلمات یې په قرآن کریم کښې رانازل کړه چې څوک پکښې بنکته او پورته هم ونه کړی شي نو ځکه زمونږ ډېر لوی امید دی چې الله ﷻ به هم ذکر شوي عرضونه منظور کړي وي او هم به یې منظور کړي.

ج: د قرآن کریم د نزول په وخت کښې د نبي کریم ﷺ د انوارو د نژدېکت په برکت سره خو به د وخت اکثره مؤمنانو ذکر شوي سوالونه د قال په ژبه کړي وي او د حال په ژبه خو ټولو صحابه وو کرامو ﷺ کول، نو الله ﷻ لطف وکړ او په قرآني کلماتو کښې یې ځای په ځای کړه ترڅو یې د قیامت د ورځې پورې ټول مؤمنان په دوامداره توګه وړاندې کړي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۴۳

(۲) تفسیر الجواهر ج۱ ص۲۷۹

د: په ذکرو شوو سوالونو کښې خو ځینې سوالونه مونږ په سترګو ګورو چې قبول شوي دي، لکه: ﴿وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا﴾ ای ربه! په مونږ باندې درانه احکام رابار نه کړې چې د یهودو په شان مو ملاوې ماتې کړې. نو الله ﷻ راته ډېر اسان دین رانازل کړ، امید دی چې متباقي سوالونه به هم د الله ﷻ په دربار کښې منظور وي او د قیامت په ورځ به د ګناهونو څخه راتېر شي، د الله ﷻ د لوی کرم سره دا مناسبه ده چې د سوالونو په بنډل کښې تجزیه رانه ولي چې دا قبولوم او دا نه قبولوم.

ه: د دغو وروستنیو دواړو ایتونو په فضائلو کښې زښت ډېر احادیث روایت کړی شوي دي مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه، که څوک فرصت لري نو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱].

و: د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تَحْبِسُوهُ وَ أَسْرِعُوا بِهِ إِلَى قَبْرِهِ وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ فَاتِحَةَ الْبَقَرَةِ وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ بِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ»[۲] یعني: کله چې ستاسو کوم یو مړ شي نو هغه مه ایساروئ او په چالاکۍ سره یې قبر ته یوسئ (هلته یې خښ کړئ) او سرته یې د سورة البقرة ړومبني ایتونه ولولئ او پښو ته یې د سورة البقرة وروستني ایتونه.

الحمد لله همدا طریقه فعلا په افغانستان کښې معموله ده چې د دفن څخه وروسته د مړي سر پلو ته د همدې سورت ړومبني ایتونه لولي تر ﴿ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ پورې، او پښو ته یې د همدې سورت دغه دوه وروستني ایتونه قرائت کوي او الله ﷻ ته یې سپاري.

یو تذکر

د دې کتاب په لیکنه باندې مونږ په ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نېټه د الله ﷻ په توفیق پیل کړی وه، نن ورځ چې د سورت پای ته د الله ﷻ په فضل راورسېدو نو ټول وخت دوه کاله او یو ویشت ورځې تېرې شوې دي، په دې ټوله موده کښې په مسلسله توګه لیک نه دی شوی بلکې ډېرې وقفې پکښې پېښې شوې دي، خو ډېره لویه وقفه هغه وخت رامنځ ته شوه چې کله نباغلی مرحوم حافظ الحق د درې مجاهدینو سره په یوه سیاسي دسیسه کې شهید کړی شو، إنا لله وإنا إليه راجعون.

دغه هولناکه پېښه په ۱۳۷۰/۱۰/۴ هـ ش نېټه وشوه چې مونږ تر شپږ میاشتو پورې د افکارو د نا انډولۍ د کبله هیڅ ونه لیکلی شو.

د الله ﷻ څخه هیله کوو چې دا کار راته لا ډېر اسانه کړي او لا ډېر توفیق راکړي ترڅو داسې ورځ هم راباندې راولي چې د قرآن کریم ﴿مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾ ته ورسېږو. دا به نو زمونږ ډېره لویه کامیابي وي چې الله ﷻ ته ډېره اسانه ده.

آمِيْنَ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام.

۱۳۷۱/۶/۲۳ هـ ش

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۴۰؛ تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۹۹

(۲) مشکوة المصابیح ج۱ ص۱۴۹؛ شعب الإیمان للبیهقي ج۷ ص۱۶

آل عمران (۳)

سریزه

۱ـ د دې دپاره چې د دې سورت (آلِ عِمْرَان) په مضامینو باندې په اجمالي توګه پوه شو نو په کار دي چې لاندې مطالبو ته څه لنډه کتنه وکړو:

الف: په دې سورت کښې ډېر مهم بحث د عقیدې پورې اړه لري چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی او محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی او همدی آخر الزمان پیغمبر دی بل څوک نه دی.

ب: د عقیدې د اشاعت په باره کښې چې څه مشاجرې د اهل الکتابو سره پېښې شوې دي او یا چې څه وسلوال جنګونه د مشرکانو سره واقع شوي دي لکه د بدر او أُحد دوه غزاګانې، دا هم پکښې بیان شوي دي.

ج: د مال په انفاق باندې هم زور اچول شوی دی چې اسلامي حکومت تازه په پښو باندې ودرېدلی وه، چارچاپېره دنیا ورسره ټوله دښمنه وه، مسلح جهاد ښه په درز کښې روان وه، نو طبعي ده چې اقتصادي مشکلات یې ډېر وه.

د: دا هم پکښې د بحث یوه برخه ده چې مسلمانان باید خپل دیني دښمنان وپېژني او د هغوی سره ښکاره او پټه رابطه ونه ساتي ترڅو د اسلامي تازه جوړ شوي حکومت دپاره په لستوني کښې ماران تربیه نه کړي.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۱]:

الف: ټول ایتونه یې پوره دوه سوه (۲۰۰) دي.

ب: د کلمو شمېر یې درې زره څلور سوه اتیا (۳۴۸۰) دي.

ج: د حرفو شمېر یې څوارلس زره پنځه سوه او شل (۱۴۵۲۰) دي.

د دواړو سورتونو رابطه

د دې دواړو سورتونو (البقرة، آل عمران) رابطه دومره قوي ده او موضوعګانې یې سره دومره نژدې دي تردې چې که په منځکښې یې د ﴿ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴾ ایت نه وی نو سړي به ګومان کړی وی چې دواړه یو سورت دی بلکې یو د بل تفصیل دی. مونږ غواړو چې محترمو لوستونکو ته یې لاندې مثالونه وړاندې کړو:

۱ـ په هغه سورت کښې د اهل الکتابو څخه د یهودو سره ډېر طولاني بحث شوی وه او دلته د هغوی څخه د عیسویانو سره اوږده مباحثه متحققه شوې ده. خو په دواړو کښې د بحث سلسله د مباهلې په وړاندیز باندې خاتمه پیدا کوي، لکه چې مونږ ورته د [البقرة:۹۴] ایت لاندې څه تفصیل ورکړی دی.

(۱) تفسیر الخازن ج۱ ص۴۵۳

۲_ هغه سورت هم په ﴿ الٓمٓ ﴾ سره پیل شوی دی او دا هم.
۳_ په هغه کښې هم د کافرانو سره جهاد شرحه شوی دی او دلته هم.
۴_ هلته د قرآن کریم په حقانیت باندې دلایل قائم کړی شوي دي او دلته زیات زور په دې اچول شوی دی چې د معاندینو اشتباهات جواب شي.
۵_ هلته د آدم ﷺ خلقت بې پلار او بې موره بیان شوی دی او دلته د عیسی ﷺ بې پلاره پیدا ایښت شرحه شوی دی.
۶_ هلته د ابراهیم ﷺ سوال ذکر شوی دی چې: ﴿ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ ﴾ [البقرة:۱۲۹] یعنې ای زمونږ ربه! او په دوی کښې د همدوی د نسل څخه یو پیغمبر مبعوث کړې. او دلته د همدغه سوال جواب بیان شوی دی چې: ﴿ لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ ﴾ [آل عمران: ۱۶۴] یعنې: بې شکه الله ﷻ په مؤمنانو باندې احسان کېښود چې په دوی کښې یې د همدوی څخه یو پیغمبر مبعوث کړ.
۷_ هلته هم د منافقانو بحث په پوره مثالونو سره بیان شوی دی او دلته هم برسېره په منافقانو، د هغو خلکو ذکر هم شوی دی چې هغوی په زړونو کښې زیغ لري او د متشابهاتو پورې نښتي وي.
۸_ هلته د سورت په لومړي سر کښې متقیانو ته فلاح ثابته شوې ده چې: ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴾ او دلته دغه سورت په همدې مضمون باندې ختم شوی دی چې: ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴾ یعنې: او د الله ﷻ څخه ووېرېږئ شاید چې فلاح ترلاسه کړئ.
۹_ هلته هم الله ﷻ څه سوالونه مؤمنانو ته تلقین کړی وه چې زما څخه داسې داسې سوالونه کوئ، او دلته هم په څلورو ایتونو [۱۹۲_۱۹۵] کښې تلقیني سوالونه ذکر دي.
دواړه سورتونه سره نور ارتباط هم لري چې د ټولو ذکر کول طوالت پیدا کوي او وروسته پخپله څرګند ېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ۝١ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ۝٢ نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا
بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ۝٣ مِن قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ۝٤ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ
شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ
إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٦ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر رحم والا الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] الله ﷻ چې دی د عبادت مستحق نه دی مګر همدی ﷻ دی، چې همېشه (ازلي او ابدي) ژوندی دی، چې همېشه (په خپل مخلوق باندې) قائم دی (هیڅ ډول غفلت ورباندې نه ورځي).

[۳] په تاباندې یې (ای پیغمبره!) په حقه ډېر مهم کتاب په وار- وار نازل کړی دی، چې همدا کتاب د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې د ده څخه مخکښې (الله ﷻ نازل کړي) وه.

او الله ﷻ تورات او انجیل هم نازل کړي دي.

[۴] چې د قرآن کریم څخه وړاندې خلکو لره لارښودونکي وه (نو په هیڅ وخت کښې خلک بې هدایته نه دي پاتې شوي، برسېره په دې) او الله ﷻ فرقان هم نازل کړی دی (چې حق او باطل سره جدا کوي).

بې شکه هغه کسان چې د الله ﷻ په ایتونو باندې کفر غوره کړي دوی لره سخت عذاب دی. او الله ﷻ کلک اراده دی (څوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی) د عقوبت (جزا) خاوند دی.

[۵] یقیناً په الله ﷻ باندې هیڅ شی نه په ځمکه کښې پټېږي او نه په اسمان کښې.

[۶] الله ﷻ هغه ذات دی چې تاسو ته (د مورګانو) په رحمونو کښې څېرې درکوي څنګه یې چې اراده وشي (او جوړوي مو څنګه چې خوښه وي).

(نو) د عبادت مستحق نه دی مګر همدی ﷻ دی، چې د نه ماتېدونکې ارادې خاوند دی (او) د حکمت څښتن دی.

شان نزول او ارتباط

۱ـ عام مفسرین کرام لیکي[۱] چې د دې سورت د ړومبنیو ایتونو څه برخه د وفد نجران (د نجران د جرګې) په هکله نازله شوې ده، دغه جرګه د هجرت په نهم کال (چې عام الوفود نومېږي) مدینې منورې ته ورغلي وه[۲] چې د نبي کریم ﷺ په لیکونو کښې بو لیک نجران ته هم استولی شوی وه.

"نَجْرَان" د مکې معظمې څخه یمن ته طرف ته اووه پړاوه لرې، د یوې پراخې سیمې نوم دی چې په هغه وخت کښې د عیسویانو ډېر لوی مرکز وه او یوه لویه کلیسا پکښې اباده وه.

ذکره شوې جرګه د شپېتو کسانو څخه تشکیله وه چې خوارلس کسه پکښې د قوم مشران او درې کسان پکښې مذهبي او سیاسي مشران وه.

دوی نبي کریم ﷺ اسلام ته راوبلل او بحث پیل شو نو دوی د دلایلو په وړاندې ناکام شوه، تردې چې آخر نبي کریم ﷺ مباهلې ته وروبلل، دوی مباهله هم ونه کړه خو مسلمانان هم نه شوه او په کفر

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۴۳؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۱۶۲؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۲۷۶؛ تفسیر القرطبي ج۴ ص۴

(۲) سیرت ابن هشام ج۴ ص۲۲۱

باندې كلك ولاړ پاتې شوه، يوازې يو نفر (كرز) څه وخت وروسته د همدې جرګې د غړو څخه په ايمان مشرف شو. د نوموړي (كرز) د ايمان راوړلو قيصه داسې وه چې:

يو خل د دې وفد يوه ديني مشر (أبو حارثه) د خولې څخه ووتل چې "محمد" په حقه پيغمبر دی. نو ورور يې (چې كرز نوميده) وپوښته چې: ولې ورباندې ايمان نه راوړې؟

أبو حارثه جواب وركړ چې: د ايمان د راوړلو په صورت كښې پاچاپان پيسې نه راكوي، او امكان لري چې راكړې شوې پيسې هم راڅخه بېرته واخلي.

همدې خبرې د "كرز" په زړه كښې ځاى ونيوه او څه وخت وروسته په ايمان مشرف وګرځيد[1].

۲ــ د "البقرة" سورت په پاى كښې د يو پلوه الله ﷻ د مؤمنانو ايمان او عقيده ستايلې وه چې دوی په ټولو مؤمن به شيانو باندې سمه عقيده لري، او د بل پلوه يې هغوی ته دا سوال هم تلقين كړى وه چې: ﴿ فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ يعني: اى ربه! مونږ ته په كافر قوم باندې نصرت راكړې.

د دې سورت په پيل كښې يې دغو دواړو خبرو ته اشاره وكړه چې د مسلمانانو عقيده د اهل الكتابو د عقائدو په شان نه ده چې عيسى ؑ ته په الوهيت باندې قائل دي، بلكې دوی په حقيقي معنى باندې موحدين دي او هم د دوی سوالونه قبول كړى شوي دي، نه ګورئ چې په اهل الكتابو باندې په استدلال كښې څومره برلاسي شوه حتى چې هغوی د مباهلې څخه وتښتېدل.

د مطلب خلاصه

يعني: هغه څه چې په هغو باندې محمد ﷺ او د ده أمت معتقد دی همغه حق دي، چې الله ﷻ ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ واحد او لا شريک دی، د عبادت مستحق بل څوک نه دی مګر همدی ﷻ دی او بس. ايا تاسو بصر او بصيرت نه لرئ چې د زړونو سترګې لږ څه بېرته كړئ او د حقانيت دغه لاندې دلايل يې وګورئ:

۱ــ الله ﷻ هميشه ژوندی دی، ازلي او ابدي دی، ټولو ژونديو شيانو ته ژوند وركوي او چې اراده يې وشي ترې بېرته يې اخلي.

د ده ﷻ څخه په غير په هر ژوندي باندې داسې وخت تېر شوی دی چې هغه به نه وه، او داسې وخت ورباندې راځي چې هغه به نه وي. د همدې قانون څخه عيسى ؑ هم وتلی نه دی.

۲ــ الله ﷻ په خپل شان باندې قائم او دائم دی تغيير او تبديل ورباندې نه ورځي، ټول موجودات د همده ﷻ د مستقيمې ادارې لاندې دي چې احتياجات يې پوره كوي او په پښو باندې يې ودروي.

۳ــ اى پيغمبره! په تاباندې يې په حقه كتاب نازل كړی دی چې دغه كتاب د حقانيت دلايل د خانه سره راوړي دي او په كلماتو كښې يې نغښتي دي، كه چا ته حق نه ښكاري هغه دې د همدې

(۱) المعجم الاوسط للطبراني ج۴ ص۱۷۶؛ تفسير ابي السعود ج۲ ص۳

کتاب مقابله وکړي او د ده د يو سورت په اندازه دې يو سورت جوړ کړي، هغه حرفونه چې په دې کتاب کښې په کار اچول شوي دي هغه يې په مخکښې دي او د وخت فصحاء او بلغاء هم ورته معلوم دي د هغوی څخه دې کومک وغواړي.

دا دومره عظيم الشان کتاب دی ته به وايې چې بل کتاب بالکل نشته، د کتاب نوم په همده باندې ښه ښکاري. ايا هغه څوک چې داسې کتاب نه شي جوړولی هغه د معبوديت لياقت لري؟

۴ـ ای پيغمبره! اهل الکتابو ته ووايه چې د دې کتاب د حقانيت يو دليل دا دی چې د هغو ټولو اسماني کتابونو تصديق کوي چې هغه ترې پخوا په نورو پيغمبرانو باندې مونږ ورنازل کړی دی. دې کتاب هغه څکه تصديق کړ چې:

الف: په پخوانيو کتابونو کښې ذکر وه چې آخر الزمان پيغمبر ﷺ راتلونکی دی چې د آخرني کتاب سره به مبعوث شي، د هغو کتابو خبره دې کتاب رښتيا کړه چې آخر الزمان پيغمبر ﷺ مبعوث شو او د کتاب خاوند دی.

ب: دا کتاب د پخوانيو کتابونو تصديق کوي چې هغه په حقه نازل شوی وه، هغه چا (الله ﷻ) چې دا کتاب نازل کړی دی همغه ﷻ تورات او انجيل هم نازل کړی وه، مګر دا بېله خبره ده چې هغه اوس خپلو تابعانو تحريف کړی دی او حق او باطل يې خلط ملط کړی دی.

ج: دا کتاب تصديق کوي چې ذکر شوي کتابونو هر يوه په خپل وخت کښې خلکو ته سمه لاره ښودله، او چې د الله ﷻ معزز کتابونه وو. نو هغه څوک چې د هغو کتابونو حقانيت ادعاء کوي بايد چې دا کتاب (قرآن کريم) هم ومني، څکه چې دا د هغو مکذب نه دی بلکې مؤيد يې دی او په اصلي مطالبو کښې سره متحد دي.

۵ـ ای پيغمبره! دوی ته دا هم ووايه چې الله ﷻ خو تورات او انجيل نازل کړي دي خو ستاسو څخه پکښې د تحريف د کبله ما أنزل الله ورک دی، نو دغه دی اوس الله ﷻ فرقان نازل کړ، خپل کتابونه د دې کتاب په رڼا کښې ولولئ، ستاسو هغه اشتباهګانې به ټولې وباسي چې تاسو ته د عيسی ﷺ په باره کښې درلوېدلي دي، تاسو ته خو الله ﷻ د دې دپاره عقل هم درکړی دی چې په دغسې مشکلاتو کښې ترې کار واخلئ او حق د باطل څخه جدا کړئ.

نو څوک چې د فرقان د موجوديت سره‌سره په خپل ضد او عناد باندې کلک پاتې کېږي او د الله ﷻ په نازل کړی شوو دلايلو باندې کفر اختياروي نو هغوی لره يقينًا سخت عذاب دی څکه چې د هدايت وسائل يې ټول د پښو لاندې کړه، نه يې عقلي دلايلو ته وکتل او نه نقلي وو ته، څومره يې چې کفر سخت دی همغومره به يې عذاب هم سخت وي. د الله ﷻ د ارادې مخه هيڅوک نه شي نيولی که څه هم عيسی ﷺ وي. نو نصارا دې ورته نه په تمه کېږي چې مونږ به د عذابه خلاص کړي، دغسې نه ده الله ﷻ د انتقام خاوند دی جزا ورکول د همده ﷻ په لاس کښې دي د عيسی ﷺ په لاس کښې نه دي.

عیسی ﷺ ته که الله ﷻ د جبابره وو څخه نجات نه وی ورکړی او اسمانونو ته یې نه وی پورته کړی نو خپل خان به یې د هغوی څخه نه وی خلاص کړی او په شهادت به یې رسولی وی.

۶ـ هغه څوک د معبودیت استحقاق لري چې د همېشه دپاره په هر شي باندې پوهېږي او هیڅکله ورباندې غفلت او ناخبري نه ورځي. دغسې کس د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نه شي کېدلی، خمکه خو لا څه چې په اسمان کښې هم د ده ﷻ څخه څه شی نه پټ دی او نه ترې پټېدلی شي، نو په هر وخت او په هر خای کښې ورته خپل عبادت کوونکي څرګند دي.

۷ـ هغه څوک د معبودیت مستحق دی چې تاسو لا په رحمونو کښې جوړوي او هلته ورته ستاسو ارتیاوې معلومې دي، څنګه یې چې اراده وشي احتیاجات مو درپوره کوي او د بدن ټول برزجات مو هملته درکوي. د عقل، ذکاوت، حلم او د نورو نفساني صفاتو استعداد مو هملته په خته کښې اغږي، د طول او عرض، د اعضاوو د تناسب مقادیر مو هملته ټاکي، بالآخره د ژوند ټوله تګلاره مو هملته ترتیبوي. نو اوس ووایئ چې په ارحامو کښې د الله ﷻ څخه په غیر څوک مداخله کولی شي؟.

یقیناً په تېرو شوو دلایلو باندې ذکر شوی مطلب پوره په اثبات رسېږي چې ﴿ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ د عبادت مستحق نه دی مګر همدی ﷻ دی. د همده ﷻ څخه دا په کار دي چې د ارادې مخه یې هیڅوک نه شي نیولی، او همدی ﷻ د حکمت څښتن دی نو د انتقام وروسته کول او مجرمانو ته مهلت ورکول یې د حکمت غوښتنه ده، نه د کمزورۍ او ناتوانۍ.

توضیحات

۱ـ په قرآن کریم کښې دا دوهم سورت دی چې په اول سر کښې یې د ﴿ الٓمٓ ﴾ کلمه نازله شوې ده، څلور سورتونه نور هم همداسې شته نو ټول شپږ سورتونه کېږي، مونږ د همدې کلمې په اړوند د "البقرة" سورت په اول سر کښې څه لیکلي دي هلته دې وکتل شي.

په دې مقام کښې فقط همدومره لیکو چې که څوک د قرائت د علم د قانون څخه خپل نظر وشکوي (چې دغه حرفونه په لیک کښې حرفونه دي خو په لوست کښې د حرفونو نومونه دي) او صرف همدغو تورو ته وګوري نو د سړي ذهن ته داسې راخي لکه چې مدخول یې حذف وي؛ پاتې شوه دا خبره چې مدخول به یې څرنګه جمله وي، نو د دې جواب دا دی چې هره یوه جمله چې د هغه مقام سره ښه مناسبه وي هماغه یې مدخول دی، په دې خای کښې لاندې جملې د مثال په توګه ولولئ او نورې ورباندې قیاس کړئ:

الف: "أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ" ایا تاسو نه پوهېږئ چې د عبادت مستحق بل څوک نه دی مګر همدی ﷻ دی.

ب: "أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ عِيسَى ﷺ لا يَسْتَحِقُّ الْأُلُوهِيَّةَ" ایا تاسو نه پوهېږئ چې عیسی ﷺ د معبودیت مستحق نه دی.

په یاد ولرئ!

۲_ په یاد ولرئ چې په پورتني شرحې سره مونږ محض یوه خاطره ولیکله چې په ذهن کښې مو تېره دله، تفسیر مو مطلب نه دی، په تفسیر باندې یې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس.

یادونه

۳_ د ﴿ مُصَدِّقًا ﴾ تفسیر یو ځل د [البقرة: ۸۹] ایت لاندې لیکل شوي دي هیله ده هملته ولوستل شي.

فُرقان څه معنی؟

۴_ د "فُرْقَان" معنی خو دلته واضحه ده چې د حق او باطل جدا کوونکې ده، خو په دې خبره کښې لږ څه خفا شته چې په دې مقام کښې څه شي ته دغه لقب ورکړی شوی دی. مفسرین کرام پکښې لاندې تفسیرونه کوي[1]:

الف: دلته ترې قرآن کریم مراد دی، مخکښې د کتاب په نوم ذکر شوی وه او دوهم ځل د فرقان په نامه ذکر شو.

ب: دلته ترې تورات او انجیل مراد دی، ځکه دغه دواړه کتابونه هم د اهل الکتابو اشتباه وباسي که دوی ورته خیر شي.

ج: دلته ترې زبور مراد دی، چې مخکښې نه دی ذکر شوی او ځلورم کتاب دی.

د: دلته عقلي دلایل مطلب دي، برابره خبره ده چې أنفسي وي او که افاقي وي.

ه: دلته ترې معجزات مطلب دي چې د هر پیغمبر ﷺ سره الله ﷻ استولي دي.

مونږ وایو چې: ذکرې شوي پنځه واړه معناوې د "فُرْقَان" په کلمه کښې سره جمعه کېدلی شي څه تضاد سره نه لري، هر مفسر یې فقط یو-یو مصداق ښودلی دی او بس.

انتقام څه ته وایي؟

۵_ په نني عصر کښې د انتقام کلمه د عفوې په مقابل کښې استعمالېږي لکه چې وایي: فلاني سړی خپل دښمن ته عفوه ونه کړه او په انتقام باندې یې زړه یخ کړ. ښکاره ده چې دا معنی د الله ﷻ سره مناسبه نه ده. نو په دې مقام کښې د انتقام معنی یو ظالم ته جزا ورکول او په هغه باندې خپله سلطه قائمول دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ ظالم ته د عقوبت ورکولو او په هغه باندې د خپل تسلط د اجراء کولو خاوند دی.

تورات او انجیل

۶_ د دغو دواړو کلمو په اصلیت کښې ځیني هغه مفسرین کرام د سختو تکلفاتو مرتکب شوي دي چې دواړه یې عربي ګڼلي دي، تورات یې د "وَرْيٌ" څخه اخستی دی چې د رڼا معنی ورکوي او

(۱) التفسیر الکبیر ج۷ ص۱۷۲؛ تفسیر الکشاف ج۱ ص۳۳۶؛ تفسیر ابي السعود ج۲ ص۵؛ تفسیر المنار ج۳ ص۱۶۱

انجيل يې د "نجل" څخه اخستی دی چې په معنی د اصل سره دی[۱].

مګر تحقيقي خبره دا ده چې دغه دواړه کلمې عجمي دي، حاجت نشته چې عربي وګڼلې شي او بيا ورته بعيد مناسبات ولټول شي. پاتې شوه دا خبره چې په عجمي ژبه کښې يې اصلي معناوې څه شی وې؟ نو د دې جواب دا دی چې تورات په معنی د شريعت سره دی او عبراني لفظ دی او انجيل په معنی د بشارت دی او يوناني لفظ دی[۲].

اما په قرآن کريم کښې هغه کتاب د تورات په نامه يادېږي چې په موسی ﷺ باندې په يو خل نازل شوی وه او انجيل د هغه کتاب نوم دی چې په عيسی ﷺ باندې په يو خل نازل شوی وه، دغه دواړه کتابونه د قرآن کريم په شان په دفعاتو نه دی نازل شوی[۳].

په ياد ولرئ!

۷_ په ياد ولرئ چې الله ﷻ د "ما في الأرحام" په باره کښې دوه شيان په خپل ځان پورې مختص ګرځولي دي چې يو په ما في الارحام باندې علم دی (ان شاء الله د سورت لقمان د آخرني ايت لاندې به شرحه شي) او بل د ما في الارحام تصوير او جوړونه ده چې په همدې مقام کښې ورته اشاره شوې ده.

سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: په نني عصر کښې داسې اسباب کشف شوي دي چې د هغو په ذريعه سړی کولی شي چې د ماشوم وينښتان د مور په ګېډه کښې سره يا تور يا بل رنګ جوړ کړي، نو پوښتنه دا ده چې ايا ذکر شوی صورت د تصوير په اختصاص کښې اعتراض نه شي جوړېدلی؟!

مونږ وايو چې: اول خو ذکر شوی صورت محض افواه ده واقعيت نه لري، که بالفرض متحقق هم شي د ايت شريف سره څه ټکان نه لري، ځکه چې:

الف: په ايت شريف کښې د ما في الارحام ټوله جوړونه په الله ﷻ پورې مختصه ګرځوله شوې ده لکه څېره، رنګ، وزن، اوږدوالی، پلنوالی، پېړوالی، د اعضاوو تناسب او داسې نور. او شک نشته چې په مجموعه توګه د ذکر شوو شيانو دعوه هيڅوک نه شي کولی او نه چا کړې ده.

ب: په دې باندې علاوه، په ايت شريف کښې د "ما في الأرحام" په تصوير کښې موثريت په الله ﷻ پورې مختص کړی شوی دی او د اسبابو خبره دلته هيڅ مطرحه نه ده، او ښکاره ده چې د موثريت ادعا يې هيڅوک نه شي کولی، لکه چې يو دهقان د پاروګانو په سبب سره د ځمکې څخه زيات حاصلات اخستلی شي مګر پاروګان موثر نه شي ګڼلی ځکه چې هر شي ته الله ﷻ وجود وربښي او بس. نو څه محاله نه ده چې الله ﷻ د اسبابو په تفاوت سره د مور په ګېډه کښې وينښتانو ته هم تفاوت ورکړي.

---

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۶۰۱
(۲) تفسير المنار ج۳ ص۱۵۵
(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۲۷۷

﴿ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝٧ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ۝٨ رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ۝٩ ﴾

[۷] دا (الله ﷻ) هغه ذات دی چې په تاباندې يې (د هر مهم) کتاب نازل کړی دی چې ځينې ايتونه يې څرګندې معناوې لري چې همدا (ايتونه) د همدې کتاب بنسټ دی. او څه نور ايتونه يې څرګندې معناوې نه لري. نو هغه کسان چې په زړونو کښې يې باطلو ته ميلان وي نو دوی د دې کتاب څخه په هغو ايتونو پسې ځي چې هغه څرګندې معناوې نه لري (او هغو ايتونو ته هيڅ توجه نه کوي چې څرګندې معناوې لري)، دا د دې کبله چې په (خلکو کښې) فتنه واچوي او د دې کبله چې د مطلبي معنی محض پلټنه وکړي (او خپل قلبي انحراف پکښې پټ کړي، نه د خان پوه کولو په غرض). او (حال دا دی) چې په مطلبي معنی باندې يې نه پوهيږي مګر الله ﷻ.

او څوک چې په علم کښې کلک دي دوی وايي چې: مونږ پرې ايمان راوړی دی. هر يو (محکمات دي او که متشابهات) زمونږ د رب د پلوه (نازل شوي) دي، او (په دې قرآن کريم باندې) پند نه اخلي مګر د عقلونو خاوندان.

[۸] (چې وايي) ای زمونږ ربه! د دې څخه وروسته مو زړونه بيرته مه کږوې چې هدايت دې راته کړی دی (ترڅو په آينده کښې هم په همدې عقيده پاتې شو) او د خپله جانبه راته رحمت وبښې (توفيق راکړې چې په څه پوهيږو هغه عملي کړو) بې شکه همدا ته ډېر بښونکی يې.

[۹] ای زمونږ ربه! يقيناً ته په داسې ورځ کښې د خلکو راغونډوونکی يې چې د هغې په راتللو کښې هيڅ شک نشته.

(ای پيغمبره! دوی ربښتيا وايي) يقيناً الله ﷻ په خپله وعده کښې خلف نه کوي (د همدې ورځې وعده يې کړې ده او دا به پوره کوي).

شان نزول

د دې ايتونو په شان نزول کښې ځينو مفسرينو کرامو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت ليکلي دي چې د يهودانو څو نفرو نبي کريم ﷺ ته وويلې چې ستا د اُمت پاچاهي به تر يواويا کالو پورې دوام وکړي ځکه چې ﴿ الٓمٓ ﴾ د ابجد په حساب همدا عدد پوره کوي. خو کله چې نبي کريم ﷺ

وربانديې نور مقطعات ولوستل نو دوی هک پک شوه[۱] او الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه.

مگر دا قیصه د ایتونو د مصداقونو څخه شمېرله کېږي چې د قرآني حرفونو څخه يې ننته انگيزه مطلب اخستى دى. او په سلفو صالحينو کښې عادت وه چې د ايت په مصداق به يې هم د شان نزول اطلاق کاوه[۲]. خو په اصطلاحي معنى باندې يې د شان نزول اطلاق نه شي کېدلی ځکه چې د دې سورت د لومړنيو ايتونو په شان نزول کښې مونږ ليکلي دي چې تر درې اتيا [۸۳] ايتونو پورې د نجران د وفد په باره کښې يې نزول موندلی دی، چې د هجرت نهم کال (عام الوفود) وه. او د دغه وخته پورې خو د مديني منورې څخه د يهودانو جرړې ويستلې شوې وې، نو څنگه کېدلی شي چې نوموړي ايتونه د دوی په باره کښې په اصطلاحي معنى نازل شي؟!

نو ټيک خبره دا ده چې اصطلاحي شان نزول يې د همدغه وفد (جرگې) اعتراض وه چې دوی نبي کريم ﷺ ته وويلې چې: ايا ته نه وايې چې عيسى ؑ د الله ﷻ کلمه دی او د همده ﷻ څخه روح دی. دوی دې ايت ته اشاره کوله چې: ﴿ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٌ مِّنۡهُ ﴾ [النساء: ۱۷۱]. نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې: ولې نه، زه دا خبره کوم. نو دوی وويلې چې: همدا زمونږ بس دی[۳]، يعني: زمونږ مطلب ثابت شو چې عيسى ؑ ابن الله دی ځکه چې د ابن الله او رُوح الله څه فرق نشته.

د جواب حاصل دا دی چې: په قرآن کريم کښې نور ايتونه شته چې تاسو هلته دغسې منحرفه معنى نه شئ اخستلی لکه چې: ﴿ إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ ﴾ [الزخرف: ۵۹] يعني: عيسى ؑ بل څوک نه دی مگر (د الله ﷻ) يو بنده دی چې مونږ وربانديې انعام کړی دی.

همدا شان نزول د ايتونو په ارتباط کښې هم پوره لاس کوي.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: اې پيغمبره! لکه څنگه چې الله ﷻ د انسانانو مادي تربيه کوي او د مورگانو په رحمونو کښې يې د جنين په شکل جوړوي همدارنگه يې د دوی معنوي تربيه هم د نظره نه ده غورځولې، نه گورې چې په تاباندې يې د همدې مطلب دپاره يو ډېر مهم کتاب نازل کړی دی، د دې کتاب ځينې ايتونه محکمات دي چې معناوې يې ځرگندې دي او ټول قرآن کريم ته د چورليز او موقوف عليه حيثيت لري او ځينې نور ايتونه يې متشابهات دي چې مطالب يې پوره واضحه نه دي چې د فهم په باره کښې په محکماتو ايتونو باندې ورځرخېږي.

که د الله ﷻ لطف نه وی او محکمات ايتونه يې نه وی درنازل کړي نو نه به د متشابهاتو څخه انسانانو مطالب ترلاسه کړي وی او نه به د ازمويني لاندې راغلي وی چې د برياليتوب اجرونه او ثوابونه يې ترلاسه کړي وی.

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۷۹

(۲) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

(۳) روح المعاني ج۳ ص۷۹

نو هغه کسان چې په زړونو کښې يې باطل خوا ته کوږوالی او انحراف وي، هغوی بوازې متشابهاتو پورې نښلي او د محکماتو هيڅ خيال نه ساتي، او په تاويلاتو کښې يې هم هغه تاويل رانيسي چې د ده د فاسد غرض سره سمون خوري او خلک ورباندې تېر ويستلی شي، ترڅو دوی د بو پلوه نور خلک په فتنه کښې واچوي او د بله پلوه خپل فاسد مطلب ته شرعي بڼه ورکړي چې دا د الله ﷻ حکم دی.

او اصل خبره دا ده چې د متشابهاتو په مقصودي معنی باندې پرته د الله ﷻ څخه هيڅوک نه پوهېږي. هو! چا ته چې الله ﷻ قوي علم ورپه برخه کړی وي او د ځينو متشابهاتو څخه د محکماتو ايتونو په رڼا کښې څه مطالب لاس ته وروړي هغه بېله خبره ده.

د قوي علم خاوندان په متشابهاتو کښې د خپلې ګېډې څخه څه خبره نه کوي، که سره د کوښښه هم مطلب ته ونه رسېږي نو د نه منلو خيال ورسره نه پيدا کېږي، بلکې وايي چې مونږ قوي ايمان لرو چې محکم او متشابه ايتونه دواړه زمونږ د رب ﷻ د پلوه دي او په دواړو کښې زمونږ تربيه په نظر کښې نيوله شوې ده، که مونږ ورباندې پوه شو او که پوه نه شو عقيده ورباندې لرو.

کله چې دوی د علم د قوت سره- سره په متشابهاتو باندې د پوهېدلو څخه عاجز دي نو اهل الزيغ (کوږ فکري کسان) به څنګه ورباندې پوه شي، معلومه شوه چې دوی د فتنې دپاره تاند وهي.

۳ـ نو ای پيغمبره! د هغوی لکه څنګه چې علم قوي دی عقلونه يې هم کمزوري نه دي، ځکه د متشابهاتو ايتونو په نزول باندې نه اعتراض کوي او نه يې د مطالبو په لاس ته وروړلو کښې په غلطه لاره قدم ږدي، دغسې طرز العمل د هوښيارانو څخه په غير بل څوک نه شي درلودلی.

۴ـ د قوي علم او قوي عقل خاوندان خپل الله ﷻ ته د عاجزۍ او بندګۍ په حالت کښې سوالونه کوي چې: ای زمونږ ربه! لکه چې نن دې زمونږ زړونه د کوږوالي څخه وساتل او توفيق دې راکړ چې د متشابهاتو ايتونو په هکله مو ستا په هدايت غلطه لاره ونه نيوله په راتلونکي کښې هم زمونږ زړونه د کوږوالي څخه په امن کښې ولرې او د خپله پلوه راباندې رحمت نازل کړې، که څه هم مونږ ستا د رحمت لياقت ونه لرو خو د خپله پلوه راباندې وريا د توفيق باران وکړې. بې شکه همدا ته د ډېرې بښنې خاوند يې.

ای زمونږ ربه! يقيناً ته خو ټول خلک په داسې ورځ کښې سره غونډوې چې په هغې کښې څه شک نشته، مونږ ځکه تاته سوالونه کوو او ستا څخه توفيق غواړو، چې په هغې ورځ کښې شرمنده او خجالت نه شو.

۵ـ نو ای پيغمبره! بې شکه دغه ورځ راتلونکې ده هر چا ته په کار دي چې ځان ورته تيار کړي، ځکه چې د دې ورځې الله ﷻ وعده کړې ده او الله ﷻ په خپله وعده کښې رښتينی دی، په وعده کښې خلف نه کوي.

توضيحات

۱ـ چرته چې ټول قرآن کريم د محکم په صفت موصوف شوی وي هلته ټول علماء کرام متفق دي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ﴾ [هود: ۱] يعني: قرآن کريم داسې کتاب دی چې

ټول ایتونه یې محکم ګرځول شوي دي. چې نه ورته لفظي خلل لار پیدا کولی شي او نه معنوي، نه یې څوک تحریف کولی شي او نه یې نظم تخریبولی شي.

او هلته هم متفق دي چې ټول قرآن کریم د متشابه په نامه باندې یاد شوی دی لکه چې فرمایي: ﴿ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا مُّتَشَٰبِهًا ﴾ [الزمر:۲۳] یعني: الله ﷻ د هر ښائسته کلام نازل کړی دی چې متشابه کتاب دی، چې ټول ایتونه یې په حقانیت او اعجاز کښې یو بل ته ورته دي، کوم ښائست چې په یو سورت کښې لیدل کېږي هغه په بل سورت کښې هم د ورایه ښکاري.

مګر په دې مقام کښې -چې اوس پکښې بحث روان دی- د قرآن کریم ایتونه په دوه ډولونو باندې ویشل شوي دي چې ځینې محکمات دي او ځینې متشابهات، نو علماء کرام پکښې څه اختلاف النظر لري چې لاندې تشریح کېږي.

د محکم او متشابه لغوي معناوې

۲- په عربي ژبه کښې "مُحْكَمْ" اصلا د "حَكَمْتُ الدَّابَة" څخه اخستل شوی دی یعنې: څاروی (آس) مې قبزه کړی وه[1] چې په لار باندې مې سم سیده روان کړی وه او د کوږوالي راکوږوالي څخه مې رامنعه کړی وه. او "مُتَشَابِه" د "تَشَابُه" څخه اشتقاق شوی دی یعنې: داسې مماثلة چې مطلب پکښې نه پېژاندل کېږي، لکه چې الله ﷻ د یهودو د خولې څخه فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّ ٱلْبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيْنَا ﴾ [البقرة: ۷۰] یعني بې شکه زیږې غواګانې په مونږ باندې متشابهې دي. مطلبې غوا پکښې نه پېژنو.

د محکم او متشابه اصطلاحي معناوې

اما د "مُحْكَمْ" او "مُتَشَابِه" اصطلاحي معناوې علماء کرامو په بېلو-بېلو عباراتو سره تعریفې کړې دي چې ټول تعریفونه یې تقریباً یوو لسو ته رسېږي[2]، د اوږدوالي د کبله یې مونږ په لاندې یو- یو تعریف باندې اکتفاء کوو چې نسبتاً جامع دي او نور تعریفونه په لږ تصرف سره ممکن دي چې ورواوړي، هغه دا دي:

الف: "مُحْكَمْ" ایت هغه ایت ته ویل کېږي چې صرف یوه معنی لري، په همدغې یوې معنی باندې قطعي دلالت کوي او د اشتباه څخه محفوظ وي[3]، لکه: ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴾ [الإخلاص: ۱] یعني: ورته وروایه چې خبره دا ده چې الله ﷻ یو دی (شریک نه لري).

ب: "مُتَشَابِه" هغه ته ایت ویل کېږي چې د یوې معنی څخه په غیر د نورو معناوو احتمال هم لري، دلالت یې قطعي نه وي او د یوې معنی اراده کول ترې بې دلیله ممکن نه وي[4].

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۲۶
(۲) تفسیر القرطبي ج۴ ص۹؛ البحر المحیط ج۲ ص۳۸۱؛ مناهل العرفان في علوم القرآن ج۲ ص۱۶۸
(۳) احکام القران للجصاص ج۲ ص۴؛ تفسیر ابي السعود ج۲ ص۷
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴؛ تفسیر ابي السعود ج۲ ص۷

یا په بل عبارت: "مُتَشابِه" هغه ته وايي چې مراده معنی یې څرګنده نه وي، برابره خبره ده چې موضوع له معنی یې څرګنده وي او که نه.

که سړی دغه دواړه تعریفونه په ذهن کښې ونیسي او بیا نور تعریفونه ولولي، داسې به ورته جوته شي چې د تعریفونو د تعدد وجه دا ده چې هر چا د محکم او متشابه یو- یو مصداق ښودلی دی او بنیادي تضاد یې په منځو کښې نشته.

د متشابه ډولونه

۳_ که څه هم د متشابه ډولونه د دې کبله ډېر دي چې د اشتباه اسباب ډېر دي، خو دغه اسباب په لاندې درې ګروپونو کښې خلاصه کېدلی شي:

الف: هغه متشابه چې خفا پکښې د لفظ د لارې واقع شوې وي، لکه د "أهْل" کلمه چې د نېکې اولادې او بدې اولادې په منځکښې مشترکه ده. د همدې کبله نوح ﷺ خپل کافر زوی د نجات په وعده کښې شامل ګڼلی وه، خو الله ﷻ یې دغه اشتباه پورته کړه چې: ﴿ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖ ﴾ [هود: ۴۶] یعني: ویې فرمایل: ای نوحه! یقینًا دغه (کافر زوی دې) ستا د اهل څخه نه دی څکه چې نوموړی د غیر صالح عمل خاوند دی (نو د "اهل" د نجات په وعده کښې نه شي داخلېدلی).

همدارنګه د قرآن کریم مقطعات حرفونه د لفظونو د کبله په متشابهاتو کښې شمېرل کېږي، څکه د کومو معناګانو دپاره چې وضعه شوي دي په هغو کښې خو خفا نشته، خفا په دې کښې ده چې دلته ترې کومې معناوې مرادې دي.

ب: هغه متشابه چې خفا پکښې د معنی د کبله منځ ته راغلې وي، چې په معنی باندې پوهېدل د سړي د سرېي څخه پورته وي او عقل یې ورته نه رسېږي، لکه د الله ﷻ صفات او یا د قیامت ورځې د قیام وخت.

ج: هغه متشابه چې لفظ او معنی دواړو په خفا کښې سره لاس یو کړی وي او دواړه یې سبب ګرځېدلي وي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ ﴾ [التوبة: ۳۷] یعني: بې شکه تاخیرول په کفر کښې زیادت دی. څکه چې دا ایت شریف د دې کبله هم په خفا کښې دی چې دلته د تاخیر څخه څه شی مراد دی او د دې کبله هم چې تاخیر ولې د کفر زیادت ګڼل شوی دی؟

نو ترڅو چې سړی په دې پوه نه شي چې د جاهلیت په زمانه کښې عادت وه چې میاشتې به یې وړاندې وروسته کولې د دې دپاره چې د خپلو جنګونو دپاره بهانه جوړه کړي چې په حرامه میاشت کښې نه دي واقع شوي نو د یوې میاشتې نوم به یې په بله کېښود او د بلې په بله، نو تر هغه پورې د آیت په مطلب نه شي پوهېدلی.

دا وه د متشابهاتو د ډولونو په هکله لنډ معلومات، که څوک د دې څخه زیات معلومات غواړي هغه دې اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي[۱].

(۱) مناهل العرفان في علوم القرآن ج۲ ص۱۷۴؛ مفردات الراغب ص۲۶۰

ایا د متشابهاتو علم د الله ﷻ خاصه ده؟

۴ـ په دې خبره کښې (چې په متشابهاتو باندې پوهه د الله ﷻ خاصه ده او که د قوي او راسخ علم خاوندان هم ورباندې پوهېدلی شي) د علماء کرامو اختلاف دی، د ځینو علماء کرامو دا نظر دی چې د الله ﷻ خاصه نه ده د قوي علم خاوندان هم ورباندې پوهېږي، په دوی کښې شوافع رحمهم الله هم شامل دی، مګر د احنافو رحمهم الله په شمول د اکثره علماء کرامو په نزد ذکر شوی علم د الله ﷻ خاصه ده[١].

د دې اختلاف اصل منشا د ایت شریف دغه ټکړه ده چې: ﴿ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُ ۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِى ٱلْعِلْمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا ﴾. اقلیت وایي چې د ﴿ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ او ﴿ وَٱلرَّٰسِخُونَ ﴾ ترمنځ وقف نشته او د "و" توری د عطف دپاره دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د متشابهاتو په تاویل باندې هیڅوک نه پوهېږي مګر یو الله ﷻ او بل د راسخ علم خاوندان.

د اقلیت دلایل

دوی وایي چې په ذکر شوي مقام کښې د لاندې وجو د کبله وقف نشته:

الف: که د الله ﷻ پورې یې اختصاص درلودی نو نبي کریم ﷺ به عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته دا دعاء نه وی کړې چې: «اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ وَعَلِّمْهُ التَّأْوِيلَ»[٢] یعني: ای الله ﷻ ده ته په دین کښې فقاهت ورکړې او په تاویل باندې پوهه ورکړې. ځکه چې د الله ﷻ په اختصاصي صفاتو کښې د نوموړي صحابي اشتراک غوښتنه څه معنی نه لري.

ب: نوموړي صحابي رضي الله عنه ویلي دي چې: «أَنَا مِنَ الرَّاسِخِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ تَأْوِيْلَهُ»[٣] یعني: زه د هغو راسخینو څخه یم چې په تاویل باندې یې پوهېږي.

نو که الله ﷻ پورې د متشابهاتو علم خاص وی نو ذکر شوی صحابي به ورباندې څنګه پوه شوی وی، او داسې تولګی به نه وی موجود شوی چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما خپل ځان د هغوی څخه شمېرلی دی.

یادونه

زمونږ په فکر د دې خبرې (چې د متشابهاتو علم د الله ﷻ خاصه ده) معنی دا ده چې د متشابهاتو علم د انسان دپاره ښودانې ته اړه لري او د محکماتو په شان ورباندې سړی په زغرده نه پوهېږي، نو په کوم یوه باندې چې الله ﷻ د خلکو د پوه کولو اراده وکړي نو هغه ورښایي او که نه نو پټ یې ساتي، لکه د قیامت د ورځې د راتللو نېټه.

---

(١) تفسیر البغوي ج١ ص ٢٨٠

(٢) مسند احمد بن حنبل ج١ ص ٦٧٤

(٣) تفسیر ابن کثیر ج١ ص ٣٤٧

نو په دې بناء ذکر شوې دواړه استدلالونه څه نتیجه نه ورکوي او د اختصاص سره منافات نه لري او لا بلکې تائید یې کوي. او دا څکه که اختصاص یې نه درلودی نو نه به نبي کریم ﷺ د نوموړي صحابي ﷺ په باره کښې الله ﷻ ته سوال کړی وی او نه به یوازې د هغه دا افتخار په برخه شوی وی چې دی ورباندې پوهېږي او بس.

د اکثریت دلایل

۵_ اکثره علماء کرام د احنافو علیهم الرحمة په شمول وایي چې: په ﴿ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ باندې لازم وقف دی، دا جمله تمامېږي او د ﴿ وَٱلرَّٰسِخُونَ ﴾ څخه بېله جمله پیل کېږي چې د "و" توری پکښې د استناف دپاره دی، د عطف دپاره نه دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د متشابه په تاویل باندې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نه پوهېږي، نو څوک چې خامه او غیر شرعي پوهه لري چې په زړه کښې زَیغ وي او د فتنې، فساد اورته لمن وهي هغه ورپسې په غیر شرعي طریقه تاند وهي، اما څوک چې د پوخ علم خاوند وي نو هغه په دغسې خطري سورو کښې ګوتې نه وهي.

دوی وایي کله چې محکم او متشابه دواړه د الله ﷻ د پلوه دي نو باید چې د تاویل لټونه هم په هغې طریقې سره وکړو چې همده ﷻ ورته تعینه کړې ده، هغه طریقه محاکماتو ته مراجعه ده او بس.

د دوی دلایل دا دي:

الف: الله ﷻ محکماتو ایتونو ته د ﴿ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ لقب ورکړی دی ترڅو د متشابهاتو په تاویل کښې ورته مراجعه وکړی شي، که د الله ﷻ څخه په غیر ورباندې څوک پوهېدلی نو دغه لقب به څه معنی نه درلودلی.

یا په بل عبارت: الله ﷻ د متشابهاتو تاویلاتو او د پوهېدلو مرجع یې همدا یوه ټاکلې ده او بس.

که هلته یې تاویل وموندل شي خو ښه ده او که نه نو همدومره عقیده ضرور ده چې مراد د الله ﷻ حق دی، که مونږ پرې پوه نه شو باک یې نشته څکه چې په پوهېدلو باندې یې مکلف نه یاستو[1].

مګر دا خبره هم په یاد ولرئ کوم احادیث چې د متشابهاتو وضاحت پکښې شوی وي هغه هم د قرآن کریم محکماتو ایتونو ته وراوړي څکه چې د احادیثو حجیت په محکماتو ایتونو باندې ثابت دی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ ﴾ [النحل:۴۴] یعنې: او تاته مو قرآن کریم د دې دپاره نازل کړی دی ترڅو دوی ته نازل کړی شوی کتاب تشریح کړې.

او هم فرمایي چې: ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ﴾ [النجم: ۳_ ۴] یعنې: او پیغمبر د خپلې هوا څخه خبرې نه کوي، د ده خبرې نه دي مګر وحې ده چې ورته وحې کېږي.

ب: الله ﷻ د راسخینو د خولې څخه حکایت کوي چې دوی د دواړو ډولونو په ایتونو کښې وایي چې: ﴿ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا ﴾ دا هر یو ډول زمونږ د رب ﷻ د پلوه دی. یعنې برابره خبره ده چې مونږ

---

[1] تفسیر کبیر ج۷ ص۱۸۶

وربانديږ پوه شو او که پوه نه شو په باور کولو کښي وربانديږ په تفريق قائل نه ياستو. که بالفرض دوی وربانديږ پوهېدلی نو دغه خبره کول د دوی د مدحې او ستاينې سبب نه شو، حورېدلی ځکه چې په قطعي معلوماتو بانديږ خو هر مؤمن معتقد دی.

ج. د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه يو قرائت داسې هم روايت شوی دی چې: "وَيَقُولُ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ"[1]، په دې قرائت کښې د دې خبرې احتمال نشته چې د "و" توری عاطفه شي او دلالت وکړي چې راسخون هم په تاويلاتو بانديږ پوهېږي. دا قرائت که څه هم د يو شي ثبوت نه شي کولی مګر ترجيح خو ورکولی شي.

د. د قرآن کريم په نورو ځايونو کښې دغه ډول ترکيب استعمال شوی دی هلته اختصاصي صفت مراد دی، لکه چې فرمايي: ﴿ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ﴾ [الأنعام: ۵۹] يعني: او د الله ﷻ په نزد د غيبو خزائن دي چې هيڅوک وربانديږ نه پوهېږي مګر همدی ﷻ.

نو معلومه شوه چې دلته هم د متشابهاتو په تاويلاتو بانديږ د الله ﷻ څخه پرته بل څوک نه پوهېږي.

د متشابهاتو حکمتونه

۶ـ د متشابهاتو په نزول کښې خو به ډېر حکمتونه وي مګر لانديږ څو حکمتونه يې د مثال په توګه محترمو لوستونکو ته وړانديږ کوو:

الف: قرآن کريم په عربي ژبه نازل شوی دی خو د دې سره سره ټول عرب يې د مقابلې څخه عاجز وه او عاجز دي او ټول اهل لسان په خپل عجز بانديږ اعتراف کوي. د دې اعتراف يوازېنی سبب دا دی چې په قرآن کريم کښې د ژبې ټول امتيازات په ډېره لوړه کچه په کار اچولي شوي دي، مجازات، کنايات، تلويحات، استعارات او نور ټول فنون پکښې استعمال شوي دي چې د دې ډول نزول طبعي نتيجه دا ده چې قرآن کريم دې متشابهات ولري. که بالفرض د لساني فنونو څخه کار نه وی اخستل شوی نو اهل لسانو به خپل ځانونه د قرآن کريم په مقابل کښې عاجزان نه وي ګڼلي.

ب: د دې کبله هم په قرآن کريم کښې د متشابهاتو موجوديت ضروري وه چې په دې کښې پرته د مادياتو څخه دنورو شيانو بحثونه هم شوي دي او طبعي ده کله چې غير مادي شيان د هغو الفاظو په قوالبو کښې بيانېږي چې هغه د مادياتو دپاره وضعه شوې وي نو بايد متشابهات ولري، ځکه چې په آخرت کښې داسې شيان شته چې نه غوږونو اورېدلي، نه سترګو ليدلي او نه د چا په زړه کښې تېر شوي دي.

که بالفرض دغه شيان په مادي الفاظو کښې نه وی بيان شوي او يا بالکل د بيان څخه غورځولي شوي وی، نو معلومه خبره ده چې قرآن کريم به د هر شي بيانوونکی نه وی جوړ شوی.

ج. لکه څنګه چې الله ﷻ ټول خلک په عملي احکامو بانديږ امتحانوي همدارنګه يې علماء د متشابهاتو په نزول سره د يوه خاص امتحان سره مخامخ کړي دي چې دوی د مشروعې طريقې څخه

---

(۱) تفسير الطبري ج۳ ص۱۸۴

په غیر د هغو په تاویلاتو کښې د غیر مشروعو لارو څخه کار اخلي او که نه. ترڅو اهل الزیغ او اهل الخلوص یو د بل څخه جدا شي.

د: د دې دپاره چې مسلمانان ویښ او راښدار شي او د عقل څخه کار واخلي، که بالفرض په قرآن کریم کښې دغه ډول ایتونه نه وی نازل شوي او هر څه پکښې په واضحه او څرګنده توګه بیان شوي وی، نو د عقل قدرداني به نه وی شوې او د پرواز ساحه به یې تنګه وی.

هـ: که بالفرض هغه ټول علوم چې قرآن کریم ورباندې مشتمل دی په څرګنده توګه بیان شوي وی او هیڅ خفا پکښې نه وي نو د قرآن کریم څخه به دومره لوی کتاب جوړ شوی وی چې په ملیاردونو جلدونه به یې درلودی، چې نه به یې حمل او نقل د چا د لاسه پوره وی او نه به د چا په حفظ کښې راغلی وی، نو د یو پلوه به مسلمان په قرآن کریم کښې د تفکر د ثوابونو څخه محروم شوي وی او د بله پلوه به د حافظ کېدلو رتبه د هیچا نه وی په نصیب شوې او نه به چا ته هغه اطمنان په برخه شوی وی چې هغه یوه کوښښ کوونکي ته د کوښښ څخه وروسته د نتیجې په لاس ته ورړلو سره په نصیب کېږي.

سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: حکمتونه به هلته د منلو وړ وی چې د متشابهاتو په تاویلاتو کښې شرعي اجازه موجوده وی، د دې ایت شریف څخه چې اوس د بحث لاندې دی معلومېږي چې د تاویلاتو پلټنه د اهل الزیغ کار دی؟

مونږ وایو چې: پلټنه په دوه ډوله ده، یوه د اهل الزیغ پلټنه ده چې د پلټنې باعث ورباندې زیغ (کوږوالی) وي لکه د کافر، زندیق، مبتدع او نورو پلټنې؛ نو دا ناجائزه ده او شریعت ورته اجازه نه ورکوي.

او بله د اهل العلم پلټنه ده چې د پلټنې باعث یې فقط د علم رسوخ (قوت) وي او بس. که اهل العلم ته د پلټنې اجازه نه وی نو د ﴿ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾ په عوض به یې "وَالْمُؤْمِنُونَ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ" ویلي وی، یعنې: وایي چې مونږ په متشابه باندې فقط ایمان راوړی دی او پلټنه یې نه کوو. نو د ایت شریف څخه د پلټنې په اجازه باندې برسېره، په متشابهاتو باندې د مشروعې لارې څخه ځان پوهولو ته تشویق هم شته، چې دوی ته یې د کلک علمو خلکو لقب هم ورکړ او د ﴿ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴾ "هوښیارانو" په نامه یې وستایل.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸ـ که څوک وایي چې: په دې تقدیر د اهل الزیغ په باره کښې په کار وه چې په همدومره عبارت باندې اکتفاء شوې وی چې ﴿ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ ﴾، او دا کلمه ورسره نه وی اضافه شوې چې ﴿ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦ ﴾، ځکه چې فتنه اچول غیر مشروع دي، د تاویل پلټنه خو غیر مشروع نه ده؟!

مونږ وایو چې: دوهمه کلمه یې ځکه ورسره اضافه کړه چې دوی خپل سوء القصد ته (چې ناجائز کار دی) د جائز کار رنګ ورکوي، نو الله ﷻ خلک تنبیه کړه چې فتنه اچول بېل شی دی او د تاویل پلټنه بېل شی دی، اهل الزیغ یو په بل کښې نغاړلو ته مه پرېږدئ چې اغفال مو کړي.

یادونه

د ذکر شوو دوارو ډلو د پېژاندلو دپاره کومه قاعده اینبودل مشکله ده نو فقط همدومره لیکلی شو چې د کلک علم او قوي عقل خاوندان هغه کسان دي چې تقوی، تواضع، قناعت، او د خپل ځان اداره ولري. نو هر څوک چې په خپل ماحول کښې نظر واچوي ممکنه ده چې پیدا یې کړي.

تاویل څه معنی؟

۹ـ د تاویل توری د "أوْل" څخه دی چې د رُجوع معنی ورکوي اسم ظرف یې "مَوْئِل" راځي. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ بَل لَّهُم مَّوۡعِدٞ لَّن يَجِدُواْ مِن دُونِهِۦ مَوۡئِلٗا ﴾ [الکهف: ۵۸] بلکې دوی (کافرانو) لره موعد شته چې د هغه څخه په غیر به بل د رجوع ځای ونه مومي.

په قرآن کریم کښې د دې سورت څخه پرته په نورو شپږو سورتونو کښې هم د تاویل کلمه استعمال شوې ده چې په معنی د اصلي مرجع او خارجي مصداق سره ده. لکه چې الله ﷻ د یوسف ؑ د خولې څخه فرمایي: ﴿ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأۡوِيلُ رُءۡيَٰيَ ﴾ [یوسف: ۱۰۰] یعني: ای پلاره! دا زما د خوب خارجي مصداق وه. نو په دې سورت کښې هم د تاویل څخه حقیقة الأمر او نهائي هدف مراد دی[1].

د متشابهاتو څو مثالونه

۱۰ـ په دې مقام کښې مونږ محترمو لوستونکو ته د متشابهاتو څو مثالونه وړاندې کوو چې څرنګه یې ابهام پورته شوی دی او تاویل ورکړی شوی دی، هغه دا چې:

الف: ﴿ ٱللَّهُ يَسۡتَهۡزِئُ بِهِمۡ ﴾ [البقرة: ۱۵] د متشابهاتو څخه دی ځکه چې د استهزاء نسبت الله ﷻ ته مناسب نه دي. نو تاویل کوونکو علماؤ یې تاویل کړی دی چې د استهزاء څخه د هغې جزاء مطلب ده. یعني الله ﷻ دوی ته د مسخرو جزا ورکوي.

ب: ﴿ أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا ﴾ [الإسراء: ۱۶] یعني کله چې زمونږ اراده وشي چې کوم ښار هلاک کړو نو د هغه ښار مخورو ته امر کوو نو هغوی په ښار کښې فسق کوي او د هلاکولو مستحق ګرځي.

دا ایت متشابه دی ځکه چې الله ﷻ په فسق باندې امر نه کوي. نو تاویل کوونکي علماء کرام یې په دوه ډوله تاویل کوي: یو دا چې د "بالطّاعَة" تکی ورسره اضافه کوي، یعنې هغوی ته په طاعت امر کوو نو هغوی په طاعت کښې فسق کوي. او بل دا چې د ﴿ أَمَرۡنَا ﴾ معنی په "كَثَّرْنَا" سره کوي؛ یعني: هغوی ته هر څه ډېر ورکوو نو هغوی بیا فسق اختیاروي او د نعمتونو کفران کوي.

---

(۱) تفسیر المنار ج۳ ص۱۷۲؛ اضواء البیان ج۱ ص۲۳۳؛ تفسیر القاسمي ج۴ ص۱۲

نو دغه دواړه تاويلونه د محكماتو سره موافق دي.

ج: ﴿ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ﴾ [التوبة: ۶۷] يعني: دوی الله ﷻ هېر کړ نو الله ﷻ دوی هېر کړه. دا هم د متشابهاتو څخه دي ځکه چې د نسيان نسبت الله ﷻ ته مناسب نه دی. نو دوی یې د ترک (پرېښودلو) په معنی اخلي. يعني: دوی د الله ﷻ احکام پرېښوده نو الله ﷻ دوی د خپل رحمت څخه پرېښودل.

د: ﴿ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُ ۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِى ٱلْعِلْمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾ الآية د متشابهاتو څخه دی ځکه چې په متشابهاتو باندې علم غيبي علم دی چې ظاهري معناوې یې مرادې نه دي او غيبي علم په محکم ايت سره ثابت دی چې دا الله ﷻ خاصه ده. لکه چې فرمايي: ﴿ قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ [النمل: ۶۵] يعني: ورته ووايه څوک چې په اسمانونو کښې او که په ځمکو کښې وي په غيبو باندې نه پوهېږي مګر الله ﷻ پرې پوهېږي او بس.

خو په ذکر شوي ايت شريف کښې ظاهره دا ده چې "رَاسِخُون" ورسره په دې خاصه کښې شريک دی. نو تاويل کوونکي علماء يې تاويل کوي چې په ﴿ وَٱلرَّٰسِخُونَ ﴾ کښې واو عاطف نه دی بلکې استنافيه دی، لکه چې مخکښې شرحه شو.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمْ وَقُودُ ٱلنَّارِ ﴿١٠﴾ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿١١﴾ ﴾

[۱۰] بې شکه هغه کسان چې کافر شوي دي (هره ډله چې وي) د هغوی څخه به د هغوی مالونه او اولادونه د الله ﷻ د غضب د هيڅ شي مخه ونه شي نيولی. او دغه خلک همدوی د (دوزخ د) اور خاشاک دي.

[۱۱] (د دوی حالت داسې دی) لکه د فرعون د تېر حالت او د هغو خلکو (حالت) چې د دوی څخه پخوا تېر شوي دي.

(هغه حالت دا دی چې:) دوی زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت وکړ نو الله ﷻ د (همدې) ګناهونو په سبب ونيوه. او الله ﷻ سخت عذابی دی (جزا ورکول يې ډېر سخت دی).

ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې مقام کښې د لاندې وجوهو د کبله د ايتونو اړوند تېنګېدلی شي:

الف: مونږ د دې سورت د ړومبنيو ايتونو په شان نزول کښې ليکلي دي چې د نجران د جرګې څخه يوازې يوه سړی "کرز" نامی مسلمان شو او نوره جرګه ودار شوه چې که ايمان راوړو نو د وخت

د پاچاهانو په دربار کښې به مو اعتبار سقوط وکړي او یا به شتمني راځخه بهرته واخلي[۱].

نو په دې ایتونو کښې د هغوی د ایمان دغه مانع هم لرې کړی شوی دی چې دا ټول عارضي شیان دي پخوانیو ته یې بقا نه ده کړې نو تاسو ته به څه بقا وکړي، هغوی ته یې گټه نه ده رسولې نو تاسو ته به څه گټه ورسوي.

ب: په وړاندې ایت کښې ذکر دي چې د راسخ علم خاوندان د متشابهاتو په تاویل پسې په غیر شرعي توگه ځکه تاند نه وهي چې د قیامت د ورځې څخه په ډار کښې دي، په دې ایت کښې کافران ترغیب کړی شوه چې تاسو خو باید د قیامت د ورځې څخه ډېر زیات په ډار کښې شئ چې هیڅ مو ورته نه دي تیار کړي، که مالونه او اولادونه مو ډېر دي هغه درته هلته په درنه خوري.

۲ـ یعني: ای پیغمبره! د کافرانو په کفر باندې مه غمژن کېږه، تا خو خپله غاړه خلاصه کړه او صفا ټکو کښې دې دوی دعوت کړه، د دوی ټولې اشتباهگانې دې رفعه کړې نو چې دوی د دنیا د محبت څخه لاس نه اخلي په تا کښې څه گناه ده؟

د دوی دنیاوي غراوېش به د دوی نه په آخرت کښې په کار ورشي او نه په دنیا کښې، په آخرت کښې به ترې د دوزخ خاشاک جوړ شي او په دنیا کښې به وړباندې د فرعون د ټبر په شان او د عادیانو او ثمودیانو په شان بده ورځ ورشي، ځکه چې دوی هم د هغوی په شان د الله ﷻ د ایتونو تکذیب د استمرار په توگه وکړ نو الله ﷻ یې ببخ وویست همدارنگه به د دوی ببخ هم وباسي.

توضیحات

۱ـ د وَقود کلمه د "واو" توري په پېښ سره د اور بلولو ته وایي او د "واو" توري په زوَر سره یې هغو خاشاکو ته وایي چې اور وړباندې بلېږي[۲]. د دوزخ اور د دنیا د اور په شان نه دی چې دړې وغړاړې بلکې په خپله په دوزخیانو باندې بلېږي او د بدن د داخل څخه لمبې وهي. الله ﷻ د دې اور په باره کښې فرمایي: ﴿ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ﴾ [الهمزة:7] چې دغه اور په زړونو باندې ورخېژي. یعنې د دې څخه مخکښې چې په ظاهري بدن باندې تاثیر وکړي، په زړونو باندې لمبې پورته کوي.

"دَأب" څه ته وایي؟

۲ـ "دَأب" دغه مستمر عادت ته ویل کېږي چې سړی وړباندې همېشه کلک وي[۳]. نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: د نبي کریم ﷺ د زمانې ځینې کافران په خپل کفري عادت باندې
۱ داسې کلک دي چې د فرعونیانو په شان د معجزو او قطعي دلایلو د تاثیر لاندې نه راځي نو د دوی او د هغوی کړنلارې یو بل ته ورته دي، په دې کړنلارې باندې ټولو کافرانو د خپلو زمانو د پیغمبرانو سره تگ کړی خو اهل الکتابو ته (چې بني اسرائیل دی) د فرعونیانو کړنلاره ډېره ښه معلومه ده

(۱) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۳
(۲) مفردات الراغب ص۵٦٦
(۳) مفردات الراغب ص۱٦۵

چې په څومره معجزاتو باندې يې سترګې پټې کړې، نو ضرور به د دوی خاتمه هم د هغوی د خاتمې په شان جوړه کړی شي چې په دنیا او آخرت دواړو کښې به د الله ﷻ غضب ورباندې نازل شي.

سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: دا خبره خو د هيچا په ذهن کښې نه تېرېږي چې مالونه او اولادونه به د سړي څخه د الله ﷻ د عذاب مخه ونيسي، نو د دې خبرې يادونې ته څه حاجت وه؟

مونږ وايو چې: په دې کښې دا مطلب نه دی چې هغوی ورته په تمه وه بلکې مطلب پکښې دا دی چې: ای کافرانو! تاسو په دنياوي شيانو پورې داسې کلک نښتي ياست، ته به وايي چې دا به د الله ﷻ د عذاب مخه نيسي، نو دومره حرص ورباندې مه کوئ چې د هغو د خاطره حقې لارې ته شا کړئ، په دې باندې به پښېمانه شئ.

او يا دا وايو چې: د کافرانو په اټکل مالداري د عزت او وقار نښه وه، د همدې کبله به دوی فقيران د أرَاذِل (حقيرانو) په نامه يادول، نو دوی به ويل: چې کله په دنيا کښې الله ﷻ مونږ ته وقار او عزت راکړی دی اول خو آخرت بالکل شته نه دی او که بيا وي هم مونږ د خطر سره نه مخامخ کېږو، هلته به هم د غټ عزت او وقار خاوندان شو. لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ وَلَئِن رُّجِعۡتُ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلۡحُسۡنَىٰ ﴾ [فصلت: ۵۰] يعني: او که بالفرض زه خپل رب ته ورتاو کړی شم هم نو يقيناً ما لره د هغه ﷻ په نزد باندې لويه نېکه درجه ده.

﴿ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۚ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ۝ قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ۝ ﴾

[۱۲] (ای پيغمبره!) هغو کسانو ته چې کافر شوي دي ووايه: ډېر ژر به مغلوب کړی شئ او دوزخ ته به ورغونډ کړی شئ، او (دوزخ) ډېره بده آرامګاه ده.

[۱۳] (دا هم ورته ووايه چې) په يقين سره تاسو لره په هغو دوه ډلو کښې لويه معجزه ده چې هغوی (د جنګ دپاره يې د سابق اعلان څخه) سره مخامخې شوې.

يوې ډلې د الله په لار کښې جنګ کاوه او بله ډله کافره وه (د شيطان په لار کښې يې جنګ کاوه) چې دغو (د شيطان په لار کښې جنګ کوونکو) هغوی (د الله په لار کښې جنګ کوونکي) د خپل ځان دوه چنده ليدل. د سر په سترګو ليدل. او الله ﷻ په خپل نصرت سره هغه څوک تائيدوي کوم ته يې چې اراده وشي (حتی چې د کومک دپاره يې ملائک هم وراستوي). بې شکه په دې (لوی کار) کښې د بصيرتونو د خاوندانو دپاره دعبرت لوی درس دی (بايد چې پند ترې واخلي).

شان نزول او ارتباط

۱ـ د دغو ایتونو په شان نزول کښې لاندې روایات شوي دي

الف: کله چې نبي کریم ﷺ د بدر د غزا څخه فارغ شو او مدینې منورې ته يې تشریف یوړ نو یهودان يې د بني قینقاع په بازار کښې راغونډ کړه او اسلام ته يې مجدداً دعوت کړه چې ای یهودو! مسلمانان شئ او که نه نو ستاسو عاقبت به هم داسې شي لکه څنګه چې د قریشو عاقبت شو. هغوی وویلې چې: ای محمده! ستا جنګ د کم تجربه خلکو سره پیښ شوی وه نو ځکه ورباندې غالب شوې. که زمونږ جنګ ته مخامخ شوې نو ته به پوه شې چې جنګ څه شي ته وايي. نو دغه ي ایتونه نازل شوه چې غم مه کوئ تاسو به هم ډېر ژر مغلوب شئ لکه چې هغوی مغلوب شو[۱].

ب: کله چې یهودانو د بدر واقعه ولیده نو ایمان راوړلو ته يې رغبت پیدا شو چې چرته په مونږ باندې دغسې حال رانه شي. خو چې د أحد په غزا کښې مجاهدین شهیدان شوه بېرته په خپل کفر باندې کلک شوه چې محمد ﷺ موعود پیغمبر نه دی د هزیمت سره مخامخ شو. او د کعب ابن اشرف په مشرۍ يې شپېته کسیز هیئت قریشو ته واستاوه او د هغوی سره يې اړیکې ټینګې کړې چې ښه به مو ښه وي او بده به مو بده وي.

خو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه چې هرځومره سره لاسونه یو هم کړئ د مغلوبیت سره به مخامخ شئ[۲].

ج: دا ایتونو د بدر د غزا مخکښې د قریشو په باره کښې نازل شوي دي، چې ربنا الله ﷻ هغوی مغلوب کړه او سازوسامان ورته ګټه ونه رسوله[۳].

یوه پوښتنه او د هغې جواب

که څوک وايي چې: مخکښې تېر شو چې دې سورت د اولنیو ایتونو څه برخه د هجرت په نهم کال (عام الوُفود) کښې نازله شوی وه. حال دا چې د ذکرو شوو روایتو غوښتنه دا ده چې باید څو کاله مخکښې نازل شوي وي؟

مونږ په جواب کښې یو خل بیا د صالحینو سلفو خبره لیکو چې هغوی به کله-کله د ایت په مصداقو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[۴]. او د مصداق تحقق د ایت د نازلېدلو د تاریخ سره د یووالي غوښتنه نه کوي ممکنه ده چې د یوه ایت ځینې مصداقونه د هغه د نزول څخه مخکښې واقع شوي وي خو چې د ایت سره مقایسه کړی شي ته به وایې چې په همدې واقعه کښې نازل شوی دی.

څه لرې نه ده چې په همدې ایتونو باندې نبي کریم ﷺ د نجران وفد هم اسلام ته دعوت کړی وي او هم يې د همدې ایتونو په مضمون باندې د نزول څخه مخکښې یهودان دعوت کړي وي.

(۱) التفسیر الکبیر ج۷ ص۲۰۱؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۱۹۲

(۲) روح المعاني ج۳ ص۹۴

(۳) زاد المسیر ج۱ ص۳۰۴

(۴) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

همدا تطبیق ځکه ذهن ته بنه لوېږي چې درېواړه ډلې (یهود، مشرکان، نصارا) ربښتیا مغلوبې شوې او د ایت مصداق وګرځېدلې، خو ځوک ورانديې او ځوک وروسته.

ممکن دا به مو ډېره اورېدلي وي چې په هر نص (ایت یا حدیث) کښې د شان نزول خصوص، یا د شان روایت خصوص د مفهوم په عموم باندې تاثیر نه اچوي؛ نو مونږ ویلی شو چې دغه ایتونه د قیامت د ورځې پورې د مجاهدینو ټولو غلبو ته شامل دي، لکه چې مونږ یې د افغانستان په جهاد کښې زښت ډېر مثالونه په سترګو ولیده.

۲_ څه چې په مخکښې ایت کښې په اشارې سره معلومېده په هغه باندې الله ﷻ په دې ایت کښې صراحت وکړ چې: ژر دی چې تاسو به هم د فرعونیانو په څېر مغلوب کړی شئ او د ځمکې مخ به مو د فسادونو څخه خلاص کړی شي، که باور مو نه کېږي او خپل قوت ته غره یاست نو یو ځل د بدر غزا درپه زړه کړئ چې الله ﷻ څومره کمزوري مجاهدین په څومره قوي مشرکانو باندې غالب کړه او د غلبې څومره خارق العاده وسائل یې ورته برابر کړه، همدغسې به یې بیا هم غالب کړي او ستاسو سازوسامان به د خاورو سره خاورې کړي.

د مطلب خلاصه

یعني: ای کافرانو! لکه څنګه چې فرعونیانو د مالدارۍ د کبله د الله ﷻ د عذاب څخه نجات ونه موند همدارنګه به تاسو هم د نجات خاوندان نه شئ، ډېر ژر دی چې د وسائلو سره به مغلوب کړی شئ او هغه مالونه به مو چې ستاسو د هوسایۍ او ارامۍ سامان دی د دوزخ په اور کښې د ارامګاه جوړولو سامان جوړ شي.

۱_ دغه واقعه په دقت سره د نظره تېره کړئ چې بې وسائلو او کمزوري خلک په ډېرو مالدارانو باندې څنګه غالب شوه.

واقعه دا ده چې د بدر په مقام کښې دوه ټولګي یو د بل مقابلې ته تیار شوه، خو د هر ټولګي کوائف دا وه.

الف: یو ټولګی خلک د الله ﷻ په لار کښې جهاد ته تیار شوه چې د کوره د جنګ په نیت نه وه راوتلي، جنګي وسائل ورسره ډېر ناچیزه وه چې اکثره بېځلع سلاح وه، شمار یې ایله درې سوه او دیارلسو تنو ته رسېده؛ مګر معنویات یې قوي وه، الله ﷻ یې یاداوه، لمونځونه یې کول، او د الله اکبر اوازونه یې پورته کول.

ب: بله ټولګی خلک د شیطان په لار کښې جنګ ته تیار شوه، سازوباز یې برابر وه، د کوره د جنګ په نیت راوتلي وه، زغرې، تورې، اسونه، اوښان او نور سامان یې پوره پرېمانه درلوده، د دوی شمېر تقریباً نهه نیم سوه (۹۵۰) تنه وه.

شرابونه یې څښل، روزمره یې نهه او لس اوښان حلالول، مېلې چرچې یې کولې، ډمې ښځې ورته ګډېدلې او عشقي ساز او سرود ورته غږېده، تا به ویل چې د جنګ د پیل سره سمه به غریبه

ډله د هډوکو سره وخوري، خو د الله ﷻ کومک ته وګورئ چې په څه ډول سره يې دوی مغلوب کړه، اويا نفره ترې مړي پاتې شوه او اويا نفره يې د مسلمانانو په لاس کښې بنديان ولوېدل او مالونه يې غنيمت شوه.

۲ـ د دوی شکست د دې ځخه شروع شو چې الله ﷻ مجاهدين (وړه ډله) د دوی په نظر کښې د خپلو خانو دوه چنده ورولیده کړه، چې دوی ته تقريباً يو زر او نهه سوه (۱۹۰۰) ښکاره شوه، نو رُعب ورباندې ورغی او زړونه يې واچول. که بالفرض الله ﷻ دغې کافرې ډلې ته د مجاهدينو اصلي شمېر (۳۱۳) وربښودلی وی نو جرئت به يې زيات شوی وی او مورال به يې قوي شوی وی. په جنګونو کښې بری د هغه چا په برخه کېږي چې مورال يې قوي وی.

بالمقابل، الله ﷻ د دوی شمېر مجاهدې ډلې ته د مجاهدينو د شمارې دوه چنده ورولیده کړ، حال دا چې هغوی خو د دوی تقريباً يو په درې چنده وه، يعنې مسلمانانو ته يې کافران ايله شپږ سوه او شپږ ويشت (۶۲۶) تنه ښکاره کړه او يو په دوه چنده باندې د مسلمانانو هيڅ چرت خراب نه وه او جرئت يې ورباندې نه کمېده.

دا وه د الله ﷻ د نصرت يوه بېلګه، د دې ځخه بايد د بصيرت خاوندان د عبرت درس واخلي او په وسائلو باندې غره نه شي. همدارنګه هر چا ته چې د الله ﷻ اراده وشي په خپل نصرت باندې تائيد ورکوي، لکه چې په همدې غزا کښې يې د مجاهدينو په تائيد باندې تر پنځو زرو (۵۰۰۰) تنو ملائکو پورې هم ورواستولې.

توضيحات

۱ـ ټول مسلمانان متفق دي چې په ايت شريف کښې د دوه ډلو ځخه هغه دوه ډلې مرادې دي چې يوه د صحابه وو ﷺ (مجاهدينو) ډله وه او بله د مکې کافران قريش وه. که څه هم د تاريخ په اوږدو کښې يې مصداقونه ډېر تېر شوي دي او تېرېږي، چې يو مثال يې د [البقرة: ۲۵۱] ايت لاندې د طالوت په قيصه کښې بيان شوی وه، او د افغانستان په جهاد کښې خو يې مونږ ډېر مصداقونه په خپلو سترګو وليده. د بدر په غزا کښې د مجاهدينو شمېر درې سوه او ديارلس (۳۱۳) تنه وه او د کافرانو شمېر د نهه سوو ځخه نيولې تر زرو پورې وه، تقريباً نهه نيم سوه (۹۵۰) تنه وه[1].

لږ ډېر ښکاري او ډېر لږ

۲ـ په ايت شريف کښې دغه جمله ﴿يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ﴾ د ضمائرو په اعتبار سره د عقلي احتمالاتو په لحاظ سره ځلور ډوله معناوې ورکوي[2]، مګر شرعي احتمالات يې لاندې دوه دي چې هر يو يې د علماؤ يوې، يوې ډلې خوښ کړی دی:

الف: اکثره مفسرين کرام وايي چې مسلمانانو ته د کافرانو عدد د خپلو خانو دوه برابره ښکاره شو

(۱) تفسير الطبري ج۳ ص۱۹۶؛ روح المعاني ج۳ ص۹۶

(۲) التفسير الكبير ج۷ ص۲۰۴

يعني شپږ سوه او شپږ ويشت (۶۲۶) تنه، حال دا چې هغوی د مسلمانانو تقريباً درې چنده (۹۵۰ تنه) وه. په دې همدې تفسير باندې ځينې مفسرين د اصح نوم ږدي[۱].

ب: ځينې نور علماء كرام وايي چې بلكې كافرانو ته مجاهدين د خپلو ځانونو په نسبت دوه چنده ښكارېده چې تقريباً نولس سوه (۱۹۰۰) كسه كېږي، او يا ورته د دوی تعداد د همدوی په نسبت يو په دوه ښكاره شو چې "۶۲۶" تنه ترې جوړېږي. ځينې مفسرين همدا تفسير بهتر ګڼي[۲].

سوال جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: په بل ځل كښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ ٱلْتَقَيْتُمْ فِىٓ أَعْيُنِكُمْ قَلِيلاً وَيُقَلِّلُكُمْ فِىٓ أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِىَ ٱللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولاً ﴾ [الأنفال: ۴۴] يعني: او كله چې الله ﷻ تاسو لره (ای مؤمنانو!) هغوی (كافران) په سترګو كښې لږ وښودل كله چې سره مخامخ شوئ، او تاسو يې د هغوی په سترګو كښې لږ وګرځولئ، ترڅو چې الله ﷻ هغه كار فيصله كړي چې (هغه د الله ﷻ پرېږد) كړی شوی وه.

نو د دې آيت شريف څخه خو معلومېږي چې د بدر د غزا په موقع هره يوه ډله بلې ته په سترګو كښې د اصل تعداد څخه كمه وښودله شوه، حال دا دی چې په دوهم تفسير كښې د مسلمانانو كميت د كافرانو په نظر كښې تقريباً شپږ چنده (۱۹۰۰ تنه) او يا دوه چنده (۶۲۶ تنه) ښودل شوی دی، او په اول تفسير كښې كه څه هم تقليل شته خو د يوه جانبه دی، چې د كافرانو "۹۵۰" نفره مسلمانانو ته "۶۲۶" تنه ورښودلي شوي دي. په هر تقدير، د ذكرو شوو دواړو ايتونو د معناګانو حاصل سره متناقض ښكاري؟.

مونږ وايو چې: د بدر په غزا كښې په دواړو جانبو باندې متعدد حالتونه راغلي دي چې دواړه ايتونه هر يو بېل-بېل حالت بيانوي او تناقض نه لري، د حالاتو د تعدد بيان يې دا دی:

الف: د مسلمانانو څخه مشركانو يو سړی نيولی وه، د هغه څخه يې پوښتنه كړې وه چې: تاسو په جنګ كښې څومره كسان شامل وئ؟ هغه ورته ويلي وه: مونږ درې سوه او ديارلس تنه وه. مشركانو ويلي وه چې: مونږ ته خو د خپلو ځانو دوه چنده (۱۹۰۰) نولس سوه تنه ښكارېدی"[۳].

ب: د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې: مونږ د مشركانو لښكر ته وكتل نو ايله د خپلو ځانو دوه چنده (۶۲۶ تنه) راته ښكاره شوه، بيا مو چې ورته وكتل ايله د خپلو ځانو په مثل (۳۱۳ تنه) راته ښكاره شوه، حتی چې مونږ ويل چې يو سړی به يې هم په مونږ زيات نه وي.

نوموړی صحابي ﷺ وايي چې كفري لښكر زمونږ په نظر كښې د كمبود په طرف روان وه تردې چې په يو وخت كښې راته د ځانو څخه لږ ښكاره شوه، حتی چې ما د يوه ملګري څخه پوښتنه وكړه چې دا د كافرو لښكر به اويا (۷۰) كسه وي؟ هغه وويل: نه! ايله سل نفره به وي[۴].

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۲۸۳
(۲) تفسير ابي السعود ج۲ ص۱۳؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۶۰۸
(۳) تفسير ابي السعود ج۲ ص۱۳
(۴) تفسير البغوي ج۱ ص۲۸۳

د بحث نتیجه

۴ـ نو کله چې په اول ځل یوه ډله بلې ولیده نو مجاهدینو ته مشرکان د خپل ځان دوه چنده (۶۲۶ تنه) ښکاره شوه ترڅو الله ﷻ ته د فتحې او نصرت سوالونه وکړي او د سوالونو په قبول باندې مطمئن شي ځکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ﴾ [الأنفال ۶۶] یعني: نو که ستاسو څخه (ای مؤمنانو!) سل تنه صبر کوونکي مجاهدین وي نو په دوه سوه تنو (کافرانو) باندې به غالب شي.

بیا وروسته مسلمانانو ته د کافرو لښکر وړوکی کېده او سات په سات ورته لږ- لږ ښکاره کېده ترڅو یې چې جرئت زیات او مورال یې قوي شي.

بالمقابل کافرانو ته الله ﷻ د مسلمانانو لښکر په اوله وهله کښې وړوکی ورولېده کړ ترڅو د جنګ جرئت ورسره قوي شي او بېرته ونه تښتي چې د غټې رسوائۍ څخه به نجات پیدا کړي، او د بالفعل جنګ په حالت کښې یې ورته ډېر په نظر ورووست ترڅو جرئت د لاسه ورکړي او د جنګ حوصله یې ختمه شي[۱].

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ څوک چې په ﴿ سَتُغْلَبُونَ ﴾ کښې مخاطب دي (یعني یهود، نصاری، مشرکان) همغوی په ﴿ قَدْ كَانَ لَكُمْ ءَايَةٌ ﴾ کښې هم مخاطب دي[۲]. نو پوښتنه دا ده چې په صحنه کښې خو یوازې مشرکان حاضر وه نو د یهودو او نصارا وو دپاره به څنګه ذکر شوي خارق العاده کیفیات معجزه وګرځي چې دوی نه دي لیدلي؟

جواب یې دا دی چې: په هغه وخت کښې د مشرکانو ذکره شوې خبره ـچې مونږ ته د مسلمانانو لښکر د خپلو ځانو دوه چنده (۱۹۰۰) تنه ښکارېده ـ یهودو او نصارا وو ته هم رسېدلې وه او یو کافر خو د بل کافر په خوله پوره باور کوي، نو داسې شوه لکه چې اهل الکتاب هم هلته حاضر وه.

برسېره په دې، د یهودانو علاقه د مکې د قریشو سره ډېره قوي وه او تګ راتګ یې سره درلود، لکه چې یو ځل کعب بن أشرف د شپېتو کسانو په مشرۍ هلته ورغلی وه[۳]؛ نو معلومېږي چې خبرې به یې هم سره تلې راتلې او په حالاتو به سره خبرېده، نو د مشرکانو خبره به یهودانو او بیا نصارا وو ته هم رسېدلې وي او باور به یې ورباندې شوی وي، چې د مجاهدینو ټولګی هغوی ته نولس سوه (۱۹۰۰) تنه ښکاره شوي وه.

خینې مفسرین کرام لا وايي چې د بدر غزا ته څه یهودان هم د ننداره دپاره حاضر شوي وه ترڅو وګوري چې بری د چا په نصیب کېږي[۴].

---

(۱) التفسير الكبير ج۷ ص۲۰۴، المدارك ج۱ ص۲۰۵

(۲) تفسير الطبري ج۳ ص۱۹۱

(۳) روح المعاني ج۳ ص۹۴

(۴) تفسير البغوي ج۱ ص۲۸۳

یو اعجاز

۶ـ د قرآن کریم د اعجاز څخه دا هم شمېرله کېږي چې پخواني اخبار یې تحقق مومي او ربښتیا کېږي. په ذکر شوي ایت کښې الله ﷻ کفارو ته د مغلوبیت اخبار ورکړه چې لږ موده وروسته ربښتیا مغلوب وګرځېده.

هغه دا چې کله مکه معظمه فتحه شوه نو په ټوله عربي جزیره کښې اسلام خور شو او شیطان د دې څخه نااُمیده شو چې دلته به بیا د بوت پرستۍ بازار تود شي نو دې ته یې ملا وتړله چې مؤمنان په خپلو منځو کښې په جنګ اخته کړي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ يَئِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ»[1] یعني: یقیناً شیطان د دې څخه نااُمیده دی چې لمونځ کوونکي (مؤمنان) به بې (دلته بیا) عبادت وکړي، مګر اوس شیطان د دوی په منځ کښې په جنګ اچولو باندې بوخت دی (چې په څه حیلې سره دغه کار انجام کړي).

۷ـ د همدې ایت یو مصداق مونږ په خپل وخت کښې په خپلو سترګو ولید چې الله ﷻ په خپل فضل سره د کمونستانو جرړې په افغانستان کښې څه چې په ټوله دنیا کښې وویستلې او شیطان یې د دې څخه مایوس وګرځاوه چې بیا به د هغوی شعار (د هورا ناره) اوچته شي.

نو شیطان بدې ووهلې چې مجاهدین مؤمنان (افغانان) په خپلو منځو کښې په جنګ اخته کړي. په دې کار کښې د یوه حده پورې شیطان بریالی هم شو، د استاذ رباني او انجینر حکمتیار مجاهدین یې سره په جنګ واچول چې په کابل کښې د دغو دواړو ډلو ترمنځ تود جنګ تېر شو او اوس هم یوه ډله بلې ته په ګواښ کښې ده، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾﴾

[۱۴] خلکو ته د زړه کشوونکو شیانو سره مینه کول ښائسته کړی شوي دي، چې عبارت دي د ښځو څخه، او د زامنو څخه، او د مکملو خزانو څخه، په داسې حال کښې چې د سرو زرو او سپینو زرو څخه (جوړې کړی شوې) وي، او د ښائسته اسونو څخه، اود چارپایانو څخه او د حاصلناکو ځمکو څخه.

دا ټول د حقیر ژوند زر تېرېدونکی سامان دی. او الله ﷻ چې دی د ده ﷻ په نزد د ورتللو ډېر ښائسته ځای (جنت) دی.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵

ارتباط

په دې مقام کښې د ایتونو د اړوند لاندې وجې مونږ ته په نظر راخي:

۱ـ د وړاندېنیو ایتونو څخه معلومه شوه چې د کافرانو د نه مسلمانېدلو بنیادي وجه دا وه چې دوی دنیاوي نعمتونه ډېر درلوده او ډارېدل چې که ایمان راوړو نو دا قدر او عزت به مو دلاسه اووځي. په دې ایت کښې الله ﷻ واضحه کړه چې د نعمتونو لړۍ د دنیا څخه پیل کېږي او مخ په آخرت روانه ده، دلته توقف مه کوئ دا نعمتونه ژر تېرېږي، نهائي نعمتونو ته توجه وکړئ، ایمان راوړئ، وړاندې ورتېر شئ.

۲ـ هلته الله ﷻ د خپل قدرت څو مثالونه بیان کړي وه لکه د فرعونیانو هلاکت او په بدر کښې د مسلمانانو غلبه، چې د دې څخه عبرت واخلئ، او دلته هغه موانع بیان شوي دي چې په عقل باندې پرده خوروي او د عبرت مخه یې نیسي.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: هغه څه چې خلکو ته ښائسته کړی شوي دي او د مسلمانېدلو او عبرت اخستلو مخه یې په عمده توګه نیسي لاندې شپږ شیان دي:

د ښځو مینه، د زامنو مینه، د پرېمانه خزانو (سرو زرو، سپینو زرو) مینه، د ښائسته اسونو مینه، د څارویو (مېږو، اوزو، اوښانو، غوایانو) مینه، او د کښتونو (باغونو، پټیو) مینه، چې څوک په یو ډول شیانو باندې عاشقان دي او څوک په بل ډول باندې.

۲ـ خو دا ټول سازوسامان د دې حقیر ژوند ژر تېرېدونکي شیان دي، خلکو ته په کار دي چې دائمي نعمتونه او باعزته ژوند وړباندې د لاسه ورنه کړي چې هغه د الله ﷻ سره دی او په هغې لارې باندې سرې ورته تلای شي چې همده ﷻ ورته ټاکلې ده اوبس. نورو لارو باندې څوک نه شي ورسېدلی.

توضیحات

۱ـ په دې ایت شریف کښې دا حقیقت بیانول مطلب دي چې د انسان جوړښت او خلقت په داسې توګه شوی دی چې د دنیا ډول او سنګار یې د عقل په مخ باندې پرده اچولی شي، چې بیا د فرعون مانندہ خلکو د حوادثو څخه عبرت نه اخلي او خپله خاتمه نه شي سنجولی او د جنت د نعمتونو دپاره هلې ځلې نه شي کولی.

خو دا هلته چې انسان د انسان په حیث واخستل شي، او که انسان د ایمان او اسلام د لحاظه واخستل شي نو بیا یې د تاثیر لاندې نه راځي بلکې د دنیا څخه د وسائلو په حیث استفاده کوي او اصلي هدف یې صرف د الله ﷻ رضاء او د جنت نعمتونه دي.

۲ـ نو په همدې بناء هغه ټول اعتراضات دفعه شوه چې د ذکرو شوو شپږو شیانو په باره کښې د چا ذهن ته ورتله، هغه دا چې دغه شیان زښتو ډېرو نصوصو تمجید کړي دي نو دلته څنګه تقبیح

کړی شوه. نو حاصل یې دا دی چې: په دې ایت شریف کښې هم ذکر شوې شیان نه دي تقبیح شوي بلکې محض دا خبره واضحه شوې ده چې انسان ورباندې غولېږي او د هدف په حیث ورڅخه کار اخلي، نه د وسائلو په حیث، دا ځکه چې د کافر انسان سره د اسلام مثال (دېوه) نشته.

کوم محبت؟

۳_ په ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ ﴾ کښې کامل محبت مطلب دی، ځکه چې:

الف: "شَهَوَات" د "شَهْوَة" جمعه ده او "شَهْوَة" خو مصدر دی چې د مفعول په معنی سره دی. یعنې: هغه شیان چې په هغه باندې شهوت (د نفس میلان) واقع کېږي؛ نو د مفعول ځخه په مصدر باندې تعبیر کول په مبالغه باندې دلالت کوي، ته به وایې چې د هغو خانوته راکشول دومره قوي دي چې ټول رانبکل جوړ شوي دي، لکه چې وایي: فلانی سوچه جهاد دی، او یا: فلانی سوچه غیبت دی.

ب: خلکو ته ذکر شوي شپږ شیان په دومره اندازه ډولي ګرځول شوی دی حتی چې د هغو محبت هم ورته ښائسته ښکاري پاتې خو لا پخپله شیان! یعنې: دوی په خپل محبت باندې پښېمانه نه دي بلکې د دوی ګومان دی چې مونږ ډېر ښه کار کوو. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: که یو سړی په دخانیاتو باندې معتاد وي او په اعتیاد (روږدي کېدلو) باندې یې خپه وي نو دې سړي ته دخانیات ښائسته ښکاري خو محبت (عادتي ګرځېدل) یې ورته بد ښکاري.

دوهم: اما ځینې کلک معتادان شته چې هغوی ته په دخانیاتو باندې اعتیاد (اموخته کېدل) هم ښه ښکاري او فخر ورباندې کوي. نو د ذکر شوو شیانو سره د خلکو محبت د دوهم ډول ځخه دی.

سوال جواب

۴_ دلته اوس دا سوال مطرح کېږي چې په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د یو پلوه د انسان خلقت په دې ډول پیدا کړ چې دنیا یې خوښېږي او د بله پلوه یې ورته دنیا ډولې او سنګاري وګرځوله چې د انسان زړه خان ته راکشوي.

د دې جواب مونږ ته لاندې دوه شیان ښکاري:

الف: یو حکمت خو پکښې دا دی چې انسان د ابتلاء او ازموینې لاندې راشي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى ٱلْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ [الکهف: ۷] یعنې: بې شکه مونږ هغه ټول شیان چې په ځمکه باندې دي د همدې ځمکې دپاره ډول او سنګار ګرځولی دی ترڅو دوی (انسانان) امتحان کړو چې کوم یو د دوی د عمل د حیثه نېک دی.

ب: بل حکمت پکښې دا دی چې انسان د دنیا معمار جوړ شي چې خرابې یې ابادې کړي، معدنیات یې اخراج کړي، کلي او ښارونه پکښې جوړ کړي، ډول-ډول کسبونو ته پکښې وده ورکړي؛ ځمکه، هوا او دریابونه ټول د خپل تسلط لاندې راولي او د قیامت د ورځې پورې یې نسل باقي پاتې شي؛ بالآخره، ترڅو څرګنده شي چې بې شکه چې انسان په ځمکه کښې خلیفه ټاکلی

شوی دی. که بالفرض دنیا زړه راښکودونکې نه وی پیدا شوې او یا د انسان په زړه کښې د مینې شوق او ذوق استعداد نه وی، نو دنیا به دغسې اباده نه وی لکه چې ده، او لا کار ورباندې روان دی ورځ په ورځ یې عجائب اختراع کېږي او ډول یې زیاتېږي، څومره چې د دنیا مکونات کشفېږي هغومره پکښې د انسان ازموینه هم قوي کېږي.

په ښځو باندې ازموینه

۵_ الله ﷻ د انسان غرائز (طبائع) اختناق (زندی) کړي نه دي چې بالکل یې د هغو استعمال غیر شرعي ګڼلی وي بلکې الله ﷻ د ده په غرائزو باندې په اسلامي شریعت کښې څه محدودیتونه لګولي دي چې کافران ورته غاړه نه شي ایښودلی، چې هغه دا دي:

الف: اسلام د ښځو څخه د جنسي ارتباط په هکله د نکاح یا ملکي یمیني موجودیت ضرور ګڼلی، خو کافران دغه محدودیت ته غاړې نه شي ایښودلی او د فحاشۍ څخه لاس نه شي اخستلی.

ب: اسلام وايي چې د دولسو ډولو ښځو حتی نکاح کول هم جائز نه دي، لکه خور، مور او داسې نورې؛ نو د استفادې ساحه یې لږ څه نوره هم راتنګه کړه.

ج: د څلورو ښځو څخه د اضافه ښځو نکاح هم اسلام جائزه نه بولي، نو د استفادې کړی نه پسې ورتنګه شوه.

د: د څلورو ښځو هم دا شرعي حق دی چې د نکاح کولو په حالت کښې د مېړه څخه هره یوه بېل بېل مهر واخلي چې لږ او ډېر یې د محیط په اعتبار سره تفاوت کوي.

مهر ځکه محدودیت وګڼل شو چې ځینې خلک د مالي افلاس د کبله څلور ښځې نه شي په نکاح کولی، د مهر توان نه لري.

هـ: اسلام وايي چې د منکوحې ښځې نفقه او مصارف د مېړه په غاړه دي. دا هم یو محدودیت دی چې د څو ښځو د نفقې د بار څخه نه شي وتلی او یا بالکل د نفقې بار په غاړه نه شي پورته کولی او همدې ته خوشاله وي چې مېرمنه یې په شعباتو او فابریکو کښې کار وکړي (نفقه پخپله پیدا کړي) خو دی ترې فقط جنسي استفاده وکړي، او د غمه یې خبر نه وي او نه په دې چرت خرابوي چې بل څوک ورسره فحاشي وکړي.

ښځې د ارتداد عاملې هم ګرځېدلی شي

۶_ ښځې لکه څنګه چې د کافرانو د مسلمانبدلو مخه ـ نیسي همدارنګه په ارتداد کښې هم ډېرې موثرې دي، مونږ د تبشیریانو (د عیسویت داعیانو) په یوه مجله کښې لوستي وه چې یوه ښځه په دعوت کښې دومره موثره ده چې سل (۱۰۰) سړي هغومره موثر نه دي، مجلې په دې زور اچولی وه چې باید په تبشیریت کښې د ښځو څخه زیات کار واخستلی شي.

د همدې خبرې مصداق مونږ په افغانستان کښې په سترګو ولید چې اکثره ځوانان د فحاشو ښځو په وساطت سره مرتد شوه او د اسلام څخه کمونیزم ته واوښتل.

د ښځو په همدې زيات موثريت باندې کفار ښه پوهېږي د همدې کبله د ښځو حقوق په نامه جيغې وهي، حال دا چې سړي يې د هډوکو سره وکړپول حقوق يې ورته د پښو لاندې کړه خو د نارينه دحقوق په نامه يې هيڅکله غږ پورته نه کړ.

انګرېزانو د خپل استعمار په وخت کښې په پاکستان کښې په همدې غرض کچنې خانې جوړې کړې وې او په بازارونو کښې يې د فحاشو ښځو دپاره دوکانونه او سرايونه پرانستي وه چې اسلامي خوانان بې لارې کړي او قرآن کريم پرېږدي چې د جومات ځخه راووځي او د ټولنې اصلاح په لاس کښې واخلي.

که د انګرېزانو همدا غرض نه وي نو اقتصاد به يې په فحاشۍ باندې نه وي پياوړی کړی.

څو ورځې وړاندې چې مجاهدينو د کابل په پايتخت باندې نيمه تسلط ترلاسه کړ او اعلان يې وکړ چې د دې ځخه وروسته د افغانستان د راديو تلوېزون په ځانګو کښې زنانه کار نه شي کولی الله ﷻ خبر دی چې ربښتيا به شي او که نه، دوام به وکړي او که نه۔ نو د ټولې دنيا کفري او غرب مشربه راديو ګانو ډېر په خواشينۍ سره ذکر شوی خبر نشر کړ او دا کار يې د زنانه وو په حقوقو باندې غټ تېری وګڼه.

دا ځکه چې د کفري دولتونو سره خطر پيدا شو چې افغانستان لکه چې د اسلام د تعميل په لور باندې روان دی او غواړي چې يو ځل بيا د غرب ځخه د کفر جرړې وباسي.

د مېرمنو او مېړونو فسق

۷ـ صالحه ښځه د دينداری او تقوی دپاره په اسلام کښې لويه عامله ګڼله شوې ده او په نکاح باندې يې د سړي نيمائي ايمان د خطره وځي، خو د دې سره- سره د لاندې وجو د کبله د فسق باعثه ګرځېدلی شي:

الف: چې سړی د مېرمنې د نفقې او سنګار په برابرولو کښې د حرامو مالونو ځخه استفاده وکړي.

ب: چې د هغې د غوښتنې د کبله د خپلوانو سره صلة الرحيم پرې کړي.

ج: چې د خپلې ښځې اداره ونه کړی شي بلکې هغه ورباندې آمره وي، هر چرته يې چې خوښه وي هلته ګرځي او د هر اجنبي په ځنګ کښې په خپله خوښه کښيناستلی شي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً»[۱] يعني: هيڅکله به داسې قوم کامياب نه شي چې په خپل کار باندې زنانه واکداره وګرځوي (او واک د هغې په لاس ورکړي).

په زامنو باندې ازموينه

۸ـ دوهم د هغو شيانو ځخه چې د سړي يا د مسلمانېدلو او يا يې د تقوی او دينداری مخه نيسي، د اولادونو محبت دی. لاندې صورتونه يې ولولئ:

[۱] صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۵۲

الف: که د یو سړي ټول ټبر کافر وي او دی پکښې ښه باعزته او با احترامه ژوند کوي خو پوهېږي که مسلمان شم ټول ټبر راسره دښمن ګرځي او ټول احترامات مې اوبه وړي چې بیا به نه راته څوک په درنه سترګه وګوري او نه به په سیاسي امورو کښې څه چوکۍ او رتبه راکړی شي، نو ښکاره ده چې په مسلمانېدلو کښې یې اولادونه او ټبر خنډ جوړ شو.

ب: همدارنګه د زامنو او نور ټبر د کفر په حالت کښې دا ډار شته چې د هغوی د مینې د کبله کفري دین ته ورواوړي او مرتد شي، لکه چې ځینې خلک په سپینه ږیره او سپین سر د زامنو د کبله خلقیان یا پرچمیان شوه.

ج: او دا خبره خو واضحه ده چې اولادونه د فسق سبب جوړېږي چې حرام مالونه ورته راټول کړي، یا د هغوی د فاسدو اخلاقو مخه ونه نیسي او بالآخره یا په دیني تعلیم او تربیه کښې یې قصور وکړي.

یادونه

۹_ که څه هم په ایت شریف کښې صرف د زامنو یادونه شوې ده خو مونږ ته قوي ښکاري چې دا به د مثال په توګه وي او لورګانې به هم پکښې داخلې وي. لکه چې په بل ځای کښې الله ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ﴾ [التغابن: ۱۵] یعني: بې شکه ستاسو اولادونه او ستاسو مالونه ستاسو دپاره لویه فتنه (ازموینه) ده. او دا احتمال شته چې لورګانې پکښې داخلې نه وي، نو بیا به یې د تخصیص دپاره لاندې وجې په نظر کښې نیولې شوې وي چې د زامنو فتنه نسبت لورګانو ته قوي ده:

الف: په زامنو باندې پلرونه ډېر یادېږي په نسبت سره لورګانو ته.

ب: د زامنو اولاده د پلرونو د نسب څخه شمېرله کېږي او نسب یې وربانديې ساتلی وي، نه په لورګانو.

ج: پلرونه د زامنو ښېګڼې ته ډېر په تمه وي چې د ضعف په حالت کښې به یې په ښه ورشي په نسبت سره لورګانو ته.

د: زامنو ته پلرونه زیات اُمید لري چې غټ سړی به ترې جوړ شي او د لورګانو څخه د غتو ښځو جوړېدل یې په اکثره وختونو کښې په خیال کښې نه ګرځي.

هـ: بالآخره په زامنو باندې د پلرونو خپل کورونه ودانېږي او په لورګانو باندې پردي کورونه ابادېږي، نو د زامنو مینه په سترګو پټولو کښې زیاته موثره ده څکه وربانديې صراحت وکړی شو. والله ﷻ اعلم.

قنطار څه ته وایي؟

۱۰_ "قَنَاطِير" د "قِنطَار" جمعه ده چې د "قَنْطَرَة" څخه اخستله شوې ده، "قَنطَرَة" پُل ته وایي چې سړی د سیند د یوې غاړې څخه ورباندې بلې غاړې ته تېرېږي، هغه مال چې په هغه باندې ښه پراخه ژوند تېرېږي د قنطار په نامه یادېږي[1].

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۲

ځینو علماء کرامو "قِنْطَار" ته د مال اندازه ټاکلې ده، لکه دولس زره درهمه او یا داسې نور چې د دوی ټول اقوال تقریبًا یوولسو ته رسېږي[۱]، مګر ټیک خبره دا ده چې "قِنْطَار" ډېر مال ته وایي او تحدید پکښې د اعتبار وړ نه دی[۲].

نو چې کله په دې مقام کښې جمعه استعماله شوې ده او جمعه یې په ﴿ٱلْمُقَنطَرَةِ﴾ سره تاکید شوې ده نو معنی یې داسې کوو چې: خلکو ته د نقدي پیسو څخه زښتې ډېرې پیسې محبوبې دي تردې چې شمارل یې د چا په وسه کښې نه وي او په ټول باندې یې راکړه ورکړه کوي، او یا په دې زمانه کښې دومره نوټونه ورته محبوب دی چې د شماره وتلې وي او د بوجیو په شمېره سره یې شماري.

مونږ دلته څکه ذکره شوې معنی وکړه چې د یوې خوا څخه "قِنْطَار" ډېر مال ته وایي چې جمعه شوی هم وي چې په جمعه کښې اقل افراد درې وي، او د بلې خوا د "قِنْطَار" څخه ورته صفت جوړ شوی دی (الْمُقَنْطَرَة)، او په عربي ژبه کښې قانون دی چې د یوه شي زیات تاکید مطلب شي د هغه د لفظ څخه ورته صفت اشتقاق کوي لکه چې الله ﷻ د بي بي مریمې رضی الله عنها د خولې څخه فرمایي چې: ﴿وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا﴾ [مریم: ۲۳] یعني: او زه سوچه هېره کړه شوې وی.

یادونه

۱۱ـ ربښتیا چې خزانې (نقدي پیسې) د انسان دپاره هلاکوونکې دي چې الله ﷻ چا ته د نجات توفیق ورنه کړي، نو هم د کفارو د مسلمانېدلو مخه نیسي او هم د ارتداد باعث ګرځي او هم د فسق سبب جوړېږي. د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایي: «لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللهُ عَلَى مَنْ تَابَ»[۳] یعني: که چرته د بنیادم دپاره د دوه کندو (د ډکوالي په اندازه) د مال څخه شتون ولري نو (هم قناعت به ورباندې ونه کړي او) ضرور به (په مال سره ډکه) دریمه کنده ولټوي، او د (حارص) بنیادم ګېډه به ډکه نه کړي (موړ به یې نه کړي) مګر خاورې، او الله ﷻ په هغه چا باندې په رحمت سره رجوع کوي کوم چې الله ﷻ ته راجع شي (او قناعت خپل کړي).

د "خَيل" معنی

۱۲ـ "خَيل" (آسونه) اسم جمعه ده، د خپل لفظ څخه مفرد نه لري، مفرد یې فرس دی. لکه "نِسَاء" اسم جمعه ده او مفرد یې "امْرَأَة" دی[۴].

او ځینې وایي چې: اسم جمعه نه ده بلکې جمعه ده او مفرد یې "خَائِل" استعمال شوی دی[۵].

---

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۳۰۷
(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۰۱
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۲؛ جامع الترمذي ج۲ ص۵۹
(۴) تفسیر کبیر ج۷ ص۲۱۱
(۵) روح المعاني ج۳ ص۱۰۰

اس ته به ښکه "خائل" وايي چې اکثرا سوربدونکی يې خيال او تکبر کوي، چې ورباندې سور شې نو وايي چې د ځمکې خلکو د الله په امان.

خصوصاً چې مسومه هم وي. يعني ښائسته او ډولي[1]، چې د يو پلوه د اس جوړښت ښه ډولي شوی دی او د بله پلوه نور ډول او سنګار يې هم برابر کړی شي.

يادونه

۱۳ـ که څه هم نني عصر د ډولي موټرو او هوائي الوتکو عصر دی چې ډېر خلک يې يا په کفر ککلک کړي دي او يا يې ارتداد او فسق ته کش کړي دي خو سره د دې هم ښائسته اسونو خپل ارزښت د لاسه نه دی ورکړی.

انعام څه ته وايي؟

۱۴ـ "أَنْعَام" د "نَعَم" جمعه ده، "نعم" يوازې اوښ ته ويل کېږي خو چې کله جمعه شي او "أَنْعَام" ترې جوړ شي نو بيا پکښې مېږې، اوزې، غوايان، مېښې او اوښان ټول داخلېږي[2].

يادونه

۱۵ـ که څه هم الله ﷻ د شپږو شيانو نومونه اخستي دي چې په اولو دواړو (ښځې، او زامن) کښې ټول خلک شريک دي او دټولو دپاره د فتنې سبب ګرځېدلی شي، مګر متباقي څلور شيان د څلور ډولو خلکو دپاره فتنه جوړېږي. مثلا: نقدي پيسې، د تجارانو دپاره، اسونه د پاچايانو دپاره، چارپايان د مېږو والا وو دپاره او پټي د کروندګرو دپاره.

يو تذکر

۱۶ـ ذکر شوي ټول بيانات سړي ته د نبي کريم ﷺ لاندې دوه حديثونه وريه زړه کوي چې څومره په ځای دي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ»[3] يعنې: د جنت څخه مشقتونه راتاو کړی شوی دی او د دوزخ څخه خوندور او زړه کشوونکي شيان راچاپېر کړی شوي دي.

ب: «وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا»[4] يعنې: ای الله ﷻ دنيا راته مهم مطلب مه جوړوې (چې وسيلې په نظر نه بلکې د مقصد په نظر ورته وګورو) او مه يې راته انتهاء د پوهې جوړوې (چې په همدې پورې مو علم منحصر شي او آخرت ته ورتېر نه شي).

---

(۱) حاشيه الشيخ زاده علی تفسير البيضاوي ج۱ ص۶۱۰

(۲) مفردات الراغب ص ۵۲۰

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۳

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۸

﴿ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿١٥﴾
ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلصَّٰبِرِينَ
وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْمُنفِقِينَ وَٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِٱلْأَسْحَارِ ﴿١٧﴾ ﴾

[۱۵] ورته ووایه (ای محمده!) ایا تاسو خبر کړم د دغو مذکورو شیانو څخه په یو بهتر شی باندې؟ (هغه دا دی چې:) خاص هغو کسانو لره چې تقوی کوي، په نزد د رب د دوی جنتونه دي چې لاندې ترې ویالې بهېږي، دوی به پکښې همېشه وي او (هم دوی لره هلته) پاکیزه ښځې دي، او د الله ﷻ د جانبه رضامندي ده. او الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې بینا دی.

[۱۶] (متقیان) هغه بندګان دي چې وایي: ای زمونږ ربه! یقینًا مونږ ایمان راوړی دی نو مونږ ته زمونږ ګناهونه وبښې او د اور (دوزخ) د عذابه مو وساتې.

[۱۷] (او هم) صبر کوونکي او رښتیا ویونکي او دوامداره اطاعت کوونکي او خیرات کوونکي، او د شپو په آخرو وختونو کښې ښښنه غوښتونکي (بندګان) دي.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ دا ایتونه د یو پلوه د ﴿ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴾ تفصیل کوي چې مخکښې ایت وربانديې تمام شوی دی او د بل پلوه هغه خلک چې دنیاوي شیان ورته ښائسته ښکارېږي د دنیا او آخرت مقائسې ته متوجه کوي ترڅو دوی د افراط او تفریط څخه خانونه وساتي او په سمه سیده لار باندې لاړ شي.

۲ـ یعني: ای پیغمبره! خلک خو په دنیاوي نعمتونو کښې داسې منهمک او مشغول دي ته به وایي چې نه څه نور نعمتونه شته او نه څه عمر شته همدا نعمتونه دي او همدا عمر دی او بس. که چا څه استفاده وکړه وبه یې کړي او که نه نو محروم پاتې شو.

دوی ته ووایه چې: ای خلکو! غوږ شئ! ایا تاسو کولی شئ چې د غفلت د خوبه لږ څه رابېدار شئ او یوه مهم خبر ته متوجه شئ؟ هغه دا چې د دنیاوي نعمتونو څخه په غیر ډېر نور بهتر نعمتونه شته دي؟ ایا تاسو ـ د دغو دهغو نعمتونو مقائسه کولی شئ؟

۳ـ هغه عظیم الشان خبر دا دی چې متقیانو لره په دنیا کښې نه بلکې په آخرت کښې د الله ﷻ په نزد باندې چې د دوی مربي دی، باغونه دي چې همدوی ته یې ساتلي دي.

دا باغونه د دنیاوي باغونو په شان نه دي چې د مېوو دپاره یې په کال کښې موسم معلوم دي، یا یې اوبه د کوهي څخه استفاده کېږي چې کله وي او کله نه وي، بلکې په دغو باغونو کښې به همېشه د شاتو، شودو، شرابو او سوچه اوبو ویالې بهېږي. لکه څنګه چې دغه باغونه همېشه دي،

نه یې پانې تونېږي او نه بې میوې کېږي، همدارنګه به متقیان هم پکښې همېشه وي، نه به ترې په ژوند اوځي او نه په مرګ.

او برسېره په دې، دوی لره هلته ښځې هم شته چې د هغو ټولو عیبونو څخه پاکیزه پیدا کړې شوې دي چې عادةً په دنیاوي ښځو کښې شته، نو په هغوی باندې ماهواره ناجوړې نه ورځي، د ګرنګ، جواب چای او د نورو غذائي ناپاکیو څخه خلاصې دي: بدقواره او بد څېره نه دي، ښائست او سنګار ورباندې تمام دی، بدخویي او ژبه اوږدول او بد اخلاقي نه لري.

دا وه د هغه ځای د مادي نعمتونو څو مثالونه، اما روحي او معنوي نعمتونه هم هلته پوره قوي او لوئ دي، نه څوک هلته خپه کېږي او نه بده ناکاره خبره اوري، په دې ټولو باندې د پاسه متقیانو لره هلته د الله ﷻ د پلوه رضامندي هم شته او دا خطر به هلته ختم شي چې الله ﷻ به ورباندې په غضب شي یا به ترې نعمتونه بېرته واخلي، یا به یې عمر ته خاتمه ورکړي او یا به یې د کوم عذاب سره مخامخ کړي.

۴_ هلته په اصطلاح د رِندو پاچاهي نه ده هر چا ته د هغه د تقوی په مېچ نعمتونه ورکول کېږي، الله ﷻ ته د خپلو بندګانو حالات پوره څرګند دي هیڅ شی یې ترې پټ نه دی، هلته د هر چا قدرداني کېږي او د هیچا د تقوی بې قدري نه کېږي او نه پکښې څه کمبود واقع کېږي.

۵_ د ذکرو شوو نعمتونو چې څوک مستحق دي په هغوی کښې دا شرط نه ده چې د دنیا نعمتونه دې هغوی په ځانونو باندې حرام کړي وي او دوی دې پکښې څکه نه وي کړي، بلکې الله ﷻ د هغو نعمتونو مستحقین صرف متقیان ګرځولي دي.

برابره خبره ده چې د دنیاوي نعمتونو څخه یې لږه استفاده کړې وي او که ډېره، خو امتیازي صفات یې دا دي چې دوی ورباندې استحقاق ترلاسه کړی دی چې په الله ﷻ باندې عقیده لري خپله بندګي او عاجزي ښکاره کوي، په خپلې نیمګړتیا باندې اعتراف کوي او وایي چې: ای زمونږ ربه! مونږ خو په تاباندې عقیده لرو او د خپل توان په اندازه مو تقوی کړې ده نو د ګناهونو مغفرت راته وکړې او د دوزخ د عذابه مو وساتې.

۶_ د متقیانو نور صفات دا دي چې دوی صبر کوونکي دي د افراط او تفریط په منځکښې ځانونه اداره کولی شي او نظر د دنیا ډول او سنګار ته خپل کنټرول د لاسه نه ورکوي.

دوی صادقین دي چې هم رښتیني ویناوې کوي او هم رښتینی عمل، دوی د الله ﷻ دوامداره اطاعت او بندګي کوي، دوی خپل مالونه په فسق او فجور کښې نه مصرفوي بلکې دوی في سبیل الله انفاق کوي او بالآخره په داسې حال کښې چې د شپې عبادت او تهجد کوي د شپې په اواخرو کښې د بښنې غوښتونکي هم دي.

توضیحات

۱_ ﴿ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ ﴾ کښې د بلاغت دوه وجې د ورایه په نظر راځي چې هغه دا دي:

الف: خبره په استفهام سره پیل شوه ترڅو اورېدونکی وینا ته پوره متوجه شي.

ب: ذکره شوې کلمه اصلا د "نَبَأ" څخه اشتقاقه شوې ده او "نَبَأ" عادي وینا ته نه بلکې مهمې وینا ته وایي، ترڅو ورته اوریدونکي په سرسري نظر ونه ګوري، لکه چې یو وینا کوونکی خپلو اوریدونکو ته ووایي چې: ډېره مهمه خبره ده، ټول ورته غوږ شئ او پوره ورته متوجه شئ!.

د جنتي نعمتونو ترتیب

۲ـ الله ﷻ د آخرت د نعمتونو په سر کښې باغونه ذکر کړه چې طبعًا د اوسېدلو په ځای باندې شامل دي، بیا یې د ازواجو ذکر وکړ چې په استوګنځایونو کښې ورباندې د زړه تسکین پیدا کېږي او په دریم وار باندې یې خپل رضوان (رضا) ذکره کړه چې د ټولو ارامیو بنسټ او اصلي تاداو دی؛ او دا ځکه چې الله ﷻ هم د ټولو نعمتونو څخه وروسته په دغه عظیم الشان نعمت باندې جنتیانو ته خبر ورکوي. لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: کله چې دوی جنت ته داخل شي نو الله ﷻ به ورته ووایي چې ای جنتیانو! ایا تاسو خوشاله یاست؟ دوی به وایي چې: ولې نه، چې مونږ ته دې داسې نعمتونه راکړي کړي دي چې په خپل مخلوق کښې دې بل چا ته نه دي ورکړي. نو الله ﷻ به ووایي چې: ایا د دې څخه نور ښه افضل نعمت درکړم؟ هغوی به وایي چې: ای زمونږ ربه! هغه به څه شی وي؟ نو الله ﷻ به ورته ووایي چې: «أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا»[1] یعني: خپله رضامندي به په تاسو باندې درنازله کړم چې د دې څخه وروسته به درباندې د تل دپاره نه په غضب کېږم، اللهم ارزقنا رضوانک یا حي یا قیوم.

د العباد څخه څوک مراد دي؟

۳ـ مونږ ته د دې مقام په لحاظ سره دا ښه ښکاره شوه چې دلته د "الْعِبَادِ" څخه متقیان مراد شي چې الله ﷻ ته یې د رتبو تفاوت ښه څرګند دی او په احتیاجاتو باندې یې ښه پوهېږي.
د دې خبرې هم امکان شته چې مطلق بندګان ترې مطلب شي[2]. نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: الله ﷻ ټول بندګان ګوري چې څوک د جنت لایق دی او څوک د دوزخ.

د دنیا او آخرت د نعمتونو مقائسه

۴ـ د دنیا نعمتونه چې هر څومره ډېر شي ټول مادي نعمتونه دي، روحي نعمت پکښې نشته چې سړی د ټولو خطراتو، مرضونو او آفتونو څخه په امن شي او هم نعمتونه د زوال احتمال ونه لري، مګر په آخرت کښې شته چې د الله ﷻ رضا ده. اما د نورو مادي نعمتونو په مقابله کښې الله ﷻ یوازې د جنت حورې ذکر کړې، او د حرث (کښت، زراعت) په مقابل کښې یې باغونه ذکر کړه، د پاتې څلورو نورو نعمتونو نظیر یې ذکر نه کړ، او دا ځکه چې:

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۹
(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۰۷

الف: زامن اولادونه خو په دنيا کښې ځکه د خلکو زړونه ځان ته کشوي چې سړي اولادونو ته، خصوصاً زامنو ته اړ وځي، چې مرګ وربانديې راځي او زامن يې په ځاى ودرېږي، مرضونه او نورې کمزورۍ ورباندې راځي چې اولادونو ته اړ کېږي، اما په آخرت کښې بيا نه مرګ شته او نه مرض او نه نورې کمزورۍ.

ب: نقدې پيسې خو د دې کبله د خلکو خوښېږي ترڅو څه يې چې زړه غواړي هغه ورباندې پوره کړي، او په جنت کښې خو ټول تمنيات او ارزوګانې پوره کېږي نو خريدارۍ ته پکښې حاجت نه پاتې کېږي.

برسېره په دې، په جنت کښې سره زر او سپين زر پرېمانه دي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ جَنَّتَيْنِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا»[۱] يعني: بې شکه په جنت کښې دوه جنتونه دي چې لوښي او څه چې پکښې دي ټول د سپينو زرو څخه جوړ دي، او دوه جنتونه دي چې ټول لوښې يې او څه چې پکښې دي ټول د سرو زرو څخه جوړ دي.

ج: اسونه هم د دې دپاره دي چې د يو ځاى څخه وربانديې بل ځاى ته په اسانۍ سره ورسېږي خو په جنت کښې هرڅه اسان دي د سترګې په رپ کښې هر ځاى ته رسېږي.

د: همدارنګه د چارپايانو هم هلته څه ارزښت نشته ځکه چې د شودو ويالې بهېږي او د غوښو څخه څه چې هر ډول د جنتيانو په زړونو کښې ګرځي هغه ورکولى کېږي.

برسېره په دې، که د چا زړه اس يا اوښ وغواړي هغه هم ورته الله ﷻ ورکوي، لکه چې نبي کريم ﷺ يوه اعرابي ته په جواب کښې وفرمايل ـ کله چې هغه وويلې چې يا رسول الله! په جنت کښې اسونه شته زما اسونه ډېر خوښ دي ـ چې: «إِنْ أُدْخِلْتَ الْجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ لَهُ جَنَاحَانِ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ ثُمَّ طَارَ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ»[۲] يعني: که ته جنت ته داخل شوې نو د ياقوتو اس به دروستلى شي چې دوه وزرونه به لري نو په هغه به سور کړى شې، بيا به دې هر هغه ځاى ته ورالوزوي چې ستا خوښه وي.

همدارنګه د اوښ ذکر هم په احاديثو کښې شته حتى د کښت او زراعت په باره کښې هم احاديث روايت کړى شوي دي. خو ټولو ته شامل دا ايت شريف دى چې: ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيَ أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴾ [فصلت: ۳۱] يعني: او شته دي تاسو ته په جنت کښې (اى جنتيانو) هغه څه چې ستاسو د نفسونو ورته اشتهاء راځي او شته دي تاسو لره هغه څه چې تاسو يې غواړئ.

په جنت کښې توالد نشته

۵ـ البته کوم شى چې د جنت سره مناسب نه وي هغه به د جنتيانو نه په زړه کښې تېرېږي او نه به يې غواړي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايي: «إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ فِي سَاعَةٍ وَاحِدَةٍ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۷۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۱

كَمَا يَشْتَهِي وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي»[۱] يعني: كله چې د مؤمن په جنت كښې ولد ته اشتهاء وشي ډېر ژر به ورته موجود شي خو اشتهاء يې ورته نه كېږي.

سَحَر د كوم وخت نوم دى

۶_ كه څه هم "سَحَرْ" د هغه وخت نوم دى چې د شپې د آخرنۍ برخې تياره د سبائي د رڼا سره ګډه شي[۲]، مګر په دې مقام كښې ترې ځينې مفسرين كرام د شپې دوهمه برخه تر صبح صادقه پورې اخلي[۳]، او ځينې ترې د شپې د دريېمې برخې څخه تر سهاره پورې مرادوي[۴]، اميد دى چې همدا دوهمه معنى به دلته بهتره وي چې په يو حديث كښې ورباندې صراحت راغلى دى[۵].

استغفار هم ځينو مفسرينو كرامو د سبا د لمانځه څخه عبارت اخستى دى[۶]او د ځينو نورو په نظر په خپله معنى سره دى، خو ظاهره دا ده چې دلته مطلق استغفار مراد دى برابره خبره ده چې په لمانځه كښې دننه وي او يا دباندې؛ نو په دې تقدير دواړو ته شاملېږي.

د سهار وخت او استغفار

۷_ څرنګه چې په سهار كښې د دې خبرې وخت رسېږي چې د شپې تياره ټوله شي او د ورځې رڼا په خمكه راخوره شي نو ته به وايې چې "مُسْتَغْفِرِينَ" الله ﷻ ته سوال كوي چې: اى ربه! لكه څنګه چې د ټولې دنيا څخه تياره پورته كوي همدارنګه زمونږ څخه هم د ګناهونو تيارې لرې كړې او د بښنې رڼاوې راباندې راخورې كړې. نو اميد دى چې الله ﷻ به يې سوالونه قبول كړي.

لقمان حكيم صاحب خپل زوى ته ويلي وه چې: اى زويه! د چرګ څخه مه ساده كېږه چې هغه په سهار كښې چيغې وهي (اذانونه كوي) او ته په بستر كښې ويده يې[۷].

د يعقوب ﷺ څخه چې كله خپلو زامنو غوښتنه وكړه چې: اى پلاره! مونږ خطا شوي وومونږ ته د الله ﷻ څخه د ګناه بښنه وغواړه نو يعقوب ﷺ ورته سمدستي بښنه ونه غوښته، د سهاره پورې يې ټال كړه چې د اجابت وخت دى[۸]، الله ﷻ د هغه د خولې څخه فرمايي چې: ﴿ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ ﴾ [يوسف: ۹۸] يعني: ډېر ژر دى چې د خپل رب ﷻ څخه به ورته بښنه وغواړم (چې د اجابت وخت راشي).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۷۴
(۲) مفردات الراغب ص۲۳۲
(۳) زاد المسير ج۱ ص۳۰۹
(۴) روح المعاني ج۳ ص۱۰۲
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۷
(۶) البحر المحيط ج۳ ص۵۸
(۷) تفسير البغوي ج۱ ص۲۸۵
(۸) تفسير ابن كثير ج۲ ص۴۹۰

﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَٰمُ ۗ وَمَا ٱخْتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟
ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ
سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۸] الله ﷻ (په دې خبره باندې) شاهدي اداء کوي چې د عبادت مستحق نه دی مګر همدی ﷻ دی، او ملائکې او د علم خاوندان هم (عین شهادت وايي، څکه چې) الله ﷻ په انصاف باندې ولاړ دی (ذکر شوی شهادت يې انصافي دی. نو نتيجه دا شوه چې) د عبادت مستحق نه دی مګر همدی ﷻ دی چې هم د کلکې ارادې خاوند دی او هم د حکمت څښتن دی.

[۱۹] (اوس نو دا خبره واضحه شوه چې) بې شکه د الله ﷻ په نزد بهترين دين اسلام دی (او بس، چې نه پکښې افراط شته او نه تفريط بلکې په انصاف باندې ولاړ دی).

او (په دين کښې) هغه کسانو اختلاف نه دی کړی چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی وه مګر د هغه څخه وروسته چې دوی ته (د الله ﷻ د جانبه په اسلام باندې) علم ورغی، د خپل منځي عداوت د کبله (سره مختلف شوه). او هرڅوک چې د الله ﷻ په ايتونو باندې کافر شي نو بې شکه الله ﷻ چالاک حسابي دی (د هر ژر به جزا ورکړي).

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ــ په دې مقام کښې مونږ ته د ارتباط لاندې وجې په نظر راځي:

الف: ته دې ځايه الله ﷻ په خپل وحدانيت باندې (چې په دې سورت کښې يو مهم هدف دی) تکويني دلايل تېر کړه، اوس ورباندې قولي دلايل تېروي.

ب: هلته د کفارو د دين ابطال وښودل شو چې الله ﷻ ورباندې نه راضي کېږي لا څه چې ورباندې په غضب کېږي، دلته هغه دين واضحه شوی دی چې الله ﷻ ورباندې خوښېږي.

۲ــ يعني: الله ﷻ پخپله شاهدي وايي چې: ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ د عبادت مستحق بل څوک نه دی مګر همدی ﷻ دی. خو مشرکان او د تحريف شوو کتابونو خاوندان وايي چې: دغسې نه ده، الله ﷻ شريک لري، يا ورسره بوتان په عبادت کښې شريک ګڼي او يا عيسى ﷺ او نور. ايا دوی د الله ﷻ څخه ښه پوهېږي. ته به وايې چې ــ العياذ بالله ــ دوی الله ﷻ ته خبر ورکوي چې ای الله! ستا فلانی او فلانی شريکان دي خو ته ورباندې خبر نه يې.

ملائک هم د شهادت په توګه همدا د توحيد کلمه وايي چې: ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ خو کفار د الله ﷻ په وحدانيت عقيده نه لري ــ العياذ بالله ــ ته به وايې چې د دوی پوهه د ملائکو څخه هم قوي ده.

ځوک چې واقعاً د علم خاوندان دي په هره زمانه کښې چې وه او یا په هره زمانه کښې دي ټول په دې خبره شهادت ورکوي چې ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ د عبادت مستحق د ده ﷻ ځخه په غیر بل ځوک نه دی او نه کېدلی شي، خو مشرکانو د علم د خاوندانو ځخه هم بېله لاره نیولې ده او په توحید باندې قائل نه دي.

۳ـ ولې به ملائک او اولو العلم د توحید شهادت نه وايي چې الله ﷻ همېشه په انصاف باندې ولاړ دی او هر کار او هره وینا یې د انصاف ځخه ډکه ده، او ښکاره ده چې ځوک پوهه لري انسان وي او که ملائک هغوی د انصاف د خبرې ځخه نه تېرېږي، نو د توحید د انصافي خبرې ځخه به ځنګه تېر شي چې نه پکښې افراط شته او نه تفریط او د واقعیت سره برابره ده.

۴ـ ښه نو د هغو خلکو به د دې ځخه په غیر بله څه جزا وي چې د الله ﷻ، ملائکو، او د حقیقي علماؤ ځخه مخالفه لاره نیسي چې الله ﷻ ورباندې سمدستي عذاب ورنازل کړي او هیڅ مهلت ورنه کړي. ایا د دوی دا ګومان دی چې که د دوی عقیده باطله وی نو الله ﷻ به د دوی تعذیب نه وی ټال کړی؟ خو دغسې نه ده.

اصلي خبره دا ده چې: ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ د الله ﷻ وحدانیت په حقه دی او په مخکنیو شهادتونو باندې تثبیت دی خو د تعذیب ټالول یې د حکمت غوښتنه ده که نه نو په دې کښې څه کمبود نشته چې دوی د الله ﷻ د غضب مستحق دي، او د الله ﷻ د ارادې مخه نیوونکی هم نشته چې دوی د تعذیب ځخه خلاص کړي او د خپل رسوخ ځخه کار واخلي لکه چې کفار ورته په تمه دي.

۵ـ کفار خو د الله ﷻ سره د شریکانو ودرول دینداري ګڼي چې مونږ به په همدې عقیده باندې هغه ﷻ ته ورنژدې شو او په متقیانو کښې به شمېر شو خو خبره داسې نه ده، خبره دا ده چې هغه دین چې د الله ﷻ په نزد مقبول دی او د دې دپاره یې خلکو ته استولی دی چې خلک یې د الله ﷻ د رضا حاصلولو او د خپلو ځانو د دینداره جوړولو دپاره ذریعه وګرځوي، هغه دین یوازې او یوازې د الله ﷻ احکامو ته غاړه ایښودل دي او بس.

۶ـ یو وخت وه چې اهل الکتاب هم په اولوالعلم کښې داخل وه چې خپل کتاب ته یې تحریف نه وه ورکړي او د توحید په عقیده کښې یې شرک نه وه ورګډ کړی، په هغه وخت کښې دوی هم د ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ شهادت ورکاوه، او په هغه علم باندې یې چې د الله ﷻ د پلوه ورنازل شوی وه عقیده درلوده او څه اختلاف پکښې نه وه.

خو کله چې په دوی کښې د مادي او ثروت مینه زیاته شوه او کینو او بدنیتیو پکښې ریښې وځغلولې نو اختلاف پکښې واقع شو، ځوک د توحید د عقیدې ځخه یوې خوا ته لاړه او ځوک بلې خوا ته، په هره خوا کښې چې چا ته څه دنیاوي ګټه ښکاره شوه په همغې خوا باندې یې ورهو کړه او د الله ﷻ معجزاتو او د توحید دلایلو ته یې شا کړه.

۷ـ ای پیغمبره! ځرنګه چې تا ورته د سمې عقیدې بیان تکراراً تجدید کړ او اصلي عقیده دې

وریاده کړه نو اوس ستا څخه اختلاف کوي او په خپلو پیسو او مالونو باندې دارېږي چې په اسلام کښې به یې د لاسه ورکړي.
نو که اوس هم د الله ﷻ شهادت نه قبلوي، وحدانیت ته غاړه نه ږدي او د دې خبرې بندوبس نه کوي چې الله ﷻ به ورسره د مناقشې په توګه محاسبه وکړي نو ضرور به دوی د مناقشوي حساب سره مخامخ شي، د الله ﷻ محاسبه ډېره په جلتۍ سره ور روانه ده د دنیا عمر فاني کېدونکی دی بقاء نه لري، چې کله ورسره محاسبه شروع شي هلته به هم ورباندې ډېر وخت تېر نه شي ډېر ژر به ورباندې د دوزخ فیصله وشي.

توضیحات

۱ـ که څه د دې ایتونو په شان نزول کښې متعدد روایات راغلي دي[۱] خو مونږ د هغو د ذکر څخه صرف نظر شوو او د ایتونو د ارتباطاتو په وجوهو باندې مو اکتفاء وکړه.

سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: دا دوهم ځل دی چې په دې سورت کښې د توحید موضوع مطرح کېږي، د دې وجه څه ده؟
مونږ وایو چې: په دواړو وارونو کښې د الله ﷻ وحدانیت په اثبات رسېدلی خو فرق فقط د دلایلو په نوعیت کښې دی او بس. دا ځکه چې یو حقیقت په لاندې دوه طریقو سره څرګندېدلی شي:
یوه دا چې د همغه حقیقت په اختصاصي صفاتو او علائمو باندې استدلال ونیولی شي، او بله دا چې د هغه چا شهادت تېر کړی شي چې هغه ته همغه حقیقت معلوم وي او منکرین هم ورباندې قناعت لري.
په دې مقام کښې هم همدغه دوه طریقې په کار اچولې شوې دي چې اول ځل د وحدانیت او د اولوهیت په اختصاصي صفاتو باندې استدلال نیولی شوی وه، لکه: د الله ﷻ ابدي او ازلي حیات، په ټولو موجوداتو باندې دائمي قیومیت، د کتابونو تنزیل، د علم او قدرت پراخي او بالآخره په ارحامو کښې د انسانانو تخلیق، چې دغه ټول صفات پرته د الله ﷻ څخه په چا کښې نه شي موندل کېدلی نو په الوهیت کښې به څنګه ورسره څوک شریک شي.
او په دوهم ځل کښې په نوموړي مطلب باندې د الله ﷻ، د ملائکو او د علم د خاوندانو لکه پیغمبران علیهم‌السلام او داسې نورو په شهادت باندې استدلال قائم کړې شوی دی.

د اولو العلم څخه څوک مراد دي؟

۳ـ زمونږ په فکر د اولو العلم څخه هغه څوک مطلب دي چې الله ﷻ په [آل عمران:۷] ایت کښې د ﴿ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِى ٱلۡعِلۡمِ ﴾ په نامه باندې یاد کړي دي، چې د علم پلټنه یې د زړه د کوړوالي د کبله

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۰۴؛ تفسیر القرطبي ج۴ ص۴۱

نه وي بلکې محض د اطمنان حاصلولو او د علم د زیاتولو دپاره وي او بس.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د استدلال په دوارو خلو کښې د نتیجې بیان په دې جملې سره شوی دی چې: ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ او د الله ﷻ دغه دوه صفات ورته تخصیص شوی دی؟

مونږ وایو چې: امکان لري په دې کښې به دې خبرې ته اشاره وي چې د یوه مطلب د پوره تثبیت څخه وروسته باید منکرین هلاک شي، خو چې بیا هم هغوی ته وخت ورکول کېږي نو دا به د دوه سببونو څخه خالي نه وي، یا به کمزوری وي او یا به څه حکمت وي، نو الله ﷻ مهرباني کوي چې په دې مقام کښې یې سبب کمزوري نه ده ځکه چې الله ﷻ عزیز دی، د ارادې مخه یې څوک نه شي نیولی، بلکې سبب یې حکمت دی چې د الله ﷻ هر یو کار د بې اندازې حکمتونو څخه ډک دی.

د "شهادة" معنی

۵_ کوم د سترګو لیدلی حال چې د "أشهدُ" په کلمه باندې اخبار کړی شي هغه د شهادت په نامه یادېږي، لکه چې وړاندې تشریح کړی شو.

مګر په دې مقام کښې ځینې مفسرین کرام د شهادت څخه د عموم المجاز په طریقه سره محض د حقیقت بیان او توضیح مرادوي چې الله ﷻ خپل وحدانیت په انفسي او افاقي دلایلو باندې بیان کړی دی، او ملائک ورباندې اقرار کوي او د پوخ علم خاوندان یې بې علمه خلکو ته په عقلي او نقلي دلایلو سره اظهاروي[۱].

نو په دې تقدیر به یې د معنی حاصل داسې شي چې: الله ﷻ په خپل وحدانیت باندې تکویني او فعلي شهادت ورکوي او څرګندوي یې، او ملائک او د پوخ علم خاوندان یې قولي څرګندونه کوي او شهادت ورباندې وایي.

ښکاره ده چې د شهادت څخه دا دول معنی اخستل د یو پلوه په تبادر سره د سړي ذهن ته نه ورځي او د بل پلوه د همغه استدلال تاکید جوړېږي چې د سورت په سر کښې په توحید باندې قائم کړی شوی وه؛ نو ځکه مونږ د شهادت څخه خپله اصلي معنی واخستله چې متبادره هم ده او مؤسسه هم او د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

﴿فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِ ۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسْلَمْتُمْ ۚ فَإِنْ أَسْلَمُوا۟ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ۝٢٠﴾

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۰۴

[۲۰] نو که (اوس هم) ستا سره جګړه کوي نو ورته ووایه چې ما خو خپل مخ (ځان) الله ﷻ ته تابع ګرځولی دی او هغه چا هم چې زما متابعت کوي (که تاسو یې تابع ګرځوئ او که نه).

او (ای پیغمبره!) هغو ټولو کسانو ته ووایه چې کتاب ورکړی شوی دی او ټولو امیانو (بې کتابو) ته هم چې: ایا تاسو د الله ﷻ اوامرو ته غاړې ږدئ؟ (بلکې غاړې ورته کېږدئ) نو که غاړې یې کېښودلې نو یقیناً په سمه لاره برابر شوه، او که ورته شا یې کړه نو (ستا وظیفه ختمه شوه) بې شکه په تا باندې فقط رسونه ده (نور د الله ﷻ کار دی).

او الله ﷻ بندګانو لره لیدونکی دی (هیڅ شی یې ترې پټ نه دی).

یادونه

د نبي کریم ﷺ مبارک زړه غوښتل چې ټول خلک ورباندې ایمان راوړي او هیڅوک کافر پاتې نه شي چې د دوزخ د اور خوراک شي، نو د همدې کبله کله به یې چې د کافرانو سره د مباحثې لړۍ پیل کړه ډېر به په تمه وه چې ګوندې ایمان راوړي، خو چې نتیجه به معکوسه شوه او د قناعت بښونکو دلایلو سره سره به په ایمان باندې مشرف نه شوه نو به نبي کریم ﷺ باندې به د خپګان ډېر لوی بوج پرېووت.

په دې مقام کښې هم نبي کریم ﷺ د دلایلو د اقامې څخه وروسته د ډېر خفګان سره مخامخ شو نو الله ﷻ ورته په همدې ایت شریف کښې د یو پلوه تسلي ورکړه او د بله پلوه یې د کافرانو سره ورته نهائي خبره وښودله چې حاصل یې داسې کېږي:

د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! چې اوس هم د توحید جګړه ماران قانع نه شوه او جګړې ته ادامه ورکوي او وایي چې یهودیت، نصرانیت یا بل انحرافي دین حق دی، نو وروستنۍ خبره ورته دا وکړه چې ما او زما تابعانو خو اسلام په سر او سترګو منلی دی، زمونږ خو ورباندې سرونه خلاص دي چې حق دین دی او بنسټ یې په توحید باندې ولاړ دی، که تاسو یې ومنئ او که یې ونه منئ زمونږ په مننه باندې کوم تاثیر نه اچوي، که ستاسو امید وي چې ستاسو د نه منلو په صورت کښې به مونږ پکښې تکنې شو نو دا امید د زړو څخه وباسئ؛

۲ـ او هم د ټولې دنیا کتابیانو او بې کتابه ټولو کافرانو ته اعلان کړه چې: ای جګړه مارانو! په تېرو شوو دلایلو باندې قانع یاست او که اوس هم په خپل ضد باندې کلک یاست؟ په کار خو دا دي چې د دې څخه وروسته په عناد باندې قائم پاتې نه شئ او د الله ﷻ وحدانیت ومنئ چې په انصاف باندې ولاړ دی او کوزو پاس پکښې نشته، اوس هم سر وخت دی فرصت د لاسه مه ورکوئ.

نو که دوی ورته غاړه کېښودله او مسلمانان شوه نو لار یې مونده کړه او ستاسو ورونه شوه، لانجه ختمه شوه او ستا د خفګان موجبه د منځه لاړه، او که بیا هم په خپل لجاجت او جګړه مارئ

باندې باقي پاتې شوه او د کفریاتو څخه یې لاس وانخست نو بیا هم باید په تاباندې د خفګان بوج درنه شي، ځکه چې ستا وظیفه فقط د الله ﷻ د احکامو رسونه ده او بس. او دا وظیفه دې په کامله توګه ترسره کړه نور نو د الله ﷻ کار دی چې هر څه ورسره کوي هغه به کوي چې ټول بندګان ورته ښکاره دي او هیڅوک ترې نه شي غائب کېدلی ستا هلې ځلې هم ګوري او د هغوی لجاجت هم ګوري.

توضیحات

۱ـ دا ایت خو مونږ داسې تفسیر کړ چې: خبره واضحه او څرګنده ده ای پیغمبره! نور سرخوږی د کافرانو سره مه کوه او ناندرۍ ورسره مه وهه، خپله تګلاره ورته اعلان کړه او د دوی څخه یو ځل بیا د مسلمانۍ غوښتنه وکړه که مسلمانان شوه ډېره ښه ده او که نه نو ستا وظیفه ختمه شوه.

خو ځینو مفسرینو کرامو دا ایت شریف د الله ﷻ په توحید باندې یو بل استدلال ګڼلی دی چې: ای پیغمبره! که کافران په تېرو شوو دلایلو قانع نه شوه نو د ابراهیم ﷺ استدلال ته اشاره وکړه چې هغه ﷺ د خپل وخت د کافرانو په مقابل کښې اقامه کړي وه.

په ابراهیم ﷺ باندې خو ټول کافران قانع دي چې رئیس الموحدین دی شاید چې د هغه په استدلال قانع شي[۱]. دغه استدلال مونږ ته الله ﷻ د هغه د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ﴾ [الأنعام: ۷۹] یعني: بې شکه ما خپل مخ هغه ذات ته متوجه کړی دی چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي.

مونږ ځکه دا تفسیر خوښ نه کړ چې که دا د ابراهیم ﷺ استدلال ته انتقال وي نو باید چې د تېرو شوو استدلالونو څخه واضحه وی، نو کله چې د هغو څخه واضحه نه وي نو معلومه شوه چې نوی استدلال هم نه دی.

د اهل الکتابو جواب

۲ـ کله چې نبي کریم ﷺ یهودو ته وویلې چې ایا تاسو شاهدي ورکوئ چې عُزیر ﷺ د الله ﷻ بنده او پیغمبر وه؟ نو هغوی جواب ورکړه چې معاذ الله! مونږ به ولې عُزیر ﷺ ته د بندګی نسبت کوو.

او چې نصارا وو ته یې وویلې چې ایا تاسو د عیسی ﷺ په پیغمبرۍ او بندګۍ شهادت ورکوئ؟ نو دوی وویلې چې معاذ الله! مونږ به ځنګه عیسی ﷺ ته د بندګۍ نسبت وکړو[۲].

دا وه د اهل الکتابو جوابونه چې په روایتو کښې شته، د نورو ملحدانو جوابونه هم وریاندې قیاس کړئ که څه هم په روایتو کښې نه دي نقل شوي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۴ ص۶۹
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۸۷

زمونږ په نظر

۳ـ زمونږ په نظر په عربي ژبه کښې په کامل اخلاص سره د يوه شي د منلو څخه په ﴿ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ ﴾ سره کنايةً تعبير کېږي، لکه چې په پښتو ژبه کښې ترې "په سر او سترګو مې منلی دی" تعبير کوو. نو حاجت نشته چې د "وَجْه" د تخصيص دپاره څه وجې بيانې کړو چې وجه (مخ) په بدن کښې آشرف اندام دی کله چې دا منقاد شو نو نور بدن خو به ضرور منقاد وي[۱] او داسې نور.

اُميان څوک دي؟

۴ـ "أُمِّيِّينَ" د "أُمِّيٌّ" جمعه ده، "أُمِّي" هغه چا ته وايي چې نه څه ليکلی شي او نه څه لوستلی شي[۲]، ته به وايې چې د مور په غېږ کښې لا اوس هم پروت دی چې د ماشوم په څېر يوازې د تي څخه نور څه نه پېژني.

که څه هم په دې نامه باندې په اکثره وختونو کښې د مکې مشرکان مرادېږي خو بنه دا ده چې په دې مقام کښې ترې هغه ټول کافران مراد دي چې د اهل الکتابو (يهودانو، نصاراوو) څخه په غير دي، مشرک وي که دهري وي او که بله ډله[۳]، لکه چې سياق او سباق (وړاندې او ببرته) ورباندې دلالت کوي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّـٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾ ﴾

[۲۱] بې شکه هغه کسان چې د الله ﷻ په کتابو باندې کافر کېږي او پيغمبران په ناحقه وژني (چې دوی ته هم ناحقه ښکاري) او د خلکو د جملې څخه هغه کسان هم وژني چې هغوی په انصاف سره امر کوي، نو دوی ته په دردناک عذاب سره زېری (خبر) ورکړه.

[۲۲] همدوی هغه کسان دي چې عملونه يې په دنيا او آخرت دواړو کښې ضائع (بې نتيجې) دي، او دوی لره هيڅ کومک کوونکي نشته (چې عملونه يې په دنيا يا آخرت کښې د ضائع کېدلو څخه وساتي او د عذابه يې خلاص کړي).

ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې په اثبات ورسېده چې کافران په خپلو باطلو عقائدو محکم پاتې شوه او د الله ﷻ په وحدانيت باندې قائل نه شوه، په دې ايتونو کښې دا بيانېږي چې دوی په همدې

(۱) تفسير القرطبي ج۴ ص۴۵
(۲) مفردات الراغب ص۱۹
(۳) التفسير الكبير ج۷ ص۲۲۷

اکتفاء نه کوي چې توحید نه مني بلکې دوی د پیغمبر ﷺ او د اسلام د داعیانو په وژنه باندې هم دریغ نه کوي ځکه چې د دوی اسلافو وربانديې دریغ نه دی کړی او دوی خو د هغوی حلالي اولادونه او وفادار شاګردان دي.

د مطلب خلاصه

١ـ یعني: ای پیغمبره! کله چې کافران د یو پلوه په خپل کفر کلک ولاړ دي او مقنعو دلایلو ته غاړې نه ږدي او د بله پلوه یې عناد دومره اضافه دی چې پیغمبران وژني او وژل یې دوی ته هم ناحقه ښکاري، دا خو لا څه کوي چې په خلکو کښې څوک وموندل شي چې دوی ته په انصاف باندې امر وکړي چې په دلایلو کښې په انصاف سره فکر وکړئ او سرسري وربانديې مه تېرېږئ، نو که څه هم نوموړي انصاف غوښتونکی د سره مسلمان نه وي هم هغه وژني، پاتې خو لا هغه داعیان چې هغوی مسلمانان وي او د پیغمبر ﷺ په نیابت دوی اسلام ته وروبولي نو هغوی خو بالکل ژوندي نه پرېږدي که وسه یې وشي.

٢ـ نو ای پیغمبره! دوی ته په دردناک عذاب زېری ورکړه، همدوی خپل اعمال په دنیا کښې هم خراب کړه او په آخرت کښې هم، چې نه به هلته د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصوونکی ومومي او نه دلته، د خپلو کړو وړو څخه چې دوی کوم امید لري هغه به نه هلته په لاس ورشي او نه دلته، بیا به نو داسې څوک پیدا نه کړي چې دوی وربانديې وژاړي او د امید په پوره کولو کښې ورسره لاس وکړي.

توضیحات

١ـ مونږ د [البقرة: ٦١] ایت د وروستنۍ برخې په تفسیر کښې د پیغمبرانو علیهم السلام په وژنه باندې څه ناڅه لیکلي دي چې یهودانو څومره او کوم کوم پیغمبران شهیدان کړي دي، خو دلته دومره زیاته وو چې په دې مقام کښې ټولو کافرانو ته د پیغمبرانو علیهم السلام د وژلو نسبت شوی دی نو معلومېږي چې دا جنایت یوازې یهودو نه بلکې نورو کافرانو هم کړی دی خو نهایت مونږ پکښې معلومات نه لرو لکه چې د یهودو په باره کښې یې لرو.

پاتې شوه د داعیانو وژنه، دا جنایت خو ټولو کړی دی او لا کوي یې، د افغانستان په څوارلس کلن جهاد کښې چې تقریباً پنځلس لکه (١٥٠٠٠٠٠) مجاهدین روسانو او کمونستانو شهیدان کړه، دوی ټول د اسلام داعیان وه او د کافرانو د لاسه په قتل ورسول شوه، دا وه د دوی [illegible] د جنایت یوه وړه بېلګه.

سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې: په یهودانو کښې خو هم د نبي کریم ﷺ معاصرو یهودانو پیغمبران نه وه وژلي او نه په هغه وخت کښې د یو پیغمبر ﷺ (آخر الزمان) څخه په غیر بل پیغمبر ژوندی وه، نو پوښتنه یوه دا ده چې معاصرو یهودانو ته څنګه په "يَقْتُلُونَ" سره د وژلو نسبت وشو. او بله داده چې د

﴿ ٱلنَّبِيِّـنَ ﴾ (جمعي) په عوض "النَّبِيِّ" (مفرد) ولې نازل نه شو؟

مونږ وایو چې: د دې سوال دپاره هم مونږ د [البقرة:۸۷] ایت لاندې جوابونه ویلي دي چې دوی د خپلو اسلافو په کارونو باندې راضي وه او دوی د هغوی شاګردان وه او داسې نور، خو دلته ورسره دغه یو جواب بل هم اضافه کوو چې:

دلتـه د ﴿ وَيَقۡتُلُونَ ﴾ معنی دا ده چې کافران د پیغمبرانو او داعیـانو وژلو ته مستعد او چمتو دي، بالفرض که دوي ته یو پیغمبر ﷺ (آخر الزمان) نه بلکې زرونه پیغمبران او داعیان لاس ته ورشي هم د وژلو صرفه به وربانديې ونه کړي خو الحمد لله چې په همدغه یو پیغمبر ﷺ او د ده په ملګرو صحابه وو ﵃ باندې یې هم زور نه رسېږي.

د دې مثال داسې دی لکه چې سړی وایي "السُّمُّ يَقۡتُلُ" زهریات وژل کوي یعنې د وژلو استعداد پکښې دی، دا بېله خبره ده چې سمدستي په وژلو کښې اخته دي او که نه. او یا وایي چې "النَّارُ مُحۡرِقٌ" اور سوزوونکی دی یعنې سوولو ته چمتو دی، اما دا بېله خبره ده چې فعلا په سوزولو لګیا دی او که نه.

هېر مو نه شي!

۳ـ هېر مو نه شي چې د اعمالو د "حَبۡط" (ضائع کېدلو) تحقیق د [البقرة:۲۱۷] ایت لاندې تېر شوی دی، خو دلته ورپسې همدومره زیاتوو چې د اعمالو ضیاع خو په آخرت کښې معلومه ده چې هیڅ فائده به ورته ونه کړي اما په دنیا کښې ضائع کېدل د دې څخه عبارت دي چې الله ﷻ به وربانديې مجاهدین برلاسي کړي چې مالونه به یې غنیمت شي، دوی به غلامان او ښځې به یې وینځې جوړ کړي بالآخره د مجاهدینو په لاس به هلاک شي، دوی (کافرانو) چې هرڅومره چلونه او چالونه جوړ کړي چې د اسلام مخه وربانديې ونیسي هغه به ټول خنثی شي، لکه چې همداسې وشوه.

﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۖ وَغَرَّهُمۡ فِي دِينِهِم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيۡفَ إِذَا جَمَعۡنَٰهُمۡ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِ وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٥﴾ ﴾

[۲۳] ایا ته (ای پیغمبره!) هغو خلکو ته نه ګورې چې هغوی ته د کتاب څخه څه برخه ورکړ شوې ده (کله چې) دوی کتاب الله ته وربلل کېږي چې د دوی په منځکښې حکم (فیصله) وکړي نو بیا د دوی څخه یوه ډله (ترې مخ) اړوي او دوی اعراض کوونکي خلک دي (دا یې مستمري عادت دی).

[۲۴] دا په دې سبب چې بې شکه دوی وايي هیڅکله به مونږ ته اور (دوزخ) ونه رسېږي مګر څو شمارلي شوې ورځې. او دوی په دين کښې هغو (چټياتو) تېر ويستلي دي چې د خپله خانه يې افتراء کوي.

[۲۵] نو (د دوی به) څه حال وي کله چې مونږ دوی لره په داسې ورځې کښې راټول کړو چې په هغې کښې شک نشته، او هر چا ته هغه څه پوره ورکړی شي چې دوی کړی وي او په دوی باندې به هيڅ تېری ونه کړی شي.

شان نزول او ارتباطونه

۱ـ د دې ايتونو په شان نزول کښې ګڼ شمېر روايات راغلي دي[۱]، لاندې څو روايتونه يې د بېلګې په توګه ولولئ:

الف: يوه ورځې نبي کريم ﷺ د يهودانو تعليم ګاه ته ورغی او دوی يې اسلام ته وروبلل. د دوی دوه کسان ورپورته شوه او وې ويلې چې ته په کوم دين يې چې مونږ ستا دين ته دراواوړو. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «عَلَى دِينِ إِبْرَاهِيمَ» يعنې: زه د ابراهيم عليه السلام په ملت يم. نو دوی وويلې چې هغه خو يهودي وه. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې تاسو تورات راوړئ ترڅو معلوم شي چې ابراهيم عليه السلام رښتيا يهودي وه او که نه. مګر دوی د تورات محاکمې ته حاضر نه شوه.

ب: په يهودانو کښې يوې ښځې او يوه سړي زنا کړې وه، دوی غوښتل چې څه خفيفه جزا ورته مونده کړي نو نبي کريم ﷺ ته يې محاکمه وروړه خو نبي کريم ﷺ پرې د رجم حکم وکړ. دوی وويلې چې ای محمده! په مونږ خو رجم نشته. نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې تورات راوړئ چې خبره سپينه کړو. د دوی يوه ديني عالم (ابن صوريا) تورات ولوست، خو د رجم ايت يې په لاس پټ کړ، عبد الله بن سلام رضي الله عنه (چې د دوی څخه وه او په اسلام باندې مشرف شوي وه) وويلې چې يا رسول الله! د رجم په ايت باندې يې لاس ايښی دی، چې لاس يې ترې پورته کړ رښتيا هم د رجم ايت پکښې وه.

څه لرې نه ده چې دغسې نورې حادثې هم پېښې شوې دې چې دوی د تورات حاکميت ته نه وي حاضر شوي او دغسې ټولې حادثې د ذکر شوو ايتونو د مصداقاتو څخه شمېرل کېږي او سلفو صالحينو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۲].

۲ـ په دې مقام کښې د اړوند دپاره لاندې وجې د نظر لاندې ونيسئ:

الف: د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې کفار د قرآن کريم سره عداوت لري چې داعيان يې وژني، او د دې ايتونو مضمون دا دی چې دوی د خپل کتاب محاکمې ته هم حاضر نه دي چې کله د دوی د خواهشاتو څخه مخالفه وي.

ب: لږ څه مخکښې واضحه شوې وه چې د اهل الکتابو اختلاف د ناپوهۍ د کبله نه، بلکې د

(۱) زاد المسير ج۱ ص۳۱۲، تفسير کبير ج۷ ص۲۳۲، روح المعاني ج۳ ص۱۱۱

(۲) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷، تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

علم او پوهې څخه وروسته منځ ته راغلې دي، په دې ایتونو کښې د همدې مطلب دپاره یو مثال وښودل شو چې سره د علمه د خپل کتاب محاکمې ته حاضر نه شوه.

د مطلب خلاصه

یعنې: اې پیغمبره! د کافرو څخه څه بعیده نه ده چې د اسلام داعیان ووژني؛ ځکه چې دوی د خپلو خواهشاتو تابع دي، کتابیان او بې کتابه په ذکر شوي خاصیت کښې یو برابر دي، ته هغو کسانو ته نه ګورې چې د الله ﷻ کتابونو څخه څه برخه ورکړه شوې ده چې تورات یا انجیل نومېږي او د همدې کتاب لږه برخه یې په لاس کښې پاتې ده چې نه ده تحریفه شوې، کله چې دوی د خپل کتاب (چې دوی یې دعوه کوي) د غیر محرفې برخې حکم ته وروبلل شي هم حکم یې نه مني. او همدغه ډله د خپل کتاب حکم د پښو لاندې کوي او وربانډې ورخېژي. او دا ځکه چې دوی د الله ﷻ کتاب په دائمي توګه نه مني او دا کار یې بالکل عادت جوړ شوی دی.

د دې عادت یې بله وجه نه ده، وجه یې فقط همدا ده چې دوی په دې عقیده دي چې مونږ به اور مسه نه کړي (که هرڅومره جنایات وکړو) مګر څو شمارلې ورځې؛ چې ډېرې ژر به تېرې شي او بیا به جنت ته ځو چې زمونږ دپاره جوړ شوی دی.

نو دوی د دین په باره کښې همدغو دروغو تېر ویستل او د کمرونو څخه یې وغورځول، حقیقت داسې نه دی لکه چې دوی یې اټکل کوي؛ هلته به وګورې چې د دوی به څه حال وي کله چې دوی به یقیني ورځ کښې راغونډ کړی شي او پخپله ووینې چې امیدونه یې ټول دروغ شوه؟

نو په دې ورځ کښې به د دوی ډېر بد حال وي او هر نفس ته به پوره جزا ورکړی شي هیڅوک به ترې خلاص نه شي چې جزا یې بل چا ته ورکړی شي، او نه به په چا ظلم وکړی شي چې د بل جزا وربانډې وربار شي.

توضیحات

١ـ د تورات یا انجیل څخه په ﴿نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ﴾ سره تعبیر وکړی شو. دا ځکه چې:

الف: ټول اسماني کتابونه لکه یو کتاب داسې دي، نو د ټولو د جملې څخه تورات یا انجیل یوه برخه ده.

ب: اهل الکتابو خپل کتابونه تحریف کړي دي چې د اصل کتابو ورسره لږ څه برخه پاتې ده، ته به وایې چې همدا لږه برخه ورکړه شوې ده او بس.

دلته د کتاب الله څخه کوم کتاب مطلب دی؟

٢ـ ځینې مفسرین کرام وایي چې دلته ترې قرآن کریم مطلب دی، یعنې کله چې دوی د قرآن کریم منلو ته ورو‌بلل شي نو اعراض کوي او نه یې مني[1].

(١) تفسیر البغوي ج١ ص٢٨٨؛ تفسیر القاسمي ج٤ ص٧٤

دا تفسیر که څه هم واقعیت لري (چې اهل الکتاب قرآن نه مني) مګر په دې ځای کښې ځکه مناسب نه ښکاري چې:

الف: د ایتونو سیاق دلالت کوي چې د کتاب الله څخه دلته د دوی خپل کتاب مطلب دی ترڅو د دوی په زیاتې سپین سترګی باندې دلیل شي، د قرآن نه منل خو بالکل ځرګند دي.

ب: دا ډول معنی د شان نزول سره مطابقه نه ده.

هو! که مطلق کتاب الله واخستلی شي چې قرآن، تورات، او انجیل ټولو ته شامل شي نو بیا به بد نه وي.

یادونه

۳ـ که څه هم د "ثُمَّ" کلمه د تراخي زماني دپاره استعمالېږي خو په دې مقام کښې تري تراخي رتبوي مطلبه ده[۱]، یعنې د هغې لوړې رتبې سره‌سره (چې دوی ته د کتاب الله برخه ورکړه شوې ده) دوی د خپل کتاب څخه اعراض کوي. که بالفرض دا برخه بل چا ته ورکړې شوې وی (لکه چې قرآن کریم د دوی څخه په غیر په بل چا نازل شوی دی) نو هلته خو به يې هیڅکله نه وی منلی.

د "تولي" او "اعراض" تر منځ فرق

۴ـ ځینې مفسرین کرام وایي چې تولي او اعراض دواړه یو شی دی، یو د بل تاکید او تفنن في العبارة دی[۲]، مګر ځینې نور يې لاندې فرقونه کوي:

الف: "تولی" ظاهري مخ اړولو ته وایي او "إعْرَاض" د زړه توجه تاوولو ته وایي[۳]. نو حاصل یې داسې کېږي چې کافران د محاکمې په وخت کښې لکه څنګه چې حقیقةً د کتاب الله څخه مخ اړوي همدارنګه په زړه کښې هم ورته شا کوي. زمونږ همدا فرق خوښ دی.

ب: د دواړو فرق په متعلق سره دی. یعنې دوی د بلونکي څخه "تولی" کوي او د شرعي حکم څخه "اعراض" کوي. او یا دا چې تولی کوونکي د دوی علماء وه او اعراض کوونکي یې عوام وه[۴].

دوی د څو ورځو په عذاب قائل وه؟

۵ـ په دې باره کښې چې مونږ څومره معلومات درلوده هغه مو د [البقرة: ۸۰] ایت لاندې لیکلي دي، دلته فقط دا یوه خبره لیکو چې هلته ﴿ مَّعْدُودَةً ﴾ نازل شوی دی او دلته ﴿ مَّعْدُودَاتٍ ﴾.

دغه دواړه کلمې په اصل مفهوم کښې څه فرق نه لري محض لفظي فرق لري چې هلته "أيَّام" د "جَمَاعَة" په تاویل سره مفرده موټشه ګڼله شوې ده نو صفت يې هم د موئث مفرد ذکر شو، او دلته

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۱۴
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۳۱۴
(۳) تفسیر المراغي ج۳ ص۱۲۶
(۴) روح المعاني ج۳ ص۱۱۱

پکښې تاویل نه دی شوی، دواړه (صفت او موصوف) جمعې دي. په عربي ژبه کښې دواړه دوله تلفظ فصيح ګڼل کېږي.

هغه دروغ چې دوی ورباندې تېر وتلي وه

۶_ هغه خبرې چې دوی د خانو د اطمنان دپاره او په ګناه باندې د جرئت دپاره ترې کار اخستله دغه دي:

الف: مجاهد علیه الرحمة وايي چې هغه د دوی همدغه دروغ خبره ده چې: ﴿ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ﴾(۱)، يعنې مونږ به هیڅکله اور مسه نه کړي مګر څو شمارلې ورځې.

ب: قتاده علیه الرحمة وايي چې هغه د دوی دا دروغ دي چې: ﴿ نَحْنُ أَبْنَـٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّـٰٓؤُهُۥ ﴾(۲) [المائدة:۱۸]. يعنې: مونږ د الله ﷻ زامن یاستو او د ده ﷻ دوستان يو (نو مونږ ته دوزخ نشته).

ج: دوی به ويل چې زمونږ پلرونه پيغمبران دي هغوی به مونږ ته ضرور شفاعت کوي. او حتی د يعقوب علیه السلام سره الله ﷻ وعده کړې ده چې اولاده به يې نه معذبوي مګر "تَحِلَّةَ الْقَسَمِ" محض د قسم د خلاصولو دپاره (چې ورداخل به شي او بېرته به ترې خارج شي)(۳).

زمونږ په فکر ښه داده چې ذکر شوي ټول دروغ او لا څه نور هم به د دوی د جرئت اسباب ګرځېدلي وي چې هر مفسر يې يو يا دوه مثالونه ليکلي دي، او حصر يې مقصد نه دی.

سوال جواب

که څوک وايي چې: ايا دا عقل مني چې سړی د خپل ځان دپاره دروغ جوړ کړي او همغه دروغ يې د جرئت سبب شي، که نور خلک ورباندې وغولوي امکان لري، خو د ځان غولول او خپل وجدان ته ورباندې قناعت ورکول غير معقوله خبره ده؟

مونږ وايو چې: په دې کښې خو هیڅ اشکال نشته چې که دروغونه پخوانيو جوړ کړي وي او وروستني يې ورباندې غولېدلي وي، خو اشکال په دې کښې دی چې په خپله دروغژن ورباندې څنګه وغولېده. نو د دې جواب دا دی چې:

الف: دوی ذکر شوې خبرې د دې دپاره نه کولې چې خپل ځان ته پرې قناعت ورکړي او خپل وجدان قانع کړي بلکې په خپلو جنايتونو باندې يې د پردې اچولو دپاره ذکر شوې خبرې اختراع کولې. دا د ټولو مفسدانو عادت دی، لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکايت کوي: ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴾ [البقرة: ۱۱] يعنې: او کله چې دوی ته وويل شي چې په ځمکه کښې فساد مه کوئ نو دوی وايي چې بې شکه مونږ اصلاح کوونکي ياستو. لکه چې

(۱) البحر المحيط ج۲ ص۴۱۷
(۲) الدر المنثور ج۲ ص۱۷۱
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۱۱

عین دروغینه خبره روسانو هم کوله کله یې چې په افغانستان باندې تېری وکړ، چې مونږ د اصلاح دپاره راغلي یاستو.

ب: په ځینو وختونو کښې جنایتکار د خپل خان دپاره هم دغسې دروغینې بهانې جوړوي لکه چې چرسیان وایي مونږ په چرسو باندې غم غلطوو، د خولې نسواریان وایي چې ذهن ورباندې تېزوو، او د پوزې نسواریان وایي چې دا د نزلې دپاره ګټور دي او داسې نور.

نو امکان لري چې د اهل الکتابو خبرې به هم د همدې قبیلې څخه وي، دوی خو په خوسې باندې په یوه رمباړه د معبود نوم کېښود، دوی خو لا دا هم ویلي وه چې فرعون اوس په دریاب کښې پاچا دی او داسې نور.

عاصي مؤمن ابدي دوزخي نه دی

۷_ د ګناهګار مؤمن په باره کښې زمونږ د أهل السنة والجماعة عقیده دا ده چې که دوزخ ته لاړ شي نو هلته به د تل دپاره نه وي، یو وخت به وي چې په دوزخ کښې به سوچه کافران پاتې شي او د ایمان خاوندان به ترې ټول راووځي.

هو! که الله ﷻ د کوم یو شفاعت کوونکي شفاعت قبول کړي او یا ورته په خپل لطف سره د ګناه څخه ورتېر شي او دوزخ ته لاړ نه شي نو هغه بېله خبره ده.

په همدې مضمون باندې زښت ډېر احادیث د نبي کریم ﷺ څخه روایت شوي دي او د ایتونو څخه هم ذکر شوی مضمون معلومېږي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيَخْرُجَنَّ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَتِي يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ»[۱]
یعني: ضرور به زما په شفاعت سره زما د امت څخه یو قوم د اور څخه راوویستلی شي چې د دوزخیانو په نامه به یادېږي.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي چې: «إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ اهل النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا وَآخِرَ اهل الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا»[۲] یعني: زه هغه څوک پېژنم چې د ټولو څخه وروسته د دوزخ څخه خارج شي او د ټولو څخه وروسته جنت ته داخل شي، هغه سړی دی چې د دوزخ څخه به په داسې حال کښې خارج شي چې په کناټو به ښوییږي.

ج: نبي کریم ﷺ په یوه بل اوږد حدیث کښې فرمایي چې: «يُعَذَّبُ نَاسٌ مِنْ اهل التَّوْحِيدِ فِي النَّارِ حَتَّى يَكُونُوا فِيهَا حُمَمًا ثُمَّ تُدْرِكُهُمُ الرَّحْمَةُ»[۳] یعني: په دوزخ کښې به د توحید د خاوندانو څخه ځینې خلک تر هغه معذب کړی شي چې تور سکاره ترې جوړ شي بیا به ورته د الله ﷻ رحمت وررسېږي او د دوزخ څخه به راووځي (بیا به جنت داخل شي).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۷
(۲) سنن ابن ماجه ج۲ ص۳۲۳
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۷

د: د همدې ایت شریف: ﴿ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ څخه هم معلومېږي چې مؤمن ګناهګاران به د دوزخ څخه وځي او جنت ته به داخلېږي. او دا ځکه چې مؤمن که نور هیڅ نېک کار نه وي کړی د ایمان نېک کار خو یې کړی دی، او په همدې ایت کښې الله ﷻ کلکه وعده کړې ده چې پوره جزا به هر چا ته ورکړی شي.

بالفرض که مونږ ووایو چې د جنت څخه به دوزخ ته لاړ شي نو دا د اجماع څخه مخالفه ده، او که ووایو چې په دوزخ کښې به د همېشه دپاره پاتې شي دا د الله ﷻ د وعدې څخه مخالفه ده.

نو عملي صورت یې داسې دی چې یو ځل دوزخ ته داخل شي هلته دُ ګناهونو جزا وګوري او بیا جنت ته داخل شي او د ایمان د جزا څخه په دائمي توګه مستفید شي.

سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: په کومه خبره باندې چې د اهل الکتابو عقید غندل شوې ده، عین عقیده مسلمانان هم لري چې عاصي مؤمن به یا د الله ﷻ په فضل سره او یا د شفاعت کوونکو په شفاعت سره جنت ته داخل شي او د دوزخ څخه به نجات ومومي او که بالفرض ذکر شوی چانس ورته په نصیب نه شو نو څو ورځې به په دوزخ کښې تېرې کړې او بیا به جنت ته لاړ شي، ایا دا عقیده د ﴿ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ﴾ معنی نه ورکوي؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی بحث مونږ د همدغسې سوالونو د جوابولو دپاره اوږد کړ، ترڅو د مسلمانانو اواهل الکتابو د عقائدو فرق ښه واضحه شي. فرقونه یې دا دي:

الف: مونږ وایو چې په جنت او دوزخ کښې یوازې عقیده او عمل موثر دی او بس. هغوی وایي دغسې نه ده؛ دواړه په نسب پورې مربوط دي او مونږ ته خپل نیکه د الله ﷻ څخه د مغفرت وعده اخستې ده.

ب: مونږ وایو چې د جنتي جوړېدو دپاره په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان ضرور دی. هغوی ورته د خپل-خپل پیغمبر څخه په غیر په بل پیغمبر ایمان راوړل ضرور نه ګڼي.

ج: مونږ وایو چې د شفاعت قبول د الله ﷻ په اختیار کښې دی. هغوی یې د خپلو ځانو دپاره حتمي ګڼي.

د: مونږ وایو چې د هر پیغمبر اُمتي چې مؤمن عاصي وي یو وخت به د دوزخ څخه بېرون شي او جنت ته به لاړ شي. هغوی وایي چې دا یوازې زمونږ خاصه ده نور خلک به پکښې همېشه وي.

هـ: مونږ وایو چې د کافر دپاره شفاعت نشته. هغوی وایي زمونږ دپاره پکښې د ایمان قید نشته.

و: بالآخره. مونږ د خپله معتقداتو دپاره په ایتونو او احادیثو استدلال نیسو، هغوی کوم مستند دلیل نه لري محض اُمیدونه او اټکلونه دي چې درپورې نښتي دي.

لنډه دا چې که په مونږ کښې څوک د همدوی په عقائدو معتقد شي او د همدوی په خط السیر روان شي هم. هغه مونږ مسلمان نه شو بللی بلکې هغه د همدوی په شان په دروغو کښې اخته بولو.

﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِى ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن
تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾ تُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ
وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ۖ وَتُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ ۖ وَتَرْزُقُ
مَن تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾﴾

[۲۶] ووایه چې: ای الله! ای د واکدارۍ مالکه! ته هغه چا ته پاچاهي (واکداري) ورکوې چې ورته دې اراده وشي. او د هغه چا څخه پاچاهي (او واکداري) اخلې چې ورته دې اراده وشي، او هغه چا ته عزت ورکوې چې اراده دې ورته وشي او هغه څوک ذلیل ګرځوې چې اراده دې ورته وشي، ټولې ښېګڼې ستا په لاس دي. بې شکه چې ته په هر شي باندې قدرت درلودونکی یې.

[۲۷] (ای الله!) ته شپه په ورځ کښې ننباسې او ورځ په شپه کښې ننباسې، او ته ژوندی د مړي څخه راوباسې او مړی د ژوندي څخه راوباسې، او ته هغه چا ته چې ورته دې خوښه شي بې حسابه (پراخه) روزي ورکوې.

شان نزول او ارتباطونه

۱ـ د دې ایتونو په شان نزول کښې هم مفسرینو کرامو متعدد روایات لیکلي دي، چې د ټولو روایتونوتوافق په دې خبره باندې راځي چې سلفو صالحینو د ایتونو په مصداقاتو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[۱]. لاندې دوه مثالونه یې ولولئ:

الف: کله چې نبي کریم ﷺ مکه معظمه فتحه کړه نو صحابه وو کرامو ؓ ته یې د فارس او روم د فتحو وعده هم ورکړه، منافقانو دا وعده ډېره لرې وګڼله چې هغه ممالک دومره خوار نه دي چې تاسو یې د قبضې لاندې راولئ، افسوس چې محمد ﷺ د مکې او مدینې منورې په نیولو باندې بسوالی نه کوي او د فارس او روم خبرې هم کوي. نو دغه ایتونه نازل شوه[۲].

ب: کله چې نبي کریم ﷺ د خندق د غزا دپاره تیارۍ نیوه او د خندق په کندلو لګیا وه، په خندق کښې ډېره غټه بکرینه تیږه ښکاره شوه چې د هغه وخت وسائلو ورباندې وسه نه کېده. نبي کریم ﷺ د سلمان الفارسي په معول (کولنګ) باندې درې ګوزاره ورکړه، په هر یو ګوزار باندې د تیږې څخه ټوټې بېلېدلې او پرق رڼا یې کوله او صحابه وو کرامو ؓ د تکبیر په چیغو بدرګه کوله. په اوله رڼا کښې نبي کریم ﷺ ته د حمیر او د کسرٰی ښارونه ښکاره شوه، په دوهمه رڼا کښې یې د روم مانۍ ولېدې او په دریمه رڼا کښې یې د صنعاء په اباديو باندې سترګې ولګېدلې. او بیا

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۷

یې وفرمایل: ما ته جبرائیل علیه السلام خبر راکړ چې ذکر شوي ښارونه او ابادۍ به زما د امت د ولکې لاندې راشي.

کله چې منافقانو دا زېرې واورېده په نبي کریم ﷺ او مجاهدینو باندې یې مسخرې او خندنې پیل کړې چې د ډاره په خپل وطن کښې د خندق په کندلو چاپېر دي او د شام، روم، فارس او یمن د نیولو خوبونه ګوري. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱].

۲ـ د ایتونو د اړوند دپاره باید لاندې وجې په نظر کښې ونیولې شي:

الف: په وړاندې ایتونو کښې واضحه شوې وه چې اهل کتاب خپلو ځانو ته په عزت قائل دی او نور خلک ذلیل ګڼي، په دې ایتونو کښې په اثبات رسول کېږي چې عزت ورکوونکی او ذلت ورکوونکی الله ﷻ دی، په خپله خوله څوک دغه رتبه نه شي موندلی.

ب: هلته د کفارو د هلو ځلو ذکر دی چې د اسلام مخه ونیسي او خپل قوت وساتي او دلته واضحه کېږي چې قوت ورکول او کمزوري کول د الله څخه په غیر د بل چا د لاسه نه کېږي.

ج: هلته د کافرانو لجاجت بیان شوی وه او دلته نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکول کېږي چې ورته خپه کېږه هم، کېدلی شي چې الله ﷻ د دغو مړو د نسل څخه ژوندي (مؤمنان) اولادونه وزېږوي او د کفر شپه د اسلام په ورځ بدله کړي.

د: بالآخره دا درېم ځل دی چې په دې سورت کښې الله ﷻ په خپل وحدانیت باندې استدلال قائموي او خپل اختصاصي صفات بیانوي، نو څرنګه چې په دې صفاتو کښې ورسره هیڅوک شریک نه دي نو په الوهیت کښې هم ورسره هیڅوک اشتراک نه لري، که څه هم هغه عیسی علیه السلام وي لکه نجراني وفد چې ورته په الوهیت قائل دي.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! خپل حقیقي معبود (الله ﷻ) په اختصاصي صفاتو باندې یاد کړه ترڅو کافران په غوږ ووهل شي چې د دوی معبودان ورسره پکښې اشتراک نه شي موندلی.

نو ووایه چې ای الله! ای د پاچاهۍ واکداره!. نو ایا دوی خپلو معبودانو ته دا لقب ورکولی شي؟

• ای الله! ستا چې چا ته اراده وشي پاچاهي ورکوې او چا ته دې چې اراده وشي پاچاهي ترې اخلې. نو ایا په دې تصرف کښې د کافرانو معبودان څه واک او اختیار درلودلی شي؟.

ای الله! ستا چې چا ته خوښه شي عزت ورکوې او چې چا ته دې خوښه شي ذلت ورکوې. ایا د کافرانو معبودان په ذلت او عزت کښې څه مداخله کولی شي؟.

ای الله! ټولې ښېګڼې ستا په لاس کښې دي. ایا د کافرانو د معبودانو په لاس کښې څه ښېګڼه شته؟.

ای الله! یقیناً ته په هر شي باندې قدرت درلودونکی یې لکه چې د خیر کارونه ستا په لاس کښې

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۱۲

دي، آفت نازلول هم ستا کار دی.ایا د کافرانو د معبودانو (که څه هم هغه عیسی ﷺ وي) څه قدرت په لاس کښې شته؟ ایا دوی د کوم آفت مخنیوی کولی شي؟.

ای الله! ته شپه په ورځ کښې ننباسې او ورځ په شپه کښې. ایا د کافرانو معبودان په شپه اورځ کښې څه مداخله کولی شي؟.

ای الله! ته ژوندی د مړي څخه وباسې او مړي د ژوندي څخه. ایا هغوی په دې کښې څه مداخله لري؟.

ای الله! ستا چې چا ته خوښه شي بې اندازې پېرزوینه ورباندې کوې، ستا سره هیڅ څیز کمبود نه لري. ایا د هغوی سره څه شی شته او هغوی ته چا ته څه شی ورکولی شي؟.

په دې ټولو سوالونو کښې جواب منفي دی، نو کله چې په ذکر شوو الهي صفاتو کښې د الله ﷻ سره څوک شریک نشته نو په عبادت کښې به ورسره څنګه اشتراک ولري؟.

توضیحات

۱ـ که څه هم په لوستل شوو ایتونو کښې اصلي هدف د الله ﷻ د وحدانیت اثبات دی خو په ضمني توګه دا تلقین هم پکښې شته چې زما څخه داسې- داسې سوالونه وکړئ چې تاسو ته پاچاهي درکړم او دښمنان مو د واکدارۍ څخه راوغورځوم، تاسو ته عزت درکړم او هغوی ته ذلت، تاسو خوشاله کړم او په هغوی باندې آفت نازل کړم، ستاسو د خفګان تیاره شپې د خوشالۍ په ورځو تبدیل کړم او په هغوی باندې د خوشالیو په عوض غمونه ورنازل کړم او داسې نور.

د "اللّهُمَّ" تحلیل

۲ـ د "اللّهُمَّ" کلمه په اصل کښې "یَا الله" وه نو حرف ندا (یا) حذف شو او په عوض کښې یې د کلمې په آخر کښې مشدد "م" زیات شو "اللّهُمَّ" ترې جوړ شو، مګر دا ټول اعلال همدې مبارکې کلمې پورې مختص دی په بله منادی کښې دا ډول اعلال جائز نه دی، د همدې کبله په "یَا زَیْد" کښې "زَیْدُمّ" نه شو ویلی[۱].

دا هم په یاد ولرئ چې د "الله" د مبارکې کلمې اطلاق یوازې په هغه ذات ﷻ باندې کېږي چې اختصاصي صفات یې په لوستل شوو ایتونو کښې بیان شوي دي، مشرکان او نور کافران خپلو معبودانو ته د "إله" لقب ورکوي خو الله ﷻ ورته نه وایي. همدارنګه دغه مبارکه کلمه څه نور خانګړي امتیازات هم لري چې په نورو کلمو کښې نه دي اوریدلي شوي[۲].

"مُلْك" څه معنی؟

۳ـ "مُلْك" د میم په پېښ سره یو دوه جهته صفت دی، چا پورې چې قائم وي هغه ته مالک وایي او په چا باندې چې واقع شوی وي هغه ته مملوک وایي. مالک په مملوک کښې د تصرف حق لري

(۱) تفسیر کبیر ج۸ ص۲: تفسیر مدارک ج۱ ص۲۱۱
(۲) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۲۱: تفسیر الکشاف ج۱ ص۳۴۹

خو دا لحاظ پکښې شته چې مالک تصرف ته محتاج نه وي او مملوک ورته محتاج وي.

اما "مِلْك" د میم په زېر سره عین ذکر شوې معنی ورکوي خو فقط د احتیاج او نه احتیاج لحاظ پکښې نشته نو دا د هغه څخه عام شو چرته چې د هغه اطلاق کېږي هلته د ده اطلاق هم جائز دی[1].

پاتې شوه دا خبره چې دلته د "مُلْك" څخه څه شی مراد دی نو په دې کښې مفسرینو کرامو خپل خاص خاص مفاهیم اخستي دي. خو څرنګه چې دلته مطلق ذکر دی[2] نو بهتره دا ده چې هغو ټولو مفاهیمو ته شامل وګڼلی شي کوم چې د موصوف څخه په غیر بل چا سره هم ارتباط لري، لکه نبوت، علم، عقل، صحت، حسنه اخلاق، د حکم تنفیذ، ثروت (پانګه)، مینه او محبت او داسې نور[3].

پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي: چا ته چې الله ﷻ نبوت ورکړی دی هغه خو یې ترې بېرته نه دی اخستې نو ﴿وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ﴾ به څنګه صحت پیدا کړي که د ملک معنی نبوت ته هم شامله شي؟

مونږ وایو چې:

الف: په دې تقدیر د نبوت اخستل د شخص څخه مطلب نه دي بلکې د یو قوم څخه د نبوت سلسله قطعه کول مطلب دي، لکه چې الله ﷻ د بني اسرائیلو څخه د نبوت سلسله پرې کړه او عربو ته یې د نبي کریم ﷺ په ذریعه انتقال کړه.

ب: په دې تقدیر د نبوت د اخستلو څخه مطلب د نبوت نه ورکول دي لکه چې الله ﷻ د نه داخلېدلو څخه په اخراج باندې تعبیر کړی دی چې: ﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ﴾ [البقرة: ۲۵۷] الله ﷻ د مؤمنانو دوست دی چې د کفر د تیارو څخه یې د اسلام رڼا ته اوباسي. یعنې د کفر د تیارو څخه یې بچ ساتي.

هېر مو نه شي!

۵_ هېر مو نه شي چې د ایت شریف مراد دا دی چې عزت او ذلت د الله ﷻ په لاس کښې دي حقیقي ورکوونکی او اخستونکی همدی ﷻ دی، دا یې مطلب نه دی چې انسان مسلوب الاختیار دی او څه چې کوي د مجبوریت د کبله یې کوي. که داسې وي نو انسان به په ټولو کارونو کښې د ګوزن وهلي حیثیت درلودی، او په دې فرق باندې خو هرڅوک پوهېږي.

سوال جواب

۶_ که څوک وایي: لکه څنګه چې د الله ﷻ په واک او قدرت کښې خیریه کارونه دي همدارنګه ټول شرور هم د همده ﷻ په اختیار کښې دي؛ نو په دې کښې څه حکمت دی چې "بِيَدِكَ الْخَيْرُ وَالشَّرُّ" نازل نه کړی شو؟

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۱۳
(۲) البحر المحیط ج۲ ص۴۱۹
(۳) تفسیر کبیر ج۸ ص۵

موږ وايو چې:

الف: هر شی په خپل ضد باندې پېژندل کېږي (تُعرَفُ الأشياءُ بأضدادها)، نو د خير د ذکر څخه د شر حالت هم څرگند شو او په همدې اکتفاء وکړه شوه. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ [النحل: ٨١] يعني: او الله ﷻ تاسو لره کميسونه پيدا کړي دي چې د گرميو څخه مو ساتي (او د يخنيو څخه هم). په دې ايت کښې د گرميو په ذکر اکتفاء کړی شوې ده.

ب: دا ايتونه په ضمني توگه مسلمانانو ته د احتياجاتو غوښتلو تلقين دی، نو د دې مقام سره د شر ذکر مناسب نه وه.

ج: ﴿ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ داسې جمله ده چې شرورو ته عم شامله ده، نو ذکر شوی سوال تقريباً بې مورده ښکاري.

د شپې او ورځې تداخل

۷_ د شپې او ورځې يو په بل کښې ننويستل لاندې دوه معناوې لري:

الف: د کال په اوږدو کښې کله شپه اوږده شي د دولس ساعتونو څخه ورزياته شي، په مقابل کښې ورځ د دولسو ساعتونو څخه کمه شي او کله بالعکس ورځ اوږده او شپه لنډه شي. په هر تقدير دواړه (شپه او ورځ) د څلېرشت ساعتونو څخه نه اضافه کېږي.

دا اختلاف په عرض البلد پورې ارتباط لري، څومره چې د يو وطن عرض البلد اوږدېږي په هماغې اندازه باندې پکښې د شپې او ورځې اختلاف هم په تدريجي توگه زياتېږي.

افغانستان د دوه دېرش (۳۲) عرض البلد څخه نيولې ترشپږ ديرش (۳۶) عرض البلد کښې پروت دی، نو د شپې او ورځې اختلاف يې تقريباً دوه ساتونو ته رسېږي چې اوږده شپه يا ورځ څوارلس ساتونو ته ټوپ وهي او لنډه لسو ساتونو ته کمېږي.

هو هغه مواطن چې پوره په نوي (۹۰) درجو کښې پراته دي هلته ټول کال په يوه شپه او يوه ورځ باندې بدلون مومي چې شپږ مياشتې پکښې شپه وي او شپږ مياشتې پکښې ورځ، او د لمر سترگه يې په سرونو باندې داسې تاوېږي ته به وايې چې د پگړۍ ولونه جوړوي او يا د سپرنگ نقشه وباسي.

ب: په هره شپه کښې د لمر خاته د پلوه په سپين داغ سره ورځ پيل کېږي او د شپې په زړه کښې ورننوزي چې بالآخره ټوله ساحه ورځ نيسي او شپه د منځه ځي. بالمقابل په هره ورځ کښې د همدغه طرف څخه تور داغ پيدا کېږي او په تدريجي توگه ورځ د منځه ځي او ځای يې شپه نيسي.

تر اوسه پورې هيچا هم د دغه اختلاف د منځ ته راوړو ادعاء کړې نه ده او نه به يې وکړي. کافرانو خپلو معبودانو ته يو شی بل شی منسوب کړی دی خو د شپې او ورځې د بدلون د نسبت جرئت يې نه دی کړی او نه به يې وکړي.

د مړي او ژوندي تخارج

۸ـ مفسرینو کرامو د ایت شریف د همدې ټکړې دپاره زښت ډېر مثالونه لیکلي دي[۱]. لکه
الف: د کافر یا جاهل څخه مؤمن یا عالم زېږېږي او بالعکس د مؤمن یا عالم څخه کافر یا جاهل متولد کېږي، چې د قرآن کریم په څېنو ځاینونو کښې د کفر څخه په مرګ او د ایمان څخه په ژوند تعبیر کړی شوی دی. لکه چې علم ته د حیات او جهل ته د مرګ لقب ورکول شوی دی.
ب: د انسان څخه مړه نطفه پیدا کېږي او د مړې نطفې څخه ژوندی انسان جوړېږي.
ج: چرګه ژوندی حیوان دی او مړه بې روحه هګۍ ترې پیدا کېږي همدارنګه بالعکس د مړې هګۍ څخه چرګوړی او بالآخره چرګه پیدا ښت مومي.
د: روزمره بې روحه غذاګانې د ژوندیو شیانو اجزاء ګرځي او وربانديې غتېږي که په همدغه اجزاوو کښې روح پو نه کړی شي نو ماشومان به وده ونه کړي.
بالمقابل د ژوندیو څخه بې روحه فضلات او شوده وباسي، او هم ترې مړې نطفې جدا کېږي.
هـ: خرما د زړي څخه او زړی د خرما څخه، همدارنګه تخم د نبات څخه او نبات د تخم څخه راوباسي.
مګر دوهم او دریم تفسیرونه ډېر بهتر دي چې په زغرده او تبادر سره سړي ته ذهن ته ورځي، که څه هم باریکي په څلورم تفسیر کښې زیاته ده چې په غذاګانو کښې هیڅ د ژوند سلول وجود نه لري او په نطفه کښې د ژوند تخم شته، والله ﷻ أعلم.

چرګه مشره ده که هګۍ!

۹ـ په دې مقام کښې د ملحدانو مشهور سوال راپه زړه شو چې چرګه مشره ده او که هګۍ؟ د همدې جملې څخه دا سوال هم دی چې انسان مشر دی که نطفه؟
مونږ وایو چې: ذکر شوی سوال په هغه وخت کښې اهمیت پیدا کوي چې د چرګې د پیدا کېدلو د هګۍ څخه په غیر بله لاره نه وی او د انسان د نطفې څخه په غیر بل درک ونه لري، نو ضرور به یا دور لازمېږي او یا تسلسل چې دغه دواړه د منطقیانو په نزد باطل دي.
الحمد لله په انسان کښې دا معضله حل شوې ده چې انسان (آدم ﷺ) د نطفې څخه مشر دی ځکه چې د انسان خلقت د نطفې پورې حصر نه دی بلکې اولنی انسان الله ﷻ د خاورو څخه پیدا کړ.
همدارنګه په چرګه او هګۍ کښې هم معضله حل کېږي ځکه چې یا به الله ﷻ اولنۍ چرګه بې د هګۍ څخه پیدا کړې وي او یا به یې اولنۍ هګۍ بې د چرګې څخه موجوده کړې وي.
لنډه دا چې نوموړی سوال د ایت شریف په دې جمله کښې حل کېږي چې: ﴿ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ یعنې: بې شکه الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی.

---

(۱) تفسیر المراغي ج۳ ص۱۳۳؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۲۲٦؛ تفسیر القرطبي ج۴ ص۵٦؛ التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۰

سوال جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: د الله ﷻ په نزد خو هر شی په اندازه سره دی لکه چې فرمايي: ﴿ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُۥ بِمِقْدَارٍ ﴾ [الرعد: ۸] يعني: او هر شی د ده ﷻ په نزد په اندازه سره دی او د ﴿ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ څخه خو ظاهراً بې اندازې معلومېږي؟

مونږ وايو چې ﴿ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ په دې مقام کښې لاندې معناوې درلودلی شي:

الف: دومره نعمتونه مونږ ته راپه برخه کوي چې زمونږ د حساب لاندې نه راځي، که څه هم الله ﷻ ته په حساب دي.

ب: د الله ﷻ واکداري او اختيار خپل دی، هرڅومره نعمتونه چې چا ته ورکړي څوک ورسره محاسبه نه شي کولی چې دا دې ولې ورکړه.

ج: د نعمتونو ورکړه تاته اسانه ده، نعمتونه درسره کمبود نه لري چې شمارلو او پاملرنې ته يې حاجت پاتې شي. لنډه دا چې ﴿ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ د کثرت او ډېروالي څخه کنايي دی.

﴿ لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِى شَىْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُوا۟ مِنْهُمْ تُقَىٰةً ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ إِن تُخْفُوا۟ مَا فِى صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ۗ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُۥٓ أَمَدًۢا بَعِيدًا ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۸] مومنان دې بدون د مومنانو څخه کافران دوستان نه نيسي، او هر چا چې دغه فعل وکړ نو هغه د الله ﷻ د دوستی څخه په هيڅ شي کښې نه دی (دوستي يې چندان دوستي نه ده)، مګر هله چې تاسو د هغوی څخه ځان ساتنه کوئ، ځان ساتنه.

او الله ﷻ تاسو د خپله ځانه څخه ډاروي (نه د بل چا څخه. اهميت ته يې ښه متوجه شئ) او خاص الله ﷻ ته رجوع ده (هلته به تاسو هم ورشئ).

[۲۹] ورته ووايه (ای پيغمبره!) چې که تاسو هغه څه پټ وساتئ چې ستاسو په سينو (زړونو) کښې دي يا يې ښکاره کړئ (په هر تقدير) الله ورباندې پوهيږي، او هم په هغه څه باندې پوهيږي چې په اسمانونو کښې دي او په هغه څه باندې چې په ځمکو کښې دي.

او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت والا دی.

[٣٠] په هغې ورځ به (وړاندې ښه پوه شئ) چې هرڅوک هغه څه حاضر ومومي چې ده کړي وي هر يو خير چې وي. او هغه څه هم (حاضر وموميي چې دې کړي وي) هره يوه بدي چې وي.

هر يو نفس (به په دې ورځ کښې) خوښوي چې کاشکې د ده او د ده د بد عمل په منځکښې ډېره لرې مسافه وی (چې ورسره نه وی يو خای شوی) او الله ﷻ تاسو د خپل خانه ډاروي او الله ﷻ په بندګانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی.

شان نزول

د دې کبله چې صالحينو سلفو د ايتونو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه، نو د ذکر شوو ايتونو په باره کښې هم متعدد روايات مفسرينو کرامو ليکلي دي[١]، چې مونږ ترې د عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما په يوه روايت باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

خينو يهودانو لکه الحجاج بن عمرو او نورو د خينو مسلمانانو سره پټه انډيوالي وه (البته چې دا انډيوالي به د جاهليت د زمانې څخه پاتې وه) نو دوی ته خينو نورو مسلمانانو توصيه وکړه چې د کافرو د انډيوالۍ او دوستۍ څخه لاس واخلئ هسې نه چې د دين په متعلق مو په فتنه کښې واچوي خو څرنګه چې لا تر هغه وخته پورې په دې باره کښې کوم صريح حکم نه وه نازل شوی نو دوی توصيه ونه منله. نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه او په صراحت سره يې د قيامت ورځې پورې ټول مسلمانانو ته توصيه وکړه[٢].

د مطلب خلاصه

١ـ يعنې: هر کله چې د يو پلوه ټول مؤمنان د اسلام داعيان دي او کفار د اسلام داعيان بې دريغه وژني، او د بله پلوه ټولې ښېګنې د الله ﷻ په بلا کيفه لاس دي، عزت او ذلت همدی ﷻ ورکوي، شپه او ورځ همدی ﷻ پيدا کوي، مړه کول او ژوندي کول د همده ﷻ کار دی او بالآخره پراخه روزي يوازې او يوازې همدی ﷻ ورکوي، نو الله ﷻ مؤمنان په جدي توګه منعه کړه چې کفار په دوستۍ سره مه نيسئ، انډيوالي ورسره مه کوئ. ايا دا مناسبه ده چې تاسو مؤمنان پرېږدئ دوستي او انډيوالي ورسره نه کوئ او يا يې نصيحت ته غوږ نه ږدئ او د کفارو زړې انډيوالۍ ته ادامه ورکوئ او يا ورسره نوې انډيوالۍ پيل کوئ. ايا د الله ﷻ د دوستانو څخه په غير د ده ﷻ د دښمنانو سره دوستي کوئ؟!

٢ـ د دې څخه وروسته چې هر څوک دا کار وکړي نو هغه دې پوه شي چې د الله ﷻ سره د هغه چندان دوستي او مينه نشته، ايا د دښمن دوست هم د چا دوست کېدلی شي؟ نو په دې تقدير مو د ده ﷻ سره د اعتماد قابله دوستي نه پاتې کېږي، په دې سسته دوستۍ باندې د الله ﷻ د دوستۍ نوم اېښودل څه ارزښت نه لري.

---

(١) التفسير الكبير ج٨ ص١١؛ زاد المسير ج١ ص٣١٧؛ روح المعاني ج٣ ص١٢٠
(٢) تفسير البغوي ج١ ص٢٩١

هو! که کله تاسو ته د کفارو څخه څه غټ خطر متوجه وي او ډارېدلئ که دوستي ورسره ښکاره نه کړئ نو د دوی د پلوه به سخت متضرر شئ، په دې صورت کښې درته رخصت دی چې محض په ژبه باندې ورسره دوستي ځرګنده کړئ خو په دې شرط چې زړونه مو د الله ﷻ په دوستۍ باندې کلک او ثابت وي. دا کار باید عارضي وي، کله چې د خطر څخه بچ شوئ بیا نو درته د دوستۍ د دوام اجازه نشته.

د خطر په وخت کښې هم عزیمت او کلکه خبره دا ده چې د دوستۍ اظهار یې هم ونه کړئ او د هغه ضرر متحمل شئ چې تاسو ته متوجه دی، الله ﷻ به یې درته اجرونه درکړي.

۳_ مګر ای مؤمنانو! الله ﷻ مو د بل چا څخه نه بلکې د خپل ځان څخه ډاروي ډېر دقت وکړئ هسې نه چې د رخصت څخه بده استفاده وکړئ چې خطر درته متوجه نه وي او ځانو ته یې متوجه وګڼئ او یا غټ خطر نه وي او تاسو یې غټ وبولئ او په همدې بهانه باندې یا د کفارو څخه استفادې وکړئ او یا د دین د مشکلاتو د ګاللو څخه خپلې اوږې سپکې کړئ. که داسې مو وکړه نو الله ﷻ به درسره دقیق حساب وکړي.

۴_ ای پیغمبره! همدا مضمون ورته په صراحت سره ووایه چې که تاسو په زړونو کښې څه شی پټ کړئ او تلفظ ورباندې ونه کړئ هم الله ﷻ ورباندې پوهېږي، دا خو لا څه کوئ چې الله ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې پوهېږي چې هغه یا په اسمانونو کښې وي او یا په ځمکو کښې وي، نو ستاسو ما في الضمائر به ورڅخه څنګه پټ پاتې شي.

۵_ دا وه د الله ﷻ د علم تعمیم. اوس یې د قدرت تعمیم واورئ! چې په هر شي باندې د قدرت والا دی هره وړه او غټه خبره د قیامت په ورځ حاضرولی شي او محاسبه ورباندې کولی شي، دا کار ورته ډېر اسان دی، د الله ﷻ کامل قدرت به تاسو هلته وګورئ چې هر چا ته هغه ټولې نېکۍ حاضرې کړی شئ چې هغه یې کړې وي او هغه بدۍ هم چې ده کړې دي، هلته به هک پک حیران شئ چې د الله ﷻ څومره لوی قدرت دی چې نه ترې کومه نېکي پاتې شوه او نه کومه بدي، ټولې یې هر چا ته په وړاندې کېښودلې چې دا دې نیکۍ او دا دې بدۍ. او س پخپله د ځانه سره محاسبه وکړه چې کامیاب یې او که ناکام.

۶_ په دغې ورځې کښې به بدعمله کس خپلو بدیو ته دومره په کرکه ګوري چې په افسوس سره به وایي کاش چې د دغه بد عمل مخ مې نه وی لیدلی، کاش چې د مخې څخه مې دومره په څنګه وی چې په منځ کښې مو سره ډېره اوږده موده وی. او کلونه-کلونه راځخه یا وړاندې او یا راځخه ېېرته وي.

۷_ ای پیغمبره! یو ځل بیا مؤمنانو ته توصیه وکړه چې الله ﷻ تاسو د بل چا څخه نه بلکې د خپل ځان ﷻ څخه مو ډاروي چې خپل کامل عمل او کامل قدرت یې درته په ډېره دقیقه توګه واضحه کړ. ایا تاسو به اوس هم د الله ﷻ څخه نه ډارېږئ او د الله ﷻ د دښمنانو سره به انډیوالي او دوستي کوئ؟!

الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ډېر مهربان دی، نه غواړي چې دوی یې د غضب لاندې راشي. د همدې کبله یې په زیاته بلیغه لهجه دوی منعه کړه او پاخه دلایل یې ورته تېر کړه ترڅو دوی په حکم مطمئن شي او د تزلزل سره مخامخ نه شي.

که د مهربانۍ وجه نه وی نو فقط په همدې حکم باندې به یې اکتفاء کړې وی چې ﴿لَا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ﴾، او نور دلایل به یې نه وی ذکر کړي چې د دنیا مجازي پاچاهان هم د چا سره دومره خبره نه اوږدوي لکه چې الله ﷻ په دې مقام کښې اوږده کړه.

توضیحات

١ _ که څوک وایي چې: د ﴿مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ څخه معلومېږي چې د کافرانو دوستي په دغه وخت کښې جائزه نه ده چې بدون د مؤمنانو څخه وي، که بالفرض څوک د مؤمنانون او کافرانو دواړو سره دوستي ولري هغه به جائزه وي؟

مونږ وایو چې: د "دُون" کلمه اصلا هغه حالت ته وضعه شوې ده چې متعلق یې دمضاف إلیه څخه کم او ټیټ وي، که څه هم په استعمال کښې د "غَيْر" په معنی ډېره اوربدله کېږي[1]. په دې مقام کښې په اصلي معنی ده چې حاصل یې داسې کېږي: مؤمنان دې کافران په دوستۍ سره نه نیسي دوی ته په کار دي چې د خپلو سیالانو (مؤمنانو) سره دوستي وکړي او د حقیرو او ټیټو د دوستۍ څخه دې تېر شي.

الله ﷻ همدا مضمون په بل ځای کښې داسې بیانوي چې: ﴿لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ﴾ [آل عمران: ١١٨] یعني: د خپلو ځانو (مؤمنانو) څخه ټیټ خلک (کافران) رازداران مه جوړوئ.

د "دُون" کلمه په حقیقت کښې د حکم د علت ښکارندویه ده چې کافران ځکه ستاسو څخه ټیټ دي چې هغوی د الله ﷻ سره شریک ودروي او تاسو موحدین یاست؛ نو د هغوی سره بالکل دوستي مه کوئ.

"أَوْلِيَاء" څه معنی؟

٢ _ د ﴿أَوْلِيَآءَ﴾ کلمه د "وَلِي" څخه اخستله شوې ده. "وَلِي" د دوه شیانو داسې نږدېکت ته وایي چې د دواړو په منځکښې درېم شی نه وي. نحویان وایي چې "و الأَصلُ في الفاعلِ أنْ يَلِيَ الفعلَ" یعني: په فاعل کښې اصل دا دی چې د خپل فعل سره نږدې وي (د دواړو په منځکښې بل معمول موجود نه وي).

د دوه کسانو نږدېکت (دوستي) د "موالاة" په نامه یادېږي چې په مقابل کښې یې معاداة (دښمني) استعمال ومي.

(١) مفردات الراغب ص ١٧٧

د موالاة ډولونه

۳_ د یو مؤمن سړي د کافر سره موالاة (دوستي) په لاندې درې صورتونو کښې تحقق موندلی شي[1]:

الف: چې سړی د کفر د وجې څخه ورسره دوستي کوي، د هغه په کفر باندې خوښ وي، د هغه کفر ورته ښه ښکاري. لکه چې خلقیانو او پرچمیانو ته د کمونستانو مسلک ښه ښکارېده.

په دا ډول موالاة باندې سړی کافر کېږي، او هم دا ډول موالاة په ایت شریف کښې مطلب نه دي څکه چې الله ﷻ مؤمنانو ته امر وکړ چې د کافرانو د موالاة څخه ځانونه بچ کړئ، او د ډار حالت یې ترې وویست. که ذکر شوی مولاة مطلب وی نو یو حالت به یې هم ترې نه وی ویستلی چې په کفر باندې راضي کېدل خو په هر حال باندې کفر دی.

ب: چې سړی د هغه کافر سره ښه ګذاره وکړي کوم چې محارب کافر نه وي، په جنګ ورسره اخته نه وي؛ د دې ډول موالاة حکم جواز دی. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ﴾ [الممتحنة:۸] یعنې: الله ﷻ تاسو د هغو کسانو څخه نه منعه کوي کوم چې ستاسو سره د دین په هکله جنګ نه وي کړی او د کورونو څخه یې ویستلي نه یاست چې نیکي ورسره وکړئ او انصاف ورته ورکړئ (ښه ګوزاره ورسره وکړئ. څه خوراک څښاک ورته ورکړئ او داسې نور).

ج: چې سړی د کافر په دین باندې د بطلان عقیده لري چې باطل دین دی، خو سره د دې د کافر سره مینه او محبت کوي، د هغه سره مشوره کوي، د هغه تعظیم کوي، لنډه دا چې د هغه سره داسې ناسته پاسته کوي ته به وایې چې دوی دواړه ډېر کلک دوستان دي.

په دې درېیم ډول موالاة باندې سړی نه کافر کېږي خو جنایت دی، د دې وېره شته چې کافر بې تېر باسي او مرتد یې کړي. او همدا ډول موالاة په همدې ایت کښې مطلب دی چې لاس ترې واخلئ[2].

سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: د ﴿فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِى شَىْءٍ﴾ څخه خو معلومېږي چې په همدې ډول باندې هم سړی کافر کېږي؟

مونږ وایو چې: د ایت شریف د ذکر شوي ټکرې معنی دا ده چې که چا دا کار وکړ نو د هغه سره د الله ﷻ دوستي ډېره نا چیزه ده چې هیڅ د ذکر وړ نه ده، نو داسې وګڼل شوه لکه د الله ﷻ سره چې بالکل دوستي نه لري.

په همدې مضمون باندې نبي کریم ﷺ فرمایلي چې: «وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا»[3] یعنې: هر څوک چې

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۲؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۱۷
(۲) التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۲
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۷۰

زمونږ سره تګي وکړي هغه زمونږ څخه نه دی. په دې حديث کښې مطلب دا نه دی چې د يو شي په اخستلو او خرڅولو کښې چې څوک تګي وکړي هغه ورباندې کافر کېږي بلکې مطلب يې دا دی چې دا د مسلمانۍ کار نه دی، مسلمانان لکه چې په عقيده کښې د کفري عقيدې څخه خانونه ساتي بايد چې په عمل کښې هم د کفري عملونو څخه خانونه وساتي که څه هم ورباندې کافر کېږي نه.

برسېره په دې، دغه ډول دوستي حاطب بن أبي بلتعه ﷺ د کافرانو سره کړې وه خو نبي کريم ﷺ ورباندې د مرتد حکم ونه کړ.

د "الْمُمْتَحِنَة" سورت اوله برخه په همدې باره کښې نازله شوې ده او په احاديثو کښې يې پوره بيان ذکر دی[۱].

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: ايا د کافر څخه په جنګ کښې کومک اخستل روا دي چې يا ترې مالي مرسته واخلي او يا کافر أشخاص په جنګ کښې په خپله ګټه استعمال کړي؟

مونږ وايو چې: په دې باره کښې مالکي مذهب دا دی چې دا کار روا نه دی څکه چې د بدر په غزا کښې يو کافر غوښتل چې د نبي کريم ﷺ سره کومکي شي خو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «ارْجِعْ فَلَنْ أَسْتَعِينَ بِمُشْرِكٍ»[۲] يعني: بېرته لاړ شه، زه د مشرک څخه مرسته نه غواړم.

اما د جمهورو علماء کرامو (چې احناف هم پکښې شامل دي) رايه دا ده چې دا کار جائز دی څکه چې نبي کريم ﷺ د هوازن په غزا کښې صفوان بن أُميه څخه کومک غوښتی وه او هغه کافر وه، او هم يې د مشرکانو په ضد د بني قينقاع يهودانو سره د کومک معاهده کړې وه که څه هم هغوی معاهده ماته کړه.

دوی وايي دا کار جائز دی خو چې ضرورت ورته پېښ شي او څه اطمنان هم موجود شي چې کافر خيانت نه کوي او د مؤمنانو په ضد باندې اقدام نه کوي.

همدارنګه دوی وايي د بدر په غزا کښې د کافر کومک ته اړتيا نه وه او يا په ورباندې نبي کريم ﷺ اطمنان نه درلود[۳].

خينې علماء کرام وايي د کافرانو استخدام په هغه وخت کښې جائز دی چې د غلامانو او وينځو په دود ترې کار واخستلی شي چې باداري د مؤمنانو په لاس کښې وي او هغوی مامورين او توابع وي. لکه کتابيه ښځه چې د خپل مسلمان مېړه د لاس لاندې وي. اما داسې استخدام چې هغوی د عزت خاوندان وي او د آمرينو حيثيت لري نو دا بالکل روا نه دی[۴].

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۲۲
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۴
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۲۰
(۴) البحر المحيط ج۲ ص۴۲۲

د "تُقَاة" د کلمې تحلیل

۶ـ د ﴿ تُقٰىةً ﴾ کلمه په اصل کښې "وُقَيَةً" وه ـلکه: "فُعَلَةٌ" ـ چې مصدر یا اسم مصدر دی، نو "و" په "ت" او "ي" په "الف" بدله شوه "تُقَاة" ترې جوړ شو. "تُقَاة" د "تُقية" په معنی سره دی چې په اصل کښې "وقيية" وه "و" په "ت" بدل شو او یوه "ي" په بله کښې مدغمه شوه "تُقية" ترې جوړ شو. دواړه کلمې د ډار او خوف په معنی سره دي خو اهل التشیع د "تقية" کلمه ډېره استعمالوي.

"تُقيَه" او شرعي حکم

۷ـ په دې مقام کښې باید لاندې څو مواد په نظر کښې ونیول شي ترڅو پرې دا مقام پرې ښه واضحه شي:

الف: د قیامت د ورځې پورې جواز شته چې یو مسلمان د خان د خلاصون په غرض د ډار په وخت کښې د کفري کلماتو څرګندونه وکړي. اما خوارج وایي چې تُقیه د اسلام په ابتداء کښې جائزه وه چې مسلمانان کمزوري وه، کله چې مسلمانان قوي شوه نو ذکر شوی حکم باید عملي نه شي[۱].

دا مذهب ځکه باطل دی چې د یو پلوه په نصوصو کښې داسې څه دلیل نشته چې تخصیص یې ورکړی وي او دبل پلوه د مسلمانانو د کمزورۍ حصر کول هم په یو وخت پورې څه معقول کار نه دی. نو تُقیه د قیامت د ورځې پورې جائزه ده.

ب: په تُقیه باندې عمل کول جواز لري چې سړی ورباندې نه ګناهګارېږي، خو بهتره دا ده چې سړی کفري کلمات په ژبه باندې ونه لولي او په رخصت باندې عمل ونه کړي بلکې په عزیمت باندې کلک شي. د همدې مطلب په ثبوت باندې لاندې دلایل دلالت کوي[۲]:

اول: په دغسې حالاتو کښې (چې سړی د کفري کلماتو اظهار ته مجبورېږي) اسلام هجرت فرض کړی دی، که په تُقیه باندې عمل کول اصلي حکم وی نو هجرت ته به حاجت نه وی، یو مسلمان به کولی شوی چې ظاهراً خپل خان کافر معرفي کړي خو په زړه کښې مسلمان وي.

دوهم: که په تقیه باندې عمل کول عزیمت وی نو شهیدانو ته به الله ﷻ لوړې درجې نه وی ورکړې، هغوی خو په همدې شهیدان شوي دي چې د رخصت څخه یې استفاده نه ده کړې او په عزیمت باندې کلک ولاړ وه او شهیدان شوه.

دریم: مُسَیلمة الکذاب (چې د پیغمبرۍ دعوه یې کړې وه) یوه ورځې دوه کسان مسلمان مجاهدین ونیول او په لاندې ډول یې د استنطاق لاندې راوستل:

یوه صحابي ﷺ ته یې وویلې چې ته شاهدي وایې چې محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی؟. ده وویلې چې: هو. بیا یې ورته وویلې چې ته شاهدي وایې چې زه هم د الله ﷻ رسول یم؟. ده وویلې چې: هو. نو دغه صحابي ﷺ یې خوشې کړ.

---

(۱) تفسیر کبیر ج۸ ص۱۴
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۲۶

اما هغه بل صحابي ﷺ د اول سوال په جواب کښې "هو" وويلې او په دوهم کښې یې جواب ورکړ چې: «إِنِّيْ أَصَمّ» یعنې: یقینًا زه کوڼ یم. نوموړي کافر درې ځله سوال تکرار کړ خو په هر وار کښې به صحابي ﷺ جواب ورکاوه چې زه کوڼ یم.

مسیلمه ملعون دغه صحابي ﷺ شهید کړ او سر مبارک یې ترې پرې کړ. نو کله چې دغه قیصه نبي کریم ﷺ ته ورسېده هغه وفرمایل چې: «أَمَّا هَذَا الْمَقْتُولُ فَقَدْ مَضَى عَلَى صِدْقِهِ وَيَقِينِهِ وَأَخَذَ بِفَضْلِهِ فَهَنِيئًا لَهُ. وَأَمَّا الآخَرُ فَقَدْ رَخَّصَهُ اللهُ تَعَالَى فَلَا تَبِعَةَ عَلَيْهِ»[۱] یعنې: هر چې دغه وژل شوی دی نو یقینًا هغه په خپل صداقت او کلک باور باندې تېر شو او د الله ﷻ فضل یې وګاټه نو دا دې ورته مبارک وي، او هر چې هغه بل دی نو هغه ته الله ﷻ رخصت ورکړی وه نو په هغه باندې هم څه ګناه نشته.

څلورم: د احمد بن مالک رحمه‌الله څخه چا پوښتنه وکړه چې که څوک دې توره د سر پورې ونیسي نو کفري خبره به وکړې او که نه؟ ده رحمه‌الله ورته وویلې: چې کله عالم په تقیه باندې عمل وکړي او حق ونه وایي او جاهل د جهل او ناپوهی د کبله د حق اظهار ونه کړي "فمتی تبین الحق"[۲] نو حق به په کوم وخت کښې څرګند شي؟.

ج: په تقیه باندې عمل کوي د ضرورت په بنا جائز ګرځول شوي دي د همدې کبله پکښې د ضرورت څخه زیادت جائز نه دی، لکه چې الله ﷻ د دې ایت په مثل کښې تصریح کړې ده چې: ﴿ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَٰنِ ﴾ [النحل: ۱۰۶] یعنې: د کفر کلمه په داسې حالت کښې جائزه ده چې زړه یې په ایمان باندې مطمئن وي. خو یوازې په ژبې سره ورباندې تلفظ وکړي او دا ځکه چې ضرورت په ژبه پوره کېږي د عقیدې تحریف ته حاجت نشته[۳].

همدارنګه په کار دي چې په کفري کلماتو باندې هم د ضرورت څخه اضافه تلفظ ونه کړي او هم دې د وخت پوره مراعات وکړي، کله چې ضرورت ترسره شو نو بیا ورته په کفري کلمو باندې خوله ښورول قطعي حرام دي او رخصت یې تمام شو.

د: هله تقیه جائزه نه ده چې په بل چا باندې پکښې تجاوز واقع کېږي، لکه چې څوک کافرانو ته د خپل ځان معرفي کولو دپاره بل مسلمان ووژني، یا په زنا باندې اقدام وکړي، یا پردی مال غصب کړي، یا پاک لمنو ښځو او سړیو پسې بهتان جوړ کړي او بالآخره یا د استنطاق په وخت کښې د مسلمانانو د اسرارو څخه پرده پورته کړي[۴].

ه: همدارنګه په تقیه کښې د لساني اقرار څخه په غیر کفري عمل جائز نه دی، لکه چې څوک خپل ځان خلقي یا پرچمي معرفي کولو دپاره ـ العیاذ بالله ـ د قرآن کریم سره د استخفاف عمل وکړي. او دا ځکه چې دغسې وضعه د کفر نمایندګي کوي، برابره خبره ده چې عقیده یې ورسره موافقه وي او که نه.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۰؛ مصنف ابن ابي شیبه ج۶ ص۴۷۳

(۲) البحر المحیط ج۲ ص۴۲۴

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۵۷

(۴) تفسیر کبیر ج۸ ص۱۴

د همدې کبله عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وویلي دي چې: «لَيْسَ التَّقِيَّة بِالْعَمَلِ إِنَّمَا التَّقِيَّةُ بِاللِّسَانِ»[1] تقیه په عمل باندې نه ده بې شکه تقیه په ژبه ده او بس.

و: تقیه لکه څنګه چې د نفس د ساتنې دپاره رخصت ده د مال او آبرو د ساتنې دپاره هم جواز لري[2].

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ»[3] یعني: څوک چې د خپل مال په مقابل کښې ووژل شي هغه شهید دی.

نو که یو مسلمان د کافر د پلوه تهدید شي چې که د موالاة (دوستی) اظهار ونه کړي نو یا به ووژل شي، یا به یې مال تلف شي او یا به یې ناموس او ابرو تویه شي.

په دې درېواړو صورتونو کښې ورته په ژبه باندې د موالاة اظهار جائز دی.

یادونه

۸_ څرنګه چې په ژبه باندې د کفري کلماتو استعمال په داسې حال کښې چې قلبًا ورباندې مطمئن نه وي یو مبطن او پټ شی دی هر څوک کولی شي چې په کفري کلمه باندې قلبًا تلفظ وکړي او د دې سره-سره مدعي شي چې زه پرې قلبًا مطمئن نه یم. برسېره په دې، د تهدید په اندازه کښې هم ممکنه ده چې څوک د ډېر لږ تهدید سره د کفري کلمې یا د کفري موالاة اظهار وکړي، یا د ضرورت څخه په زیاتو کلماتو باندې تلفظ وکړي او یا حتی د ضرورت د وخت څخه اضافه وخت ورباندې دوام وکړي، خو په دې ټولو صورتونو کښې بهانه کولی شي چې ما د مجبوریت څخه دا تلفظ کړی دی او څوک یې په دنیا کښې نه شي ملامته کولی.

نو څکه الله ﷻ په دې مقام کښې د ډارولو ډېره موثره جمله دوه څله تکرار کړې ده چې په ټول قرآن کښې دربم ځل نه ده نازله شوې، هغه جمله دا ده چې: ﴿ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ﴾ یعني: او الله ﷻ تاسو د خپله ځانه ډاروي، نه د بل شي څخه. یعني د ډېر لوی غضب څخه مو ډاروي.

د دې تهدید نظیر په ترغیب کښې هغه حدیث دی چې نبي کریم ﷺ د روژې د ثواب په باره کښې وايي چې د بنیادم په هر یو نېک عمل باندې لس چنده اجر ورکول کېږي تر اوه سوه پورې، پرته د روژې څخه څکه چې الله ﷻ فرمايي: «فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي»[4] یعني: چې یقینًا روژه ما لره ده او زه ورباندې (پخپله) جزا ورکوم، خپل خواهش او خوراک یې زما د کبله پرېښی دی. یعني د روژې جزا دومره لویه ده چې په اندازه باندې یې د الله ﷻ څخه په غیر ملائک هم نه پوهېږي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۵۷
(۲) روح المعاني ج۳ ص۱۲۱
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۳۷
(۴) سنن النسائي ج۱ ص۳۱۰

د اهل التشیع تقیه

۹ـ د ذکر شوي بیان څخه څرګنده شوه چې مسلمان ته د موالاة (دوستۍ) اظهار جائز دی مګر چې د کافرانو د پلوه تهدید شي. خو د همدې ایت څخه اهل التشیع تقیه د یوه اصل په حیث استنباطوي او په هر ځای کښې چې دوی د لږ څه مشکل سره مخامخ شي هلته تقیه په کار اچوي. د علي ﷺ او د نورو هغو صحابه وو ﷺ څخه چې هغه شي په ثبوت ورسېږي کوم چې د دوی په طبیعت برابر نه وي نو هغه هم په تقیه باندې حملوي.

ځینې اهل التشیع په تقیه کښې دومره مبالغه کوي چې وایي: د اهل تشیع څخه چې څوک په سُنّي امام پسې لمونځ وکړي د دې دپاره چې په شیعه مذهب باندې پرده واچوي نو دومره ثواب لري لکه یو پیغمبر پسې یې چې لمونځ اداء کړی وي.

دوی داسې نور مزخرفات وایي چې د ایت شریف سره بالکل ارتباط نه لري[۱].

ایا اعمال حاضرېدلی شي؟

۱۰ـ مفسرینو کرامو د اعمالو د احضار معنی داسې کړې ده چې هغه به مجسم کړی شي او حاضر به کړی شي او یا د اعمالو حضور د عملنامو یا د جزا د حضور څخه کنایي دی[۲].

مګر مونږ دغو دربوارو تاویلونو ته حاجت نه لرو ځکه چې په نني عصر کښې اعراض انتقالېږي او هم تېر شوي اعراض حاضر ګرځول کېږي، مثلا نن چې کومې خبرې ثبت شي او یا د ځینو شیانو تلویزوني عکاسي وشي د ډېر کلونه وروسته هم هغه بیا حاضرېدلی شي او هم لیدلی شي. کله چې دا صحنه په دنیا کښې تکرارېدلی شي نو په آخرت کښې خو یې هیڅ مانع نشته.

یادونه

۱۱ـ ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ بَيْنَهُ ﴾ ضمیر د قیامت ورځې ﴿ يَوْمَ ﴾ ته راجع کړی دی[۳]، یعنې بدکاره نفس به تمنی کوي چې د ده او د دغې ورځې په منځکښې ډېره زمانه وی.

مګر مونږ ته دا ښه خبره ښکاره شوه چې ضمیر بد عمل ته راجع شي چې ورته نژدې ذکر دی.

أَمَدٌ څه معنی؟

۱۲ـ د "أَمَدٌ" او د "أَبَدٌ" په منځکښې تقارب دی دواړه اوږدې زمانې ته وایي، فقط دومره فرق لري چې په "أَمَدٌ" کښې زمانه مجهوله غایه لري او په "أَبَدٌ" کښې بالکل غایه او انتهاء نه لري[۴].

ځینې مفسرین لا وایي چې په دې مقام کښې د ﴿ أَمَدًا بَعِيدًا ﴾ څخه لرې مسافه مطلب ده لکه څومره چې مشرق د مغرب څخه لرې دی[۵].

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۲۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۴ ص۸۴
(۳) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۲۴
(۴) مفردات الراغب ص۲۰
(۵) روح المعاني ج۳ ص۱۲۷

په هر تقدير د معنى حاصل به داسې کېږي: عاصيان خو نن ورځ گناه ته د ډېر خوشالېږي او د ډېر رغبت لري چې ورنږدې شي خو د قيامت په ورځ چې کله د خپلې گناه مخ وگوري دومره به ترې متنفر شي چې وايي به کاش چې زما او ستا په منځکښې دېره لرې مسافه وی چې په ډېره اوږده زمانه کښې هم سره نه وی يو ځای شوي.

﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾ ﴾

[٣١] ووايه (اى پيغمبره!) كه چرته تاسو (اى خلكو!) ياستئ چې د الله ﷻ سره محبت لرئ نو زما متابعت وكړئ الله ﷻ به تاسو محبوب وگرځوي (درځخه راضي به شي) او گناهونه به مو درته وبښي. او الله ﷻ بښونكى (او) مهربان دى.

[٣٢] ووايه (اى پيغمبره!) چې (اى خلكو!) د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ اطاعت وكړئ. نو كه دوى ترې مخ تاو كړ نو بې شكه الله ﷻ كافران نه خوښوي.

شان نزول او ارتباطونه

١ـ د ذكر شوو دواړو ايتونو په شان نزول كښې تقريبًا اووه روايتونه مفسرينو كرامو ليكلي دي[1]، چې مونږ دلته يوازې د دوه روايتونو په ذكر سره اكتفاء كوو:

الف: لكه چې پخوا مو ذكر كړى وه چې د دې سورت د سر ايتونه د نجران د وفد په باره كښې نازل شوى دي، دغو نصاراوو د نبي كريم ﷺ سره د مباحثې په ترځ كښې دا خبره هم وكړه چې مونږ عيسى ﷺ ته ځكه په الوهيت باندې قايل يو چې د الله ﷻ سره محبت لرو او دا كار مو د محبت يو مظهر دى.

د نصاراوو دا بهانه د مشركانو بهانې ته ورته وه چې الله ﷻ د دوى د خولې ځخه فرمايي چې: ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ ﴾ [الزمر: ٣] يعنې: مونږ د بوتانو عبادت نه كوو مگر د دې دپاره چې دوى مو الله ﷻ ته ورنږدې كړي نږدې كول.

د نصاراوو د نه مسلمانېدلو يو مهم عامل دا وه چې دوى خپلو ځانو ته د نورو خلكو ځخه په امتياز باندې قائل وه چې: ﴿ نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ ﴾ [المائدة: ١٨] يعنې: مونږ د الله ﷻ زامن او د ده دوستان ياستو. د الله ﷻ د عذاب ځخه مونږ ته څه خطر نشته مونږ ترې نه دارېږو.

نو الله ﷻ نبي كريم ﷺ ته د دوى د همدې خبرې جواب ورزده كړ چې كه رښتيا د الله ﷻ سره مينه او محبت لرئ زما متابعت وكړئ. زه چې څه وايم هغه ومنئ[2].

---

[1] زاد المسير ج١ ص٣١٨: تفسير البغوي ج١ ص٢٩٣

[2] تفسير الطبري ج٣ ص٢٣٢

ب: کله چې عبد الله بن أُبي (رئيس المنافقين) ذکر شوی جواب واورېده نو په پروپاګند يې شروع وکړه چې نبي کريم ﷺ غواړي چې خپل ځان راته د معبود په صفت جوړ کړي چې مونږ يې عبادت وکړو.

نو الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته د همدې خبرې جواب هم ورزده کړ چې: زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی، زه کوم شخصي اطاعت ستاسو څخه نه غواړم. برسېره په دې، زما خبره د پيغمبر په صفت ومنئ چې د الله ﷻ د احکامو صرف ابلاغ کوم او بس. دا زما احکام نه دي بلکې د الله ﷻ احکام دي[١].

٢ـ په دې مقام کښې د ايتونو د اړوند لاندې وجې ولولئ:

الف: تردې ځايه الله ﷻ د خپل وحدانيت پوره دلايل بيان کړه اوس د نبي کريم ﷺ د رسالت په باره کښې استدلال بيانېږي چې نبي کريم ﷺ ځکه په حقه پيغمبر دی چې د هغه محبت د الله ﷻ د رضا سبب دی او هم د هغه اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی.

ب: د هغو ايتونو مضمون دا وه چې د الله ﷻ د دښمنانو سره محبت مه کوئ او د دې ايتونو مضمون دا دی چې د ده ﷻ د دوستانو سره مينه او محبت وکړئ چې د دوی په اول سر کښې نبي کريم ﷺ واقع دی.

ج: هلته مسلمانان داروړل شوي وه چې د الله ﷻ څخه وېدار شئ او د ده ﷻ رضا حاصله کړئ، دلته هغه طريقه بيانه شوې ده چې د الله ﷻ رضا ورباندې حاصلېدلی شي.

د مطلب خلاصه

١ـ يعني: ای پيغمبره! ټولو خلکو ته اعلان وکړه چې که تاسو غواړئ چې د الله ﷻ سره محبت وکړئ ترڅو د هغه رضا حاصله کړئ او د غضب څخه يې په امن کښې شئ نو لار يې همدا يوه ده چې زما متابعت وکړئ او زما په قدم باندې لاړ شئ چې ذکر شوی مراد مو ترسره شي، الله ﷻ به تاسو محبوب جوړ کړي او درڅخه به راضي شي. برسېره په دې، ګناهونه به هم درته وبښي ځکه چې الله ﷻ بښونکی دی او د نورو نېکو اعمالو توفيق به هم درکړي ځکه چې الله ﷻ مهربان دی.

لنډه دا چې که تاسو د الله ﷻ د محبت ادعاء کوئ نو زما په متابعت کښې يې ښکاره کولی شئ او بس. او که نه نو په محبت کښې يې رښتيني نه ياست دروغ واياست.

٢ـ او ای پيغمبره! خلکو ته بل دا اعلان وکړه: زه چې تاسو خپل متابعت ته رادعوت کوم مطلب مې دا نه دی چې په تاسو باندې خپل شخصي حاکميت قائمول غواړم، بلکې مطلب مې دا دی چې د الله ﷻ اطاعت وکړئ او زما اطاعت ځکه وکړئ چې زه د هغه ﷻ دراستولی شوی بنده يم، نو زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی او د هغه ﷻ بندګي ده، زه غواړم چې تاسو د الله ﷻ بندګان جوړ شئ نه دا چې تاسو زه د خپل ځان بندګان جوړ کړم.

---

(١) روح المعاني ج٣ ص١٣٠

۳_ نو ای پیغمبره! که خلکو ستا ذکر شوي دواړه اعلانونه ومنل خو ډېره ښه ده سمه لاره یې وموندله، او که ورته یې شا کړه نو دوی په غلطه لاره روان او کافران شوه. په تا باندې یې څه ملامته نشته بلکې په همدوی ده الله ﷻ به ورباندې خپل غضب نازل کړي. دا ځکه چې الله ﷻ د کافرانو څخه په بله یوه لار باندې هم نه راضي کېږي، د الله ﷻ د رضا حاصلولو لاره همدا یکې یوه لاره ده او بس، نن ورځ نه عیسویت د نجات لاره ده او نه یهودیت، بلکې بالفرض که موسی ؑ ژوندی وی او عیسی ؑ په ځمکه باندې وی نو هغوی دواړو به هم بله لاره نه وی موندلې.

توضیحات

۱_ په دې مقام کښې د بنده محبت د دې څخه عبارت دی چې یوازې الله ﷻ ته عبادت وکړي او شریک ورسره ونه دروي. او د الله ﷻ محبت دې ته وايي چې ترې راضي شي او ګناهونه ورته عفوه کړي او د نېکیو توفیق ورکړي[1].

۲_ یوه ورځې نبي کریم ﷺ اودس کاوه او ځینو صحابه وو کرامو یې د اوداسه استعمال شوې اوبه په خان پورې موږلې، نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: په تاسو باندې څه باعث دی چې دا کار کوئ؟، هغوی جواب ورکړ چې په مونږ باندې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ محبت باعث دی.

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُحِبَّ اللهَ وَرَسُولَهُ أَوْ يُحِبَّهُ اللهُ وَرَسُولُهُ فَلْيَصْدُقْ حَدِيثَهُ إِذَا حَدَّثَ، وَلْيُؤَدِّ أَمَانَتَهُ إِذَا اؤْتُمِنَ وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهُ»[2] یعنې: هرڅوک چې په دې خوشالېږي چې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ سره محبت ولري او یا په دې خوشالېږي چې الله ﷻ او پیغمبر ﷺ یې محبوب وګرځوي نو رښتیا خبرې دې کوي کله چې ګرېږي او امانت دې سپارې کله چې ورته کېښودل شي او د خپلو ګاونډیانو ګاونډ دې ښه کړي.

د دې حدیث څخه لاندې دوه مطلبه په تبادر سره د سړي ذهن ته ورځي:

الف: علماء کرامو او مشائخو ته په کار دي چې د خپلو شاګردانو او مریدانو څخه د لاسونو په مچو کولو باندې راضي نه شي ترڅو چې شریعت عملي نه کړي او په اسلام باندې منګولې ښخې نه کړي.

ب: شاګردانو او مریدانو ته په کار دي چې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ محبت د استاذانو او مشائخو په لاس مچو کولو کښې تمثیل نه کړي او دا خیال ونه کړي چې د قیامت په ورځ به مو یوازې همدا په کار راشي که شریعت مو عملي کړی وي او که مو د پښو لاندې کړی وي.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحًا وَءَالَ إِبْرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمْرَٰنَ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنۢ بَعْضٍ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ ﴾ 19

(۱) تفسیر روح المعاني ج۳ ص۱۲۹
(۲) شعب الإیمان للبیهقي ج۲ ص۲۰۱

[۳۳] بې شکه الله ﷻ آدم ؑ غوره کړخولی وه، او نوح ؑ هم، او د ابراهیم ؑ ټبر هم، او د عمران ټبر هم، (هر یو د خپلو زمانو) په عالمونو باندې.

[۳۴] په داسې حال کښې چې ځینې د ځینو نورو زېږنده (زوزات) وه، (په دغو ټولو کښې بې یو هم د خپله خانه سره د عبادت په استحقاق کښې شریک نه دی ګرځولی خو) او الله ﷻ (د کافرانو د کفري خبرو) اورېدونکی دی (او د هغوی په اغراضو باندې) پوه دی.

ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایتونو کښې د تېرو شوو ایتونو مضمون په لاندې وجو سره تعقیب شوی دی:

الف: الله ﷻ د انسان د پیدا کولو سره سمه هغه لاره هم ښودلې ده چې سړی وربانډې د الله ﷻ رضا حاصلولی شي. د آدم ؑ څخه نیولې تر آخر الزمان پیغمبر ﷺ (محمد ﷺ) پورې، یو لک څلېرشت زره ـ زیات یا کم ـ پیغمبران علیهم السلام بې د همدې مطلب دپاره استولي دي، نو هیچا ته د اعذر نه پاتې کېږي چې ماته د الله ﷻ د رضا حاصلولو لاره نه وه معلومه.

ب: ټولو پیغمبرانو علیهم السلام یو مطلب تعقیب کړی دی چې د الله ﷻ وحدانیت دی، نو یو پیغمبر منل او بل نه منل غټه خطا ده، لکه اهل الکتاب چې د دې خطا مرتکب شوي دي.

ج: اهل الکتابو خپل خانونه غولولي دي چې موږ د پیغمبرانو اولاده یو. که بالفرض نسب ګټه رسوونکی وی نو ټولو خلکو ته به بې ورسوي څکه چې ټول خلک د پیغمبرانو اولاده ده، لکه آدم ؑ او نوح ؑ

د: که نصارا د عیسی ؑ یا د مریمې علیها السلام په الوهیت باندې قائل دي نو د هغوی پلار خو عمران نومېده، د هغوی د نسب سلسله خو معلومه ده او نسب د الوهیت سره منافي شی دی.

هـ: رښتیا چې دوی دواړه الله ﷻ خپل غوره بندګان جوړ کړي وه مګر د بندګۍ څخه خو وتلي نه وه، که غوره جوړول، د الوهیت معنی ورکوي نو الله ﷻ خو نور بندګان هم غوره ګرځولي دي هغوی ته ولې د الوهیت لقب نه ورکوئ چې په همدوی دواړو پورې مو مختص کړی دی؟ که بالفرض غوره ګرځولو د الوهیت معنی ورکولی نو د هر چا څخه وړاندې باید دا لقب آدم ؑ ته ورکړئ چې ابو البشر دی، بیا نوح ؑ چې آدم ثاني او دوهم ابو البشر دی، بیا ابراهیم ؑ ابو الأنبیاء دی، بیا عمران علیه السلام دی چې ابو مریم او جد عیسی ؑ دی.

ای نصاراوو! ډېر بې انصافه یاست چې مریم علیها السلام او عیسی ؑ هر یو د إله په نامه یادوئ او د دوی دواړو پلار (عمران علیه السلام) ته إله نه وایئ؟ که دلته درسره دلیل نشته نو هلته د دې څخه په غیر څه دلیل لرئ چې هغوی الله ﷻ غوره ګرځولي وه. ایا غوره ګرځول د الوهیت معنی ورکوي؟

۲ـ یعني: الله ﷻ ځمکه د غوره بندګانو څخه نه ده خالي کړې ترڅو په خلکو باندې د الله ﷻ د رضا حاصلولو لاره پټه پاتې نه شي. لاندې څو مثالونه بې ولولئ:

الف: آدم ؑ د غوره بندګانو (پیغمبرانو علیهم السلام) څخه وه چې ملائکو ته بې مسجود وګرځاوه او شیطان بې د دې کبله ملعون کړ چې د ده د سجدې څخه بې انکار وکړ.

ب: نوح ﷺ د الله ﷻ غوره بنده وه، د ده په غوښتنې سره د وخت ټول کافران هلاک شوه حتی چې زوی یې هم د غرقېدلو څخه نجات ونه موند.

ج: د ابراهیم ﷺ په ټبر کښې هم الله ﷻ زښت ډېر غوره بندګان پیدا کړي وه لکه اسماعیل ﷺ، اسحاق ﷺ، یعقوب ﷺ، یوسف ﷺ، موسی ﷺ، هارون ﷺ، محمد ﷺ (آخرالزمان پیغمبر) او داسې نور چې د ابراهیم ﷺ څخه وروسته ټول پیغمبران د همده د نسل څخه مبعوث شوي دي.

د: د عمران علیه الرحمة د ټبر څخه یې مریم رضی الله عنها هم پیدا کړې ده چې په معجزانه توګه یې ورته عیسی ﷺ وبانبه.

ذکر شوي ټول غوره بندګان الله ﷻ د خپل وخت په خلکو باندې ممتاز او لوړ ګرځولي وه، او هم بې ټول د آدم ﷺ څخه په غیر د توالد او تناسل په سلسله موجود کړي وه، چې د بندګانو د پیداکولو عمومي لارده، نو ایا دا مناسبه ده چې اهل الکتاب ځینو ځینو ته په الوهیت باندې قائل شي او د بندګۍ د قید څخه یې ازاد وګڼي؟

۲ـ ای پیغمبره! الله ﷻ د دوی ټول اقوال او چټیات اوري او ستا هلې ځلې هم ترې پټې نه دي. د دوی دا مطلب دی چې په همدې بهانه باندې ستا د نبوت څخه انکار وکړي او دنیاوي جاه او جلال (چې دوی ته په خطر کښې ښکاري) د لاسه ورنه کړي، خو دا مرام به یې هیڅکله ترسره نه شي، په دنیا او آخرت دواړو کښې به د ذلت سره مخامخ شي.

توضیحات

۱ـ د موسی ﷺ پلار هم عمران نومېده او د عیسی ﷺ د نېکه (د بي بي مریمې رضی الله عنها پلار) هم عمران نوم وه، د دواړو عمرانانو په منځکښې تقریبًا آتلس سوه (۱۸۰۰) کاله فاصله وه[۱].

د اول عمران ټبر موسی ﷺ، هارون ﷺ او نور پیغمبران دي چې د هغه په نسل کښې پیدا شوي دي. او د دوهم عمران ټبر عیسی ﷺ او بي بي مریم رضی الله عنها دي.

مفسرینو کرامو ذکر شوي دواړه ډوله تفسیرونه کړي دي مګر د دې مقام سره دوهم تفسیر ښه پیوند خوري ځکه چې:

الف: دلته د نصاراوو د عقیدې رد مطلب دي چې عیسی ﷺ او بي بي مریمې رضی الله عنها ته په الوهیت باندې قائل وه، چې د رد حاصل یې د ارتباط په وجوهو کښې ښه بیان شوی دی.

ب: په راتلونکي ایت ﴿إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ﴾ کښې بالاتفاق د عمران څخه د عیسی ﷺ نیکه مراد دی. نو دلته به هم همدغه مراد وي ترڅو لوستونکو باندې خلط ملط رانه شي ـ والله ﷻ اعلم.

سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د آدم ﷺ او نوح ﷺ سره د "آل" کلمه زیاته نه شوه او د ابراهیم ﷺ او د عمران ﷺ سره زیاته شوه؟

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۳۱

مونږ وایو چې:

الف: د ابراهیم عليه السلام په غوره ګرځولو کښې خو د چا خبره نه وه، خبره په دې کښې وه چې اهل الکتابو خپل خانونه ممتاز ګڼل چې دوی د اسحاق عليه السلام اولاده دي نو الله ﷻ د هغوی نظر رد کړ چې د ابراهیم عليه السلام د ټبر ټول پیغمبران غوره ګرځولی شوي دي چې اسماعیل عليه السلام هم پکښې شامل دی، یوازې اسحاق عليه السلام غوره نه دی لکه چې ستاسو خیال دی.

ب: ترڅو اهل الکتاب متوجه کړی شي چې عیسی عليه السلام او مریم رضي الله عنها معبودان نه دي بلکې د عمران عليه السلام ټبر دي، الله ﷻ غوره ګرځولي دي خو معبودان یې نه دي ګرځولي.

* د همدې کبله په "آلَ عِمْرَانَ" باندې صراحت وکړی شو که نه نو په "آلَ إِبْرَاهِيمَ" کښې خو دوی دواړه هم شامل وه، جدا ذکر کولو ته یې حاجت نه وه.

"ذُرِّيَّةً" څه ته وايي؟

۳_ د [البقرة: ۱۲۴] ایت لاندې د ذکر شوې کلمې په اړوند څه لیکلي شوي دي خو دلته دومره اضافه کوو چې د "ذُرِّيَّةً" اطلاق د پیریانو او انسانانو په اولاده (فروعو) باندې کیږي مګر کله-کله په پلرونو (أصولو) کښې استعمالیږي. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَءَايَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴾ [یس: ۴۱] یعني: او دوی (انسانانو) لره د قدرت یوه نښه دا ده چې د دوی پلرونه مو (د نوح عليه السلام) په ډکه بیړۍ کښې پورته کړه (او د غرق څخه مو نجات ورکړ).

برسېره په دې، که څه هم د ﴿ ذُرِّيَّةً ﴾ د کلمې جمعه "ذریات" او "ذراري" راځي مګر پخپله ذکره شوې کلمه هم په جمعه او مفرد دواړو کښې استعمال مومي، لکه چې په راتلونکي [۳۸] ایت کښې په مفرد کښې استعماله شوې ده.

﴿ إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّىٓ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّى وَضَعْتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلْأُنثَىٰ وَإِنِّى سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّىٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا ٱلْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا قَالَ يَٰمَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ إِنَّ ٱللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾ ﴾

[۳۵] (ای پیغمبره!) هغه وخت (وریاد کړه) چې د عمران ماندینې وویلې چې: ای ربه! یقینًا ما ستا دپاره هغه شی نذر کړی دی چې زما په ګېډه دی، په داسې حال کښې چې (د عبادت دپاره) ازاد

کړي شوی دی، نو زما څخه یې قبول کړې بې شکه ته همدا ته اورېدونکی (قبلوونکی او) پوه یې.

[۳۶] نو کله چې د بي بي مریمې رضی الله عنها مور خپل د ګېډې ماشوم وزېږاوه، ویې ویلې (په غمژنه لهجه) چې: ای ربه! یقیناً ما خو (ما في البطن) نفس ښځینه وزېږاوه. او الله ﷻ خو ښه پوه وه په هغه شي باندې چې هغې (بي بي) زېږولی وه (چې څومره با عزته ماشوم دی. خو دا وریاندې پوهه نه وه) او (تحسراً یې وویلې چې) نارینه خو د ښځینه په شان نه دی (چې په نذر کېښې به قبول شي خو د دې سره سره زه امید کوم).

او بې شکه (ای ربه!) ما هغه مریم (عابده) ونوموله (هیله ده چې ته یې قبوله کړې) او بې شکه زه دې ته او د دې ژوزات ته په تابانده د رټلي شوي شیطان څخه پناه ورکوم (غواړم).

[۳۷] نو بي بي مریم رضی الله عنها د هغې رب په ډېر ښه قبلولو سره قبوله کړه او په ډېر ښه زرغونولو سره یې زرغونه کړه (چې د عیسی علیه السلام غوندې زوی یې وروبانبه) او زکریا علیه السلام یې ورته کفیل وټاکه.

په هر وخت کښې به چې په هغې باندې زکریا علیه السلام عبادتګاه ته ورداخل شو د هغې په نزد به یې (ناآشنا) رزق وموند. (نو) ورته به یې وویلې: ای مریمې! دا درته د کومه شو؟ هغې به (په جواب کښې) وویلې: دا د الله ﷻ د پلوه دی. بې شکه د الله ﷻ چې هر چا ته اراده وشي بدون د حسابه (پریمانه) روزي ورکوي.

ارتباط او د مطلب خلاصه

مونږ مخکښې لیکلي وه چې په دې مقام کښې یو غټ هدف د اهل الکتابو او خصوصاً د نصاراوو د مزخرفې عقیدې رد دی. په دې ایتونو کښې د ذکر شوي هدف یوه مهمه کړۍ بیانه شوې ده چې د معنی حاصل یې داسې کېږي:

الف: د مریمې رضی الله عنها مور د ﴿ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ ﴾ د عمران د مېرمنې په نامه یاده شوه نه د هغې په اصل نامه، ترڅو دوی پوه شي چې مریمه رضی الله عنها د نورو انسانانو په څېر د یوه سړي او یوې ښځې لور وه. لکه چې نورې لورګانې یوه هم معبوده نه شي جوړېدلی نو مریمه رضی الله عنها هم معبوده نه شي جوړېدلی.

ب: کله چې په مریم رضی الله عنها باندې خپله مور د نورو ماشومانو په څېر اُمیدواره شوه هغه دومره هم نه پوهېده چې زما په ګېډه کښې به هلک وي او که جلۍ، د همدې کبله یې په ﴿ مَا فِى بَطْنِى ﴾ سره تعبیر وکړ چې د دواړو امکان یې درلود.

ایا هغه څوک معبود کېدلی شي چې د خپلې مور د ګېډې دوره یې تېره کړې وي؟.

ج: د مریمې رضی الله عنها مور خو هغه شی چې د دې په ګېډه کښې وه (ما في بطنها) د الله ﷻ دپاره نذر وګرځاوه او ویې ویلې: ای الله! همدغه شی مې ستا د عبادت دپاره د ټولو دنیاوي کارونو څخه ازاد ګرځولی دی، ای الله! زما دا نذر قبول کړې.

ایا هغه څوک چې ـ العیاذ بالله ـ پخپله معبود وي د بل چا دپاره نذر جوړېدلی شي؟.

د: د مریمې رضي الله عنها مور خو د نذر د وړاندیز په وخت کښې وویلې چې: ای الله! همدا ته اوریدونکی او پوه یې، زما دا نذر قبول کړې، ته خو پوهېږې چې څومره په اخلاص باندې مې دې کار ته اقدام کړی دی. هغې خو "مَا فِي بَطْنِهَا" ته د "سَمِيع" او "عَلِيم" لقب ورنه کړ نو تاسو څنګه وربانديې د إله نوم ږدئ؟

ه: د مریمې رضي الله عنها مور چې کله هغه وزیږوله نو وېې ویلې چې: ای ربه! ما خو ښځینه ماشوم وزیږاوه. داسې خو یې ونه ویلې چې ما معبود وزیږاوه، چې نه ورته ښځینه ویلی شي او نه نارینه؟.

و: که څه هم نوموړې په ښځینه ماشوم باندې لږ څه غمژنه شوه چې دا به زما په نذر کښې قبوله شي او که نه. مګر الله ﷻ ته د همدې ښځینه ماشوم رتبه او حیثیت معلوم وه چې د خپل وخت په ټولو زنانه وو باندې یې غوره او بهتر ګرځولی وه. اما معبود؟ خو یې نه وه جوړ کړی او نه یې د خانه سره په عبادت کښې شریکه کړې وه.

ز: هغې وویلې چې نر او ښځه سره برابر نه دي، ځکه چې نارینه د عبادت دپاره نذر قبلېدلی شي خو ښځینه نه شي قبلېدلی. دا سې خو یې نه دي ویلي چې معبود او بنده برابر نه دي، تر څو ستاسو ګومان درست وګڼل شي.

ح: هغې وربانديې "مریم" نوم کېښود، د معبود نوم یې وربانديې نه دی ایښی لکه چې تاسو یې وربانديې ږدئ.

ط: هغې د خپلې لور دپاره د الله ﷻ څخه سوال وکړ چې ای الله! د جني او انسي شیطانانو څخه یې په امن کښې وساتې او ته یې نګاهبان شې. نو ایا معبود ته هم د شیطان خطره شته؟.

ي: هغې خو د خپلې لور د اولادې دپاره هم په الله ﷻ سره د شیطانانو څخه پناه وغوښتله. ایا د بي بي مریمې رضي الله عنها زوی (عیسی علیه السلام) چې د خپلې مور په شان د رحم د دورې څخه وروسته زیږېدلی دی، معبود جوړېدلی شي؟ چې تاسو ورته (ثَالِثُ ثَلاثَة) دریم معبود وایاست؟.

عجیبه ده چې نیاګی (د بي بي مریمې مور) وربانديې د شیطانانو څخه دارېدله او تاسو ورته د الوهیت لقب ورکوئ؟.

یا: الله ﷻ د بي بي مریمې د مور سوال په احسن قبول سره ومانه، د یوې خوا یې هغې ته د نذر پوره اجرونه ورکړه او د بلې خوا یې بي بي مریمه د شیطانانو څخه په امن کښې وساتله او پوره تقوی، دینداري، ښه اخلاق، پاک لمنې او روحي اطمنان یې ورکړ: ایا دا صفات د بندګۍ نه دي؟.

یب: الله ﷻ د هغې سوال د مریمې رضي الله عنها د اولادې په باره کښې هم منظور کړ او په ډېره ښه طریقه باندې یې ورته غوره زوی (عیسی علیه السلام) وباښه چې پیدایښت یې هم معجزانه وه، ژوند یې هم معجزانه وه او هم به په معجزانه توګه د اسمانونو څخه د قیامت ورځې ته نژدې رانښکته شي. ایا یو بنده چې د غوره صفاتو خاوند شي، د هغه څخه معبود جوړېدلی شي؟.

یج: د هغې د سوال د قبول یوه نښه دا شوه چې الله ﷻ بي بي مریمې ته زکریا علیه السلام کفیل وټاکه چې د وخت پیغمبر ﷺ وه، د یو پلوه د هر ډول ګناه څخه پاک او معصوم وه او د بل پلوه معنوي

تربیه کوونکی وه. نو مریمه رضي الله عنها لکه چې د خلکو د اتهاماتو څخه بې غمه شوه د ښه استاذ (ښوونکي) شاګرده هم وګرځېدله. ایا معبود هم د چا کفالت یا ښوونې ته اړتیا لري؟.

یو: د قبول بله نښه دا شوه چې بي بي مریمې رضي الله عنها ته الله ﷻ د غیبو څخه څه رزق مقرر کړ چې په هر وخت کښې به زکریا ﷺ د هغې عبادت ځای ته ورننووت هلته به یې نا اشنا روزي لیدله. ایا معبود هم رزق ته اړتیا لري؟.

یه: بله نښه یې دا وه چې بي بي مریمې رضي الله عنها په الله ﷻ باندې پخه عقیده درلوده، هغه پوهېده چې د غیبو روزي شیطاني استدراج نه دی بلکې د الله ﷻ د هغو کراماتو څخه ده چې ماته یې رابښلي دي نو ځکه به یې د زکریا ﷺ د دې سوال ﴿ أَنَّىٰ لَكِ هَـٰذَا ﴾ یعنې: دا درته د کومه شوه؟ جواب ورکاوه چې: ﴿ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ یعنې: دا د الله ﷻ د جانبه ده، بې شکه د الله ﷻ چې چا ته اراده وشي بې حسابه روزي ورکوي.

ای نصاراوو! ایا تاسو د ذکر شوو کراماتو د کبله مریمه رضي الله عنها د اله په نامه یادوئ؟ که داسې وی نو معجزات او کرامات خو پیغمبران او نور ولیان هم لري هغوی ته ولې ذکر شوي لقب نه ورکوئ؟.

توضیحات

۱ـ که څوک وایي: په دې کښې څه حکمت دی چې د بي بي مریمې رضي الله عنها مور په نامه سره یاده نه شوه لکه څنګه یې چې پلار په نامه سره یاد شو؟

مونږ وایو چې: په دې باره کښې راته دوه وجې ښکاري، یوه دا چې نسب د پلار څخه ثابتېږي او په دې مقام کښې د بي بي مریمې رضي الله عنها نسب هدف دی ترڅو د نصاراوو عقیده رده کړی شي چې هغې ته یې درېیم (اله) وایي. او بله دا چې د زنانه وو نومونه دومره شهرت نه لري لکه د نارینه وو نومونه، مونږ پوهېږو چې نوموړې بي بي د خپل نامه څخه په دې ښه وپېژاندله شوه چې عمران ته یې اضافت وکړی شو او ﴿ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ ﴾ وویل شو.

د مریمې د مور نوم

۲ـ د بي بي مریمې رضي الله عنها د مور نوم "حَنَّة" وه چې د "فَاقُوذَا" لور وه، د دې بله خور "اِیْشَاع" نومېده چې د زکریا ﷺ مېرمن او د یحیی ﷺ مور وه[1]، نو په دې تقدیر زکریا ﷺ د بي بي مریمې رضي الله عنها د ترور مېړه (شرعي محرم) ګرځي چې د کفالت دپاره یې ښه مناسبت وه.

ایا د ماشوم نذر کول جواز لري؟

۳ـ د هغه وخت په شریعت کښې جائزه وه چې څوک خپل بو ماشوم د الله ﷻ د عبادت دپاره نذر کړي او د دنیاوي کارونو څخه یې محرر (ازاد) کړي، او شرائع خو په دغسې فرعي احکامو کښې اختلاف لري، خو سره د دې هم که نن ورځ څوک د الله ﷻ سره همدغه ډول معاهده وکړي

---

[1] تفسير البغوي ج۱ ص۲۹۵

مثلا چې خپل فلانی ماشوم به صرف د الله ﷻ د رضا دپاره په شرعي علومو کښې مصروفوم نو بايد چې وفا ورباندې وکړي[۱].

سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د تشبيه په وجه کښې مشبه به اصل وي نظر مشبه ته. نو نظر همدې قاعدې ته بايد په دې مقام کښې داسې ويل شوی وی چې د "وَلَيۡسَ ٱلۡأُنثَىٰ كَٱلذَّكَرِ" زنانه د نارينه په شان نه ده؟!

مونږ وايو چې: په هغه وخت کښې به خلکو ځکه خپل نارينه اولادونه د عبادت دپاره نظر کول چې په ښځينه باندې حيض راځي، د مساجدو خدمت بنه په قوت سره نه شي کولی او د کوره دباندې د تهمت لاندې هم واقع کېږي. نو د بي بي مريمې مور چې کله پوه شوه چې ماشوم انجلۍ ده، نو تحسر(افسوس) او تحزن ورباندې غلبه وکړه چې ايا دا لور به مې د عبادت دپاره نذر ومنله شي او که نه، نو د وارخطانۍ څخه يې د اصل عبارت په ځای مقلوب عبارت استعمال کړ او الله ﷻ مونږ ته عين عبارت رانازل کړ ترڅو د هغې په تحسر باندې مونږ پوه شو.

انسان په دغسې هيجاني حالاتو کښې (د خوشالۍ وي او که د تحسر) خپله اداره د لاسه ورکوي، لکه چې د نبي کريم ﷺ د توبې د فضيلت په هکله په اوږد حديث کښې فرمايي چې: الله ﷻ د بنده پرتوبه باندې د هغه سړي څخه هم زيات راضي کېږي چې په چول بيابان کښې په اذوقه (خوراک څښاک) باندې بار اوښ ترې ورک شي او د نااميدۍ په حالت کښې ډډه ووهي (چې په همدې ځای کښې به مړ شم)، په عين حال کښې ورته په اذوقه باندې بار اوښ سر ته ودرېږي نو د ډېرې خوشالۍ څخه خپله ژبه اداره نه کړی شي ووايي چې: «اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ»[۲] ای الله! ته مې بنده يې او زه دې رب يم. خو اصلي عبارت دا دی چې: "اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ" ای الله! ته مې رب يې او زه دې بنده يم.

مريم څه معنی؟

۵ـ د بي بي مريمې رضي الله عنها مور خپله لور د "مريم" په نامه سره ونوموله ځکه چې د هغوی په لغت کښې مريم د عبادت کوونکې په معنی وه[۳]، او بايد د نېک تفاول دپاره په اولاد باندې ښه معنی لرونکی نوم کېښودل شي لکه چې د عبد الله بن عمر رضي الله عنه د يوې لور "عاصيه" نوم وه (امکان لري چې دا نوم به يې د جاهليت په زمانه کښې ورباندې ايښی وه) خو نبي کريم ﷺ ورباندې "جميله" نوم کېښود[۴] او عاصيه يې ترې لرې کړ.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۱
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۳۵۵
(۳) تفسير کبير ج۸ ص۲۹
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۲۰۸

نوموړې بي بي په خپلې لور باندې پخپله نوم کېښود او د هغې د پلار (عمران) مشورې ته بې تال نه کړه ځکه چې هغه وفات شوی وه او بي بي مريمه رضي الله عنها پس مرګي تولد شوی وه[1]، والله ﷻ اعلم.

په هر تقدير، د نوموړې بي بي د نامه په اېښودلو کښې مطلب دا وه چې: ای الله! که څه هم نور خلک زامن نذر کوي خو زما همدا لور قبوله کړې او عابده (عبادت کوونکې) يې جوړه کړې لکه څنګه مې چې نوم ورباندې مريم (عابده) اېښی دی.

قبول حسنه څه معنی؟

۶ـ د مريمې رضي الله عنها مور دارېدله چې لور (مريم) به يې په نذر کښې قبوله نه شي نو ځکه غمګينه وه، خو الله ﷻ په حسن قبول سره قبوله کړه. امکان لري چې د قبول په باره کښې د وخت په پیغمبر (زکريا عليه السلام) باندې وحي نازله شوې وي او په فوق العاده ډول به منظوره شوې وي. د همدې کبله د نوموړې په کفالت کښې هم مباحثه واقع شوه چې هر يو ورته کانديد وه تردې چې د زکريا عليه السلام سره يې ورباندې قرعه واچوله، چې د همدې سورت د [۴۴] ايت لاندې يې څه نور وضاحت راروان دی.

که قبول يې په امتيازي ډول باندې نه وی شوی نو په کفالت کښې به يې اول چا رغبت نه وی کړی او که کړی يې وی نو پچه اچولو (قرعه اندازی) ته به خبره نه وه رسېدلې، خصوصاً په داسې حال کښې چې د وخت پيغمبر (زکريا عليه السلام) په مقابل کښې ولاړ وه او پچه اچول هم په بل شي کښې نه بلکې د يوې انجلۍ په کفالت کښې وه؛ نو معلومه شوه چې ټول کانديدان په دې باندې پوهېده چې دا کفالت څه معمولي کفالت نه دی.

محراب څه ته وايي؟

۷ـ د محراب کلمه اصلاً د غرفې او لوړې کوټې معنی ورکوي[2]، مګر په دې مقام کښې ترې هغه خانګړې خونه مطلب ده چې بي بي مريمې رضي الله عنها به پکښې عبادت کاوه. دې خونې د بيت المقدس په شاوخوا کښې موقعيت درلود[3].

غيبي رزق څه شی وه؟

۸ـ که څه هم په ايت شريف کښې څرګنده نه ده چې هغه رزق چې بي بي مريمې رضي الله عنها ته ورکول کېده څه شی وه، خو دومره ترې معلومېږي چې عادي رزق نه وه (لکه د اوړي د موسم مېوه به ژمي کښې او د ژمي د موسم مېوه په اوړي کښې)[4]، عجيبه ده چې په بازارونو کښې نه موندله کېږي او د يوې عابدې انجلۍ سره په عبادتګاه کښې هر وخت موجوده وي!

(۱) تفسير القرطبي ج۴ ص۷۱
(۲) تفسير القاسمي ج۴ ص۹۲
(۳) تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۶۳
(۴) روح المعاني ج۳ ص۱۴۰

دا د زکریا ﷺ معجزه هم نه ګڼله کېږي، ځکه چې که د هغه معجزه وی نو هغه ته به معلومه وی او د مریمې رضي الله عنها څخه به یې پوښتنه نه وی کړې. برسېره په دې دغه خارق العاده رزق خو زکریا ﷺ تشویق کړ او وېې هڅاوه چې د الله څخه د زوزاتو سوال وکړي ـ لکه چې راتلوونکی آیت وربانديې شاهدي وايي ـ نو معلومه شوه چې دا د بي بي مریمې رضي الله عنها د کراماتو څخه یو کرامت وه. او الله ﷻ خپلو بندګانو ته دغسې کرامات وربېرزو کوي، لکه چې خبیب ﷺ ته یې هم په خارق العاده ډول باندې د غیبو څخه میوجات ورکول کله چې هغه د کافرانو سره بندي وه[1].

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِى مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّى فِى ٱلْمِحْرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَقَدْ بَلَغَنِىَ ٱلْكِبَرُ وَٱمْرَأَتِى عَاقِرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ۗ وَٱذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٤١﴾﴾

[۳۸] په هماغه ځای (یا هماغه وخت) زکریا ﷺ خپل رب ته سوال وکړ. وېې ویلې چې: ای زما ربه! ماته د خپله جانبه (فضله) پاکیزه (مبارکه) اولاده وبښې. بې شکه ته د سوال اورېدونکی (قبلوونکی) یې.

[۳۹] نو ده ته ملائکو په داسې حال کښې اواز وکړ چې دی (زکریا ﷺ) په عبادتځای کښې ولاړ وه لمونځ یې کاوه چې: یقینًا الله ﷻ تاته په یحیی ﷺ باندې زېری درکوي چې د الله ﷻ د پلوه په فرمان باندې تصدیق کوونکی دی او (په خلکو باندې) د پاسه دی او د خپلو خواهشاتو اداره کوونکی دی او د صالحینو د ډلې څخه پیغمبر دی.

[۴۰] زکریا ﷺ وویلې چې: ای ربه! څرنګه به ما لره هلک موجود شي او حال دا چې ماته زوړوالی رسېدلی دی (بوډا یم) او ماندینه مې (په زوړوالي باندې د پاسه) شنډه (هم) ده.

الله ﷻ وفرمایل چې همدارنګه (خلاف العادة) الله ﷻ هغه څه کوي چې اراده یې وشي.

[۴۱] زکریا ﷺ وویلې چې: ای ربه! ماته (د همدې بشارت په پیل باندې) یوه نښه (نشانه) وټاکې (ترڅو زه پوه شم چې ماندینه مې امیدواره شوه).

الله ﷻ وویلې چې: ستا نښه دا ده چې ته به تر درې ورځو پورې د خلکو سره (د صحت په حالت) خبرې نه شي کولی مګر په اشارو سره.

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۵۶۸

او (د همدې اوسه څخه) خپل رب ﷻ ډېر يادوه (حمد او ثناء يې وايه) او بېګاه او سبا ورته د پاکۍ نسبت کوه (برابره خبره ده چې په لمونځونو کښې وي او که د لمونځونو څخه په غير وي، او هم خپل قوم ته په حمد او په تسبيح ويلو باندې إشارةً توصيه وکړه).

ارتباط

په دې ايتونو کښې هم د توحيد د عقيدې په مخالفينو باندې يو بل تعريضي ګوزار دی چې الله ﷻ بي بي مريمه رضي الله عنها د عمران د ټبر څخه يوه غوره پېغله ګرځولې وه، د انسي او جني شيطانانو څخه يې ورته پنا ورکړې وه، په نذرانه کښې يې قبوله کړې وه او لا په ماشومتوب کښې يې کرامات او خوارق ورکړي وه. خو ای د توحيد مخالفينو! بايد چې تاسو د دې څخه د زکريا عليه السلام په خبر د عبرت درس واخلئ، هسې نه چې په الوهيت باندې ورته قائل شئ او معکوسه نتيجه ترې پورته کړئ.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: کله چې زکريا عليه السلام د يوه پلوه د بي بي مريمې رضي الله عنها (يتيمې انجلۍ) تقوی او عبادت وليد او د بله پلوه يې د هغې په مستمري توګه خوارق او کرامات د نظره تېر بدل، نو مبارک زړه يې وغوښتل چې کاشکې ما هم د بي بي مريمې په څېر صالح اولاد درلودی.

بالآخره دا ولوله يې په ذهن کښې قوي او غښتلې شوه نو په هماغه ځای او يا په هماغه وخت کښې يې خپل رب ته د سوال لاسونه پورته کړه او ويې ويلې: ای ربه! د اولاد ظاهري وسائل خو نشته، چې زه بوډا يم او مېرمنه مې بوډۍ ده، خو صرف د خپل فضل د پلوه راته مبارک زوزات (ذريه) راکړې چې د مريمې رضي الله عنها په څېر ستا په بندګۍ او اطاعت کښې بوخت وي او زما سترګې درباندې يخې شي، بې شکه همدا ته ﷻ سوال قبولوونکی او اورېدونکی يې او بس.

۲ـ زکريا عليه السلام لا په خپله عبادتګاه کښې په لمانځه ولاړ وه او د حاجت لمونځونه يې کول چې بوې ملکې نه بلکې د ملکو يوه ټولې ورباندې د الله ﷻ د پلوه د سوال د قبول او د اولادې د ښېښلو زېرې وکړ چې: ای زکريا! مونږ خو لا څه چې الله ﷻ تاته په داسې زوی سره زېرې درکوي چې نوم يې هم درباندې پخپله ايښی دی چې يحيی (نعمة الله) نومېږي او په هغو ټولو صفاتو باندې موصوف دی چې ستا زړه يې غواړي، هغه دا دي چې نوموړی ولد به د الله ﷻ په فرامينو . باندې تصديق کوي که څه هم هغه فرامين د عادت څخه بهر وي، د وخت په ټولو خلکو باندې به په تقوی، علم، حلم او زهد کښې د پاسه وي او د بو مشر په صفت به ورته کتل کېږي، ټولې انساني قُوې به د ده د کنټرول لاندې وي او په خپلو خواهشاتو باندې حاکم وي، په پيغمبرۍ کښې به ستا قائم مقام (ځايناستی) شي او د صالحانو (پيغمبرانو) څخه به يو پيغمبر وي.

۳ـ څرنګه چې زکريا عليه السلام د داسې زوی بشارت واورېده چې د هغه د هيلې څخه لوړ وه او حتی چې د بي بي مريمې رضي الله عنها څخه هم په پورته درجه کښې وه (په دې معنی چې مريم رضي الله عنها پيغمبره

نه وه یوازې د الله ﷻ دوسته وه او یحیی ﷺ برسېره په الهي ولایت پیغمبر هم وه) نو تلوسه یې لا نوره زیاته شوه چې تر سپینې ږیرې پورې یې عادي اولاد هم نه وه او اوس ورته د یوه پیغمبر زوی زېری ورکړی شو او زېری هم د الله ﷻ د جانبه.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه یې د اولاد موانع په ذهن کښې وګرځېده چې د هغوی یې اثره کول هم په خپل ذات کښې یو لوی نعمت وه، نو د ډېرې خوشالۍ څخه یې د ملائکو څخه خپله توجه الله ﷻ ته واړوله او عرض یې وکړ چې: ای ربه! ماته به هلک د کومه شي، زه بوډا او ښځه مې شنډه بوډۍ ده؟، نو د ملائکو بشارت ورکونکي ټولګي ورته دا هم وویلې چې ستا رب وايي چې دا کارونه الله ﷻ ته اسان دي هغه ﷻ هغه څه کوي چې اراده یې وشي نو په ذکر شوي صفاتو سره ستایل شوی زوی درکول یې درته خوښ کړیی دی، بې غمه اوسه دا کار کېدونکی دی.

۴_ کله چې زکریا په بشارت (زېري) باندې پوره مطمئن شو نو ویې غوښتل چې د بشارت په تحقق باندې هم خان مطمئن کړي چې کله به ذکر شوی بشارت د عمل جامه واغوندي، نو خپل رب ته یې سوال وکړ چې: ای ربه! زه بنده او انسان یم په هره ساحه کښې اطمنان ته اړ یم نو یوه نښه رانه څرګنده کړې چې ترڅو زه د بشارت په تحقق باندې مطمئن شم.

۵_ الله ﷻ وویلې چې نښه یې دا ده چې ته به د صحت په حالت کښې تر درې ورځو پورې د خلکو سره خبرې نه شې کولی مګر یوازې په اشاراتو باندې به ورسره خپل مشکلات حل کوې، چې یا به ورته په لاس، یا په سراو یا په سترګو اشاره کوې او بس.

نو څرنګه چې د الله ﷻ د ذکر څخه ستا ژبه بنده نه ده نو خپل رب ﷻ ډېر یادوه او بېګا او سبا د الله ﷻ تسبحات وایه او د ذکر شوی نعمت شکریه کوه.

توضیحات

۱_ د بي بي مریمې رضي الله عنها د کراماتوڅخه دا هم وه چې الله ﷻ زکریا ﷺ ته د اولاد شوق په زړه کښې ورواچاوه. په بل عبارت: زکریا ﷺ ته الله ﷻ د هغې د کفالت اجر په دنیا کښې د یحیی ﷺ په ښېلو سره ورکړ او د آخرت اجرونه خو یې لا پاتې دي.

برسېره په دې، د بوډا مېړه او بوډۍ شنډې ښځې څخه د یحیی ﷺ ولادت داسې ګڼل کېږي لکه چې د عیسی ﷺ د تولد دپاره مقدمه وي ترڅو خلک د توالد او تناسل په هکله د خوارقو سره اشنا شي او د عیسی ﷺ بې پلاره زېږېدنه ورته بعیده ونه برېښي او یا وریاندې غلطه عقیده ونه کړي لکه چې نصاراوو ورته د الوهیت لقب ورکړی وه.

"هنالک" څه معنی؟

۲_ د "هُنَا، هُنَاكَ، هُنَالِكَ" درېواړه کلمو باندې مکان ته اشاره کېږي، چې اوله د نژدې مکان، دوهمه د متوسط مکان او درېیمه د لرې مکان دپاره وضعه شوي ده. مګر په دې خای کښې دا هم

احتمال شته چې زمان ته اشاره وي[۱]، داسې معلومېږي چې د بي بي مریمې رضي الله عنها د عبادتخای په شاوخوا کښې د زکریا علیه السلام عبادتخای هم موجود وه. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ [مریم: ۱۱] یعنې: نو زکریا د خپل عبادتخای څخه په خپل قوم باندې ورووت نو هغوی ته یې اشاره وکړه چې سبا او بېګا د الله ﷻ تسبیحات وایئ چې زما سره په شکریه کښې شریک شئ.

نو غالبه هم دا ده چې همدغه مکان ته به ﴿ هُنَالِكَ ﴾ سره اشاره شوې وي.

سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په دغه وخت کښې چې زکریا علیه السلام الله ﷻ ته د اولاد سوال وکړ د ده علیه السلام عمر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روایت سره سم یو سلو شلو (۱۲۰) کالو ته او د ماندینې عمر یې ۹۸ کالو ته رسېدلی وه، سره د دې چې شنډه هم وه[۲]، نو څه باعث وه چې په دې وخت کښې یې الله ﷻ ته سوال وکړ؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو خو د همدې باعث په متعلق زښت ډېر څه لیکلي دي[۳]، خو مونږ ته چې ښه ښکاري هغه دا دي:

الف: الله ﷻ د زکریا علیه السلام د خولې څخه فرمايي چې: ﴿ وَإِنِّي خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِى ﴾ [مریم: ۵] یعنې: او زه د خپلوانو څخه داربږم چې زما څخه وروسته پاتې کېږي. یعنې په دوی کښې اهل سړی نشته نو که زه وفات شم زما د نبوت مېنه به سپېره شي او هیڅوک به ورباندې پاتې نه شي، نو اولاد راوبښه چې زما وارث وګرځي.

ب: کله چې زکریا علیه السلام د بي بي مریمې رضي الله عنها په کفالت سره د ماشومانو سره ناسته ولاړه زیاته شوه او د همدې ماشومې دینداري او تقوی یې ولیده نو ناڅاپه یې دې ته فکر شو چې که ما ماشومان درلودی هغوی به هم همدغسې دینداره وی او خلکو ته به یې خیر رسېدلی. نو سوال یې وکړ چې ای الله! تاته خو اوس هم د ماشوم راکول څه مشکل نه دي.

ج: چې کله یې په خپلو سترګو باندې د بي بي مریمې رضي الله عنها کرامات ولیده او ترې متاثره شو نو دې ته هم متوجه شو چې که په همدې حالت کښې زه د اولاد پلار شم نو دا به د خلکو دپاره یوه عجیبه معجزه جوړه شي امکان لري چې بې دینه خلک دینداره شي.

د: بالآخره، د بي بي مریمې رضي الله عنها د کراماتو څخه دا هم ده چې د زکریا علیه السلام اولاد ته مېنه پیدا شوه. یا په بل عبارت: یحیی علیه السلام د خلکو اذهان اماده کړه چې د عیسی علیه السلام په بې پلاره تولد باندې باور وکړي او انکار ترې خپل نه کړي.

---

(۱) تفسیر کبیر ج۸ ص۳۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۷۹
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۴۴

یادونه

۴ـ خيني مفسرين كرام وايي چې د زكريا ﷺ د سوال كولو او اجابت په منځكښې شپېته كاله تېر شوه⁽¹⁾، مگر د ﴿ فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ "نو ملائكو ورته اواز وكړ" څخه معلومېږي چې د سوال او اجابت وختونه سره يو په بل پسې متصل وه.

د "يحيى" د كلمې لغوي معنى

۵ـ كه څه هم خينو مفسرينو كرامو د يحيى كلمه عربي گڼلې ده خو مونږ ته دا ښه ښكاري چې دا عبراني كلمه ده. د دې خبرې يو دليل داى چې: زكريا ﷺ او د شاوخوا خلكو ژبه عبراني وه امكان لري چې هغوى به په عربي باندې د سره نه پوهېده. او بل دليل يې دا دى چې: په عبراني ژبه كښې يحيى د "نِعْمَةُ الرَّب" معنى وكوي⁽²⁾، او همدا معنى د دې مقام سره ښه مناسبه ده.

خو عجيبه دا ده چې په بي بي مريمې رضي الله عنها باندې د هغې مور مريم (عابده يا خادمه) نوم كېښود هماغسې عابده او خادمه جوړه شوه، او په يحيى ﷺ باندې الله ﷻ د "يَحْيَى" نوم كېښود او د خپل نامه په شان د خلكو د هدايت دپاره يو نعمت جوړ شو.

په "كلمة الله" باندې تصديق څه معنى؟

۶ـ كه څه هم خينو مفسرينو كرامو د ﴿ بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ څخه څه نورې معناوې اخستې دي⁽³⁾، مگر اكثره علماء كرام ترې عيسى ﷺ مرادوي. همدا تفسير د رئيس المفسرين (عبد الله بن عباس رضي الله عنهما) څخه هم روايت شوى دى⁽⁴⁾.

عيسى ﷺ ته خكه د "كلمة الله" لقب وركول شوى دى چې نوموړى په فوق العاده توگه بې پلاره د پاک لمنې پېغلې (مريمې) د گېډې څخه د الله ﷻ په فرمان (كُنْ) سره پيدا شوى دى. داسې گڼل شوې دي لكه چې د عيسى ﷺ ټول بدن د الله ﷻ فرمان وي، دغه ډول "مبالغه ډولې" كلمې په عربي ژبه كښې ډېرې اورېدلې كېږي لكه چې هغوى وايي: "زَيْدٌ عَدْلٌ" زيد سوچه عدل دى. يعنې: دومره لوى عادل دى ته به وايې چې ټول بدن يې د عدل څخه جوړ شوى دى.

پاتې شوه دا خبره چې د عيسى ﷺ تصديق خو هر مسلمان كړى دى او كوي يې چې په حقه پيغمبر دى او په معجزانه توگه باندې دنيا ته راغلى دى، نو د څه امتياز د كبله د يحيى ﷺ په سوانحو كښې د ﴿ مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ منقبه زياته شوه.

د دې پوښتنې جواب خينو مفسرينو كرامو داسې كړى دى چې: د ټولو مسلمانانو اولنى سړى يحيى ﷺ وه چې په عيسى ﷺ باندې يې باور او تصديق كړى دى. او دا خكه چې په ذكر شوي

---

(۱) تفسير كبير ج۸ ص۴۱
(۲) تفسير القاسمي ج۴ ص۹۵
(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۲۹۹
(۴) تفسير الطبري ج۳ ص۲۵۳؛ روح المعاني ج۳ ص۱۴۷

روایت کښي دا خبره هم شته چي: یوه ورځي بي بي مریمه (رض) په داسي حال کښي چي نبي ﷺ بي په ګېډه وه د خپلي ترور (إیشاع) سره ملاقي شوه په داسي حال کښي چي د هغي یحیی ﷺ په ګېډه وه. نو إیشاع بي بي خپلي خورزي (بي بي مریمي رض) ته وویلي چي کوم ماشوم چي زما په ګېډه دی هغه ماشوم ته سجده کوي چي ستا په ګېډه دی. وروسته معلومه شوه چي د هغي په ګېډه عیسی ﷺ وه او د دې په ګېډه یحیی ﷺ وه.

نو دغه په ګېډه کښي میلان دوی د تصدیق په معنی اخستی دی، نو په دې اعتبار سره رښتیا چي د یحیی ﷺ ځخه ټول مسلمانان په تصدیق کښي وروسته دي.

د عبدالله بن عباس رض په نوموړي روایت کښي دا هم شته چي یحیی ﷺ د عیسی ﷺ ځخه صرف شپږ میاشتي مشر وه، یعني یحیی ﷺ لا تولد شوی نه وه چي په عیسی ﷺ باندي خپله مور امیدواره شوه،

مونږ وایو چي: د رئیس المفسرین په روایت کښي محضي یوه واقعه بیان شوې ده اما د ﴿مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ﴾ دپاره تفسیر نه شي واقع کېدلی. ځکه چي

الف: د تصدیق تفسیر په سجده باندي ډېر بعید دی سره د دې چي په عیسی ﷺ باندي تصدیق کول فرض دي او سجده کول ورته حرام دي.

ب: د یحیی ﷺ مور چي د خپل ماشوم میلان په سجده باندي تعبیر کړی دی دا د هغي یو نظر دی هیڅکله په ګېډه کښي د ارخ په بدلون باندي د سجدې اطلاق نه کېږي.

ج: د ﴿مُصَدِّقًا﴾ کلمه د یحیی ﷺ د افتخاراتو په مقام کښي استعماله شوې ده دا خو په هغه وخت کښي افتخار ګڼل کېږي چي هغه په خپل ژوند کښي په خپله ژبه د عیسی ﷺ د حقانیت اعلان کړی وي نه دا چي د دوه ښځو ځخه په غیر وړباندې بل څوک خبر هم نه وي. او دوی دواړو هم د ارخ په بدلون باندي د تصدیق نوم ایښی وي.

د: ځینې مفسرین کرام وایي چي یحیی ﷺ د عیسی ﷺ ځخه درې کاله مشر وه نو په دې اعتبار سره د ذکر شوي روایت مصداق تحقق نه شي موندلی[1]، نو ښه دا ده ــ والله اعلم ــ چي د ذکر شوي منقبې د تخصیص وجې به دغه لاندې وي:

اول: یحیی ﷺ به خپل تصدیق د استدلاله پورې نه وي معطل کړی او د عیسی ﷺ د تکلم ځخه مخکښي به یې رښتینی ګڼلی وي او نور خلک به په معجزانه تکلم باندي قانع شوي وي. د همدې کبله د "صدیق" لقب یوازې ابو بکر الصدیق رض ته ځکه خانګړی شوی دی چي د ده ایمان راوړل په معجزو پورې نه وه معطل کړی.

دوهم: د یحیی ﷺ تصدیق په ماشومتوب کښي وه لکه ځنګه چي نبوت ورته په همدې کم عمر کښي ورکړی شوی وه. الله ﷻ فرمایي: ﴿وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا﴾ [مریم: ١٢] یعني: او یحیی ﷺ ته مود ماشومتوب په حال کښي نبوت ورکړی وه.

---

(1) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۳۲

دریم: نوموړي منقبه د دې کېله د یحیی ﷷ په مناقبو کښې زیاته شوه چې د توحید په مخالفینو باندې تعریضي رد راشي، چې یحیی ﷷ د بي بي مریمې رضي الله عنها او د عیسی ﷷ د برکاتو څخه دنیا ته راغی خو په دواړو باندې بې د بندګانو عقیده درلوده، نه د معبودانو. که بالفرض کراماتو او خوارقو د الوهیت معنی ورکولی نو د هر چا وړاندې بهورباندې یحیی ﷷ عقیده کړې وی.

سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: د یحیی ﷷ د بشارت په وخت کښې خو نه عیسی ﷷ موجود وه او نه یې د "کلمة الله" لقب، دا لقب خو د معجزانه زېږېدنې څخه وروسته ورکړی شوی دی. نو په هغه وخت کښې به زکریا ﷷ څه خبر وه چې "کلمة الله" د چا لقب دی او په دې باندې عقیده کولو څه اهمیت درلود؟

مونږ وایو چې: زمونږ قوي اټکل دا دی چې د عیسی ﷷ د عجیبه پیدایښت واقع کېدلو خبر به پخوانیو پیغمبرانو ورکړی وه چې یو ماشوم به بې پلاره د یوې پیغلې څخه تولد کېږي او هغه ته به د "کلمة الله" لقب ورکول کېږي. علاوه په دې که نورو خلکو ته دا معلومات نه وه، نه به وه، خو زکریا ﷷ به ضرور په دې موضوع واقف وه. والله ﷻ أعلم.

"حَصُور" څه معنی؟

۸_ "حَصُور" یا په معنی د محصور سره دی، یا په معنی د "حَاصِر" سره؛ که په اوله معنی شي نو حاصل یې داسې کېږي چې یحیی ﷷ د دې څخه بند (ایسار) کړی شوی وه چې زنانه وو ته نږدېکت وکړي. یعنې قدرت یې ورباندې نه درلود. خو دا معنی د نبوت د منصب سره مناسبه نه ده که څه هم ځینو مفسرینو کرامو لیکلې ده[۱].

برسېره پر دې، زکریا ﷷ د الله ﷻ څخه داسې ماشوم غوښتی وه چې د نسل قابلیت لري ځکه چې په ﴿ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً﴾ "مبارک زوزات" سره یې ترې تعبیر کړی وه نو معلومه شوه چې په یحیی ﷷ کښې د ذکوریت صفت کمزوری نه وه. هو! دا بېله خبره ده چې واده یې ونه کړ او اولادونه یې تولد نه شوه.

او که په معنی د حاصر سره واخستل شي نو معنی یې داسې کېږي چې یحیی ﷷ خپل انساني قوتونه د خپل کنترول لاندې راوستلي وه او عفت یې دومره قوي وه تا به ویل چې د نږدېکت هیڅ قوت نه لري.

د همدې مضمون څخه الله ﷻ په بل ځای کښې داسې تعبیر کړی دی چې: ﴿وَكَانَ تَقِيًّا ۝ وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا﴾ [مریم:۱۳، ۱۴] یعنې: او یحیی ﷷ تقوی دار سړی وه او د مور او پلار سره نېکي کوونکی وه او سرکښه او ګناهګار نه وه

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۴۸؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۶۱

"سَیِّدً" څه معنی؟

۹ـ "سَیِّدً" خو اصلا هغه چا ته وايي چې د سواد أعظم (لوی تولي) واګې یې په لاس کښې وي او تقوی مشر وي. د همدې کبله د قوم مشر ته "سَیِّدُ الْقَوْمِ" ویل کېږي مګر هغه څوک چې د فضائلو خاوند وي او په نورو خلکو فوقیت ولري هغه هم د "سَیِّدً" په نامه یادېږي[1].

په دې مقام کښې په همدې معنی باندې استعمال شوی دی چې یحیی علیه السلام په نورو خلکو باندې په تقوی، علم، عبادت، حلم او نورو فضائلو کښې د پاسه وه حتی چې خلکو ورسره ډېره مینه او محبت هم درلود. دا هغه تفسیر دی چې مونږ ته ښه ښکاري، که نه نو مفسرینو کرامو د "سَیِّدً" دپاره ډېرې معناوې کړې دي[2].

سوال جواب

۱۰ـ که څوک وايي: یحیی علیه السلام خو خلکو شهید کړ نو که څه سیادت او فوقیت یې درلودې نو ولې به یې ورسره دغسې وضعه کولی؟

مونږ وایو چې: یحیی علیه السلام په خلکو باندې فوق وه او ټولو خلکو ورته په درانه نظر کاته، مګر دوی به یې د پیغمبرۍ سره دښمني درلوده حتی چې آخر یې شهید کړ.

د دې نظیر داسې دی لکه چې الله جل جلاله عیسی علیه السلام ته د ﴿ وَجِيهًا فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْآخِرَةِ ﴾ [آل عمران: ۴۵] د دنیا او آخرت د مخور لقب ورکړی دی خو د یهودو د دښمنۍ د کبله اسمان ته بوتللی شو، ځکه چې خلک یې د پیغمبرۍ سره مخالف وه او بس. د همدې کبله دا واقعه د دعوت په دوره کښې پېښه شوه نه د دعوت څخه وړاندې.

نکاح بهتره ده که نفلي عبادت ته فراغت؟

۱۱ـ د "حَصُورً" په کلمه باندې شوافعو علیهم الرحمة استدلال نیولی دی چې د نکاح څخه د عبادت دپاره تجرد بهتر دی. دوی وايي چې د یحیی علیه السلام د مناقبو څخه دا هم وشمېرله شوه چې هغه نکاح نه وه کړې او خپل ځان یې عبادت ته فارغ کړی وه.

احناف علیهم الرحمة وايي چې خبره بالعکس ده، نکاح کول د دې څخه بهتر دي چې سړی خپل ځان عبادت ته فارغ کړي. د دوی دلایل زښت ډېر دي چې د ټولو لیکنه دلته مشکله خبره ده خو په لاندې څو دلایلو باندې اکتفاء کوو:

الف: پخپله د یحیی علیه السلام پیداکېدل دلالت کوي چې نکاح بهتره ده که نکاح نه وی نو زکریا علیه السلام به د یحیی علیه السلام غوندې متقي زوی د کومه کړی وی، همدارنګه د پیغمبرانو علیهم السلام او ولیانو موجودیت د نکاح د بهترۍ نښه ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۵۳
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۳۲۶.

ب: نبي كريم ﷺ فرمايي: «النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي فَمَنْ لَمْ يَعْمَلْ بِسُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي»[١] يعني: نكاح كول زما طريقه ده ځوک چې زما په طريقه باندې عمل نه کوي هغه زما څخه نه دی.

ج: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ»[٢] يعني: په نكاح باندې واخلئ محبت كوونكې ښځې او اولاد راوړونكې ښځې، بې شكه د قيامت په ورځ به زه به نورو اُمتونو باندې ستاسو په ډېروالي سره د ستاينې غلبه ترلاسه كوم.

او د پخوانيو اُمتونو احكام زمونږ دپاره هلته شريعت ګرځي چې په مقابل كښې يې زمونږ په شريعت كښې حكم موجود نه وي او په دې مقام كښې خو د "حَصُور" د كلمې په مقابل كښې بې شماره نصوص موجود دي، نو زمونږ په شريعت كښې تجرد كمال نه دی كه د هغوی په شريعت كښې كمال وه، وه به.

يوه عجيبه پوښتنه او د هغې جواب

١٢ـ عجيبه دا ده چې كله زكريا ﷺ د الله ﷻ كامل قدرت ته په خير شو نو سوال يې وكړ چې اى ربه! ما ته مبارك اولاد راوبښه، خو كله چې الله ﷻ زيرى وكړ چې سوال دې قبول شو نو بيا يې وويل چې: ﴿أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ﴾ ماته به زوى د كومه شي چې زه داسې او ماندينه مې داسې ده؟!

د همدې معضلې د حل دپاره مفسرينو ډېر اوږده جوابونه كړي دي حتى چې ځينې جوابونه خو د نبوت د منصب سره مناسب هم نه دي، مونږ ټول نه شو رانقلولی كه ځوک يې شوق لري نو همغه دې مراجعه وكړي[٣]، خو صرف په لاندې جوابونو اكتفاء كوو:

الف: زكريا ﷺ د خپل اطمنان د حاصلولو دپاره ذكره شوې جمله ويلې او د اطمنان حاصلول د پوخ اعتقاد سره څه منافات نه لري لكه چې ابراهيم ﷺ د مړو په ژوندي كېدلو كښې خپل ځان ته حاصل كړ: [البقرة: ٢٦٠].

ب: كله چې چا ته يوه خبره مزه وركړي نو د هغې خبرې په تكرارولو باندې لا زيات خوشالېږي او ځومره چې خبره اوږدولی شي اوږده وي يې.

الله ﷻ موسى ﷺ ته وفرمايل چې: ﴿وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَىٰ﴾ يعني: اى موسى! په دا لاس كښې دې څه شى دی؟. خو موسى ﷺ په همدې اكتفاء ونه كړه چې: ﴿هِيَ عَصَايَ﴾ يعني: دا زما همسا ده. بلكې خبره يې اوږده كړه چې: ﴿أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ﴾ [طه: ١٧ـ ١٨] يعني: په دې باندې تكيه كوم او مېږو ته ورباندې پاڼې راځنډم، او ماته په دې كښې نور احتياجات هم شته.

يو حنفي شاعر ويلي دي چې:

---

(١) سنن ابن ماجه ج١ ص١٣٣

(٢) سنن ابي داود ج١ ص٢٨٠

(٣) تفسير كبير ج٨ ص٤١؛ روح المعاني ج٣ ص١٤٩؛ البحر المحيط ج٢ ص٤٤٩؛ زاد المسير ج١ ص٣٢٨

أعدْ ذكر نعمان لنا إنّ ذكرَه :: هوَ المِسكُ ما كررته يتضوع

یعني: د نعمان (أبو حنیفه رحمه الله) یادونه راته بیا-بیا وکړه، بې شکه د ده یادونه مشک دي چې حرکت ورکوې خوشبویي یې زیاتېږي.

نو مراد چې زکریا علیه السلام غوښتل چې د ولادت په موانعو باندې خان پوه کړي چې کار خو کېدونکی دی خو چې د بوداتوب مسئله به څنګه شي. الله ﷻ جواب ورکړ چې: ﴿ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ﴾ [مریم: ۹] یعنې: د یحیی علیه السلام پیدا کول ماته اسان دي. یعنې موانع ما موانع جوړ کړي دي دلته بې موانع نه جوړوم دا کار فوق العاده دی.

والله ﷻ أعلم- چې زکریا علیه السلام به د دې څخه مطلب دا وه چې د موانعو بې اثره کول هم یو نعمت دی هیله ده د دې نعمت زېری هم راکړی شي. لکه چې همداسې وشوه.

یوه عجیبه نښه!

۱۳_ څرنګه چې د زکریا علیه السلام د ماندینې د امیدواره جوړېدلو او د هغې ولادت ترمنځه اقلاً د شپږو میاشتو څخه نیولې تر نهو میاشتو او یا لا د دې څخه هم زیات وخت په کار وه چې تېر شي، نو زکریا علیه السلام الله ﷻ ته سوال وکړ چې: د ماندینې د امیدواره کېدلو نښه راته وټاکه ترڅو د یو پلوه زړ لا ډېر زیات مطمئن شم او د بلې خوا څخه لا د اوس څخه شکرېې ته ملا وتړم او خپل اُمتیان هم ورته وهڅوم او د نهو میاشتو پورې یې ونه ټالوو.

نو الله ﷻ ورته داسې عجیبه نښه وښودله چې په مطلب باندې یې هم دلالت کاوه خو په عین وخت کښې د شکر اداء کولو دپاره ډېره ګټوره هم وه. هغه دا چې د امیدوارۍ نښه به دا وي چې ته به روغ رمټ یې ګوزن او ګونګوالی به نه لرې خو د دې سره-سره به د خلکو سره خبرې نه شې کولی او د الله ﷻ ذکر او حمد او تسبیح به ویلی شې، ترڅو د شکر اداء کولو ته بنه فارغ شې.

لکه څنګه چې د یوې بوډۍ، شنډې مېرمنې أمیدواره کېدل عجیبه دي همدارنګه د أمیدوارۍ نښه هم عجیبه ده چې یوه ژبه په یو وخت کښې د الله ﷻ په ذکر ښورېږي خو د خلکو په خبرو باندې نه ښورېږي!

په دې مقام کښې هم مفسرینو کرامو ځینې خبرې لیکلې دي[1]، چې د یو پیغمبر د شانه سره مناسبې نه دي نو ځکه مونږورباندې تېره کېښودله.

رَمز څه معنی؟

۱۴_ "رَمْز" اصلاً حرکت ته وایي، د همدې وجې څخه دریاب ته "راموز" هم وایي[2]. په دې مقام کښې ترې هغه ټول اشارات مرادېدلی شي چې د تکلم څخه پرته په مطلب باندې لاربښوونه وکړي. لکه په سر باندې، په لاس باندې، په سترګو باندې، په وريځو باندې اشارې کول.

---

[1] تفسیر القرطبي ج۴ ص۸۰

[2] روح المعاني ج۳ ص۱۵۱

خو زکریا ﷺ په مسبحه ګوته خپل قوم ته اشاره کړې ده(۱)، الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُواْ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ [مريم: ۱۱] يعني: نو خپل قوم ته اشاره وکړه چې سبا او بیګا د الله ﷻ تسبیح ولولئ.

﴿ وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾ يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ﴾

[۴۲] او هغه وخت (وریاد کړه) چې ملائکو وویلې: ای مریمې! بې شکه چې الله ﷻ ته غوره کړې يې (کرامات يې درکړي دي) او پاکه يې ساتلې يې (د هر ډول ظاهري او باطني نجاست څخه) او د ټولو عالمونو په زنانه وو باندې يې تاته فضیلت درکړی دی.

[۴۳] ای مریمې! د خپل رب دوامدار اطاعت کوه او سجدې کوه او د رکوع کوونکو سره رکوع کوه.

ارتباط

د دې مقام د وړاندې ببرته ایتونو هدف دا دی چې د عمران د ټبر د غوره جوړولو څرنګوالی بیان کړي ترڅو د توحید ضد عناصرو ته ځرګنده شي چې هغوی غوره بندګان دي خو معبودان نه دي.

د همدې هدف په ترڅ کښې د څه ارتباط د کبله د زکریا ﷺ او د یحیی ﷺ څه حالات هم په عارضي توګه بیان شوه، نو چې کله دغه عارضي کړه تمامه شوه اوس دا دی بیا اصلي هدف تعقیب شو او د بي بي مریمې رضي الله عنها (چې د عمران د ټبر څخه وه) څه نور کرامات بیان شوه. خو هرڅومره چې د همدې بي بي افتخارات اضافه کېږي په هماغه معیار يې بندګي هم قوت مومي او د عبادت په کلکو اوامرو باندې مخاطبه ګرځي.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! د توحید مخالفینو ته د مریمې رضي الله عنها د طفولیت د دورې د حالاتو څخه علاوه د هغې څه نور حالات هم وریاد کړه کېدی شي چې تاثیر وریاندې وکړي او د توحید عقیدې ته راوګرځي.

دوی ته هغه وخت وربه زړه کړه چې ملائکو مریمې رضي الله عنها ته وویلې چې: ای مریمې! بې شکه الله ﷻ د عمران د ټبر څخه ته غوره ګرځولې يې، چې په نذرانه کښې يې قبوله کړې او ستا څخه په غیر بله زنانه دغه منصب ته نه ده رسېدلې، دا ویاړ یوازې همدا ستا په برخه شو، د شیطانانو څخه يې درته پناه درکړه، د زکریا ﷺ غوندې عالي شانه پیغمبر ﷺ يې ستا دپاره کفیل وټاکه او د غیبي رزق په ورکړه يې سرلوړې کړې.

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۰۰

۲ـ برسېره په دې، د ناوړو او ذمیمه اخلاقو او مزخرفو عقاندو څخه او د زنانه وو د ماهوار نجاست څخه بې هم پاکه وساتلې، بالآخره دومره امتیازات یې ورکړه چې په خپلې زمانه کښې په نړیواله کچه په ټولو ښځو باندې ممتازه او غوره جوړه شوې. ستا ځینې امتیازات خو څرګند شوي دي او ځینې نور به وروسته څرګند شي چې الله ﷻ به درته په معجزانه توګه زوی درکړي بیا به نو ته پوه شې چې ستا امتیاز دومره لوړ دی چې د هیڅ زمانې زنانه پکښې ستا سره سیالي نه شي کولی او ستا غوندې د اولاد مور نه شي جوړېدلی. نو همدې عالمي امتیاز ته د ښه استعداد موندلو دپاره ته په کار دي چې د الله ﷻ عبادت ډېر-ډېر وکړې.

۳ـ ای مریمې! څومره چې ستا امتیازات او افتخارات لوړېږي په هماغه معیار باندې ستا د شکرانې او بندګۍ مسئولیت هم درنېږي، نو په دوامداره توګه د خپل رب ﷻ (حقیقي نعمت ورکوونکي) اطاعت کوه او سجدې کوه او رکوع کوه (لمونځونه کوه) د رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو) سره.

توضیحات

۱ـ په دې کښې ټول امت متفق دی چې بي بي مریمه د ولایت خاونده او د الله ﷻ دوسته وه، لکه چې فرمایي: ﴿وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٌ﴾ [المائدة: ۷۵] یعني: او د عیسی ﷺ مورصدیقه وه. خو په دې کښې اختلاف دی چې پیغمبره وه او که نه. څوک یې چې په پیغمبرۍ باندې قائل دي هغوی ذکر شوي اېتونه دلیل نیسي چې ملائکو ورته د الله ﷻ اوامر ورسول او خبرې یې ورسره وکړې.

۲ـ اما جمهور علماء ورته په پیغمبرۍ باندې قائل نه دي او وایي چې الله ﷻ پیغمبري په نارینه وو کښې حصره کړې ده، لکه چې فرمایي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡ﴾ [الأنبياء: ۷] یعني: مونږ ستا څخه مخکښې پیغمبران نه دي استولي مګر سړي چې هغوی ته به مو وحې کوله. او د ملائکو سره مکالمه د نبوت غوښتنه نه کوي، لکه چې د بدر په غزا کښې مسلمانانو ملائک ولیدل او خبرې یې هم ورسره وکړې[۱].

برسېره په دې، د نبوت منصب ډېر درونړ دی، زنانه یې د باره نه شي وتلی او نه یې په هر وخت او هر ځای کښې خلکو ته رسونه کولی شي، او په پیغمبرۍ کښې خپل اُمت ته دعوت ورکول مهم رکن دی.

څلور ښځې کمال ته رسېدلې دي

۲ـ د نبي کریم ﷺ څخه روایت دی چې: «حَسْبُكَ مِنْ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَخَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ»[۲] یعني: بس دې دي د عالمونو د زنانه وو څخه

[۱] روح المعاني ج۳ ص۱۵۴
[۲] جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۷

(کومې چې کمال ته رسېدلې دي) څلور زنانه دي، مریم د عمران لور، خدیجه د خُویلد لور، فاطمه د محمد ﷺ لور او آسیه د فرعون ماندینه.

ځینې مفسرین وايي چې په دغو څلورو واړو کښې فاطمه رضي الله عنها د ټولو څخه افضله ده[1]، نو په دې بناء د ﴿ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ معنی داسې کېږي چې حضرت مریمه رضي الله عنها د خپلې زمانې په زنانه وو باندې غوره ګرځولې شوې ده، فاطمه رضي الله عنها خو د هغې د زمانې ښځه نه وه.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې په دې حیثیت سره بي بي مریمه رضي الله عنها د ټولې دنیا د ښځو څخه بهتره ده چې په نذر کښې قبوله شوه او په معجزانه توګه د پیغمبر (عیسی ﷺ) مور جوړه شوه. په دې صفت باندې بله ښځه په هیڅ زمانه کښې نه ده نېره شوې، والله ﷻ أعلم.

بي بي مریمه مطهره وه

۳_ که څه هم بي بي مریمه رضي الله عنها الله ﷻ د ظاهري او باطني نجاستونو څخه پاکه ساتلې وه، خو ځینې مفسرین وايي چې حیض همورباندې نه راته[2]، ترڅو په نوموړې باندې داسې وخت رانه شي چې په هغه کښې د الله ﷻ د عبادت جوګه نه وي.

برسېره په دې د ﴿ وَطَهَّرَكِ ﴾ معنی دا نه ده چې په تا کښې نجاست موجود وه او هغه درڅخه الله ﷻ لرې کړ او پاکه یې کړې، بلکې معنی یې دا ده چې د نجاستونو څخه یې پاکه لوېه کړې؛ ځکه چې هغې ته خو الله ﷻ لا د ماشومتوب څخه خوارق او کرامات ورکړي وه. نو ذکره شوې جمله داسې ده لکه چې عرب وايي "ضيق فم البئر" د څا خوله تنګه کړه. یعنې د څا خوله تنګه جوړه کړه. یا په بل عبارت: تنګ خولې څا وکنه.

په لمانځه باندې ماموریت

۴_ ځینې مفسرین وايي چې بي بي مریمه رضي الله عنها په لمانځه باندې ماموره شوې وه خو د مبالغې په توګه یې ورته د لمانځه نوم وانخست بلکې د لمانځه مهم درې ارکان یې ذکر کړه چې یو قیام دی (چې په قنوت سره یې تعبیر کړ) او بل سجده او درېم رکوع ده[3].

خو ځینې نور مفسرین وايي چې قنوت د اطاعت د دوام په معنی سره دی او د لمانځه څخه یوازې په دوه رکنونو سره (رکوع، سجده) د مبالغې په توګه تعبیر کړی شوی دی[4].

پاتې شوه دا خبره چې په عملي صورت کښې رکوع مخکښې ده خو دلته بالعکس سجده مخکښې ذکر شوه. د دې جواب دا دی چې په عربي ژبه کښې عاطف "واو" یوازې د جمعې دپاره دی او په ترتیب باندې دلالت نه کوي. نو د دې څه باک نشته چې رکوع په ذکر کښې وروسته ده او په عمل

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۵۵
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۲۵
(۳) البحر المحیط ج۲ ص۴۵۶
(۴) تفسیر المراغي ج۳ ص۱۵۱

کښې مخکښې ده، البته نکته به پکښې دا وي چې ﴿ وَٱرۡكَعِي ﴾ د ﴿ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ سره اتصال ومومي او یا به پکښې د فواصلو مراعات شوی وي.

برسېره پر دې د ﴿ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ د کلمې څخه معلومېږي چې نوموړې بي بي د جمعې په لمانځه باندې مکلفه شوې وه. او یا به په هغې زمانه کښې دوه ډوله لمونځ مشروع وه چې په ځینو کښې به رکوع وه لکه زمونږ لمونځونه او په ځینو کښې به رکوع نه وه لکه په موجوده زمانه کښې د یهودو او نصاراوو لمونځونه، نو هغې ته به امر شوی وي چې د رکوع کوونکو د ډلې څخه خپل ځان وشمېره. او د هغوی غوندې لمونځ وکړه[۱] نه د هغو خلکو غوندې چې رکوع نه کوي ـ والله ﷻ أعلم.

یادونه

"مَعَ الرَّاكِعَات" څخه ځکه ونه ویل شوه چې په دې مقام کښې مطلب دا دی چې د رکوع کوونکو د ډلې څخه ځان جوړ کړه، برابره خبره ده چې هغه نارینه وي او که زنانه، او دا مطلب د ﴿ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ څخه ترلاسه کېدلی شي چې د تغلیب په توګه زنانه وو ته هم شاملېږي اما د "مَعَ الرَّاكِعَات" کلمه په نارینه وو باندې د تغلیب په توګه نه ده استعماله شوې.

یو تذکر

۵ـ څرنګه چې د ذکرې شوې څلورمې توضیح په باره کښې مفسرینو کرامو خپل تفاسیر په احتمالاتو باندې بناء کړې دي او په کوم مستند تفسیر باندې مو سترګې ونه لګېدلې نو مونږ هم محض احتمالات ذکر کړه او ترجیح مو ورنه کړې شوه.

﴿ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۚ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يُلۡقُونَ أَقۡلَٰمَهُمۡ أَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ مَرۡيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۴۴] دا (تېر شوی بیان) د غیبو د خبرونو څخه دی چې مونږ یې تاته وحي کوو او ته خو د هغوی سره په هغه وخت کښې موجود نه وې چې هغوی (د پېچې اچولو د کبله) خپل کاغذات اچول (ترڅو معلوم کړي چې) څوک به د مریمې کفالت کوي، او نه د هغوی سره په هغه وخت کښې موجود وې چې دوی (په همدې باره کښې) په جګړه بوخت وه.

ارتباط

که څه هم په تېر شوو ایتونو کښې مهم هدف د الله ﷻ د توحید په مخالفینو باندې رد وه خو دغه ایت شریف د همدغه هدف په ضمن کښې یوه بل مهم هدف ته هم اشاره کوي هغه دا چې د نبي کریم ﷺ په حقه پیغمبر دی. او دا ځکه چې په یو شي باندې د پوهېدلو سبب خو یا عقل دی یا خبر

(۱) تفسیر الکشاف ج۱ ص۳۶۲

دی او یا مشاهده ده. څرنګه چې تاریخي پېښې په عقل سره نه شي جوړېدلی او مشاهده هم دلته محاله ده نو بله لاره پاتې نه شوه بې د خبر څخه.

په اخباراتو کښې د راویانو سلسله ضرور ده او لیک لوست هم پکښې په کار دی، تولو خلکو نه څرګنده وه چې په هغه وخت کښې د راویانو سلسلې موجودیت نه درلوده، او لیک لوست هم د نبي کریم ﷺ زده نه وه، نو بله لاره پاتې نه شوه بې د دې چې نبي کریم ﷺ ته ذکر شوي غیبي اخبارات د الله ﷻ د پلوه وحې شوې دي، همدا د پیغمبرۍ معنی ده.

هېر مو نه شي!

هېر مو نه شي که څه هم ځینې نور غیبي اخبارات په راتلونکو ایتونو کښې هم بیانېږي خو الله ﷻ وړاندې د نبي کریم ﷺ د پیغمبرۍ تبصره د ټولو غیبي اخباراتو د بیان د آخره پورې ټال نه کړه او دلته په منځکښې یې ذکره کړه، شاید چې په دې کښې به لاندې نکتو ته اشاره وي:

الف: د نبي کریم ﷺ د پیغمبرۍ په حقانیت باندې یوازې د ذکر شوو احوالاتو بیان هم د دلالت دپاره کافي دی، حاجت نشته چې راتلونکي غیبیات ورسره پیوسته کړی شي.

ب: ترڅو راتلونکي غیبیات په همدې مطلب باندې دوهم دلیل قائم کړی شي، که بالفرض دا ایت د ټولو غیبیاتو د بیان په آخر کښې ذکر شوی وی نو د ټولو څخه به یو استدلال جوړ شوی وی.

ج: ترڅو چې د نبي کریم ﷺ د رسالت حقانیت په نظر کښې ونیول شي او راتلونکی غیبي اخبار ولوستل شي، کېدی شي چې موثر تمام شي او د توحید مخالفین د عیسی ﷺ د الوهیت د عقیدې څخه منصرف شي.

د مطلب خلاصه

یعني: ذکر شوي ټول بیانات غیبي بیانات دي چې تر اوسه پورې ته په خپله هم خبر نه وې، خو دا ستا د پیغمبرۍ برکت دی چې ټول یې درته په مخکښې کېښودل او داسې په اطمنان او جرئت سره یې څرګندوې لکه چې تا په خپلو سترګو لیدلي وي او د دې ټولو واقعاتو په پېښېدلو کښې ته هلته حاضر وې او د هغو ټولو جزئیات دې حفظ کړې وي.

برسېره په دې د ذکرو شوو واقعاتو نور جزئیات لا هم تاته درښودلی شوي که هغه هم بیان کړې نو مخالفین به دې بالکل هک پک پاتې شي، چې دوی د مریمې رضی الله عنها په کفالت کښې څنګه پچه اچونه (قرعه اندازي) وکړه، او په دې باره کښې یې څومره مباحثه او شور او کړپ وکړ، او پچه اچوونکي څوک وه، په دوی څه باعث وه چې د مریمې رضی الله عنها د کفالت ته هر یو لیوال وه او بالآخره په جګړه باندې څومره وخت تېر شو؟ او داسې نور.

توضیحات

١ـ مونږ د دې سورت د [٣٧] ایت لاندې لیکلي دي چې د وخت خلک ټول په دې پوهېدهٔ چې د بي بي مریمې رضی الله عنها کفالت څه معمولي کفالت نه دی نو ځکه وړاندې مباحثه او جګړه آن د

پېچې اچولو درجې ته ورسېده، دا هم د الله ﷻ فضل وه چې په پچه اچولو باندې يې سره قناعت وکړ.

بالفرض که زمونږ د زمانې خلک هلته وی نو ګومان نه کوم چې جګړه به يې فيصله شوې وی، مونږ به سره په جګړه وی او بي بي مريمه رضي الله عنها به بې سرپرسته او بې کفالته ناسته وی. لکه چې نن ورځ په افغانستان کښې مجاهدين په ناندريو اخته دي او اسلامي حکومت د دوی څخه يو سرپرست غواړي او يوه کفيل ته منتظر دی خو افسوس چې مجاهدين ورته کفيل نه شي په ګوته کولی او موضوع تر اوسه پورې لا ينحله پاتې ده.

۲ـ که څه هم ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې نوموړي کفالت ته ځکه هر څوک په شوق کښې وه چې عمران (د بي بي مريمې رضي الله عنها پلار) په هغه وخت کښې مخور سړی وه او د پيغمبر (زکريا ﷺ) څخه په غير يو مذهبي مشر وه، که څه هم هغه په دغه وخت کښې وفات شوی وه خو د هغه د سترګو او د هغه د احترام د کبله هر چا د هغه د لور (بي بي مريم رضي الله عنها) کفالت ته زور کاوه چې ماته به لاس ته راشي او زه به ورباندې د خپل مذهبي مشر حق په ځای کړم.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې په دوی باندې به د بي بي مريمې رضي الله عنها خپل شخصيت باعث وه چې هر يوه يې کفالت ته ځان وړاندې کاوه، د هغې شخصيت خو به هلته په وحې ثابت شوي وي چې په نذرانه کښې قبوله شوه او پخوا دغسې کار نه وه شوی، ښکاره ده چې قبول هغه وخت تحقق موندلی شو چې د وخت پيغمبر ته وحې شوې وي. او يا به د پخوانيو پيغمبرانو څخه دا خبره پاتې وه چې يوه انجلۍ به په نذرانه کښې قبلېږي، نو هر يو به د ثواب او اجر په تمه کفالت ته کانديد شوی وي.

۳ـ خو د دې ټولو توجيهاتو سره-سره مونږ تر اوسه پورې قلبي اطمنان نه لرو چې اصلي باعث به په دوی باندې څه شی وه. ځکه چې:

الف: د قرعه اچوونکو په قطار کښې زکريا ﷺ هم ولاړ ښودل شوی دی او اُمتيان چې د خپل پيغمبر سره قرعه کشي کوي دا چندان مناسب کار نه دی نو په دوی باندې به څه باعث وه چې دغه غير مناسب کار ته يې اقدام کاوه.

ب: زکريا ﷺ د بي بي مريمې رضي الله عنها د ترور مېړه (شرعي محرم) وه، کانديدانو دغه مناسبت هم د پښو لاندې کړی دی، په کار وه چې هغه ته يې بي بي د چون او چرا ورتسليمه کړې وی. الله ﷻ پوهېږي چې اصلي وجه به څه وه.

د آقلام څخه څه شی مراد دی؟

۴ـ د "قَلَم" کلمه اصلا د يوه کلک شي پرې کولو ته وايي او پرې کړی شوي څنډې ته يې "قلم" وايي[۱]. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْفِطْرَةُ خَمْسٌ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَنَتْفُ الْإِبْطِ»[۲] يعني: د فطري (قديمي) سنتو څخه دغه پنځه شيان دي: سنت کيري، د نامه لاندې

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۷

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۸۷۵

ویښتانو خړېل، د برېتونو لنډول (اخستل)، د نوکانو پرېکول، د تخرګونو ویښتانو د ښځه ویستل

زما په ګومان "اَقلام" دلته د "قلم" جمعه ده. یعني: د کاغذاتو وړې وړې پرېکړې شوې ټوټې چې په قرعه کشۍ کښې ترې کار اخستلی کېږي. امکان لري چې دلته په داسې ډول قرعه کشي شوې وي چې هر یوه برخه وال به په یوه کاغذ باندې خپل-خپل نوم لیکلی وي او بیا به هر چا خپل کاغذ یو پټ ځای ته ورواچولی وي. لکه یوه کڅوړه او یا د کوم نفر راټوله کړی شوې لمن او یا د څادر یوه راغونډه کړی شوې جولونګه، او بیا ئورته حرکت ورکړی شوی وي او د کاغذاتو ټوټې به ښې ګډې وډې کړی شوې وي، چې هیڅ برخه وال به خپل کاغذ نه پېژانده، بیا به یې د همدې ناآشنابۍ په حال کښې یوه کس ته اجازه ورکړې وي چې د کاغذاتو د جملې څخه یو کاغذ راوباسه د هر چا نوم چې وریاندې لیکلی شوی وي همدغه سړی به د بي بي مریمې رضی الله عنها کفیل وي. نو همغه سړي ته به الله ﷻ د زکریا علیه السلام کاغذ لاس ته وروستلی وي او کفالت به یې ګټلی وي.

دا وه هغه کیفیت چې سړي ته د ایت شریف څخه په تبادر سره ذهن ته ورځي. مګر مفسرینو کرامو لیکلي دي چې "اَقلام" د "قَلَم" جمعه ده، او هغه قلمونه مراد دي په کومو باندې چې د تورات لیکونکو تورات لیکه[1] نو همدا قلمونه به یې د قرعه کشۍ دپاره د تبرک د کبله انتخاب کړی وي.

د قرعه کشۍ څرنګوالی یې داسې ښودلی دی چې: ټول کاندیدان د زکریا علیه السلام په شمول د اردن دریاب ته لاړه او پرېکړه یې وکړه چې هر څوک به خپل قلم سیند ته وراچوي نو د هر چا قلم چې د اوبو په جریان کښې لګ ودرېږي او اوبو د ځانه سره مخ ښکته لاهو نه کړ د همغه قلم خاوند به د بي بي مریمې رضی الله عنها د کفیل په حیث منل کېږي. کله چې دغه عملیه تر سره شوه نو کفالت د زکریا علیه السلام په برخه شو[2]، په داسې حال کښې چې لږ څه وړاندې د ده هغه غوښتنه چا نه وه منلې چې زه به د مریمې کفیل شم.

یادونه

۵ـ زمونږ نظر دا دی چې که د پخچې اچولو کیفیت همداسې اجراء شوی وی لکه چې ذکر شو، نو دا کار به ضرور د وحې په هدایت باندې شوی وي. او دا ځکه چې:

الف: دوی څنګه جرئت وکړ چې خپل مبارک قلمونه (چې تورات به یې وریاندې لیکه) دریاب ته ګوزار کړي په داسې حال کښې چې بېرته به د دریاب څخه لاس ته ورشي او که نه؟

ب: دا څه معلومه وه چې نور ټول قلمونه به اوبه وړي او یکې یو قلم به په اوبو کښې نېغ ودرېږي، دوی څنګه مطمئن شوه چې ټول قلمونه دې اوبه لاهو نه کړي؟

ج: د پخچې اچولو په باره کښې دومره تاو راتاو لارې ته څه حاجت وه؟ چې بي بي مریمه رضی الله عنها د بیت المقدس ترڅنګ بې سرپسته ناسته وي او کاندیدان دې د اردن دریاب ته د کفالت د ټاکلو دپاره تللې وي. ولې همدا پخچه اچونه ځای په ځای په اسانه طریقه ونه کړی شوه.

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۵۹
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۶۳

لنډه دا چې که دا کار د الله ﷻ په هدايت باندې شوی وی نو (عَلى الرَّاسِ وَالْعَيْنِ) په سر او سترګو باندې يې منو او که نه نو هماغه طريقه خوښوو چې وړاندې ذکره شوه، زما سره د دغې طريقې نقلا څه ثبوت نشته.

﴿ إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ٱسْمُهُ ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِى بَشَرٌ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾ ﴾

[۴۵] هغه وخت (وریاد کړه) چې ملائکو ووېلې: ای مریم! بې شکه الله ﷻ تاته د خپله جانبه په يوې کلمې (فرمان) سره زېرى درکوي چې (لقبي) نوم يې المسيح (مبارک) دى او محضه نوم يې عيسى دى (او کنيه نوم يې) د مريمې زوی دی. په داسې حال کښې چې په دنيا او آخرت کښې مخور دى او (د الله ﷻ) د مقربو بندګانو څخه دى (خو په الوهيت کښې ورسره شريک نه دی).

[۴۶] او د خلکو سره به په زانګو (ماشومتوب) او د پاخه عمر په حال کښې (په يو شان) خبرې کوي. او د صالحانو د ډلې څخه دی.

[۴۷] مريمې ووېلې: ای ربه! څرنګه به ما لره ولد (زوی) موجود شي چې بالکل انسان نه يم مسه کړې؟!

رب يې ووېلې چې (خبره) همداسې ده، الله ﷻ هغه څه پيدا کوي چې اراده يې وشي (دغه ماشوم ته يې اراده شوې ده، دا کار څه اسبابو پورې توقف نه لري) په هر وخت کښې چې الله ﷻ د يو کار د پيدا کولو فيصله وکړي نو يقيناً ووايي چې: شه (موجود شه!) نو هغه شي (موجود شي).

ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د هغو څو خبرو بيان وه چې ملائکو بي بي مريمې رضي الله عنها ته د مقدمې په توګه کړې وې ترڅو د دې بي بي ذهن د مهم هدف د بيان دپاره اماده کړي. په دې ايتونو کښې هماغه مهم هدف بيان شوی دی چې د عيسى عليه السلام زېرى دى. که بالفرض هغې ته بې مقدماتو زېرى ورکړې شوی وی نو امکان يې درلوده چې هغې يې د تحمل توان نه وی درلودلی.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای پيغمبره! د توحيد مخالفينو ته هغه وخت هم وريه زړه کړه چې ملائکو خپلو خبرو ته ادامه ورکړه او مريمې رضي الله عنها ته يې ووېلې چې: مونږ زېرى نه درکوو بلکې يقيناً الله ﷻ په الهي فرمان سره زېرى درکوي، دا زېرى يې د الله ﷻ د خپله جانبه يو فضل او پېرزوينه ده، هسې نه چې

تا ترې غوښتې وه. دا الهي فرمان ستا يو مبارک زوی دی چې لقبي نوم يې المسيح دی او محضه نوم يې عيسی دی او کنيه نوم يې ابن مريم دی. خو په نومونو کښې يې اله، معبود، او بل داسې نوم نشته چې د بندګۍ څخه په لوړوالي دلالت وکړي.

۲_ دغه هلک به پلار نه لري يوازې ستا زوی به وي او همدا ستا د زوی په نامه به يادېږي، دا خبره به د ده په عزت باندې کوم تاثير ونه کړي چې پلار ته نه بلکې مور ته يې نسبت کېږي نو د همدې کبله په دنيا او آخرت کښې مخور او د عزت خاوند دی، په دنيا کښې به ورته کتاب ورکړې شي او د يو پيغمبر په حيث به امت ولري او په آخرت کښې به هم د اولو العزمو پيغمبرانو په ډله کښې ودرولی شي. او په دې ټولو باندې د پاسه به د الله ﷻ په نزد د مقربو بندګانو څخه وي.

۳_ د دغه ماشوم يو لوی امتياز به دا وي چې د ماشومتوب په حالت کښې به داسې فصيحې او بليغې خبرې وکړي لکه څنګه يې چې د کهولت په دوره کښې کوي. د نورو ماشومانو که پاخه عمر ته په رسېدلو باندې عقل پخېږي د ده به آن د زانګو په حالت کښې هم عقل پوخ او کامل وي، د عمر په پخېدلو به يوازې د ده بدن وده ومومي او بس. دغه ماشوم به د صالحانو څخه وي ښه اخلاق به ولري او د نورو خلکو په اصلاح کښې به تاند وهي.

۴_ مريمې رضي الله عنها د اسبابو موانعو ته اشاره وکړه او د خپل زړه د اضطراب د لرې کولو دپاره يې پوښتنه وکړه چې ماشوم به ماته د کومه شي حال دا چې ماته تر اوسه پورې په شرعي توګه هم هيڅ انسان لاس نه دی راوړی.

الله ﷻ د ملائکو په خوله وفرمايل چې خبره همداسې ده، څه کوزو پاس پکښې نشته، الله ﷻ هغه څه پيدا کوي چې اراده يې وشي برابره خبره ده چې اسباب وي او که نه، بلکې اسباب همده ﷻ اسباب ګرځولي دي. د ده ﷻ اراده د اسبابو پورې توقف نه لري.

بلکې د الله ﷻ د تکويني امر پورې توقف لري، کله چې الله ﷻ د يو شي د پيدا کولو فيصله وکړي نور څه نه وايي فقط همدومره وايي چې "شه" هغه بيا شوی وي. نو همدارنګه به تاته هم الله ﷻ د همدې فرمان په صادرولو سره ماشوم درکړي چې شه هغه به بيا شوی وي.

توضيحات

۱_ په دې مقام کښې د عيسی عليه السلام څخه په لاندې څلورو تعبيراتو باندې تعبير کړی شوی دی:

الف: "کلمة الله" د دې تعبير وجه موږ د دې سورت د نهه دېرشم ايت لاندې بيانه کړې ده خو دلته دومره ليکو چې ځينو مفسرينو کرامو نورې وجې هم اضافه کړې دي[۱]، که څوک يې د لوستلو شوق لري هلته دې مراجعه وکړي.

ب: "مسيح" په عبراني لغت کښې مبارک ته وايي، که څه هم ځينو مفسرينو کرامو دا لفظ عربي ګڼلی دی او تکلفًا يې ورته ډېرې وجې بيانې کړې دي مګر بهتره دا ده چې يې ضرورته په دغسې

(۱) تفسير المنار ج۳ ص۳۰۴؛ احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۴

تکلفاتو کښې سرې خان وانه چوي، که څوک یې دا د عربیت دلیل ګڼي چې د تعریف لام وربانديې داخل دی هم سهوه کېږي ځکه د تعریف لام خو په اتفاقي عجمي کلماتو باندې هم داخلېږي چې په عربي کلام کښې استعمال شي. لکه: التوراة، الإنجیل، الإسکندر او داسې نور.

هو! دجال ته هم مسیح ویل شوی دی چې هغه بالاتفاق عربي دی او د نومولو وجه یې دا ده چې هغه "ممسوح العین" دی، یوه سترګه یې د انګور په شان تیغه راختلې ده. او یا دا ده چې "ماسح الأرض" دی چې د مکې او مدینې څخه په غیر به په ټوله ځمکه کښې په ډېرې جلتی سره وګرځي او هر ځای ته به خان ورسوي[1].

که څه هم "کلمة الله" او "المسیح" دواړه لقبي نومونه دي چې په صفتونه باندې دلالت کوي نو په کار وه چې د محضه نوم څخه وروسته ذکر شوی وی.

مګر کله-کله القاب د اصلي نومونو (أعلامو) څخه زیات شهرت لري لکه چې راشدین خلفاء په القابو سره زیات مشهور دی او ښه وربانديې پېژاندل کېږي. دلته هم القاب ډېر شهرت لري نو د ښه معرفت دپاره مخکښې ذکر کړی شو.

ج: "عیسی" دا کلمه هم عبراني ده چې په عربي کښې په مُخلص سره ترجمه شوې ده[2].

د: په "ابْنُ مَرْيَمَ" (د مریمې رضي الله عنها زوی) باندې ځکه یاد کړی شو ترڅو د اول وخت څخه څرګنده شي چې دغه ماشوم به پلار نه لري، دا ځکه چې د نسب په سلسله کښې خو نسبت پلار ته کېږي او بس.

سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ذکر شوي بشارت کښې بي بي مریمه رضي الله عنها مخاطبه ده نو په کار وه چې کنیه نوم یې په "ابْنُكِ" (ستا زوی) سره تعبیر شوی وی؟

مونږ وایو چې: د کنیه نامه په ذکر کښې مطلب دا نه وه چې بي بي مریمې رضي الله عنها ته یې وروپېژني بلکې مطلب پکښې دا وه چې خلک به یې په دې کنیه نوم باندې یادوي، او ښکاره ده چې د "ابْنُكِ" کنیه خو ورته د حاضرو خلکو څخه په غیر بل چا نه شوه استعمالولی.

عیسی علیه السلام وجیه (مخور) وه

۳_ څرنګه چې د خلکو په عادت کښې زنانه وو ته منسوبیت دروند نظر نه دی، لکه چې پښتانه د "کونډې زوی" د تحقیر دپاره استعمالوي او همدارنګه د جنګ او جګړې په وخت کښې د کنځلو په شکل وایي چې: ای د فلانکی زویه (د مور نوم یې اخلي). نو د همدې اشتباه د پورته کولو دپاره الله جل جلاله د ﴿ٱبْنُ مَرْيَمَ﴾ کلمه په ﴿وَجِيهًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ﴾ سره تعقیب کړه چې ذکري شوې اشتباه ته ځای پاتې نه شي.

(۱) تفسیر الکشاف ج۱ ص۳۶۳؛ روح المعاني ج۳ ص۱۶۱؛ زاد المسیر ج۱ ص۳۳۱
(۲) تفسیر القاسمي ج۴ ص۱۰۰

کهل کوم عمر دی؟

۴_ "کَهْل" هغه عمر ته وايي چې د سړی وېښتان سپینېدلو ته نژدې شي، لکه چې عرب وايي "اکْتَهَلَ النَّبَاتُ" شنه گیاه وچېدلو ته نژدې شوه[۱]، نو که مونږ د کهل څخه په دې مقام کښې په پوخ عمر سره تعبیر وکړو بده نه ده.

يادونه

۵_ که څوک شوق لري چې د انسان (نارينه وي او که زنانه) په نومونو باندې پوه شي چې د جنين د حالت څخه تر انتهائي زوړوالي پورې نارينه تقريبًا په نهه ويشتو نومونو باندې يادېږي او زنانه تقريبًا پنځلس نومونه لري، نو لطفًا دې اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي[۲].

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وايي چې په پوخ عمر کښې خو هر څوک خبرې کوي نو د "کَهْل" په ذکر کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو: امکان لري چې دا به د لاندې مطالبو دپاره ذکر شوي وي:

الف: چې د نوموړي ماشوم خبرې به دومره پخې او معقولې وي ته به وايي چې د پوخ عمر خاوند باتجربه سړی گړېږي. يعنې: د دواړو عمرونو خبرې به يې يو شان وي، او د ماشومانو په شان به پکښې تکنی تېکنی نه کېږي.

ب: ترڅو بي بي مريمې رضي الله عنها ته د دې زېرى هم ورکړی شي چې دغه ماشوم به آن پوخ عمر ته ورسېږي.

عيسى عليه السلام په طفوليت کښې يو څل خبرې وکړې

۷_ د دې خبرې تفصيل په [مريم: ۳۰_ ۳۳] ايتونو کښې راتلونکی دی چې په مور باندې يې خلکو تهمت ولگاوه او عيسى عليه السلام برائت ورکړ، پاتې شوه دا خبره چې د همدې وخت څخه په خبرو باندې راغی او که نه عادي خبرې يې د نورو ماشومانو په توگه په عادي ډول سره وکړې؟

که څه هم د دواړو شقونو طرفداران شته خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: د معجزې خبرې همدا يو څل وې، بيا د نورو ماشومانو په ډول په کراره کراره په خبرو باندې راغی[۳]، مونږ همدې ته ترجيح ورکوو ځکه چې د معجزې سره همدا يو څل ښه تناسب لري.

سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: د دې څه سبب دی چې دغسې عجيبه کار په نصاراوو کښې په تواتر سره نه دی رانقل شوی، بلکې هغویورباندې هيڅ قائل نه دي؟

(۱) مفردات الراغب ص ۴۶۰
(۲) روح المعاني ج۳ ص ۱۶۳
(۳) البحر المحيط ج۲ ص۴۶۲؛ الدر المنثور ج۲ ص ۲۰۰

مونږ وایو چې: د هغوی په منځکښې یې چې شهرت نه لري وجې یې دغه دي:

الف: نصارا خو عیسی ﷺ ته په الوهیت باندې معتقد دي که په ذکر شوې خبره باندې اقرار وکړي نو خپل خانونه به په خپله ملامته کړي، ځکه چې د هغه (عیسی ﷺ) په خبرو کښې دا هم وه چې: ﴿إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ﴾ [مریم: ۳۰] بې شکه زه د الله ﷻ بنده یم (اله نه یم). خو کاشکې دوی دا هم د خپل پیغمبر په فضائلو کښې ذکر کړې وی.

ب: لکه چې مخکښې واضحه شوه نوموړې خبرې کول دوامداره نه وه چې بو خل هماغو خلکو نه قناعت ورکړی شو چې د بي بي مریمې رضي الله عنها د استنطاق دپاره راغونډ شوې وه، او ښکاره ده چې همدغه مجلس ته خو ټول عام او خاص خلک نه وه ورغونډ شوي نو ځکه یې په وروستنې نسل کښې سلسله قطعه شوې ده.

ج: د عیسی ﷺ څخه ځینې نور عجائب او غرائب صادر شوه چې د طفولیت عجیبه وربانذې د خلکو څخه بالکل هېره شوه، هغه دا چې مړي یې راژوندي کړه. د خټو مرغۍ یې والوزولې، ړانده یې بینا کړه او داسې نور. او دا قاعده ده چې لږ عجیبه په ډېره عجیبه باندې د سړي څخه هېرېږي.

یادونه

۹ـ د زکریا ﷺ په جواب کښې الله ﷻ ﴿يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ﴾ وویلې او د بي بي مریمې رضي الله عنها په جواب کښې ﴿يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ﴾ وویلې. دا ځکه چې د یحیی ﷺ د تولد څخه د عیسی ﷺ تولد ډېر عجیبه دی، هلته خو مور او پلار دواړه موجود وه خو دواړه بوډاګان وه، او دلته خو یوازې مور وه او بس. نو د ډېر عجیبه څخه په خلق باندې تعبیر ښه مناسب دی چې په غیر عادي کارونو کښې زیات استعمالېږي او فعل خو په عادي کارونو کښې ډېر استعمال مومي نو څرنګه چې د یحیی ﷺ تولد عادت ته لږ څه ورنژدې وه نو داسې وګڼل شو لکه چې عادي کار وي.

یو تذکر

۸ـ که څوک غواړي چې د هغو ټولو ماشومانو په شماره باندې خان پوره کړي چې په ماشومتوب کښې یې خبرې کړې دي نو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۱]، مونږ د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه.

﴿وَيُعَلِّمُهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنِّى قَدْ جِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ أَنِّىٓ أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۖ وَأُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ وَأُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۖ وَأُنَبِّئُكُم

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۹۱؛ الدر المنثور ج۲ ص۲۹۸

بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾

[۴۸] او (برسېره په دي) هغه ته به الله ﷻ ليکنه او باعمله پوهه او تورات او انجيل هم ورزده کړي.

[۴۹] او د يو پيغمبر په صفت به (يې) بني اسرائيلو ته (واستوي، د خپلې پيغمبرۍ په دوره کښې به هغوی ته خبر ورکړي چې:) بې شکه ما تاسو ته ستاسو د رب د پلوه غټه معجزه راوړې ده چې يقيناً زه به تاسو ته (د هدايت دپاره) د خټې څخه د مرغه د جسم په شان (يوه مجسمه) جوړه کړم، نو په هغې کښې به پوکی وکړم، نو هغه به د الله ﷻ په حکم سره (ربښتياني الوتونکی) مرغه جوړ شي. او مورزادي ړوند ته به برائت ورکړم (هغه به بينا کړم) او په برګي مرض باندې اخته مريض به هم روغ کړم، او هم به (درته) د الله ﷻ په حکم مړي ژوندي کړم.

او (برسېره په دې) زه به تاسو په هغو شيانو باندې خبر کړم چې تاسو يې (په خپلو کورونو کښې) خورئ او په هغو شيانو باندې هم چې په خپلو کورونو کښې يې ساتئ، بې شکه په دغو (ټولو) کښې ستاسو دپاره خامخا (زما په رسالت باندې) لويه نښه ده که تاسو ايمان راوړونکي ياست.

[۵۰] او (زه تاسو ته) په داسې حال کښې (راغلی يم) چې د هغه کتاب تصديق کوونکی يم کوم چې زما څخه وړاندې نازل شوی دی چې هغه د تورات څخه عبارت دی.

او (زه تاسو ته) د دې دپاره (راغلی يم) چې هغه ځينې شيان درته حلال کړم چې په تاسو باندې حرام کړی شوي وه (ترڅو په تاسو اساني راشي) او ما تاسو ته ستاسو د رب څخه لويه نښه (معجزه) راوړې ده، نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ.

[۵۱] بې شکه الله ﷻ زما رب دی او ستاسو رب هم دی (زه يې هم بنده يم او تاسو يې هم بندګان ياست) نو (يوازې) د همده ﷻ عبادت وکړئ، دغه برابره لاره ده.

د ارتباط وجوه

۱_ که څه هم بي بي مريمې رضي الله عنها ته د عيسی علیه السلام د بشارت څخه مخکښې د ذهن د اماده کولو دپاره پوره اطمنان ورکړی شوی وه چې ته الله ﷻ په ټولو زنانه وو باندې غوره ګرځولې يې خپل لمونځ او عبادت کوه ترڅو د راتلونکي لوی کار دپاره چمتو جوړه شې، خو د دې سره-سره کله چې نومورې ته ملائکو د الله ﷻ د پلوه په زوی باندې بشارت واوراوه نو وارخطا شوه او د بشارت د تمام څخه وړاندې يې خپله وارخطائي ښکاره کړه چې: ﴿ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ ﴾ ماته به ماشوم د کومه شي،

او د ملائکو خبره یې په منځ کښې پرې کړه. نو په دې ایتونو کښې د ملائکو پاتې خبره پوره شوې ده.

۲_ په دې ایتونو کښې د عیسی ﷺ ټول هغه صفات بیان شوي چې د پیغمبرۍ نښې او خاصې دي، ترڅو د یو پلوه د توحید مخالفین په غور ووهي چې عیسی ﷺ د الله ﷻ بنده وه د الوهیت لقب مه ورکوئ، او د بله پلوه د بي بي مریمې رضي الله عنها د اطمنان دپاره څه نور دلایل هم هغې ته وړاندې شي چې دغه ماشوم څه عادي سړی نه دی هغه به داسې داسې خبرې کوي او هم به دا دا کارونه وکړي.

که دا مطلب نه وی نو د بشارت په وخت کښې د معجزاتو بیانولو ته حاجت نه وه، په خپل وخت کښې به د بي بي مریمې رضي الله عنها په شمول ټولو خلکو لیدلي وي چې عیسی ﷺ څنګه- څنګه معجزات درلوده. د همدې کبله یې د معجزاتو په لړ کښې د داسې معجزاتو نمونه یاد کړه چې هغه د بي پلاره پیداکېدلو څخه دېرې عجیبه وې، لکه د خټې مرغه او د مړو ژوندي کول، ترڅو د هغې بي بي اطمنان په ښه موثره توګه حاصل شي.

د مریمې رضي الله عنها د اطمنان دپاره څکه زیات دلایل وړاندې شوي دي چې په دغه وخت کښې نوموړې بي بي رضي الله عنها خامه دیارلس (۱۳) کلنه حیاناکه پېغله وه[۱]، د تجربې د مخې په دغې منګ کښې ټولې پېغلې د ماشوم د خبرتیا حوصله نه لري چې ورته وویلی شي چې ته به واده شې او د اولاد خاونده به شې، او خصوصاً چې لا ورته وویلی شي چې ته به د پېغلتوب په حالت کښې (چې بالکل به واده شوي هم نه وې) د یو ماشوم مور جوړه شې. که مریمې رضي الله عنها ته نوموړي دلایل نه وی وړاندې شوي نو الله ﷻ پوهېږي چې په هغې باندې به د بشارت په وخت کښې څه حال ورغلی وی.

د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای مریمې! ته خپله حوصله برابره کړه او د ماشوم د وجاهت څه نور وضاحت هم واوره چې: هغه ماشوم عادي ماشوم نه دی هغه ته به الله ﷻ لیک لوست ورزده کړي چې څوک به ورسره په لیکنه کښې سیالي نه شي کولی، او حکمت به ورزده کړي چې ټول اقوال او افعال به یې د ښو اخلاقو او ګټورو کارنامو مجموعه وي.

تورات (د موسی ﷺ کتاب) او انجیل (د ده خپل کتاب) به ورزده کړي نو په دې تقدیر به هم په لیکوالانو (قومي مشرانو) باندې د پاسه وي او هم په علماوو او مشائخو باندې.

۲_ ملائکو وویلې چې: الله ﷻ په داسې ماشوم زېری درکوي چې هغه به بني اسرائیلو ته د پیغمبر په حیث ولېږي، نو په ټولو بني اسرائیلو کښې به د ده غوندې شخصیت بل نه وي؛ ایا ته اوس هم مطمئنه نه شوې؟

ای مریمې! د نوموړي ماشوم د خپلې خولې څه خبرې واوره چې په څومره جرئت او په څومره معجزاتو سره به بني اسرائیل د الله ﷻ وحدانیت ته وبولي؟ وایي به چې:

(۱) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۴۳

الف: ای بني اسرائیلو! ما ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه غټې معجزې راوړې دي، دا خو لا پربږدئ چې زما پیدایښت او په ماشومتوب کښې خبرې کول هم خارق العاده شیان دي.

ب: د دې معجزو څه مثالونه دا دي:

اول: زه به ستاسو د قناعت دپاره د خټې څخه په خپلو ګوتو مرغی جوړ کړم تاسو ټول به یې وګورئ چې خټه به د مرغي په شکل راغونډه کړم خو کله چې زه په همدغې مجسمه کښې پوکی وکړم نو د هغه څخه به د الله ﷻ په امر د رښتیاوو مرغی جوړ شي، خټه به غوښه وګرځي نو وابه لوزي.

دوهم: مورزادي ړوند به درته بینا کړم چې هیڅوک یې د بینا توب تمه هم نه لري.

دریم: د برګي مرض علاج به در وکړم چې د وخت ټول اطباء یې د معالجې څخه عاجز دي.

څلورم: او حتی مړي به ستاسو د اطمنان دپاره ژوندي کړم!

خو دا په یاد ولرئ چې دا یو کار هم زه نه کوم بلکې الله ﷻ یې کوونکی دی خو زما په لاس صرف د دې دپاره اجراء کېږي چې تاسو زما په رسالت باندې معتقد شئ. نو پوه شئ چې زه د بندګۍ څخه پورته نه یم ماته د الوهیت لقب مه راکوئ زه پخپله د الله ﷻ بندګي او عبادت کوم زه د معبودیت او الوهیت لیاقت نه لرم.

دا وه د هغو معجزاتو مثالونه چې د الله ﷻ د قدرت څخه نمایندګي کوي.

پنځم: اوس یوه علمي معجزه واورئ چې: زه به تاسو د الله ﷻ په حکم سره په دې باندې خبر کړم چې تاسو څه- څه شیان خورئ او څه- څه شیان په کور کښې د بلې ورځې دپاره ساتئ: په اصطلاح تاسو هر یوه ته به معلومات درکولی شم چې تابېګاه څه ډول خوراک خوړلي دي او غرمې ته او یا بلې شپې ته به څه شی وخورې، حال دا چې ما ستاسو د دېګونو څخه سرپوښونه نه دي پورته کړي چې فلانیه تا څه شی پخ کړی دی او فلانیه تا څه، او نه مې ستاسو د کورونو پلټنه کړې ده چې تا څه شی زخیره کړی دی او تا څه شی پټ ساتلی دی.

۳ـ عیسی ﷺ (ذکر شوی ماشوم) به (د رسالت په وخت کښې) بني اسرائیلو ته ووایي چې زه تاسو ته په داسې حال کښې را استولی شوی یم چې د تورات تصدیق کوم چې په حقه د الله ﷻ کتاب دی، زه همدا کتاب په عمل کښې په جزئي تغیر سره پیاده کوم، نو لکه چې تاسو د تورات راوړونکي (موسی ﷺ) ته د الوهیت لقب نه ورکوئ ما هم د عبادت لایق مه ګڼئ:

نو په دې بناء باید تاسو زما پیغمبري ډېره په جلتۍ سره تسلیم کړئ چې د پخوا څخه ورسره اشنا یاست او موسی ﷺ چې زما هم مسلکی دی ښه پېژنئ:

هو! ستاسو د ګټې او اسانۍ دپاره او بالآخره د وخت د غوښتنې په اساس به ځینې هغه شیان تاسو ته حلال کړم چې مخکښې په تاسو باندې حرام کړی شوي وه او دا کوم اساسي بدلون نه دی، خو داسې به ونه کړم چې حلال شیان درباندې حرام کړم! نو معلومه شوه چې ما تاسو ته نه ناآشنا شریعت راوړی دی او نه مو په کړاوونو اخته کوم.

۴ـ ای بني اسرائیلو! بیا هم تاسو ته وایم چې زه بې سنده د رسالت دعوه نه کوم، ما ستاسو

دپاره ستاسو د رب ﷻ څخه خارق العاده معجزې راوړې دي، کوم شی چې زه تاسو ته حلال گرځوم دا د الله ﷻ په امر سره کوم، زما خپل شخصي او بې اجازې تصرف نه دی.

۵ـ زه تاسو ته هغه خبره کوم چې هغه هر پیغمبر ﷺ خپل اُمت ته کوي چې د الله ﷻ څخه وډار شئ او د یو پیغمبر په صفت زما اطاعت وکړئ نه د یو اله او معبود په صفت.

۶ـ ای بني اسرائیلو! د ذکر شوو ټولو توضیحاتو څخه وروسته یو خل بیا ستاسو توجه دې خبرې ته را اړوم چې یقیناً الله ﷻ زما هم رب دی چې زه یې عبادت کوم او ستاسو رب هم دی نو تاسو هم یوازې د همده عبادت وکړئ او بس، مه ورسره ما شریکوئ او نه بل شی او یا بل څوک.

کومې معجزې چې زه تاسو ته ښکاره کوم هغه ټولې د الله ﷻ کار دی زما کار نه دی، په ماباندې د بندگۍ څخه پورته گومان مه کوئ.

۷ـ ای بني اسرائیلو! اوس پوه شوئ دغه برابره لاره ده او بس، که تاسو د همدې لارې څخه منحرف شوئ نو د گمراهۍ او خطاکارۍ څخه په غیر به د بل شي سره مخامخ نه شئ.

توضیحات

۱ـ که څه هم مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د کتاب او حکمت ډېرې معناوې کړې دي خو موږ ته دا ښه ښکاري چې د کتاب څخه خط (لیکنه) مراده ده او د حکمت څخه دیني روزنه او ښه اخلاق مطلب دي. او دا خکه امکان لري چې بي بي مریمې رضي الله عنها ته دا تشویش پیښ شوی وي چې د ماشومانو تعلیم او تربیه خو د پلرونو په غاړه وي، د زنانه وو څخه څه نه جوړېږي نو د دغه ماشوم (چې ماته یې بشارت راکول کېږي) تعلیم او تربیه به څنگه شي؟

نو الله ﷻ اطمنان ورکړ چې د دې ماشوم تعلیم او تربیه د نورو ماشومانو په شان نه ده چې استاذانو ته محتاج وي او لگښتونه یې پلرونه په غاړه اخلي، بلکې ده ته به په غیبي توگه ممتاز تعلیم او تربیه ورکړی شي[1]، لیک او لوست به کولی شي او د باعمله علم خاوند به وي چې تورات او انجیل (دیني کتابونه) به یې زده وي.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې عیسی ﷺ دومره کره او ښائسته لیکونکی وه چې نهه برخې حسن خط ده ﷺ ته ورکړی شوی وه او صرف یوه برخه د دنیا په ټولو لیکونکو باندې توزیع شوی دی[2]. نو د ده د حسن خط مثال داسې دی لکه د یوسف ﷺ د ښائست.

سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: تردې وخته خو انجیل نه وه نازل شوی نو بي بي مریمې رضي الله عنها څه پېژانده چې د الله ﷻ د پلوه ورباندې هغې ته بشارت ورکړی شو چې دغه ماشوم ته به انجیل هم ورزده کړي؟

---

(۱) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۷۹

(۲) روح المعاني ج۳ ص۱۶۶؛ المدارک ج۱ ص۲۲۰؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۲۷۴

مونږ وایو چې: د مخکنیو پیغمبرانو علیهم‌السلام څخه دا خبره پاتې وه چې یو پیغمبر به مبعوث کېږي او انجیل به ورباندې نازلېږي نو بې بې ته اطمنان ورکړی شو چې همدغه پیغمبر به ستا زوی وي او همدغه کتاب به ستا د زوی کتاب وي[۱].

د بني اسرائیلو پیغمبر

۳_ د ﴿ وَرَسُولاً إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ څخه ځینو مفسرینو کرامو دا مطلب اخستی دی چې عیسی ﷺ یوازې بني اسرائیلو (د یعقوب ﷺ اولادې) ته استولی شوی وه[۲]، مګر مونږ ته پکښې د تخصیص وجه دا ښکاري چې عیسی اولاً او بالذات بني اسرائیلو ته وراستولی شوی وه، داسې نه چې همدوی پورې یې رسالت مختص وه، خو افسوس چې په دوی کښې ځینو په معبودیت سره ونیوه او ځینو ورسره دښمنۍ ته لاس واچاوه، دغه دواړه (افراط او تفریط) په اول وار په بني اسرائیلو کښې واقع شو، په کار خو دا وه چې دوی ورباندې د هر چا څخه مخکښې د اعتدال په توګه ایمان راوړی وی، که نورو خلکو هر څه کولی هغه به یې کولی، هغه خو د دوی د قوم څخه وه، د هغه ویاړ د دوی ویاړ وه خو دوی دا کار ونه کړ.

د ختې مرغه به والوزي

۴_ یو مفسر وایي چې: د "أَخۡلُقُ، أُحۡيِ" او داسې نورې کلمې د مضارع صیغې دي نو معنی یې داسې کېږي چې: زه به دا وکړم، زه به دا وکړم. پاتې شوه دا خبره چې عیسی ﷺ د ختې مرغی جوړه کړه او که نه؟ مړی یې ژوندی کړ او که نه؟ او داسې نور. نو په همدې بناء عیسی ﷺ دا کارونه کولی شوه خو نه یې د ختې مرغۍ الوزولې ده او نه یې مړي ژوندي کړي دي[۳].

مونږ وایو چې: دا مفکوره د لاندې دوه وجو د کبله د قبول وړ نه ده:

الف: د ﴿ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ ﴾ کلمه هم مضارع ده، چې د بشارت په وخت کښې بې بې مریمې رضي‌الله‌عنها ته خبر ورکړی شو او په خپل وخت کښې یې رښتیا تحقق وموند. نو معلومه شوه چې نورو خبرونو به هم ضرور تحقق موندلی وي.

ب: دا خبره هم د معجزاتو څخه ده چې د زېږې د وخت خبرې رښتیا شي. د همدې کبله یې په دغه وخت کښې د هغو یادونه وکړی شوه، که نه نو د معجزاتو یادونه به العیاذ بالله محض غولونه وی.

ج: که بالفرض عیسی ﷺ خپلو خبرو ته تحقق نه وی ورکړی د بني اسرائیلو غونډې لجوجو او جګړه مارو خلکو خو به –په اصطلاح– ګرېوان ته لاس وراچولی وی او په مقابل کښې به یې عمومې قیام کړی وی چې ولې د دروغو لاپې شاپې کوي او رښتیا نه وایي. دوی جنابان خو د حوصلې خلک نه وه، تاسو خو د دوی د غوا قیصه او د پیازو میازو مطالبې رایادې کړئ.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲ ص۲۷۴

(۲) روح المعاني ج۳ ص۱۶۷

(۳) تفسیر المنار ج۳ ص۳۱۱

د: بني اسرائيل خو دغسې خبرې ته ډېر خوشاله وه چې د ايمان د نه راوړلو بهانه لاس ته ورتله، د همدې کبله يې د ټولو مرغانو د جملې څخه عيسى ﷺ ته د ماښامک (شوپرک) د ژوندي کولو وړانديز وکړ او دا څکه چې د هغه ساختمان ډېر پېچيده دی.

خفاش (ماښامک) مرغه دی خو بچيو ته تی ورکوي، غولانځه لري، د غاښونو او اوږدو غوږونو خاوند وي، حيض ورباندې راځي، هگۍ نه کوي د موږک په شان بچي زېږوي، د ښکو څخه پرته الوتنه کوي، بالآخره نه په شپه کښې الوزي او نه په ورځ کښې بلکې د يوه ساعت دپاره ماښام الوتنه کوي او د يوه ساعت دپاره سهار غذا پيدا کوي[۱].

عجيبه خو لا دا ده چې سترگې يې کمزورې دي د رڼا تحمل نه شي کولی خو بالمقابل ماښام او سهار د دوه ساعتونو دپاره "مياشي" گوري او ښکار يې کوي.

لنډه دا چې دوی څکه ذکر شوی مرغه د معجزې دپاره انتخاب کړ چې گوندې عيسى ﷺ پکښې ناکام شي او مونږ وريښې لاسونه وښوو او د پيغمبرۍ څخه يې بې زاره کړو.

خو الحمد لله عيسى ﷺ ورته همدغه معجزه هم وښودله او دوی ته بهانه لاس ته ورنغله، دوی بله غوښتنه ونه کړه څکه پوهېده چې که د ماښامک څخه په غير بله يوه مرغۍ ترې وغواړو هغه هم جوړولی شي چې د ماښامک غوندې پېچيده مرغه يې جوړ کړ.

د معجزې د مرغۍ عاقبت څه شو؟

۵_ نه پوهېږو چې دغه د معجزې ماښامک به څه شوی وي خو دومره ثابته ده چې والوت او معجزه بشپړه شوه، نور نو الله ﷻ پوهېږي چې هغه به څومره وخت ژوندی وه او نسل به يې پاتې شوی وي او که نه. مگر ځينو مفسرينو ليکلي دي چې نوموړی ماښامک چې کله د خلکو د سترگو څخه غائب شو نو دستي مړ شو[۲] والله ﷻ أعلم.

سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې عيسى ﷺ به يو خل مرغی د ختې څخه جوړ کړ او بيا به پکښې الله ﷻ روح واچاوه او ژوندی به شو دا کار خو پرته د دې هم کېدلی شو؟

مونږ وايو چې: شايد لاندې حکمتونه مرموز وي، والله ﷻ أعلم:

الف: که عيسى ﷺ په خپل لاس د ختې څخه نه وی جوړ کړی نو دغو لجوجو خلکو به ويلي وی چې دا خو ستا دپاره معجزه نه ده، الله ﷻ خو بې شمېره شيان ژوندي کوي او بې شمېره مړه کوي ايا دا ټولې ستا معجزې دي؟

ب: شايد دوی ويلي وی چې د ختې څخه مرغی نه دی جوړ شوی، مرغی په خته کښې پټ وه تا فقط دومره وکړه چې هغه دې راښکاره کړ، ايا دې ته معجزه وايې؟

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۹۴
(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۳۰۳

ج: شاید چې دوی یې د آدم ﷺ خلقت ته متوجه کړي وي چې هغه هم ملکو د ختو څخه جوړ کړ او بیا الله ﷻ ژوندی کړ همدارنګه عیسی ﷺ هم د ختو مرغۍ بې پلاره او بې موره جوړه کړه او بیا یې والوزوله، نو په تاسو باندې څه تکه رالوېدلې ده چې نه آدم ﷺ ته د الوهیت لقب ورکوئ او نه دغې مرغۍ ته مګر عیسی ﷺ د "إله" په نامه یادوئ، لکه چې د [آل عمران:۵۹] ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

"اَکْمَه" څه معنی؟

۷_ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت "اَکْمَه" هغه ړانده ته وایي چې د موره ړوند پیدا شوی وي[۱]، دا ځکه د معجزې په توګه غوره کړی شو چې د عیسی ﷺ په زمانه کښې د طب ډېر پرمختګ کړې وه او د وخت پوهه طبقه طبیبانو تشکیله کړې وه، خو دوی د دې څخه عاجز وه چې یا د مورزادي ړوند سترګې بینا کړي او یا د برګې مرض معالجه وکړي. خو دغه کارونه عیسی ﷺ وکړه نو خلکو ته څرګنده شوه چې دا کار په اسبابو نه دی شوی بلکې په معجزه شوی دی نو دی په حقه پیغمبر دی. پاتې شوه دا خبره چې چا ورباندې ایمان راووړ او چا رانه ووړ نو دا بېله خبره وه.

د ناروغانو رغېدل

۸_ د مورزادي ړاندو د بینا کېدلو او د برګې ناروغۍ د رغېدلو څخه علاوه نور ناروغان هم الله ﷻ د عیسی ﷺ په دعاء سره روغ کړي دي خو د نورو ناروغانو رغېدنه ځکه ذکره نه شوه چې دا کار خو طبیبانو هم کولی شو، فرق په فقط همدومره وه چې دوی یې په ادویه وو معالجه کوله او عیسی ﷺ صرف په دعاء سره او بس.

داسې ورځ به هم راتله چې پنځوس زره ناروغان به عیسی ﷺ ته ورغونډ شوي وه او هغه به ورته د ایمان راوړلو په شرط دعاء کوله او الله ﷻ به جوړول[۲].

څومره مړي عیسی ﷺ ژوندي کړي وه؟

۹_ داسې اټکل کېږي چې عیسی ﷺ به هغه مړی ژوندی کاوه چې یا به ورته الله ﷻ د هغه په باره کښې وحې وکړه او یا به دغسې معجزې ښودلو ته حاجت پېښ شو. که بالفرض د مریضانو د رغولو په شان یې هر مړی راژوندی کولی نو عیسی ﷺ به د بني اسرائیلو لجوجو خلکو د لاسه د مړو د ژوندي کولو څخه په غیر بل هیڅ کار ته نه وی اوزګار شوی. نو ځکه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت مفسرینو کرامو لاندې څلور مړي ښودلي دي چې ژوندي شوي دي[۳]:

الف: یو سړی "عازر" نومېده چې درې شپې یې په قبر کښې تېرې کړې وې، عیسی ﷺ یې قبر

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۲۱۵

(۲) روح المعاني ج۳ ص۱۶۹

(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۰۲؛ تفسیر القرطبي ج۴ ص۹۵

ته ورغی او الله ﷻ ته یې سوال وکړ، قبر وچاوده "عازر" ژوندی شو چې د ډېر وخت ژوندی پاتې شو او څه اولادونه یې هم وزېږول.

ب: یو بل سړی د زړې بوډۍ زوی وه چې خلکو یې جنازه په اوږو باندې اخستې وه د عیسی ؑ په دعاء سره ژوندی شو او په کټ کښې راکښېناست، کفن یې گوزار کړ او خپلې جامې یې واغوستلې او د جنازې کټ یې په اوږو کړ او کورته راستون شو. دا هم څه وخت ژوندی پاتې شو او څه اولادونه یې هم وزېږول.

ج: یوه بله انجلۍ یې هم راژوندۍ کړه چې د "عاشر" لور وه او یوه ورځ وړاندې مړه شوې وه خو لا دفنه شوې نه وه، د دې هم څه اولادونه تولد شوه او څه عمر یې دوام وکړ.

د: بل یې "سام بن نوح ؑ" راژوندی کړ؛ د ده د راژوندي کولو باعث دا وه چې بني اسرائیلو عیسی ؑ ته وویلې چې: ته هغه مړي راژوندي کوې چې د مرگ یې ډېر وخت نه وي تېر شوی، یو مړی درې ورځې وروسته بل یوه ورځ وروسته او بل دې په عین ورځ کښې راژوندی کړ، امکان لري چې هغوی هیڅ مړه شوي نه وي بلکې سکته شوي وي. که رښتیا مړي راژوندي کولی شې نو د نوح ؑ زوی سام راژوندی کړه چې د مرگ یې څلور زره کاله تېر شوي دي!

عیسی ؑ د هغه قبر ته ورغی او په دعاء یې سره قبر وچاود، سام ترې راپورته شو او د عیسی ؑ سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

عیسی ؑ: دا د سر وږېښتان دې څنگه سپین شوي دي، ستاسو په زمانه کښې خو د چا وږېښتان نه سپینېدل؟

سام: ای روح الله! تا چې په ماباندې غږ وکړ نو ماته امر وشو چې د روح الله خبره ومنه، ما گومان وکړ چې قیامت قائم شو نو د قیامت د ډاره مې وږېښتان سپین شوه.

عیسی ؑ: د خنکدن څه حالت وه؟

سام: زما د خنکدن څلور زره (۴۰۰۰) کاله کېږي خو د هغه تریخوالی مې لا اوس هم په ستوني کښې شته.

عیسی ؑ: مړ شه!.

سام: "بِشَرْطِ أَنْ يُعِيْذَنِي اللهُ مِنْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ" په دې شرط سره (مړ کېږم) چې الله ﷻ مې د سکرات الموت (د خکندن د سختی) څخه وساتي.

"فَدَعَا اللهُ فَفَعَلَ"[۱] نو عیسی ؑ الله ﷻ ته د همدې سوال وکړ او سام بن نوح بېرته مړ شو.

عجیبه قیصه

۱۰ـ د یوه بل روایت په بناء د عیسی ؑ سره یو یهودي ملگری شوی وه، خو خایه یې عیسی ؑ لیدلی وه چې په خپله همسا باندې به یې یا مړی یا د مړي کوپړۍ او یا د مړي قبر

(۱) تفسیر المظهري ج۲ ص۵۳

وواهه او ورته به وويلې چې: "قُمْ بِإِذْنِ الله"[۱] د الله ﷻ په امر پورته شه، مړی به ژوندی شو.

همدارنګه يې هغه ليدلی وه چې ډېر ناروغان يې جوړ کړه، نو يهودي دا فکر کړی وه چې ګوندي دا کار زه هم وکړم. عيسی ؑ خو وربانديې څه ګټه وټه نه اخلي، خو زه به يې د خپل ثروت دپاره ذريعه جوړه کړم، نو يوه ورځې يې همسا په لاس کښې واخستله او د عيسی ؑ څخه جدا شو په کوڅو کښې يې نارې وهلې چې څوک علاج غواړي، څوک مريض دی چې زه يې دارو درمل وکړم او داسې نور اعلانونه يې وکړه.

په يوه کور کښې يو مريض پاچا پروت وه چې طبيبان يې د علاج څخه عاجز شوي وه، دا جناب چې ورغی نو د همسا يو ګوزار يې وواهه خو په عين وخت کښې هغه مړ هم شو، بيا يې مړي ته په اصطلاح کوتک سر کړ او غږ به يې ورسره کاوه چې: "قُمْ بِإِذْنِ الله" پورته شه د الله ﷻ په امر!

د مړي وارثانو د دار په تخته ودراوه چې غرغره يې کړي، خو د نېکه مرغه په عين وخت کښې عيسی ؑ خبر شو، خلکو ته يې وويلې: مړی به زه راژوندی کړم خو دا زما ملګری خوشې کړئ. همداسې وشوه، مړی راژوندی شو او يهودي نجات وموند[۲].

نوره قيصه يې هم ډېره عجيبه ده خو د اوږدوالي د کبله مونږ په همدې ځای خاتمه ورکوو.

عيسی ؑ او د خوراک، څښاک معلومات

۱۱ـ د هغو واقعاتو څخه (چې عيسی ؑ د خوراک او څښاک په باره کښې غيبي معلومات ورکړي دي) معلومېږي چې لا د ماشومتوب د وخته څخه يې دا اخبار ورکولی شو، نو لاندې څو مختلف مثالونه يې ولولئ:

الف: عيسی ؑ ماشوم وه نورو ماشومانو ته به يې خبر ورکاوه چې تا بېګاه دا شی خوړلی دی او تا دا خوړلی دی او تاته مور دا شی ساتلی دی او تاته دا....

ماشومانو به ـ چې خپلو کورونو ته مراجعه وکړه ـ هر يوه به د خپلې خپلې مور څخه د همغه شي غوښتنه کوله چې ورته به يې ساتلی وه، چې پوښتنه به يې ترې وکړه چې ته چا خبر کړې چې ما درته پلاني شی ساتلی دی. هغوی به جواب ورکړ چې: عيسی ؑ[۳].

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې يهودان به عيسی ؑ ته راغونډېده او د مسخرو په توګه به ترې هر يوه پوښتنه کوله چې ما بېګا څه خوړلي دي او څه شی مې ساتلی دی او ما، او ما[۴]. مګر عيسی ؑ به هر يوه ته مطابق جواب ورکاوه او ورته زړه تنګی کېده به نه.

ج: د عيسی ؑ په دعاء سره داسې هم شوي دي چې د اسمان څخه د خوراک او څښاک څخه ډک

(۱) البحر المحيط ج۲ ص۴۶۷
(۲) تفسير الطبري ج۳ ص۲۸۵
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۷۰
(۴) الدر المنثور ج۲ ص۲۱۶

دسترخوان نازل شوی دی او د بني اسرائیلو په وړاندې اېښودل شوی لکه چې په [المائدة: ۱۱۱ـ ۱۱۵] ایتونو کښې یې ذکر راغلی دی.

په دې معجزه کښې عیسی ﷺ په دوی باندې دا خبره شرطه کړې وه چې خوري او څښي خو زخیره کوئ به یې نه. مګر دوی د دې امر څخه مخالفت وکړ او په کورونو کښې به یې زخیره کوله، نو عیسی ﷺ به هغوی ته خبر ورکاوه چې تا دا شی خوړلی او دا دې زخیره کړی[1].

بني اسرائیل او تورات

۱۲ـ مونږ د [البقرة: ۴۰] ایت لاندې لیکلي دي چې اسرائیل د یعقوب ﷺ دوهم نوم دی او بني اسرائیل د یعقوب ﷺ اولادې او زوزات ته وایي. په دوی کښې ډېر پیغمبران تېر شوي دي چې اولنی پیغمبر یې موسی ﷺ وه چې تورات وړباندې نازل شوی وه او آخرنی پیغمبر یې عیسی ﷺ وه چې انجیل ورباندې نازل شوی وه[2]، د دوی ټولو اصلي کتاب تورات وه نو ځکه عیسی ﷺ د خپل وخت بني اسرائیلو ته وویلې چې زه د تورات مصدق یم. اما په انجیل کښې د تورات ځینې احکام د تحریم څخه د تحلیل په لور (د سختۍ څخه د اسانۍ په لور) وربښکته او نسخه شوه. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: په بني اسرائیلو باندې د اوښ غوښه حرامه وه خو په انجیل کښې حلاله وګرځوله شوه[3].

ب: ځینې وازدې (شحوم) وړباندې حرام وه خو په انجیل کښې حلال شوه[4].

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۳ـ که څوک وایي چې: د یعقوب ﷺ په اولاده کښې خو اولنی پیغمبر یوسف ﷺ وه چې د موسی ﷺ یا د تورات د نزول څخه زښته ډېره موده وړاندې تېر شوی دی، نو دا خبره به څنګه صحت پیدا کړي چې د بني اسرائیلو اولنی پیغمبر موسی ﷺ وه؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې یوسف ﷺ او یعقوب ﷺ دواړه هم عصري وه، داسې ګڼل شوي دي لکه چې یوسف ﷺ د خپل پلار تابع وي نو ځکه د بني اسرائیلو سلسله د یوسف څخه نه بلکې د موسی ﷺ څخه نیوله شوې ده.

یادونه

۱۴ـ که څوک غواړي چې د عیسی ﷺ د ځینو حکیمانه خبرو مثالونه ولولي او د هغه د ژوند ځینې عجائب او غرائب د نظره تېر کړي نو ځینو اوږدو کتابونو[5] ته دې مراجعه وکړي مونږ وړباندې د اوږدوالي د کبله تیره کښودله.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۸۰
(۲) تفسیر القرطبي ج۴ ص۹۳
(۳) المحرر الوجیز ج۳ ص۹۸
(۴) الدر المنثور ج۲ ص۲۲۲
(۵) الدر المنثور ج۲ ص۲۰۱: تفسیر الطبري ج۳ ص۲۸۵

﴿ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنْهُمُ ٱلْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٥٢﴾ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلْتَ وَٱتَّبَعْنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾ وَمَكَرُوا۟ وَمَكَرَ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴿٥٤﴾ ﴾

[۵۲] نو کله چې د دوی (بني اسرائيلو) څخه عيسی ﷺ کفر حس کړ (او يقين يې راغی چې ايمان نه راوړي) نو وېې ويلې چې: زما سره الله ﷻ ته (په دعوت کښې) څوک ملګري دي؟ (د عيسی ﷺ) خاصو ملګرو وويلې چې: مونږ انصار الله يو. مونږ په الله ﷻ باندې ايمان راوړی دی او ته (عيسی ﷺ) شاهد اوسه چې يقيناً مونږ مسلمانان يو.

[۵۳] ای زمونږ ربه! مونږ په هغه شي باندې ايمان راوړی دی چې تا نازل کړی دی او مونږ (ستا) د پيغمبر متابعت کوو. نو مونږ (په حق باندې) د شهادت ورکوونکو په ډله کښې وليکه (د دوی په لست کښې مو ثبت کړه).

[۵۴] دوی (بني اسرائيلو د عيسی ﷺ د وژلو دپاره) پټ تدبير وکړ (چې محاصره يې کړي او په دار يې کړي) او الله ﷻ هم پټ تدبير وکړ (چې د هغوی دسيسه يې شنډه کړه او موسی ﷺ ته يې نجات ورکړ) او الله ﷻ د ټولو پټ تدبير کوونکو بهتر (تدبير کوونکی) دی.

څه معلومات

۱ ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې چې څه بيان شوی دی ټول هغه حقائق دي چې د عيسی ﷺ د تولد څخه وړاندې بي بي مريمې ته د هغې د تسکين دپاره د بشارت په توګه ويل شوي وه او عيسی ﷺ ورته د خپل رسالت په دوران کښې د عمل جامه وراغوستله او په عمل کښې يې پياده کړه.

الله ﷻ مونږ ته د نوموړو حقائقو د پياده کېدلو اړخ بيان نه کړ چې فلانی کار يې هم وکړ او فلانی، ځکه څه چې الله ﷻ وايي هغه ضرور عملي جامه اغوندي او پياده کېږي. همدارنګه الله ﷻ دا هم بيان نه کړه چې عيسی ﷺ نور څه کارونه وکړه او د رسالت دوره يې څومره وه او په څومره عمر کښې د پيغمبر په صفت وټاکل شو، ځکه چې په دغسې جزئياتو کښې مصروف پاتې کېدل د تاريخي کتابونو کار دی، قرآن کريم هر شی د مقام د اهميت په نظر کښې نيولو سره ذکر کوي او بس.

د عيسی ﷺ د رسالت دوره

۲ ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې عيسی ﷺ ته د ماشومتوب په وخت کښې د پيغمبرۍ رتبه ورکړی شوې وه چې عمر يې درې کاله وه، مګر مشهوره دا ده چې نوموړی د خپل عمر په دېرش کلنۍ کښې په همدې منصب باندې سرلوړی شوی وه، د رسالت وخت يې درې کاله وه او په درې دېرش کلنۍ کښې اسمان ته وخېژول شو[۱].

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۶۷؛ تفسير الطبري ج۳ ص۲۷۸

۳_ همدارنګه بي بي مريمه رضي الله عنها د هغه څخه وروسته چې عيسى عليه السلام د رمضان د مياشت په ليلة القدر كښې اسمان ته وخېژول شو، شپږ كاله ژوندۍ وه او بالآخره په دوه پنځوس كلنۍ كښې وفاته شوه[۱]، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

اوس په دې ايتونو كښې د عيسى عليه السلام د رسالت د دورې وروستنۍ لحظې او حالات بيانېږي.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱_ عيسى عليه السلام خپل قوم ته د رسالت په دوران كښې هر ډول معجزې وښودلې او په ډول-ډول اساليبو سره يې دين ته دعوت كړه خو د دې ټولو سره-سره هغوى د ده په مقابل كښې يوازې دا نه چې ايمان يې ورباندې نه راووړ د ده په عداوت او حسادت كښې يې هم سستي نه كوله. د عيسى عليه السلام معجزاتو _په اصطلاح_ په تيږو كښې تاثير كاوه خو د دوى په زړونو كښې يې نه كاوه. دا كيفيت عيسى عليه السلام په سترګو ليده نو ويې غوښتل چې د دعوت دپاره د داعيانو يو ټولى تهيه كړي.

۲_ همدې مضمون ته الله جل جلاله اشاره كړې ده چې: ﴿ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ ﴾ الآية. يعنې: كله چې عيسى عليه السلام ته د دوى لجاجت ښه ثابت او څرګند شو نو اعلان يې وكړ چې د اسلام په دعوت كښې زما ملګري څوك دي؟

د ټولو خلكو د جملې څخه يوازې د عيسى عليه السلام مخلصو ملګرو دغه اعلان ته لبيك وويلې چې: اى عيسى! مونږ د دې كېله ستا كومك نه كوو چې كوم شخصي مطلب لرو بلكې د دې كېله ستا كومك ته تيار يو چې ته د الله جل جلاله پيغمبر يې، نو زمونږ كومك او نصرت په حقيقت كښې د الله جل جلاله د دين سره دى، د همدې كېله مونږ خانو ته انصار عيسى عليه السلام نه بلكې انصار الله وايو، مونږ په واقعي توګه په الله جل جلاله باندې ايمان راوړى دى نو ولې به خپل خانونه انصار الله نه جوړوو، ته شاهد اوسه چې مونږ مسلمانان يو او د اسلام احكامو ته غاړې ږدو.

۳_ دغو مخلصو مسلمانانو يو ځل بيا خپل ايمان تازه كړ او ويې ويلې چې: اى زمونږ ربه! مونږ په هغو ټولو كتابونو باندې ايمان راوړى دى چې تا په هره زمانه او په هر پيغمبر باندې نازل كړي دي خو په عملي ساحه كښې يوازې د همدې معهود پيغمبر (عيسى عليه السلام) متابعت كوو. نو اى ربه! زمونږ نومونه د هغو كسانو څخه شمار كړې او د هغو كسانو په لسټ كښې مو نومونه ثبت كړې چې په خپل خان همداسې شهادت اداء كوي لكه چې مونږ يې اداء كوو، مونږ د دې عقيدې څخه اوښتونكي نه ياستو.

۴_ دا وه د يوې ډلې حالت چې په عيسى عليه السلام باندې يې ايمان راوړي وه او نصرت ته يې چمتو شوه او بالمقابل د عيسى عليه السلام د دښمنانو او معاندينو عاقبت دا شو چې د ده د وژلو دپاره يې پټ چل او پټه دسيسه جوړه كړه، خو الله جل جلاله د دوى پلان خنثى او دسيسه شنډه كړه. د الله جل جلاله په شان دقيق تدبير څوك كولى شي! نو عيسى عليه السلام ته يې نجات وركړ او چل يې په همدوى باندې بېرته ورتاو كړ او په خپلو منځو كښې يې سره په جګړه اخته كړه.

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۰۸؛ تفسير ابي السعود ج۲ ص۴۲

توضیحات

۱_ د عیسی ﷺ دا خبره چې: ﴿ مَنۡ أَنصَارِیٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ د نبي کریم ﷺ هغې خبرې ته ورته ده چې د هجرت څخه وړاندې به یې د حج په موسم کښې هرې ډلې ته فرمایل چې: ایا داسې څوک شته چې ماته په خپل وطن کښې پناه راکړي ترڅو کلام الله تبلیغ کړم «فَإِنَّ قُرَيْشًا مَنَعُونِي أَنْ أُبَلِّغَ كَلَامَ رَبِّي»[۱] یعني: بې شکه چې قریش مې د دې څخه منعه کوي چې د خپل رب کلام خلکو ته ورسوم.
په نتیجه کښې نبي کریم ﷺ ته د مدینې منورې خلک انصار جوړ شوه او هلته یې هجرت وکړ.
مګر عیسی ﷺ که څه هم یو تړولی انصار مونده کړ خو په څمکه کښې یې د دښمنانو د لاسه خای ونه شو او الله ﷻ ورته اسمان هجرت خای وټاکه چې په انفرادي توګه یې هلته پنا وېوړه او دښمنان یې په وژلو کامیاب نه شوه.

یادونه

۲_ که څه هم مفسرینو کرامو د ﴿ مَنۡ أَنصَارِیٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ متعدد تفسیرونه کړي دي[۲]، اما مونږ ته دا ښه ښکاره شوه چې د "مَنْ أَنْصَارِي فِي الدَّعْوَة إِلَى اللهِ" په تقدیر سره یې تفسیر کړو. یعني هغه څوک دی چې الله ﷻ ته په بلنه کښې زما کومکي شي. مونږ څکه دا تقدیر خوښ کړ چې:
الف: د عیسی ﷺ حالت د نبي کریم ﷺ د هغه حالت سره مشابه وه چې په مکه معظمه کښې اوسېده او هجرت یې لا نه وه کړی، نو لکه چې نبي کریم ﷺ په همدې حالت کښې د دعوت کومکیان لټول، نه د مسلح جهاد. نو معلومه شوه چې عیسی ﷺ به هم په دعوت کښې مرستیالان غوښتي وي، نه د وسله وال جهاد کومکیان.
ب: په عیسی ﷺ باندې د کافرانو سره وسله وال مقاومت نه وه فرض شوی[۳] څکه چې دوی کمزوري وه نو معلومه شوه چې د نصرت څخه د جنګ نصرت مطلب نه دی بلکې د دعوت نصرت مطلب دی.

د "حواري" د کلمې تحلیل

۳_ د حواري کلمه اصلا د "حَوْر" څخه اخستله شوې ده، "حَوْر" تردد (تاوېدل راتاوېدل) ته وایي[۴]، لاندې مثالو ته یې متوجه شئ:
الف: الله ﷻ د کافر په باره کښې فرمایي چې: ﴿ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴾ [الإنشقاق: ۱۴] یعني: دی به څکه دوزخ ته داخل شي چې د ده دا اټکل وه چې هیڅکله به (ژوند ته) تاو نه شي (مبعوث به نه شي).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۰
(۲) تفسیر القرطبي ج۴ ص۹۷؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۲۸۴
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۷۶
(۴) مفردات الراغب ص۱۳۴

ب: د چا څخه چې یو مطلب ته د رسېدلو لاره ورکه شي او فکرًا پکښې تاو راتاو شي هغه ته متحیر وايي.

ج: سوال جواب او مباحثې ته څکه محاوره وايي چې یو بل ته خبرې ورتاوه وي.

د: هغې ډوډۍ ته چې د غنمو د مغز څخه جوړه شوې وي "اَلْخُبْزُ الْحُوَّار" څکه وايي چې په موبنلو سره یې غنم د پوسته شوي دي.

هـ: د همدې کبله د مېچنې د منځ لرګي ته "مِحْوَر" وايي چې مېچن ترې تاوېږي راتاوېږي.

و: عرب وايي چې: "حورت الثياب" جامې مې تکې سپینې وینځلې وې[1] چې وینځل د تاوولو څه په غیر نه کېږي.

نو په همدې بناء په "الْحَوَارِيّ" کښې مشدده "ي" حَوْر ته د نسبت دپاره ده. او د "ر" څخه مخکښې "الف" زیات شوی دی، په عربي ژبه کښې د نسبتي "يّ" سره غیر قانوني زیادتونه او کمبودات ډېر واقع کېږي. لکه په "الرّيّ" کښې د نسبت په وخت کښې "الرّازي" ویل کېږي چې یو "الف" او یوه "زې" پکښې اضافه شوې ده.

مونږ وایو چې: د "الْحَوَارِيّ" کلمه مفرده ده چې جمعه یې "الْحَوَارِيِّين" راغلې ده.

حواریون څوک او څومره وه؟

۴ـ د حواریونو په تشخیص کښې مفسرینو کرامو مختلف قولونه لیکلي دي[2]، لکه: ، ښکاریان، مجاهدین، شاهزادګان، دوبیان او داسې نور. او هر چا د خپل قول دپاره د اسنادو په توګه څه قیصې هم لیکلي دي خو ډېر په زړه پورې قول د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دی چې دوی د عیسی ﷺ مخلصین او قوي دوستان او کومکیان وه نور نو هرڅوک چې وه، وه به، او هر کسب یې چې کاوه، کاوه به یې. امکان لري چې دوی د مختلفو قشرونو او طبقو څخه تشکیل شوي وه.

اما په شمېر کښې یې هم اختلاف شته چې څو کسان وه. څینې وايي چې دولس کسان وه او څینې وايي چې نولس کسان، مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې شمېر یې محدود نه کړو چې نه یې چندان ثبوت شته او نه پکښې چندان ګټه شته، فقط: همدومره لیکو چې یوه مخلصه ډله وه هرڅومره چې وه.

مَکر څه معنی؟

۵ـ "مَکْر" اصلا د چا په باره کښې پټ تدبیر ته وايي چې ترڅو په خپل مطلب کښې ناکام شي[3]. په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې کافرانو پټه دسیسه جوړه کړه ترڅو عیسی ﷺ

(۱) تفسیر کبیر ج۸ ص۶۶
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۳۳۳؛ روح المعاني ج۳ ص۱۷۶؛ البحر المحیط ج۲ ص۴۷۱
(۳) تفسیر المنار ج۳ ص۳۱۵

شهيد کړي او ـ العياذ بالله ـ الله ﷻ ناکام کړي چې عيسى ﷺ ته نجات ورنه کړى شي. او الله ﷻ د هغوى د دسيسې د ناکامولو تدبير پياده کړ او عيسى ﷺ ته يې په خارق العاده توګه نجات ورکړ.

د کافرانو دسيسه او د هغې شنډېدل

۶ـ که څه هم د کافرانو د دسيسې اصلي قيصه مفسرينو کرامو د [النساء:۱۵۷ـ ۱۵۸] ايتونو لاندې ليکلې ده او په دې مقام کښې يې هَمْ د قيصې مختلف شکلونه ښودلي دي[1]، خو د ټولو شکلونو هدف يې يو دى هغه دا چې پخپله عيسى ﷺ الله ﷻ اسمان ته بوته (نجات يې ورکړ) او هغوى د عيسى ﷺ په ګومان بل څوک په دار کړ او په نتيجه کښې سره په خپلو منځو کښې په اختلاف او جګړه بوخت شوه چې ځينې يې د وطن پرېښودلو ته هم اړ شوه.

د همدوى د جملې څخه د أوس او خزرج دوه قبيلې هم دي چې په هماغه وخت کښې مدينې منورې ته ورغلې وې او هلته متوطنې شوې وې.

موږ د قيصې مختلف شکلونه څکه بيان نه کړه چې چندان فائده پکښې راته ښکاره نه شوه، يوازې همدا يوه خبره يې ليکو چې ځينې مفسرين وايي چې: په عيسى ﷺ باندې د خپلو ملګرو څخه يو کس جاسوسي کړې وه او د وخت د ظالم حکومت څخه يې صرف دېرش (۳۰) درهمه رشوت اخستى وه[2]. لکه چې موږ د افغانستان په انقلاب کښې دېر داسې خلک وليده چې په ښه تقواداره څېره کښې به يې ملحد حکومت ته د مجاهدينو جاسوسي کولې او د دوى د اختفاء ځايونه به يې ورښوده.

﴿ إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّى مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَىَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوْقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ۖ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٥٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٧﴾ ذَٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ ٱلْءَايَٰتِ وَٱلذِّكْرِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٥٨﴾ ﴾

[۵۵] (اى پيغمبره!) هغه وخت (خلکو ته ورپه زړه کړه) چې الله ﷻ وويلې چې: اى عيسى! يقيناً زه ستا پوره اخستونکى يم (په خپله قبضه کښې دې نيوونکى يم) او ستا خپل ځان ته پورته

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۰۷؛ تفسير ابي السعود ج۲ ص۴۳؛ تفسير القرطبي ج۴ ص۱۰۰

(۲) روح المعاني ج۳ ص۱۷۸

کوونکی یم او د هغو خلکو څخه دې پاکوونکی یم چې هغوی کفر غوره کړی دی (چې نه به یې مردارې خبرې وګورې او نه به یې سپکې، سپورې خبرې واورې) او هم د هغو کسانو چې ستا متابعت کوونکي دي په هغو کسانو باندې چې کافران دي د قیامت د ورځې پورې برلاسی جوړوونکی یم (چې په دلیل باندې به تل برلاسي وي او کله-کله په توره هم وربانديې زورور وي).

بیا یوازې ماته ستاسو بېرته راستنېدل دي نو ستاسو په منځکښې به په هغو مسائلو کښې فیصله وکړم چې تاسو په هغو کښې اختلاف کوئ (برابره خبره ده چې اختلافي مسائل عیسی ﷺ پورې مربوط وي او که نور وي).

[۵۶] نو هر هغه کسان چې کفر یې اختیار کړی دی نو هغوی به په دنیا او آخرت (دواړو) کښې په شدید عذاب سره معذب کړم او دوی لره به مددګاران هم نه وي (چې راڅخه خلاص یې کړي).

[۵۷] او هر هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي نو هغوی ته به (الله ﷻ) پوره خپل اجرونه ورکړي او الله ﷻ ظالمان نه خوښوي.

[۵۸] دا (تېر شوي بیانات) مونږ یې په تاباندې لولو (ای پیغمبره!) چې د معجزانه دلایلو څخه او د حکیمانه پندونو څخه عبارت دي (که نه نو داسې بیانات د وحې څخه په غیر تا چرته ورکولی شوه نو ته په حقه پیغمبر یې).

د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایتونو کښې هغه مضمون په واضحه توګه بیان شوی دی چې په تېرو شوو ایتونو کښې ورته اشاره شوې وه.

یعنې: الله ﷻ د یهودانو په پټه دسیسه په هغه وخت کښې شنله کړه چې عیسی ﷺ ته یې وفرمایل چې: ای عیسی! تا به پرهېزدم چې د دښمنانو د دسانسو ښکار شي، په داسې کامله توګه به نجات درکړم چې اقلا لاس به یې درباندې هم ونه لګېږي؛ ما خو ته دوی ته د اصلاح دپاره وراستولی وې چې دوی ته سمه لاره وربه ګوته کړې، خو دوی د سمې لارې قبول ته اماده نه دي، دوی لکه چې په پخوا زمانو کښې یې پیغمبران او د خیر داعیان وژلي دي، غواړي چې تا هم ووژني، نو د همدې کبله دې بېرته راغواړم او داسې ځای ته دې پورته کوم چې هغوی پکښې د تصرف دعوه قدرې هم نه شي کولی، چې هغه اسمانونه دي، او د کافرانو څخه دې داسې پاک ساتونکی یم چې د نن څخه وروسته به نه د دوی مرداري خبرې وګورې او نه به یې پوچې او سپورې ستغې خبرې واورې.

۲ـ پاتې شوه ستا د تابعانو خبره: هغوی به هم ستا په دښمنانو باندې د قیامت د ورځې پورې برلاسي او معزز کړم، لکه چې پخواني یهودان مو د پیغمبرانو علیهم السلام په وژلو سره د ذلت په پرستن کښې ونغښتل همدارنګه به دوی هم د مسکنت او ذلت څخه خلاص نه شي.

یا په بل عبارت: ای عیسی! تا به اسمان ته پورته کړم او ستا تابعان به په ځمکه کښې پورته کړم چې په دښمنانو باندې به برلاسي ورکړم.

نو د ذلت او توهين كوم چل چې دوى ستاسو دپاره جوړ كړى دى په هغه كښې به دوى پخپله ولوېږي او د قيامت د ورځې پورې به ترې نجات ونه مومي.

برسېره په دې ستا په تابعانو كښې به هم په حقه تابعان د منحرفې عقيدې په خاوندانو باندې د پاسه وي. دا وه د دواړو ډلو دنياوي حالات چې شرحه شوه.

۳ـ اما په آخرت كښې خو به ستا په شمول ټول د الله ﷻ په حضور كښې ودرول شي؛ او د اختلافي مسائلو په باره كښې به مو انصافي فيصلې وكړي چې لنډيز يې دا دى:

څوک چې كافر دى هغوى ته به په دنيا او آخرت كښې سخت عذاب وركړم او كومكيان به ونه لري چې را څخه خلاص يې كړي. د دنيا عذاب يې دا دى چې ذلت، د دښمن غلبه، وژل او نور آفتونه به وربانديې نازل كړو او د آخرت عذاب خو معلوم دى چې د دوزخ اور او د الله ﷻ غضب دى.

نو د قيامت په ورځ به د دوى دواړه ډوله عذابونو مجموعه بشپړه شي. او څوک چې مومنان وي او د نېكو اعمالو خاوندان دي هغوى ته به الله ﷻ پوره اجرونه وركړي ځكه چې دوى ظالمان نه دي او هغوى ظالمان دي او الله ﷻ د ظالمانو سره محبت نه لري نو د اخروي اجرونوڅخه يې بې برخې كوي.

۴ـ اى پيغمبره (محمده)! دا ذكر شوي بيانات ټول هغه دي چې مونږ يې په تابانديې د وحې په حيث درنازلوو او په تابانديې يې لولوو، دا ټول د خلكو دپاره پوره دلايل او معجزات دي او هم د دوى دپاره د حكمت څخه ډک نصائح دي.

علاوه په دې دا هغه محكم حقائق دي چې د متشابهاتو په څېر تاويلاتو ته اړتيا نه لري نو دوى ته په كار دي چې د معجزاتو څخه په عقيده كښې استفاده وكړي او د نصائحو څخه په عمل كښې مستفيد شي ترڅو په ﴿ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ كښې شامل شي.

توضيحات

۱ـ په دې مقام كښې د عيسى عليه السلام په هكله په لاندې خبرو كښې تحقيق په كار دى چې كومه يوه صحت لري:

اوله: عيسى عليه السلام يهودانو وژلى دى، اسمان ته نه دى خېژول شوى.

دوهمه: يا دوى وژلى او يا په خپل مرګ مړ شوى خو اسمان ته روحاً خېژول شوى دى.

درېمه: د مرګ يا وژلو څخه وروسته بېرته راژوندى كړى شوى او اسمانونو ته جسماً او روحاً خېژول شوى دى.

څلورمه: نه وژل شوى او نه مړ شوى خو د دې سره- سره اسمانونو ته خېژولى شوى دى، بېرته به دنيا ته راستنېږي او د خپل مرګ وار به تېروي.

زمونږ (أهل السنة والجماعة) عقيده همدغه څلورمه خبره ده چې ژوندى هلته بيولى شوى دى د قيامت د ورځې په قرب كښې به رابښكته كړى شي، څلوېښت يا څلېرشت كاله عمر به تېر كړي، دجال به ووژني، د نصاراوو صليب به مات كړي، د ځمكې په مخ به په هغه وخت كښې كافر پاتې نه شي'

﴿ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾ [الأنفال: ۳۹] يعني: او ټول غاړه اېښودل به د الله ﷻ پورې (عملاً) مختص وګرځي.

۲_ په اوله خبره کښې خو فيصله دا ده چې عيسى ﷺ يهودانو نه دى وژلى لکه چې الله ﷻ ورته په نژدې تېرو شوو ايتونو کښې اشاره کړې ده چې: ﴿ وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴾، او په بل ځاى کښې يې ورباندې صراحت کړى دى لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ ﴾ [النساء: ۱۵۷] يعني: او (يهودانو) عيسى ﷺ نه وژلى دى او نه يې په دار کړى دى. نو دوى يې چې د وژلو ادعاء کوي په حقيقت کښې په کفر باندې يو بل جنايت وراضافه کوي.

او په نورو درېو خبرو کښې همدا ايت شريف چې اوس د بحث لاندې دى د متشابهاتو ځخه ګڼل کېږي. دا ځکه چې په قرآن کريم کښې د "تَوَفِّي" کلمه د مرګ په معنى هم استعماله شوې ده لکه چې فرمايي: ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ﴾ [السجدة: ۱۱] يعني: ورته ووايه چې هغه ملک الموت به مو ارواګانې قبض کړي چې په تاسو باندې مقرر کړى شوى دى.

او د ويده کولو په معنى يې هم استعمال موندلى دى لکه چې فرمايي: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ ﴾ [الأنعام: ۶۰] يعني: او الله هغه ذات دى چې تاسو د شپې اخلي (ويده کوي مو).

همدارنګه د پوره اخستلو او پوره ورکولو دواړو کښې استعماله شوې ده لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ﴾ [آل عمران: ۱۶۱] يعني: بيا به هر نفس ته د خپل کسب جزا پوره ورکړى شي. يا لکه چې عرب وايي: "قَدْ تَوَفَّيْتُ مِنْهُ مَالِي"[۱] د هغه ځخه مې خپل مال پوره واخست.

مونږ د دې سورت د [۷] ايت لاندې يوه دا خبره هم ليکلې ده چې تشابه کله د لفظي اشتراک د کبله واقع کېږي چې د "تَوَفِّي" کلمه د همدې ډول متشابهاتو ځخه ده.

او بل مو هلته ليکلي وه چې د متشابهاتو په معنى باندې د ځان پوهولو قانون دا دى چې بايد محکماتو ايتونو (أُمُّ الْكِتَاب) او يا احاديثو ته مراجعه وکړى شي.

نو کله چې د عيسى ﷺ په هکله ايتونو او احاديثو ته مراجعه وکړو نو هلته دا خبره مشخصه ثابته کېږي چې هغه ﷺ اوس هم ژوندى دى، قيامت ته په نژدې وخت کښې به د اسمانه راښکته کړى شي، پاتې عمر به د نبي کريم ﷺ په خلافت کښې تېر کړي، بيا به ورباندې د مرګ دوره ورشي، د نبي کريم ﷺ سره به په مبارکه روضه کښې دفن کړى شي او د قيامت په ورځ به ورسره د همدې هديرې (روضې) ځخه ګڼ په ګڼ راپورته شي. لاندې محکمات ايتونه او احاديث ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ [النساء: ۱۵۸] يعني: (داسې نه ده لکه چې يهودان يې ادعا کوي) بلکې عيسى ﷺ الله ﷻ خپل ځان (اسمان) ته پورته کړى دى او الله ﷻ د کلکې ارادې او د حکمت څښتن دى.

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص ۴۰۰

ښکاره ده چې دلته ژوندي پورته کول مطلب دي ځکه چې:

اول: د "بَلْ" کلمه د مخکنې کلام څخه په اضراب (راتاوېدلو) باندې دلالت کوي چې يهودانو به ويلې چې مونږ وژلی دی؛ نو الله ﷻ د هغوی خبره رده کړه چې دوی نه دی وژلی هغه ته مونږ نجات ورکړی دی او اسمان ته مو ژوندی خېژولی دی.

دوهم: که بالفرض دلته د عيسی عليه السلام د مبارک روح پورته کول مراد شي نو د يو پلوه به د کافرانو خبره رد نه شي او د بله پلوه به د ده د تخصيص وجه مونده نه شي، ځکه چې د ټولو شهيدانو او مؤمنانو ارواګانې د شهادت يا مرګ څخه وروسته اسمان ته خېژول کېږي.

درېم: همدارنګه که دلته ژوندي پورته کول مطلب نه شي نو د ﴿ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ تعقيب ورسره هيڅ ارتباط نه شي درلودلی، دا تعقيب د معجزانه کار سره تناسب لري چې د عادت څخه د پاسه وي او د چا د عقل لاندې يوره نه شي راتلای.

ب: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴾ [النساء: ۱۵۹] يعني: او د اهل الکتابو څخه هيڅوک نه دی مګر په عيسی عليه السلام باندې به د هغه د مرګ څخه مخکښې ايمان راوړي او هم به عيسی عليه السلام په دوی باندې د قيامت په ورځ کښې شهادت ورکړي (چې ما ورته احکام ورسول خو دوی ايمان رانه وړ او زما د وژلو هڅه يې وکړه).

يعني: نن ورځ خو يهودان ادعا کوي چې مونږ وژلی دی او نصارا ادعا کوي چې هغه "إله" دی، خو کله چې نوموړی د اسمان څخه ځمکې ته راښکته شي دواړه ډلې به د خپلو عقائدو څخه صرف نظر شي او پوه به شي چې مونږ خطا شوي ياستو. ځکه چې هغوی به يې ژوندې وګوري چې وژل شوی نه دی او دوی به يې وګوري چې وفات به شي او په "إله" خو مرګ نه راځي.

ج: د حسين بن الفضل عليه الرحمة څخه چا پوښتنه وکړه چې په قرآن کريم کښې داسې دليل موندلی شي چې عيسی عليه السلام به د اسمان څخه راښکته شي؟ هغه وويلې چې: ولې نه الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا ﴾ [آل عمران: ۴۶] يعني: او عيسی عليه السلام به هم په ماشومتوب او هم په کهولت کښې د خلکو سره خبرې وکړي. هغه خو په ځمکه کښې د کهولت عمر ته نه وه رسېدلی نو معلومه شوه چې بېرته به ځمکې ته راښکته شي او د کهولت عمر ته به ورسېږي[۱].

د: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما ځان د هغه په واک کښې دی، نژدې دی چې عيسی بن مريم به په تاسو کښې د منصف حکم په صفت راښکته شي، صليب به مات کړي، خنزير به قتل کړي، جزيه به د منځه يوسي (چې کافران به په جزيه ورکولو نه پرېښودل کېږي) او مالونه به دومره ډېر شي چې «لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ»[۲] هيڅوک به يې نه قبلوي (چې څوک يې ورکوي).

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۰۸

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۷

هـ: د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه صحیح روایت دا دی چې عیسی ﷺ اولني اسمان ته ژوندی خېژول شوی دی[۱].

نومړي صحابي ﷺ خو دغسې خبره اجتهاداً نه شوه کولی نو معلومه شوه چې د نبي کریم ﷺ څخه به یې اورېدلې وي. دې ډول حدیث ته په اصطلاح کښې حکمي مرفوع حدیث وايي.

څو نکات

۳ـ که مونږ هغه ټول احادیث چې په دې باره کښې روایت شوي دي راغونډ کړو لکه چې ځینو مفسرینو کرامو راټول کړي دي[۲] نو یو لوی کتاب به ترې جوړ شي څکه چې تقریباً تواتر ته رسېږي[۳]. د همدې کبله په دې موضوع کښې نورو دلایلو ته خاتمه ورکوو او لاندې نکتو ته محترم لوستونکي متوجه کوو.

اول: ځینو مفسرینو چې دلته د "تَوَفِّي" څخه مرګ اخستی دی[۴]، هغوی غلط شوي دي.

دوهم: د الله ﷻ د کامل قدرت او کامل احسان سره دا ښه مناسبه ده چې په فوق العاده توګه یې نجات ورکړی وي، نه دا چې د وژلو څخه یې نجات ورکړی وي خو په دې ذریعه چې د هغه روح یې قبض کړی وي.

درېم: زمونږ دا یقین دی چې الله ﷻ به داسې نه وي ویلي چې: ای عیسی! د یهودانو د قتلونو څخه نجات درکوم خو زه دې پخپله روح قبض کوم!

څلورم: مونږ چې د ﴿ مُتَوَفِّيكَ ﴾ په تفسیر کښې څه ولیکل، که همدا په ذهن کښې ونیول شي نو د هغو ټولو ګڼ شمېر تاویلاتو مخه نیوله کېږي چې ځینو مفسرینو کرامو[۵] لیکلي دي او د اوږدوالي د کبله په سرې باندې خلط راولي.

د عیسی ﷺ په تابعانو سره څوک مراد دي؟

۴ـ په ﴿ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ ﴾ کښې مفسرینو کرامو لاندې دوه تفسیرونه کړي دي:

الف: دلته د عیسی ﷺ هغه تابعین مراد دي چې فقط خانونه یې تابعان ګڼي، برابره خبره ده چې په حقه یې تابع وي لکه د هماغه وخت تابعان چې شریعت یې لا نه وه منسوخ شوی، او یا یې د متابعت دعوه کوي خو په باطله لار باندې روان وي لکه د محمدي شریعت د نزول څخه وروسته چې څوک خانونه د عیسی ﷺ تابعان ګڼي او په نبي کریم ﷺ باندې ایمان نه راوړي[۶].

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۸۲؛ تفسیر ابي السعود ج۲ ص۴۳؛ تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۰۰

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۷۴ـ۵۸۴؛ تفسیر الطبري ج۳ ص۲۹۱

(۳) البحر المحیط ج۲ ص۴۷۳

(۴) تفسیر المنار ج۳ ص۳۱۶

(۵) التفسیر الکبیر ج۸ ص۷۱؛ روح المعاني ج۳ ص۱۷۹

(۶) زاد المسیر ج۱ ص۳۲۷

نو په دې تقدير باندې يې د معنى حاصل داسې كېږي چې: الله ﷻ نصاراوو ته په هره زمانه كښې چې وي په يهودانو باندې د فوقيت وركوونكى او دوى ته د ذلت وركوونكى دى.

نو د دې ايت معنى به دې ايت ته ورته وي چې: ﴿ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ ﴾ [البقرة: ۶۱] يعني: او په دوى (يهودو) باندې مو ذلت او مسكنت اېښى دى.

ب: دلته د تابعانو څخه په حقه تابعان مراد دي[۱]، چې د محمدي (ﷺ) شريعت څخه وروسته يوازې مسلمانان دي چې عيسى ﷺ د الله ﷻ بنده او پيغمبر ګڼي او بس. ځكه د ده ﷺ هغه امتيان چې يا د ده ﷺ په باره كښې مزخرفه عقيده لري او يا د هغه شريعت منسوخ نه ګڼي په حقيقت كښې يو هم د عيسى ﷺ په حقه تابع نه دى.

نو په دې تقدير باندې يې د معنى حاصل داسې كېږي چې: الله ﷻ مؤمنانو لره په كافرانو باندې فوقيت وركوونكى دى. نو د دې ايت معنى به دې ايت ته ورته وي چې: ﴿ وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ [آل عمران: ۱۳۹] يعني: او تاسو د پاسه ياست كه تاسو مؤمنان ياست.

مونږ ته داسې ښكاري چې دواړه معناوې يې واقعيت لري. نو ښه دا ده چې هم نصارا په يهودانو باندې فوق دي او هم مؤمنان په كافرانو باندې فوقيت لري، نو بايد چې د عيسى ﷺ د اتباع څخه ما يطلق عليه الإتباع مراد كړى شي چې دواړو شقونو ته شامل شي.

سوال جواب

۵_ كه څوک وايي چې: دغه ايت ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْآخِرَةِ ﴾ خو د وړاندېني ايت دپاره تفصيل واقع شوى دى چې: ﴿ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴾. نو مضمون يې داسې راځېژي چې: بيا خاص ماته ستاسو رجوع ده نو ستاسو په منځكښې به په هغه څه كښې فيصله وكړم په كوم كښې چې تاسو اختلاف كوئ، نو كفار به په دنيا او آخرت كښې معذب كړم په سخت عذاب سره.

نو پوښتنه دا ده چې كله قيامت قائم شي نو د دنيا لمن به ټوله شوې وي، نه به دنيا وي او نه به پكښې څوک معذبېږي؟!

مونږ وايو چې: ذكر شوى اعتراض په هغه وخت كښې واردېږي چې د ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ الآية په وړاندې نيمائي ايت باندې تفريع شي لكه چې معترض همداسې ګڼلي دي، خو حقيقت دا دى چې دا دواړه ايتونه په وړاندېني مكمل ايت باندې تفريع كېږي او د هغه تفصيل واقع كېږي.

نو په دې تقدير خو اجمال او تفصيل دواړه مطابقت پيدا كوي ځكه چې هلته هم د دنيا او آخرت عذابونه ذكر دي او دلته هم.

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۰۹

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾
ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ
ٱلْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا۟ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ
فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْقَصَصُ ٱلْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ
إِلَّا ٱللَّهُ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾﴾

[۵۹] بې شکه د عیسی ﷺ عجیبه حال د الله ﷻ په نزد داسې دی لکه د آدم ﷺ عجیبه حال، چې د خاورو (ختو) څخه يې جوړ کړ بیا يې ورته وویل چې شه (ژوندی شه) نو شو (ژوندی شو).

[۶۰] حق (په هره موضوع کښې) ستا د رب د جانبه دی (څه چې وايي همغه حق دی او بس) نو د شک کوونکو څخه مه کېږه (همدې حالت ته تاسو تل ادامه ورکړئ).

[۶۱] نو هرڅوک چې ستا سره په حق کښې د هغه څخه وروسته جګړه کوي (دوام ورکوي) چې تاته (د الله ﷻ د پلوه په هغه باندې) پوهه درغله (درکړه شوه) نو (هغوی ته) ووایه راشئ چې خپل زامن او ستاسو زامن او خپلې زنانه او ستاسو زنانه او خپل ځانونه او ستاسو ځانونه (یوه مجلس ته) راوبلو، بیا (ټول) ښېرا وکړو نو د الله ﷻ لعنت په دروغژنانو باندې وګرځوو (ورواچوو، چې دروغژن دي الله ﷻ د خپل رحمت څخه لرې کړي او د ده ﷻ په غضب دې ککړ شي).

[۶۲] بې شکه هغه (چې وړاندې بیان شوه) همدا حق بیان دی او بس. او د عبادت لایق هیڅ نشته مګر الله ﷻ دی. او بې شکه الله ﷻ خامخا همدی ﷻ د کلکې ارادې او حکمت څښتن دی.

[۶۳] نو که دوی (د حق څخه) مخونه واړول نو بې شکه الله ﷻ په مفسدانو باندې پوه دی (د فساد جزا به ورکړي، ته تشویش مه کوه ستا وظیفه تمامه شوه).

شان نزول او ارتباط

۱ـ د دې ایتونو شان نزول داسې وه چې د نجران وفد د نبي کریم ﷺ سره په لاندې ډول سوال جواب وکړ[۱]:

وفد: زموږ انډیوال (عیسی ﷺ) ته ولې کنځلې کوې؟

نبي کریم ﷺ: ما ورته په څه ډول کنځلې کړې دي؟

وفد: ته ورته عبد الله (د الله ﷻ بنده) وایې، هغه خو په خپله معبود (اله) دی، بندګي خو ورته کنځل دي.

(۱) روح المعاني ج۳ ص۱۸۶

نبي كريم ﷺ: هو! زه خو دا وايم چې عيسى ﷺ د الله ﷻ بنده او د ده ﷻ پيغمبر دى چې په معجزانه توګه باندې د پاک لمنې مريمې رضي الله عنها د ګېډې څخه تولد شوى دى.

دوى (وفد) په غُصه شوه چې تا هم چرته بې پلاره انسان ليدلى، كه رښتيا دې ليدلى وي نو مونږ ته يې را په ګوته كړه؟

نو ذكر شوي ايتونه نازل شوه چې د عيسى ﷺ څخه لا را ته ډېر زيات عجيبه انسان معلوم دى چې نه پلار لري او نه مور چې آدم ﷺ دى، عيسى ﷺ خو لا مور لري.

۲ـ او د ارتباط وجه يې دا ده چې په وړاندېنيو ايتونو كښې الله ﷻ په خپل وحدانيت او د عيسى ﷺ په بندګۍ باندې د همده ﷺ په احوالاتو باندې استدلال نيولى وه چې ټول په بندګۍ باندې دلالت كوي. په دې ايتونو كښې په عين مطلب باندې د يو پلوه د آدم ﷺ په خلقت باندې استدلال قائم كړى شوى دى او د بله پلوه نبي كريم ﷺ ته د مباهلې طريقه وربښودله شوې ده چې د عناديانو سره نهاني د حل لاره ده او نهائي استدلال دى.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې اى پيغمبره! نجرانيانو ته ووايه چې كه بې پلاره توب دُ الوهيت معنى وركوي نو مناسبه دا ده چې دا لقب عيسى ﷺ ته نه بلكې آدم ﷺ ته وركړئ، ځكه چې د عيسى ﷺ خو مور وه او د آدم ﷺ نه پلار وه او نه يې مور.

د ده د خلقت قيصه دا ده چې الله ﷻ د خټې څخه د ده مجسمه جوړه كړه او بيا يې د "كُنْ" په تكويني امر باندې ژوندى كړ، نو هر كله چې آدم ﷺ ته تاسو "اله" نه وايئ نو بايد چې عيسى ﷺ هم په دې لقب باندې ياد نه كړئ.

۲ـ اى پيغمبره! چې دوى د همدې معقول استدلال مقابله نه شي كولى او د رد كولو توان يې نه لري نو پوه شه چې حق ستا سره دى او ستا دښمنان محض عناد او حسد نيولى دى. نو ته خو د شک كوونكو د ډلې څخه نه يې او نه به كيږې، خو بايد چې ستا اُمت هم څه شک او شبه ونه كړي چې عيسى ﷺ به رښتيا إله او معبود وي، لكه چې نصارا ورباندې ډېر كلک ولاړ دي حتى چې د استدلال د اساليبو څخه په يوه اُسلوب (طريقه) باندې هم قناعت نه كوي.

۳ـ ستا امت دې ځكه په ذكر شوې اشتباه كښې ونه لوېږي چې د نصارا وو كلكوالى په كوم معقول دليل باندې ولاړ نه دى او نه كوم اعتماد وړ سند لري، دوى صرف حسد او بد نيتيو همدې كلكوالي ته هڅولي دي كه نه نو دوى قلباً قانع دي چې ته په حقه روان يې او دوى باطله لاره نيولې ده.

۴ـ نو د دې دپاره چې د دوى حسد هر چا ته څرګند شي، دا خل يې مباهلې ته دروبوله چې راشئ مونږ او تاسې او هم زمونږ او ستاسې اولادونه او زنانه به په يو ځل باندې لاسونه پورته كړو او ښېرا وكړو، چې اى ربه! هرڅوک چې په مونږ كښې په ناحقه او باطله لاره باندې كلک وي نو هغه هلاک كړې او خپل غضب او لعنت ورباندې وركوز كړې.

۵ـ ای پیغمبره! ته به وګورې چې دوی به مباهلې ته هم حاضر نه شي، او دا خکه چې دوی ته د خپل مطلب بطلان ښه څرګند دی، دوی پوهېږي چې د مباهلې سره سم به پوپنا شي.

نو بې شکه یوازې همدا ستا بیان همدا حق بیان دی چې د عبادت لایق بل هیڅوک نه دی مګر یو الله ﷻ دی او بس. او بې شکه الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی، نو دغو لجوجو او عنادیانو ته چې سمدستي عذاب نه متوجه کوي دا د کمزورۍ د کبله نه بلکې د حکمت په بناء دي نو دوی د عذاب تالبدل په خپل حقانیت باندې دلیل نه شي نیولی.

۶ـ که بیا هم دوی مخونه واړول او حق ته یې غاړه کېنښودله نو ستا مسئولیت خلاص شو، تا خپله وظیفه تر سره کړه، الله ﷻ په ټولو مفسدانو باندې ښه پوهېږي چې د هغوی د جملې څخه دوی هم دي، مناسب چال چلند به ورسره وکړي.

توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف څخه معلومېږي چې الله ﷻ آدم ﷺ ته د خلقت څخه وروسته امر وکړ چې "کُنْ" موجود شه. ایا دا د حاصل شوي شي تحصیل نه دی؟

مونږ وایو چې: د ﴿ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٍ ﴾ معنی دا ده چې الله ﷻ د آدم ﷺ مجسمه د خاورو څخه جوړه کړه خو څرنګه چې ډېر لږ وخت وروسته همدغه مجسمه آدم ﷺ جوړېدله نو د آدم ﷺ اطلاق ورباندې وشو. دا د دې حدیث د قبیلې څخه ګڼل کېږي چې فرمایي: «مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ»[1] یعني: هرڅوک چې په غزا کښې وژلی شوی کس ووژني چې شاهدان ورباندې ولري نو د وژلي شوي سامان د همغه (قاتل) دی؟. ښکاره ده چې وژل شوی خو نه وژل کېږي نو د قتیل څخه قریب القتل (وژلو ته نږدې) مراد دی.

سوال او جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د آدم ﷺ د خلقت قیصه خو تېره شوې ده نو عبارت داسې په کار وه چې: "کُنْ فَکَانَ" موجود شه نو موجود شو. نه داسې چې: ﴿ كُن فَيَكُونُ ﴾ موجود شه نو موجودېږي؟!

مونږ وایو چې:

الف: د خلقت قیصه په همدې ځای تمامه شوې ده چې ﴿ كُن ﴾. او د ﴿ فَيَكُونُ ﴾ جمله په حکایت کښې داخله نه ده. نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: الله ﷻ د آدم ﷺ مجسمه جوړه کړه او بیا یې ورته تکویني امر وکړ چې ژوندی شه، هغه ژوندی شوه. او دا خکه هر شي ته چې الله ﷻ دغسې امر وکړي، ﴿ فَيَكُونُ ﴾ نو هغه کېږي[2].

دا جواب که څه هم صحیح دی خو متبادر نه دی ډېر خفي دی.

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۵
(۲) تفسیر الطبري ج۳ ص۲۹۷

ب: مونږ د [البقرة: ۹۱] ایت لاندې د بلاغت یو قانون لیکلی دی چې کله-کله تېر شوی عجیبه حالت حاضر ګڼل کېږي، ته به وایې چې هغه دی په سترګو یې ګورم. نو په همدغه بلیغ قانون باندې د آدم ﷺ د عجیبه حالت څخه هم په مضارع تعبیر کړی شوی دی. نو مبالغةً د "كَانَ" په ځای "يَكُونُ" استعمال شوی دی.

ابتهال څه ته وایي؟

۳ـ "اِبْتِهَال" د "بَهْل" څخه اخستلی شوی دی چې په معنی د خوشې کولو سره دی، لکه څوک چې تړل شوی اوښ خلاص کړي او غوټې یې پرانېزي[۱]. نو کله چې د "اِبْتِهَال" کلمه او د دې مشتقات په سوال کولو کښې استعمال شي (د خیر سوال وي او که د شر) نو هغه سوال کول ترې مرادېږي چې ډېرې زارۍ او زیاته تواضع ورسره ملګرې وي، ته به وایې چې د سوال د ردېدلو ټول موانع یې د منځه وړي دي او د قبول ټول شرطونه یې پوره کړي دي چې مخکښې یې هیڅ خنډ نشته.

په دې مقام کښې ترې د شر غوښتنه (ښېرا) مراده ده چې په لعنت سره ترې تعبیر کړی شوی دی.

که څه هم د ﴿ نَبْتَهِلْ ﴾ په کلمه کښې زیاتې زارۍ مرموزې دي خو لاندې ټکي یې په زیاتې مبالغې باندې هم دلالت کوي.

الف: د ﴿ نَدْعُ ﴾ کلمه؛ یعنې دغه کار ته بايد په قصدي ډول باندې راغونډ شو، حتی چې بايد هره ډله برسېره په زامنو او ښځو باندې خپلو خانونو ته هم بلنه ورکړو چې د ښېراوو په میدان کښې لاسونه پورته کړي.

ب: په خینو وختونو کښې سړی خپل ځان د خطر موقع ته وړاندې کوي خو خپل اولادونه ترې بچ ساتي، غالبه دا ده چې دلته به "أَبْنَاءَ" کلمه لورګانو ته هم شامله وي. او دا خکه: لکه څنګه چې سړي د نارینه ماشومانو حفاظت کوي همدارنګه ښځینه اطفال هم په مخاطره کښې نه اچوي.

په دې مقام کښې چې د اولادونو وړاندېز هم شوی دی تر څو د خطر په موقع کښې حاضر کړی شي نو معلومه شوه چې وړاندیز کوونکی (نبي کریم ﷺ) د خپلې مدعی په رښتیاوالي باندې پوره مطمئن دی.

ج: همدارنګه زمونږ په فکر دلته د "نِسَاءَ" کلمه هغو ټولو زنانه وو ته شامله ده چې د لورګانو څخه په غیر وي. لکه: مور، خور، ماندینه او داسې نورې.

نو د ایت مضمون داسې راوخي چې: ای نجرانیانو! دلایل خو دې همدومره وي چې مونږ ستاسو د قناعت دپاره په مختلفو اسالیبو وړاندې کړ، خو تاسو زمونږ د دلایلو په مقابل کښې دلایل هم نه شئ وړاندې کولی او د خپل باطل هدف څخه لاس هم نه اخلئ، نو راشئ چې الله ﷻ ته سوال وکړو چې د باطلو خاوندان پو پنا کړي چې بیخ یې وخي چې نه نارینه پاتې شي او نه زنانه او ماشومان، نو په دې تقدیر به یا تاسو د منځه لاړ شئ او یا مونږ او لانجه به ختمه شي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۶۱

اجتماعي غوښتنه

۴_ د الله ﷻ څخه په اجتماعي توګه د یونس ﷺ قوم هم سوال کړی وه چې د عذاب د نزول څه نښې او آثار ورته هم څرګند شوي وه، خو الله ﷻ یې سوال قبول کړ او د عذاب مخه یې ترې واړوله لکه چې د [یونس:۹۸] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، داسې معلومېږي (والله ﷻ أعلم) چې په اجتماعي توګه د الله ﷻ څخه سوال کول بې ګټې نه دي که څه هم د مباهلې په ډول نه وي.

نبي کریم ﷺ مباهلې ته تیار شو

۵_ نبي کریم ﷺ مباهلې ته تیار شو حسن ﷺ، حسین ﷺ، بي بي فاطمه رضي الله عنها یې د خانه سره روان کړل چې علي ﷺ هم ورسره وه[١]، تردې وخته پورې لا نجرانیانو د هو او نه جواب نه وه ورکړی، که بالفرض هغوی مباهله کول منلې وی نو نبي کریم ﷺ به ټولو مسلمانانو ته بلنه ورکړې وی او حتی خپلې ببیانې به یې هم ورېللې وی[٢].

یادونه

۶_ مونږ أهل السنة والجماعة د حسنینو رضي الله عنهما، فاطمه رضي الله عنها او د علي ﷺ په فضائلو باندې عقیده لرو، هرڅوک چې ورته په فضائلو باندې قائل نه وي نو هغه دې په ایمان وډار شي. اما د همدې ایت شریف څخه د علي ﷺ خلافت استنباط کول ډېره بعیده خبره ده لکه چې اهل تشیع یې ترې استنباطوي. د دوی مفصل بیان دې په اوږدو کتابونو[٣] کښې وکتل شي.

مباهله عملي نه شوه

٧_ کله چې نبي کریم ﷺ نجرانیانو ته د مباهلې اعلان وکړ نو هغوی د مشورې دپاره وخت وغوښت چې مونږ مشوره کوو، نو کله چې دوی په خپلو منځو کښې مشورې ته کښیناستل نو پرېکړه یې وکړه چې مباهله نه کوو دا په حقه پیغمبر دی او هیڅا د پیغمبر د ښېرا څخه خیر نه دی موندلی، که مباهله مو ورسره وکړه نو نه به مو وړوکی پاتې شي او نه لوی، بلکې ښېخ به مو ووځي، راځئ چې سوله ورسره وکړو او بېرته خپل وطن ته لاړ شو.

دوی د نبي کریم ﷺ حضور ته راغله او خپله پرېکړه یې ورته ښکاره کړه نو په څه مال باندې یې ورسره سوله وکړه او خپل وطن ته د کفر په حالت کښې ستانه شوه[۴].

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَوْ خَرَجَ الَّذِينَ يُبَاهِلُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَجَعُوا لَا يَجِدُونَ مَالًا وَلَا اهلا»[۵] یعنې: او که هغه کسان (مقابلې ته) وتلي وی کومو چې د

(١) تفسیر الطبري ج٣ ص٣٠٠
(٢) البحر المحیط ج٢ ص۴٧٩
(٣) روح المعاني ج٣ ص١٨٩
(۴) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٣٧٠
(۵) مسند احمد بن حنبل ج١ ص۵٢٣

الله ﷻ د پیغمبر سره مباهله کوله نو دوی به په داسې حال کښې بېرته ستانه شوي وی چې نه به یې مال موندلی وی او نه اهل (هر څه به هلاک شوي وی).

هېر مو نه شي!

۸ـ هېر مو نه شي چې دا درېم ځل دی چې په دې سورت کښې الله ﷻ خپل دغه دوه صفتونه ﴿ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ څنګ په څنګ ذکر کوي، شايد چې په دې کښې دې ته اشاره وي چې الله ﷻ کافرانو ته په مختلفو اساليبو (طريقو) دلايل وړاندې کوي چې دوی په اختيار سره ايمان راوړي او توحيد ته غاړه کېږدي، او که نه نو دوی په زور باندې موحدين ګرځول او داسې معجزې وربښکاره کول چې دوی ايمان راوړلو ته مجبور شي الله ﷻ ته اسان دي ځکه چې عزيز دی، خو د حکمت څخه مخالف دی حال دا چې الله ﷻ حکيم دی، د توحيد مخالفين مباهلې ته رابلل هم يو ډول استدلال دی نو ځکه يې په دې مقام کښې هم ذکر شوي دواړه صفتونه د درېيم ځل دپاره ذکر کړه.

ايا اوس مباهله جواز لري؟

۹ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته هم په مهم شرعي هدف کښې د مخالفينو سره مباهله کول جواز لري[۱]، مګر مونږ ته داسې ښکاري چې جواز به يې د هغه څخه وروسته وي چې مخالفين د دغسې قطعي دلايلو په مقابل کښې د لا نسلم (نه منو) په غوندې کښېني، لکه چې نجرانيان ورباندې ناست وه چې نه ورسره عقلي دليل موجود وه او نه نقلي خو د عيسى ﷺ د الوهيت څخه تر آخره پورې تېر نه شوه او د خره لکۍ يې ټينګه کړې وه، حتى چې مباهلې ته هم حاضر نه شوه.

﴿ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾

[۶۴] (ای محمده! ورته) ووايه چې: ای اهل الکتابو! (يهود ياست او که نصارا) داسې خبرې ته راپورته شئ چې زمونږ او ستاسو په منځکښې معتدله (يو برابر) ده (هغه دا) چې (مونږ او تاسو ټول به) د هيچا عبادت نه کوو مګر يوازې د الله ﷻ او د ده ﷻ سره به (په عبادت کښې) هيڅ شی نه شريکوو او هم به ځينې زمونږ ځينو نورو لره د الله ﷻ څخه په غير معبودان نه جوړوو.

نو که دوی (دې خبرې ته) شا کړه نو تاسو ټول ورته ووايئ چې: په دې باندې شاهدان اوسئ چې يقينًا همدا مونږ غاړه اېښودونکي ياستو (او بس).

(۱) تفسير القاسمي ج۴ ص۱۱۶

د ارتباط وجې

الف: په تېرو شوو ایتونو کښې د دې خبرې استدلال وه چې عیسی ﷺ د الوهیت لیاقت نه لري او په دې ایتونو کښې په دې استدل قائم کړی شوی دی چې علاوه په عیسی ﷺ بل بنده هم د الوهیت او ربوبیت درجې ته نه شي رسېدلی.

ب: که څه هم د نجران وفد مباهلې ته غاړې کېښودلې خو دومره فائده یې وکړه چې دوی د خپل پخواني شدت او تېزۍ څخه لږ څه راښکته شوه، پخوا ورته دا خبره کنځل ښکارېده چې چا به عیسی ﷺ ته د بندګۍ نسبت وکړ او د اورېدلو حوصله یې نه درلوده، خو د مباهلې څخه وروسته پکښې دا حوصله پیدا شوه. نو څکه هغوی دا ځل په یوه بل اسلوب باندې د توحید استدلال ته متوجه کړی شوه چې خلاصه یې دا ده:

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! اوس چې د دوی حوصله لږ څه اماده شوې ده چې په عیسی ﷺ باندې د بندګۍ نوم واوري، نو دوی ته ووایه چې: ای اهل الکتابو! په تاسو باندې خو الله ﷻ کتاب نازل کړی دی تاسو خو اهل علم یاست د مشرکانو په شان ناپوه او جهال خو نه یاست، د ټولو اسماني ادیانو په مشترکه خبره باندې خو پوهېږئ چې یو طرف ته هم پرخیزه نه ده.

راشئ چې په دغې باندې سره راغونډ شو او په اتفاق سره ورباندې منګولې ښخې کړو چې تفصیل یې دا دی:

الف: د الله ﷻ څخه په غیر به د هیچا عبادت نه کوو که څه هم هغه عیسی ﷺ او یا بل کوم یو پیغمبر او یا بل څوک وي.

ب: د الله ﷻ سره به هیڅ شی په عبادت کښې نه شریکوو او عبادت به په همده ﷻ پورې مختص ګڼو.

ج: څرنګه چې مونږ او تاسو ټول انسانان یاستو نو د خپله منځه به د الله ﷻ څخه په غیر معبودان نه نیسو چې هغوی د خپلو کارونو کارسازان وګڼو او د تحلیل او تحریم وظیفه هغوی ته ورو سپارو.

۲ـ نو ای اهل الکتابو! ذکره شوې خبره داسې یوه معتدله خبره ده چې که مونږ او تاسو یې خپله تګلاره وګرځوو نو هیڅوک دا اشتباه نه شي کولی چې ګنې زه هغه بل چا استثمار کړم او په خپله شخصي ګټه باندې یې راڅخه کار واخست او یا غواړي چې ما د خپل ځان دپاره بنده او غلام جوړ کړي.

مونږ د همدې کبله تاسو ته د ذکرې شوې خبرې دعوت درکوو ترڅو تاسو پوه شئ چې مونږ تاسو د خپلو ځانو دپاره بندګان نه جوړوو، مونږ غواړو چې تاسو د بندګانو د بندګۍ څخه خلاص کړو او په حقیقي معنی باندې مو د الله ﷻ بندګان جوړ کړو.

که بالفرض تاسو ته مونږ دعوت درکولی چې د عیسی ﷺ بندګي پریږدئ او د محمد ﷺ عبادت وکړئ نو تاسو حق درلود چې زمونږ په مقابل کښې مو مقاومت کړی وی خو خبره داسې نه ده.

۳ـ ای پیغمبره! که اهل الکتابو ستاسو ذکر شوي دعوت ته شا کړه او مخونه یې ترې واړول نو تاسو په دې باندې پوه شئ چې دوی عناد نیولي دي او تاسو نه شئ کولی چې د عناد د غونډۍ څخه یې رابنکته کړئ، نو نهائي خبره ورته دا وکړئ چې:

۴ـ ای اهل الکتابو! تاسو شاهدان اوسئ چې بې شکه همدا مونږ الله ﷻ ته غاړه اېښودونکي یاستو چې د همده ﷻ عبادت کوو او هیڅ شی ورسره په عبادت کښې شریک نه ګڼو. او نه د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک کارساز او رب بولو.

یا په بل عبارت: ای اهل الکتابو! باید تاسو اعتراف وکړئ چې غاړه اېښودونکي مونږ یاستو چې په حقیقي معناوو کښې غاړې ږدو، تاسو نه یاست چې په عبادت کښې ورسره شریکان دروئ. که بالفرض تاسو د انصاف څخه کار واخلئ نو نوموړې خبره به تائید کړئ او که نه نو په خپله پخوانی عقیده به کلک ودرېږئ.

که ستاسو څه تمه وي چې په مونږ باندې به ستاسو کلکوالی څه تاثیر وکړي او په کوم وخت کښې به ستاسو عقیدې ته دراواړو نو دا تمه د زړو څخه وباسئ، او تاسو شاهدان اوسئ چې مونږ په خپله عقیده باندې ستاسو څخه ډېر کلک یاستو، مونږ په خپلې عقیدې باندې دومره مطمئن یاستو چې هرڅومره زیات شاهدان ممکن وي مونږ یې ورباندې شاهدان ودروو ترڅو د قیامت په ورځ کښې راباندې شاهدي ووایي چې رښتیا مونږ په همدې عقیده وو. د همدې کبله ستاسو څخه هم غواړو چې د قیامت په ورځ هم راباندې شاهدي ووایئ او په دنیا کښې هم.

توضیحات

۱ـ که څه هم په دې مقام کښې د نصاراوو سره مباحثه وه خو ښه دا ده چې د اهل الکتابو څخه ټول اهل الکتاب مراد شي. ځکه لکه څنګه چې نصاراوو عیسی ﷺ ته د ابن الله لقب ورکاوه همدارنګه یهودو هم عُزَیر ﷺ د ابن الله په نامه باندې باله.

كَلِمَةٍ سَوَآءٍ څه معنی

۲ـ د مجاهد رحمه الله علیه څخه روایت دي چې د ﴿ كَلِمَةٍ سَوَآءٍ ﴾ څخه د توحید کلمه (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) مراده ده[۱]، چې همدا معنی د ایت شریف د سیاق څخه معلومېږي چې: ﴿ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ الآية، د ﴿ كَلِمَةٍ سَوَآءٍ ﴾ دپاره د بیان په موقع کښې واقع شوی دی چې د توحید د کلمې معنی ورکوي.

ربوبیت څه معنی؟

۳ـ په دې ایت کښې اوله برخه د الوهیت (عبادت) په توحید باندې دلالت کوي لکه چې مخکښې بیان شوه او دوهمه برخه یې د ربوبیت (کار سازي) په توحید باندې دلالت کوي لکه چې

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۲۳۵

په يوه حديث شريف كښې په ډېره ښه وجه تفسيره شوې ده، هغه دا چې

عدي بن حاتم ﷺ د اسلام څخه وړاندې نصراني وه، نوموړى وايي چې زه نبي كريم ﷺ ته ورغلم او د سرو زرو صليب مې په غاړه وه، نو د هر څه څخه وړاندې يې راته امر وكړ چې دغه بوت دې د غاړې څخه ګذار كړه. بيا مې د نبي كريم ﷺ څخه واورېده چې دا ايت شريف يې ولوست. ﴿ اتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَـٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ [التوبة ٣١] يعني: دوى خپل علماء او راهبان (مشائخ) د الله ﷻ څخه په غير كارسازان جوړ كړي وه. او بيا يې د همدې ايت په تفسير كښې وفرمايل چې «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ»[١] يعني: خبردار! يقينًا دوى د خپلو علماوو او مشائخو عبادت نه وه كړى مګر دوى داسې وه چې كوم شى به ورته هغوى حلال كړ هغه به يې حلال ګاڼه او كوم شئ به يې چې ورته حرام كړ هغه به يې حرام ګاڼه

تحليل او تحريم

۴ـ د دې حديث شريف څخه څرګندېږي چې تحليل او تحريم د الله ﷻ اختصاصي صفت دى، هرڅوک چې د الله ﷻ احكام د پښو لاندې كړي او په عوض كښې يې خپل احكام په خلكو تطبيق كړي ـ كه څه هم همدغه څوک په خوله باندې خپل ځان ته د معبود لقب ورنه كړي ـ په حقيقت كښې يې دعوه كړې ده، برابره خبره ده چې نوموړىورباندې شعور لري او كه نه. برسېره په دې هرڅومره خلک چې نوموړي ته ذكر شوى حق وركوي هغوى يې په حقيقت كښې عبادت كوي او په معبود سره يې مني.

مونږ (د مذهب خاوندان) ابو حنيفه رحمه الله عليه څكه د إمام په صفت پېژنو چې د ده استنباطات په ايت او حديث باندې متكي دي، كه بالفرض نوموړى داسې حكم وكړي چې په ايت او حديث كښې ورته استناد موجود نه وي. نو دغه حكم زمونږ په نزد مردود دى. بلكې نوموړى امام رحمه الله عليه ويلي دي چې كله زما حكم د ايت او حديث څخه مخالف وي نو زما حكم په دېوال باندې وروتپئ (د اهانت په نظر ورته وګورئ) څكه چې "كُلَّمَا صَحَّ حَدِيثٌ فَهُوَ مَذْهَبِي"[٢] په هر وخت كښې چې صحيح حديث موجود شي هغه زما مذهب دى

همدې مضمون ته نبي كريم ﷺ اشاره كړې ده چې فرمايلي يې دي «إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ»[٣] يعني بې شكه اطاعت يوازې په معروفو (جائزو) كارونو كښې دى او بس.

يا په بل عبارت د مخلوق اطاعت هلته ضرور دى چې د خالق ﷻ د اطاعت څخه نمايندګي وكړي او كه نه نو مخلوق د اطاعت حق نه لري.

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٠
(٢) تفسير المظهري ج٢ ص٦٤
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٥٨

سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې د مخلوق هغه اطاعت مردود ګڼل شوی دی چې ﴿مِنْ دُونِ اللهِ﴾ وي او نصاراوو خو که د خپلو علماوو او مشائخو احکام مثل همدارنګه يې د الله ﷻ احکام هم منل. نو ايا دوی د ايت شريف مصداق جوړېدلی شي؟

مونږ وايو چې: کوم يو عبادت چې په هغه کښې د الله ﷻ سره بل څوک شريک کړی شي دا عبادت او نه عبادت دواړه يو برابر دي، دواړه مِنْ دُونِ الله ګڼل کېږي. الله ﷻ فرمايي: ﴿أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ﴾ [الزمر: ۳] يعني: خبردار! خاص الله ﷻ لره هغه غاړه ايښودل دي چې سوچه وي.

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې: د قيامت په ورځ به داسې اواز هم وکړی شي چې: «مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِي عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلَّهِ أَحَدًا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللهِ فَإِنَّ اللهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ»[۱] يعني: هر چا چې په خپل عمل کښې د الله ﷻ سره بل څوک شريک کړی وي نو هغه دې د خپل عمل ثواب د الله ﷻ څخه په غير د بل چا څخه وغواړي، ځکه چې يقيناً الله ﷻ په شريکانو کښې د دې څخه ډېر بې پروا وي چې په مشرک عمل کښې برخه واخلي. يعني: مشترک عمل د الله ﷻ په نزد بالکل مقبول نه دی.

﴿يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوْرَىٰةُ وَٱلْإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ أَوْلَى ٱلنَّاسِ بِإِبْرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِىُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾﴾

[۶۵] (اې پېغمبره! ورته ووايه چې:) اې اهل الکتابو! تاسو ولې د ابراهيم ؑ په حق کښې جګړې کوئ (چې هغه زمونږ په دين وه) حال دا چې تورات او انجيل (دواړه) نه دي نازل شوي مګر د هغه ؑ څخه وروسته. ايا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؛ (چې په خپله خطا باندې پوه شئ)؟.

[۶۶] خبردار! تاسو چې ياست اې دغو (سادګانو!) په هغه شي کښې جګړې کوئ چې په هغه کښې درسره علم شته (که څه هم هغه مو په خپل حال نه دی پرېښی) نو په هغه شي کښې ولې جګړې کوئ چې په هغه کښې تاسو لره هيڅ علم نشته. او الله ﷻ پوهېږي (چې د ابراهيم ؑ څه حال وه) او تاسو نه پوهېږئ.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴

[۶۷] (د هغه حال دا وه:) ابراهيم ﷺ نه يهودي مذهبه وه او نه نصراني مذهبه، مګر نوموړی د ټولو باطلو اديانو څخه حق دين ته تاوېدونکی (او هم الله ﷻ ته) غاړه ايښودونکی وه. او نوموړی دمشرکانو څخه هم نه وه (چې د الله ﷻ سره يې ستاسو په شان شريک درولی وي).

[۶۸] يقيناً ابراهيم ﷺ ته په ټولو خلکو کښې ډېر نژدې ضرور هغه کسان دي چې د ده متابعت يې (په وخت سره) کړی وه. او دا پيغمبر (محمد ﷺ) هم او هغه کسان هم چې په دغه پيغمبر ﷺ باندې يې ايمان راوړی دی. او الله ﷻ د ټولو مؤمنانو دوست دی (په هرې زمانه کښې چې وي او تاسو د دوی د جملې څخه نه ياست).

شان نزول او ارتباط

۱ـ مفسرينو کرامو د ذکرو شوو ايتونو شان نزول دا ښودلی دی چې يوه ورځې د نبي کريم ﷺ په حضور کښې يهود او نصارا په خپلو منځو کښې سره په جګړه شوه، هرې يوې ډلې ادعا کوله چې مونږ په ابراهيمي دين باندې يو. يعنې يهودانو ويلې چې د ابراهيم ﷺ دين يهوديت وه او نصارا وو ويلې چې د ابراهيم ﷺ دين نصرانيت وه. نو همدغه ايتونه نازل شوه[1] او د دوی دواړو ډلو او د درېمې ډلې (مشرکانو) ادعاګانې يې ردې کړې.

۲ـ د ارتباط وجه يې دا ده چې د تېر شوي ايت مضمون دا وه چې: ای اهل الکتابو! که چرته تاسو كَلِمَةٍ سَوَاءٍ (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ) ته وروانه وړئ نو شاهدان اوسئ چې مونږ په حقه غاړه ايښودونکي ياستو او تاسو په دروغو.

د همدې مضمون په جواب کښې د هغوی جواب دا وه چې مونږ په حقه ياستو او تاسو په دروغو ياستئ، ځکه چې مونږ په ابراهيمي دين باندې روان يو. خو د دوی همدغه جګړه يوازې د مسلمانانو په مقابل کښې نه بلکې په خپلو منځو کښې هم واقع شوه او هرې يوې ډلې بلې ته د باطلې ډلې لقب ورکاوه او په دې باره کښې يې زښتې ډېرې نانډرې او جګړې پيل کړې، چې په دې ايتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای اهل الکتابو ستاسو د دين او د ابراهيم ﷺ د دين اتحاد خو بالکل ممکن نه دی، تاسو ته په کار دي چې د هغه د دين نوم په خوله هم وانخلئ؛ پاتې خو لا دا چې جګړې او نانډرې پکښې ووهئ: دا ځکه کله چې تاسو د موسی ﷺ په دين کښې خپل مزخرفات ورګډ کړه او تورات مو تحريف کړ نو نوموړی دين مو په يهوديت باندې ياد کړ، او کله مو چې د عيسی ﷺ په دين کښې مزخرفات ورداخل کړه او انجيل ته مو تحريف ورکړ نو په همدې دين باندې مو د نصرانيت نوم کېښود. نو معلومه شوه چې يهوديت د تورات څخه منشا اخستې ده او نصرانيت د انجيل څخه منشا نيولې ده، چې د دغو دواړو کتابونو څخه مخکښې يوه هم موجوديت نه درلود.

---

[1] روح المعاني ج۳ ص۱۹۴

۲_ څرنګه چې ذکر شوي دواړه ادیان د ابراهیم ﷺ څخه ډېر وروسته اختراع شوي دي نو ایا دا ممکنه ده چې ابراهیم ﷺ ته د کوم یو نسبت وکړی شي؟ ایا دا د منلو خبره ده؟ ایا کوم یو هوښیار سړی به په دې باندې خونه وښوروي؟

لنډه دا چې په یهودیت او نصرانیت باندې پخپله موسی ﷺ او عیسی ﷺ هم نه وه، پاتې خو لا دا چې په هغو باندې ابراهیم ﷺ وي نو د ده په باره کښې دغسې ادعا کول یو حماقت دی او بیا په همدې خبرې کښې جګړې کول بل حماقت دی. دا کار بل شی نه دی فقط د لمر په ګوته پټول دي

۳_ ای پیغمبره! دوی ته روایه چې ای ساده ګانو! تاسو خو په داسې شي کښې جګړې کوئ چې په هغه کښې څه ناڅه علم درکړی شوی دی. او بهانه مو جوړه ده چې جګړې مو د پوهې په بنیاد ولاړې دي مثلاً د موسی ﷺ د دین په باره کښې وایئ چې نه منسوخ کېږي او عُزَیر ﷺ ته ابن الله وایئ. همدارنګه د عیسی ﷺ او د مریمې رضي الله عنها په باره کښې څه نورې خبرې کوئ او د نبي کریم ﷺ کوم علامات چې په کتابونو کښې تاسو ته ښودل شوي وه هغو ته تحریف ورکوئ ترڅو وریاندې تطبیق نه شي او داسې نور

اما تاسو چې د ابراهیم ﷺ په هکله جګړې کوئ نو دا مو ډېره زیاته سادګي ده ځکه چې د ده ﷺ په باره کښې خو تاسو ته هیڅ علم نه دی درکړی شوی ترڅو مو بحث ته بهانه جوړه شي او هغه د خپلو خانو په کته وغرځوئ.

ځکه تاسو ته په نوموړي بحث کښې د سادګي ګوته نیوه کېږي چې ستاسو سره نه عقلي دلیل شته او نه نقلي. دا ځکه چې تاریخي واقعات په عقل نه شي جوړېدلی او ستاسو په کتابونو کښې نقلاً هم نشته چې ابراهیم ﷺ یا یهودي مذهبه وه او یا نصراني مذهبه.

۴_ هو! د ابراهیم ﷺ په حال باندې الله ﷻ ښه پوهېږي تاسو وریاندې نه پوهېږئ. الله ﷻ تاسو پوهوي چې ابراهیم ﷺ نه یهودي مذهبه وه او نه نصراني مذهبه، بلکې ابراهیم ﷺ د ټولو باطلو ادیانو څخه مخ اړوونکی وه چې د هغو د جملې څخه ستاسو باطل ادیان هم دي. ابراهیم ﷺ صرف د الله ﷻ احکامو ته غاړه ایښودونکی وه. ایا دا امکان لري چې ابراهیم ﷺ ستاسو په دین باندې وي حال دا دی چې تاسو دواړو ډلو خپل خپل حقیقي دین ته تحریف ورکړی دی او د شرک پلو ته مو کش کړی دی؟ د همدې کبله مو د تېر شوي ایت وړاندیز قبول نه کړ او کلمة سواء (لا إله إلا الله) ته مو غاړه کېښودله. که رښتیا تاسو د ابراهیم ﷺ (رئیس الموحدین) په مذهب باندې روان وئ نو نوموړی وړاندیز به مو ډېر ژر قبول کړی وی.

۵_ دا وه د ابراهیم ﷺ د دین حال چې بیان شو. اوس دا خبره واورئ چې ستاسو دین ابراهیم ﷺ ته اقلاً ورنژدې هم نه دی. ځکه هغه ﷺ ته چې ورنژدې دي یو د هغه خپل امتیان دي چې د هغه متابعت یې کړی دی او بل دا پیغمبر (محمد ﷺ) دی او دریم د همدې پیغمبر ﷺ امتیان دي چې ایمان یې وریاندې راوړی دی. دوی ټول واقعي مؤمنان دي او الله ﷻ د مؤمنانو دوست دی. د دوی څخه په غیر چې نور څوک د ابراهیمي دین د نژدېکت ادعا کوي هغوی ټول دروغژنان دي او الله ﷻ د دروغژنانو سره دوستي نه لري چې د دوی د جملې څخه تاسو هم یاست.

توضيحات

١_ ابراهيم ﷺ د موسی ﷺ څخه يو زر (١٠٠٠) کاله وړاندې او د عيسی ﷺ څخه دوه زره (٢٠٠٠) کاله مخکښې تېر شوی دی[١]. او ځينو مفسرينو کرامو د ما بين په زمانو کښې نور مختلف اقوال ليکلي دي[٢]. په هر تقدير د ما بين فاصله يې ډېره زياته ده.

ابراهيمي دين د صحت معيار دی

٢_ ابراهيم ﷺ د الله ﷻ څخه سوال کړی وه چې: ﴿ وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴾ [الشعراء: ٨٤] يعني: او ای الله! ماته په وروستنيو خلکو کښې د ربښتينتوب يادونه په نصيبه کړې. الله ﷻ يې دغه سوال قبول کړی دی، د همدې کبله د ابراهيم ﷺ دين په ټولو اديانو کښې په حقانيت سره ستايل کېږي حتی چې د عقائدو د صحت په باره کښې ورته د معيار په شکل کتل کېږي. د همدې کبله د نبي کريم ﷺ د زمانې کافرانو مختلفو ډلو هرې يوې ډلې هم زور لګاوه چې خپلو عقائدو ته ابراهيمي لقب ورکړي او حريفه ډله غير ابراهيمي ډله وبولي. لکه چې يهودو او نصاراوو د همدې تکتيک څخه کار واخست او الله ﷻ د دوی نظر رد کړ چې ستاسو اديانو خو د تورات او انجيل څخه منشا نيولې ده او دغه دواړه کتابونه خو د ابراهيم ﷺ څخه زښته ډېره موده وروسته نازل شوي دي او نو څنګه ممکنه ده چې هغه ﷺ به ستاسو په وروستني پيدا شوي دين باندې وه.

سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: اهل الکتابو چې خپل اديان ابراهيمي اديان ګڼل دا دوه احتماله لري او په دواړو باندې اعتراض واردېږي، مثلا:

الف: ابراهيم ﷺ يهودي مذهبه او يا نصراني مذهبه وه، په دې تقدير اعتراض دا دی چې دا ډول ادعا خو بالکل ظاهر البطلان ده ايا اهل الکتاب دومره بې عقلان او ساده ګان وه چې په دې باندې هم نه پوهېده؟.

ب: د ابراهيم ﷺ مسلک د يهوديت يا نصرانيت سره موافق وه، په دې تقدير اعتراض دا دی چې د موافقت دپاره خو د زمانې يووالی ضرور نه دی، نه ګورئ چې قرآن کريم د ابراهيم ﷺ څخه وروسته نازل شوی دی خو محمدي (ﷺ) شريعت د ابراهيمي (ﷺ) شريعت سره موافقت لري؟.

مونږ وايو چې: اهل الکتابو چې خپل خانونه ابراهيم ﷺ ته نسبتول مطلب يې د اعتراض اول شق وه. او دا څکه چې:

الف: دوی ته جواب په اول شق ورکړی شوی دی چې: ﴿ مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ يَهُودِيّٗا وَلَا نَصۡرَانِيّٗا ﴾ الأية، که د دوی مطلب دوهم شق وی نو داسې جواب په کار وو چې: "مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ مُوَافِقًا لِلۡيَهُودِيَةِ وَلَا مُوَافِقًا لِلنَّصۡرَانِيَةِ".

(١) تفسير القرطبي ج۴ ص١٠٧
(٢) روح المعاني ج٣ ص١٩۴

ب: که د دوی دوهم شق مطلب وی نو دستي به یې اعتراض کړی وی چې مونږ خو ابراهیم ﷺ یهودي او نصراني نه ګڼو بلکې وایو چې هغه زمونږ د دین سره موافق وه.

نو څرنګه چې دوی د اعتراض څخه ساکت پاتې شوه نو معلومه شوه چې مطلب یې اولنی شق وه او دوهم شق نه وه او دا هم معلومه شوه چې دوی یهودیت او نصرانیت اختراع کړي وه که نه نو دستي به یې د خپل کتاب څخه وربانديې دلیل وړاندې کړی وی چې مونږ په دې دلیل دغه مسلک کلک کړی دی.

پاتې شوه دا خبره چې دوی ولې دومره ساده بوده وه چې په مباحثه کښې یې دغسې واهیات او د غنې د کور په شان ضعیفه او کمزوري دلایل وړاندې کول نو د دې دپاره لاندې وجې وللې:

اول: اهل الکتابو څکه په دغسې ظاهر البطلان دلیل باندې منګولې ښخې کړې ترڅو مسلمانان خپه او خپل تعنت او عناد ورڅرګند کړي.

دوهم: ترڅو خینو ساده لوحو مسلمانانو ته تشویش ورواچوي او د سمې عقیدې څخه یې منحرف کړي، لکه چې په همدې مطلب باندې راتلونکی [۶۹] ایت دلالت کوي.

دریم: دا هم لرې نه ده چې دومره ساده ګان او جهال وه چې دغسې ظاهر البطلان دلیل هم ورته باطل نه ښکاره کېده، لکه چې د خوسي په یوه رمباړه باندې یې عقائدو انحراف وموند او هغه ته په الوهیت قائل شوه! د دې څخه خو هغه ډېره ظاهر البطلان وه.

څلورم: کېدلی شي چې الله ﷻ د دوی په ژبو باندې نوموړې ظاهر البطلان خبره د معجزې په توګه جاري کړې وي ترڅو د دوی د عقائدو انحراف ټولو خلکو ته څرګند شي.

هو! د دې دپاره چې دوی د خپلو باطلو عقائدو د تصحیح دپاره په راتلونکي کښې د دوهم شق احتمال غوره نه کړي چې زمونږ دا مطلب دی چې ابراهیمي دین زمونږ د دین سره موافقت لري، نه دا چې هغه یهودي یا نصراني وه، نو الله ﷻ د دوی د دغې تصحیح مخه هم بنده کړه او ویې فرمایل چې: ﴿ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ یعني: او ابراهیم ﷺ د مشرکانو څخه هم نه وه. نو نه وربانديې یهودان د موافقت دعوه کولی شي چې عُزَیر ﷺ ته د ابن الله لقب ورکوي او نه نصارا چې په عیسی ﷺ باندې د "ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ" د دریم "إله" نوم ږدي. برسېره په دې دوی دواړه ډلې خپلو علماوو او مشائخو ته د اربابانو منصب ورکوي چې په تحلیل او تحریم کښې د همدوی خولو ته ګوري او د الله ﷻ احکام د پښو لاندې کوي.

په یاد ولرئ!

۴ـ په یاد ولرئ په کوم دول سره چې مونږ د ذکر شوو ایتونو تفسیر وکړ دا د هغه اعتراض مخه نیسي چې ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې په څان باندې وارد کړی دی او بیا یې ورته جواب کړی دی(۱).

(۱) التفسیر الکبیر ج۸ ص۹۵؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۳۶

اعتراض داسې دی چې که اهل الکتاب مسلمانانو ته ووايي چې قرآن کريم خو هم د ابراهيم ﷺ څخه ډېر وروسته نازل شوی دی نو تاسو ولې خپل ځانونه ابراهيم مسلکې بولئ؛ چې په مونږ باندې بد وايئ؟

جواب يې دا دی چې دا اعتراض به هلته په ځای وی چې مونږ په ﴿ وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ﴾ کښې د "مُسْلِم" څخه د محمدي شريعت تابع مرادولی، مونږ خو د "مُسْلِم" څخه غاړه ايښودونکی مرادوو. نو ذکر شوی اعتراض په مونږ باندې نه واردېږي، په تاسو باندې واردېږي چې ابراهيم ﷺ يا يهودي بولئ او يا نصراني.

او زمونږ د تفسير په طريقه نه سوال شته او نه جواب. ځکه چې اعتراض د ذکرو شوو شقونو څخه په دوهم شق باندې واردېږي او مونږ اول شق اختيار کړی دی.

يادونه

۵ـ په دې مقام کښې مونږ د مشرکينو څخه اهل الکتاب مراد کړه چې سياق او سباق ورباندې دلالت کوي. که د همدې مراعات په نظر کښې ونه نيولی شي نو د ﴿ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ کلمه بوت پرستانو، يهودانو، نصاراوو او نورو کافرانو ټولو ته شامليږي لکه چې ځينو مفسرينو کرامو[۱] شامله ګڼلې ده.

يو تذکر

۶ـ د "حَنِيف" د کلمې تحقيق مونږ يو خل د [البقرة:۱۳۵] ايت لاندې ليکلي دي بيا ليکلو ته يې اړتيا نه وينو، دلته فقط همدومره اضافه کوو چې ځينې مفسرين وايي "حَنِيف" هغه څوک دی چې موحد وي، حج اداء کوي، د لوي اختر ضحيه کوي، سنت ګيري کوي او بالآخره په لمانځه کښې کعبې شريفې ته مخ کوي[۲]. نو د ټولو څخه رومبی دغه صفات په ابراهيم ﷺ باندې صادقېږي.

﴿ وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٧٠﴾ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَلْبِسُونَ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٧١﴾ ﴾

[۶۹] د اهل الکتابو يوه ډله دا خوښوي چې تاسو بې لارې کړي. او دوی نه بې لارې کوي مګر خپل ځانونه خو دوی ورباندې شعور نه لري (چې مونږ خپل ځانونه بې لارې کوو).

[۷۰] (ای پيغمبره! ورته ووايه چې) ای اهل الکتابو تاسو د الله ﷻ په ايتونو باندې ولې کافر کېږئ حال دا چې تاسو يې (په حقانيت) شاهدي هم وايئ؟

---

(۱) البحر المحيط ج۲ ص۴۸۷
(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۳۱۳

[۷۱] ای اهل الکتابو! تاسو ولې حق د باطل سره ګډوئ او (ولې) حق پټوئ حال دا چې تاسو پوهېږئ (په حق باندې پوهېږئ او د حق پټوونکو جزا هم درته معلومه ده او خپله فریضه هم پېژنئ)؟.

شان نزول او ارتباط

۱ـ د مفسرینو کرامو په اجماع سره ثابته ده چې دغه ایتونه د یوې ډلې صحابه وو کرامو ﷺ په باره کښې نازل شوي دي، لکه معاذ ﷺ، حذیفه ﷺ، عمار ﷺ کله چې دوی ته اهل الکتابو دعوت ورکړ چې خپل دین پرېږدئ او زمونږ د دین تابع شئ[۱].

۲ـ او د ارتباط وجه یې دا ده چې په مخکښنیو ایتونو کښې د اهل الکتابو ګمراهي (ضلالت) بیان شوی وه او دلته یې ګمراه کول (اضلال) بیانېږي، نو د دواړو ایتونو څخه یوه دا په اثبات رسېږي چې دوی لکه څنګه چې ګمراه دي ګمراه کوونکي هم دي او بله دا چې دوی د تېرو شوو ټولو دلایلو سره-سره د خپلو مزخرفو عقائدو څخه صرف نظر نه دي بلکې اوس لا هم ورته دعوت چلوي او په کفر کلک ولاړ دي.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! په اهل الکتابو باندې تېرو شوو دلایلو هیڅ تاثیر نه دی کړی حتی چې په دوی کښې داسې یوه ډله هم شته چې ستاسو د ګمراه کولو هڅه کوي او په تاسو کښې چې څوک ورته ساده ښکارېږي هغوی ته دعوت ورکوي چې خپل دین پرېږدئ او د دوی دین ته راواوړئ.

دوی دا توان نه لري چې مسلمان د حق دین څخه واړوي او ګمراه یې کړي بلکې دوی خپله ګمراهي لا پسې قوي کوي او د خپل کفر پېټی لا درنوي خو دوی ورباندې شعور نه لري، که شعور یې درلودی نو خپل ځانونه به یې نه وی اغفال کړي او د حق دین په دلایلو باندې به یې سترګې نه وی پټې کړې او غوږونه به یې ورباندې نه وی کاڼه کړي. ته به وایې چې نه یې ګوري او نه یې اوري او د بې ژبې حیواناتو څخه هم ښکته دي چې دوی د مشاعرو څخه د آخرت ګټه نه اخلي.

۲ـ نو ای پیغمبره! ورته وایه چې ای اهل الکتابو! په تاسو باندې څه باعث دی چې تاسو د خپلو کتابونو د هغو ایتونو څخه انکار کوئ چې تاسو ته یې نبي کریم ﷺ د خپلو زمانو په شان درپېژاندلی دی او دې ته یې مجبور کړي یاست چې په خپلو منځو کښې یې په حقانیت شاهدي هم وواییئ خو د دې سره-سره ایمان ورباندې نه راوړئ.

همدارنګه په تاسو څه باعث دی چې د قرآن کریم د دلایلو څخه انکار کوئ . حال دا دی چې حقانیت یې په داسې دلایلو سره په اثبات رسېدلی دی لکه چې په سترګو باندې یې ګورئ خو بیا هم درباندې سترګې پټېږي او د بصیرت کار ترې نه اخلئ.

او هم ورته ووایه چې: ای اهل الکتابو! تاسو خو د اسماني کتاب خاوندان یاست، په تاسو لازمه ده چې خلکو ته حق واضحه کړئ او د باطلو څخه یې ورته جدا کړئ. نو په تاسو باندې څه باعث دی

---

(۱) البحر المحیط ج۲ ص۴۸۸

چې يا حق د باطل سره گډوئ چې په خلکو باندې خلط راشي او يو د بل څخه جدا نه کړی شي او يا بالکل حق پټوئ او نه يې ښکاره کوئ، حال دا چې تاسو ښه پوهېږئ چې دا خومره بدكار دی او خومره لوی جنايت دی؛ نو که تاسو حق څرګند کړئ د ډېر خلک به ايمان راوړي او که نه نو په هغوی باندې به د خپل ضلالت ګناه بار وي او په تاسو باندې به د خپلو کفر دپاسه د هغوی د ګمراه کولو پېټی هم وراضافه شي.

توضيحات

۱ـ که څه هم د ټولو کافرانو زړونو غوښتل او زړونه يې غواړي چې مسلمانان د خپل دين څخه باطل دين ته ورتاو کړي او د خپلو خانونو په شان ترې کافران جوړ کړي، لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه فرمايي چې: ﴿ وَدُّوا۟ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا۟ فَتَكُونُونَ سَوَآءً ﴾ [النساء:۸۹] يعني: دوی آرزو کوي چې کاشکي تاسو هم داسې کافران شئ لکه چې دوی کافران دي نو ټول به يو برابر شئ. مګر څرنګه چې د همدې آرزو دپاره هر يو کافر کار نه شي کولی نو ځکه الله ﷻ په دې مقام کښې په ﴿ طَّآئِفَةٌ ﴾ سره تعبير وکړ. چې باطلو ته دعوت کول د دوی د يوې ډلې کار دی چې هغوی يې علماء او مشائخ دي.

دوی خپل خانونه ګمراه کوي

۲ـ څرنګه چې د دوی په ذکر شوي دعوت باندې څه مرتب نه شوه او ويې نه شوه کړی چې کوم يو مسلمان مرتد کړي او د دين څخه يې واړوي نو الله ﷻ د دوی د دغې بې اثره دعوت څخه داسې تعبير وکړ چې دوی خپل خانونه ګمراه کړه، سره د دې چې دوی لا د دغه بې نتيجې دعوت څخه وراندې هم ګمراهان وه. نو ځکه يې مفسرين کرام لاندې معناوې کوي:

الف: د خپل خان ګمراه کول د دې څخه عبارت دي چې کفر يې لا پسې قوي کېږي او د ګناه پېټی يې درنېږي[۱].

ب: دوی په دغه کار سره د اسلام د قبول استعداد د منځه وړي او کفر بې د ختم حد ته رسېږي[۲]. د دې څخه وړاندې احتمال وه چې د کفر څخه يې لاس اخستی وی خو وروسته يې دغه احتمال بالکل ضايع کړ، ته به وايې چې په لوی لاس يې خپل خانونه د ضلالت کندې ته وغورځول.

ج: دوی مسلمانان نه شي ګمراه کولی بلکې خپل خانونه ګمراه کوي، يعنې خپل امثال ګمراهان کوي نو د خپلو امثالو ګمراه کول داسې وګڼل شوه لکه چې دوی خپل خانونه ګمراه کړي وي[۳]. د دې نظير داسې دی لکه چې الله ﷻ دوی ته توصيه کړې وه چې: ﴿ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ ﴾ [البقرة:۸۴] تاسو به خپلې وينې نه تويوئ. يعني د خپلو امثالو وينې به نه تويوئ.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۴ ص۱۲۰
(۲) تفسير المنار ج۳ ص۳۳۱
(۳) روح المعاني ج۳ ص۱۹۸

مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوې ټولې معناوې د عموم مجاز په طريقه باندې مرادېدلی شي نو حاجت نشته چې يوه معنى مراده کړی شي او د بلې څخه صرف نظر وکړی شي. بايد داسې وګڼل شي چې هر مفسر يې يو- يو مثال ښودلی وي او حصر يې مطلب نه وي.

"وَأَنْتُمْ تَشْهَدُونَ" څه معنى؟

۳ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو څو معناوې کړې دي(۱). لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: اى اهل الكتابو! په هغو دلايلو باندې ولې کافر کېږئ چې ستاسو په کتابونو کښې د ابراهيم عليه السلام په حنيفيت او د نبي کريم ﷺ په حقانيت باندې دلالت کوي، حال دا چې تاسو هغه دلايل په سترګو ګورئ او شاهدي ورباندې وايئ او البته په خپلو منځو کښې.

ب: په هغو دلايلو باندې ولې انکار کوئ چې په قرآن کريم کښې نازل شوي دي او تاسو يې هم د حقانيت دلايل ګورئ او هم يې په پټه کښې په حقانيت اقرار کوئ.

ج: په هغو معجزاتو ولې کافر کېږئ چې هغه د نبي کريم ﷺ د پلوه تاسو په سترګو ليدلې دي او ګورئ يې.

دلته هم زمونږ په فکر ټولې معناوې مرادېدلی شي ځکه چې اهل الكتابو د نومورو ټولو دلايلو څخه انکار کاوه.

يو تذکر

۴ـ د حق د پټولو او د حق او باطل ګډولو بيان د [البقرة:۴۲] ايت لاندې تېر شوی دی هيله ده هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿ وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓا۟ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَا تُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ قُلْ إِنَّ ٱلْهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ ۗ قُلْ إِنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ ﴾

[۷۲] او د اهل الكتابو څخه يوه ډله (ځينو نورو ته) وايي چې: د ورځې په مخ کښې (سبايې مهال) په هغه کتاب باندې چې په هغو کسانو باندې نازلېږي چې ايمان يې (په محمد ﷺ باندې) راوړی، تاسو هم ايمان راوړئ او د ورځې په آخر کښې (ماښامي مهال) ورباندې بېرته کافر شئ: شايد چې هغوی (هم ستاسو سره) راوګرځي.

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۶۳۷

[۷۳] او تاسو (دغه دستوري ایمان) بل هیچا ته مه ښکاره کوئ مګر هغه چا ته چې ستاسو د دین (پوخ) متابعت کوي.

(په جواب کښې ورته ای پیغمبره!) ووایه چې: بې شکه کامل هدایت خو د الله ﷻ هدایت دی (ستاسو څه د لاسه کېږي) چې یو چاته د هغه کتاب په مثل یو کتاب ورکړی شي چې تاسو ته درکړی شوی دی او یا په تاسو باندې د خپل رب په نزد هغوی په جګړه کښې غالب شي، (ایا تاسو بې مخه نیولی شئ؟).

ورته ووایه چې: یقینًا فضیلت ورکول د الله ﷻ په لاس کښې دي (ستاسو په لاس کښې نه دي) هر چا ته یې چې اراده وشي هغه ته یې ورکوي. او د الله ﷻ فضل پراخه دی (یوازې په تاسو پورې حصر نه دی او هم الله ﷻ) پوه دی (د فضل ورکولو ور خلک پېژني).

[۷۴] الله ﷻ په خپل رحمت (نبوت، قرآن) هغه څوک مختص (ممتاز) جوړوي چې هغه چا ته یې چې اراده وشي او الله ﷻ د لوی فضل خاوند دی.

شان نزول او ارتباط

۱ـ د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې متعدد صورتونه روایت شوي دي. مثلاً:

الف: کعب بن أشرف او نورو یهودي مشرانو د خپل قوم ځینو ساده خلکو ته وظیفه ورکړې وه چې سهار په قرآن کریم باندې ایمان راوړي او بېګاه ته بېرته خپل دین ته واوړي ترڅو مسلمانانو ته د قرآن کریم په حقیت کښې شک ورواچوي[۱] چې: دوی خکه بېرته ستانه شوه چې قرآن کریم ورته حق ښکاره نه شو څرنګه چې دوی اهل الکتاب دي (د علم خاوندان دي) نو معلومېږي چې رښتیا پکښې شک شته.

ب: ځینو یهودي علماوو ذکر شوي وظیفه څه ساده ګانو ته د قبلې په باره کښې ورکړې وه. البته په کوم وخت کښې چې د مسلمانانو قبله د بیت المقدس څخه کعبې شریفې ته تاو کړی شوه، چې لاړ شئ: د نبي کریم ﷺ سره د سهار لمونځ کعبې ته وکړئ او ماسپښین بېرته خپلې قبلې ته راستانه شئ ترڅو مسلمانان په خپله قبله کښې شکمند شي[۲].

یوه تبصره

۲ـ لرې نه ده چې دواړه ډوله دستورونه ورکړی شوي وي، څه منافات سره نه لري. پاتې شوه دا خبره چې نوموړي وظائف یهودي سادګانو عملي کړه او که نه. ځینې مفسرین وایي[۳] چې دوی همداسې وکړه، په سبا او بېګاه کښې یې خپلې خبرې واړولې او راواړولې مګر په مؤمنانو باندې یې ـ الحمد لله ـ څه تاثیر پرېنووت.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۱۱
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۳۴۴، تفسیر الطبري ج۳ ص۳۱۲
(۳) روح المعاني ج۳ ص۲۰۰

اما د ایتونو سوق ته چې سرې ګوري داسې ښکاري چې د دوی ذکره شوې نقشه د عملي کولو څخه وړاندې الله ﷻ افشاء کړه، ترڅو د یو پلوه مسلمانان د یو خطرناک ازمېښت څخه وساتل شي او د بلې خوا د یهودانو دپاره یوه غټه معجزه جوړه شي چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ د دوی د ډېرو پټو رازونو څخه هم خبرولی شي که بالفرض د وحې برکت نه وی نو هیڅوک به پرې نه وی خبر شوی ځکه چې دوی یې په پټولو کښې زیات کوښښ کاوه چې دسیسه افشاء نه شي.

ارتباط

۳ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د اهل الکتابو په باره کښې فرمایلي وه چې دوی حق پټوي او حق او باطل سره یو ترېله خلطوي. په دې ایتونو کښې د همدې مضمون د مصداق یوه نمونه وښودله شوه چې د نوموړي مطلب دپاره دوی په هره زمانه کښې رنګارنګ دسائس په کار اچوي، چې د نبي کریم ﷺ د زمانې یوه دسیسه دا ده چې افشاء شوه.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! ستاسو دښمنان همېشه تاسو ته دسائس جوړوي ترڅو مو د حق دین په باره کښې تشویش کښې واقع کړي. د همدې دسائسو څخه یوه دسیسه دا ده چې د اهل الکتابو یوې ډلې مشرانو او مغرورو خپنو نورو ته دستور ورکړ چې سبا مهال په قرآن ایمان راوړئ او بېګاه مهال بیرته خپل دین ته راتاو شئ شاید چې مسلمانان هم درسره راوګرځي خصوصاً هغه مسلمانان چې دوی نوي مسلمانان دي او د اسلام په مزایاوو باندې چندان پوه نه دی. خو پام کوئ چې دغه دسیسه افشاء نه کړئ او د خپلو مخلصو او پخو همعقیده وو څخه په غیر یې هیچا ته ښکاره نه کړئ. او دا ځکه چې:

الف: که مسلمانان ورباندې خبر شي نو دسیسه به خنثی شي او څه فائده به پرې مرتبه نه شي.

ب: که مشرکان ورباندې خبر شي نو اسلام ته به یې میلان پیدا شي چې که اسلام حق دین نه وی نو اهل الکتابو به یې د منځه وړولو دپاره پټې دسیسې نه وی جوړې کړې.

علاوه په دې باید دغه لنډمهاله ایمان صرف د دې دپاره راوړئ چې د خپلو همعقیده وو خیر مو په نظر کښې نیولی وي ترڅو دوی په خپله عقیده باندې کلک او مطمئن کړئ او د مخالفینو په عقیده کښې شک او اضطراب واچوئ.

خو د دې ټولو سره‌سره په تاسو ډېر تاکید کوو چې دستوري ایمان او عقیدې ته په زړونو کښې ځای ورنه کړئ چې تو که تکاله نه شي او دروغ مو رښتیا نه شي.

۲ـ ای پیغمبره! که دوی د خپلو دسائسو په اخفاء کښې هرڅومره زیار وباسي د الله ﷻ څخه یې نه شي پټولی، نو دغه دی چې د دوی د دسیسې څخه مو پرده پورته کړه او په نطفه کښې مو خنثی کړه ترڅو تاسو پوه شئ چې الله ﷻ ستاسو کومکي دی او ترڅو چې هغوی ته ستا د پیغمبرۍ یوه بله معجزه هم ورولیده کړو چې بې شکه ته په حقه پیغمبر یې چې الله ﷻ دې د ډېرو پټو رازونو څخه د وحی په ذریعه خبروي.

۳_ نو دوی ته ووایه چې ستاسو دسیسه کاریګره نه شي واقع کېدلی. ځکه چې د مسلمانانو هدایت د الله ﷻ هدایت دی او د الله ﷻ هدایت تاسو په ضلالت نه شئ بدلولی او ستاسو په وسه کښې نه ده، که هرڅومره پلمې او چلونه او ترتیب کړئ یو به هم منتج او کاریګر واقع نه شي.

۴_ تاسو خو غواړئ چې هیڅوک ستاسو د کتاب غونډې د کتاب خاوند نه شي او هیڅوک عند الله تاسو په جګړه کښې ملامته نه کړی شي مګر دغسې نه ده، چا ته چې الله ﷻ هدایت کړی هغوی ستاسو غونډې د اسماني کتاب (قرآن کریم) خاوندان هم دي او په مباحثه کښې هم تاسو مغلوبولی شي، لکه چې د همدې سورت د اول سر څخه تردې خایه پورې یې تاسو په څومره دلایلو باندې ملامته کړئ، حتی چې په مباهله کښې هم درباندې غالب شوه او په همدغې دسیسه کښې هم درباندې برلاسي شوه او د هغوی مقابله مو ونه شوه کړی.

نو که بالفرض ستاسو حالت او د مسلمانانو حالت یو منصف سړی مطالعه کړي، ستاسو دسائس او د دوی دلایل ټول په دقیقه توګه د نظره تېر کړي نو هغه به ضرور عند الله (عند الشریعة) تاسو ملامته او پړه کړي. دا ده د دنیا د محاکمې او مباحثې نتیجه او د آخرت پړه کېدل خو مو پوره واضحه دي چې هغوي . به درباندې د خپل رب ﷻ په حضور کښې زوروور شي.

۵_ ای پیغمبره! بیا ورته ووایه چې اصلي خبره دا ده چې ټوله بهتري او فضیلت د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دی هر چا ته یې چې اراده وشي هغه ته یې ورکوي او څوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی، نن ورځ یې چې په مسلمانانو باندې خپل فضل وکړ قرآن کریم یې ورباندې نازل کړ او آخر الزمان پیغمبر یې په همدوی کښې مبعوث کړ، که هرڅومره دسیسي ورته جوړې کړئ نو د خپلو خانو د رسوائي او فضیحت څخه په غیر به بله نتیجه ورنه کړي.

دا ځکه چې د الله ﷻ فضل ډېر پراخه دی، تاسو یې چې په تنګه دائرې کښې محاصره کوئ چې باید ستاسو څخه په غیر په بله طائفه کښې پیغمبر مبعوث نه شي دا مو غټه سهوه او خطا ده. او الله ﷻ د پوهې خاوند هم دی هرڅوک چې د فضل کولو لیاقت ولري هغه پېژني او په خپل رحمت باندې اختصاص ورکوي. نو الله ﷻ ستاسو څخه د پیغمبرۍ سلسله ځکه قطعه کړه چې په تاسو کښې د آخر الزمان پیغمبر د مبعوثیت استعداد ختم شوی وه.

۶_ په دې ټولو باندې د پاسه الله ﷻ د لوی فضل خاوند دی او تاسو غواړئ چې لوی فضل رامحدود کړئ (خپلو خانو پورې اختصاص ورکړئ) په اصطلاح دریاب په کوزه کښې بند کړئ او لمر په بېښنه کښې پټ کړئ.

توضیحات

۱_ داسې معلومېږي چې د اهل الکتابو مشران په خپلو دستوري کسانو باندې هم داډېدل چې چرته یې په زړونو کښې اسلام ځای ونه نیسي نو بېرته به خپل مسلک ته راتاو نه شي، د همدې کبله یې ورته مهال ډېر نژدې تاکلی دی چې سبا ایمان راوړئ او بېګاه بېرته کافر شئ.

د دې عصر دسائس

۲ـ په دې زمانه کښې د اسلام دښمنو ټولنو د دسیسو او پلمو وسیلې زښتې ډېرې دي لکه راډیو، تلوېزون، جرائد، مجلات، انټرنټ، فلمونه، سینماګانې، اقتصادي تطمیع او تخویف او داسې نور. مګر کومه دسیسه چې په ایت شریف کښې ذکره شوه د هغې څخه په هره زمانه کښې کار اخستلی کېږي او هم ډېره خطرناکه ده ځکه چې انسان د ټولنې او چاپېریال د تاثیر لاندې په لاشعوري توګه راځي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: کله چې د سړي سره ډېر خلک په یوه غم کښې شریک وي هغه تخفیف کېږي، لکه چې وایي: "اَلْبَلَايَا إِذَا عَمَّتْ خَفَّتْ" بلاګانې چې کله عامې شي سپکېږي. د همدې کبله په افغان مهاجرو باندې هجرت اسان شو چې عام خلک پکښې شریک شوه.

ب: کله چې سړی واوري چې خلک فلانی کار کوي او فلاني ځای ته لاړه، د سړي شوق پیدا شي چې زه هم هلته تللی وی او یا ما هم هغه کار کړی وی.

ج: که څوک خبر شي چې فلاني سړي ته فلانکي دوائي نقصان وکړ او یا په فلانۍ معامله کښې تاواني شو نو دستي ترې د سړي نفرت واقع کېږي.

دا نفرت او شوق په هغه وخت کښې ډېر زیاتېږي چې کوونکي خلک په عقل او پوهې سره شهرت ولري، لکه چې اهل الکتابو شهرت درلود چې دوی د اسماني کتاب خاوندان دي په دیني شیانو کښې د نورو خلکو څخه پوه دي، دروغ او رښتیا ډېر ښه پېژاندلی شي.

د همدې کبله د ګناه افشاء کول اسلام دوهمه ګناه ګڼلې ده چې عوام ګناه ته تشویق کېږي او هم یې د ارتداد جزا وژل ټاکلې ده چې نور خلک مرتد نه شي، لکه چې د [البقرة:۲۵۶] ایت لاندې څه بیان تېر شوی دی.

په هر تقدیر، مسلمانانو ته دې الله ﷻ اتحاد او توفیق ورکړي چې د دښمن په دام کښې ونه لوېږي او چې څوک پکښې لوېدلي دي خانونه ترې راخلاص کړي.

زړه دسیسه بیا تازه شوه

۳ـ په ایت شریف کښې ذکره شوې دسیسه به که څه هم پخوا هم تکرار شوې وي او لا تکرار به شي مګر مونږ د افغانستان په څوارلس کلن جهاد کښې زښت ډېر وارونه ولیده چې بیا‌بیا تازه شوه، د مجاهدینو په صفونو کښې به کمونستي رژیم دستوري کسان ځای په ځای کړه او څه موده وروسته به بېرته خپلې مرجع ته ورتاو شوه او د نشریاتو په ذریعه به یې دنیا ته ورښکاره کړه چې په فلاني ولایت کښې دومره مجاهدین رژیم ته تسلیم شوه او د همکارۍ وعدې یې ورکړې، د دوی سره فلانی او فلانی ډول سلاګانې دي. همدارنګه مو په جهادي شعباتو او دوائرو کښې هم خینې دستوري کسان لیدلي دي چې د څه وخت څخه وروسته اصلي مسلک ته ورستانه شوي او د هغوی سره یې د وفادارۍ لوړې کړې دي. داسې هم شوي دي چې په عین جګړه کښې دستوري کسان

دښمنانو ته ورتښتېدلي دي ترڅو مجاهدين بې زړه کړي او په صفونو کښې يې شکست ګډ کړي، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

لړې نه ده چې نوموړې دسيسې ته به نبي کريم ﷺ اشاره کړې وي چې فرمايلي يې دي: «تَكُونُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ أَقْوَامٌ دِينَهُمْ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا»[۱] يعني: د قيامت د ورځې په مخکښې به داسې فتنې موجودې شي چې د شپې په شان به تکې توري وي، په دې فتنو کښې به يو سړی سبا مؤمن وي او بېګاه ته به کافر وي، سبا به کافر وي او بېګاه ته به مؤمن وي، ډېر قومونه به خپل دين په دنياوي متاعګانو باندې خرڅ کړي.

مشکل التفسير ايت

۴ـ ذکر شوی دوهم ايت ځينو مفسرينو کرامو د مشکلو ايتونو څخه ګڼلی دی[۲]، د همدې کبله يې په تفسير کښې ګڼ شمېر صورتونه ذکر کړي دي[۳] چې د اوږدوالي د کبله يې مونږ دلته نه شو رانقلولی، مګر کوم تفسير چې مونږ ته ښه ښکاري په هغه کښې نه خفا شته او نه پکښې خلاف الظاهر څه شی په نظر راځي نو د دې دپاره چې موضوع پوره واضحه شي هغه نکتې لاندې په صراحت سره ليکو چې مونږ ورته وړاندې اشارې کړې دي:

الف: په ﴿ وَلَا تُؤْمِنُوٓاْ ﴾ کښې د هغه ايمان څخه نهي شوې ده چې په ﴿ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ ﴾ کښېورباندې امر کړی شوی وه خو په دې مقام کښې ذکر شوې جمله اعتراف ته متضمنه ده چې په همدې اعتبار سره ورپورې په ﴿ لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ ﴾ کښې اجليه لام تعلق نيسي[۴].

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ذکر شوی دستوري ايمان د بل هيڅ شي دپاره مه راوړئ مګر صرف د خپلو ديني ورونو دپاره، چې کله تاسو خپلو مخالفينو ته عقيدوي شک ورواچوئ او بېرته درسره راستانه شي نو خپلو ديني ورونو ته به اطمنان ورکړئ او هغوی ته به ډېر لوی خدمت وکړئ. او همدارنګه بل هيچا ته په ذکر شوي ايمان باندې اعتراف مه کوئ مګر خپلو ديني پخو ورونو ته چې تاسو ورباندې مطمئن ياست، پام کوئ چې نور څوک ورباندې خبر نه شي چې دسيسه به افشاء شي.

ب: څرنګه چې اهل الکتابو ذکر شوې دسيسې ته د لاندې وجو څخه اقدام کړی وه نو الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته د ټولو جوابونه ورزده کړه چې:

اول: د هغوی خيال وه چې مونږ په عقيده کښې ډېر پاخه يو او مسلمانان کمزوري دي، اسان

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۳
(۲) التفسير الكبير ج۸ ص۱۰۲
(۳) روح المعاني ج۳ ص۲۰۱؛ زاد المسير ج۱ ص۳۴۵
(۴) البحر المحيط ج۲ ص۳۹۴

غولبېږي. د دوی د خولې څخه الله ﷻ حکایت کوي چې: ﴿ قُلُوبُنَا غُلْفٌ ﴾ [البقرة: ٨٨] یعني: زمونږ زړونه په غلاف کښې دي ستا هدایت ورته لار نه شي پیدا کولی.

الله ﷻ یې جواب ورکړ چې: ﴿ إِنَّ ٱلْهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ ﴾ بې شکه کامل هدایت د الله ﷻ هدایت دی هر چا ته یې چې په زړه کښې کښېنوي تاسو یې ترې نه شئ ویستلی.

دوهم: د هغوی خیال وه چې زمونږ په شان مختار قوم بل نشته، مونږ حق لرو چې په نورو قومونو باندې رنګ په رنګ لوبې وکړو څکه چې زمونږ په شان کتاب بل څوک نه لري.

الله ﷻ جواب ورکړ چې: ﴿ أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ ﴾ ولې ستاسو غوندې بل څوک نشي کېدلی چې الله ﷻ ورته هدایت وکړي او داسې کتاب ورته ورکړی شي لکه چې تاسو ته درکړی شوی دی.

دریم: د هغوی خیال وه چې که مسلمانان د قوت څخه ونه غورځولی شي یوه ورځ به زمونږ اسرار افشاء شي او په مباحثه کښې به راباندې زورور شي او په دنیا او آخرت کښې به د رسوانی سره مخامخ شو.

الله ﷻ جواب ورکړ چې دا کار کېدونکی دی، لکه چې نن مو دغه دسیسه د هغه هدایت په اساس افشاء شوه چې ستاسو څخه په غیر بل قوم ته ورکړی شوی دی همدارنګه به مو د نورو اسرارو څخه هم پرده پورته کړی شي لکه په دې ایت ﴿ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ ﴾ [البقرة: ١٤٦] کښې چې ترې پورته شوې ده.

څلورم: د هغوی خیال وه چې آخر الزمان پیغمبر به هم زمونږ څخه مبعوثېږي څکه چې بل قوم د دې ور نه دي. الله ﷻ جواب ورکړ چې: ﴿ قُلْ إِنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ ﴾ یعني: ای پیغمبره! ورته ووایه چې د فضیلت وېش ستاسو په لاس نه دی چې په خپل احتکار کښې یې وساتئ بلکې د الله ﷻ په اختیار کښې دی هر چا ته یې چې خوښه شي همغه ورباندې سرلوری کوي.

ج: مونږ ﴿ أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ ﴾ جمله د ﴿ هُدَى ٱللَّهِ ﴾ دپاره بدل الکل یا عطف البیان اخستې ده چې دواړه په عربي ژبه کښې مشهورې قاعدې دي.

د: مونږ په ﴿ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ ﴾ کښې د جمعې ضمیر ﴿ أَحَدٌ ﴾ ته راجع کوو چې که لفظاً مفرد دی نو معناً جمعه دی، مطابقت یې حاصل دی.

هـ: د ﴿ عِندَ رَبِّكُمْ ﴾ معنی مو داسې اخستې ده لکه چې په ﴿ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمْ ﴾ [البقرة: ٧٦] کښې مو اخستې ده. هیله ده هغه یو ځل بیا وکتله شي.

﴿ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَيْسَ عَلَيْنَا فِى ٱلْأُمِّيِّۦنَ سَبِيلٌ

وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ بَلَىٰ مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ
يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَأَيْمَٰنِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ
لَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ
عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾ ﴾

[۷۵] او د اهل الکتابو څخه هغه څوک هم دی که (بالفرض ته پخپله) هغه ته غټ مال امانت کېږدې نو بېرته به یې درکړي (او خیانت به پکښې ونه کړي). او د دوی څخه هغه څوک هم دی که ته ورته یو دینار (قدري) امانت کېږدې نو بېرته به یې درنه کړي مګر هله چې ته په هغه باندې همېشه ولاړ وې (او یا ورباندې زورور وې).

دا ځکه چې دوی یقینًا وایي چې په مونږ باندې د اُمیانو (د مالونو) په باره کښې هیڅ شرعي لار نشته (چې مونږ ورباندې ګناهګاران شو) او دوی په الله ﷻ باندې دروغ وایي حال دا چې دوی پوهېږي (په قصدي ډول دروغ وایي).

[۷۶] دغسې نه ده، (په دې باره کښې قانون دا دی چې) هرڅوک چې په خپل عهد باندې وفا وکړي او (د الله ﷻ څخه) وډار شي (نو دوی متقیان دي). بې شکه الله ﷻ متقیان خوښوي (دوستان یې ګڼي او تاسو خو نه تقوی لرئ او نه د الله ﷻ دوستي).

[۷۷] بې شکه هغه کسان چې دوی د الله ﷻ په عهد باندې او په خپلو قسمونو باندې ناچیزې پیسې اخلي، دغو کسانو لره په آخرت کښې هیڅ برخه نشته او نه به ورسره الله ﷻ د قیامت په ورځ خبرې وکړي او نه به ورته (د رحمت) نظر وکړي او نه به یې تزکیه کړي (چې د ګناه څخه پاک شي) او دوی لره دردناک عذاب دی.

ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د اهل الکتابو د عقیدوي غدارۍ یوه نمونه بیانه شوې وه او په دې ایتونو کښې د دوی د اقتصادي غدارۍ مثال بیانېږي. یعنې دوی د مسلمانانو په هکله د هیڅ غدارۍ څخه خان نه په څنګوي، په اصطلاح:

هر طرف ته یې چې مومي پسې درومي :: نه په چپ باندې صرفه کړي نه په راست
نو مسلمانانو ته په کار دي چې هیڅکله ورباندې اعتماد ونه کړي.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! اهل الکتاب ټول یو برابر نه دي، په دوی کښې داسې خلک هم شته چې که ته ورته غټه خزانه امانته کېږدې دربه یې کړي او خیانت به پکښې ونه کړي که څه هم ته ورباندې

نه شاهدان لري، نه يې سبا او بېګا ترې وغواړې او نه ورته په سر باندې ولاړ يې. همدغو خلکو نه بايد تاسو د ايمان راوړلو اُميد وکړئ.

۲_ بالمقابل داسې خلک هم پکښې شته چې يو امانت دينار به هم بېرته درنه کړي که څه هم دغه يو دينار ورته يوه عادي سړې نه وي ايښي بلکې تا ورته پخپله ايښي وي اى پيغمبره! هم ورباندې به منکر شي.

هو! هله به يې ترې ترلاسه کړې شې چې همېشه ورته په دروازه کښې ولاړ اوسې چې هله ژر شه زما پيسې راکړه، او يا يې په څنګ کښې ولاړ يې چې هيڅ ترې غائب نه شې ترڅو ورته د منکرېدلو زمينه برابره شي، بالآخره يا ورباندې زوررور يې.

۳_ د دې علت دا دى چې دوى په الله ﷻ باندې دروغ تړي چې مونږ ته يې د اميانو يا غير يهودي نژادو خلکو مالونه حلال کړي دي او په مونږ باندې په دې باره کښې د ملامته کولو هيڅ کومه شرعي لار نشته، ځکه چې مونږ په خپل کتاب کښې همداسې امتيازي حکم لولو.

۴_ دوى ذکره شوې بهانه په لا شعوري توګه نه کوي بلکې ښه پوهېږي چې مونږ په الله ﷻ باندې دروغ تړو. د دې غټ دليل دا دى چې که بالفرض د دوى په کتاب کښې همداسې حکم وى نو په دوى کښې به ښه متقي هغه څوک وى چې هغه ډېر حرام خور وي او حال دا دى چې د دوى تقوى داران خو په غټه خزانه باندې هم نه منکرېږي پاتې خو لا يو دينار شو. نو معلومه شوه چې هلته دا حکم نشته.

۵_ اى پيغمبره! دوى ته ووايه چې: الله ﷻ خو په ټولو اديانو کښې ظلم او افتراء على الله حرامه کړې ده او د هر دين د پيروانو څخه يې په همدې خبره باندې عهد اخستى دى، چې د همدې اديانو څخه د موسى ﷺ او عيسى ﷺ اديان هم وه. نو بناء په دې په تاسو کښې هغه څوک متقي او ديندارہ دى چې، هغه په خپلو عهدونو باندې وفا کوي او الله ﷻ همدوى دوست ګڼي. نو کله چې تاسو تقوى نه لرئ نو د الله ﷻ د محبت دعوه هم مه کوئ بلکې په دې تقدير تاسو د ده ﷻ د غضب مستحق ياست. دا دى يو ځل بيا د ظلم او افتراء على الله نتيجه په قرآن کريم ولولئ چې:

۶_ بې شکه هغه څوک چې د الله ﷻ په عهد (احکامو) باندې او يا په خپلو قسمونو باندې څه لږې- ډېرې پيسې ترلاسه کوي (لکه چې تاسو د اميانو مالونه په دې دليل خورئ چې تورات درنه حکم کړى دى او په همدې باندې د دروغو قسمونه هم کوئ) دوى په آخرت کښې هيڅ برخه نه لري.

دوى په الله ﷻ باندې دومره مهان او سپک دي چې نه به ورسره د قيامت په ورځ خبره قدرې وکړي او نه به ورته التفات قدرې وکړي او نه به دوى تزکيه قدرې کړي چې شاباس تاسو په دنيا کښې د الله ﷻ د احکامو ډېر پابند وئ او په خپلو عهدونو باندې ډېر کلک ولاړ وئ. او دوى لره به په دغو توهيناتو باندې د پاسه دردناک عذاب هم وي.

نو کله چې الله ﷻ د حرام خورو په باره کښې دغسې کلک وعيدات نازل کړي دي نو څنګه به امکان ولري چې تاسو ته به يې د اميانو مالونه حلال ګرځولي وي.

توضیحات

۱_ خینو مفسرینو کرامو[۱] امانتگر په عبد الله بن سلام ﷺ تفسیر کړی او خیانتکار یې په کعب بن اشرف یا فنحاص یهودي سره معنی کړی دی او خینو اول گروپ نصارا گنلي دي او دوهم گروپ یې یهود بللي دي. مگر بهتره دا ده چې نوموړي مفسر په محض د ایت شریف دپاره دوه مصداقونه ښودلي وي او حصر به یې مطلب نه وي.

همدارنگه خینې مفسرین کرام[۲] وايي چې کوم یو اهل الکتاب چې ایمان راوړي هغه یې امانتگر دی او کوم یو چې په کفر باندې پاتې وي هغه یې خیانتکار دی.

مگر مونږ ته داسې ښکاري چې دغه دواړه ډلې په کافرو اهل الکتابو کښې جوړې دي چې په خپل مسلک باندې باقي پاتې دي او د مسلمانانو خبره هیڅ مطرح نه ده او دا خکه چې:

الف: دغه تفسیر به هلته صحت موندلی وی چې په مسلمانانو کښې خیانتکار نه موندل کېدلی نو کله چې مسلمانان هم ټول امانتگر نه دي نو معلومه شوه چې دغه تفسیر مراد نه دی.

ب: وړاندې او ورسته ټول ایتونه په هغو اهل الکتابو کښې دي چې په خپل مسلک باندې باقي پاتې دي نو معلومه شوه چې په دې ایت کښې به هم همدغه اهل الکتاب مراد وي.

ج: په قرآن کریم کښې د اهل الکتاب لقب همغو خلکو ته ورکول کېږي چې لا مسلمانان شوي نه وي، کله چې کوم یو مسلمان شي نو د ذکر شوي لقب اطلاق ورباندې بې قیده او بې شرطه نه کېږي نو باید چې دلته هم همدا قاعده مراعات شي.

سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د هر مسلک خلک عموماً په دوه گروپونو وېشل کېږي: امانتگر او خیانتگر، حتی چې دغه دواړه گروپونه په مسلمانانو کښې هم شته. نو په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د اهل الکتابو په باره کښې وضاحت ورکړ؟

مونږ وایو چې: دا وضاحت امکان لري چې د لاندې وجو د کبله ورکړی شوی وي:

الف: په نورو مسلکونو کښې حرام خواره شته خو حلال یې نه گڼي. د دوی امتیاز دا دی چې تحلیل یې د عقائدو جز گرځولی دی.

ب: په دې کښې یو حکمت دا دی چې د دوی دا نظریه رد کړي چې د امیانو د مالونو خوراک د تورات حکم دی، په تعمیل کښې یې اجر او ثواب دی[۳]، بلکې د دنیا اصلي مالکان مونږ یاستو او د نورو خلکو مالونه زمونږ څخه غصب شوي دي نو زمونږ فریضه ده چې خپله مغصوبه د ظالمانو څخه ترلاسه کړو[۴].

---

(۱) تفسیر المراغي ج۳ ص۱۸۹
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۱۷
(۳) تفسیر المراغي ج۳ ص۱۸۹
(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۱۷

د رد وجه يې دا ده چې كه بالفرض ستاسو خبره رښتیا وي نو په تاسو كښې به يو امانتگر هم نه وي موندل شوی، ځكه چې عاصیان خو په هر مسلک كښې حرام خوري، او په دې تقدیر به ستاسو متقیانو هم حرام خوري كولی ترڅو اجر او ثواب وګټي؛ نو معلومه شوه چې تاسو په الله ﷻ باندې دروغ تړئ ځكه چې په تاسو كښې امانتگر هم شته.

قنطار او دینار

۳_ د "قِنطَار" كلمه خو د [آل عمران:۱۴] ایت لاندې پوره تفسیره شوې ده بیا لیكلو ته يې حاجت نه ګورو. او د "دِینَار" كلمه چې په اصل كښې "دِنَّار" وه اصلا عجمي ده ځكه چې جمعه يې "دَنَانِیر" او تصغیر يې "دُنَینِیر" راځي، اولنی نون خلاف القیاس په "ي" باندې تبدیل شو نو "دِینَار" ترې جوړ شو[۱].

ځینو خلكو د ظرافت په توګه لیكلي دي چې د "دِینَار" كلمه په اصل كښې د دوه كلمو څخه جوړه شوې ده چې اوله كلمه يې "دِین" دی او دوهمه كلمه يې "نَار" دی. نو د معنی حاصل يې داسې كېږي: څوک چې پیسې په حقه ترلاسه كړي نو "دِین" يې ترلاسه كړ او څوک يې چې په ناحقه ګټي نو "نَار" یعني اور يې ځان ته وګاټه[۲].

هر مملكت جدا جدا پولي واحدونه لري او په هر ځای كښې ورباندې بېل بېل نوم ایښودل شوی دی د بېلګې په توګه: د افغانستان پولي واحد د افغانۍ په نامه یادېږي، د پاكستان د روپۍ په نامه، د سعودي د ریال په نامه، د كویت د دینار په نامه. په هغه وخت كښې چې نوموړی ایت نازل شوی دی پولي واحد د دینار نوم درلود، په هر تقدیر دلته ترې يو دینار مطلب نه دی بلكې كم شی ترې مطلب دی. یعني په اهل الكتابو كښې داسې خلک هم شته چې په ډېر لږ امانت باندې هم ګېډه اچوي، د مثال په توګه يو دینار. كه بالفرض دغسې شخص ته ډېر امانت لاس ته ورشي نو په مرګ باندې به يې هم ترې څوک وانه شي اخستلی.

"مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا" څه معنی؟

۴_ مفسرینو كرامو د ذكر شوي عبارت لاندې تفسیرونه كړي دي:

الف: په هغه وخت كښې به امانت درباندې وسپاري چې دوامداره مطالبه ترې وكړې چې بالكل يې د غوښتنې څخه یوه ګړۍ هم غلی پاتې نه شي[۳].

ب: چې امانت وركړې خو بیا ترې غائب نه شې، كله چې ترې غائب شوې نو په اصطلاح دوه سوه پلمې به درته وتراشي او په امانت به ګېډه واچوي[۴].

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۱۷؛ زاد المسیر ج۱ ص۳۴۷
(۲) تفسیر ابن كثیر ج۱ ص۳۷۴
(۳) تفسیر القاسمي ج۴ ص۱۲۳
(۴) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۶

ځ: چې امانت ورکړې خو ته وربانديې دوامداره زورور يې او هغه پوه شي چې که منکر شم نو په زور يې راڅخه اخلې، نو په هر وخت کښې يې چې ته د خپله خانه کمزوري تخمين کړې نو په هغه وخت کښې د خپله حقه زړه صبر کړه"[۱].

مونږ ته د ربمه معنی ډېره په زړه پورې ښکاري ځکه د ننې عصر ټول خيانتکاران (مسلمانان دي او که کافران) فقط زور ته تسليم دي او بس، نو د هغه وخت د اهل الکتابو خانته ډله به هم همداسې وه.

مصداق يا شان نزول

۵ـ مونږ ته داسې ښکاري چې په ذکر شوو دريې ايتونو کښې اول ايت د اهل الکتابو هغه افتراء بيانه کړې ده چې ويل به يې: "مونږ ته د اميانو د مالونو خوراک جائز دی".

او په دوهم ايت کښې د دوی د همدغې افتراء تکذيب شوی دی چې د تورات او انجيل په شمول په ټولو اديانو کښې الله ﷻ د ظلم او د پردي مال خوراک حرام کړی دی او د پيغمبرانو په ذريعه يې د خلکو څخه عهد اخستی دی نو په څه دليل دوی ذکره شوې افتراء جوړوي؟

او په دريم ايت کښې همدا مضمون په قرآن کريم بانديې تائيد شوی دی نو په دې تقدير دريم ايت د يهوډانو د ذکرې شوې افتراء په باره کښې نازل شوی دی.

مګر په تفاسيرو کښې متعدد احاديث شته چې د يو پلوه يې شان نزولونه بيانوي او د بله پلوه يې تفسير کوي[۲]. د مثال په توګه لاندې يوه واقعه ولولئ:

اشعث بن قيس ؓ د کوم يوه يهودي سره په څه ځمکه بانديې دعوه شوه چې يهودي وربانديې منکر شو، په پای کښې جګړه د نبي کريم ﷺ حضور ته ورغله. نبي کريم ﷺ اشعث ؓ ته مخ ورواړاوه او ورته يې وويل: شاهدان لرې؟ هغه وويل: نه. بيا يې يهودي ته وويل: په ځمکه قسم کوې؟.

د يهودي د جواب (هو، نه) څخه مخکښې اشعث ؓ عرض وکړ چې: «إِذًا يَحْلِفُ فَيَذْهَبُ بِمَالِي» اوس يهودي قسم کوي (په ناحقه قسم بانديې پروا نه لري) او مال به مې يوسي. نو ذکر شوی دريم ايت شريف نازل شو[۳].

د ټولو روايتو تطبيق او اتفاق په دې حاصليږي چې د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې د نوموړي ايت دپاره متعدد مصداقات واقع شوي دي او د سلفو صالحينو دا عادت وه چې د ايت په مصداق بانديې به يې د شان نزول اطلاق کاوه[۴]. نو په دې مقام کښې يې هم هر يو مصداق شان نزول ګڼلی شوی دی.

عهد او يمين

۶ـ د عهد او يمين (قسم) ترمنځه نسبت د منطقيانو په اصطلاح عموم خصوص من وجه دی چې لاندې درې صورتونه درلودلی شي:

(۱) تفسير نمونه ج۲ ص۴۷۳

(۲) الدر المنثور ج۲ ص۲۲۴؛ تفسير الطبري ج ص۳۲۱؛ تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۷۵

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۹

(۴) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

الف: یوازې عهد چې قسم ورسره نه وي. لکه چې د اهل الکتابو څخه عهد اخستلی شوی وه چې خپل کتاب به خلکو ته بیانوئ او د نبي کریم ﷺ علامات به ورته واضحه کوئ، خو هغوی په دې عهد وفا ونه کړه او حقیره دنیا یې ورباندې واخستله لکه چې په [البقرة:۴۱] ایت کښې تېر شوي دي. او په [آل عمران:۱۸۷] ایت کښې راتلونکي دي.

ب: یوازې قسم چې عهد ورسره نه وي. لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «مَنْ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ النَّارَ وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ» یعني: هرڅوک چې د یو مسلمان د حق څخه د قسم په ذریعه څه برخه راپرې کړي نو الله ﷻ هغه ته اور واجب کړی دی او جنت یې ورباندې حرام کړی دی. چا ورته وویلې چې: ای د الله ﷻ پیغمبره! اګر که لږ شی وي. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: «وَإِنْ كَانَ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ»(١) یعني: اګر که د مسواک د ونې یو ډکی وي.

ج: چې عهد او قسم دواړه وي. لکه چې په راتلونکي [آل عمران: ۸۱] ایت کښې د پیغمبرانو علیهم السلام څخه په قسم باندې مؤکد عهد اخستل شوی دی.

په دې مقام کښې قوي احتمال دا دی چې همدغه درېم صورت به مراد وي ځکه چې دلته د عهد او یمین دواړه کلمې ذکرې شوې دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د هغو خلکو چې په قسم باندې قوي شوي عهدونه ماتوي دا-دا جزا ده. لاندې تفصیل ته یې متوجه شئ:

د عهد ماتونې جزاګانې

۷_ الله ﷻ د بلې هیڅ ګناه جزا دومره درنه نه ده ښودلې لکه د عهدماتونې جزا یې چې ښودلې ده. ځکه چې دلته یې لاندې پنځه ډوله تهدید آمېزه کلمات استعمال کړي دي:

الف: دوی به په آخرت کښې هیڅ برخه ونه لري. لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا﴾ [الأحقاف: ۲۰] یعني: دوی ته به د قیامت په ورځ وویلی شي چې تاسو خپلې ټولې خوشالۍ په خپل خسیس ژوند کښې تېرې کړې دي.

ب: د دوی سره به الله ﷻ خبرې قدرې هم ونه کړي او ورباندې به غضب به وي _العیاذ بالله_ په دې مقام کښې څه سوال جواب د [البقرة:۱۷۴] ایت لاندې تېر شوي دي هیله ده هلته یو ځل مراجعه وکړئ.

ج: دوی ته به الله ﷻ هیڅ التفات ونه کړي که څه هم دوی خپل ځانونه د الله ﷻ په نزد د ډېر بااعتباره معرفي کوي.

د: الله ﷻ به دوی تزکیه هم نه کړي چې ګناه ورته عفوه کړي او د نېکانو په قطار کښې یې ودرول.

ه: دوی لره دردناک عذاب دی. یعني عذاب به یې دومره سخت وي ته به وایې چې پخپله عذاب درمند دی.

په دې متعلق د [البقرة: ۱۰] ایت لاندې څه شرحه تېره شوې ده هیله ده یو ځل یې درېه زړه کړئ.

(١) سنن النسائي ج۲ ص۳۱۰

څو تبصرې

۱. په دې مقام کښې، لاندې تبصرې ولولئ:

لږ دقت وکړئ، څلورواړه کلمې، د یو پلوه د الله ﷻ په غضب باندې دلالت کوي او د بل پلوه د بد عملو د توهین او بې عزتۍ څخه نمایندګي کوي. الله ﷻ غضب او توهین په دې مقام کښې په کنایوسره ذکر کړ، ځکه کنایه د صریح څخه ډېره بلیغه ده چې مخاطبین ورباندې ښه پوهېږي.(۱) ترڅو د معنوي په زړونو کښې په لوړه سویه تاثیر وکړي.

۲. د عهد ماتونې جزا ځکه ډېره درنه ټاکلې شوې ده چې د دې مفاسد او اضرار زیات ډېر لوی دي، د انسانانو ټوله ګذاره او راکړه ورکړه په عقدونو باندې ولاړه ده، کله چې په عقدونو کښې خیانت وکړی شي، نو په پوره معامله باندې هم سړی نه شي مطمئن کېدلی، عقدونه هم یو ډول پېوندونه دي نور څه نه دي.

۳. درېیم د ذکر شوو پنځو وارو جزاګانو څخه د سړي ذهن ته ورځي چې د دوی عذاب به دائمي وي او هیڅ کله به الله ﷻ ورباندې رحمت نازل نه کړي، نو که عهد ماتونه د کافرو څخه واقع شي لکه چې یهودانو د تورات عهد مات کړ، حرامو ته یې د حلالو لقب ورکړ، د نبي کریم ﷺ معجزات او مبارک صفات یې پټ کړه او داسې نورې بدعهدۍ یې وکړې، نو څه پوښتنه نه پیدا کېږي ځکه چې د کافر عذاب دائمي دی او انقطاع نه لري.

اما پوښتنه دا ده چې که عهد ماتونه د مسلمانانو د خوا څخه واقع شي ایا دوی به هم د ابدي عذاب خاوندان وي؟

مونږ وایو چې، په دې کښې هیڅ شک نشته چې دا ایتونه د کافرانو په باره کښې نازل شوي دي لکه چې ﴿ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ﴾ ورباندې دلالت کوي. هو که مسلمان ذکر شوي جنایات وکړي نو د څه دپاره هم ډېر عظیمه ګناه ده. لکه چې زیات ډېر احادیث پکښې روایت کړی شوي دي. خو دومره ده چې دلته عقیدوي جنبه نه لري او صرف عملي جنبه لري او په یوازې عملي ګناه باندې ابدي دوزخ نشته، اهل السنة والجماعة ورباندې اجماع کړې ده او مونږ یې دلایل د [آل عمران: ۲۴] ایت لاندې بیان کړي دي هیله ده هلته یو ځل بیا مراجعه وکړی شي.

﴿ وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ (٧٨) ﴾

---

(۱) فی ظلال القرآن ج۱ ص۴۱۸؛ تفسیر المراغي ج۳ ص۱۹۱

[۷۸] او بې شکه د دوی (اهل الکتابو) څخه هرومرو یوه ډله ده چې د الله ﷻ په کتاب باندې خپلې ژبې (داسې) تاووي چې تاسو ورباندې ګومان وکړئ چې دا (محرف کلام) د کتاب الله څخه دی حال دا دی چې هغه د کتاب الله څخه نه دی. او دوی وايي چې دا د الله ﷻ د پلوه دی حال دا چې هغه د الله ﷻ د پلوه نه دی. او دوی په الله ﷻ باندې دروغ وايي (تړي) حال دا چې دوی پوهېږي (چې موږ دروغ وايو).

د ارتباط وجې

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د اهل الکتابو د دوه ډلو ذکر شوی وه چې یوه امانتګره وه او بله خیانتګره. او په دې ایتونو کښې د هغوی د دریمې ډلې ذکر دی چې تحریف کوونکې ډله ده.

۲ـ هلته د مالونو خیانت کوونکي اهل الکتاب ذکر شوي وه او دلته د الله ﷻ د کتاب خیانتکاران بیان شوي دي. یا په بل عبارت په دې ایتونو کښې هغه ډله بیانه شوې ده چې حرام خوړې ډلې ته یې د خیانتونو زمینه برابره کړې وه. د همدې کبله دلته بیا دغه جمله ﴿ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ د دوهم ځل دپاره نازله شوې ده.

۳ـ هلته یوازې د مالي ایتونو د تحریف بیان وه او دلته د مطلقو ایتونو د تحریف بیان دی حتی چې هغو ایتونو ته هم شامل دی چې د هغوی په کتاب کښې د نبي کریم ﷺ د حقانیت په باره کښې نازل شوي وه.

د مطلب خلاصه

یعنې په اهل الکتابو کښې یوه بله دریمه ډله هم شته چې د خیانتکارانو سره د جوال خوله نیسي او هغوی ته د خیانت زمینه برابروي. هغه ډله دا ده چې د الله ﷻ په کتاب باندې خولې چاولې جاولې کوي او په کتابي لهجه باندې یکښې خپلې خبرې ورننباسي ترڅو تاسو ګومان وکړئ چې دا کلام ټول د الله ﷻ کتاب دی خو هغه ټول لوستلی شوی کلام د الله ﷻ کتاب نه وي نو کله یې چې د دوی په ګومان ستاسو اذهان د تحریف شوي کلام اورېدلو ته اماده کړه نو بیا په ښکاره مطلب باندې صراحت کوي او وايي دا چې موږ اوس ولوستل دا ټول د الله ﷻ د جانبه دی او حال دا چې هغه ټول د الله ﷻ د جانبه نه وي بلکې د دوی د خپله جانبه وي. دوی په الله ﷻ باندې دانسته دروغ تړي او په قصدي توګه یې دغه کار ته ملا تړلې ده.

توضیحات

۱ـ که څه هم د کتاب الله په تحریف باندې یهود ډېر شهرت لري خو دا کار یوازې دوی نه دی کړی بلکې نصارا وو هم خپل کتاب انجیل بې تحریفه نه دی پرېښی، لکه چې د عبد الله بن عباس رضی الله عنه څخه همداسې روایت دی[۱].

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۲۰

"لَيّ اللسان" څه معنی؟

۲_ د ﴿يَلْوُنَ﴾ کلمه د "لَيّ" څخه اخستله شوې ده، "لَيّ" اصلا هغه میلان ته وایي چې د استقامت څخه د کوږوالي په لور وي. د همدې کبله ببرغ ته "لواء" وایي چې بادونه یې ړپوي او د استقامت څخه یې اړوي[1]. مګر په دې مقام کښې په کتاب باندې د ژبو تاوول د تحریف څخه کنایه ده[2]، چې په توهین آمېزه کلمه باندې تعبیر کړی شوی وه.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د اهل الکتابو یوه ډله په داسې لهجه او داسې صوت (اواز) باندې خپل کلام اداء کوي چې تاسو ګومان وکړئ چې دا ربنتیا د الله ﷻ کلام دی. خو حقیقت هغسې نه وي.

د تحریف ډولونه

۳_ په دې هکله مونږ د [البقرة:۷۹] ایت لاندې څه ناڅه لیکلي دي خو چې هر اړخیزه معلومات په نظر کښې ونیولی شي نو څرګندېږي چې د اهل الکتابو تحریفونه په لاندې ډولونو باندې وه:

الف: په کتاب الله باندې په زیادت سره تحریف. لکه دوی به ویل چې په مونږ باندې د امیانو په مالونو کښې د ملامتیا څه لاره نشته [آل عمران: ۷۵].

ب: په نقصان او کتمان سره تحریف. لکه چې په [آل عمران:۱۸۷] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج په تبدیل سره تحریف. لکه چې د نبي کریم ﷺ (آخر الزمان پیغمبر) په څېره کښې یې میانه قد او نورې سترګې په لوړ قد او شنو سترګو باندې تبدیلې کړې وې[3].

دوی به ذکر شوي درېواړه ډوله تحریفونه د کتاب الله په پاڼو کښې لیکل خو کله- کله به داسې هم پېښېدله چې د کتاب الله په قرائت کښې به یې تحریف واقع کاوه خو اصلي لیکنه به په خپل حال وه. لکه چې د زناکوونکي د رجم کولو ایت یې په قرائت کښې د منځه وړی وه اما په لیکنه کښې په خپل حال پاتې وه. د همدې کبله یې ورباندې لاس کېښود په کوم وخت کښې یې چې د نبي کریم ﷺ په وړاندې تلاوت کاوه تر دې چې عبد الله بن سلام رضی الله عنه وویلې: ای د الله رسوله! د رجم په ایت باندې یې لاس ایښی دی![4].

د: په تاویل سره تحریف. لکه د خالي په ورځ باندې ماهیان نیول یې چې ځانو ته په دې تاویل باندې جائز کړي وه چې د ماهیانو ښکارکول ببل شی دی او بند ساتل یې ببل، مونږ خو یې د ښکار کولو څخه په نومورې ورځ منعه کړی شوي یو د بندولو څخه یې منعه نه یو. لکه چې په [البقرة:۶۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۷۷
(۲) الدر المنثور ج۲ ص۲۴۹
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۸۹
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۴

هـ: د اهل الکتابو ځینو علماوو دوه کتابونه درلوده: یو اصلي کتاب چې تحریف پکښې نه وه شوی او بل یې تحریف شوی کتاب. کله به چې د حق خاوند رشوت ورکړ اصلي کتاب ته به یې لاس کړ او د هغه د مخې به یې حکم وکړ او که د باطلو خاوند به رشوت ورکړ نو په ډېر احترام سره به یې خود ساخته کتاب راواخست تا به ویل چې د الله ﷻ اصلي کتاب همدا دی او د همغه د مخې څخه به یې د باطلو خاوند ته فیصله ورکړه[1]. نو لرې نه ده چې په همدې باندې مونږ د تحریف بالوضع نوم کېږدو.

لکه څنګه چې مونږ مسلمانان د قرآن کریم سره محترمه وضعه کوو همدارنګه هغوی هم د خپل کتاب سره درنه وضعه کوله، نو کله به یې چې رشوت واخست نو د محرف کتاب سره به یې د اصلي کتاب الله په شان وضعه وکړه چې د لیدونکو به ګومان راغی چې همدا اصلي کتاب دی.

لکه په دې زمانه کښې چې یو سړی کوم یو د قیصو کتاب په دسمالونو کښې تاو کړي او بیا د امیانو په وړاندې اودس وکړي، نوموړی کتاب مچو کړي او بیا یې په ډېرې مؤدبانه وضعې سره پرانیزي نو هغوی به ضرور باور وکړي چې همدا قرآن کریم دی.

و: په لهجه او اواز سره تحریف. چې محرف کتاب به یې په داسې صوت او لهجه سره لوست تا به ویل چې همدا د الله ﷻ کتاب دی، لکه چې په ذکر شوي ایت شریف کښې ورته په ﴿ يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ ﴾ سره اشاره شوې ده. داسې معلومېږي چې اهل الکتابو هم د خپل کتاب د لوست دپاره خاصه لهجه درلوده لکه چې مونږ مسلمانان یې د قرآن کریم دپاره لرو، زمونږ عربي ژبې مسلمانان ورونه هم په هغه صوت او لهجه سره قرآن کریم نه لولي په کومه باندې چې خپلې محاورې او مباحثې کوي.

که بالفرض یو سړی "أعوذ بالله" او "بسم الله" ووایي او بیا په قرآني لهجه او صوت سره خپله عربي ژبې خبره وکړي نو ساده لوحه او امیان خلک به ګومان وکړي چې دا ربښتیانی قرآن کریم دی.

قرآن کریم او نور کتابونه

۴ـ د قرآن کریم څخه په غیر د نورو اسماني کتابونو لکه څنګه چې عمل خلکو ته سپارلی شوی وه همدارنګه یې حفاظت او د تحریف څخه ساتنه هم د خلکو په غاړه باندې اینبودلې شوې وه لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ [المائدة: ۴۴] یعنې: د اهل الکتابو عالمانو او مشائخو د خلکو په منځکښې په هغه شي سره حکم کاوه چې د دوی څخه یې د ساتنې غوښتنه هم شوې وه چې هغه د کتاب الله څخه عبارت دی.

نو دوی لکه څنګه چې په خپلو کتابونو باندې د عمل کولو څخه پاتې راغله همدارنګه یې ونه شو کړی چې د تحریف څخه یې بچ وساتي بلکې پخپله یې پکښې په ډول-ډول تحریفونو باندې لاس پورې کړ لکه چې وړاندې شرحه شوه.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۱۵

اما د قرآن کریم په باره کښې الله ﷻ د خلکو څخه فقط همدا غوارې چې عمل ورباندې وکړي او د خپلو ټولو شئوناتو دپاره يې دستور العمل جوړ کړي.

پاتې شوه د تحریف څخه ساتنه، د دې الله ﷻ پخپله تضمین کړی دی لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ [الحجر: ۹] یعني: بې شکه همدا مونږ ذکر (قرآن کریم) نازل کړی دی او همدا مونږ يې (د تحریف څخه) ساتونکي یاستو.

دلته هم کوم شی چې خلکو ته سپارلی شوی وه په هغه کښې دوی پاتې راغله او ټولو خلکو خپل دستور العمل جوړ نه کړ، خو الله ﷻ په خپل عهد باندې وفا وکړه او د هر ډول تحریف څخه يې په حفاظت کښې وساته ﴿ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ ﴾ [التوبة: ۱۱۱] یعني: او هغه څوک دی چې په خپل عهد باندې د الله ﷻ څخه ښه وفادار وي؟

الله ﷻ پوهېده چې زمونږ د لاسه د قرآن کریم حفاظت پوره نه وه نو په خپل فضل سره يې مونږ ته ونه سپاره که نه نو الله ﷻ پوهېږي چې د نن ورځې پورې به پکښې -چې څه د پاسه څوارلس سوه کاله تېر شوي دي- څومره تحریفونه شوي وی.

معجزه یا صرفه

۵ـ الله ﷻ قرآن کریم په دوه طریقو باندې د تحریفونو څخه ساتلی دی چې یوه معجزه ده او بله صرفه ده چې هر یو په لاندې ډول بیانېږي:

معجزه: معجزه د عجز څخه اخستله شوې ده چې مقابل د قدرت ده او په اصطلاح هغه خارق العاده کار ته معجزه وايي چې خلک د هغه د مثل څخه عاجز وي او په قدرت کښې يې نه وي. خو د دې سره‌سره نوموړی کار د هغه چا پورې مربوط تحقق ومومي کوم چې د رسالت مدعي هم وي[۱].

صرفه: صرفه د صرف څخه اخستله شوې ده چې په معنی د ناوولو او اړولو ده او په اصطلاح هغه کار ته صرفه وايي چې د خلکو په قدرت کښې وي چې د هغه غوندې کار ته اقدام وکړي خو الله ﷻ يې د هغه څخه توجه واړوي او د ټولو خلکو د نظره يې وغورځوي، چې د وخت په تېرېدلو سره د معجزې مقام ته ورسېږي[۲].

په قرآن کریم کښې څینې تحریفات د معجزې د کبله نه دي واقع شوي او نه به واقع شي، د هیچا په وسه او قدرت کښې نشته چې د ده د یو سورت غوندې سورت جوړ کړي او داسې نور، چې مونږ د [البقرة ۲۳] ایت لاندې شرحه کړي دي. او څینې تحریفات د خلکو په وسه کښې شته خو د صرفې د کبله ورته چا اقدام نه دی کړی او که کړی يې دی هغه ډېر ژر رسوا شوی دی او دسیسه يې ټولو خلکو ته څرګنده شوې ده.

---

(۱) المعجزة الخالدة ص۱۹

(۲) المعجزة الخالدة ص۱۶۵

الله ﷻ داسې ربانيين علماء، په دې امت کښې پيدا کړي دي او پيدا کوي يې چې د غلطو تاويلونو مخه ونيسي او غلطۍ يې افشاء کړي. د همدې کبله سرې ويلی شي چې د اهل الزيغ تاويلونه داسې ګڼل کېږي لکه چې د سره نه وي واقع شوي ځکه چې داسې وخت نه دی تېر شوی او نه به تېر شي ـان شاء اللهـ چې حق او باطل سره ګډوډ شي لکه چې د اهل الکتابو په کتابونو کښې سره خلط ملط شوي وه چې الله ﷻ ورته په [البقرة:۴۲] او [آل عمران:۷۱] ايتونو کښې اشاره کړې ده.

سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: دغه دواړه جملې ﴿وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ، وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ﴾ سره څه فرق لري؟

مونږ جواب کوو چې: محرفينو د خپل تحريف څخه په دوه ډوله الفاظو باندې تعبير کړی وه نو الله ﷻ د هغوی دواړه تعبيرونه په عين الفاظو سره رد کړه ترڅو سوال او جواب مطابق شي.

دا وه زمونږ نظر اما ځينو مفسرينو کرامو ورته لاندې جوابونه کړي دي(۱):

الف: ﴿وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ خاص دی او ﴿وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ﴾ عام دی هغو ته هم شاملېږي چې په سنت، اجماع او قياس سره ثابت وي.

ب: ﴿وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ د تورات څخه عبارت دی او ﴿وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ﴾ نورو کتابونو ته هم شامل دی.

دغه دواړه جوابونه که څه هم صحت لري خو د دې مقام سره مطابقت نه لري نو ځکه زمونږ خوښ نه شوه.

﴿مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤۡتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادٗا لِّي مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُواْ رَبَّٰنِيِّـۧنَ بِمَا كُنتُمۡ تُعَلِّمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمۡ تَدۡرُسُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرۡبَابًاۗ أَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡكُفۡرِ بَعۡدَ إِذۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨٠﴾﴾

[۷۹] هيڅ يوه داسې بشر ته دا مناسبه نه ده چې الله ﷻ ورته کتاب او حکمت او پيغمبري (دريواړه) ورکړي (ترڅو نور خلک د کفر څخه خلاص کړي) بيا خلکو ته ووايي چې د الله ﷻ څخه په غير زما دپاره عبادت کوونکي جوړ شئ.

مګر (د هغوی د شان سره مناسبه دا ده چې ورته ووايي) تاسو په دې سبب باعمله عالمان جوړ شئ چې تاسو ياست چې (نورو خلکو ته) ديني ښوداني کوئ او په دې سبب چې (د الله ﷻ احکام) پخپله قرائت کوئ (او په دائمي توګه يې لولوئ).

(۱) التفسير الکبير ج۸ ص۱۱۵

[۸۰] او نه (ورته دا مناسبه ده چې) تاسو ته امر وکړي چې ملائک او پیغمبران معبودان ونیسئ (جوړ کړئ) ایا تاسو ته به (نوموړی بشر د هغه وخت څخه وروسته چې تاسو مسلمانان یاست) په کفر باندې امر وکړي؟! (دا به هیڅکله ونه کړي).

شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې متعدد روایتونه مفسرینو کرامو لیکلي دي[۱] مګر مونږ ته د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روایت ډېر ښه مناسب ښکاري چې: یوه ورځې د یهودو او نصاراوو علماء د نبي کریم ﷺ په حضور کښې راغونډ شوي وه، کله چې نبي کریم ﷺ دوی اسلام ته دعوت کړه نو یهودانو وویلې: ته غواړې چې داسې عبادت دې وکړو څنګه چې نصارا د عیسی ﷷ عبادت کوي؟ همدارنګه د نصاراوو یوه مشر چې الرئیس نومېده هم وویلې: ته لکه چې غواړې د عیسی ﷷ په عوض ستا عبادت وکړو ای محمده؟! نو نبي کریم ﷺ دواړو ته جواب ورکړ چې: زه په الله ﷻ باندې د دې خبرې څخه پناه غواړم چې یا پخپله د غیر الله عبادت وکړم او یا بل چا ته په همدې خبره باندې امر وکړم «مَا بِذٰلِكَ بَعَثَنِيْ وَلَا بِذٰلِكَ أَمَرَنِيْ»[۲] یعني: زه الله ﷻ نه د دې خبرې دپاره مبعوث کړی یم او نه یې راته پرې امر کړی دی. نو الله ﷻ د نبي کریم ﷺ د خبرې تصدیق په ذکر شوو ایتونو باندې وکړ.

په ځینو روایتو کښې شته چې د یهودانو څخه نوموړی اعتراض رئیس المنافقین (عبد الله بن أُبي) کړی وه لکه چې مونږ د [آل عمران:۳۱] ایت په شان نزول کښې ذکر کړی دی.

ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ایتونو کښې د الله ﷻ د کتاب د تحریف رد بیان شوی وه او دلته د پیغمبرانو د هدایتونو تحریفول رد شوي دي.

۲ـ هلته دا واضحه شوې ده چې دا کار علماوو ته مناسب نه دی او دلته ثابته شوې ده چې د همدې نامناسبه کار نسبت اهل الکتابو پیغمبرانو ته کړی دی ترڅو په خپلو ګناهونو باندې پرده واچوي او ځانو ته بهانه وتراشي.

د مطلب خلاصه

یعني: هیڅ هغه بشر ته دا مناسبه نه ده کوم چې الله ﷻ ورباندې احسان وکړي، کتاب وربانډې نازل کړي، د حکمت خاوند یې وګرځوي، د پرهېزګارو توان ورکړي او حتی پیغمبري هم وربېرزو کړي، او هغه بیا د دې ټولو نعمتونو د پاسه د الله ﷻ ناشکري وکړي او په دې عوض چې خلک د الله ﷻ عبادت ته دعوت کړي د خپل ځان دپاره یې عبادت کوونکي جوړ کړي.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۱۷

(۲) الدر المنثور ج۲ ص۲۵۰

کله چې دا کار د یوه نعمت د پاسه مناسب نه دی چې یا یوازې کتاب ورکړی شي لکه چې اهل الکتابو ته ورکړی شوی دی او یا یوازې سالم عقل ورکړی شي چې د خلکو په منځکښې د شخړو د فیصلو او د لانجو د پرېکولو توان وربښلی شوی دی لکه ځینې حقاني حکماء؛ نو هغه چا ته به څنګه مناسب وګڼل شي چې برسېره په دغو دوارو نعمتونو باندې درېیم لوی نعمت (نبوت) هم ورکړی شوی وي لکه عیسی ﷺ او نبي کریم ﷺ چې اهل الکتاب ورپورې دغه تهمت تړي.

هو! دغه درېواړه نعمتونه چې چا ته ورکړی شوي وي هغوی خلکو ته دعوت ورکوي چې باعمله عالمان او رباني اشخاص جوړ شئ، څکه به تاسو باعمله عالمان جوړېږئ چې تاسو خلکو ته د الله ﷻ کتاب ورزده کوئ او په خپله هم همېشه دپاره د کتاب الله په قرائت او لوست کښې بوخت یاست، نو د دې کار لازمه نتیجه دا ده چې خپل خانونه د شرک څخه وساتئ او یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ.

نو د همدې قانون په بناء ای اهل الکتابو! تاسو ته به څنګه محمد ﷺ امر وکړي چې ملائک او یا پیغمبران علیهم السلام د خانو دپاره معبودین وتراشئ او یا به څنګه عیسی ﷺ خپلو پیروانو ته دغسې امر کړی وي؟ نو معلومه شوه چې تاسو په عیسی ﷺ پورې هم دروغ تړلي دي چې تاسو ته یې د خپل خان د عبادت امر کړی وه او د محمد ﷺ پورې هم تهمت تړئ چې تاسو د خپل خان عبادت ته درغواړي. او که مشرکان د ملائک پرستی خبره کوم یو پیغمبر ته منسوبه کړي نو هغوی به هم دروغ تړلي وي. دا کار خو کفر دی او پیغمبر خو د کفر د مخنیوي دپاره استولی شوی دی، کله چې تاسو د هغه امر ته په دې لحاظ غاړه کېږدئ چې هغه د الله ﷻ پیغمبر دی او مسلمانان شئ، ایا هغه به تاسو ته د مرتد کېدلو امر درکړي او خپلې هلې خلې به تولې په اوبو لاهو کړي؟ هیڅکله دا کار نه کوي.

توضیحات

۱ـ د "عِبَاد" کلمه د هغه "عَبْد" جمعه ده چې د عبادت څخه اخستلی شوی دی[۱] او هغه "عَبْد" کوم چې د عبودیت څخه اخستلی شوی دی او په معنی د غلام باندې استعمالېږي د هغه جمعه "عَبِید" راځي. په دې مقام کښې دوهمه معنی څکه صحت نه لري چې په دې معنی سره د غیر الله دپاره عَبْد جوړېدل څه ممانعت نه لري.

د "رَبَّانِي" کلمې تحلیل

۲ـ د ﴿رَبَّٰنِيِّـۧنَ﴾ کلمه د "رَبَّانِي" جمعه ده او په "رَبَّانِي" کښې په دوه ډوله تحلیل شوی دی:

الف: مشدده "ي" د نسبت دپاره ده چې "رَبَّان" ته یې نسبت شوی دی او "رَبَّان" د "رَبَّ یَرُبُّ" دپاره صفت مشبه دی[۲] چې په معنی د تربیه کوونکي سره دی.

(۱) روح المعاني ج۳ ص۲۰۷

(۲) روح المعاني ج۳ ص۲۲۷

ب: مشدده "ي" خو د نسبت دپاره ده مگر نسبت یې "رَبّ" ته شوی دی او "الف" او "نون" پکښې زیات شوی دی چې داسې کارونه د نسبتي "ي" سره ډېر پېښېږي، لکه په "رُوحَانِي" کښې هم "الف" او "نون" زیات شوي چې په اصل کښې "رُوْحِيْ" وه. نو د "رَبّانِي" لفظي معنی هغه څوک دی چې "رَبّ" ته یې نسبت شوی وي.

په هر تقدیر، په دې مقام کښې ترې هغه علماء مراد دي چې د علم او عمل سره-سره په سیاست کښې هم وارد وي او بصیرت هم ولري ترڅو د خلکو تربیه او روزنه د دنیا او آخرت دواړو دپاره وکړی شي او په تدریج سره د کوچنیو سرې څخه لوی سرې جوړ کړي، لکه چې یو باشعوره ښوونکی خپل شاګردان تربیه کوي[1].

کله چې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وفات شو نو محمد بن الحنیفیه رحمه الله وویلې چې نن ورځ د دې أمت رباني وفات شوی دی[2].

د درس او تعلیم څه فرق دی؟

۳- د ﴿ تُعَلِّمُونَ ﴾ کلمه د "تَعْلِيْم" څخه اخستله شوې ده او "تَعْلِيْم" ښوداني ته وایي. همدارنګه د ﴿ تَدْرُسُون ﴾ کلمه د "دَرْس" څخه اشتقاقه شوې ده او "دَرْس" اصلا د پخوانی ابادی متباقي نښو ته وایي چې اصلي آبادي د منځه تللې وي خو دیوالونه میوالونه یې پاتې وي، نو څرنګه چې د یو کتاب مضمون د لوست په تکرار سره په دماغ کښې خای نیسي خکه د لوست تکرار د درس په نامه یادېږي[3].

نو د "دَرْس" او "تَعْلِيْم" فرق دا دی چې "دَرْس" د لوستلو څخه عبارت دی او "تَعْلِيْم" نورو خلکو ته د ښوداني نوم دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د ربانیتوب دپاره دوه اساسي سببونه دي، یو دا چې د نورو خلکو د عقائدو او اعمالو اصلاح وکړي او بل دا چې خپل خان د الهي احکامو په بیا-بیا لوستلو او عملي کولو سره ښانسته کړي. نو د هغه عالم په حال افسوس دی چې د خپل علم په ذریعه خپل خان رباني جوړ نه شي کړی او د یهودو د علماوو په شان نورو ته په نېکیو امر کوي خو خپل خان یې هېر کړی وي.

د علماء السوء ډولونه

۴- خینو علماء کرامو لیکلي دي چې ناکاره علماء په لاندې څلورو ډولونو سره دي[4]:

الف: چې حق ته بالکل غاړه نه ږدي، نه په ظاهره او نه په باطنه. دې ته معاند وایي.

ب: چې ظاهري غاړه ورته ږدي خو باطنًا ورته تسلیم نه وي؛ دې ته منافق وایي.

---

(۱) الجواهر للطنطاوي ج۱ ص۱۳۲؛ البحر المحیط ج۲ ص۵۰۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۲۲

(۳) مفردات الراغب ص۱۶۹

(۴) نشر المرجان من مشکلات القرآن ص۲۱۴

ح: چې حق ته غاړه ږدي خو په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کښې اهتمام نه کوي؛ دغه د "مداهن" په نامه يادېږي.

د: چې تبليغ هم کوي خو د دوهم عالم خبرې ورباندې درنې تمامېږي او زړه يې غواړي چې يوازې همدی نطاق وي؛ دا د "متکبر" په نامه يادولی شو.

﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم مِّن كِتَٰبٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥ ۚ قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِى ۖ قَالُوٓا۟ أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَٱشْهَدُوا۟ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾

[۸۱] او هغه وخت (وربه ياد کړه) چې الله ﷻ د پيغمبرانو څخه کلک عهد واخيست چې: ضرور هغه شی چې زه تاسو ته درکړم چې هغه د کتاب او حکمت (نبوت) څخه عبارت دی بيا تاسو ته داسې رسول درشي چې د همغه شي تصديق کوونکی وي چې هغه ستاسو سره دی (کتاب او نبوت)، (نو ستاسو دې قسم وي چې) په هغه به خامخا ضرور ايمان راوړئ او مدد به ورسره خامخا ضرور کوئ.

الله ﷻ (دوی ته) وويلې چې ايا اقرار مو وکړ (په همدې خبره) او په همدې باندې مو زما کلک عهد واخيست (قبول مو کړ)؟

هغوی وويلې چې (هو!) مونږ اقرار وکړ (او ستا عهد مو قبول کړ).

الله (ورته بيا) وويلې چې شاهدان اوسئ او زه هم ستاسو سره د شاهدانو څخه يم.

[۸۲] نو هغه څوک چې پس د دغه (د خپل عهد څخه) بېرته تاو شو (او په عهد يې وفا ونه کړه) نو دغه کسان هغوی فاسقان دي (پام کوئ چې خپل ځانونه فاسقان جوړ نه کړئ).

ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې ثابته شوه چې د شرکي عقيدې دعوت د هيڅ بشر سره مناسب نه دی پاتې خو لا پيغمبران عليهم السلام چې الله ﷻ ورباندې امتيازي انعام کړی دی. په دې ايتونو کښې په اثبات رسېدلې ده چې د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام څخه په خپلو وختونو کښې د توحيد په عقيده باندې عهدونه اخستلی شوي دي چې ټول به په همدغه دعوت کښې سره يو لاس او متفق وي او هر يو به په خپل وخت کښې د همدې مطلب دپاره کار کوي.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: اهل الکتاب خو د پيغمبرانو عليهم السلام په منځکښې تفرقه او جدائي واقع کوي، ځينو ته داسې اقوال منسوبوي چې د نورو دپاره ترې دښمن جوړوي، مثلا يهودان وايي چې د موسی عليه السلام

شریعت په بل شریعت باندې نه شي نسخه کېدلی او نصارا دعوه کوي چې مونږ ته عیسی ﷺ د خپل خان د معبودیت توصیه کړې ده چې زما عبادت به کوئ او د هیڅا په خبره به د همدې تکلارې څخه نه اوړئ او دا به نه پرېږدئ.

د دوی دغه افتراګانې دا معنی ورکوي چې د پیغمبرانو خبرې بو تربله سره ضد او نقیض دي، په دوی کښې داسې هم شته چې شرک ته یې دعوت کړی دی او د توحید په ضد باندې یې هلې ځلې کړې دي. خو خبره داسې نه ده، ټول پیغمبران علیهم السلام سره متفق دي او یو د بل کومکیان دي. او په همدې باندې مو ترې عهدونه اخستي دي.

۲ـ ای پیغمبره! دوی ته هم معلومه ده چې د پیغمبرانو څخه عهدونه اخستلي شوي خو دوی یې پټوي او نه یې ښکاره کوي نو ته یو خل بیا دوی ته هغه وخت یاد کړه چې الله ﷻ د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام څخه په خپلو-خپلو وختونو کښې کلک عهدونه واخستل چې: کله مونږ تاسو په کتاب او نبوت باندې سرلوړي کړئ او بیا ستاسو په ژوند کښې بل پیغمبر درغی چې هغه هم ستاسو په شان د توحید د اشاعت په وظیفه باندې موظف شوی وي او کومه وظیفه چې تاسو اخستې ده د هغې تصدیق کوي، نو ستاسو دې په الله ﷻ باندې قسم وي چې په هغه باندې ایمان راوړئ، د هغه سره د وظایفو په سرته رسونه کښې کومک وکړئ، خپلو امتونو ته هم امر وکړئ چې هغوی همورباندې ایمان راوړي او په مقابل کښې یې د افتراګانو او د خلکو پارونې څخه خانونه وساتئ.

او که ستاسو په ژوند بل پیغمبر درنغی خو د درتللو خبر یې د الله ﷻ د پلوه درکړی شو نو په هغه به هم ایمان راوړئ او خپل- خپل امت ته به ورباندې توصیه کوئ چې هغوی ورباندې ایمان راوړي او کومک ورسره وکړي.

۳ـ دا هم ور په یاده کړه چې د عهد د اخستلو څخه وروسته د ښه تاکید دپاره بیا الله ﷻ دوی ته وویلې چې: ای پیغمبرانو! په دغه عهد مو اقرار وکړ او که نه؟ او زما په دغه کلک عهد مو منګولې ښخې کړې او که نه؟ نو هغوی ټولو وویلې چې ای ربه! مونږ پرې اقرار وکړ او ستا عهد مو واخست (قبول مو کړ) او په همدې باندې مو د خپلو- خپلو امتونو څخه عهدونه واخستل او هغوی هم قبول کړه.

۵ـ نو الله ﷻ دوی ته وویلې چې اوس نو تاسو هم په نوموړي عهد باندې شاهدان اوسئ او زه هم پرې د شاهدانو څخه یم ترڅو ترې څوک منکر نه شي، نو هر څوک چې د ذکر شوو ټولو تاکیداتو څخه وروسته خپل عهد مات کړي چې یا په بل پیغمبر باندې ایمان رانه وړي، یا ورسره کومک ونه کړي او یا د پیغمبرانو په منځکښې په تفرقه باندې معتقد شي نو همدوی بل څه نه دي مګر فاسقان دي.

۶ـ نو ای پیغمبره! اهل الکتابو ته ووایه چې که دوی په خپل پیغمبر باندې رښتیانی ایمان راوړی وي نو په تا باندې دې هم ایمان راوړي ځکه چې د دوی پیغمبر په تاباندې ستا په غیاب

کښې ايمان راوړى دى او ستا سره يې لا هملته همکاري کړې ده چې خپل امت ته يې په تاباندې د ايمان راوړلو توصيه کړې ده، نو دوى بايد د لاندې وجو د کبله په تا ايمان راوړي:

الف: کله چې د دوى پيغمبر په تا ايمان راوړي نو دوى څه حق لري چې ايمان نه راوړي؟

ب: دوى بايد د خپل پيغمبر توصيه عملي کړي او په تا ايمان راوړي.

ج: دوى بايد په خپل عهد باندې ودرېږي چې خپل خپل پيغمبر ترې ستا په باره کښې اخستى وه.

د: کله چې پيغمبر په ايمان نه راوړلو باندې فاسق ګرځي ايا تاسو به پرې فاسقان جوړ نه شئ؟

توضيحات

۱ـ الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه په لاندې درې ډولونو عهدونه اخستي دي:

الف: د عالم الذر عهد: چې د ټولو بندګانو د ارواګانو څخه اخستل شوى وه چې د الله ﷻ ربوبيت ومني، او شريک ورسره ونه دروي. همدې عهد ته د [الأعراف:۱۷۲] ايت کښې اشاره شوې ده.

ب: د پيغمبرانو عهد: چې يو تربله سره متفق وي او يو به په بل باندې ايمان راوړي او کومک به ورسره کوي. لکه چې په همدې ايت شريف کښې ورته اشاره شوې ده چې اوس د بحث لاندې وي.

ج: د علماوو او ملايانو عهد: چې حق به نه پټوي او خلکو ته به يې بيانوي. دغه عهد ته په [آل عمران:۱۸۷] ايت کښې اشاره شوې ده، که څه هم دغه ايت د اهل الکتابو د ملايانو په باره کښې نازل شوى دى مګر د مفهوم په اعتبار سره د هرې زمانې علماوو ته شامل دى.

يادونه

۲ـ په دې کښې شک نشته چې لومړنى عهد په عالم الارواح کښې اخستلى شوى دى او دريم عهد په دنيا کښې د تکليف په دوران کښې د پيغمبرانو عليهم‌السلام په ذريعه اخستلى شوى دى. اما په دوهم عهد کښې ځينې علماء وايي چې دا هم په عالم الأرواح کښې اخستل شوى دى مګر مونږ ته د دې عهد اخستل هم په دار التکليف کښې ښکاري او دا ځکه چې:

اول: د دې عهد يادونه خو د دې دپاره شوې ده چې په اهل الکتابو باندې الزام واقع کړي او د ملامتې لاندې يې راولي چې تاسو پيغمبرانو په محمد ﷺ باندې د ايمان راوړلو تعهدونه کړي دي او ستاسو څخه يې ورباندې هم تعهد اخستى دى خو تاسو په خپل تعهد وفا نه کوئ. او دوى د ملامتې لاندې هلته په څرګنده توګه واقع کېږي چې دا تعهد په دار التکليف کښې واقع شوى وي اوبس.

دوهم: که بالفرض دا تعهد په دار التکليف کښې نه وى واقع شوى نو دوى به ترې انکار کړى وى او سکوت به يې نه وى اختيار کړى.

دوه پوښتنې او د هغو جوابونه

۳ـ اوس نو په دې مقام کښې ممکنه ده چې د سړي په ذهن کښې دوه سوالونه وګرځي:

يو دا چې د پيغمبرانو زمانه خو يوه نه ده چې ﴿ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ ﴾ بيا تاسو ته بل پيغمبر راشي ورباندې صدق پيدا کړي؟

مونږ وايو: رښتيا چې داسې پيغمبران لږ تېر شوي دي چې زمانه يې سره يوه وه لکه موسی عليه السلام او هارون عليه السلام، يا ابراهيم عليه السلام او لوط عليه السلام، چې ﴿ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ ﴾ ورباندې صادقېږي.

اما د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام څخه په عمومي توګه عهدونه اخستل ـ که څه هم د زمانو اتحاد يې ممکن نه دی ـ لاندې ګټې لري:

الف: ترڅو د موضوع په اهميت باندې دلالت وکړي. لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ وَلَقَدْ أَنْذَرَ نُوحٌ قَوْمَهُ»[۱] يعني: هيڅ پيغمبر نه دی تېر شوی مګر خپل قوم يې د دجال څخه ډارولی دی او نوح عليه السلام هم خپل قوم ترې ډارولی دی. معلومه خبره ده چې دجال د قيامت د راتلو د علاماتو څخه دی او د نوح عليه السلام په زمانه کښې نه پيدا کېده، خو د هغه د عظيم خطر څخه نوح عليه السلام خپل قوم وډار کړ چې ترڅو يې مونږ ته نبي کريم ﷺ حکايت کړي.

ب: ترڅو د راتلونکي پيغمبر دپاره د وخت د خلکو اذهان اماده کړی شي چې ايمان ورباندې راوړي. يا په بل عبارت: په راتلونکي پيغمبر د منلو اعلان او تعهد هم د هغه سره يوه نوعه همکاري ده او خلک پوهول دي چې که بالفرض زه ژوندی يم هم ايمان به ورباندې راوړم پاتې خو لا ناسو چې عادي خلک ياست. ترڅو د راتلونکي پيغمبر سره څوک تعصب ونه کړي او انکار ته يې ملا ونه تړي.

بل سوال دا دی چې په پيغمبرانو عليهم السلام کښې خو آخر الزمان پيغمبر عليه السلام هم شامل دی ايا د ده څخه هم په راتلونکي پيغمبر باندې عهد اخستلی شوی دی؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو د دې سوال څخه داسې جواب کړی دی چې نبي کريم ﷺ په ﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾ کښې شامل نه دی بلکې نبي کريم ﷺ د ﴿ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ ﴾ څخه عبارت دی. نو د معنی حاصل به داسې کېږي چې: د ټولو پيغمبرانو څخه عهد اخستل شوی دی چې په آخر الزمان پيغمبر (محمد ﷺ) باندې هم ايمان راوړي او هم ورسره همکاري وکړي او خلک ورته تشويق کړي. همدا مضمون د علي رضي الله عنه څخه روايت شوی دی[۲].

مګر دا جواب زړه ته نه ورځي خکه چې د تخصيص دپاره هيڅ وجه نشته او د علي رضي الله عنه د روايت هم دا معنی کېدلی شي چې نبي کريم ﷺ د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام څخه وروسته راغلی دی نو د ټولو څخه د ده په باره کښې عهد اخستلی شوی دی او د عهد دپاره کامل مصداق دی، او دا معنی نه ده چې عهد اخستل يوازې د همده ﷺ په باره کښې دي او بس.

نو مونږ ته دا ښه ښکاري چې د نبي کريم ﷺ څخه هم ذکر شوی عهد اخستل شوی دی خو دا عهد په دې معنی نه دی چې بل پيغمبر به مبعوث کېږي ترڅو لازمه شي چې د هر يو پيغمبر په ژوند

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۷

(۲) روح المعاني ج۳ ص۲۰۹

کښې دی بل پیغمبر مبعوث شي او که د کوم یوه په ژوند کښې بل پیغمبر نه مبعوث کېږي نو د هغه څخه دې عهد نه وي اخستل شوی بلکې ذکر شوی عهد په ډېره مبالغه آمېزه کلماتو باندې ادا کړی شوی دی ترڅو په زیات تاکید باندې دلالت وکړي، چې د معنی حاصل یې داسې کېږي: ای آخر الزمان پیغمبره! ستا څخه وروسته خو بل پیغمبر نه راځي خو ستا دې قسم وي که بالفرض بل پیغمبر راشي د هغه سره به هم همکاري کوې او ایمان به ورباندې راوړې.

د ښه وضاحت دپاره لاندې څو مثالونه ولولئ:

اول: الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته فرمايي چې: د کافرانو دا عقیده چې ملائک بنات الله دي په ابلغه توګه رده کړه چې: ﴿ قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ ٱلْعَٰبِدِينَ ﴾ [الزخرف: ۸۱] یعنې: ورته ووایه چې که بالفرض مهربان الله ﷻ ولد درلودی نو زه به د ټولو عبادت کوونکو څخه وړاندې (په همدغه حیث د الله ﷻ) عبادت کوونکی وی (د هرچا څخه وړاندې به ورباندې زه خبر وی).

دوهم: همدغه ایت [۸۲] په دې تمام شوی دی چې هرڅوک ستاسو د پیغمبرانو د جملې څخه خپل عهد ته (بالفرض) شا کړي نو دوی د فاسقانو د جملې څخه دی. او ښکاره ده چې نه پیغمبر خپل عهد ماتوي او نه په دوی باندې د فاسق کلمه صدق پیدا کولی شي خو د زیات تاکید دپاره دغه ډول کلمات استعمال شوي دي.

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «وَاللهِ لَوْ كَانَ مُوسَى حَيًّا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ مَا حَلَّ لَهُ إِلَّا أَنْ يَتْبَعَنِي»[۱] یعنې: په الله ﷻ قسم دی که بالفرض موسی ؑ ستاسو په منځکښې نن ورخ ژوندی وی هم نو ورته به جائزه نه وی مګر دا چې زما متابعت وکړي.

څلورم: فقهاء کرام وایي چې څوک چا ته ووایي "که بالفرض ته قبله شي هم زه به مخ دروا نه ړوم" دا سړی کافر کېږي[۲]، که څه هم د دغه مشخص سړي قبله جوړېدل محال دي خو څرنګه چې نوموړی قائل ـ قبلې د منلو څخه انکار وکړ که څه هم فرضي قبله ده نو ځکه ورباندې کافر شو.

یادونه

۳ـ ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾ کښې څو متعددې معناوې کړې دي چې یا د پیغمبرانو اولادونه مراد دي او یا یې امتیان مراد دي او یا بني اسرائیل مراد دي چې د همدوی څخه عهدونه اخستلي شوي، نه د پیغمبرانو څخه[۳].

مګر مونږ ځکه ورباندې تېره کښېنودله چې ذکرې شوې ټولې معناوې متبادرې نه دي. که څوک یې زیات تفصیل غواړي هلته دې مراجعه وکړي.

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۲۵۳

(۲) شرح فقه اکبر ص۲۱۶ ـ

(۳) تفسیر الکشاف ج۱ ص۳۷۹؛ التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۲۲

لام په قسم دلالت کوي

۴ـ مفسرین کرام وایي چې ذکر شوی عهد په قسم سره اخستلی شوی دی چې یو دلیل یې دا دی چې أَخَذَ الْمِيثَاقَ (د کلک عهد اخستل) د استحلاف معنی ورکوي چې عهد په قسم سره کلک شوی دی او بل دلیل یې دا دی چې په ﴿ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم ﴾ کښې د "ل" توری په قسم باندې دلالت کوي. د همدې کبله ورته "مؤطئة القسم" وایي[1] نو مونږ یې خکه په ژباړه کښې همدا مضمون خای په خای کړ.

﴿ أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ قُلْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَـٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾ ﴾

[۸۳] ایا نو دوی (کافران) د الله ﷻ د دین څخه په غیر بل دین لټوي حال دا دی چې همده ﷻ ته هغه چا (هم) غاړه اېښې ده چې په اسمانو کښې دي او (هغه چا) هم چې په ځمکو کښې دي په خوښه او ناخوښه (زور) سره او خاص همده ﷻ ته به ورتاو کړی شي.

[۸۴] ووایه (ای پیغمبره!) چې مونږ په الله ﷻ ایمان راوړی او هم په هغه شي چې په مونږ باندې نازل کړی شوی دی او په هغه شي باندې هم چې په ابراهیم ؑ باندې نازل کړی شوی دی او (په هغه شي باندې) هم چې په اسماعیل ؑ او په اسحاق ؑ، او په یعقوب ؑ او په اسباطو (د یعقوب ؑ په اولاده) باندې نازل کړی شوی دی او په هغه شي هم چې موسی ؑ او عیسی ؑ او نورو پیغمبرانو ته د خپل رب ﷻ د پلوه ورکړی شوي وه.

مونږ د دوی د یوه په منځکښې هم تفرقه نه کوو او مونږ خاص همده (الله ﷻ) لره غاړې اېښودونکي یاستو.

[۸۵] او هغه څوک چې د (ذکر شوي) اسلام څخه په غیر بل دین لټوي نو هیڅکله به ترې قبول نه کړی شي او همدی به په آخرت کښې د تاوانیانو څخه وي.

ارتباطونه

۱ـ دا ایتونه د تېرو شوو ایتونو دپاره د نتیجې مثال لري چې دلایل خو دې همدومره وي چې بیان شوه او د الله ﷻ حق دین بالکل څرګند شو چې اوس یې هم څوک نه مني نو دا معنی ورکوي چې هغه د ټولو کائناتو څخه مخالفت کوي.

[1] تفسیر ابي السعود ج۲ ص۵۳

۲_ هلته دا واضحه شوې وه چې د پیغمبرانو علیهم السلام څخه عهدونه اخستل شوي وه. په دې اېتونو کښې د دغه عهدونو یوه بېلګه او مثال بیان شوی دی چې د آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) څخه هم دا دی عهد واخستل شو چې تاسو ته یې په خپله مبارکه خوله بیانوي چې: ﴿ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ ﴾ الآية.

۳_ هلته د پیغمبرانو علیهم السلام څخه د راتلونکي پیغمبر په هکله عهد اخستلی شوی وه او دلته د آخر الزمان پیغمبر ﷺ څخه د تېرو شوو پیغمبرانو علیهم السلام په متعلق معاهده واخستله شوه او خلکو ته یې اعلان هم کړه ترڅو معلومه شي لکه په پخوانیو مسلمانانو باندې چې د وروستنیو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان راوړل ضروري وه همدارنګه په وروستنیو باندې هم په ړومبنیو پیغمبرانو علیهم السلام باندې اعتقاد کول واجبي شی دی.

۴_ بالآخره هغه انصافي خبره چې په [آل عمران:۶۴] ایت کښې نبي کریم ﷺ اهل الکتابو ته پېشنهاد کړې وه او هغوی ورسره ونه منله، همغه خبره یې دلته د خپله طرفه یو جانبه اعلانه کړه چې الله ﷻ یو واحد او لا شریک ګڼو او ټولو احکامو ته به یې غاړه ږدو.

د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای د دنیا هوښیارانو! تاسو منصافانه خبره وکړئ چې ایا د هغه دین څخه په غیر کوم چې ټول پیغمبران علیهم السلام ورباندې متفق دي او د الله ﷻ دین دی چې ټول کائنات ورباندې روان دي بل دین لټونه بې انصافي نه ده؟ دوی چې د دغه متفق علیه دین څخه انکار کوي ایا دوی د دې دین څخه پرته بل ښه دین موندلی شي؟ حال دا چې هغو ټولو مخلوقاتو ورته غاړه ایښې ده چې په اسمانونو کښې دي او که په ځمکو کښې دي، کلک معاند هم د همدې دین څخه غاړه نه شي غړولی او مجبور دی چې ورته تسلیم شي. نو معلومه شوه چې دا عالمي دین دی خو د مجبوریت د کبله یې ټول مني اما په رضا او خپله خوښه یې څوک مني او څوک یې نه مني خو د دوی دپاره یوه ورځ راتلونکې ده چې د دین مالک (الله ﷻ) ته به ټول وروستلی شي او هغه ﷻ به ورسره محاسبه وکړي.

۲_ نو ای پیغمبره! کافران چې د ټولو پیغمبرانو متفق علیه دین یا بالکل نه مني او یا پکښې په انتخابي توګه ایمان راوړي نو ته ورته اعلان وکړه چې تاسو چې هر څه کوئ هغه وکړئ تاسو پوهېږئ او د قیامت ورځ، زمونږ تګلاره خو دا ده چې مونږ ټولو یوازې الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او ستاسو غوندې عیسی علیه السلام او یا بل څوک ورسره نه شریکوو.

او مونږ په هغه کتاب باندې هم ایمان لرو چې په مونږ نازل کړی شوی دی چې قرآن کریم دی او په هغه څه باندې هم چې هغه په ابراهیم علیه السلام، اسماعیل علیه السلام، اسحاق علیه السلام، یعقوب علیه السلام او د ده په اولاده باندې نازل کړی شوي دي، که څه هم مونږ ته یې پوره تفصیل معلوم نه دی خو دومره عقیده ورباندې لرو هر څه چې وه هغه ټول حق وه.

همدارنګه په هغو کتابونو باندې هم ایمان لرو کوم چې موسی علیه السلام او عیسی علیه السلام ته ورکړی شوي وه چې د تورات او انجیل څخه عبارت دي او همدارنګه په هغه څه باندې هم معتقد یاستو

چې نورو پیغمبرانو علیهم السلام ته ورکړی شوي وه، مونږ د یوه پیغمبر هم فرق نه کوو چې ستاسو غوندې انکار ترې وکړو، ځکه چې دوی ټول د الله ﷻ استولي شوي غوره بندګان دي او مونږ الله ﷻ لره غاړه ایښودونکي پاستو.

نو راشئ ای اهل الکتابو! تاسو هم زمونږ په شان ایمان راوړئ او ټول پیغمبران علیهم السلام او ټول اسماني کتابونه د قرآن کریم په شمول ومنئ چې په فطري دین باندې مستقیم شئ.

۳_ که تاسو د همدې دین څخه پرته په هر دین کښې زیار وباسئ هغه به مو په ښه باندې درنه شي ځکه چې د هیڅ څخه د اسلام نه پرته بل دین مقبول نه شي واقع کېدلی، نو هرڅوک چې د بل دین هڅه وکړي هغه مثال به پرې صادق شي چې "هندو ستړی او الله ناراض" او هم به په آخرت کښې ترې لوی زیانکاری جوړ شي چې هم به ورځخه دین تللی وي او هم به ترې د دین د لاس ته راوړلو فرصت فوت شوی وي.

توضیحات

۱_ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو[1] د ﴿ طَوْعًا ﴾، ﴿ كَرْهًا ﴾ دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: عبد الله بن عباس رضی الله عنه وایي چې ټول خلک د میثاق په ورځ (په عالم الأرواح کښې) طوعًا مسلمانان شوي وه. یعني که بالفرض په دار التکلیف کښې ټول خلک غاړه ایښودونکي جوړ شي نو دا کار به په زور سره صورت ونیسي.

ب: مجاهد رحمه الله علیه وایي چې مؤمن الله ﷻ ته طوعًا سجده کوي او د کافر سوری کرهًا سجده کوي.

ج: الحسن رحمه الله علیه وایي چې مؤمن طوعًا ایمان راوړي او کافر کرهًا (د توري په زور) ایمان راوړي.

د: قتادة رحمه الله علیه وایي چې: مؤمن طوعًا ایمان راوړي خو کافر يې کرهًا راوړي چې عذاب وګوري مګر هلته ورته ایمان څه فائده نه کوي.

ه: الزجاج رحمه الله علیه وایي چې ټول مخلوق الله ﷻ ته کرهًا په دې معنی منقاد دی چې هیڅوک يې د تکویني اوامرو څخه سر نه شي غړولی او نه پکښې څوک د تغیر توان لري. او دا ځکه چې په تکویني اوامرو کښې د چا اختیار نشته ټول د "کُنْ" په امر باندې موجودېږي او بس.

هو! په تشریعي اوامرو کښې هغه څوک غاړه ایښودونکی ګڼل کېږي چې طوعًا په خپله خوښه ورته تسلیم شي او عقیده وربانديې وکړي.

که څه هم د ځینو مفسرینو کرامو[2] همدغه پنځمه معنی خوښه ده چې حاصل يې داسې کېږي چې: کافران ولې د الله ﷻ د دین څخه په غیر د بل دین په هڅه کښې دي او تشریعي اوامر يې نه قبلوي حال دا دی چې په تکویني اوامرو کښې ورځخه مخالفت نه شي کولی، نو دوی ته مناسب دي چې تشریعًا هم ترې مخالفت ونه کړي ترڅو د ټولو کائناتو د قانون سره موافق شي.

(۱) التفسير الكبير ج۸ ص۱۳۰؛ زاد المسير ج۱ ص۳۵۳؛ البحر المحيط ج۳ ص۲۴۶؛ تفسير الطبري ج۳ ص۳۳۶

(۲) في ظلال القرآن ج۱ ص۴۲۱

مګر په همدې تفسير باندې د سړي په ذهن کښې دا اعتراض ګرځي چې الله ﷻ خو په بل ځاى کښې د تکويني امر د منلو څخه په طوعې سره تعبير کړى دى لکه چې فرمايي: ﴿ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴾ [فصلت: ١١] يعني: نو الله ﷻ اسمان ته او هم ځمکې ته وويلې چې راشئ (موجود شئ) که خوښه مو وي او که خوښه مو نه وي، دوى دواړو وويلې چې راغلو مونږ (موجود شوو) په داسې حال کښې چې خوښه مو ده.

او په ذکر شوي تفسير کښې چې اکثريت خوښ کړى دى د تکويني امر منل په کرهې سره تعبير کړى شوى دى، دا نه ده مګر د ايت څخه مخالفه معنى ده.

د همدې کبله مونږ څلورم تفسير (چې قتادة رحمه الله عليه کړى دى) خوښوو، چې حاصل يې داسې را اوځي:

اى کافرانو! تاسو خپلې ناتوانۍ او کمزورۍ په نظر کښې ونيسئ او د الله ﷻ دين په ډېره خوشالۍ او رضامندۍ باندې قبول کړئ. او دا ځکه چې:

اول: تاسو په دنيا کښې هم د الله ﷻ د مقابلې توان نه لرئ که اراده يې وشي په زور به يې درباندې ومني. ځکه چې د الله ﷻ د مقابلې توان نه څوک په ځمکه کښې لري او نه په اسمان کښې او ټول ورته تسليم دي، خو د زور په انقياد باندې تاسو د ملامتۍ څخه نه خلاصېږئ او څه ګټه درته نه شي رسولى.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةً فَظَلَّتْ أَعْنَٰقُهُمْ لَهَا خَٰضِعِينَ ﴾ [الشعراء: ۴] يعني: که زمونږ اراده وشي په دوى باندې به د اسمان (غيبو) څخه داسې معجزه ورښکته کړو چې غاړې به يې ورته ذليلې وګرځي (او ورته تسليم به شي).

دوهم: تاسو په آخرت کښې هم کمزوري ياست چې خپل ځانونه د الله ﷻ د محاسبې څخه نه شئ بچ کولى او په زور به د هغه ﷻ حضور ته بېولى کېږئ او هغه ﷻ به درباندې فيصله کوي.

اى کافرانو! چې تاسو د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام اتفاقي دين نه منئ او د ټولو کائناتو فطري قوانين د پښو لاندې کوئ او هيڅ يوه دليل او برهان ته اعتناء نه کوئ نو ستاسو کوم زور او کوم قوت؟ دومره کمزورى مخلوق او دومره لوى تکبر؟

يادونه

٢_ د ﴿ قُلْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ ﴾ الآية غوندې يو بل ايت د [البقرة: ١٣٦] کښې تېر شوى دى، دواړه ايتونه سره د تَفَنُّنْ في العبارة د کبله لږ څه جزئي فرقونه لري چې په عربي ژبه کښې د بدائعو څخه شمېرل کېږي. اما په تفسير کښې سره فرق نه لري نو کوم تفسير چې مونږ ته لازم ښکارېده همغه مو هلته ليکلى دى بيا ليکنه يې لازمه نه ګڼو نو هيله ده محترم لوستونکي د "الْأَسْبَاطِ" د معنى په باره کښې او د موسى عليه السلام او د عيسى عليه السلام د نومونو د ذکر په حکمه هلته مراجعه وکړي.

﴿كَيْفَ يَهْدِي ٱللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا۟ بَعْدَ إِيمَـٰنِهِمْ وَشَهِدُوٓا۟ أَنَّ ٱلرَّسُولَ حَقٌّ وَجَآءَهُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٨٦﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ ٱللَّهِ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿٨٧﴾ خَـٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾﴾

[۸۶] څرنګه به الله ﷻ داسې قوم ته هدايت وکړي (مطلب ته به يې ورسوي) چې هغوی د ايمان راوړلو څخه وروسته په داسې حال کښې کفر غوره کړی دی چې شاهدي يې ورکړي وي (په دې خبره باندې) چې بې شکه (دا) پيغمبر حق دی او (په داسې حال کښې چې) دوی ته ښکاره دلايل (او معجزات هم) ورغلي وه. او الله ﷻ ظالم قوم ته هدايت نه کوي (چې مطلب ته ورباندې ورسېږي).

[۸۷] دغه کسان چې دي، د دوی جزا دا ده چې يقيناً په دوی باندې د الله ﷻ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دی.

[۸۸] (په داسې حال کښې چې) په (همدې) لعنت (دوزخ) کښې به همېشه وي، نه به ترې عذاب تخفيف کړی شي او نه به ورته مهلت ورکړی شي.

[۸۹] مګر هغه کسان چې د همدغو (مرتد کېدلو) څخه وروسته توبه وباسي او (خانونه) اصلاح کړي نو (په دغو کسانو باندې ذکرې شوې جزاګانې نشته ځکه چې) يقيناً الله ﷻ ښښونکی دی (په تېر شوي ارتداد باندې يې نه نيسي او) مهربان دی (د استحقاق څخه په اضافه فضل ورباندې وکړي جنتونه به ورکړي او هم به په دنيا کښې د ښکو عملونو توفيق ورکړي).

شان نزول

که څه هم مفسرينو کرامو د ذکرو شوو ايتونو په باره کښې متعدد مصداقات او يا شان نزولونه روايت کړي دي چې ټول يې د مفهوم لاندې راتلای شي[۱]، خو موږ ترې لاندې هغه روايتونه رانقلوو کوم چې موږ ته د دې ايتونو د سياق سره ښه ښکاري:

۱ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې د انصارو د جملې څخه يو سړی مسلمان شوی وه خو بېرته کافر شو او مشرکانو ته ورغی مګر څه موده وروسته په ارتداد باندې پښېمانه شو او خپلوانو ته يې جواب ولېږه چې زما دپاره د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړئ چې د ارتداد څخه به مې توبه قبوله شي او که نه. نو د همدې پوښتنې په جواب کښې ذکر شوي ايتونه نازل شوه چې توبه يې قبلېږي[۲].

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۲۵۶؛ التفسير الکبير ج۸ ص۱۳۵

(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۷۹

۲_ د الحسن رحمه الله روایت دی چې دا ایتونه د اهل الکتابو په باره کښې نازل شوي دي چې د بعثت څخه وړاندې يې په نبي کريم ﷺ باندې ایمان راوړي وه چې راتلونکی آخر الزمان پیغمبر په حقه دی، او مشرکانو ته به يې ویلې چې کله الله ﷻ هغه مبعوث کړ نو مونږ به د هغه په نصرت په تاسو باندې غلبه پیدا کړو او د ظلمونو انتقام به درڅخه واخلو.

خو کله چې آخر الزمان پیغمبر ﷺ مبعوث شو دوی ورباندې روښنې کافران جوړ شوه او د خپلې پخوانۍ عقیدې څخه بېرته تاو او مرتد شوه[1].

د ارتباط وجې

۱_ د وړاندېنیو ایتونو د اشاراتو څخه معلومېده چې دلایل خو دې همدومره وي چې تاسو ته وویل شوه نور نو فقط همدا یوه خبره پاتې ده چې په زور مسلمان کړی شي، خو دا کار الله ﷻ نه کوي او د اختیاري ایمان راوړلو استعداد تاسو د خاورو سره برابر کړی دی.

په دې ایتونو کښې همدا مضمون تعقیب شوی دی چې ستاسو غوندې خلکو ته به څنګه الله ﷻ هدایت وکړي چې د معجزاتو د لیدلو سره-سره حق دین نه مني او هغو تولو دلایلو ته شا کوي د کومو په بنیاد يې چې یو خل ایمان راوړی وه او د نبي کريم ﷺ په حقانیت يې شهادت ورکړی وه، البته د مبعوثیت څخه وړاندې.

۲_ هلته واضحه شوې وه چې د اسلام څخه په غیر بل دین د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی او ... دلته دا واضحه کېږي چې څوک د اسلام څخه مرتد شي هغوی په لاندې درې ګروپونو باندې وېشلې کېږي.

الف: هغه ډله کافران چې په اخلاص توبه وباسي نو الله ﷻ يې توبه قبلوي.

ب: هغه ډله چې توبه يې د اخلاص څخه نمایندګي نه کوي او ورځ په ورځ يې کفر زیاتېږي نو د دوی توبه قبوله نه ده.

ج: هغه ډله چې د مرګ د ورځې پورې په کفر کلک وي او په همدې حالت کښې مړه شي دوی نه هم نه توبه شته او نه به ورته الله ﷻ بښنه وکړي او نه به ترې فدیه قبوله کړي.

د مطلب خلاصه

۱_ د دوهمې او دریمې ډلې بیان په راتلونکو ایتونو کښې راروان دی او د لومړنۍ ډلې بیان دا دی چې ای پیغمبره! دغو کافرانو ته تمه مه کوه چې دوی به په تاباندې بیا ایمان راوړي. او دا څکه چې الله ﷻ به هغه قوم ته څنګه هدایت وکړي چې هغوی د ایمان راوړلو څخه وروسته بېرته کافر شوي وي په داسې حال کښې چې ستا په رسالت باندې يې شاهدي ورکړې وي او معجزات او دلایل يې په کافي اندازه د نظره تېر شوي وي چې د همغو په سبب يې ایمان راوړی وه خو یو خل يې بیا کفر نه محه کړه او دلایل يې تول د پښو لاندې کړه.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۳ ص۳۴۱

دوی ته څکه الله ﷻ هدایت نه کوي چې دوی ظالمان دي او ظالم قوم هدایت نه شي موندلی چې د هدایت اسباب یې د منځه وړي دي.

۲_ د دغې ډلې کافرانو جزا دا ده چې په دوی باندې د الله ﷻ لعنت دی چې ورځ په ورځ یې د رحمت څخه لرې کېږي او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت هم ورباندې دی چې ښېراوې ورته کوي حتی دوی پخپله هم خانو ته د الله ﷻ غضب غواړي کله چې دوی وایي چې: ای الله! په ظالم قوم باندې غضب نازل کړې، حال دا چې ظالمان بل څوک نه دي مګر همدوی دي.

۳_ دوی به په همدغه لعنت کښې همېشه وي، ترڅو چې دنیا باقي وي د الله ﷻ لعنت به ورباندې زیاتېږي او څومره خلک چې د دوی په غیر مشروع لار باندې تګ کوي دوی به ورسره پکښې شریک وي او په آخرت کښې به د لعنت په اصلي مظهر (دوزخ) کښې د دوام په توګه معذب شي چې نه به ترې عذاب تخفیف کړی شي او نه به ورته څه دمه ورکړی شي.

هو! تر هغه وخته پورې چې ارواګاني یې د غرغرې حالت ته نه وي رسېدلې د توبې دروازه ورته خلاصه ده، نو د ذکر شوو ټولو لعنتونو او عذابونو څخه د دوی هغه کسان بچ پاتې کېدلی شي چې د همدې ټولو جنایتونوڅخه وروسته الله ﷻ ته ورتاو شي او په اخلاص توبه وباسي خو په دې شرط چې بیا پخواني خوی ته لاس وانه چوي او په واقعي توګه د خپلو خانو په اصلاح کښې مصروف شي، نو الله ﷻ به په دا خل بیا هم د جنایت څخه ورتېر شي او په تېرو شوو ګناهونو باندې به یې ونه نیسي. برسېره په دې د توفیق مهرباني به پرې هم وکړي او د استحقاق څخه اضافه اجرونه به ورکړي، دا څکه چې الله ﷻ غفور رحیم دی.

توضیحات

۱_ ﴿ كَيْفَ يَهْدِى ٱللَّهُ ﴾ ټکړې په تفسیر کښې مفسرین کرام په لاندې دوه طریقو باندې تللي دي:

الف: یوه طریقه دا ده چې: ای پیغمبره! د دغو اهل الکتابو او یا د دغو مرتدانو څخه تمه مه کوه چې دوی به په تاباندې ایمان راوړي، څکه چې د دوی کفر تقریباً د ختم اندازې ته رسېدلی دی.

نو په دې طریقه کښې د دوی ایمان راوړل محال نه دي فقط بعید دي، کېدلی شي چې د بُعد سره، سره توبه وباسي او ایمان راوړي لکه چې د ایتونو آخرنۍ ټکړې ورباندې دلالت کوي.

ب: بله طریقه دا ده چې: ای پیغمبره! دغو کافرانو ته الله ﷻ هدایت نه کوي. لکه چې په همدې معنی باندې ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ دلالت کوي چې الله ﷻ ظالمانو ته داسې هدایت نه کوي چې مطلب ته ورباندې ورسېږي.

خو په دواړو طریقو کښې د دې ایت شریف د حکم څخه هغه کسان وتلي دي کومو ته چې په څلورم ایت کښې اشاره شوې ده چې ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ ﴾ الآية نو څوک داسې اعتراض نه شي کولی چې د دې ایت مضمون دا دی چې مرتد ته الله ﷻ هدایت نه کوي او د هغه ایت مضمون دا دی چې هدایت ورته کوي نو د دواړو ایتونو مفاهیم سره متناقض شوه. د جواب حاصل یې دا دی چې هغه

ایت د دې ایت متمم دی چې د دواړو مجموعې څخه یو کلام جوړیږي او دوه کلامه نه دي چې دواړه سره متناقض جوړ شي.

یادونه

۲ـ د لعنت په باره کښې ډیر ښه مفید بحثونه د [البقرة:۱۵۹ـ ۱۶۱] ایتونو لاندې تېر شوي دي، دوهم ځل لیکل یې اوږدوالی پیدا کوي نو هیله ده چې محترم لوستونکي ورته مراجعه وکړي.

توبة څه ته وايي؟

۳ـ هرڅوک چې د خپل خان د خلاصون دپاره د ګناه څخه اعتذار وړاندې کوي نو د لاندې درې حالونو څخه به خالي نه وي[1]:

الف: چې بالکل د ګناه څخه انکار وکړي چې ما نه ده کړې تهمت راپورې تړلی شوی دی.

ب: چې ووايي ګناه مې کړې ده خو زه یې په کولو کښې ملامته نه یم، د دې کبله او د دې کبله مې ورته اقدام کړی دی.

ج: چې ووايي ګناه مې کړې ده او هیڅ وجه د جواز مې په لاس کښې نه وه، بد مې کړي او اوس وړباندې پښېمانه یم.

دغه دریم ډول اعتذار د توبې په نامه یادیږي چې په شریعت کښې لاندې څلور شرطونه لري:

اول: چې ګناه د دې کبله پریږدي چې قبیحه ده او په شریعت کښې ممنوعه ده.

دوهم: چې په کولو باندې یې پښېمانه او نادم وي.

دریم: چې په عین وخت کښې یې جدي قصد وي چې بیا به د نوموړې ګناه کولو ته رجوع نه کوم.

څلورم: چې د کړی شوې ګناه تلافي وکړي که ممکن وي. مثلا د چا مال یې خوړلی وي، چې هغه بېرته ورکړي او که د چا غیبت یې کړی وي د هغه څخه عفوه ترلاسه کړي.

سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: ځینې مفسرین کرام[2] خو د ﴿ وَأَصْلَحُوا ﴾ تکي څخه پنځم شرط هم استنباطوي چې که توبه کوونکي خپل خان اصلاح نه کړ او ګناه ته یې بیا عَود وکړ نو توبه یې شرعي توبه نه ده، تاسو خو دغه شرط ذکر نه کړ؟

مونږ وایو چې: دغه شرط خو عین دریم شرط دی چې باید د توبه کولو وخت کښې ورسره همدا عزم وي چې بیا به ګناه ته نه ورګرځم. اما دا خبره چې که د همدغه عزم څخه راښکته شو او بیا یې ګناه ته اقدام وکړ نو د احنافو علیهم الرحمة په نزد پخوانۍ توبه یې شرعي توبه ده او تېره ګناه ورته پرې عفوه شوې ده البته چې دوهم ځل د نوې ګناه مرتکب شو. او دا ځکه چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص۷۲

(۲) تفسیر المنار ج۳ ص۳۶۶

د ابو بکر الصدیق ﷺ په روایت نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً»[۱] يعني: هغه څوک په ګناه باندې مصر (دوام ورکوونکی) نه ګڼل کېږي چې د ګناه څخه بښنه غواړي اګر که په يوه ورځ کښې اويا کرته ګناه ته بېرته ورستون شي.

نو چې کله مغفرت غوښتونکی (توبه ويستونکی) مداوم ونه ګڼل شو نو معلومه شوه چې پخوانی توبه او استغفار يې د منځه نه دی تللی.

هو! که دوی ووايي چې زمونږ مراد دا دی چې په توبو کښې ډېره لويه او موثره توبه هغه ده چې وروسته ترې ګناه ته رجوع ونه کړی شي نو بيا خو بالکل اختلاف د منځه ځي. او دا ځکه چې دغه ډول توبه خو هرڅوک لويه توبه ګڼي ته به وايې چې د دې څخه په غير بله توبه د سره توبه نه ده!

هېر مو نه شي!

۵ـ هېر مو نه شي چې د "تائِب" کلمه چې د الله ﷻ صفت واقع شي نو د توبه قبلوونکي معنی ورکوي. همدارنګه د "تَوَّاب" څخه د ډېر توبه قبلوونکی مرادېږي. او که د بنده صفت واقع شي نو "تائِب" په معنی د توبه ويستونکي او "تَوَّاب" په معنی د ډېر توبه ويستونکي کېږي[۲].

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعْدَ إِيمَٰنِهِمْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ ٱلْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ ٱفْتَدَىٰ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٩١﴾ ﴾

[۹۰] بې شکه هغه کسان چې دوی د خپل ايمان راوړلو څخه وروسته بېرته کافر شوي دي بيا د کفر د حيثه زيات شوي دي (کفر يې قوي شوی دی)، هيڅکله به د دوی توبه قبوله نه کړی شي او دغه کسان همدوی ګمراهان دي.

[۹۱] بې شکه هغه کسان چې دوی کافر شوي دي او په داسې حال کښې مړه شي چې دوی کافر وي نو د دوی د جملې څخه د يوه څخه به هم د سرو زرو د حيثه د ځمکې ډکوالی (په هيڅ وجه) قبول نه کړی شي اګر که نوموړی يې (بالفرض د خپلو جنايتونو په مقابل کښې) فديه کړي (د فديې په وجه به هم قبول نه کړی شي پاتې لا د تصدق په وجه).

دغه کسان چې دي دوی لره دردناک عذاب دی او دوی لره به هيڅوک کومک کوونکی نه وي.

د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د مرتدانو د پاتې دوه ډلو حکم بيان شوی دی چې د دواړو دپاره نه توبه شته او نه مغفرت. نو مضمون يې داسې دی چې:

(۱) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۱۲؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۶
(۲) مفردات الراغب ص۷۲

۱_ د مرتدانو دوهمه ډله هغه ده چې د ارتداد څخه وروسته توبه وباسي خو حقيقي توبه نه بلکې صرف د کوم مرام په منظور يې ورته اقدام کړی وي، د همدې کبله د دوی توبه د کفر په کمښت باندې څه اغېز نه کوي بلکې د توبې څخه وروسته هم روزمره د دوی کفر قوت پیدا کوي او د اسلام سره یې دښمني اضافه کېږي.

نو د دوی حکم دا دی چې توبه به یې د الله ﷻ په دربار کښې هیڅکله قبوله نه شي. او دا ځکه چې حقيقي توبه نه ده، دغه کسان همدوی پاخه ګمراهان دي چې په زاړه ضلالت باندې پاتې دي او الله ﷻ ورباندې پوه دی.

۳_ د مرتدانو درېمه ډله هغه ده چې هغوی د مرګ د ورځې پورې د توبې نوم هم په خوله باندې وانخلي او ظاهري توبه هم ونه باسي. دوی د توبې وروستنی چانس هم د لاسه ورکړ او د خلاصون ټولې دروازې یې په ځان باندې وتړلې. او دا ځکه چې د خلاصون دروازې خو دغه لاندې شیان دي:

الف: د الله ﷻ رحم او مهرباني. دا خو دوی ته نشته ځکه چې الله ﷻ ورڅخه ناراض دی.

ب: د ارتداد څخه فدیه ورکول. دا هم د دوی څخه الله ﷻ نه قبلوي که څه هم بالفرض دومره پرېمانه وي چې ټوله ځمکه په سرو زرو باندې ډکه وي او هغه ټول د همدغو مرتدانو د یو نفر وي او دا ټول فدیه ورکړي بلکې لا د همدغو سرو زرو په اندازه نور سره زر هم فدیه کړي، خو د دې ټولو فدیو سره-سره به یې نه فدیه قبوله شي او نه به د الله ﷻ د غضب څخه خلاص شي.

همدارنګه د مرتد هغه فدیې هم نه قبلېږي چې بالفرض په ذکر شوي تفصیل سره یې په خپل ژوند کښې صدقات او خیراتونه کړي وي. ځکه چې د صدقاتو د قبول دپاره ایمان شرط دی او نوموړي په دنیا کښې ایمان نه درلود.

نو کله چې د یوه مرتد دپاره هم په ذکر شوي بیان سره نه فدیه فائده کوي او نه صدقه نو د دېرو مرتدانو دپاره خو یې بالکل نه کوي.

ج: د ارتداد څخه شفاعت. دا هم د دوی دپاره نشته ځکه چې دوی ته د الله ﷻ په نزد دردناک عذاب ټاکلی شوی دی، دا عذاب لکه چې په فدیه باندې بدلون نه شي موندلی همدارنګه یې د شفاعتګرو په شفاعت باندې هم بدلون امکان نه لري، دا هم هله چې بالفرض دوی ته شفاعتګر وموندل شي افسوس چې دوی ته شفاعتګر هم نه شي موندل کېدلی.

د: په زور باندې خلاصون. دا هم ورته نشته، ایا د الله ﷻ څخه به داسې کومکیان دوی ترلاسه کړي چې د یو پلوه دومره زور آور وي چې د الله ﷻ مقابله وکړی شي او د بله پلوه د دغو مرتدانو سره دومره دوستي ولري چې د دوی دپاره د الله ﷻ مقابلې ته ودرېږي. معلومه ده چې دغه دواړ خبرې محالې دي.

توضیحات

۱_ هغه شیان چې کفر ورباندې زیاتېږي (قوي کېږي) په لاندې ډول دي:

الف: چې په کفر باندې اصرار وکړي یعنې کفر ته ادامه ورکړي.

ب. چې د کفر سره بل کفر ملګری کړي، لکه چې اهل الکتابو په نبي کریم ﷺ د بعثت څخه مخکښې ایمان راوړی وه خو کله چې مبعوث شو دوی د خپل ایمان څخه ارتداد غوره کړ او انکار يې ترې وکړ بیا يې همدا کفر لا پسې قوي کړ چې نبي کریم ﷺ پورې يې سپکې سپورې خبرې هم کولې چې هره یوه خبره د کفر دپاره کافي وه او همدارنګه د ټولو معجزو څخه منکر شوه چې هر یو انکار بېل بېل کفر ګڼل کېده، نو د دوی نجاست ورځ په ورځ مخ په زیادت وو.

ج. چې د کفر سره منافقت هم ملګری کړي، په خوله باندې توبه وباسي خو پټ په زړه کښې په خپل ارتداد کلک وي. دغه ډول خلک مونږ په یقین سره نه شو تشخیص کولی مګر د الله ﷻ څخه پټ نه دي د همدې کبله يې توبه نه قبلوي.

د. چې کفر يې د ختم اندازې ته ورسېږي، د دوی کفر دومره قوي کېږي چې هغوی بالکل توبه ویستلو ته اقدام نه کوي او که بالفرض د څه اغراضو په بناء ورته اقدام وکړي نو الله ﷻ يې نه قبلوي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ دلته په تفاسیرو کښې دا پوښتنه مطرحه شوې ده چې د متصل تېر شوي ایت څخه څرګندېږي چې الله ﷻ د مرتد توبه قبلوي او په دې ایت کښې فرمایي چې ﴿ لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ﴾ هیڅکله به د مرتدانو توبه قبوله نه کړی شي، ایا دا تناقض نه دی؟

دې پوښتنې ته مفسرینو کرامو لاندې جوابونه کړي دي:

الف. په ﴿ لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ﴾ کښې هغه توبه مراده ده چې د مرګ په حالت کښې يې وباسي او تر هغه پورې يې ټاله کړې وي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّى تُبْتُ ٱلْـَٔنَ ﴾ [النساء: ۱۸] یعنې: او هغو کسانو ته توبه نشته (نه قبلېږي) چې دوی تر هغه وخته جنایات کوي چې مرګ ورته حاضر شي نو بیا ووايي چې اوس توبه وباسم[۱]. دا معنی ذهن ته په منډه نه ورځي.

ب. دلته هغه توبه مراده ده چې په مخکښې ایت ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي د ارتداد څخه توبه ویستل مقبول دي خو چې په همدې توبه باندې قائم پاتې شي نو که بېرته د دوهم ځل دپاره مرتد شو نوموړې توبه د قبول د درجې څخه لوېږي او داسې ګڼله کېږي لکه چې د سره يې توبه نه وي ویستلې[۲]. مګر دا تفسیر متبادر نه دی، لکه چې توبه مقبوله نه ده دا هم مقبول نه دی.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۴ ص۱۴۰

(۲) التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۳۹

ج: دلته د توبې عدم مقبولیت د مرګ څخه کنایه ده لکه چې دوهم ایت ورباندې دلالت کوي[١]، په دې تقدیر باندې دوهم ایت د دې ایت دپاره تاکید واقع کېږي حال دا چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

د: دلته هغه توبه مراده ده چه د کفر د زیادت څخه یې ویستلې او اصلي ارتداد خای په خای پاتې وي[٢]. د دې جواب هم ځای په ځای پرېښودل په کار دي چه د ذهن نه ډېر لرې دی.

هـ: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې دلته هغه توبه مراده ده چې د منافقت دپاره وي[٣]، ترڅو د همدې توبې په وجه د مسلمانانو په منځکښې ځان ته ځای پیدا کړي او په اخلاص سره نه وي توبه تائب شوی، نو ځکه یې کفر ورځ په ورځ مخ په زیادت وي.

مونږ چې د ایتونو تفسیر په کوم ډول باندې کړی دی د هغه په بناء ذکره شوي پوښتنه هیڅ نه مطرحه کېږي، وروسته پوه شو چې همدا ډول تفسیر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روایت څخه هم څرګندېږي، فالحمد لله على الموافقة.

د ایتونو تازه مصداق

۴ـ سُبحان الله چې د ایتونو دپاره د قرآن کریم د نزول څخه څوارلس سوه کاله وروسته یو نوی او تازه مصداق پیدا شو ته به وایې چې ذکر شوي ایتونه همدا نن نازل شوي دي او همدا د نن ورځې مرتدان ترې مراد دي لاندې تفصیل ته لږ څه متوجه شئ:

د افغانستان د اوږده جهاد په وروستیو پړاوونو کښې په ۱۳۷۱/۲/۵ هـ ش نېټه مجاهدین د الله ﷻ په فضل د کابل ښار ته ورداخل شوه او کمونستان (خلقیان، پرچمیان) په لاندې درې ګروپونو باندې ووېشل شوه:

الف: ځینې په اخلاص سره توبه تائب شوه او په پخوانې مسلک باندې پښېمانه شوه که څه هم مونږ یې نه پېژنو، په زړونو باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي اوبس.

خو مونږ هغه څوک په توبه کښې مخلص ګڼو چې د توبې څخه وروسته د اسلام دپاره هغه هلې ځلې وکړي کومې به یې چې د کمونیزم دپاره کولې او هم د اسلام احکام په خپل ځان باندې عملي کړي.

ب: ځینو توبه وویستله خو په توبه کښې صادق نه دي ځکه چې فعلاً هم د کمونیزم دپاره کار کوي، مجاهدین په جنګ اچوي ترڅو اوبه خړې شي او دوی پکښې ماهیان ونیسي، په خپلو منځو کښې په پټه توګه غونډې کوي او فرصت ته سترګې په لار دي.

د دغې ډلې توبه به الله ﷻ هیڅکله قبوله نه کړي، دوی که مجاهدین تېر باسي الله ﷻ نه شي تېرویستلی.

(١) تفسير الكشاف ج١ ص٣٨٢
(٢) تفسير الطبري ج٣ ص٣٤٤
(٣) زاد المسير ج١ ص٣٥٥

ج: ځینو د مجاهدینو د ورتګ سره سم د وطن په پرېښودلو پیل وکړ نه یې د رښتیاوو توبه وویستله او نه د دروغو، د دوی ټولو محاسبه د الله ﷻ سره ده چې د قیامت په ورځ به ورته پوره جزا ورکړي او هیڅوک به یې ترې خلاص نه شي کړی او نه به ترې غرونه-غرونه د سرو زرو فدیې قبولې کړي.

عجیب منظر

۴_ د کمونستانو دربهې دلې عجیب منظر تشکیل کړی وه چې هره ورځ د دوی او هندوانو زرونه خلک د وطن څخه خارجېدل او د مهاجرینو او مجاهدینو زرونه خلک خپل وطن ته ورستنېدل.
د افغانستان په پولو باندې سخته ګڼه ګوڼه وه تا به ویلې چې ﴿ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾ [الإسراء: ۸۱] ایت همدا اوس نازل شوا.

د "وَلَوْ" د کلمې قانون

۵_ په عربي ژبه کښې د "وَلَوْ" کلمه په هغه حکم کښې استعمالېږي چې هغه دو..ه متعلقه ولري، په یوه متعلق پورې یې تعلقه واضحه وي چې ذکر ته یې اړتیا نه وي او په بل متعلق پورې یې تعلقه لږ څه خفي وي.
د ښه وضاحت دپاره نوموړی قانون په دې ایت کښې تطبیق کړئ چې: ﴿ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلۡقِسۡطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ ﴾ [النساء: ۱۳۵]. په دې ایت کښې په انصاف سره د شاهدي اداء کولو حکم دی، یو متعلق یې نور خلک دي چې د نوموړي حکم تعلقه ورپورې واضحه ده د همدې کبله نه دی ذکر شوی او بل متعلق یې د شاهدي ورکوونکو خپل ځانونه دي چې د "وَلَوْ" کلمه وربانديې داخله ده او د حکم تعلقه ورپورې څه خفي ده، چې شاهدي د خپلو ځانونو په ضرر باندې ده، نه په ګټه.
نو داسې ګڼل کېږي لکه چې الله ﷻ فرمایلي وي: "كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ لَوْ كَانَتِ الشَّهَادَةُ عَلَى غَيْرِكُمْ وَلَوْ كَانَتْ عَلَى أَنفُسِكُمْ" ای مسلمانانو! د الله ﷻ د رضا دپاره په انصاف سره په شهادت ورکولو باندې کلک ودرېږئ که چرته دا شهادت په بل چا باندې وي او که چرته ستاسو په خپلو ځانونو باندې وي. یعنې په دواړو صورتونو کښې په یو رنګ شهادت اداء کړئ.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ پورتني قانون ته په کتلو سره یوه پوښتنه رامنځته کېږي چې په ﴿ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم مِّلۡءُ ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ ٱفۡتَدَىٰ بِهِۦٓ ﴾ کښې دوهم متعلق څه شی دی چې هلته د ځمکې په پیمانه باندې د سرو زرو عدم قبول نسبت هغه ته ښه واضحه دی تر دې چې ذکر ته یې هم اړتیا نشته؟
نو د دې پوښتنې په جواب کښې مفسرینو کرامو لاندې جوابونه کړي دي:

الف: په ﴿وَلَوِ ٱفْتَدَىٰ بِهِۦ﴾ کښې د "وَ" کلمه زانده ده نو معطوف علیه ته يې حاجت نشته او د ذکر شوي قانون لاندې نه راځي(۱). مګر دا جواب مزناک نه دی او چندان د منلو وړ هم نه دی.

ب: "بِهِ" په حذف د مضاف سره دی، چې مثل دی نو تقدیر يې بمثله کېږي. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: د دوی څخه به د سرو زرو یوه پیمانه د ځمکې په اندازه قبوله نه کړی شي او که د دې یو بل مثل ورسره هم اضافه فدیه کړی شي هم قبول به نه شي.

دوی وايي چې د مثل کلمه کله-کله حذفېږي لکه چې وايي: "أَبُو يُوسُفَ أَبُو حَنِيفَةَ" (يعنې: ابو يوسف د ابو حنيفه غوندې دی) او داسې نور(۲).

ج: په دې مقام کښې محذوف متعلق "لَوْ تصدق" دی، نو معنی يې داسې کېږي چې: د ځمکې د پيمانې په اندازه سره زر ورڅخه نه قبلېږي، که تبرعا (بې عوضه) يې ورکړي او که فدیه وربانديږ وکړي. ښکاره ده چې په عوض د ګناه کښې نه قبلېږي نو په عوض د اجر او ثواب کښې خو بالکل نه قبلېږي، او الله ﷻ وربانديږ اجر او ثواب نه ورکوي که بالفرض دنيا ته راشي او دلته يې خيرات کړي(۳).

د: په دې مقام کښې بل متعلق حالت دی. يعنې: د کافر څخه به په هيڅ حالت کښې د ځمکې په پيمانه سره زر قبول نه کړی شي که څه هم د فدیه ورکولو حال وي.

نو کله چې د فدیې په حال کښې قبول نه شو چې د يو پلوه ورته ورکوونکی اړ دی، په قبول کښې الحاح کوي او هم په جرم اقرار کوي او د بله پلوه د فدیې قبلول په رضا باندې دلالت نه کوي چې کله-کله د دښمن څخه هم اخستله کېږي، نو په بل حال (مثلاً د تحفې په حال کښې) کښې خو به ترې هيڅکله قبوله نه شي ځکه چې د دښمن څخه څوک تحفه (هدیه) نه قبلوي او هم نه پکښې اعتراف شته او نه الحاح(۴).

په هر تقدير د ذکر شوي ايت شريف تفسير په لاندې حديث کښې ښه واضحه شوی دی چې نبي کريم ﷺ فرمايي: «يُجَاءُ بِالْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ لَهُ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيُقَالُ لَهُ قَدْ كُنْتَ سُئِلْتَ مَا هُوَ أَيْسَرُ مِنْ ذَلِكَ»(۵) يعنې: يو کافر به د قيامت په ورځ راوستلی شي او ورته به وويلی شي چې په دې باندې خبر راکړه که بالفرض تا د ځمکې د ډکوالي په اندازه سره زر درلودی، ايا هغه به دې (د دې عذاب څخه) په فدیه باندې ورکړي وی؟ نو وبه وايي چې هو. نو د ده ته به وويلی شي چې ستا څخه خو د دې څخه ډېره اسانه خبره غوښتله شوې وه (چې د الله ﷻ سره شريک مه دروه او په وحدانيت يې اقرار وکړه).

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۲۵
(۲) تفسير القاسمي ج۴ ص۱۴۴
(۳) التفسير الكبير ج۸ ص۱۴۱
(۴) البحر المحيط ج۲ ص۵۲۱
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۹۶۸

یو تذکر

۷_ داسې معلومېږي چې الله ﷻ د مرتدانو په جزا کښې د زښتو ډېرو پیسو د نه قبلېدلو خبره ځکه یاده کړه چې دوی د همدې پیسو د کبله مرتد کېږي، نو په غوږ باندې ووهل شوه چې داسې وخت درباندې راتلونکی دی که بالفرض دومره-دومره پیسې ولرئ او هغه د ارتداد د جزا په بدله کښې ورکړئ هم ترې خلاص به نه شئ نو ښه دا ده چې همدا اوس ترې خپل ځانونه مفت خلاص کړئ او اسلام قبول کړئ.

ددرېمې سپارې پای د الله ﷻ په توفیق
۱۳۷۱/۸/۲۰ هـ ش نېټه

﴿لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِن شَىْءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٩٢﴾﴾

[٩٢] هيڅكله به تاسو (اى مؤمنانو!) د الله ﷻ كاملې رضا (او نورو نعمتونو) ته تر هغې وند رسيږئ ترڅو چې تاسو د هغو مالونو څخه څه خرڅه وكړئ چې هغه ستاسو خوښېږي.

او هر څه چې تاسو (د الله ﷻ د رضا دپاره) خرڅ كوئ هر شى چې وي (لږ وي او كه ډېر، غوره وي او كه ناغوره، محبوب وي او كه مبغوض او داسې نور) نو بې شكه الله ﷻ وربانديې پوه دى (د همغه موافق اجر به دركړي).

ارتباطونه

١ـ په وړاندېنيو ايتونو كښې الله ﷻ د مرتدانو په جزا كښې دا هم ذكره كړې وه چې د هغوى څخه به د ډېرو غټو پيسو فديه هم قبوله نه شي كه بالفرض هغوى يې ولري. په دې ايتونو كښې واضحه شوې ده چې د نومړي فديې نه قبول، د پيسو گناه نه ده، بلكې د كافرانو گناه ده چې د دوى د لاسه يې الله ﷻ د قبول درجې ته نه رسوي.

او اى مؤمنانو! تاسو چې د الله ﷻ د رضا دپاره هرڅومره محبوب شى نفقه كړئ په همغې اندازه به د لوى ښېگڼو خاوندان شئ او د دوزخ د اوره څخه به وساتل شئ. او ستاسو وړوكى خيرات هم الله ﷻ ته مقبول دى.

٢ـ هلته اشاره شوې وه چې مرتدان د پيسو د كبله مرتد شوي دي، دلته مؤمنانو ته توصيه كېږي چې هغوى د مالونو په راټولو باندې د الله ﷻ غضب وگاټه بالمقابل تاسو د مالونو په مصرفولو باندې د الله ﷻ رضا وگټئ.

٣ـ دلته كافران په غوږ وهل كېږي چې ترڅو تاسو د محبوبو شيانو څخه تېر نه شئ لكه پيسې، رياست، قلنگونه، او داسې نور، نو تاسو به د كفر د تيارو څخه را ونه وځئ. د محبوبو شيانو نفقه كول كامله ښېگڼه ده.

توضيحات

١ـ كه څه هم ځينو مفسرينو كرامو د ﴿لَن تَنَالُوا۟﴾ خطاب اهل الكتابو ته گڼلى دى[1] لكه چې وړاندېني او وروستني ايتونه وربانديې دلالت كوي، مگر بهتره دا ده چې دا خطاب مؤمنانو ته دى او د دې دپاره په منځكښې خاى په خاى شوى دى ترڅو د حلالو مالونو د توهين او تحقير اشتباه د منځه بوځي، لكه چې د ارتباط په وجو كښې ورته اشارې شوې دي. دغه نظر ځكه بهتر دى چې اهل الكتاب خو يوازې په انفاق باندې د ابرارو څخه نه شي گرځېدلى ترڅو چې په نبي كريم ﷺ باندې په مقبوله طريقه ايمان رانه وړي او په ايت كښې همدې درجې ته د رسېدلو سبب يوازې د محبوب مال انفاق ښودلى شوى دى.

(١) تفسير المراغي ج٣ ص٢١١

"برّ" څه معنی؟

۲_ د "برّ" کلمه اصلا د پراخوالي په معنی ده. د همدې کبله وچې ته چې د دریاب مقابله ده "برّ" وايي ځکه چې پراخي او توسعه يې ډېره ده[۱]. د همدې څخه د "برّ" کلمه هم اخستله شوې ده چې په ایت شریف کښې استعماله شوې ده. دا ځکه چې د الله ﷻ جنتونه او نعمتونه بې حده پراخه او د انسانانو د تخمین څخه وتلي دي. په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په جنت سره تفسیر کړی دی[۲].

دا هم لرې نه ده چې دلته د "برّ" څخه هغه بر مطلب دی کوم چې مصدر دی او د "أبرار" کلمه ترې مشتقه شوې ده او الله ﷻ هغوی ته د نعمتونو وعده کړې ده لکه چې فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ﴾ [المطففين: ۲۲] يعني: بې شکه نېکان په نعمتونو کښې دي.

نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: تر هغو تاسو د ابرارو څخه نه شئ جوړېدلی ترڅو چې د خپلو محبوبو مالونو څخه في سبيل الله انفاق وکړئ چې معلومه شي چې تاسو ته د الله ﷻ رضا د هر څه څخه محبوبه ده.

سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې د ایت شریف څخه معلومېږي چې د ابرارو څخه جوړېدل یوازې د انفاق پورې ارتباط لري او بس، نور عبادات پکښې هیڅ اثر نه لري؛ ایا دا مفهوم صحت لري؟

مونږ وايو چې: يقيناً د ابرارو څخه په جوړېدلو کښې نور عبادات هم پوره اثر لري خو په ایت شریف کښې همدغه خبره په ضمني توګه معلومېږي. او دا ځکه څوک چې ډېر محبوب شی صرف د الله ﷻ د رضا دپاره مصرفوي چې د دنیا هیڅ ګټه يې په نظر کښې نه وي نیولې حال دا چې د هغه انفاق ورباندې فرض هم نه وي نو معلومېږي چې هغه به ټول شرعي احکام په ځان باندې تطبیق کړي وي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې د ذکر شوي جواب څخه خو دا خبره راوځي چې که څوک ټول شرعي احکام په ځان باندې تطبیق هم کړي د ابرارو څخه نه شي جوړېدلی ترڅو چې خپل محبوب شی د استحباب په توګه نفقه کړي؛ ایا دا مرتبه په فرائضو باندې نه حاصلېږي؟

مونږ وايو چې: دلته د "برّ" څخه د الله ﷻ د رضا کامله درجه مطلب ده[۳]، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د الله ﷻ کاملې رضا ته رسېدنه په همدې پورې مربوطه ده او اصل "برّ" خو ټولو مؤمنانو ته حاصل دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷
(۲) زاد المسير ج۲ ص۳
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۸

د دې يو نظير په لاندې حديث شريف کښې لوستلی شي:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَكِنِ الْمِسْكِينُ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ»[1] يعني: هغه څوک مسکين نه دی چې په خلکو باندې ګرځي راګرځي چې يوه لمړۍ او دوه لمړۍ او يوه کجوره او دوه کجورې يې ستنوي، مګر مسکين هغه څوک دی چې کافي مال نه مومي چې بې پروا يې وګرځوي او د ده په حال باندې خبرتيا هم نه وي چې خيرات ورباندې وکړی شي او نه اوچتېږي چې خلکو ته سوال وکړي.

نو ښکاره ده چې په ذکر شوي حديث کښې مطلب دا نه دی چې مسکين توب همغه پورې منحصر دی بلکې مطلب يې دا دی چې نوموړی د مسکين توب په اعلی درجه کښې قرار لري ته به وايې چې د ده څخه پرته بل مسکين نشته.

سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: د ايت شريف څخه معلومېږي چې عمري فقير به هيڅکله د ابرارو د جملې څخه شمېر نه شي چې د خپل ټول عمر په اوږدو کښې يې د فقيرۍ د کبله څه محبوب شی نه وي نفقه کړی بلکې همېشه په دې انتظار وي چې بل څوک ورباندې خپل محبوب شی نفقه کړي او خان ورباندې د ابرارو ډلې ته ورسوي؟

مونږ وايو: ځينې مفسرين وايي چې د ايت شريف مطلب دا دی چې کوم ابرارېت چې په انفاق سره حاصلېږي هغه د دې پورې موقوف دی چې د محبوبو مالونو څخه انفاق وکړي، او دا مطلب نه دی چې د ابرارېت د موندلو بله لاره نشته بې د همدې څخه؛ نو ممکنه ده چې الله ﷻ نوموړی فقير د انفاق څخه په غير په بله لاره هغوی ته ورورسوي[2].

خو دا جواب خلاف الظاهر دی، اصلي جواب دا دی چې په ﴿ تُنفِقُواْ ﴾ کښې مطلق انفاق ذکر دی حتی چې فقيرانو، بهائمو، خپل خان، خپل عيال ټولو ته شامل دی، نو ذکر شوي عمري فقير که په نورو فقيرانو باندې څه شی نه وي مصرف کړی په خپل خان يا خپل عيال خو به يې ضرور مصرف کړی وي، نو که پوره اخلاص ورسره ملګری وي لري نه ده چې همدا يې د ابرارېت د موندلو سبب شي. لاندې احاديث په همدې مطلب باندې دلالت کوي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا أَنْفَقَ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةً وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً»[3] يعني: يقيناً کله چې يو مسلمان په خپل اهل باندې څه نفقه کوي او حال دا چې نيت يې پکښې د اجر او ثواب وي نو دا هم د ده دپاره صدقه ده.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۲۰۰
(۲) روح المعاني ج۳ ص۲۲۳
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۳۲۴

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږد حديث کښې فرمايي چې: «فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ»[١] يعني: په هر لامده جگر کښې د هغه د خاوند دپاره اجر دی. چې سړی سپي ته يو غړپ اوبه ورکړي او يا تږل شوي پيشو خلاصه کړي چې خپل خوراک او څښاک پسې وګرځي دا کارونه هم صدقه شمېرل کېږي.

ج: نبي کريم ﷺ ته يو سړي وويل چې زما سره يو دينار دی (په څه يې نفقه کړم)؟ نو هغه ﷺ ورته وفرمايل چې «تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى نَفْسِكَ»[٢] يعني: په خپل ځان باندې يې نفقه کړه.

علاوه په دې عمري فقير که چا ته څه نه وي ورکړي نو کېدی شي چې د ورکولو نيت او اخلاص يې وکړي چې که فلانی محبوب شی مې درلودلی نو هغه به مې د الله ﷻ په لار کښې نفقه کړی وی. همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږد حديث کښې اشاره کړې ده چې فرمايلي يې دي: «وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ يَقُولُ لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَهُوَ بِنِيَّتِهِ فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ»[٣] يعني: هغه څوک چې مالدار وي او خپل مال د الله ﷻ په لار کښې په اخلاص مصرف کړي دا سړی او هغه بنده کوم ته چې الله ﷻ علم پېرزو کړی وي خو مال يې نه وي ورکړی مګر نوموړی اخلاص مند سړی وي او وايي چې که ما مال درلودی نو د فلاني په شان عمل به مې پکښې کړی وی (صدقات به مې کړې وی) نو دا سړی په نيت سره دی. نو د دوی دواړو اجرونه يو برابر دي (نو لکه چې هغه د ابرارو د ډلې څخه د انفاق په ذريعه شمېرل شوی دی هيله ده دغه عمري فقير هم په مخلصانه نيت سره پکښې وشمېرل شي).

هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي چې ذکر شوو جوابونو ته په هغه وخت کښې اړتيا پيښېږي چې ﴿ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ څخه خاص د مالونو انفاق واخستل شي لکه چې ظاهره همدا ده، اما که ټول خيريه اعمال پکښې شامل شي نو بيا خو نه سوال ته حاجت شته او نه جواب ته، لکه چې مفسرينو کرامو همداسې تفسير کړی دی[۴].

يادونه

۷ـ الحمد لله د ذکر شوي ايت مصداقات په سلفو صالحينو کښې ډېر تېر شوي دي د ټولو راټولول د يوه خانګړي تاليف غوښتنه کوي خو مونږ په لاندې آثارو اکتفاء کوو:

الف: طلحه ﷺ خپل محبوب باغ (چې بيرحاء نومېده) د خپلو اقاربو په منځکښې د نبي کريم ﷺ په هدايت تقسيم کړ[۵].

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٣١٨
(٢) سنن ابي داوٗد ج١ ص٢٣٨
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص٥٨
(۴) التفسير الكبير ج٨ ص٢٠۶
(۵) صحيح البخاري ج١ ص١٩٧

ب- حضرت عمر ﷺ د خیبر د غنیمت خپله هغه برخه مسلمانانو ته وقفه کړه کومه چې د ده په نزد ډېر نفیس او محبوب مال وه(١).

که خوک د نورو مثالونو د کتلو شوق لري نو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي(٢).

﴿ كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۚ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝ فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝ قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝ ﴾

[۹۳] ټول طعامونه (چې نزاع پکښې واقع وه) بني اسرائیلو ته حلال وه مګر هغه چې اسرائیل (یعقوب ؑ) په خپل ځان باندې پخپله حرام کړي وه، (دا تحلیل) د هغه ځخه وړاندې وه چې تورات نازل کړی شي (یعنې تورات لا نه وه نازل کړی شوی).

(ای پیغمبره! اهل الکتابو ته) ووایه چې تورات راوړئ نو ویې لولئ که تاسو رښتیني یاست (چې د طعامونو تحریم په تورات کښې دی).

[۹۴] نو هغه څوک چې په الله ﷻ باندې د دې څخه وروسته هم دروغ تړلي (او یا پخوانو دروغو ته ادامه ورکوي) نو دغه کسان همدوی ظالمان دي.

[۹۵] (ای پیغمبره!) ورته ووایه چې الله ﷻ رښتیا وایي (چې دا د تورات حکم نه دی) نو د ابراهیم ؑ د ملت متابعت وکړئ چې د ټولو منحرفو ادیانو څخه حق دین ته اووښتونکی وه او د مشرکانو څخه هم نه وه (یعنې په هغه لار باندې روان وه چې زه وریاندې روان یم، نه په هغې لار چې تاسو وریاندې روان یاست).

ارتباطونه

۱_ د مخکښې ایت مضمون دا وه چې د ابرارو په ډله کښې د شاملېدلو دپاره د هغو شیانو څخه تېرېدل ضرور دي چې هغه سړي ته ډېر محبوب وي، په دې ایتونو کښې د همدغسې تېرېدنې یو مثال بیان شوی دی چې اسرائیل (یعقوب ؑ) ته د اوښ غوښه او شوده ډېر محبوب وه او خو د الله ﷻ د رضا دپاره یې په خپل ځان باندې حرام کړي وه، البته چې دا ډول عبادت به د هغه ؑ په شریعت کښې جائز وه(٣).

(١) تفسیر القاسمي ج۴ ص۱۴۶

(٢) تفسیر الطبري ج۳ ص۳۴۷؛ تفسیر المنار ج۳ ص۳۷۴

(٣) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۸۲

۲ـ ترديٍ خايه د اهل الكتابو په مقابل كښې ډول-ډول دلايل په رنګارنګ اساليبو سره بيان كړې شوه، خو د دې ټولو مباحثو په ترڅ كښې دوى دا هم ونه شو كړى چې د نبي كريم ﷺ د استدلال په مقابل كښې يا استدلال تېر كړي او يا د هغه په استدلال باندې اقلاً اعتراض وكړي، غير د دې څخه چې ابراهيم ﷺ يې يو ځل د خپلو مطالبو د اثبات دپاره شاهد ونيوه چې مونږ څکه يهوديت يا نصرانيت غوره كړى دى چې ابراهيم ﷺ يهودي يا نصراني وه؛ نو الله ﷻ ورباندې د [آل عمران: ۶۵] ايت كښې رد وكړ چې ابراهيم ﷺ نه يهودي، نه نصراني او حتى نه مشرک وه نو تاسو چې هغه د خان په شان ګڼئ نو دا نه ده مګر افتراء ده.

او بل ځل يې نوموړى (ابراهيم ﷺ) د نبي كريم ﷺ د نبوت د رد دپاره وړاندې كړ چې كه مونږ ابراهيمي نه ياستو نو ته خو هم ابراهيمي نه شې كېدلى څكه چې په هغه باندې د اوښ غوښه او شوده حرام وه او ته يې حلال بولې، كه ته ربښتيانى ابراهيمي مسلكه وى نو نه به دې د اوښ غوښه حلاله ګڼلې وى او نه د اوښ شوده. الله ﷻ د همدې اشتباه د پورته كولو دپاره ذكر شوي ايتونه نازل كړه.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: اى اهل الكتابو! هغه خوراک او څښاک چې تاسو يې په ابراهيم ﷺ باندې د حراموالي ادعا كوئ هغه ټول ابراهيم ﷺ ته لا څه چې ټولو بني اسرائيلو ته د تورات د نزول څخه وړاندې هم حلال وه، پرته د هغه خوراک څخه چې هغه يعقوب ﷺ په خپل خان باندې پخپله حرام كړي وه.

هو! كله چې تورات نازل شو او تاسو (اى بني اسرائيلو) د جنايتو مرتكب شوئ نو الله ﷻ درباندې ځينې خوراكونه حرام وګرځول ترڅو تاسو منتبه شئ او د جنايتو څخه لاس واخلئ.

۲ـ كه بالفرض دا درته واقعيت نه ښكاري او وايئ چې همغه معهود خوراک او څښاک په ابراهيم ﷺ باندې لا څه چې په نوح ﷺ باندې هم حرام وه او د تورات په ايتونو باندې استدلال نيسئ نو تورات راوړئ د ټولو منصفانو په وړاندې يې ولولئ ترڅو پوره واضحه شي چې تاسو ربښتيا ويونكي ياست او كه مونږ. نو چې تاسو د خبرې د سپيناوي دپاره تورات هم نه راوړئ او قناعت هم نه كوئ چې خپلو افتراګانو ته ادامه وركوئ نو څرګنده شوه چې تاسو ظالمان ياست، څكه چې دا ډول كار د ظالمانو څخه په غير بل څوک نه كوي.

۳ـ نو اى پيغمبره! كله چې دوى تورات ميدان ته نه كړ او د الله ﷻ په حكم باندې يې خپله مطالبه په اثبات باندې ونه شوه رسولى نو ته ورته ووايه چې دا دى زه قرآن كريم ميدان ته كوم او خپله مطالبه د الله ﷻ په بيان باندې اثباتوم، دا خو منئ چې الله ﷻ ربښتيا وايي چې معهود خوراک په ابراهيم ﷺ باندې حرام نه وه او ربښتيا وايي چې ابراهيم ﷺ نه د يهوديت په دين وه او نه د نصرانيت په دين او نه مشرک وه.

نو کوم شی چې د هغه په سبب باندې تاسو مونږ د ابراهیم ﷺ مخالف ګڼئ؛ نو تاسو هغه په اثبات ونه شو رسولی او کوم شی چې د هغه په سبب مونږ تاسو د ابراهیم ﷺ څخه مخالف بولو مونږ هغه اثبات کړ او د الله ﷻ کلام مو ورباندې شاهد تېر کړ؛ نو راشئ د عناد څخه لاس واخلئ او د ابراهیم ﷺ په شان د شرک په شمول د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته راتاو شئ او په ماباندې ایمان راوړئ.

توضیحات

۱ـ په ﴿ كُلُّ ٱلطَّعَامِ ﴾ سره هغه ټول خوراک او څښاک مراد دی چې اهل الکتابو د اعتراض دپاره پلمه جوړ کړی وه، نو څوک نه شي ویلی چې نجس شیان خو ابراهیم ﷺ ته لا څه چې یعقوب ﷺ ته هم حلال نه وه. د نه ویلو وجه یې دا ده چې دلته معهود طعامونه مراد دي چې د اعتراض مورد وه، مطلق طعام مراد نه دی چې نجس طعام ته هم شامل شي.

کوم طعام مراد دی؟

۲ـ هغه طعام چې هغوی په مسلمانانو باندې د اعتراض پلمه جوړ کړی وه دواړو جانبو پېژانده، په دې باندې علاوه د هغه په تعین کښې زمونږ دپاره هم څه خاصه ګټه نه وه نو څکه الله ﷻ د هغه نوم وانخست چې څه‌څه شی وه. مګر د دې سره‌سره اکثرو مفسرینو کرامو د اوښ غوښې او شوده ښودلي دي.

پاتې شوه دا خبره چې څه باعث وه چې یعقوب ﷺ هغه په خپل ځان باندې حرام کړي وه، د دې هم څه خاصه وجه نه ده ټاکلې شوې خو د ایت شریف څخه معلومېږي چې د الله ﷻ د پلوه وریاندې نه وه حرام کړی شوي. نور نو که د لاندې وجو څخه هره یوه وجه وه، وه به:

الف: ځینې مفسرین وايي چې یعقوب ﷺ د عرق النساء مرض درلود او د اوښ شوده او هم غوښې دغه مرض ته په نقصان تمامېده او څرنګه چې د هغه اوسېدانه چولې بیدیا کښې وه نو دارو درمل نه وه نو دغه یې په خپل ځان باندې حرام وګرځول. همدا د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه روایت کړی شوی دی[۱].

ب: ځینې وايي چې د الله ﷻ دپاره یې په خپل ځان نذر منلی وه چې که د غه مرض څخه مې شفا وموندله نوموړې غوښه او شوده دې په ماباندې حرام وي چې ماته ډېر محبوب دي[۲].

ج: ځینې وايي چې دا کار یې د شکرانې دپاره کړی وه کله چې د ذکر شوي مرض څخه الله ﷻ شفاء ورکړه[۳].

د: ځینې نور وايي چې دا کار یې صرف د دې دپاره کړی وه چې الله ﷻ ورڅخه راضي شي[۴]، او دا ځکه چې د هغه په شریعت کښې دا ډول کار کول هم عبادت ګڼل کېده.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۳۴
(۲) زاد المسیر ج۲ ص۴
(۳) البحر المحیط ج۳ ص۳
(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۲۷؛ روح المعاني ج۴ ص۲

د ذکر شوو ټولو وجو څخه څرګندېږي چې نوموړی تحریم یا طبي وه او یا اجتهادي، خو په هر تقدیر دا یوازې یعقوب ﷺ پورې خاص وه خو د ده اولادې په دیني شعائرو کښې داخل کړ او حتی ادعا یې وکړه چې دغه تحریم آن د آدم ﷺ او د ابراهیم ﷺ څخه راپاتې دی[1] او دا یو دیني کار دی، په دې ټولو باندې برسېره دا دروغ یې هم جوړ کړه چې نوموړی تحریم په تورات کښې هم لیکلی شوی دی نو څکه دوی د تورات لوستلو ته دعوت کړی شوه.

په دې باره کښې زمونږ شریعت

۳ـ که څوک وایي زمونږ په شریعت (محمدي شریعت) کښې د هغه چا څه حکم دی چې حلال شی په خپل خان باندې حرام وګرځوي؟

مونږ وایو: زمونږ په شریعت کښې یې شرعي حکم دا دی چې هغه شی ورباندې شرعًا نه حرامېږي خو ورباندې لازمه ده چې د قسم کفاره ورکړي، لکه چې نبي کریم ﷺ په خپل خان باندې یو وخت د بي بي ماریه رضي الله عنها وینځه او یا د بي بي زینب رضي الله عنها په کور کښې د عسلو خوراک حرام کړی وه خو الله ﷻ د "التَّحْرِيْم" د سورت څو ایتونه نازل کړه[2] چې فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ﴾ الآيات [١ـ٢] یعنې: ای پیغمبره! په خپل خان باندې حلال شیان ولې حراموې الله ﷻ خو ستاسو دپاره د قسم کفاره مشروعه کړې ده چې د تحریم څخه پرې خانونه خلاص کړئ.

لنډ مطلب

۴ـ لنډه دا چې په یعقوب ﷺ باندې د الله ﷻ د پلوه نوموړي شیان نه وه حرام شوي بلکې د هغه خپل کار وه چې په خان باندې یې حرام کړي وه. اما د ده په اولاده باندې چې څه شیان حرام کړی شوي وه هغه د الله ﷻ د پلوه د ظلمونو او جنایتونو په سبب باندې حرام شوي وه، لکه چې په [النساء: ۱۶۰] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

د اهل الکتابو جنایات

۵ـ څرنګه چې د حلالو شیانو تحریم د دوی د جنایتونو بنه ښکارندوی وه نو څکه دوی ټول تحریمات ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ته نسبت کړه ترڅو په خپلو جنایتونو پرده وغوړوي ـ په اصطلاح تر په پر پټ کړي ـ او په قرآن کریم باندې اعتراض وکړي چې په مونږ یې دروغ تړلي دي.

یوه بله معجزه

۶ـ که اهل الکتابو د عناد څخه لاس اخستی وی نو همدا معجزه یې هم بس وه چې نبي کریم ﷺ په داسې حال کښې چې نه یې تورات لوستی وه او نه ورباندې پوهېده په کامل جرئت سره حکم وکړ چې دا خبره په تورات کښې نشته. یعنې اول خو تورات د اعتبار قابل نه دی څکه چې تاسو پکښې

---

(١) تفسیر کبیر ج۸ ص۱۵۱؛ الدر المنثور ج۲ ص۲۶۳

(٢) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۹

تحریف کړی دی خو بالفرض که د اعتبار قابل هم شي دا حکم پکښې نشته، تاسو په خپل کتاب باندې هم د دروغو څخه ډډه نه کوئ.

﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٩٧﴾ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٨﴾ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنتُمْ شُهَدَاءُ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٩﴾ ﴾

[۹۶] بې شکه رومبنی کوټه چې د خلکو (د عبادت) دپاره ټاکله شوې ده خامخا هغه کوټه ده چې په مکه کښې موقعیت لري، په داسې حال کښې چې برکتناکه ده او د ټولو عالمونو دپاره لاره ښودونکې ده.

[۹۷] په دې کوټه کښې (د الله ﷻ د قدرتونو) څرګندې نښانې شته دي (چې د هغو څخه یو) د ابراهیم ﷺ مقام دی.

او هر څوک چې (د) نوموړې کوټې (حرم) ته ورداخل شي نو هغه په امن کښې دی. او په خلکو باندې خاص د الله ﷻ (د رضا) دپاره د همدغې کوټې زیارت کول (فرض) دي (خو دا په) هغه (چا باندې فرض دي) څوک چې هغې ته د لارې د حیثه توان ولري.

او هغه څوک چې کفر اختیار کړي (د فرضیت څخه یې منکر شي) نو بې شکه الله ﷻ د ټولو عالمونو څخه بې پروا دی (د دوی پروا هم نه لري).

[۹۸] (ای پیغمبره!) ووایه چې: ای اهل الکتابو! تاسو د الله ﷻ په ایتونو باندې ولې کافر کېږئ او (حال دا دی چې) الله ﷻ په هغه څه باندې حاضر دی چې تاسو یې کوئ (هیڅ یې ترې نه شي پټولی).

[۹۹] (ورته) ووایه چې: ای اهل الکتابو! تاسو ولې (د خپلو خانو په ګمراهۍ باندې د پاسه) د الله ﷻ د لارې څخه هغه خلک (هم) اړوئ چې ایمان یې راوړی دی، (په داسې حال کښې چې) همدغې لارې ته کوږوالی لټوئ (ترڅو هغوی ته پکښې شک او شبهې ورواچوئ) او تاسو شاهدان هم یاست (شاهدي ورکوئ خپلو منځو کښې چې د هغوی مسلک حق دی)، او الله ﷻ د هغه څه څخه چې تاسو یې کوئ ناخبره نه دی.

شان نزول او ارتباط

۱ـ یوه ورځې یهودانو د مسلمانانو سره مباحثه شوه، هغوی ویلې چې بیت المقدس ډېر غوره او افضل دی او دوی ویلې چې کعبه شریفه افضله ده نو دغه ایتونه نازل شوه[1].

(۱) روح المعاني ج۴ ص۴

۲ـ د ارتباط وجه خو يې واضحه ده چې په وړاندېنيو ايتونو کښې اهل الکتابو ته د نبي کريم ﷺ توصيه ذکر شوې وه چې د ابراهيم ﷺ پيروي وکړئ اوستاسو ماباندې ايمان راوړئ چې هغهﷺ په لار باندې په حقه طريقه روان ؤ او د دروغو څخه لاس واخلئ. او په دې ايتونو کښې د دوی يوه بله خبره تکذيب شوه هغه دا چې د کعبې شريفې څخه بيت المقدس د الله ﷻ په نزد غوره دی چې ابراهيم ﷺ ورته د عراق څخه هجرت کړی وه او د اکثرو پيغمبرانو عليهم السلام مسکن او مدفن دی، نو تاسو څنګه خپل خانونه ابراهيم ﷺ ته نژدې ګڼئ او حال دا چې د هغه د اولادې قبله مو پرېښوده اوکعبه مو قبله وګڼله؟.

که څه هم د اهل الکتابو ذکره شوې شبه د دوهمې سپارې په رومبيو ايتونو کښې په ډېره ښه طريقه جوابه شوې وه خو دوی لجوج خلک وه په هغه جواب باندې يې قناعت ونه کړ او شبه يې بيا تکراره کړه نو په دې ايتونو کښې ورته يو ځل بيا جواب ورکړ شو.

د مطلب خلاصه

يعنې: د لاندې وجو د کبله کعبه شريفه په بيت المقدس باندې بهتره ده:

۱ـ کعبه شريفه د ځمکې په مخ اوله کوټه ده چې د عبادت دپاره ټاکله شوې ده او بيت المقدس دوهمه کوټه ده.

۲ـ د آدم ﷺ د زمانې څخه نيولې تر نن ورځې پورې کعبه شريفه د خلکو عبادتځای دی، اما دا ببله خبره ده چې چا پکښې شرعي عبادت وکړ او چا غير شرعي، چا د عبادتځای په صفت ومنله او چا ترې انکار وکړ لکه چې نن ورځ يې ترې اهل الکتاب کوي.

۳ـ کعبه شريفه په وچه ګانړه کښې واقع ده چې مکه نومېږي خو د خلکو د زيات ازدحام د کبله همدغه موقعيت د بکې په نامه هم يادېږي. ايا دومره ازدحام په بيت المقدس کښې شته؟ سره د دې چې په ډېرتروتازه وطن کښې واقع دی.

۴ـ څومره چې کعبه شريفه برکتناکه کوټه ده چې بې شمېره حسي او معنوي برکتونه لري، په هيڅ وخت کښې د تازه ميوجاتو څخه نه خالي کېږي او نه داسې وخت وړباندې راځي چې د عبادت کوونکو څخه خالي شي، په دې اندازه برکت په بيت المقدس کښې نشته.

۵ـ د ټولو عالمونو دپاره د هدايت يوه ذريعه ده او د اتفاق او اتحاد سمبول دی.

۶ـ په دې کښې د الله ﷻ د قدرتونو ډېرې ښکارې نښانې دي، لکه د زمزم کوهی او د صفا او مروه غونډۍ چې د اسماعيل ﷺ او بي بي هاجرې رضي الله عنها حالات تاسو ته در په زړه کوي.

۷ـ برسېره په دې چې هلته د آدم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها يادګار (عرفات) شته، د ابراهيم مقام هم همدلته دی. ايا په بيت المقدس کښې د پيغمبرانو عليهم السلام او يا د ابراهيم ﷺ کوم يو يادګار شته چې د خلکو په زړونو کښې ځای ولري او د نن ورځ پورې يې زيارت کوي؟.

۸ـ د کعبې شريفې چاپيريال الله ﷻ هم په تکويني توګه د امن ځای جوړ کړی دی چې د شديدو

کافرانو په زړو کښې بې هم د هغه محبت او مینه ننویستلې ده. او هم بې په تشریعي توګه حرم ګرځولی دی چې د جهالت په دوران کښې هم هلته چا د خپل پلار قاتل نه دی وژلی. ایا بیت المقدس دا رنګه امن او حرم لري؟.

۹ـ په ټولو خلکو باندې د نوموړي کوټې زیارت کول (حج) فرض دی چې صرف د الله ﷻ د رضا په خاطر په مخصوص وخت کښې هلته ورشي او د شعائر الله لیدنه کتنه وکړي، حتی په تاسو باندې هم فرض دي ای اهل الکتابو چې قرآن کریم قبول کړئ او د حج فریضه اداء کړئ. البته په هغه صورت کښې چې د ورتللو وسه ولرئ. ایا بیت المقدس ته هم د حج دپاره ورتلل فرض دي؟ ایا دا ډول زیارت د کعبې پورې خاص نه دی؟.

۱۰ـ هوا که څوک د نوموړي کوټې خاص زیارت فرض نه ګڼي، لکه تاسو اي اهل الکتابو! نو الله ﷻ ستاسو په شمول د ټولو عالمونو څخه بې پروا دی. ایا بیت المقدس دا حیثیت لري؟.

ای پیغمبره! اهل الکتابو ته ووایه چې راشئ د عناد د ځوندۍ څخه رابښکته شئ، د الله ﷻ دلایلو ته غاړې کیږدئ او مسلمانان شئ، که نه نو ایا ستاسو سره د کفر د اختیارولو دپاره څه دلیل شته، تاسو په څه وجه کافر کیږئ؟ د الله ﷻ څخه خو ستاسو اعمال پټ نه دي.

او دا هم ورته ووایه چې خپله خو لار ورکې یاست نو نور خلک ولې د الله ﷻ د لارې څخه اړوئ چې په سمه لاره کښې ورته اشتباهات وراچوئ، کله د اوښانو په شودو او غوښو باندې اعتراض کوئ او کله د قبلې په تحویل باندې، حال دا چې تاسو خو عاقلان یاست او هم په پټه کښې په حقائقو باندې شاهدان. نو د الله ﷻ په حضور کښې به څه جواب ووایئ شئ؟ الله ﷻ خو ستاسو د اعمالو څخه ناخبر نه دی.

توضیحات

۱ـ د علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې د کعبې شریفې څخه پخوا هم په ځمکه باندې کوټې جوړې شوې دي. اما هغه اولنۍ کوټه چې د عبادت دپاره جوړه شوې ده کعبه شریفه ده او بس[۱].

سوال جواب

۲ـ ابو ذر الغفاري رضي الله عنه وایي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې کوم یو جومات په ځمکه باندې رومبی بنا شوی دی؟ نبي کریم ﷺ وویلې چې: المسجد الحرام. ما وویل: بیا کوم؟ هغه ﷺ وویلې چې: المسجد الاقصی (بیت المقدس). ما وویل: په منځکښې یې څومره وخت وه؟ هغه ﷺ وفرمایل چې: څلوېښت کاله «ثُمَّ أَيْنَمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ بَعْدُ فَصَلِّهْ فَإِنَّ الْفَضْلَ فِيهِ»[۲] بیا نو په هر ځای کښې چې لمانځه وموندلې (وخت یې دررسیده) نو لمونځ وکړه چې بې شکه په همدې کښې بهتري ده.

نو پوښتنه دا ده چې دا څنګه امکان لري چې د دواړو کوټو په منځکښې څلوېښت کاله وي حال

---

(۱) البحر المحیط ج۳ ص۵
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۷

دا دی چې کعبه ابراهیم ﷺ اباده کړې ده او بیت المقدس سلیمان ﷺ اباد کړی دی او د دواړو پیغمبرانو ترمنځ تقریبًا یو زر کاله فاصله وه؟

مونږ وایو چې: د بیت المقدس اصلي باني او جوړوونکی یعقوب ﷺ دی چې د ابراهیم ﷺ لمسی کیږي او سلیمان ﷺ یې تجدید کړی دی او بس[۱].

یا وایو چې ابراهیم ﷺ هم د کعبې شریفې فقط تاداوونه پورته کړې وه او ترمیم کړې یې وه او اصلي باني یې آدم ﷺ یا ملائک دي[۲]، نو خلوېښت کاله فاصله د ذکر شوو دواړو جوماتونو د اصل بناګانو فاصله ښودله شوې ده، نه د ترمیماتو او تجدیداتو.

یادونه

۳ـ مونږ د [البقرة:۱۲۷] ایت لاندې د کعبې شریفې د جوړوونکو او جوړولو په باره کښې څه معلومات لیکلي دي بیا لیکل یې لازم نه ګڼو، همدارنګه مو هلته د کعبې شریفې اصلي ساختمان ښودلی دی چې څنګه وه او اوس څنګه دی، نو هلته دې وکتل شي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې کعبه شریفه خو الله ﷻ د مؤمنانو دپاره د عبادت قبله ګرځولې ده نو په دې کښې څه حکمت دی چې "وُضِعَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ" نازل نه کړی شو او ﴿ وُضِعَ لِلنَّاسِ ﴾ نازل کړی شو، سره د دې چې عبادت خو یوازې مؤمنان کوي؟

مونږ وایو چې: شاید چې په دې کښې لاندې حکمتونه مرموز وي:

الف: که یوازې مؤمنان خاص کړی شوي وی نو اهل الکتابو به ګومان کړی وی چې کعبه خو یوازې ستاسو دپاره قبله ده، فضیلت خو به یې هله درلودی چې په قبله توب کښې یې سابقه درلودی، نو کله چې ﴿ لِلنَّاسِ ﴾ وویل شو نو د دوی د نوموړي اعتراض مخه ونیوله شوه څکه چې د آدم ﷺ اولاده د "النّاس" په نامه یادېږي په هره زمانه کښې چې وي.

ب: په دې کښې اهل الکتاب په غوږ ووهل شوه چې کعبه شریفه ستاسو دپاره هم نن ورځ قبله ده، په محمد ﷺ باندې ایمان راوړئ او کعبې شریفې ته لمونځ وکړئ. اما دا بېله خبره ده چې تاسو اوس هم د عناد څخه نه راښکته کېږئ او په خپل ځېل او ضد باندې کلک ولاړ یاست.

بکه او مکه

۵ـ د مکې معظمې نومونه ډېر دي چې ټول تقریبًا شلو (۲۰) ته رسېږي[۳]، د همدغو د جملې څخه بکه او مکه هم دي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۴ ص۱۵۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۳۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۸۳

"مَكَّة" اصلا د "تَمَكُّكْ" څخه اخستله شوې ده چې د ماغزو ویستلو ته وایي[۱]، مکه معظمه هم د جبارانو ماغزه راوباسي او هلاکوي یې کله چې وریاندې حمله وکړي، لکه چې أصحاب الفیل یې هلاک کړه.

او په "بَكَّةَ" کښې ځینې مفسرین کرام وایي چې د "مکې" میم په "ب" بدل شوی دی نو "بکه" تري جوړه شوې ده او "م" او "ب" دواړه قریب المخرج حرفونه دي یو: بل په ځای کښې استعمالېږي لکه چې د "لَازِم" په عوض "لَازِب" او د "رَاتِم" په عوض "رَاتِب" استعمال شوي دي[۲].

ځینې مفسرین کرام وایي چې "مَكَّة" د ټولې منطقې نوم دی او "بَكَّة" د عین همدغه ځای نوم دی چې کعبه شریفه او جومات وریاندې آباد دی[۳].

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې مکه او بکه دواړه ببلې- ببلې کلمې دي خو معنی یې یوه ده چې دې ته په عربیت کښې مترادفات وایي. نو په دې تقدیر به "بَكَّة" د "تَبَاكُكْ" څخه اخستله شوې وي چې په معنی د ازدحام او ګڼې ګوڼې دی. شاید چې دا نوم په دې مقام کښې څکه خوښ کړی شوي وي چې د ﴿ وُضِعَ لِلنَّاسِ ﴾ سره ښه تناسب لري. یعنې: د ټولو خلکو دپاره عبادتځای ټاکل شوې ده په همدې سبب د مکې څخه چې په وچه ګانګره خمکه کښې پرته ده "بکه" جوړه شوې ده چې همېشه وریاندې د خلکو بېروبار وي.

کعبه شریفه برکتناکه ده

۶ـ د ﴿ مُبَارَكًا ﴾ کلمه د "بَرَكَة" څخه اخستله شوې ده، "بَرَكَة" دوه معناوې لري چې یوه معنی یې زیادت او ډېروالی دی او بله معنی یې دوام او همېشه والی دی[۴]، کعبه شریفه په دواړو معناوو باندې برکتناکه ده. لاندې تفصیل ته متوجه شئ:

الف: په کعبه شریفه کښې محسوس زیادتونه هم شته چې د ډېرو آبادو وطنونو په پرتله دلته میوجات پرېمانه او زیات دي او د هغو شیانو هیڅ کمبود پکښې نه واقع کېږي چې خلک ورته اړتیا لري او د نورو ښارونو څخه ورته راوړل کېږي.

او هم پکښې معنوي زیادتونه شته چې یو لمونځ پکښې یو په سل زره (۱۰۰۰۰۰) چنده اجر او ثواب لري، څکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «فَضْلُ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ عَلَى غَيْرِهِ مِائَةُ أَلْفِ صَلَاةٍ وَفِي مَسْجِدِي أَلْفُ صَلَاةٍ وَفِي مَسْجِدِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ بِخَمْسِ مِائَةِ صَلَاةٍ»[۵] یعنې: د لمانځه بهتري په المسجد الحرام کښې په نورو جوماتونو باندې یو په سل زره (۱۰۰۰۰۰) چنده ده او زما په

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۱
(۲) تفسیر کبیر ج۸ ص۱۵۶
(۳) تفسیر الکشاف ج۱ ص۳۸۷
(۴) تفسیر المراغي ج۴ ص۷
(۵) شعب الإیمان للبیهقي ج۳ ص۴۸۴

جومات کښې (چې مدینه منوره کښې واقع دی) یو په زر (۱۰۰۰) چنده او د بیت المقدس په جومات کښې یو په پنځه سوه (۵۰۰) چنده ده.

ب: کعبه شریفه په دائمي توګه د عبادت څخه نه خالي کېږي. یو د دې کبله چې د ټولې دنیا قبله ده او د اقالیمو په اعتبار سره په ځلیرشت ساته کښې داسې وخت نه پیښېږي چې هغه د یو اقلیم د لمانځه وخت نه وي او خلک پکښې کعبې شریفې ته د قبلې په توګه په سجده نه وي پراته، او بل د دې کبله چې د خلکو زړونه ورته مائل ګرځول شوي دي تر دې چې د کال په اوږدو کښې کعبه شریفه د زیارت کوونکو او عبادت کوونکو څخه فراغت نه پیدا کوي.

که څوک هلته ورغلی وي هغه به لیدلي وي چې د شپې په هره برخه کښې د کعبې شریفې څخه بره ډله طواف کوونکي ګردچاپېر طواف کوي او د حجر الاسود په مچو کولو باندې یې بېروبار جوړ کړی وي، ته به وایې چې شپه نه ده ورځ ده. همدارنګه په دائمي توګه د حج کوونکو او عمره کوونکو ګناهونه الله ﷻ بښي او داسې وخت نه دی راغلی او نه به د قیامت د ورځې پورې راشي چې د کعبې شریفې دغه برکت انقطاع ومومي او د بښنې سبب ونه ګرځي.

کعبه شریفه هدایت دی

۶ـ کعبه شریفه د هغو ټولو عالمونو دپاره د هدایت سمبول دی کوم چې د اهل القبله وو په نامه یادېږي؛ نو باید چې دوی د ټولې دنیا څخه په کال کښې یو خل راغونډ شي او د غیر اهل القبله وو (کافرانو) په مقابل کښې سره لاسونه یو کړي او یو د بل په مشکلاتو باندې خبر شي، که مسلمانان د همدې هدایت څخه استفاده وکړي نو زینت د هر ګټور به ورته تمام شي، خو افسوس چې استفاده ترې نه کوي او یا یې ترې نه شي کولی.

برسېره په دې کعبه شریفه د دې کبله هم د هدایت سبب ده چې هلته د الله ﷻ د جانبه دیني شعائر ودرولی شوي دي او د اسلام سابقې ته سړی متوجه کوي او د الله ﷻ د قدرتونو دلایل په سترګو ګوري. په همدې معنی باندې وروستنی ټکی هم دلالت کوي چې: ﴿ فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَ ﴾.

مقام ابراهیم د کوم ځای نوم دی؟

۷ـ مونږ د [البقرة:۱۲۵] ایت لاندې د مقام ابراهیم ﷺ په باره کښې ښه ګټور معلومات لیکلي دي چې کوم ځای ترې مطلب دی او مختار قول کوم یو دی، دلته وړاندې فقط همدا لاندې یو سوال جواب اضافه کوو.

سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف په دې ټکره ﴿ فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَ ﴾ کښې د ﴿ مَّقَامُ ﴾ کلمه د ﴿ بَيِّنَٰتٌ ﴾ څخه بدل واقع شوې ده او حال دا دی چې هغه جمعه ده او دا مفرد دی، دواړه سره مطابقت نه لري؟

مونږ وايو چې: دغه سوال ته مفسرينو کرامو لاندې جوابونه کړي دي:

الف: ځينې مفسرين وايي چې ﴿ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ د ﴿ بَيِّنَٰتٌ ﴾ څخه بدل نه دی چې اعتراض وارد شي، بلکې مبتداء ده او خبر يې محذوف دی چې تقدير يې داسې کېږي: "مِنْهَا مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ"[١] يعنې: د بيناتو د جملې څخه يو "بَيِّنَة" د ابراهيم ﷺ مقام دی.

ب: ځينې نور وايي چې ﴿ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ د ﴿ بَيِّنَٰتٌ ﴾ دپاره عطف بيان دی، مګر لکه څنګه چې ابراهيم ﷺ يوازې يو امت ګڼلی شوی دی چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ ﴾ [النحل: ١٢٠] يعنې: بې شکه ابراهيم ﷺ خاص د الله ﷻ دپاره يو قانت امت وه؛ همدارنګه د ده ﷺ همدغه يوه نښه هم په منزله د متعددو نښو ګڼله شوې ده، نو "مقام ابراهيم" جمعه شو. او يا د دې کبله معناً جمعه ګڼل کېږي چې همدا يوه معجزه په ډېرو خوارقو باندې مشتمله ده. مثلا په کلکه تيږه کښې د قدم ننوتل يو خارق العاده کار دی، يوازې د قدم ځای نرمېدل بل دی، بيا بېرته کلکېدل بل دی او بالآخره د ابراهيم ﷺ د وخت څخه تر نن ورځې پاتې کېدل يې بل دی. نو په دې تقدير "مقام ابراهيم" هم جمعه شو او مطابقت يې راغی[٢].

ج: ځينې مفسرين کرام وايي چې دغه جمله ﴿ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ﴾ د معنی په اعتبار سره په ﴿ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ باندې عطف ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې "بَيِّنَات" دوه شيان دي چې يو مقام ابراهيم ﷺ دی او بل هغه امن دی چې همدلته برقرار دی. او په دوه وو باندې کله- کله د جمعې اطلاق کېږي چې د يوڅخه ورپورته عدد ترې مراد شي[٣].

د: ځينې وايي چې دوه بَيِّنَات همدغه شوه چې يو مقام ابراهيم دی او بل امن دی، اما درېم يې د تعميم دپاره نه دی ذکر کړی ترڅو يې څوک په دې درېوو کښې منحصر ونه ګڼي[٤]، لکه چې ځينو مفسرينو کرامو د نورو بيناتو نومونه هم اخستي دي[٥]، خو مونږ د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه.

ه: که بالفرض د حج فرضيت په دې معنی د معجزاتو څخه وګڼل شي چې د ابراهيم ﷺ حج ته د رابللو اواز د هر چا غوږ ته رسېدلی وه لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ ﴾ [الحج: ٢٧] يعنې: او په خلکو کښې د حج کولو اعلان وکړه؛ نو جمعه په نفس ايات کښې پوره کېږي او هيڅ جواب ته حاجت نه پاتې کېږي.

مګر مونږ ته د ټولو جوابونو څخه اولنی جواب ښه ښکاري چې بَيِّنَات ډېر دي خو ﴿ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ د مثال په توګه ذکر شوی دی ترڅو د اهل الکتابو دا دعوه رد کړي چې بيت المقدس د کعبې څخه بهتر دی او د رد وجه يې دا ده چې که بيت المقدس بهتر وی نو مقام ابراهيم ﷺ به هم په شام کښې د بيت المقدس ترڅنګ واقع وی، نه په مکه کښې.

---

(١) زاد المسير ج٢ ص٨
(٢) تفسير الکشاف ج١ ص٣٨٧
(٣) التفسير الکبير ج٨ ص١٦٠
(٤) تفسير ابي السعود ج٢ ص٦١
(٥) روح المعاني ج٤ ص٥

کعبه شریفه د امن خای دی

۹_ که څه هم د ﴿ مَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ﴾ څخه ظاهراً داسې معلومېږي چې د امن خای به یوازې د کعبې شریفې داخل وي او بس، مګر نور ایتونه واضحه کوي چې د امن خای ټول حرم شریف دی لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾ [العنکبوت: ۶۷] یعني: ایا دوی نه ګوري چې حرم شریف مو ورته د امن خای جوړ کړی دی او د دوی څخه چارچاپېره خلک تښتول کېږي. خو څرنګه چې حرم شریف د کعبې شریفې په خاطر حرم ګرځېدلی دی نو ځکه یې دلته یوازې کعبې ته نسبت وشو او بس.

د امن ډولونه

۱۰_ که څه هم مونږ د [البقرة:۱۲۶] ایت لاندې د امن ډولونه ښودلي دي چې يو تکویني دی او بل تشریعي، او همدارنګه مو څه نور معلومات هم لیکلي دي چې د مراجعه کولو ارزښت پکښې شته دی؛ خو دلته په هغو باندې دومره وراضافه کوو چې کعبې شریفې لره درېیم ډول امن هم حاصل دی چې زیارت کوونکو ته د دوزخ څخه امن ورکوي، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ مَاتَ فِي أَحَدِ الْحَرَمَيْنِ بُعِثَ مِنَ الْآمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] یعني: هرڅوک چې د دوه حرمونو څخه (چې یو د کعبې حرم دی او بل د مدینې حرم دی) په یوه کښې مړ شي د قیامت په ورځ به د قبر څخه په داسې حال کښې راپورته شي چې د امن خاوندانو د ډلې څخه به شمېرلی شوی وي.

یوه مسئله

۱۱_ هغه څوک چې د حرم شریف څخه دباندې جنایت وکړي او بیا حرم ته ورداخل شي نو د هغه حکم دا دی چې باید په داخل کښې ورته جزا ورنه کړی شي ځکه چې د امن خای ته ننوتلی دی، او که په داخل کښې یې جنایت وکړ نو هغه ته باید په داخل کښې جزا ورکړی شي. همدا د ابو حنیفه رحمه‌الله مذهب دی او د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما (رئیس المفسرین) څخه هم روایت شوی دی چې: «مَنْ أَصَابَ حَدًّا أُقِيمَ عَلَيْهِ فِيهِ، وَإِنْ أَصَابَ فِي الْحِلِّ وَلَجَأَ إِلَى الْحَرَمِ لَمْ يُكَلَّمْ وَلَمْ يُبَايَعْ حَتَّى يَخْرُجَ مِنَ الْحَرَمِ فَيُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ»[۲] یعني: هغه څوک چې د داسې یوې ګناه مرتکب شي چې په هغې باندې حد لازمېږي نو په داخل د حرم کښې دې وربانډې حد جاري کړی شي، او که د حرم څخه دباندې د حل په ځمکه کښې د جنایت مرتکب شو او بیا یې حرم شریف ته پناه وړه نو نه دې د هغه سره خبره وکړی شي او نه دې ورسره راکړه ورکړه وکړی شي ترڅو چې د حرم شریف څخه خارج شي او حد وربانډې جاري کړی شي.

---

[۱] شعب الإيمان للبيهقي ج۳ ص۴۹۰

[۲] تفسير القرطبي ج۴ ص۱۴۱

سوال جواب

۱۲ـ که څوک وايي چې: تکویني امن خو دا معنی چې بلا اختیاره د هر چا په زړه کښې الله ﷻ د کعبې شریفې احترام وراچولی دی او هیڅوک چا ته ضرر نه رسوي لکه چې همدا حالت په عمومي توګه د جهالت په زمانه کښې هم موجود وه او اوس هم شته؛ خو اعتراض دا دی چې ایا دا تکویني احترام د غلو په زړونو کښې نشته؟ چې اوس هم په داخل د حرم کښې د خلکو جیبونه وهي. همدارنګه حجاج بن یوسف په حرم شریف کښې ډېر غټ جنایات وکړه، ایا د هغه په زړه کښې تکویني احترام نه وه اچولی شوی؟ او داسې نور.

مونږ وایو چې: د تکویني احترام معنی دا نه ده چې د هغه څخه مخالفت د سړي په وسه کښې نه وي، بلکې معنی يې دا ده چې د هر چا په زړه کښې يې یوه اندازه احترام شته او عقیده وربانديې لري خو د دې سره-سره د خپلې عقیدې څخه عملي مخالفت کوي نو ذکر شوي مثالونه د همدې قبیلې څخه دي، بلکې دغه ډول خلک په مسلمانانو کښې شته او په اوسنۍ زمانه کښې خو زښت ډېر دي چې عقیدې وربانديې حاکمیت نه لري او عملي مخالفت ورځخه کوي او د جنایتو مرتکب کېږي.

د حج فرضیت

۱۳ـ د جمهورو علماوو په نزد په همدې ایت بانديې حج کول فرض شوي دي مګر ځینې علماء کرام وايي چې په ﴿وَأَتِمُّوا۟ ٱلْحَجَّ وَٱلْعُمْرَةَ﴾ [البقرة:۱۹۶] ایت بانديې فرض شوی دی. په هر تقدیر په عمر کښې حج کول یو ځل فرض دي لکه چې په لاندې حدیث کښې ښه واضحه شوې ده:

د عبد الله عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ په خطابه کښې وویلې چې: ای خلکو! الله ﷻ په تاسو بانديې حج فرض کړی دی نو حج وکړئ. یو سړی ـ چې الاقرع بن حابس نومېده ـ ورجګ شو د وېې ویلې چې ای د الله ﷻ رسوله! ایا هر کال راباندې حج فرض دی؟ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې که زه ووایم چې هو نو په هر کال کښې به درباندې واجب شي او چې واجب شي نو بیا به يې نه وکړئ او نه به مو ورته وسه وشي «اَلْحَجُّ مَرَّةٌ فَمَنْ زَادَ فَهُوَ تَطَوُّعٌ»[۱] یعني: حج کول یو ځل دي نو څوک چې په یو ځل بانديې زیادت وکړي هغه نفل دی.

یادونه

۱۴ـ که څه هم حج کول په مسلمانانو بانديې فرض دي خو د دې سره-سره "عَلَى الْمُؤْمِنِينَ" ونه ویل شو بلکې ﴿عَلَى ٱلنَّاسِ﴾ وویل شو؛ شاید چې حکمت به پکښې دا وي ترڅو د حج کولو اوږدې سابقې ته اشاره وکړی شي چې لکه څنګه چې نن په مسلمانانو بانديې حج کول فرض دي همدانګه د تاریخ په اوږدو کښې په ټولو خلکو بانديې په خپل وخت کښې د حج کولو شریعت موجود وه.

---

(۱) مسند أحمد بن حنبل ج۱ ص۶۲۳؛ سنن الکبری للبیهقي ج۴ ص۵۲۴

ځیني علماء وايي چې داسې پیغمبر ﷺ نه دی تېر شوی چې هغه حج نه وي کړی تردې چې آدم ﷺ د "هند" د ځمکې څخه په پښو باندې ځلوېښت حجونه کړي دي او همدارنګه نبي کریم ﷺ هم د هجرت څخه مخکښې حجونه کړي دي خو شمېر یې معلوم نه دی او د هجرت څخه وروسته یې یو حج کړی دی[1].

نو ای اهل الکتابو! که تاسو ربښتیا په ابراهیمي ملت باندې یاست نو د هغه سنت ولې نه اداء کوئ او حج کول ولې فرض نه بولئ؛ د دوی همداسې عقیده وه چې حج ورته مشروع نه ښکاره کېده[2].

یعنې: که زموږ د شریعت مطابق حج نه کوئ نو د خپل شریعت مطابق خو یې وکړئ کله چې ستاسو په دین کښې بالکل د کعبې شریفې حج کول نشته نو معلومه شوه چې تاسو خپل دین تحریف کړی دی او د هغه اصلي بڼه مو بدله کړې ده.

استطاعت څه ته وايي؟

۱۵_ ﴿ اَسْتَطَاعَ ﴾ کلمه د "اسْتِطَاعَة" څخه اخستله شوې ده، "اسْتِطَاعَة" د ابو حنیفه رحمه الله علیه په نزد د هغه قدرت (وسې) څخه عبارت دی چې هم سړی په بدن باندې جوړ وي او هم مالي توان ولري چې د لارې د مصارفو د بوجه ووتلی شي[3]، او د ده د بېرته راتګه پورې یې د کور کهول خرڅه هم موجوده وي. او دا خکه چې د حج په اداء کولو کښې مطلقه قدرت معتبر نه دی بلکې هغه قدرت او وسه د اعتبار وړ ده چې د هغې په درلودلو سره سړی په اسانۍ سره حج کولی شي.

سوال جواب

۱۶_ که څوک وايي چې: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه یوه سړي پوښتنه وکړه چې: «مَا السَّبِيلُ يَا رَسُولَ اللهِ» یعنې: د لارې توان د څه شي څخه عبارت دی ای : الله ﷻ پیغمبره؟! نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ»[4] دا د توښې او سورلۍ څخه عبارت دی. نو پوښتنه داده چې تاسو خو پکښې بدني توان هم شامل کړ؟

موږ وايو چې: بدني توان خو په هر عبادت کښې په ښې اندازې ضرور دی چې هغه ورته ضرورت لري نو نبي کریم ﷺ په جواب کښې ذکر نه کړ خکه چې واضحه وه.

د همدې کبله موږ وايو څوک چې د مکې معظمې په شاوخوا کښې نژدې استوګنه لري چې سورلۍ ته یې حاجت نه وي، هغه ته په استطاعت کښې سورلۍ هم نه شاملېږي.

مسئله

۱۷_ که بالفرض یو بې وسې سړی په حج باندې قدرت ومومي او کعبې شریفې ته ورسېږي نو هلته ورباندې حج کول فرض ګرځي او چې حج وکړي فرض یې اداء شو، که بیا وسه وموي هم

[1] روح المعاني ج۴ ص۱۴
[2] تفسیر المظهري ج۲ ص۱۰۰
[3] روح المعاني ج۴ ص۷
[4] جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۹

بل خل ورباندې حج نه فرض کېږي. نو دغه عدم استطاعت د فرضیت مانع نه دی بلکې په دې صورت کښې عدم استطاعت په استطاعت بدلېږي. د نوموړې بې وسې سړي مثالونه ولولئ:

الف: چې یو سړی د کوم بعید وطن څخه مکې معظمې ته د بندي په حیث بوتللی شي او هلته خرګنده شي چې بې ګناه دی او خوشې کړی شي.

ب: چې د اسلامي حکومت له پلوه یو سړی مکې معظمې ته د کومې رسمي وظیفې د سرته رسولو په موخه واستولی شي، البته د حکومت په خرڅه چې خپله وسه یې نه وي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۸ـ که څوک وایي چې: ایا په هغو ټولو خلکو باندې حج کول فرض ګرځي چې د حج د موسم څخه وړاندې هلته ورسېږي چې باید هلته ټال شي ترڅو حج وکړي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې چې د استطاعت هغو تفاصیلو ته ګورو کوم چې مفسرینو کرامو لیکلي دي دا حکم راڅه جوتېږي چې که د ذکرو شوو خلکو هلته د حج د موسم پورې د ټالېدلو وسه او توان وه ـ په اصطلاح چې اقامه (اجازه نامه) یې درلوده ـ نو حج ورباندې فرض دی؛ باید چې هملته پاتې شي ترڅو حج وکړي، او که نه نو بیا ورباندې حج نه فرضېږي.

الله ﷻ دې وکړي چې ټول مسلمانان سره متحد شي او واحد حکومت جوړ کړي چې ټول وطنونه د یو اسلامستان په نامه یاد شي او دغه قیود چې نن ورځ په تګ راتګ باندې لګېدلي دي ټول پورته شي چې نه پاسپورت ته حاجت وي او نه اقامې ته.

ایا د حج نه کول کفر دی؟

۱۹ـ الله ﷻ په دې مقام کښې د حج نه کول په ﴿ وَمَن كَفَرَ ﴾ سره تعبیر کړ، نو د معنی حاصل بې داسې راوځي چې هغه څوک چې کافر شي (حج ونه کړي) نو الله ﷻ یې څه پروا نه لري. نو دلته پوښتنه پیدا کېږي چې ایا د حج نه کول کفر دی؟

مفسرینو کرامو ورته په لاندې تفصیل سره جوابونه کړي دي:

الف: د ﴿ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ ټکره مستقله جمله ده او د ﴿ وَمَن كَفَرَ ﴾ ټکره د "مَنْ لَمْ يَحُجَّ" په معنی نه ده لکه چې په اعتراض کښې معنی شوی دی[1].

ب: د حج د نه کولو ګناه څخه، چې ډېره لویه ګناه ده، د مبالغې په توګه په کفر سره تعبیر شوی لکه چې په څینو خایونو کښې د لمانځه نه کول په کفر سره تعبیر شوي[2]، یعنې نژدې ده چې سړی ورباندې کافر شي. دا ډول مبالغې په قرآن کریم کښې شته لکه چې فرمايي ﴿ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ ﴾ [الأحزاب: ۱۰] د خندق په غزا کښې د غازیانو زړونه ستونو ته ورسېده، یعنې نژدې وه چې ستونو ته ورسېږي.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۶۴

(۲) اضواء البیان ج۱ ص۳۴۸

په همدې مضمون باندې د نبي کريم ﷺ هغه حديث هم دلالت کوي چې فرمايلي يې دي: «مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًا أَوْ نَصْرَانِيًّا»[۱] يعني: څوک چې د داسې توښې او سورلۍ ملکيت ولري چې بيت الله ته يې رسوي او حج ونه کړي نو په دغه کس باندې څه فرق نشته چې د يهوديت په حال مړ شي يا د نصرانيت په حال مړ شي.

او يا دا معنی چې حج کول د هغه خپله ګټه ده الله ﷻ هغه ته څه اړتيا نه لري، که بالفرض د يهوديت په حال او يا د نصرانيت په حال مړ شي هم څه پروا يې نه لري.

ج: ذکر شوی وعيد د کافرو په هکله دی چې بالکل د حج فرضيت عقيده ونه کړي[۲]، د ايتونو سياق او سباق دواړه په همدې معنی دلالت کوي چې وړاندې او ببرته ايتونه ټول د کافرانو حالت بيانوي، نو معلومه شوه چې دغه وعيد هم په همدوی پورې خاص دی.

برسېره په دې ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې کله ذکر شوي د حج حکم نازل شو نو نبي کريم ﷺ د مختلفو اديانو پيروان راغوند کړه لکه: مشرکان، يهوديان، نصارا، صابيان، مجوس او مسلمانان، او ذکر شوی حکم يې ورته ابلاغ کړ. نورو ټولو ډلو ټپلو ترې انکار وکړ يوازې مسلمانان ورته په لبيک ويلو سره تيار شوه؛ نو دغه ايت شريف نازل شو چې: ﴿وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾[۳].

د ټولو جوابونو حاصل دا دی چې څوک د حج په فرضيت باندې عقيده ولري او سره د توانه يې اداء نه کړي هغه ورباندې کافر بالله نه ګرځي خو ګناهګار دی، بنه غټ ګناهګار.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ كَٰفِرِينَ ﴿١٠٠﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنتُمْ تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُۥ ۗ وَمَن يَعْتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدْ هُدِىَ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٠١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَٱعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُواْ ۚ وَٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِۦٓ إِخْوَٰنًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾﴾

[۱۰۰] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! که تاسو د هغو خلکو د يوې ډلې اطاعت وکړئ چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی نو هغوی به تاسو د ايمان څخه وروسته ببرته د کفر حالت ته تاو کړي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۶۷
(۲) تفسير القرطبي ج۴ ص۱۵۳
(۳) روح المعاني ج۴ ص۱۳

[١٠١] او تاسو څنګه کافر کېږئ په داسې حال کښې چې تاسو په همدا تاسو باندې د الله ﷻ ايتونه لوستل كېږي او په همدا تاسو كښې د الله ﷻ لېږل شوی پیغمبر موجود دی؟!

او هر څوک چې (د) الله ﷻ (په دین) باندې منګولې ښخې کړي نو بې شکه سمې لارې ته يې هدايت وکړی شو.

[١٠٢] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د الله ﷻ څخه په حق ډار سره ودار شئ او مه مره کېږئ مګر په داسې حال کښې چې مسلمانان یاست (تقوىٰ تر مرګه پورې ادامه ورکړئ).

[١٠٣] او ټول د الله ﷻ پړی (قرآن کریم) کلک ونیسئ او جدا جدا مه کېږئ. او د الله ﷻ هغه نعمت درپه زړه کړئ چې (یو تر بله) دښمنان وئ نو الله ﷻ ستاسو په زړونو کښې محبت واچاوه، نو د الله ﷻ په نعمت (فضل) سره ورونه وګرځېدئ.

او هم تاسو د کندې په غاړه باندې ولاړ وئ (چې هغه) د اور څخه عبارت ده خو د هغې څخه الله ﷻ نجات درکړ. همدارنګه ستاسو دپاره الله ﷻ د خپل قدرت دلایل بیانوي، ترڅو تاسو په سمه لار باندې لاړ شئ.

ارتباطونه

١ـ په وړاندېنيو ايتونو كښې د اهل الكتابو هغه اشتباهګانې جوابې شوې وې چې دوی وړباندې مسلمانان بې لارې کول او دعوت شوي وه چې د دغه کار څخه لاس واخلئ؛ مه پخپله ګمراهي غوره کوئ او مه نور خلک ګمراه کوئ.

په دې ايتونو كښې مسلمانانو ته توصيه شوې ده چې هغوی خو د خپلې کړنلارې څخه لاس نه اخلي او د قيامت د ورځې پورې په همدې کار کښې اخته دي نو تاسو پام وکړئ، د هغوی خبره مه منئ او اطاعت یې مه کوئ، څکه چې هغوی ستاسو څخه یوازې د عملي اطاعت په غوښتنه اکتفاء نه کوي بلکې هغوی ستاسو ارتداد ته سترګې په لار دي.

٢ـ هلته د اهل الكتابو دسيسې بيانې شوې وې او دلته د هغو دسائسو يو عملي مثال ښودلی شوی دی چې څنګه یې په لږ وخت کښې ستاسو اتفاق خراب کړ او په جنګ یې سره واچولئ، لکه چې شان نزول ورباندې دلالت کوي.

شان نزول

ځينو مفسرينو كرامو مفصله قيصه ليكلې ده[١] چې په مدينه منوره كښې د مشركانو دوه قومونه اوسېدل چې يوه ته يې اوس ويلې او بل د خزرج په نامه يادېده، دوی دواړه په اصل كښې سره ورونه وه او د هر ورور څخه یو-یو قوم جوړ شوی وه.

دغه دواړه قومونه په خپلو منځو کښې بې اتفاقه وه او يو سلو شل (١٢٠) كلنه پخوانۍ دښمني يې درلوده، په دغې اوږده دښمنۍ كښې به كله يو قوم غالب شو او كله بل قوم. دغې اوږدې جګړې

(١) الدر المنثور ج٢ ص٢٧٨؛ تفسير البغوي ج١ ص٣٣٤

دوی ډېر کمزوري کړي وه او د مدینې منورې نورو اوسېدونکو (اهل الکتابو) ته یې سخت محتاج کړي وه، خو کله چې الله ﷻ فضل وکړ او مدینه منوره د نبي کریم ﷺ د هجرت ځای جوړه شوه نو دوی همدا اوږده دښمني ختمه کړه او ټول په اتفاق سره د نبي کریم ﷺ په څنګ کښې ودرېده او مسلمانان شوه.

دغه اتفاق یهودانو ته ډېر زور ورکړ او ورباندې خپه شوه چې د یو طرفه هغوی د اهل الکتابو د احتیاج څخه خلاص شوه او د دوی باداری خاتمه وموندله او د بله پلوه ور باندې اسلام پیاوړی شو او مخ په وړاندې روان وه.

د همدې کبله دوی ټول ډېر غمژن وه خو په دوی کښې یو غټ مشر (شماس بن قیس) چې غټ حاسد او غټ چلباز وه، یوه ورځې د نوموړو دواړو قومونو په یوه مشترکه ټولنه باندې تېرېده نو ویې لیده چې په اتفاق سره د ډېرو خوږو ورونو په شان سره راټول شوي دي او یو تربله سره خبرې اترې کوي او د پخوانی دښمنی هیڅ نښې او اثار هلته نه لیده کېږي.

نو یوه نفر ته یې وظیفه ورکړه چې د صحابه وو کرامو ﷺ ذکر شوي ټولنې ته ورشه او اتفاق یې خراب کړه. هغه ورغی او د پخوانیو جنګونو اشعار یې ولوستل، خصوصاً د بُعاث نومې جنګ شعرونه یې په لوړ اواز سره بیان کړه چې په دې جنګ کښې اوسیان په خزرجیانو باندې برلاسي شوي وه. د همدې اشعارو په اورېدلو سره په صحابه وو کرامو ﷺ کښې د تربګنی ولوله راوپارېده او د دواړو قبیلو سړیو هر یوه وسلې ته لاس کړ او د جنګ دپاره یې صفونه تیار کړه.

په عین وخت کښې نبي کریم ﷺ خبر شو او د دواړو صفونو په منځکښې ودرېده او دواړو جانبو ته یې نصیحت پیل کړ چې په نتیجه کښې ټولو وسله په ځمکه کېښوده او یو بل ته ورغاړې واته، په خپلو کړو باندې پښېمانه شوه او بالآخره دسیسه شنډه شوه او ذکر شوي ایتونه نازل شوه چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

د مطلب خلاصه

۱ ــ یعنې: ای مؤمنانو! (چې د اهل الکتابو په دسیسه باندې وغولېدئ او د هغوی د شیطانت د کبله مو جنګ ته خانونه چمتو کړي دي او غواړئ چې د هغوی نقشه عملي کړئ) که تاسو د دوی د یوې ډلې خبره ومنئ، پاتې خو لا دا چې د ټولو خبره قبوله کړئ، نو تاسو به بېرته کفر ته تاو کړي. او دا ځکه چې دوی یوازې په دې اکتفاء نه کوي چې ستاسو دوستي په دښمنی بدله کړي بلکې هغوی غواړي چې تاسو کفار ـ جوړ کړي، نو که تاسو د همغوی خبرې منئ اخر به کافران شئ.

عجیبه ده تاسو څنګه کافر کېږئ چې په تاسو باندې هره ورځ د الله ﷻ ایتونه لوستل کېږي، دا خو لا پرېږدئ چې یو یې په بل باندې لولی؛ جبرائیل امین ﷺ یې هم تلاء په تازه د اسمانه راوړي او قرائت کوي. ایا تاسو ته قرآن کریم د هغوی دسیسې نه دي افشا کړي؟ د هغوی حسد یې درته نه دی بیان کړی؟ ایا تاسو دغه نصائح دومره ژر هېر کړه؟!

برسېره په دې ایا په تاسو کښې د الله ﷻ پیغمبر موجود نه دی؟ ایا تاسو د هغه خوارق په سترګو نه ګورئ؟ ایا تاسو نه شو کولی چې پیغمبر ته مو مراجعه کړې وی او د تازه پېښې شوي لانجې په هکله مو ترې د حل لاره غوښتې وی؟.

۲ـ ښه نو چې نبي کریم وفات شي او وحې قطعه شي هلته به تاسو څه کوئ؟ هلته به د اسلام څخه لاس اخلئ او کفر ته به بېرته ورتاوېږئ؟! نبي کریم ﷺ خو د الله ﷻ لېږلی شوی بنده دی چې خپل رسالت یې پوره کړ، بیا به ضرور وفات کېږي، هغه به ترڅو پورې تاسو ته ژوندی وي چې به هر وخت کښې به ستاسو دښمنانه شخړې حل کوي او تاسو به اصلاح کوي. نن دی او که سبا نبي کریم ﷺ به وفات شي او وحې به قطعه شي خو تاسو به په جهالت او ګمراهۍ کښې خوشې نه کړي بلکې په تاسو کښې به د الله ﷻ کتاب او خپل احادیث پرېږدي، ترڅو چې تاسو په همدغو دوارو باندې منګولې ښخې کړې وي نو هیڅکله به د سمې لارې څخه وانه وړئ او ګمراه به نه شئ.

۳ـ ای مؤمنانو! سمه لاره دا ده چې د الله ﷻ څخه په حقیقي معناوو کښې وډار شئ او دا کار خو ستاسو د لاسه پوره دی څکه چې ستاسو څخه د شریعت په چوکاټ کښې تقوی غوښتله کېږي، لکه څنګه چې لږ وړاندې په تاسو باندې حج کول فرض کړی شوه خو په هغه چاباندې چې کعبې شریفې ته د وررسېدلو توان لري.

همدارنګه هر یو شرعي حکم د خپل توان په اندازه عملي کړئ، همدومره عمل کفایت کوي چې ستاسو د دنیا او آخرت کارونه ورباندې برابر شي او د دښمنانو دسیسې شنډې شي، همدغې بشري تقوی ته د مرګ د ورځې پورې ادامه ورکړئ، نبي کریم ﷺ وفات شوی وي او که ژوندی وي، وحې قطعه شوې وي او که جارې وي.

۴ـ د شریعت ټول احکام عملي کړئ خو په اتفاق او اتحاد باندې زیاته پاملرنه وکړئ چې ستاسو دښمنان همدې ته ډېر زیات متوجه دي چې تاسو بې اتفاقه کړي او د بې اتفاقۍ څخه مو د خپلو خانو دپاره ګټه پورته کړي.

نو په قرآن کریم باندې ټول منګولې ولګوئ، تفرق او تشتت مه کوئ، لکه چې د نن څخه پخوا متفرق او ټوټه- ټوټه وئ او یو د بل وینو ته تږي ناست وئ، د الله ﷻ لوی نعمت درېه زړه کړئ چې ټول سره دښمنان وئ او ستاسو په زړونو کښې یې مینه او محبت واچاوه او د الله ﷻ په فضل سره ټول سره ورونه جوړ شوئ؛ ایا تاسو غواړئ چې د اتفاق نعمت ته شا کړئ، د دې ناشکري وکړئ او بېرته یو د بل وینو ته کښېنئ؟.

۵ـ او هغه نعمت هم درېه زړه کړئ چې د دوزخ په غاړه باندې ولاړ وئ، کافر وئ، ستاسو او د دوزخ په منځکښې فقط ژوند حائل وه او بس. خو الله ﷻ درته د هغه څخه نجات درکړ او په ایمان یې مشرف کړئ.

۶ـ ای مؤمنانو! اوس پوه شئ چې الله ﷻ تاسو ته خپل احکام او دلایل په څومره ښه طریقه سره بیانوي ترڅو تاسو ورباندې ښه پوه شئ او په زړه کښې مو ځای ونیسي، که الله ﷻ ذکره شوي والعه

واقعه نه وي پېښه کړې نو تاسو به د اهل الکتابو د دښمنۍ عملي صورت نه وي لیدلی او هم به د راتلونکو مسلمانانو دپاره د هغوی د دښمنۍ عملي څېره نه وي ښودله شوې، د قرآن کریم ایتونه به پکښې نه وي نازل شوي؛ چې د قیامت د ورځې پورې د ټولو مسلمانانو دپاره نه هېرېدونکی درس دی حتی چې په لمونځونو کښې یې هم تلاوت کوي.

توضیحات

۱_ د "تُقاة" کلمه د همدې سورت د اته ویشتم [۲۸] ایت لاندې ښه تحلیله شوې ده چې د خوف او ډار په معنی سره ده. دلته دومره اضافه کوو چې ځینې مفسرین کرام وایي چې دا ایت منسوخ دی[۱]، ځکه کومه تقوی چې د الله ﷻ سره مناسبه ده هغه هیڅوک نه شي کولی د همدې کبله چې دا ایت نازل شو نو مسلمانان ډېر ورخطا شوه او عرض یې وکړ چې یا رسول الله! هغه ډول تقوی خو زمونږ د وسې نه کېږي کومه چې د الله ﷻ سره مناسبه او لایقه وي. نو الله ﷻ وفرمایل چې: ﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ [التغابن: ۱۶] یعنې: نو د الله ﷻ څخه په هغې اندازه سره وډار شئ چې ستاسو وسه او توان وي.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې دا ایت منسوخ نه دی، دا ځکه چې د الله ﷻ د ټولو احکامو سره وسه او توان مراد دی چې د ځینو سره ذکر کېږي، لکه چې د حج د فرضیت سره ذکر شوی دی، او د ځینو سره نه ذکر کېږي او په عمومي ذکر اکتفاء کېږي چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة: ۲۸۶] یعنې: الله ﷻ هیڅوک نه مکلف کوي مګر د هغه د وسې په اندازه.

په دې مقام کښې دا جمله چې ﴿ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴾ د وسې او توان څخه نمایندګي کوي ځکه چې د دې جملې مطلب دا دی چې تقوی ته د مرګي د ګړۍ پورې ادامه ورکړئ، او ښکاره ده چې هغه کار ته سرې ادامه ورکولی شي چې هغه یې د وسې او توان څخه وتلی نه وي.

پاتې شوه دا خبره چې صحابه کرام ﷺ ولې دومره ډېر وارخطا شوه، سره د دې چې د تقوی حکم هم یو شرعي حکم دی او وسه پکښې مراده ده؟

د دې جواب دا دی چې هر شرعي حکم په توان او وسه باندې مقیدول لږ څه تفکر ته اړتیا لري، نو څه لږ نه ده چې ځینو صحابه وو کرامو ﷺ د تفکر څخه وړاندې محض د حکم په اول اورېدلو سره ذکره شوې پوښتنه کړې وي.

اعتصام او حبل الله

۲_ د "يَعْتَصِمْ، اعْتَصِمُوا" دواړه کلمې د "إِعْتِصَام" څخه اشتقاق شوې دي چې مجرد یې "عَصْم" دی. "عَصْم" د یو شي ساتلو او هغه پورې نښتلو ته وایي[۲]. د همدې کبله هغه ټولګي ته چې د قافلې

---

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۱۱
(۲) مفردات الراغب ص۳۴۹

حفاظت او ساتنه کوي "عصمة" وايي چې په پښتو کښې "بدرګه" بلل کېږي او په درې ژبه کښې د "بدرقې" په نامه يادېږي او عربان ترې "برزقة" جوړوي[1].

"حَبْل" اصلا پړې ته ویل کېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ﴾ [اللهب: ٥] يعني: د هغې په غاړه کښې د خرما د پاڼو څخه جوړ پړی وه. مګر په دې مقام کښې ترې هغه شی مطلب دی د کوم په ذريعه چې سړي ته د الله ﷻ رضا رسېږي لکه قرآن کريم. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې ای مؤمنانو! کله چې تاسو د کافرانو د پلوه د هلاکت او بې اتفاقۍ په کنده کښې وغورځولی شئ؛ نو د قرآن کريم په پړي پورې کلک ونښلئ؛ او د همدغې ژورې کندې څخه پورته شئ؛ لکه څنګه چې د څا څخه په پړي باندې راپورته کېږئ.

نو سړی ویلی شي چې په دې مقام کښې د قرآن کريم څخه د لاندې اشارو دپاره په "حَبْلُ الله" سره تعبير وکړی شو:

الف: بې اتفاقي او بې ديني داسې دي لکه چې سړی په څا کښې وغورځېږي.

ب: په قرآن کريم باندې هغه وخت سړی نجات موندلی شي چې کلک وريورې ونښلي، لکه چې په څا کښې لوېدلی سړی پړي پورې نښلي.

ج: قرآن کريم د خطراتو څخه د نجات يوازېنۍ وسيله ده چې نه پړې کېږي، نه زړېږي او نه پکښې شک او شبه شته.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ خو د ﴿ وَٱعْتَصِمُوا ﴾ جمله يو ځل په ﴿ جَمِيعًا ﴾ سره تاکيده کړه نو په دې کښې څه حکمت دی چې دوهم ځل يې په ﴿ وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ سره بيا تاکيده کړه؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې يو تاکيد د بل تاکيد معنی نه ورکوي. تفصيل يې دا دي:

الف: اولنی تاکيد د دې دپاره دی چې ای مسلمانانو! يو تن هم بې اعتصامه پاتې نه شئ او په قرآن کريم باندې ټول راغونډ شئ؛

ب: دوهم تاکيد د دې دپاره دی چې په اعتصام کښې هم تفرقه مه کوئ چې ډلې ټپلې جوړې کړئ او هره يوه ډله د قرآن کريم د ايتونو څخه د ځان په ګټه او د بل په ضرر معناوې اخلي چې څوک د "حبل الله" په يوه ځای منګولې ښخوي او څوک په بل ځای، او هره يوه د حقيت دعوه کوي؛ بلکې داسې اعتصام ورباندې وکړئ چې د ټولو منګولې سره لاندې باندې وي او جدا ـ جدا نه وي.

ايا د مجتهدينو اختلاف جائز دی؟

۴ـ که څه هم د شان نزول څخه معلومېږي چې د ﴿ وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ څخه جنګ او جګړه مراده ده مګر د مفهوم په اعتبار سره مطلق تفرقه او اختلاف حرام دي او بايد چې سړی ترې ځان وساتي:

---

[1] تفسير القرطبي ج۴ ص۱۵۸

د همدې کبله دلته دا سوال پیدا کېږي چې د فقهي مشرانو یعنې د مجتهدینو اختلاف څنګه دی؟ جائز دی او که نه؟

مونږ وایو چې: د همدې سوال په اړه مونږ د [البقرة:۲۱۳] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي چې د جواب دپاره کفایت کوي خو دلته دومره اضافه کوو چې اتفاق او اتحاد یو شرعي حکم دی او په هر شي حکم کېږي د توان او وسې مراعات شته دی لکه چې د همدې ایتونو په اوله توضیح کښې وړاندې څه رڼا اچوله شوې ده. د فقهاوو کرامو اختلاف د همدې قبیلې څخه دی چې د دوی په وسه کښې نه ده چې ټول سره متفق شوي وی او اختلاف یې د منځه وړی وی. او دا ځکه چې الله ﷻ د انسانانو دماغونه مختلف پیدا کړي دي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږد حدیث کښې فرمایلي دي چې: «تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ»[1] خلک به تاسو د معادنو په څېر ومومئ. یعنې خلک داسې معدنونه دي لکه د سرو او سپینو زرو معدنونه چې ډېر زیات تفاوت سره لري، او د ټولو افکار او نور نفسي صفات سره یو رنګ نه شي جوړېدلی.

نو کله به چې مجتهدینو په یوه حادثه کښې شرعي حکم په صراحت سره په ایت یا حدیث کښې ونه موند او غوښتل به یې چې د یو دیني عالم په صفت د ایت یا حدیث څخه شرعي حکم استنباط کړي نو طبعي وه چې اختلاف او تفرقه به واقع کېدله. د همدې کبله د دوی دغه تفرقه د عداوت او کینې باعثه نه جوړېده ځکه چې دوی ټول پوهېده چې یوه هم غیر شرعي کار نه دی کړی بلکې هر یوه د شرعي حق څخه استفاده کړې ده او ټول په دې متفق وه چې که ورک شوی حکم په ایت یا حدیث کښې ومونده شي نو ټول به ورته غاړه ږدي او د خپلو استنباطي احکامو څخه به لاس په سر کېږي.

د همدې کبله، چې افکار مختلف دي، هیڅ استاذ نه شي کولی چې خپل شاګردان په یوه سویه باندې وروزي چې ټول سره یو برابر وي.

هېر مو نه شي!

۵_ نو هېر مو نه شي هغه اختلاف چې غیر شرعي او ناجائز وي باید د منځه لاړ شي او ځای یې باید په اتفاق ډک کړی شي. اما د جائز اختلاف ورکول او د منځه وړل ضروري نه دي، خو د دې سره-سره که اتفاق یې ځای ونیسي بهتر او افضل دی.

﴿وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۹۶

وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَـٰنِكُمْ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ
ٱبْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِى رَحْمَةِ ٱللَّهِ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿١٠٧﴾ تِلْكَ ءَايَـٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ
بِٱلْحَقِّ ۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ
تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾ ﴾

[۱۰۴] (ای مؤمنانو!) او ستاسو د جملې څخه دې یو داسې ټولګی شتون ولري چې نیکی نه خلک بلې او په (شرعي) معروف کار باندې امر کوي او د (غیر شرعي) نااشنا کار څخه خلک منعه کوي او دغه ټولګی همدوی کامیابان دي.

[۱۰۵] (ای مؤمنانو!) او تاسو د هغو خلکو په شان مه جوړېږئ چې دوی د هغه څخه وروسته چې واضحه دلایل ورته ورغله، ډلې-ډلې شوه او په جګړو شوه او دغه خلک دوی لره لوی عذاب دی.

[۱۰۶] په هغه ورځ چې څه مخونه تک سپین شي (او خوشاله وي) او څه مخونه (د خپګان د کبله) تک تور شي نو هغه کسان چې مخونه یې تک تور جوړ شي (هغوی ته به وویل شي چې) ایا تاسو د خپل ایمان څخه وروسته کافر شوي وئ؟ نو په همدې سبب عذاب وڅکئ چې تاسو کفر کاوه.

[۱۰۷] او هر چې هغه کسان چې مخونه یې تک سپین شي نو (هغوی) د الله ﷻ په رحمت کښې به وي، دوی به په دې (رحمت کښې او جنت) کښې همېشه وي.

[۱۰۸] دغه (چې تېر شوه) د الله ﷻ ایتونه دي چې مونږ یې په تاباندې په حقه لولو. او نه دی الله ﷻ چې په عالمونو باندې د ظلم اراده ولري.

[۱۰۹] او خاص الله ﷻ لره دي هغه څه چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه چې په ځمکو کښې دي او خاص الله ﷻ لره ټول کارونه ورارول کېږي.

د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایتونو کښې د تېرو شوو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی. یعنې ای مسلمانانو! د دې دپاره چې تاسو هدایت موندونکي او هدایت کوونکي جوړ شئ حال دا چې اهل الکتاب ګمراه او ګمراه کوونکي دي نو د هغوی اطاعت مه کوئ او د تفرق او تشتت څخه خانونه وساتئ. تاسو بهترین أمت یاست. خپله بهترې وساتئ او د همدې کار دپاره باید یوه څارونکې او پام لرونکې ډله ولرئ چې په نېکیو باندې امر کوي او بدو څخه منعه کول کوي. په تاسو کښې همدا کامیابه ډله ده. که دا توصیه عملي کړئ قوت به مو زیات شي او د دښمن د دسیسو مخه به ونیولی شئ.

۲ـ او تاسو د هغو خلکو په شان مه کېږئ چې هغوی د هوی او هوس د کبله ډلې-ډلې شوه او بیا په جګړو او دنګلو باندې اخته شوه، هغوی غواړي چې تاسو هم د خپلو خانو په شان ټوټه-ټوټه کړي

او په خپلو منځو کښې مو په جنګ واچوي ترڅو اوبه خړې کړي او ماهیان پکښې ونیسي.

د دغو خلکو (اهل الکتابو) اختلاف د دې کبله نه وه راغلی چې هغوی د خپلو منازعاتو د فیصلو دپاره څه مرجع نه درلوده او د جهالت د کبله یې همدې کار ته لاس اچولی وه بلکې دا ټول اختلافات یې د هغه څخه وروسته پیل کړه چې د الله ﷻ د پلوه ورته واضحه دلایل ورغلي وه، نو که تاسو د قرآن کریم د نزول څخه وروسته دهغوی کړنلاره غوره کړئ نو تاسو به هم د هغوی څخه کم نه یاست. نو لکه چې هغوی لره لوی عذاب دی تاسو به هم په لوئ عذاب او غضب باندې ککړ شئ.

د دې عذاب مظاهره به په هغه وخت کښې وکړی شي چې د ځینو خلکو مخونه تک سپین وځلېږي چې د ورایه پکښې د خوشالۍ نښې نیکارې او هرڅوکورباندې پوهېږي چې دوی خو ډېر خوشاله دي. او د ځینو خلکو مخونه به د ډېره غمه تک تور واوړي، ته به وایې چې توره تبې ده.

نو دغو کسانو ته به د هغوی د ښه توبیخ او تخجیل دپاره وویل شي چې ایا هغه تاسو وئ چې د ایمان څخه وروسته بېرته کفر ته واوښتئ او د خپلو خواهشاتو په بنیاد مو ډلې ټپلې جوړې کړې او مرتد شوئ؟، ستاسو حالت د کافرانو څخه بدتر دی او ښه نه دی. نو لکه چې دوی به د الله ﷻ په عذاب کښې همېشه وي تاسو به هم پکښې همېشه یاست.

بالمقابل دچا چې د خوشالۍ څخه مخونه سپین ځلېږي هغوی به د الله ﷻ په رحمت کښې نغښتي وي او هرې خوا ته به یې نعمتونه او انعامونه راچاپېر وي.

۳_ ای پیغمبره! دا چې مونږ یې په تاباندې په حقه لولو د الله ﷻ ایتونه دي، که مونږ درباندې د وحې په توګه نه وی درنازل کړي نو ته به څه خبر وی چې د قیامت په ورځ به د مخونو څه حال وي؟ نه به دې تور مخي پېژندلي وی او نه سپین مخي او نه د دوی کړنلارې.

۴_ ای پیغمبره! د کافرانو او مرتدانو د مخونو توربدل د دې کبله نه دي چې الله ﷻ په دوی باندې تېری کړی دی او پرته د استحقاقه یې د سخت عذاب سره مخامخ کړي دي ځکه چې الله ﷻ په عالمونو کښې په هیچا باندې نه ظلم کوي او نه د ظلم اراده لري او ولې به په چا ظلم کوي په داسې حال کښې چې د اسمانونو او ځمکو ټول مخلوقات خاص د همده ﷻ ملک دی او خاص د همده ﷻ د تکویني اوامرو تابعدار دي، ظالمان خو یا د دې کبله ظلم کوي چې د چا د مقابلې څخه په ډار کښې وي او د پښو څخه یې غورځوي، او یا د هغو شتو او نورو حیثیاتو ته په تمه او محتاج وي.

لنډه دا چې ظلم کول د احتیاج علامه ده او الله ﷻ د هرشي څخه بې نیاز دی، نو ظلم کول هم د ده ﷻ څخه محال او نه کېدونکی شی دی.

نو د تورمخو تورمخي صرف د دې کبله ده چې هغوی په دنیا کښې خپل مخونه تور کړي وه خو دویورباندې نه پوهېده او په نن ورځ (قیامت) کښې الله ﷻ راښکاره کړه، د دوی دا خیال وه چې همداسې پټ به پاتې شي. خو داسې نه شي کېدلی ځکه چې الله ﷻ ته ټول کارونه ورارول کېږي ترڅو پکښې حقه فیصله وکړي.

توضيحات

۱ـ څرنګه چې طبائع مختلف دي ځيني خلک د تاديب څخه پرته شرعي احکام نه عملي کوي او اتفاق او اتحاد ته ضرر رسوي نو په هر امت کښې يو ټولګی په کار دی چې صرف د خلکو د تاديب وظيفه په غاړه واخلي او د شپونکي غونډې د خلکو څارنه وکړي. د همدې کبله دوه سفري ملګرو ته هم په کار ده چې يو تن د آمر په صفت ومني ترڅو د سفر په اوږدو کښې اختلاف او بې اتفاقي پيښه نه شي.

اسلامي دعوت فرض عين دی او که فرض کفائي؟

۲ـ لږ علماء وايي چې اسلامي دعوت (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) فرض عين دی او هرڅوک پرې مکلف دی[1] چې دغه وظيفه تر يو حده پورې اجراء کړي، که په هيڅ ډول باندې يې اثر نه وي نو په خپل ځان باندې خو يې شته چې دی هم يو مسلمان دی. د دوی دلايل دا دي:

الف: راتلونکی [۱۱۰] ايت ټول امت ته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر توصيه کوي بلکې همدا شی د دوی د بهترۍ وجه ګڼي لکه چې فرمايي: ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ الآية.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ»[2] يعنې: ستاسو څخه چې هرڅوک په شرعه کښې ناآشنا شی وګوري نو هغه ته دې په لاس باندې تغيير ورکړي او که وسه يې نه وي نو په ژبه دې ورکړي او که وسه يې نه وي نو په زړه دې ورکړي، يعنې په کرکه دې ورته وګوري، او همدا د زړه کرکه د کمزوري ايمان مرتبه ده.

دوی وايي چې: په ذکر شوي ايت شريف کښې د ﴿ مِنكُم ﴾ کلمه استعماله شوې ده خو دلته د "مِن" توری د بعضيت دپاره نه دی بلکې د بيان دپاره دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ ﴾ [الحج: ۳۰] يعنې: نو د نجاست څخه اجتناب وکړئ (ځان ترې وساتئ) چې هغه د بوتانو څخه عبارت دی. دا معنی يې نه ده چې د ځينو بوتانو څخه اجتناب وکړئ، نو دلته هم مطلب دا دی چې ستاسو څخه دې يو ټولی جوړ شي چې ټول د دعوت کار کوي.

سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهْتَدَيْتُمْ ﴾ [المائدة: ۱۰۵] يعنې: ای مؤمنانو! په تاسو باندې د خپلو ځانو حفاظت ضرور دی، تاسو ته هغه څوک ضرر نه شي رسولی چې هغه ګمراه وي کله چې تاسو په سمه لار باندې روان ياست. د دې څخه معلومېږي چې دعوت هيڅ فرض نه دی؟!

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۹

(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۵۱: جامع الترمذي ج۲ ص۴۰

مونږ وايو چې: په همدې ايت کښې د ﴿ إِذَا ٱهْتَدَيْتُمْ ﴾ کلمه په دې دلالت کوي چې تاسو د ګمراهانو په ګناه نه نيولی کيږئ خو په دې شرط چې تاسو لار موندونکي ياست، يعني خپله غاړه مو په دعوت سره خلاصه کړې وي. او که نه نو تاسو په عدم دعوت باندې ګناهګار ياست او هغوی په ضلالت باندې نيولی کيږي.

۴ـ اکثره علماء کرام وايي چې اسلامي دعوت فرض کفائي دی لکه د جنازې لمونځ: چې د خينو خلکو په اداء کولو سره د نورو غاړې خلاصيږي[۱].

د دوی نقلي دليل ذکر شوی ايت شريف دی چې فرمايي: ﴿ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ ﴾ الآية يعني: بايد ستاسو څخه دې د همدې مطلب دپاره يوه خاصه ډله موجوده وي چې د هغوی صرف همدغه کار او وظيفه وي.

د دوی عقلي دليل دا دی چې هرڅوک دا کار څکه نه شي کولی چې يا يې توان نه لري لکه زنانه. او يا علم نه لري لکه عوام مسلمانان چې نه ورته شرعي منکر معلوم وي او نه شرعي معروف پيژني او بالآخره نه د دعوت په طريقه باندې پوهيږي.

د دواړو نظرونو تطبيق

۵ـ مونږ ته د دواړو ډلو د نظرياتو او دلايلو څخه داسې ښکاري چې دواړه نظرونه سره منافات نه لري او دواړه په دې معنی حق دي چې:

د انفراد په توګه د هر چا فريضه ده چې د خپلې وسې په اندازه د خپل دين خدمت وکړي لکه چې نبي کريم ﷺ ورته په «كُلُّكُمْ مَسْئُولٌ»[۲] (ستاسو هر يو مسئول دی) سره اشاره کړې ده.

اما اجتماعي دعوت د حکومت فريضه ده چې په خپل رعيت کښې د همدې کار دپاره يوه ځانګړې او خاصه ډله وټاکي او په اصطلاح د هغوی رسمي وظيفه همدا دعوت وي او بس. په څينو حکومتونو کښې د محتسبينو په نامه باندې همدغسې ډله شته دي.

هوا که اسلامي حکومت ذکره شوې فريضه اداء نه کړه او د احتساب په نامه باندې يې تشکيل جوړ نه کړ نو بيا نورو مسلمانانو ته په کار ده چې د همدې کار دپاره يوه ډله جوړه کړي او د اسلامي دعوت دپاره په اجتماعي توګه کار وکړي. څکه چې په ټولنيز ډول باندې دعوت ښه موثر واقع کيږي.

د دعوت مراحل

۶ـ دعوت لاندې مرحلې لري:

الف: چې کافران اسلام ته دعوت کړي او د هغوی شبهات دفعه او اعتراضونه يې جواب کړي.

ب: د ګمراه ډلو (لکه معتزله او نورو ډلو) د عقائدو اصلاح وکړي او د بدعتونو مخه يې ونيسي.

---

[۱] روح المعاني ج۴ ص۲۱

[۲] صحيح البخاري ج۱ ص۱۲۲

ج: چې د مسلمانانو د معاصیو او جنایاتو مخنیوی وکړي او د شریعت په سمه سیده لاره باندې یې برابر کړي.

د: چې لیونیان ورانکاري ته پرېنږدي او د د رو درملو غم یې وکړي او هم ماشومان د بې ځایه ګرځېدلو څخه منعه کړي او د تعلیم او تربیې بندوبس یې وکړي، خصوصاً د شهیدانو ماشومان چې سرپرست نه لري.

هـ: بالآخره د مستحباتو ښودانه او د مکروهاتو په ګوته کول، ترڅو هغه وکړي او د دې څخه ځانونه وساتي.

د دعوت طریقه

۷ـ د دې دپاره چې دعوت موثر واقع شي باید هر یو داعي لاندې نکات په پام کښې ولري:

الف: په هره موضوع کښې چې دعوت چلوي باید په هغې کښې پاخه معلومات ولري او د ضعیفو او کمزورو معلوماتو څخه باید جداً ځان وساتي.

ب: باید هر یو شرعي حکم د خپل چوکاټ څخه ونه باسي او د خپل ارزښت په اندازه یې خلکو ته وړاندې کړي.

مونږ په دې زمانه کښې ځینې واعظان ګورو چې په مستحبو باندې دومره زور اچوي ته به وایې چې دا مستحب نه دی فرضي حکم دی، همدارنګه د ځینو فرضي احکامو په دعوت کښې د مستحبو په اندازه کوښښ هم نه کوي. بالمقابل په ځینو وختونو کښې مکروه د قطعي حرامو درجې ته رسوي او په قطعي حرامو باندې د مکروه په اندازه هم نه خپه کېږي.

ج: باید په دعوت کښې د منکراتو مرتکب نه شي، مونږ داسې واعظان هم لیدلي دي چې د یو منکر څخه د منعه کولو په ترڅ کښې پخپله واعظ د نورو منکراتو د موجودیت باعث ګرځي، او پخپله واعظ وعظ ته اړتیا لري ترڅو د ده د منکراتو مخه ونیوله شي.

د: باید د دې ایت لاربنوونه په نظر کښې ونیسي چې: ﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ ﴾ [النحل: ۱۲۵] یعني: ای پیغمبره! د خپل رب لارې ته په حکمت (د وخت د غوښتنې مطابق) او په حسنه موعظه سره بلنه کوه او (که بحث ته حاجت پېښ شو نو) په هغې طریقه ورسره مباحثه وکړه چې هغه ښه طریقه وي.

نو باید چې د دعوت په اوږدو کښې پوچ او پاش کلمات استعمال نه کړي او هم باید د اسانې بلنې څخه پیل وکړي او مخ په کلکوالي پورته لاړ شي.

سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: د هغه حدیث شریف څخه چې په دوهمه توضیح کښې ذکر شوي دي داسې معلومېږي چې دعوت باید په شدت سره پیل شي، یعنې د دعوت اول باید د آخر څخه شدید وي نه دا چې په اسانۍ سره پیل شي؟

موندړ وایو چې: د منکر په هکله چې اسلام څه هدایات کړي دي د هغو ټولو نچوړ لاندې لوستلی شئ، چې ټول نصوص ورباندې تطبیق کېږي او منافات یې د منځه ځي:

الف: چې منکر لا موجود شوی نه وي نو په نرمه باندې یې باید مخه ونیوله شي، لکه چې په [النحل: ۱۲۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، او د شدت په لور ورروخوځېږي.

ب: که بالفرض منکر واقع شو او تاسو په سترګو ولید نو درته به معلومه شي چې لساني دعوت کاریګر او اغیزمن نه دی واقع شوی او عملي دعوت ته ضرورت دی، نو په دې صورت کښې یې په لاس باندې نابود کړئ او د منځه یې یوسئ، ترڅو د خلکو دپاره د عبرت درس شي.

که دا کار مو نه شو کولی نو د لساني دعوت څخه خو لاس مه اخلئ او مه مایوسه کېږئ، أمید شته چې ستاسو لساني دعوت په جنایتکار کښې تاثیر وکړي او د منکر څخه پخپله لاس په سر شي، او که دا ونه شي نو د نورو خلکو د ګډون مخه خو به ونیسئ او منکر به ودې او غځېدلو ته پرېنږدئ.

او که بالآخره دا مو هم نه شو کولی نو اقلاً خپل خانونه خو ترې بچ وساتئ او په کرکه خو ورته وګورئ؛ چې د بني اسرائیلو د واعظانو په څېر د جنایتکارانو سره ګډون ونه کړئ او په اصطلاح د غلو سره د جوال خوله ونه نیسئ.

هو! دا ډېر کمزوري ایمان دی، چې د جنایت سره هم سرحده دی، د دې څخه هم ښکته کېدل د اشتراک څخه په غیر بله معنی نه لري.

دا هم څه لرې نه ده

۹_ دا هم څه لرې نه ده چې په ذکر شوي حدیث کښې لاندې مراتبو ته اشاره وي:

الف: د اسلامي حکومت فریضه ده چې په قوت سره د منکراتو مخه ونیسي او په خپل زور سره تغییر ورکړي.

ب: که اسلامي حکومت خپله فریضه پوره نه کړي نو د ټولو مؤمنانو فریضه ده چې د بیان په بنیاد منکرات محوه کړي.

ج: که اسلامي حکومت تش په نامه اسلامي حکومت وه او داعیان یې د بیان څخه په ګلکه منعه کول نو په دغه وخت کښې باید ټول مؤمنان د منکراتو بد ګڼل په خپلو زړونو کښې وساتي، ترڅو د دوی هر یو د خپل خپل خان دپاره واعظ او داعي جوړ شي.

امکان لري چې نبي کریم ﷺ به همدغې مرتبې او همدغه حالت ته اشاره کړې وي چې: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ»[1] یعني: په خلکو باندې به (قیامت ته په نژدې وخت کښې) داسې زمانه راشي چې په دوی کښې په خپل دین باندې کلک سړی به داسې وي لکه چې د اور په سکروټه باندې قبضه کوونکی (نیوونکی) وي.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۵۲

تفرّقوا واختلفوا

١٠_ مونږ ته الله ﷻ توصيه کوي چې د اهل الکتابو په څېر نه شو چې ﴿ تَفَرَّقُوا ﴾ هغوی فرقه فرقه (ډلې-ډلې) شوه او ﴿ وَٱخۡتَلَفُوا ﴾ هره يوه ډله د بلې مخالفه شوه چې هرې يوې به خپل ځان په حقه ګڼله او بله به يې د کافرۍ په نوم يادوله. د دوی په منځ کښې مينه او محبت په دښمنۍ او عداوت باندې بدل شو او يوه د بلې وينو ته تږې کښېناسته.

که څه هم په اول کښې دغه تفرقه او اختلاف په يهودو او نصاراوو کښې واقع شو چې هرې يوې ډلې جنت د خپل ځان دپاره مختص کړی وه او هغه بله يې دوزخي ګڼله، مګر وروسته بيا دوی هم ټوټه-ټوټه شوه او نصارا هم ډلې-ډلې جوړ شوه. افسوس چې همدغه مرض مسلمانانو ته هم سرايت وکړ او لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ مخکښې خبر ورکړی وه هماغسې وشوه. لاندې دوه حديثونه ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې زما په امت باندې به هم داسې حالت راشي لکه په بني اسرائيلو باندې چې راغلی وه (هيڅ تفاوت به ونه لري) لکه يوه پښه چې د بلې څخه تفاوت نه لري، تردې چې که په هغوی کښې داسې څوک تېر شوی وي چې په ښکاره ډول باندې يې د خپلې مور سره زنا کړې وي نو زما په امت کښې به هم دارنګه سړی موجود شي[١].

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې يهودان په يو اويا (٧١) ډولو باندې وېشلی شوي وه چې يوه ډله يې په جنت کښې ده او پوره اويا (٧٠) ډلې يې ټولې د دوزخيانو څخه دي، همدارنګه نصارا په دوه اويا (٧٢) ډلو باندې تقسيم شوي وه چې يوه يې جنتي ډله ده او پوره يو اويا (٧١) ډلې يې په اور کښې دي. او زما دې په هغه ذات قسم وي چې د محمد ﷺ روح د هغه ﷻ په لاس کښې دی چې زما امت به په درې اويا (٧٣) ډولو باندې ووېشلی شي چې يوه يې په جنت کښې ده او پوره دوه اويا (٧٢) ډلې يې دوزخيان دي.

چا ترې پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! هغه جنتي ډله کومه يوه ده؟ هغه ﷺ وفرمايل چې: «الْجَمَاعَةُ»[٢] هغه د اتفاق ډله ده. يعني هغه ډله ده کومې ته چې په ﴿ وَٱعۡتَصِمُوا بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ کښې اشاره شوې ده.

دوه اويا فرقې

١١_ که د چا زړه غواړي چې د دې امت د ګمراه ډلو په نومونو او د ګمراهۍ په وجو او نورو خواصو باندې يې پوه شي نو د الملل والنحل (اديانو او مذاهبو) کتابونو ته دې مراجعه وکړي، برسېره په دې خپنو مفسرينو کرامو هم ورباندې څه رڼا اچولې ده[٣].

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٩٣
(٢) سنن ابن ماجه ص٢٨٧
(٣) تفسير القرطبي ج٤ ص١٦٠

یو تذکر

۱۲_ د ذکر شوو ډلو په دقیقه محاسبه کښې چې ځومره مونږ کوښښ کړی دی نتیجه یې دا لاس ته راغلې ده چې د دې امت ګمراه ډلې یا زیادت کوي، چې ځینې فرعي ډلې هم وشمېرل شي، او یا کمبود کوي که چرته ځینې فرعي ډلې د محاسبې څخه وغورځولی شي، په هر تقدیر د حدیث شریف مصداق نه شي جوړېدلی. نو د دې معضلې د حل لارې لاندې دوه دي:

الف: چې د درې اویا (۷۳) ډلو څخه (چې دوه اویا پکښې اهل النار دي) مشخص عدد مراد نه کړی شي، بلکې د کثرت څخه کنایي وګڼل شي، نو په دې تقدیر د هر عدد سره سمون خوري. نو معنی به یې دا شي چې زما امت به هم په متعددو ډلو ووېشلی شي.

ب: چې د حدیث شریف مطلب دا ونه ټاکلی شي چې په هره زمانه کښې همدغه عدد تحقق ومومي نه به زیادت وي او نه به کم وي، بلکې مطلب یې دا شي چې په یو وخت به دغه عدد (۷۳) هم تحقق ومومي. نو د دې مطلب سره دا منافات نه لري چې په یو وخت کښې زیاتې شي او یا کمې، چې په یوه زمانه کښې موجودیت ولري هم د حدیث شریف مصداق موجودېږي او همدا کفایت کوي. په دې تقدیر دا هم د حدیث سره څه ټکر نه لري چې د نن څخه وروسته نورې ډلې تېلې جوړې شي او شمېره یې بېنه پورته لاړه شي.

په یاد ولرئ!

۱۳_ په یاد ولرئ چې د دې امت دوه اویا فرقې _که څه هم اهل النار دي_ اهل القبله بللې کېږي او دوی ټولې په دې معنی دوزخیانې دي چې د دوزخ مستحقې دي، پاتې شوه دا خبره چې دوی به په دوزخ کښې همېشه وي او که څنګه؟

د دې جواب دا دی چې ټولې ډلې به د الله ﷻ حضور ته ورځي ځوک چې مرتد شوي دي په هغو باندې به په دوزخ کښې د دائمي پاتې کېدلو فیصله وشي او که نه نو د نورو ګناهګارانو په څېر دوی هم ګناهګاران دي څه چې د الله ﷻ خوښه شي همغسې معامله به ورسره وشي. مونږ چې د دغو ډلو امتیازات او خصائص کورو هم ځینې ډلې د اسلام څخه کفر ته اووښتې دي او ځینې نه دي اوښتې.

سوال جواب

۱۴_ که ځوک وایي چې: په دې مقام کښې د هغو تورمخو څخه کوم خلک مراد دي چې هغوی ته به د قیامت په ورځې د مرتدانو خطاب کولی شي چې ﴿ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَـٰنِكُمْ ﴾ یعنې: ایا تاسو د ایمان راوړلو څخه وروسته کافر شوي وئ؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: د وړاندې او بېرته ایتونو څخه څرګندېږي چې دغه خطاب به اهل الکتابو ته وکړی شي[1]،

---

[1] روح المعاني ج۴ ص۲۶

او په دوی باندي به څکه د مرتد نوم کېښودل شي چي دوی د نبي کريم ﷺ د بعثت څخه مخکښي په هغه ايمان راوړی وه، خو کله چي مبعوث شو نو ورباندي کافر شوه، چي الله ﷻ د دې کار څخه منعه کړه چي: ﴿ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ﴾ [البقرة: ۴۱] يعني: تاسو په نبي کريم ﷺ باندي لومړی ډله کافران مه جوړېږئ.

ب: ټولو کافرانو ته به د مرتدانو خطاب وکړی شي[۱] څکه چي دوی په عالم الأرواح کښي ايمان راوړی وه، خو په عالم التکليف کښي د همغه فطري ايمان څخه کفر ته واوښتل او کفر يې اختيار کړ.

ج: دلته د دې امت د دوه اويا (۷۲) گمراه ډلو څخه هغه ډلي مطلب دي چي هغوی مرتد شوي دي[۲]، لکه په لاندي حديث شريف کښي چي ورته اشاره شوې ده:

نبي کريم ﷺ فرمايي چي: د حوض کوثر څخه به څيني خلک بېرته تاو کړی شي «فَأَقُولُ يَا رَبِّ بِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي فَيُقَالُ هَلْ شَعَرْتَ مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ»[۳] يعني: نو زه به ووايم چي ای ربه! دوی زما څخه دي او زما د اُمت څخه دي، راته به وويل شي چي ايا ته په هغه څه باندي خبر يې چي دوی ستا څخه وروسته کړي دي؟ يعني چي په تا باندي يې ايمان راوړی وه او بيا بېرته کافر شوي وه.

مگر مونږ ته داسي ښکاري چي ذکر شوي دربواړه جوابونه سره څه منافات نه لري، چي د مرتد څخه خاصه فقهي اصطلاحي معنی وانخستله شي بلکي ما يطلق عليه المرتد واخستل شي نو ټولو ته شامليږي.

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۗ وَلَوْ ءَامَنَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١١٠﴾ لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ ٱلْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓا۟ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾ ﴾

[۱۱۰] (ای مؤمنانو!) تاسو (داسي) بهتر امت ياست چي د خلکو (د گټي) دپاره (ميدان ته) راويستلی شوی دی (څکه چي) په نېکيو به (خلکو ته) امر کوئ او د بدو څخه به يې منعه کوئ او په الله ﷻ باندي به خپل ايمان ته (په سمو معناوو کښي) ادامه ورکوئ.

---

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۴۱
(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۳۴۰
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹۷۵

او که اهل الکتاب (ستاسو غوندې) ایمان راوړي نو دا ورته خامخا غوره دی (نو دوی به هم په بهتر امت کښې شامل شي). د دوی ځینې کسان (په خپل کتاب باندې په سمو معناوو کښې) مؤمنان دي (چې په قرآن کریم باندې هم ایمان راوړي)، او اکثره یې (په خپل دین کښې هم) فاسقان دي (څکه نه مسلمانېږي).

[۱۱۱] دغه (فاسقان) به هیڅکله تاسو ته ضرر ونه شي رسولی مګر لږ ضرر (چې پروپاګند درپسې وکړي). او که (د لساني ضرر څخه وړاندې تېر شي او) په وسله وال جنګ باندې درسره پیل وکړي نو ضرور به شاګانې درواړوي (وبه تښتي) بیا به ورسره نصرت ونه کړی شي (چې نجات ورکړي).

[۱۱۲] په دغو اهل الکتابو (یهودانو) باندې (د) ذلت (خیمه) وهلی شوی دی په هر خای کښې چې وموندل شي (د سر او مال د هلاکت سره به مخامخ کېږي) مګر د الله ﷻ د جانبه د معاهدې په حفاظت (چې مسلمانان یا امان ورکړي، یا ترې جزیه قبوله کړي او یا ورسره سوله وکړي) او هم د خلکو د معاهدې په ساتنه (چې غیر مسلمان قوم ورسره معاهده وکړي)، او (برسېره په دائمي ذلت) دوی د الله ﷻ د جانبه په غضب باندې (هم) اخته دي او (د) مسکنت (د زړه د فقر خیمه) هم وریاندې (د ذلت په څېر) وهلی شوی دی.

دا څکه چې دوی د الله ﷻ په ایتونو باندې (په مستمري توګه) کافر کېږي او په ناحقه باندې پیغمبران هم وژني (که وسه یې وشي ای پیغمبره! ستا په وژنه به هم صرفه ونه کړي) دا څکه چې دوی عصیان کړی دی او (په دائمي توګه) د الله ﷻ حدودو څخه تېرېدنه کوي.

ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې مؤمنانو ته توصیه شوې وه چې د الله ﷻ څخه په رښتیانیو معناوو کښې ودار شئ، په قرآن کریم باندې اعتصام وکړئ، د اهل الکتابو په شان ټوټه- ټوټه مه جوړېږئ، د دعوت الی الخیر دپاره یو ټولګی تشکیل کړئ چې په وحدت او اعتصام باندې مو ټارنه کوي.

په دې ایتونو کښې د ذکر شوې توصیې وجه بیان شوې ده چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعني ای مؤمنانو! تاسو به ولې ذکره شوه توصیه نه عملي کوئ چې تاسو په ټولو امتونو کښې د الله ﷻ په نزد غوره او بهتر امت یاست، ستاسو پیغمبر ﷺ په ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام کښې غوره پیغمبر دی، ستاسو کتاب په کتابونو کښې غوره کتاب دی، تاسو په آخره زمانه کښې د خلکو د خیر دپاره راویستلی شوي او خلق کړی شوي یاست، په نورو امتونو باندې ستاسو د امتیاز یوه وجه دا ده چې الله ﷻ تاسو په داسې زمانه کښې په خمکه باندې څرګند کړئ چې د پیغمبری سلسله قطعه شوې ده او د کومې وظیفې د اجراء کولو دپاره چې پخوا زمانو کښې پیغمبران علیهم‌السلام مبعوث کېدل هغه وظیفه اوس ستاسو په غاړه اچولې شوې ده چې تاسو به په معروفو شیانو باندې

امر کوئ او د منکراتو څخه به خلک منعه کوئ او په الله ﷻ باندې به په دائمي توګه معتقد یاست په نورو امتونو باندې ستاسو امتیاز نه په نسب سره دی او نه په رنګ او څېره سره، ستاسو امتیاز او د بهترۍ وجه صرف په الله ﷻ باندې په رښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړل او دعوت الی الخیر دی، هرڅوک کولی شي چې ستاسو سره پکښې اشتراک وکړي، دا اشتراک د نسب د اشتراک غوندې محال شی نه دی چې د چا د وسې پوره نه وي.

یا په بل عبارت: د مثال په توګه هغه څوک چې د اسماعیل ﷺ د اولادې څخه وي نه شي کولی چې ځېل ځان د اسحاق ﷺ د اولادې څخه جوړ کړي.

د همدې کبله اهل الکتاب هم کولی شي چې په رښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړي او ذکر شوی ویاړ او افتخار ځان ته حاصل کړي. فرصت د لاسه نه دی وتلی اوس هم سر ورځ دی. خو افسوس چې د دوی اکثریت فاسقان دي او لږ خلک یې په سمو معناوو کښې په خپل کتاب ایمان راوړی چې همدا ایمان یې د دې خبرې سبب جوړیږي چې په قرآن کریم باندې هم ایمان راوړي

۲ـ ای مؤمنانو! کله چې به دې آخره زمانه کښې بهترې او افضلیت ستاسو په برخه شو او د آخر الزمان پیغمبر ﷺ اتباع تاسو کوئ نو د اهل الکتابو فاسقه ډله به ستاسو د عداوت او کینې څخه لاس وانخلي او تر وسې- وسې پورې به ستاسو په ضد باندې چال چلند وکړي. خو تاسو ته اطمنان او ډاډ درکوو چې د هغوی هلې ځلې به تولې اوبه بوسې او تاسو ته به د پروپاګند او ژبنې پوچ او پاش څخه په غیر هیڅ ضرر ونه شي رسولی او د اسلام د پرمخ تللو مخه به هیڅکله ونه شي نیولی او نه به مقاومت وکړی شي

هو! که بالفرض ستاسو په مقابل کښې وسلې ته لاس کړي نو ډېر ژر به مخ په شا شي او تېښتې ته به مجبور کړی شي، او په دې وخت کښې به ورته هیڅوک د خلاصې هم نه وي چې کومک ورسره وکړي.

۳ـ ای مؤمنانو! په اهل الکتابو کښې یوه ډله داسې هم شته چې په هغوی باندې په دائمي توګه د ذلیلتوب مهر وهل شوی دی، هغوی چې به هر ځای کښې وي د ذلت څخه به خلاص نه شي، دوی به وهل کیږي، مالونه به یې تالا کیږي، اسیران او بندیان به ترې جوړیږي.

هو! کېدی شي چې دوی په موقته توګه د څه امنیت خاوندان شي ـ که څه هم د ذلت څخه نه شي خلاصېدلی ـ چې د الله ﷻ د جانبه په یوه ذریعه باندې اعتصام وکړي چې د مؤمنانو یا نورو خلکو څخه امان واخلي او د هغوی د سیورې لاندې څه د امن شپې تېرې کړي.

۴ـ دغه ډله اهل الکتاب (یهود) برسېره په دې چې ذلیل ګرځولي شوي دي، د الله ﷻ د جانبه په لوی غضب باندې ککړ هم دي او فقیرې هم ورباندې خیمه وهلې ده چې د حرص د کبله په دائمي توګه خپل ځانونه محتاج معرفي کوي او د قناعت د مرو څخه بالکل محروم دي، او هم په امنیت باندې د شپو تېرولو احتیاج خو ورسره نه پېلېدونکي اړیکي لري، امنیت ته خو همېشه وږي دي.

۵_ ای مؤمنانو! په دغې ډلې اهل الکتابو (یهودو) باندې ذلت او مسکنت خوشې په خوشې نه دي اینودل شوی بلکې د دوی د خپلو کړو وړو په سبب ورپورې لازم ګرځولی شوی دی. او دا ځکه چې دوی به د الله ﷻ په ایتونو باندې کافر کېدل لکه چې نن ورځ په قرآن کریم باندې یې کفر اختیار کړی دی، او د الله ﷻ پیغمبران علیهم السلام به یې وژل حال دا چې دوی دا کارونه د پوهې سره کول، پوهېدل چې هم کافر کېدل یې ناحقه دي او هم د پیغمبرانو علیهم السلام وژنه جواز نه لري. خو د دې سره-سره دوی د خپلو ځانو د عزت او د دنیاوي حرص د کبله دغو کارونو ته لاس اچولی وه، نو الله ﷻ په دائمي توګه د عزت څخه محروم کړه او د ذلت خیمه ورباندې ووهله شوه او هم یې د قناعت څخه محروم کړه او د احتیاج خیمه وربانديې ودروله شوه.

دوی د پیغمبرانو علیهم السلام وژلو ته ځکه لاس واچاوه چې لومړی یې ترې عصیان وکړ او هم یې وربانديې تجاوزات کول چې په نتیجه کښې یې شهیدان کړه.

۶_ ای مؤمنانو! ستاسو د زمانې د یهودانو که وسه ورسېږي هم نبي کریم ﷺ به شهید کړي لکه چې څو ځله یې همدغه دسیسه جوړه کړې ده خو الله ﷻ شنډه کړې ده.

دوی ځکه د همدې کار څخه سر نه اړوي چې دوی د خپلو پلرونو په پیغمبر وژنه باندې راضي دي او دا ورته افتخار ښکاري نو د همدې کبله دوی هم د پلرونو غوندې په ذلت او مسکنت او د الله ﷻ په غضب اخته شوه.

۷_ ای مؤمنانو! د ذکر شوي بیان څخه ستاسو په افضلیت باندې هرڅوک پوهېدلی شي چې تاسو د پیغمبرانو علیهم السلام وظیفه (دعوت الی الخیر) اجراء کوئ عزت مو په نصیب شو، او هغوی چې پیغمبر وژنه کوله د هغوی ذلت او اهانت په برخه شو. نو که بالفرض په تاسو کښې هم هرڅوک نوموړې پیغمبري وظیفې ته شا کړي هغه به افضلیت د لاسه ورکړي او د بهترۍ څخه به راښکته شي.

توضیحات

۱_ څرنګه چې په ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ کښې د ﴿ كُنتُم ﴾ کلمه معلومه ماضي ده نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې تاسو په تېره زمانه کښې بهتر وئ، حال دا چې په تېره زمانه کښې خو محمدي امت د سره موجود نه وه. د همدې کبله مفسرینو کرامو همدغه تناقض ته لاندې جوابونه کړي دي:

الف: ځینې مفسرین وایي چې په دې مقام کښې د ﴿ كُنتُم ﴾ تقدیر داسې کېږي چې: "كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ فِيْ عِلْمِ اللهِ تَعَالَى أَوْ فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ أَوْ فِي الْأُمَمِ السَّابِقَةِ"[۱] تاسو د الله ﷻ په علم، یا په لوح محفوظ او یا په پخوانیو امتونو کښې بهتره وئ؛ نو تاسو ته په کار دي چې همغه خپله بهتري وساتئ. یعنې پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام هر یوه خپلو-خپلو امتونو ته خبر ورکړی وه چې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ امت به په ټولو امتونو کښې بهتر امت وي.

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۴

ب: ځينې نور وايي چې ﴿ كُنتُم ﴾ په معنی د "صرتم" دی، يعني: تاسو د راتلونکو صفاتو د کبله بهتر امت ګرځېدلي ياست، كه بالفرض دعوت الی الخير ونه کړئ نو د بهترئ لياقت به مو د لاسه لاړ شي[1]. نو څرنګه چې په راتلونکو صفاتو باندې محمدي (ﷺ) امت د موجوديت څخه وروسته موصوفيږي نو معلومه شوه چې په ﴿ كُنتُم ﴾ کښې هم د موجوديت څخه وړاندې زمانه مطلبه نده.

ج: ځينې وايي چې په دې مقام کښې د ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ جمله د "انتم خيرُ امة" سره مرادفه ده[2]، يعني تاسو بهتر امت ياست. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا ﴾ [الأعراف:٨٦] يعني: او هغه حالت ياد کړئ چې تاسو لږ وئ. په بل ځای کښې همدغه مضمون بيانوي چې: ﴿ وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ ﴾ [الأنفال:٢٦] يعني: او هغه وخت ياد کړئ چې تاسو لږ وئ.

د: په دې مقام کښې ﴿ كُنتُم ﴾ يوازې په ماضي باندې دلالت نه کوي بلکې په لزوم او استمرار باندې دلالت کوي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴾ [النساء:٣٣] يعني: بې شکه الله ﷻ په هر شي باندې په دائمي توګه حاضر دی[3]. نو دلته يې معنی داسې کېږي چې تاسو په دوامداره توګه بهتر امت ياست.

مونږ ته همدغه څلورمه معنی بهتره ښکاري چې بې تکليفه او د مقام سره ښه مناسبه ده.

ايا د خير کلمه اسم تفضيل دی؟

٢ـ مونږ د [البقرة:٢٧١] ايت لاندې ليکلي دي چې د "خَيْر" کلمه په دوه ډوله استعمالېږي: يو دا چې د اسم تفضيل د معنی مراعات پکښې ساتلی شوی دی، او بل دا چې د همدغه مراعات څخه نظر قطعه شوی وي.

په دې مقام کښې دواړه احتماله صحت لري چې تفصيل يې دا دی:

الف: که د "خَيْر" په کلمه کښې نوموړی مراعات په نظر کښې ونيولی شي نو د امت کلمه به جنس واخستلی شي ترڅو ټولو امتونو ته شامله شي نو معنی به يې داسې شي چې تاسو د ټولو امتونو خير او افضل ياست. په همدې معنی باندې لاندې حديث هم دلالت کوي:

نبي کريم ﷺ خپل امت ته خطاب کوي او فرمايي چې: «إِنَّكُمْ تُتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللهِ»[4] يعني: يقيناً تاسو اويا (٧٠) امتونه پوره کوئ خو تاسو په ټولو امتونو کښې بهتر ياست او په الله ﷻ باندې په ټولو کښې باکرامته ياست.

ب: او که نوموړی مراعات پکښې ملحوظ نه شي نو د ﴿ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ ترکيب د "اخلاق لباب"

---

(١) التفسير الكبير ج٨ ص١٩٠

(٢) تفسير الطبري ج٤ ص٤٥

(٣) روح المعاني ج٤ ص٢٧

(٤) جامع الترمذي ج٢ ص١٢٩

د قبیل څخه ګڼل کېږي. یعني که څه هم د ﴿ خَيْرَ ﴾ کلمه د ﴿ أُمَّةٍ ﴾ کلمې ته مضافه ده مګر د معنی په حاصل کښې یې صفت واقع ده لکه چې په "اخلاق ثیاب" کښې د "اخلاق" کلمه د "ثیاب" دپاره په مآل کښې صفت ده نو د دې ترکیب څخه په زړو جامو سره تعبیر کوو.

محمدي (ﷺ) امت بهتر امت دی

۳ـ د محمدي امت بهترۍ ډېرې وجې لرې چې مونږ یې د لاندې د څو مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

د ایت شریف متباقي ټکړه د بهترۍ وجه بیانوي چې: ﴿ تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ﴾ یعني: تاسو ځکه بهتر یاست چې تاسو په معروفو باندې امر کوئ او د منکراتو څخه خلک منعه کوئ چې په پخوانیو امتونو کښې دغه وظیفه پیغمبرانو علیهم السلام اجراء کوله.

که څه هم د هغوی امتونو به هم ذکره شوې وظیفه لرې او ډېره اجراء کړې وې خو په پوره او اکمله توګه یې نه ده اجراء کړې د همدې کبله به د بل پیغمبر مبعوثیت ته حاجت پېښ شو. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کوي چې فرمایي: ﴿ كَانُوا۟ لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴾ [المائدة: ۷۹] یعني: دوی داسې وه چې د منکر فعل څخه یې یوه بل نه منعه کاوه، ضرور ډېر بد وه هغه شی چې دوی یې مرتکب شوي وه.

او همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کوي چې فرمایي: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي مَنْصُورِينَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ»[۱] یعني: زما د امت څخه به یوه ډله همېشه منصوره (کومک ورسره شوې) وي او څوک چې ورسره خپل کومک قطعه کړي هغه به ورته ضرر ونه شي رسولی تر دې چې قیامت قائم شي.

سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف څخه د دې امت د بهترۍ درې وجې څرګندې شوې چې یو امر بالمعروف او بل نهي عن المنکر او دریم ایمان بالله دی. حال دا چې دغه درېواړه وجې خو په تېرو شوو امتونو کښې موجودې شوې دي لکه چې د موسی ﷺ په زمانه کښې یوې ډلې مجاهدینو (ساحرانو) د فرعون په مقابل کښې مقاومت وکړ، او نور دارنګه مثالونه شته؟!

مونږ وایو چې: ذکرې شوو درې وجو په پخوانیو امتونو کښې دومره ډېر قوت نه درلود څومره یې چې په دې امت کښې درلود، او دا مطلب نه دی چې دغو وجو په پخوانیو امتونو کښې بالکل موجودیت نه درلود.

د مثال په توګه: نبي کریم ﷺ دیارلس کاله مسلسل مسلح جهاد وکړ، همدارنګه په وروسته مراحلو کښې هم محمدي (ﷺ) امت اوږده جهادونه کړي دي لکه د بخارا جهاد دیارلس کاله

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۳

اوږدوالی وکړ او دا دی د روسي يرغلگرو او د هغوی د ملگرو په مقابل کښې د افغانستان جهاد څوارلس کالو ته ورسېده او په لکونو شهيدان او معيوبين يې ورکړه.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په نومړو درېواړو وجو کښې خو ايمان بالله د ټولو څخه وړاندې ضرور دی نو په دې کښې څه حکمت دی چې په آخر کښې ذکر کړی شو؟

مونږ وايو چې ـوالله ﷻ اعلم ـ: وجه يې دا ده چې دلته د ايمان څخه هغه ايمان مطلب نه دی چې سړی ورباندې د کفر څخه د اسلام رڼا ته راوځي چې د ټولو طاعتونو څخه په لومړۍ درجه کښې واقع دی، بلکې دلته تړې د ايمان حفاظت او ساتنه مراده ده چې د اهل الکتابو په شان مزخرفات ورسره گډ نه کړي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ ﴾ [النساء: ١٣٦] يعنې: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی د خپل ايمان ساتنه وکړئ او ادامه ورکړئ چې نه ورسره بل څه خلط ملط کړي او نه بېرته مرتد شئ.

دغه ډول ايمان د امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه وروسته دی نو ځکه يې وروسته کړ، او هم يې ورپسې د اهل الکتاب ايمان ذکر کړ چې هغوی ورسره مزخرفات گډ کړي دي، چې: ﴿ وَلَوْ ءَامَنَ أَهْلُ ٱلْكِتَـٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ﴾ يعنې: که اهل الکتاب خپل اصلي ايمان ته ادامه ورکړي او ساتنه يې وکړي نو دا ورته بهتر دي. يعنې تاسو ځکه بهتر ياست چې په الله ﷻ باندې په رښتيانيو معناوو کښې ايمان راوړئ هيڅوک ورسره شريک نه دروئ او نه د آخرت ښېگڼې د خپلو خانو پورې مختصې گرځوئ. اهل الکتاب په دغو ټولو کښې پاتې راغلي دي چې هم يې د الله ﷻ سره عيسی ﷺ او نور شريکان جوړ کړي دي او هم يې د آخرت د اختصاص دعوه د خانو دپاره کړې ده.

۶ـ دا امت په دې باندې هم بهتر دی چې پيغمبر ﷺ يې په ټولو پيغمبرانو عليهم السلام باندې بهتر دی، لوی شفاعت او محمود مقام په همده ﷺ پورې مختص دی.

۷ـ بله وجه يې دا ده چې د همدې امت څخه جنتيان ډېر دي. نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «اهل الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٌّ ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ»[1] يعنې: ټول اهل الجنة يو سلو شل (۱۲۰) صفه دي چې اتيا صفونه يې د همدې امت څخه دي او څلوېښت صفونه يې د متباقي امتونو څخه تشکيل شوي دي.

يادونه

۸ـ ځرنگه چې د محمدي (ﷺ) امت په بهترۍ کښې زښت ډېر احاديث روايت شوي دي او يوه ښه غټه مجموعه يې ـچې تقريباً درويشتو احاديثو ته رسېږي ـ علامه ابن کثير په خپل تفسير کښې ذکره کړې[2] ـالله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي ـ نو علاقمندان دې هلته مراجعه وکړي.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۱

(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۳۹۱

دا امت افضل او فاضل لري

٩_ محمدي (ﷺ) امت د نورو امتونو په پرتله په مجموعه توګه افضل دی خو په خپلو منځو کښې یې ټول طبقات یو برابر نه دي. د صحابه وو ﷺ طبقه، همدارنګه د تابعینو او تبع تابعینو علیهم الرحمة طبقات د نورو څخه بهتر دي. لکه چې نبي کریم ﷺ ورته په «خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي» (الحديث)[١] سره اشاره کړې ده.

برسېره په دې څومره چې د زماني اهل زیات فاسد وي او څوک پکښې د نبي کریم ﷺ د سنتو اتباع وکړي نو په هماغې اندازې به هغه ته ثوابونه او اجرونه هم اضافه ورکړی شي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ»[٢] زما امت د باران مثال لري نه معلومېږي چې اول یې بهتر دی او که آخر یې بهتر دی. یعنې د اجر ورکولو په لحاظ.

"أُمَّةُ الدَّعْوَة" او "أُمَّةُ الإِجَابَة"

١٠_ د مبعوثیت څخه وروسته ټول خلک د "أُمَّةُ الدَّعْوَة" په نامه یادېږي ځکه چې دوی ټولو ته نبي کریم ﷺ د اسلام دعوت ورکوي. نو څوک چې دغه دعوت مني او ایمان راوړي په هغو باندې د "أُمَّةُ الإِجَابَة" نوم اینښودل کېږي.

په دې مقام کښې لرې نه ده چې د ﴿ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ څخه "أُمَّةُ الإِجَابَة" مراد شي او د ﴿ لِلنَّاسِ ﴾ څخه "أُمَّةُ الدَّعْوَة" اراده کړی شي. او دا ځکه چې مؤمنان لکه څنګه چې په خپلو منځو کښې یو تربله د نېکو توصیه کوي همدارنګه د کافرانو د دعوت څخه هم لاس نه اخلي.

د الله ﷻ خبره رښتیا شوه

١١_ په مدینه منوره کښې اهل الکتابو په مسلمانانو پسې پروپاګند او سپکې سپورې خبرې کولې حتی چې د بي بي عائشې رضي الله عنها په تهمت کښې یې هم لوی لاس درلود او په همدې دول باندې یې مسلمانان خپه کولی شوه مګر چې خبره جنګ ته ورسېده نو د الله ﷻ خبره رښتیا شوه؛ بني نضیر او بني قینقاع د وطنه وشړل شوه او بني قریظه د تیغه تېر شوه. همدارنګه د الله ﷻ خبره په هر وخت کښې رښتیا کېږي چې مؤمنان د خپل ایمان په مقتضی کلک ولاړ وي او بې اتفاقي او شقاق ونه کړي. ﴿ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلًا ﴾ [النساء: ١٢٢] یعنې: او څوک د الله ﷻ څخه د وینا د حیثه بنه صادق دی؟!.

یادونه

١٢_ که څه هم په دې مقام کښې د ذلت او مسکنت د اینښودلو نسبت مطلق اهل الکتابو ته شوی دی خو مطلب ترې یوازې یهود دي ځکه چې عین مضمون د [البقرة:٦١] ایت کښې د همدوی

---

(١) صحیح البخاري ج١ ص٥١٥
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١١٤

په باره کښې نازل شوی دی چې د موسی ﷺ قوم دی او هلته ورپاندې صراحت شوی دی. او دا خکه چې د ایت پیل په دې کلماتو باندې شوی دی چې: ﴿وَإِذْ قُلْتُمْ يَـٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ﴾ الآية، یعنې: او کله چې تاسو وویلې چې ای موسی! موږ به هیڅکله په یوه ډوله طعام باندې صبر ونه کړو.

سوال جواب

۱۳_ که څوک وایي چې: هلته خو په استمراري توګه یهودو ته ذلت ثابت شوی وه او دلته ترې په ﴿إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ﴾ سره استثناء راغلې ده نو معلومه شوه چې دلته به یهود مراد نه وي؟

موږ وایو چې: استثناء دا معنی نه ده چې دوی د ذلت څخه خلاص دي بلکې په استثناء کښې د دوی یو حالت بیان شوی دی. یعنې په دوی باندې د ذلت خیمه په ټولو حالاتو کښې ولاړه ده هر چرته چې ومونډل شي. مګر دوی کله داسې هم مونډل کیږي چې په "حَبْلُ الله" او "حَبْلُ النَّاس" سره یې اعتصام (منګولې ښخې) کړې وي. یعنې د خلکو به دا ګومان وي چې دوی به د ذلت د کیله په "حَبْلُ الله" او "حَبْلُ النَّاس" سره اعتصام هم نه شي کولی خو داسې نه ده، اعتصام کولی شي خو د ذلت څخه ورپاندې نه خلاصیږي بلکې دا هم یو ذلت دی چې همدغه اعتصام ته مجبوریږي.

په نني زمانه کښې د دې مثال داسې دی چې په سلمان رشدي باندې (چې یو ملحد سړی دی او د ایات شیطاني په نامه یې د الحاد کتاب لیکلی دی) د ایران د حکومت د پلوه د اعدام فیصله شوې ده، چې هر چا دا کار عملي کړ دوه ملیونه امریکائي ډالره انعام به ورکړې. مګر نوموړی رشدي کله په یوه کفري دولت کښې پټ شي او کله په بل کښې. نو دغه پټیدل په اصلي برخه کې باندې څه تاثیر نه غورځوي خو تعمیل یې وروسته کوي. همدارنګه د یهودو ذکر شوی اعتصام په ذلت باندې څه تاثیر نه اچوي خو تعمیل ته یې ټال ورکوي، چې د همدې اعتصام د کیله د وژلو، بندي کولو او د مالونو د تالا والا کولو څخه خو ورځې یې باتې کیدلی شي.

د دې دپاره چې دا موضوع ښه واضحه شي نو د همدې استثناء یو نظیر ولولئ:

الله ﷻ فرمایي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا﴾ [النساء ۹۲] یعنې: او هیڅ مؤمن ته مناسبه نه ده چې بل مؤمن ووژني مګر کله یې په خطا سره ووژني. یعنې عدم مناسبت خو دائمي دی مګر د عدم مناسبت سره سره ترې کله-کله په خطا سره وژل واقع کیږي.

لنډه دا چې ذکره شوې استثناء "منقطعه ده، د ذلت په لرې کولو باندې کوم تاثیر نه اچوي[۱]، د همدې کیله د ذلت دوه نور انډیوالان (غضب او مسکنت) په عین ایت کښې د استثناء څخه وروسته ذکر شوي دي. که بالفرض تاثیر یې درپاندې اچولی نو په کار وه چې هغه دواړه هم یا د استثناء څخه وړاندې ذکر شوي وی او یا دوی دواړو هم استثناء درلودی.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۴ ص ۵۰

"حَبْلُ اللهِ" او "حَبْلُ النَّاسِ" څه فرق لري؟

۱۴ـ په دې کښې خو شک نشته چې په عربي ژبه کښې عهد ته ځکه حَبْل (پړی) وايي چې عهد د پړي مثال لري او متعاهدين ورباندې تړل کېږي. خو په دې مقام کښې يې مفسرينو کرامو ډېر تفسيرونه کړي دي چې ځينې لاندې لوستلی شئ:

الف: "حَبْل الله" د هغو حقوقو څخه عبارت دی چې الله ﷻ اهل الذمه وو ته ورکړي دي او "حَبْل النَّاس" د همدغو حقوقو د ورکړې او ښه معاشرت څخه عبارت دی[۱]. مګر دا فرق ډېر خفي دی.

ب: "حَبْل الله" د جزيې د تشريع څخه عبارت دی او "حَبْل النَّاس" د جزيې دمقدار د ټاکنې څخه عبارت دی[۲]. مګر دا فرق هم متبادر نه دی.

ج: "حَبْل الله" دلته د مسلمانېدلو په معنی دی او "حَبْل النَّاس" د جزيه ورکولو معنی لري[۳]. دا فرق هم د منلو وړ نه دی، ځکه چې يو خو په کافرو کښې خبره ده او بل د هغوی سره معاهده يوازې په جزيه پورې خاصه نه ده او نه يوازې په مسلمانانو پورې خاصه ده.

د: "حَبْل الله" يعنې ظاهري ايمان راوړل چې په زړه کښې کافر وي او "حَبْل النَّاس" چې مسلمانان ورته امان ورکړي او يا ورسره د جزيې په ورکړه باندې صلاح شي[۴].

دا فرق هم ځکه نه منل کېږي چې خبره په ښکارندو اهل الکتابو کښې ده نه په منافقانو کښې. د همدې کبله په ذکر شوو څلور واړو فرقونو کښې په يوه باندې هم د سړي اطمنان نه شي راتلای.

ه: نو په "حَبْل الله" سره د مسلمانانو عهد مراد دی چې الله ﷻ د توقير دپاره خپل خان ته نسبت کړ او "حَبْل النَّاس" د نورو کافرانو د عهد څخه عبارت دی چې يهودانو ته يې ورکړي، لکه په موجوده وخت کښې چې امريکايانو دوی (يهودان) په خپل څنګ کښې نيولي دي او نظامي، سياسي او اقتصادي کومکونه ورسره کوي. د همدې کبله الله ﷻ په "وَحَبْلٍ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ" سره تعبير ونه کړ او په ﴿ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ سره يې ذکر کړه.

سوال جواب

۱۵ـ که څوک وايي چې: په دې تقدير يې د معنی حاصل داسې کېږي چې د يهودانو د ذلت مخه يا د مسلمانانو معاهده نيسي او يا د کافرانو معاهده، اما د ايت څخه معلومېږي چې دواړه معاهدې يې په اجتماعي توګه مخه نيسي ځکه چې "وَ" خو د جمعې دپاره دی. نو په کار وه چې د "أَوْ" کلمه استعماله شوې وی (إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللهِ اَوْ حَبْلٍ مِنَ النَّاسِ) ؟!

مونږ وايو چې: که د "وَ" په عوض "أَوْ" استعمال شوی وی نو د معنی حاصل به يې داسې شوی وی

(۱) تفسیر المراغي ج۴ ص۳۲
(۲) التفسیر الکبیر ج۸ ص۱۹۷
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۴۲
(۴) تفسیر تیسیر الرحمن ج۱ ص۱۲۲

چې دواړه معاهدې يوه د بلې سره نه جمعه کېږي او حال دا چې لاندې متعدد صورتونه درلودلی شي:
الف: چې يا يوازې مسلمانان ورسره معاهده وکړي او يا يوازې کافران.
ب: چې دواړه طائفې هره يوه خپله معاهده د يهودانو سره وکړي، لکه چې په نني عصر کښې هم ورسره مصريانو مسلمانانو معاهده کړې ده او هم امريکايانو کافرانو.
ج: چې يوه ډله يهود د يوې طائفې سره معاهده وکړي او بله ډله د بلې طائفې سره.
د: چې د يوې طائفې معاهده په يوازېني ډول باندې موثره نه وي ترڅو چې د دواړو طائفو معاهدې ترلاسه نه کړي نو د سر او مال د لوټ کېدلو څخه بچ نه شي پاتې کېدلی.
لنډه دا چې: که د "و" په عوض د "أو" کلمه استعماله شوې وی نو ذکر شوو ټولو صورتونو ته به ايت شريف نه وی شامل شوی.

﴿ لَيْسُوا۟ سَوَآءً ۗ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَتْلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَأُو۟لَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾ وَمَا يَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلَن يُكْفَرُوهُ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾ ﴾

[۱۱۳] دوی (اهل الکتاب) يو برابر نه دي. د اهل الکتابو څخه يوه ډله داسې ده چې (د شريعت په احکامو باندې کلکه) ولاړه ده، دوی د الله ﷻ ايتونه د شپې په مختلفو برخو کښې په داسې حال کښې لولي چې دوی سجده کوونکي (لمونځ کوونکي) وي (فرضي وي او که نفلي).

[۱۱۴] دوی په الله ﷻ او هم د قيامت په ورځې باندې (په صحيحو معناوو کښې) ايمان راوړي او په نېکو باندې امر کوي او هم د منکراتو څخه منعه کول کوي او په خيريه کارونو کښې جلتي کوي او همدوی د صالحانو څخه دي.

[۱۱۵] او هغه شی چې دوی وکړي هر خير چې وي نو هيڅکله به يې ناشکري ونه شي کړی (جزا به پوره ورکړی شي). او الله ﷻ په متقيانو باندې پوه دی (د هر چا درجه ورته معلومه ده).

شان نزول

د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې کله عبدالله بن سلام ﷺ او څو نورو صحابه وو کرامو ﷺ ايمان راوړ او يهوديت يې پرېښود نو د دوی مشرانو او ملايانو ورپورې پروپاګند شروع کړ چې دوی ډېر بد خلک دي د خپلو پلرونو دين يې پرېښود او په قرآن کريم باندې يې ايمان راوړ، نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه[۱]؛ چې دوی نېک خلک دي او تاسو بد خلک ياست چې سره د علمه په خپل جهل باندې کلک ياست او اسلام نه قبلوئ.

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۲۹۶

ارتباطونه

۱_ په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ د اهل الکتابو تقسيم ته اشاره کړې وه چې ځينې يې مؤمنان دي او اکثره يې فاسقان دي. په دې ايتونو کښې يې په همدغه مضمون باندې بنه پوره رڼا واچوله چې ټول يو برابر نه دي، تر آخره پورې.

۲_ هلته د هغوی په سوانحو کښې ثابته شوې وه چې په دوی باندې ذلت او مسکنت خيمې وهلې دي او د الله ﷻ په غضب باندې ککړ دي او دلته د همدغو سوانحو څخه يو ټولګی ووېستلی شو چې د وتلو دروازه لا تر اوسه نه ده بنده شوې دوی کولی شي چې په مختار امت کښې داخل شي او د بدو سوانحو څخه ځانونه راخلاص کړي لکه چې عبد الله بن سلام ﷺ او ځينو نورو صحابه وو کرامو ﷺ ترې ځانونه راخلاص کړي دي.

۳_ او هم ټول مسلمانان په غوږ باندې ووهل شوه چې د ذکرې شوې بدې سوانحو نسبت هغو صحابه وو ﷺ ته ونه کړي چې هغوی په ايمان باندې مشرف شوي دي. او هم هغوی وپوهول شوه چې کله د يهودانو بده سوانح بيانېږي هلته تاسو مراد نه ياست، تاسو خو دا- دا صفات لرئ: هلته هغه بني اسرائيل مراد دي چې دا-دا صفات ونه لري. لنډه دا چې هغه ايتونه په دې ايتونو سره د دې دپاره تعقيب شوه چې مسلمانان پيغور ورنه کړي او هغوی مايوسه نه شي.

د مطلب خلاصه

يعنې: ای مؤمنانو! ټول اهل الکتاب يو برابر نه دي چې د قرآن کريم په حقانيت باندې ټولو سترګې پټې کړې وي او يو هم ورباندې ايمان رانه وړي، بلکې په دوی کښې يوه ډله شته چې په اول کښې يې په خپل کتاب باندې په حقه توګه ايمان راوړی دی چې همدا ايمان يې د دې سبب شوی دی چې په قرآن کريم باندې هم ايمان راوړي او په خَيْرَ أُمَّةٍ (مختار امت) کښې شامل شي. کوم صفات چې هغوی لري هغه دوی هم لري، الله ﷻ توفيق ورکړ، د غضب څخه رحمت ته راووتل: چې صفات يې دا دي:

۱_ دغه ټولګی په دين باندې کلک ولاړ دی، نه ورباندې د خپلو قومیانو پروپاګند تاثير کوي چې د حقې لارې څخه واوړي او نه يې دنياوي شته او دارايي د تاثير لاندې راوستلی شي چې دنيا ته په آخرت ترجيح ورکړي.

۲_ دوی د شپې په مختلفو وختونو کښې د الله ﷻ ايتونه په داسې حال کښې لولي چې لمونځ کوونکي وي. يعنې برسېره په فرضي لمونځونو باندې نفلي او د تهجد لمونځونه هم اداء کوي.

۳_ دوی په الله ﷻ باندې په حقيقي توګه ايمان راوړی او د خپل عمر د آخرنۍ سلګۍ پورې ادامه ورکوي. نه ورسره په عبادت کښې شريک دروي او نه يې د کوم يو پيغمبر څخه انکار کوي.

۴_ همدارنګه دوی په آخرنۍ ورځ (قيامت) باندې هم په واقعي ډول ايمان راوړي، چې د هر چا

سره به د خپلو اعمالو محاسبه وکړه شي او هيڅ يو کس به هم د بل پېټی په اوږو وانخلي او نه به د چا دپاره نسب په کار ورشي، که څه هم د پیغمبرانو د اولادو څخه وي.

لنډه دا چې په آخرت باندې پخه عقیده لري چې نسب نه د جنت د داخلېدلو سبب ګرځېدلی شي او نه د دوزخ څخه د نجات باعث جوړېږي.

۵ـ دوی د خپلې وسې په اندازه نورو خلکو ته په شرعي احکامو امر کوي او د اسلام د طرفدارانو په ډېروالي او په وړاندې تګ باندې يې خوشالېږي.

۶ـ دوی همدارنګه د شرعي منکراتو څخه خلک منعه کوي او د هر چا په کجروۍ باندې خپه کېږي که په دې باره کښې وسله وال جهاد ته حاجت پېښ شي هم ورته چمتو دي.

۷ـ دوی د خير په کارونو کښې د نورو څخه جلتي کوي، سست او تنبل نه دي چې په ښېګنو کښې وروسته-وروسته کېږي.

دغه ډله چې ذکر شوي صفات ولري دوی د صالحانو د جملې څخه دي، د دوی سره هغه څوک هيڅکله نه شي برابرېدلی کوم چې په خپل دين کښې فاسق وي او حتی د حق او باطل يې سره ګډوډ کړي، او برسېره په دې چې د قرآن څخه انکار کوي د اسلام په حقانيت کښې هم خلکو ته شک او شبهې وراچوي او هم د خلکو د مسلمانېدلو مخه نيسي، بلکې همدې خبرې ته منتظر وي چې کاشکې داسې وخت راشي چې د مسلمانانو بېخ ووځي او پوپنا شي.

د دغو صفاتو خاونده ډله د الله ﷻ په نزد معززه او بهتره ډله ده، دوی چې هر يو نېک کار وکړي د هغه به ناشکري ونه کړی شي او بې اجره به پرېښنبودل شي، بلکې د دوی د نېک عمل ډېر ووړکی اجر به لس چنده ورکړی شي او لا د دې څخه پورته چندونه به هم ورکړی شي، ځکه چې الله ﷻ په متقيانو باندې پوه دی د هر متقي د تقوی اندازه او ارزښت ورته معلوم دی.

توضيحات

۱ـ که څه هم په دې مقام کښې د اهل الکتابو يوه ډله توصيفه شوې ده چې دا-دا صفات لري خو مشخصه شوې نه ده، چې دوی په خپل دين کښې ذکر شوي صفات لري او که د هغه څخه وروسته په اسلام باندې مشرف شوي دي د دې صفاتو خاوندان شوي دي.

مګر د دې سورت په آخر کښې واضحه شوې ده چې دلته په اسلام باندې مشرفه ډله مطلب ده، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَمَن يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشْتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ﴾ [آل عمران: ۱۹۹] يعنې: او بې شکه د اهل الکتابو څخه هغه څوک هم دي چې په الله ﷻ باندې ايمان راوړي او هم په هغه شي چې تاسو ته درنازل شوی او په هغه شي باندې هم چې دوی ته ورنازل شوی دی، په داسې حال کښې چې خاص الله ﷻ ته عاجزي کوونکي دي او د الله ﷻ په ايتونو باندې ناچيزه پيسې نه اخلي.

دغه ډله څومره کسان وه؟

۲ـ څرنګه چې یهود په عداوت کښې ډېر کلک دي او هم یې زړونه ډېر سخت دي نو د دوی څخه د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې ډېر لږ خلک په اسلام باندې مشرف شوي دي لکه عبد الله بن سلام او څه نور. او په وروستني زمانه کښې هم مونږ ته معلومات نشته چې کوم یو یهودي به مسلمان شوی وي، او په خپل عمر کښې خو مونږ نه چرته د رادیوګانو څخه د دوی د مسلمانېدلو څه اورېدلي دي او نه مو چرته په جرائدو کښې لوستي دي.

اما بالمقابل د نصاراوو عداوت د هغوی په پرتله کمزوری دی او هم یې زړونه نرم او څه ناڅه ترحم لري، نو ځکه دوی په اسلام باندې زښت ډېر مشرف شوي دي او لا مشرف به شي.

مونږ په خپل عصر کښې هم اورېدلي دي، هم مو لیدلي دي او بالآخره هم مو لوستي دي چې د دوی څخه ځینې کسان په ایمان مشرف شوي دي. او د نبي کریم ﷺ د زمانې د مسلمانو شوو نصارا وو په هکله ځینو تفاسیرو لیکلي دي چې دوه دېرش (۳۲) تنه د حبشې څخه او څلوېښت (۴۰) تنه د اهل نجران څخه او اته (۸) تنه د رومیانو څخه په اسلام باندې مشرف شوي وه چې اتیا (۸۰) تنه کېږي، دوی ټول عیسویان وه او په محمد ﷺ باندې یې ایمان راووړ[۱].

د سجدې څخه لمونځ مراد دی

۳ـ دا جمله ﴿ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ ﴾ د تلاوت کوونکو څخه حال واقع شوی دی نو که د سجدې څخه لمونځ مراد نه شي معنی به یې داسې شي چې دوی د سجدې په حالت کښې د قرآن کریم تلاوت کوي. او نبي کریم ﷺ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «أَلَا وَإِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا»[۲] یعنې: خبردار! او زه منعه کړی شوی یم چې قرآن کریم د رکوع او یا د سجدې په حالت کښې تلاوت کړم.

نو دلته د لمانځه څخه د سجدې په رکن سره تعبیر کړی شوی دی لکه چې کله-کله ترې د قیام په رکن سره هم تعبیر کېږي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾ [البقرة:۲۳۸] یعنې: او خاص د الله ﷻ دپاره د عاجزۍ په حالت کښې ودرېږئ (لمونځونه وکړئ).

۴ـ د ﴿ فَلَن يُكۡفَرُوهُ ﴾ کلمه د "كُفْرَانُ النِّعْمَة" څخه اخستله شوې ده چې د پټولو په معنی سره ده. کله چې د یوه نعمت بدله ورکړی شي دې ته شکر او شکریه وایي او کله چې ورنه کړی شي نو هغه ته "كُفْرَانُ النِّعْمَة" ویل کېږي، ته به وایې چې نعمت پټ کړي شو او خاورې ورباندې وارولی شوې. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کوي چې فرمایي: ﴿ فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ ﴾ [الأنبياء:۹۴] یعنې: نو هرڅوک چې د صالحو اعمالو څخه عمل وکړي حال دا چې مؤمن وي نو (د الله ﷻ په نزد) د هغه د هلو ځلو ناشکري نشته؛ پوره بدله به ورکړی شي.

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۳۴۳
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۱۹۱

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ

أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۚ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١١٦﴾ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَثَلِ

رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنْ

أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٧﴾ ﴾

[۱۱۶] بې شکه هغه کسان چې کافر شوي دي د دوی څخه به د دوی مالونه او اولادونه هیڅ شی دفعه نه کړی شي، او همدغه کسان د اور اندیوالان دي، دوی به په اور کښې همېشه وي.

[۱۱۷] د هغه شي مثال چې دوی يې په دغه حقیر ژوند کښې نفقه کوي (د اسلام په عداوت کښې، په رياکارۍ کښې، د غير الله ﷻ په عبادت کښې او په نورو فسق او فجور کښې) داسې دی لکه باد چې ډېره یخني پکښې وي (او) د داسې قوم کروندې ته ورسېږي چې هغوی په خپلو خانونو باندې ظلم کړی وي (او الله ﷻ ورته په غضب شوی وي) نو دغه کرونده هلاکه کړي.

او الله ﷻ په دوی باندې تېری نه دی کړی (چې مالونه يې ورته مفيد نه واقع کوي) مګر دوی په خپلو خانونو باندې پخپله ظلم کوي (چې په کفر باندې کلک دي، که نه نو هيڅ بې قدري به يې نه وی شوې).

ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د اهل الکتابو څخه د مسلمانې شوې ډلې حال بيان شوی وه چې د هغوی د هرې يوې ښېګڼې قدرداني کېږي او په دنيا او آخرت کښې ورته نفعه رسوي.

په دې ایتونو کښې د کافرې ډلې حال بيانېږي چې نه ورته مالونه فائده رسولی شي او نه به يې اولادونه په درد وخوري.

د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: کافران او مسلمانان د الله ﷻ په نزد هيڅکله نه شي برابرېدلی څکه چې د مسلمانانو هيڅ خيريه عمل بې مکافاته نه پرېښودل کېږي، که اولادونه يې ژوندي وي نېک اعمال يې ورته ګټه ده او چې مړه شي د صبر په سبب باندې ورته د جنت د داخلېدلو باعث جوړېږي، همدارنګه مالونه هم دوی ته په دنيا او آخرت کښې ګټه ده چې په دنيا کښې ترې استفاده کوي خو د غنې غم (حرص) څخه يې په امن کښې دي، او په آخرت کښې خو واضحه خبره ده چې د هغوی د يوې ښېګڼې ناشکري به هم ونه شي کړی او هيڅ نفقه به يې ضائعه نه شي.

۲ـ بالمقابل د کافرانو نه اولادونه په درد خوري او نه مالونه، خو د دې سره-سره دوی ورپوري داسې نښتې دي ته به وايې چې همدغه يې د دنيا او آخرت د نجات اسباب دي. دغسې نه ده، نه به

دوی ته په دنیا کښې نجات ورکړی شي لکه فرعونیانو ته یې چې نجات ورنه کړی شو. او نه په آخرت کښې، د دوی د اور سره کلکه اندېوالي ده داسې اندېوالي چې هیڅکله به ترې جدا نه شي

۳ـ ای مؤمنانو! لاندې مثال ته ښه متوجه شئ؛ ترڅو مو سرونه ښه خلاص شي چې کافرانو ته مالونه هیڅ ګټه نه شي رسولی، او په دنیا کښې چې څه دوی ته ورکړی شوي دي دا د دې دپاره نه دي چې دوی الله ﷻ ته ګران او محترم دي، بلکې دا د دې کبله ورکړی شوي دي چې الله ﷻ ته دنیا څه اهمیت نه لري خکه یې دښمنانو ته هم ورکوي. مثال دا دی چې:

یو ظالم قوم وي او څه کښت او زراعت ولري چې ښه سمسور وي او ښه حاصلات یې نیولي وي، دوی ورته زیات هیله مند وي خو په عین وخت کښې د هغوی د ظلم د کبله ورباندې الله ﷻ خپل غضب نازل کړي او داسې سوړ باد ورباندې مسلط کړي چې د سوړوالي د کبله کښت او حاصلات ټول توره ایره جوړ کړي.

نو لکه څنګه چې دغو ظالمانو کروندګرو ته د خپل کښت او زراعت څخه څه شی په لاس نه ورځي همدارنګه کافرانو ته هم مالونه څه ګټه نه شي رسولی، لکه څنګه چې هغوی په خپلو ځانو باندې ظلم کړی دی چې الله ﷻ ورته په غضب شوی وه همدارنګه دوی هم په ځانو ظلم کړی دی چې کفر یې اختیار کړی دی او الله ﷻ موافقه جزا ورکړې ده او بس.

دا وه د دوی د مالونو مثال، همدارنګه د دوی د اولادونو مثال هم درواخلئ؛ چې هیڅ په ښه باندې به یې ورنه شي.

توضیحات

۱ـ د [آل عمران: ۱۰] ایت لاندې په دې باره کښې چې مالونه او اولادونه کافرانو ته ګټه نه شي رسولی، څه لیکلی شوي دي چې باید دلته یو ځل بیا وکتل شي. خو په دې ځای کښې وربانډې یوازې همدومره اضافه کوو چې اولادونه او مالونه هغوی ته په دنیا او آخرت کښې د تعذیب سبب هم جوړېږي. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴾ [التوبة: ۵۵] یعنې: نو د دوی مالونه او اولادونه دې تا په تعجب کښې وانه چوي (چې د کفر سره‑سره یې ورته ورکړي دي، او دا ځکه چې) بې شکه الله ﷻ د دې خبرې اراده کړې ده چې دوی وربانډې په حقیر ژوند کښې معذب کړي او (د دې دپاره چې) ارواګانې یې وځي په داسې حال کښې چې دوی کافر وي. (یعنې په دواړو دارینو کښې یې د تعذیب سبب جوړ شي).

"صِرٌّ" څه معنی؟

۲ـ د ﴿ صِرٌّ ﴾ کلمه د "صَرْصَر" څخه اخستله شوې ده او "صَرْصَر" تېز اواز ته وایي، د همدې کبله همیانۍ ته "صُرَّةٌ" وایي چې پیسې پکښې اواز کوي او شرنګېږي. مګر په دې مقام کښې یې

مفسرینو کرامو لاندې معناوې کړې دي(۱):

الف: اکثریت وايي چې دلته د "بَرْد" (یخنی) په معنی ده.

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې دلته د اور معنی ورکوي. او په بل روایت کښې وايي شدیده یخني ترې مراده ده.

ج: دلته هغه اواز مطلب دی چې تېز باد يې د تیرو په رغړولو سره پیدا کوي.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي درېواړه معناوې سره منافات نه لري، او دا ځکه چې تېز باد اواز کوي او کښتونه کله په حرارت سره سوزي چې ګرم وي او کله په برودت (سوړوالي) سره سوزوي چې ډېر سوړ وي. نو په دې تقدیر به د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په ترجمه کښې د اور (نار) څخه سوزول مطلب شي. نو د معنی حاصل به يې داسې شي: لکه شدید سوړ باد چې کښت هلاکوي همدارنګه د کافرانو دنیاوي انفاق هم د دوی دپاره وژونکي زهر دي، دوی چې هرڅومره ډېر انفاق د اسلام په عداوت او دښمنۍ کښې د بوتانو په عبادت کښې او په ریاکارۍ کښې وکړي په همغې اندازه يې کفر قوي کوي او د دوزخ عذاب يې درنېږي.

او یا په بل عبارت: د کافرانو د نفقه شوو مالونو کیفیت داسې ظالمانو کروندګرو ته ورته دی چې کرونده يې د ظلم د کبله هلاکه شي.

سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: سوزوونکی باد خو د هر چا کرونده د کاره وباسي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې دلته ﴿ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوٓا ﴾ کښې د کروندې نسبت ظالمانو ته وکړی شو؟

مونږ وایو چې: د ظالمانو کروندګرو کرونده چې د ظلم د کبله هلاکه شي نو خاوندانو ته يې هیڅ ګټه نه شي رسېدلی، لکه چې الله ﷻ د یوه باغ د خاوندانو قیصه په [القلم:۱۷ـ ۳۳] ایتونو کښې بیانه کړې ده چې د خپل باغ حاصلات يې د فقیرانو څخه په پټه راټولول چې که راباندې خبر شي څه خیرات او صدقات به راڅخه وغواړي، نو الله ﷻ يې باغ پوینا کړ.

هو! کله-کله د مسلمانانو مالونو ته هم د الله ﷻ د حکمتونو څخه د یوه حکمت په بنا صدمه رسېږي او د منځه ځي، اما دوی بالکل بې برخې نه پاتې کېږي ځکه چې صبر کوي او په دنیا او آخرت کښې يې عوضونه ترلاسه کوي. نبي کریم ﷺ همدې ته اشاره کوي چې: «عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَلِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ»(۲) یعني: د مؤمن کار ته تعجب کوم چې هر یو کار يې ورته ګټه ده او هر یو کار د بل هیچا دپاره ګټه نه ده مګر د مؤمن دپاره، که خوشالي ورته ورسېږي شکر کوي نو خوشالي ورته شي. او که څه خپګان ورته پېښ شي صبر کوي نو خپګان ورته خیر جوړ شي.

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۲۰؛ تفسیر الطبري ج۴ ص۵۹
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۳

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا۟ مَا عَنِتُّمْ قَدْ
بَدَتِ ٱلْبَغْضَآءُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ وَمَا تُخْفِى صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ۖ إِن كُنتُمْ
تَعْقِلُونَ ﴿١١٨﴾ هَٰٓأَنتُمْ أُو۟لَآءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِٱلْكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمْ
قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْا۟ عَضُّوا۟ عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ مِنَ ٱلْغَيْظِ ۚ قُلْ مُوتُوا۟ بِغَيْظِكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ
عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١١٩﴾ إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا۟ بِهَا ۖ
وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾﴾

[۱۱۸] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د خپلو خانو څخه تیټ خلک (کافران) رازدار مه جوړوئ (ځکه چې) دوی تاسو ته د فساد په پیدا کولو کښې هیڅ قصور نه کوي، دوی ستاسو مشقت خوښوي. په یقین سره د دوی د خولو څخه د دښمنۍ خبرې دربنکاره کېږي او کوم (عداوت) چې د دوی سینې (زړونه) یې پټوي هغه ډېر لوی دی.

بې شکه مونږ تاسو ته خپل ایتونه (احکام د دلایلو په رڼا کښې) بیان کړه، که تاسو د عقل څخه کار واخلئ (نو په عمل کښې به یې پیاده کړئ).

[۱۱۹] خبردار! تاسو ای دغو (خلکو چې کافران درسره کلک عداوت کوي) د هغوی سره مینه کوئ (چې د دوزخ څخه نجات ومومي) او هغوی درسره مینه نه کوي (کفر ته مو بلي) او تاسو په ټولو کتابو باندې ایمان راوړئ (او هغوی ستاسو په کتاب ایمان نه راوړي).

او کله چې تاسو سره ملاقي شي وایې چې مونږ ایمان راوړی دی او کله چې یوازې شي نو ستاسو (په اتفاق او خوشالۍ) باندې د ګوتو سرونه د غُصې څخه چیچي.

ورته ووایه چې په غُصې سر مړه شئ (که هرڅومره په غُصه شئ د الله ﷻ اراده نه شئ بدلولی).

بې شکه الله ﷻ د سینو په حالاتو باندې پوه دی.

[۱۲۰] که ستاسو سره لږ څه نیکي پیوسته شي نو دوی خپه کوي او که څه مصیبت (خپګان) درته ورسېږي نو دوی ورباندې خوشالېږي.

او که تاسو صبر وکړئ او (د الله ﷻ څخه) ودار شئ، نو د دوی پټ تدابیر به درته هیڅ شی ضرر ونه شي رسولی.

بې شکه الله ﷻ په هغو کارونو باندې چې دوی یې کوي (په علم او قدرت سره) احاطه کوونکی دی.

ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو کړه وړه بیان شوه چې د مومنانو په عداوت کښې د خپل توان په اندازه د مالونو مصرفولو څخه ډډه نه کوي. اګر که څه فائده ورته نه شي رسولی. په دې ایتونو کښې مومنانو ته ښودانه شوې ده چې باید دوی یې په مقابل کښې څه وکړي.

د مطلب خلاصه

یعنې: ای مومنانو! که څه هم تاسو د کافرانو سره څه ناڅه اړیکې لرئ لکه د جاهلیت د وخت رفاقت، نسبي قرابت، د رضاع نژدېکت، تحالف او تعاهد او داسې نور، مګر تاسو ته په کار دي چې هغوی د خانونو دپاره رازدار جوړ نه کړئ. ځکه چې هغوی ستاسو څخه دون (ټیټ) خلک دي، د دې لیاقت نه لري چې ستاسو په رازونو باندې خبر شي؛ چې دوی به ترې د اسلامي ټولنې په ضد بده استفاده وکړي او د تخریب چلونه به ورته ترتیب کړي. لاندې دلایلو ته متوجه شئ:

۱ـ کافران په دې ښې هیڅ سستي او قصور نه کوي چې تاسو ته څه فساد په غاړه کښې دروا چوي او په څه بلا باندې مو اخته کړي.

۲ـ ستاسو مشقت او غم د دوی ډېر خوښ دی؛ په تاسو باندې چې هرڅومره مشکلات زیاتېږي دوی ترې خوند اخلي.

۳ـ دوی تاسو سره په پټه کښې ډېر عداوت او دښمني لري چې کله-کله یې بې اختیاره د خولو څخه د دښمنۍ خبرې راوځي او لږ څه زړه وربانډې سړوي.

۴ـ خو کومه دښمني چې دوی یې په زړونو کښې ساتي هغه ډېره لویه ده، د هغې د لویوالي اندازه به تاسو ته په هغه وخت کښې څرګنده شي چې دوی د ضرر رسولو څه توان مونده کړي.

ای مومنانو! مونږ خو په یقین سره تاسو ته خپل مدلل احکام درنازل کړه که تاسو د عقل څخه کار واخلئ، تاسو به هم پوه شئ چې بې شکه ذکرې شوې وجې واقعیت لري.

۵ـ تاسو خو د کافرانو سره مینه لرئ چې اسلام ته یې دعوت کوئ خو هغوی تاسو کفر ته دعوت کوي، ستاسو وربانډې زړونه سوزي چې د دوزخ څخه خلاص شي خو هغوی غواړي چې تاسو د دوزخ خاشاک جوړ شئ. نو د داسې خلکو رازداري څه په کار ده چې په هیڅ وجه نه زړه سوی لري او نه مینه محبت.

۶ـ تاسو په ټولو کتابونو باندې ایمان لرئ حتی چې د اهل الکتابو اسماني کتابونه هم پکښې شامل دي لکه تورات، انجیل او داسې نور، مګر دوی د دې سره-سره ستاسو په وینو نه مړېږي. ایا هغه څوک رازدار جوړول مناسب دي چې د نژدېکت د موجباتو سره-سره درڅخه لرې کېږي؟، په اصطلاح چې تاسو یې مړی ژاړئ او هغوی مو خولو پورې خاندي.

که بالفرض تاسو د دوی په شان د خپل کتاب څخه په غیر په بل اسماني کتاب باندې ایمان نه درلودی، نو په هغه وخت کښې خو به د دوی دښمني په سل چنده نوره هم زیاته وي.

۷ـ په کافرانو کښې داسې خلک هم شته چې کله ستاسو سره ملاقي شي نو وایي چې ﴿ءَامَنَّا﴾

مونږ ایمان راوړی دی ترڅو ستاسو زړه سوی او علاقه ورسره نوره هم قوي شي او په رازداری کښې وربانديې پوره اعتماد وکړئ، مګر کله چې په خنګ شئ نو د غُصې څخه د ګوتو څوکې چیچي. نو معلومه شوه چې دوی په هیڅ وجه ستاسو دوستان نه شي جوړېدلی او معلومه شوه چې په زړونو کښې یې درته ډېر لوی عداوت نیولی دی.

نو ای پیغمبره! ورته ووایه چې د غُصې څخه مړه شئ، یعنې که د قهر او غضب څخه مړه هم شئ د الله ﷻ ارادې ته به تغیر ورنه کړی شئ او دا ارمان به خاورو ته یوسئ. الله ﷻ ته ستاسو د زړونو حال پوره څرګند دی، که د مسلمانانو څخه یې پټ کړئ نو د الله ﷻ څخه یې نه شئ پټولی، الله ﷻ یې دوی ته په دلایلو سره ورښکاره کوي.

۸ـ ای مؤمنانو! کله چې تاسو سره خوشالي تماس پیدا کوي که څه هم ډېره لږه وي نو کافران دربانديې سخت خپه کېږي او لږ خوشالي یې هم دربانديې نه پېرزو کېږي. مګر بالمقابل چې کله درته څه مصیبت او خپګان رسېږي نو دوی دربانديې خوشالېږي او زړونه یې غواړي چې مصیبت مو لا پسې غټ او قوي شي.

نو ای مؤمنانو! تاسو ته توصیه کېږي چې په شریعت بانديې کلک شئ، د الله ﷻ په اوامرو بانديې عمل وکړئ او د مناهیو څخه یې پرهېز وکړئ. نو که تاسو صبر او تقوی وکړه، د کافرانو مکرونه او چلونه به درته هیڅ ضرر ونه شي رسولی او دا ځکه چې د هغوی ټول اعمال د الله ﷻ د علم او قدرت د احاطې لانديې دي، چې د الله ﷻ اراده نه وي د هغوی د لاسه څه پوره نه دي. نو ترڅو چې تاسو په صحیحو معناوو کښې مؤمنان یاست په هغوی بانديې به په هره زمانه او هر ځای کښې برلاسي یاست، د برلاسی دپاره همدا قاعده د ځانو سره وساتئ. د وحې د نزول زمانه محدوده ده، نبي کریم ﷺ هم انسان دی، ضرور د مرګ سره مخامخ کېدونکی دی، همېشه به ژوندی نه وي چې تاسو ته موقع په موقع د غیبو څخه خبر درکړي.

توضیحات

۱ـ که څه هم ذکر شوي ایتونه ځینو مفسرینو د اهل الکتابو په باره کښې او ځینو د منافقانو په باره کښې ګڼلي دي[۱] لکه چې ﴿ وَتُؤْمِنُونَ بِٱلْكِتَـٰبِ كُلِّهِۦ ﴾ او ﴿ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا ﴾ وربانديې دلالت کوي مګر بهتره دا ده چې په عموم بانديې پرېښودلی شي چې ټولو کافرانو ته شامل شي لکه چې د ﴿ مِّن دُونِكُمْ ﴾ د جملې څخه معلومېږي.

هوا که په کوم کافر کښې د ذکر شوو اتو وجو څخه کومه یوه موجوده نه وي باک یې نشته. ځکه چې که په یوه کښې موجوده نه وي په بل کښې به موجوده وي، دا ضرور نه ده چې په هره یوه کښې ټولې وجې په اجتماعي توګه موجودیت ولري.

(۱) البحر المحیط ج۳ ص۳۸

"بطانة" څه معنی؟

۲ـ د "بطانة" او "باطن" کلمې د یوه مصدر (بَطَن) څخه اخستلې شوې دي. په عربي ژبه کښې هر پټ شي ته "بَطَن" وایي او هر ښکاره شي ته "ظهر" وایي[1]، نو "بطانة" د هغه چا نوم دی چې سړی یې په پټو رازونو باندې خبروي او هیڅ ترې نه پټوي.

په دې مقام کښې الله ﷻ مؤمنانو ته توصیه کوي چې د کافرانو څخه د خانو دپاره "بطانة" مه جوړوئ چې اسرار ورسره شریک کړئ او دا ځکه چې دا یوازې تاسو ته ضرر نه دی بلکې ټولې اسلامي ټولنې ته په ضرر تمامېږي. په دې اړوند د [آل عمران: ۲۸] ایت لاندې ګڼور معلومات لیکلی شوي دي ـ والحمد لله ﷻ.

مسلمانان با رحمه دي

۳ـ سبحان الله! مسلمانانو ته په بالمثل عمل باندې توصیه ونه شوه چې د کافرانو په منځکښې د فساد اور بل کړئ او د هغوی سره خدعه (ټګي) او منافقت وکړئ او داسې نور بالمثل عمل ورسره اجراء کړئ، بلکې دوی ته صرف په لاندې دوه شیانو باندې توصیه وشوه چې:

اول: هغوی د خانو دپاره رازدار مه جوړوئ چې ټولې اسلامي جامعې ته ضرر دي.

دوهم: ځپل صبر او استقامت قوي کړئ، اتفاق او اتحاد پیاوړی کړئ، د الله ﷻ څخه وډار شئ او په همده ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړئ چې هرڅه یې په واک او اختیار کښې دي.

برسېره په دې په [الممتحنة: ۸] آیت کښې د دې اجازه هم ورکړه شوې ده چې د غیر حربي کافر سره که نیکي وکړئ هم بده نه ده.

نو معلومه شوه چې اسلامي ټولنه ډېره با رحمه ټولنه ده. د دې ډېر ښه مثال د افغانستان لاندې دوه حالتونه دي:

الف: کله چې په افغانستان کښې کمونستي رژیم په اقتدار منګولې ښخې کړې نو په زرګونو مسلمانان یې ځوک شهیدان او ځوک ترې تم کړه چې د نن ورځې پورې یې لا پته نه ده معلومه چې څه شوه، ماشومان یې تر اوسه د راتلو په انتظار دي، او د هجرت کاروانونه خو د هیچا څخه پټ نه دي.

ب: خو کله چې هلته مجاهدین ورداخل شوه، نه یې هغوی بندیان کړه او نه یې ووژل. هوا ځینو وطن پرېښود او وتبتېدل خو دا د دې کبله چې دوی په مجاهدینو باندې د خپلو ځانو ګومان کاوه چې دوی به هم زمونږ په شان بې رحمه وي او زړه سوی به راباندې ونه کړي. او یا د دې کبله چې هغوی د ارتداد څخه علاوه نور جنایات کړي وه او د شرعي حکم د تطبیق څخه وډار شوه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۹

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: د اسلام په وړاندې تګ باندې په غُصه کېدل خو کفر دی او د ﴿ مُوتُواْ بِغَيْظِكُمْ ﴾ د معنی حاصل داسې کېږي چې د مرګ د وخته پورې خپلې غُصې (کفر) ته ادامه ورکړئ، ايا دا صحت لري؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو د همدې سوال دپاره متعدد جوابونه کړي دي:

الف. ځينې وايي چې د الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته امر کوي چې کافرانو ته په ﴿ مُوتُواْ بِغَيْظِكُمْ ﴾ سره ښېرا وکړه[۱]، يعني چې تاسو د اسلام په پرمختګ باندې په غُصه ياست په همدې حال باندې هلاک شئ. مګر دا جواب د لاندې وجوهو د کبله خوندور نه دی:

اول. که څه هم نبي کريم ﷺ ځينو اشخاصو ته ښېراوې کړي دي مګر د يو قوم د ښېراوو اجازه نه ده ورکړه شوې لکه چې فرمايي: ﴿ لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَيْءٌ ﴾ [آل عمران: ۱۲۸] يعني: تاته د دې کار څخه هيڅ اختيار نشته.

دوهم: که بالفرض نبي کريم ﷺ ته امر شوی وی چې کافرانو ته ښېرا وکړه نو ټول به دستي هلاک شوي وی ځکه چې پيغمبر ﷺ چې د الله ﷻ په اجازه باندې هره يوه غوښتنه وکړي هغه قبلېږي. او که دستي نه وی هلاک شوي نو د کفر په حالت کښې خو به ضرور هلاک شوي وی حال دا چې د همدغو کافرانو څخه، چې په ﴿ مُوتُواْ ﴾ باندې مخاطب کړی شوي وه، ځينې ځينې په ايمان مشرف شوه. نو معلومه شوه چې د ايت مضمون ښېرا نه ده.

ب. ځينې وايي چې که څه هم په ﴿ مُوتُواْ بِغَيْظِكُمْ ﴾ سره کافران مخاطب کړی شوي دي چې خپلې غُصې ته ادامه ورکړي خو دا په حقيقت کښې د اسلام د ترقۍ غوښتنه ده[۲]، يعني الله ﷻ دې اسلام ته نوره ترقي هم ورکړي چې ستاسو غُصه لا پسې زياته شي او آن د مرګه پورې مو ورسوي. دا جواب هم متبادر نه دی.

ج. مونږ ته داسې ښکاري چې د ﴿ مُوتُواْ بِغَيْظِكُمْ ﴾ په جمله کښې د مفرداتو معناوې مرادې نه دي بلکې ترکيبي مفهوم يې مراد دی چې د غُصې موثريت دی[۳]، يعني ای کافرانو! په تاسو باندې خو د مسلمانانو اتفاق او د اسلام پرمختګ ډېر دروند تمامېږي او زيات وربانداې خپه کېږئ مګر هيڅکله به د الله ﷻ د ارادې مخه ونه شئ نيولی. که بالفرض تاسو د ډېره غضبه خانونه مړه کړئ هم د اسلام په رڼا باندې به ټوله دنيا رڼا شي.

نو د دې دپاره چې دا جواب ښه واضحه شي او ترڅو د قرآن کريم په نورو ځايونو کښې يې تشريح ته ارتيا پاتې نه شي، لاندې څو مثالونه ولولئ:

---

(۱) تفسير الطبري ج۳ ص۶۷؛ روح المعاني ج۴ ص۴۰
(۲) تفسير الكشاف ج۱ ص۴۰۷
(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۹۹

اول: د ﴿ عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ ﴾ د جملې څخه هم د مفرداتو معناوې مرادې نه دي چې د ګوتو چیچل دي، بلکې ترکيبي مفهوم يې د غُصې د شدت څخه کنايه دی.

دوهم: د ﴿ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴾ جمله هم د الله ﷻ د کامل علم او کامل قدرت څخه کنايه ده.

دريم: الله ﷻ فرمايي: ﴿ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ﴾ [الحج:١٥] يعني: هر څوک چې ګومان کوي چې د نبي کريم ﷺ سره به الله ﷻ هيڅکله په دنيا او آخرت کښې کومک ونه کړي نو د يوې وسيلې په واسطه دې اسمان ته پورته شي بيا دې وسيله پرې کړي (چې ښکته راولوېږي) نو ودې ګوري چې ايا د ده تدبير هغه څه د منځه يوړل چې دی يې په غُصه کړی وه؟ دا ايت هم د غُصې د نه موثريت څخه کنايه دی.

قرآن کريم د عربي ژبې د قواعدو مراعات په بليغه توګه ساتلی دی چې د ژبې پوهان ورباندې ښه پوهېږي. د همدې کبله يې ورباندې څه اعتراض نه کاوه، که نه نو هغوی خو اعتراض ته بالکل شنه ناست وه. په هره ژبه کښې څه داسې اصطلاحات شته چې تولو ژبوالو ته پوره څرګند دي او تول يې په مطلب باندې په ښه توګه پوهېږي خو که نابلده سړی يې واوري نو د خپل نابلدۍ د کبله مجبور دی چې ډول-ډول توجيهات پکښې وکړي ترڅو يې ورباندې سر خلاص شي.

﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ ﴾

[١٢١] او هغه وخت (ورپه ياد کړه) چې ته سهار وختي دخپله کوره (د بي بي عائشې رضي الله عنها د کوټې څخه) ورووتلې چې مومنان دې د جهاد دپاره ځای په ځای کول. او الله ﷻ اورېدونکی (او هم) پوه دی (ستاسو بحثونه يې واورېدل او په زړونو باندې مو پوه وه).

[١٢٢] هغه وخت چې ستاسو څخه دوه ډلو (بنو سلمه وو، بنو حارثه وو) څه نيت وکړ چې دواړه بې زړه شي، او الله ﷻ د دواړو ډلو کارساز دی (چې د منافقانو په لمسون باندې تېر نه وتل او د خپل نيت څخه صرف نظر شوه).

او خاص په الله ﷻ دې هرومرو مومنان توکل وکړي (چې د دغسې غتو مشکلاتو څخه نجات ورکړي).

ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې مومنان پوهول شوي وه چې کافران ستاسو په هکله د هيڅ ډول فساد څخه ډډه نه کوي او که تاسو صبر او تقوی ولرئ د هغوی فسادونه ګټور نه شي واقع کېدلی.

په دې ایتونو کښې د هغوی د فساد یو مثال ښودل شوی دی چې عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) درېو سوه تنه (خپله ډله) د أحد د غازیانو څخه په نیمائي لاره کښې بېرته تاو کړه او په دې چل باندې یې د مجاهدینو په صفونو کښې تزلزل واچاوه خو د الله ﷻ په فضل باندې د هر ژر دغه چل د منځه لاړ او څه ضرر یې ونه شو رسولی.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! مسلمانانو ته فقط همغه وخت وریه زړه کړه چې ته د بي بي عائشې رضی الله عنها د کوره په قصدي توګه ووتلې ترڅو د أحد د غره په لمن کښې د مجاهدینو صفونه د جنګ دپاره تیار کړې او هرې ډلې مجاهدینو ته د کښېناستلو مورچه وټاکې. نو دوی ته به هغه ټول جریانات وریه زړه شي کوم چې په هغه وخت کښې تېر شوي دي. دوی ته به وریه یاد شي چې ستا نظر دا وه چې د جنګ دپاره د مدینې منورې څخه بېرون ونه اوځي؛ او په داخل کښې دفاع ونیسي:

خو کله چې د اکثریت فیصله دا وه چې باید د جنګ میدان د ښار څخه دباندې وي نو تا همدغې فیصلې ته غاړه کېښودله او د کوره د همدې پروژې د تعمیل دپاره ووتلې خو په عین وخت کښې منافقانو فیصلې ته شا کړه او د لارې څخه بېرته ستانه شوه.

الله ﷻ هم اورېدونکی دی او هم پوه دی، ستاسو ټول جر او بحث یې اورېدلی دی او په فیصله باندې مو عالم دی.

۲ـ ای پیغمبره! ستاسو د وتلو وخت د هغه وخت څخه چندان جدا نه وه چې همدا ستاسو د جملې د مجاهدینو دوه قومونو د منافقانو په لمسون دې ته قصد وکړ چې د جنګ څخه بې زړه شي او پښې یې وښویېږي. خو څرنګه چې دوی صبر وکړ او په تقوی باندې کلک شوه، الله ﷻ یې پښې راټینګې کړې او د پښېمانۍ څخه یې نجات ورکړ. او دا ځکه چې الله ﷻ د دوی کارساز دی، همدارنګه د ټولو مؤمنانو کارساز دی، کارونه یې وربرابروي او د دښمنانو چلونه شنډوي؛ نو دوی ته په کار دي چې خاص په الله ﷻ باندې توکل وکړي او بس.

توضیحات

۱ـ د دې خای څخه نیولې شپیته ایتونه یعنې د [۸۰] ایت پورې د أحد د غزا په هکله نازل شوي دي[۱]، چې په مختلفو اړخونو یې ورته رڼا اچولې ده، مګر د قرآن کریم د بیان طریقه دا ده چې یوه قیصه د قیصه خوانانو په شان په ترتیب سره نه ذکر کوي بلکې د هرې قیصې څخه ځینې نکات را اخلي چې د وخت د غوښتنې سره برابر وي.

د همدې کبله د أحد د غزا قیصه په دې مقام کښې مرتبه نه ده ذکره شوې، که څوک یې د ترتیب شوقمند وي نو د سیرة النبي ﷺ کتابونو ته دې مراجعه وکړي. مونږ یې دلته په اجمالي توګه لاندې څو حلقو ته اشاره کوو ترڅو د ایتونو په تفسیر کښې ګټورې واقع شي:

(۱) تفسیر المراغي ج۴ ص۵۰

د اُحد موقعیت

۲_ اُحد د یوه غره نوم دی چې د مدینې منورې په شمال کښې د یو میل په فاصله پروت دی(۱)، دغې غزا ته ځکه د اُحد غزا وایي چې د همدې غره په لمن کښې یې د هجرت په دریم کال د شوال په میاشتې کښې صورت موندلی دی.

د اُحد د غزا سبب

۳_ د بدر په غزا کښې مسلمانان کمزوري هم وه خو د الله ﷺ په کومک باندې یې د کافرانو غټ مجهز لښکر ته فاحشه ماتې ورکړه چې اویا (۷۰) نفره یې مدینې منورې ته بندیان بوتلل او اویا (۷۰) نفره نور یې ووژل او په ځا کښې یې واچول.

دغې ماتې کافرانو ته سخت زور ورکړ چې د یو پلوه د دوی غټان او مشران پکښې مړه شوه او د بله پلوه د کمزورو مسلمانانو د لاسه دا کار ترسره شو؛ هغه مسلمانان چې دوی ورباندې دیارلس کاله ظلمونه کړي وه او بالآخره یې هجرت ته مجبور کړي وه. ماتې خوړل په هر وخت کښې ګران تمامیږي خو چې د کمزوري دښمن د لاسه څوک ماتې وخوري نو زښت ډېر ورباندې خپه کېږي.

د همدې کبله کله چې کافران مکې معظمې ته ماتې خوړلي بېرته ورستانه شوه او د وژل شوو ویرونه یې تېر کړه نو په شاوخوا قبائلو باندې وګرځېدل او تقریبًا د یو کال په اوږدو کښې یې یو درې زره بیز لښکر برابر کړ چې پوره مجهز وه حتی چې دوه سوه جنګي اسونه هم پکښې شامل وه. او هم یې د دې دپاره چې د جنګ په وخت کښې څوک ونه تښتي څوارلس زنانه هم بیولې وې چې د جنګ په حالت کښې به یې داریالونه وهل او د بدر د وژلو شوو نومونه به یې په اشعارو کښې یادول.

تردې چې د چارشنبې په ورځ د شوال په دولسم یې مدینې منورې ته مخامخ د "عَيْنَيْن" د غره په لمن کښې ډېره ونیوله او د حملې په تیاری یې پیل وکړ.

نبي کريم ﷺ مجاهدين مجهز کړه

۴_ کله چې نبي کريم ﷺ د لښکر د رسېدلو څخه خبر شو، د صحابه وو کرامو ﷺ سره یې مشوره وکړه چې ایا د مدینې منورې په داخل کښې د دښمن په مقابل کښې دفاع ونیسو او که بهر ورووځو؟، دغې مشورې ته نبي کريم ﷺ عبد الله بن ابي ابن سلول (رئیس المنافقین) هم ورغوښت، د دې څخه وړاندې یې هیڅکله مشورې ته نوو غوښتی.

د جر او بحث څخه وروسته د اکثریت نظر دا شو چې باید د دښمن مخې ته بهر ور ووځو ترڅو په موږ باندې د کمزورو او بې زړو ګومان ونه کړي. دا نظر اکثرو هغو صحابه وو کرامو خوښ کړی وه کوم چې د بدر غزا څخه پاتې وه او غوښتل یې چې په دې غزا کښې خپل زړونه په دښمنانو باندې یخ کړي.

---

(۱) تفسیر المراغي ج۴ ص۵۱

که څه هم د نبي کریم ﷺ نظر دا وه چې په داخل کښې وجنګېږي خو کله چې اکثریت دا نظر تائید نه کړ نو د خپل نظر څخه صرف نظر شو او د اکثریت نظر یې ومانه. نو د جمعې د لمانځه څخه وروسته یې زغرې واغوستلې او د مجاهدینو په شمول د اُحد د غره په طرف روان شو. د شنبې شپه یې د احد د غره په لمن کښې تېره کړه او د سهار د لمانځه څخه وروسته یې د جنګ نقشه برابره کړه او هر چا ته یې وظیفه وروټاکله[۱].

نبي کریم ﷺ څکه د خپل نظر څخه واووښت ترڅو د قیامت د ورځې پورې د مسلمانانو مشران پوه کړي چې باید خپل نظر په تابعانو باندې استبدادي توګه تحمیل نه کړي او د هغوی نظر ته هم په ارزښت قائل شي.

سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ ﴾ څخه معلومېږي چې نبي کریم ﷺ د سهار د پلوه د اُحد د غره په طرف روان شوی وه، او تاسو وایئ چې د جمعې د لمانځه څخه وروسته یې حرکت وکړ؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو خو د ﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ ﴾ جمله د احزاب د غزا په باره کښې ښودلې ده چې په دې تقدیر نه سوال شته او نه جواب. مګر دا جواب د ایتونو د سیاق څخه مخالف دی نو د همدې کبله جمهور مفسرین دا نظر نه مني او وایي چې دا ایت د احد د غزا په باره کښې نازل شوی دی[۲]. نو د اعتراض جواب دا دی چې:

الف: د ﴿ مَقَٰعِدَ لِلْقِتَالِ ﴾ څخه د احد د غره په لمن کښې د مجاهدینو صفونه برابرول مطلب نه دي چې د شنبې (خالي) په ورځ باندې یې برابر کړي وه، بلکې مطلب ترې د جنګ میدان ټاکل دي چې د ښار داخل به ښه وي او که دباندې، چې په نتیجه کښې د اکثریت نظر د ښار څخه دباندې د احد د غره لمن خوښه کړه. او دغې مشورې خو د جنګ د ورځې (شنبې) څخه دوه ورځې وړاندې (د پنجشنبې په ورځ) او یا یوه ورځ وړاندې (د جمعې په ورځ) صورت نیولی وه[۳].

ب: که څه هم "غَدْوَةٌ" د سهار د پلوه تللو ته وایي خو کله-کله د مطلق تللو په معنی باندې هم استعمال مومي[۴]. په دې مقام کښې په همدغې مطلقه معنی باندې استعماله شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي کله چې ته د کوره ووتلې (د جمعې د لمانځه څخه وروسته) په داسې حال کښې چې د جنګ دپاره دې مؤمنان په مراکزو کښې مېشت کول چې ته دلته کښېنه او ته دلته.

مګر مونږ ته دغه دواړه جوابونه هم په زړه پورې نه ښکاري، څکه چې په اول جواب کښې د ﴿ مَقَٰعِدَ لِلْقِتَالِ ﴾ څخه غیر متبادره معنی اخستله شوې ده او په دوهم جواب کښې د ﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ ﴾

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۴۶
(۲) تفسیر الطبري ج۴ ص۷۰
(۳) تفسیر الطبري ج۴ ص۷۱
(۴) تفسیر القاسمي ج۴ ص۲۱۴

اصلي معنی ته شا اړوله شوې ده. نو بنه دا ده چې داسې جواب وکړی شي چې:

په دې ایت کښې مؤمنانو ته فقط همدا وړیه زړه کول مطلب نه دي چې نبي کریم ﷺ د کوره راووت او د جنګ دپاره یې د مجاهدینو صفونه برابر کړه، بلکې مطلب پکښې دا دی ـ والله ﷻ اعلم ـ چې ای مؤمنانو! تاسو د احد د غزا ټول جریانات (د اول څخه نیولې تر آخره پورې) یو ځل درېه یاد کړئ چې څنګه پیل او څنګه ختم شوه. خو د ټولو جریاناتو څخه یې نوموړې دوه جریانه مشخص کړه، او دا ځکه چې په دې مقام کښې د احد غزا د لاندې دوه مطلبونو دپاره ذکره شوې ده او په دواړو مطلبونو کښې نوموړي دواړه جریانات پوره موثریت لري:

اول: کافران رازدار مه جوړوئ چې دوی په تاسو باندې د هیڅ ډول مشکل اچولو صرفه نه کوي. نه ګورئ چې عبد الله بن أبي منافق خپل درې سوره (٣٠٠) تنه ملګري د نیمې لارې څخه راستانه کړه او د مجاهدینو په صفونو کښې یې تزلزل واچاوه، نژدې وه چې دوه قومونه مجاهدین (بنو سلمه، بنو حارثه) هم ورسره بېرته ستانه شوي وی، خو الله ﷻ فضل وکړ او هغوی یې راټینګ کړه.

که نبي کریم ﷺ د کور څخه سهار راوتلی وی او لومړی یې د نورو سره مشورې کړې وی او بیا یې نوموړی منافق ورغوښتی وی نو بهانه به یې جوړه وی چې زه یې سمدستي ونه غوښتلم ځکه بېرته ستنېږم، خو الحمد لله دا بهانه یې هم جوړه نه شوه. نو معلومه شوه اصلا یې د تللو نیت نه درلود.

دوهم: که تاسو صابرین او متقیان اوسئ د هغوی دسائس به الله ﷻ شنډ کړي او تاسو به برلاسي یاست، نه ګورئ چې ترڅو تاسو په خپلو ټاکلو ځایونو باندې کلک وئ دښمن مو مخ په تېښته وه خو کله چې ستاسو غشو ویشتونکې ډلې په خپله مورچه کښې صبر ونه کړ نو د ماتې سره مخامخ شوئ او ستاسو د تخلف د کبله نبي کریم ﷺ هم زخمي شو.

ایا تاسو ته مناسبه ده چې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ د هدایتو څخه مخالفت وکړئ؟ ایا د هغې مورچې پرېښودل مناسب وه کومه چې ورته نبي کریم ﷺ پخپله ټاکلې وه؟.

د أحد په غزا کښې د مجاهدینو شمېر

٦ـ په دې غزا کښې د مجاهدینو شمېر په اول حرکت کښې یو زر (١٠٠٠) کسانو ته رسېده خو د لارې د منځه عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) د درې سوه (٣٠٠) تنو ملګرو سره بېرته ستون شو په دې دلیل چې دا جنګ نه دی بلکې ځان وژنه ده، مونږ خو ځانونه نه وژنو. په دغو خبرو باندې یې غوښتل چې په مجاهدینو کښې بې اتفاقي او شکست ګډ کړي خو الله ﷻ یې دسیسه شنډه کړه او په پاتې اوه سوه (٧٠٠) تنو مجاهدینو باندې یې غټ اثر ونه شو غورځولی.

یادونه

٧ـ په دې غزا کښې اویا (٧٠) کسه مجاهدین شهیدان شوه چې د کافرانو د خوا څخه مُثله شوي هم وه یعنې غوږونه او نور ځایونه یې ترې پرې کړي وه، حتی د سید الشهداء (حمزه ﷺ) نس یې هم څېرلی وه.

د کافرانو څخه دوه ویشت (۲۲) کسه ووژل شوه[١]، چې څيني د جنګ په میدان کښې او څيني په لاره کښې مړه شوه، دوی خپل مړي څکه د هغه ځایه د ځانو سره انتقال کړه چې که دلته یې دفن کړو نو مسلمانان به یې راوباسي او داسې به یې مُثله کړي لکه څنګه چې مونږ د هغوی شهیدان مُثله کړي دي. نو امکان لري چې په لار کښې به یې چرته دفن کړي وي او یا به یې مکې معظمې ته رسولي وي، والله ﷻ أعلم.

د صحابه وو کرامو ﷺ د جهاد مینه

٨ـ د صحابه وو کرامو ﷺ زیات مثالونه د سیَرو کتابونو لیکلي دي چې د جهاد او شهادت سره یې څومره مینه درلوده، د اوږدوالي د کبله مونږ په لاندې یوه قیصه باندې اکتفاء کوو:

د بدر د غزا دپاره خُثیمه ﷺ د خپلو زوی (سعد) سره قرعه (پچه) واچوله چې په نتیجه کښې د سعد ﷺ جهاد ته تلل په برخه شوه. نو بیا یې د خپل پلار سره لاندې سوال جواب وکړ:

خثیمه ﷺ: ای زویه! خپل نوبت ماته راکړه ترڅو زه جهاد ته لاړ شم.

سعد ﷺ: ای پلاره! دلته د جنت خبره مطرحه ده. نو زه نه شم کولی چې جنت تاته پرېږدم، که د جنت خبره نه وی مطرحه نو نوبت به مې درکړی وی.

«فَخَرَجَ سَعْدٌ إِلَى بَدْرٍ فَقُتِلَ بِهَا»[٢] یعني: نو سعد ﷺ د بدر غزا ته لاړ او هلته شهید شو بیا وروسته خثیمه ﷺ هم د احد په غزا کښې په شهادت ورسېد او آرزو یې پوره شوه، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَـٰثَةِ ءَالَـٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰٓ ۚ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَـٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَـٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ۗ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٩﴾ ﴾

(١) سيرة النبي لابن هشام ج٣ ص٨٣
(٢) الاصابة في تميز الصحابة ج٢ ص٢٥

[۱۲۳] او یقیناً الله ﷻ تاسو سره د بدر د غزا په موقع په داسې حال کښې کومک وکړ چې تاسو (نظر دنیاوي اسبابو ته) کمزوري وئ، (خو تقوی مو درلوده) نو د الله ﷻ څخه ډارېدلو (تقوی) ته ادامه ورکړئ (چې نور نعمتونه هم درپېرزو کړي) شاید چې تاسو یې شکریه وکړئ.

[۱۲۴] (دوی ته د کمزورۍ) هغه وخت (وریه زړه کړه) چې تا مؤمنانو (دوی) ته وویلې چې ایا دا مو بس نه دي چې خپل رب درسره د ملائکو څخه په درې زرو تنو باندې امداد وکړي په داسې حال کښې چې دوی (د غیبو څخه) درنازلې کړی شي.

[۱۲۵] هو (دا درته کفایت کوي. برسېره په دې) که تاسو صبر وکړئ او تقوی داري وکړئ او هغوی (کافران) د خپلې همدغې غُصې د کبله سمدستي درشي (نو) خپل رب به درسره د ملائکو څخه په پنځو زرو تنو باندې امداد وکړي په داسې حال کښې چې نښې درلودونکي به وي.

[۱۲۶] او دغه (راښکته کول) الله ﷻ د بل شي دپاره نه دي گرځولي (په هر ځای، په هره زمانه کښې چې واقع شوي دي) مگر ستاسو دپاره یې بشارت گرځولی دی او د دې دپاره چې ستاسو زړونه وریاندې مطمئن شي. او نصرت نه دی مگر د الله ﷻ د طرفه دی چې د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

[۱۲۷] (هر کار د حکمت په مقتضی کوي) ترڅو د هغو کسانو څخه چې کفر یې اختیار کړی دی یوه ډله هلاک کړي او یا یې ذلیل کړي چې د ناامیدۍ په حالت کښې بېرته ستانه شي.

[۱۲۸] (ای پیغمبره!) د دې کار څخه لا تا ته هیڅ شی نشته (نو ستا امت ته خو هیڅ نشته) او یا وریاندې (الله ﷻ) په رحمت سره رجوع وکړي (د توبې توفیق ورکړي) او یا یې معذب کړي ځکه بې شکه دوی ظالمان دي.

[۱۲۹] او خاص الله ﷻ لره هغه څه دي چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه چې په ځمکو کښې دي (ټول اختیار د همده ﷻ دی) هغه چا ته مغفرت کوي چې اراده یې ورته وشي او هغه څوک معذبوي چې اراده یې ورته وشي، او الله ﷻ ښښونکی مهربان دی.

د ارتباط وجې

١ـ وړاندېنې ایتونه په توکل باندې تمام شوي وه، او په دې ایتونو کښې د توکل یوه بارزه گټه ښودله شوې ده چې څومره کمزوري خلکو په څومره قوي خلکو باندې برلاسي ومونده.

٢ـ هلته الله ﷻ وعده کړې وه چې که تاسو صبر او تقوی غوره کړئ نو د کافرانو دسیسې به کاریگرې واقع نه شي. په دې ایتونو کښې د همدغې وعدې یو مصداق وښودل شو چې د بدر په غزا کښې حتی ملائک د کومک دپاره نازل کړی شوه او د متقیانو صابرانو غیبي نصرت په برخه شو.

د مطلب خلاصه

١ـ یعني ای مؤمنانو! تاسو چې هر کله په الله ﷻ باندې توکل کوئ الله ﷻ به درسره کومک کوي او فتحه به درکوي که څه هم تاسو د کافرانو په خیال کښې او ظاهري اسبابو ته په کتلو سره

زيات کمزوري او ناتوانه ياست. د دې دپاره چې په همدې وعده باندې ښه مطمئن شئ د بدر غزا دریه زړه کړئ، چې يقينًا الله ﷻ درسره کومک وکړ حال دا چې د نصرت هیڅ سامان مو نه درلود، خو فقط تقوی مو درلوده او په الله ﷻ باندې مو توکل درلود او بس. نو بايد چې همدغه خاصيتونه په دائمي توګه د خانو سره ولرئ. نو الله ﷻ به په دائمي توګه درباندې د خپلو نعمتونو باران کوي او تاسو به يې شکرګزاري کوئ.

۲ـ ای پیغمبره! مؤمنانو ته د خپلې کمزورۍ هغه وخت وريه زړه کړه چې دوی خپل رب ته زارۍ کولې او د نصرت سوالونه يې کول او الله ﷻ دوی ته د يو زر ملائکو د نزول وعده ورکړه خو په دې باندې هم د هغوی د زړونو اضطراب پوره نه شو او بشري وارخطائي ورسره موجوده وه.

نو د دې دپاره چې د دوی اضطراب ورک شي تا دوی ته وويلې چې ايا دا مو بس نه ده چې درې زره ملائکې الله ﷻ ستاسو د کومک دپاره نازلې کړي؟ ايا دا وعده مو هم وارخطائي نه شي لرې کولی؟ بيا هم دوی ساکت پاتې شوه او الله ﷻ د دوی د پلوه وفرمايل چې ﴿ بَلَىٰٓ ﴾ (هو! دا مو بس دی).

بيا چې کله دوی ته اطلاع ورکړی شوه چې د دښمن په تائيد باندې نور کافران د جنګ دپاره د بدر په طرف په حرکت کښې دي، نو په دوی کښې د دوهم ځل دپاره بيا اضطراب واقع شو او د خپلې کمزورۍ د کبله ورسره تشويش پيدا شو نو الله ﷻ بيا دوی ته وعده ورکړه چې ای مؤمنانو! که تاسو همداسې صابران او متقيان اوسئ او د دښمن په تائيد باندې مو نور کافران همدا دستي درشي، نو ستاسو رب ﷻ به درسره په پنځه زره ملائکو باندې کومک وکړي چې نښې درلودونکې به وي او تاسو به يې پېژنئ چې دا انسانان نه دي بلکې ملائک دي.

۳ـ ای مؤمنانو! پوه شئ چې الله ﷻ د ملائکو درښکته کول د بل شي دپاره نه دي ټاکلي مګر د دوه وو مطلبونو دپاره: يو دا چې تاسو ته د نصرت ځخه وړاندې بشارت او زيری درکړي چې دغی دی نصرت درروان دی، او بل دا چې ستاسو د زړونو اضطراب او وارخطائي د منځه بوځي او په ډاډه زړونو باندې وجنګېږئ.

که نه نو نصرت خو د الله ﷻ د ارادې ځخه په غير په بل يوه شي پورې هم اړه نه لري. او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی هيڅوک او هيڅ شی يې اراده نه شي ماتولی.

هو! دا بېله خبره ده چې د حکمت په مقتضی کله خپل نصرت د ملائکو په نزول کښې ونغاړي او کله يې په دنياوي اسبابو کښې پټ کړي.

۴ـ همدارنګه دا هم د الله ﷻ د عزيزيت او حکيميت آثار دي چې د کافرانو ځخه يوه ځنډه پرې کړي او يا يې وشرموي چې نااميده بېرته ستانه شي. که نه نو الله ﷻ ته ځه مشکله ده چې يا ټول هلاک کړي او يا ټول نااميده بېرته تاو کړي.

په هر تقدير، ای پیغمبره! د دې سره‌سره چې ته د الله ﷻ استول شوی مقرب بنده يې حتی ستا د لاسه هم پوره نه ده چې يا د کافرانو ځخه ځوک هلاک کړي او يا يې شرمنده بېرته وګرځوي.

نو چې کله په تکویناتو کښې ستا مداخله نه ځایېږي نو د نورو مؤمنانو به څه د لاسه پوره شي. نو معلومه شوه چې ټول واک او اختیار د الله ﷻ سره دی او بس.

همدارنګه د حکمت غوښتنه کله دا وي چې الله ﷻ وربانديې په رحمت سره رجوع وکړي او توفیق ورکړي چې د کفر څخه توبه تائب شي. او کله دا وي چې په دنیاوي یا اخروي عذاب باندې یې مبتلا کړي، او دا ځکه چې دوی ظالمان دي.

۵ـ نو ای پیغمبره! ته څه پوهېږې چې کوم یو کافر به د توبې توفیق ومومي او کوم یو به په دنیا کښې معذب شي بیا به ایمان راوړي او کوم یو به د کفر په حالت کښې مړ شي او د ابدي عذاب مستحق به شي؟

همدارنګه ته څه پوهېږې چې د کوم یو د نسل څخه به مسلمانان متولد شي او کوم یو به کافران وزېږوي؟ د همدې کبله الله ﷻ په کائناتو کښې تصرف کول په خپل خان پورې مختص کړي دي. او همدا اختصاص د همده ﷻ سره مناسب هم دی ځکه چې د ځمکو او اسمانو مالک همدی ﷻ دی، ټول یې مخلوق او ټول ورته محتاج دي. بالآخره ټول یې د تصرف لاندې دي چا ته یې چې د مغفرت اراده وشي هغه ته مغفرت کوي او چا ته یې چې د تعذیب اراده وشي هغه معذب کوي. او همدی ﷻ بښونکی او مهربان دی چې ټول مخلوق یې هم د بښنې څخه استفاده کوي او هم د مهربانۍ څخه، که نه نو کافرانو خو به یوه ګړۍ هم ژوند نه وی کړی.

توضیحات

١ـ "بدر" د یو ځای نوم دی چې د مدینې منورې څخه په اته ویشت فرسخه فاصله کښې د مکې معظمې طرف ته پروت دی. په دغه موقعیت کښې د هجرت په دوهم کال د روژې د میاشتې په اولسمه د دوشنبې په ورځ د مسلمانانو او مشرکانو ترمنځ یوه غزا پېښه شوه چې د بدر د غزا په نوم باندې یادېږي.

په دې غزا کښې مسلمانان صرف درې سوه او دیارلس (۳۱۳) تنه وه او صرف یو اس یې درلود او په وسله باندې هم مجهز نه وه نو ځکه مشرکانو ته ذلیل ښکارېده. خو بالمقابل مشرکان د زرو تنو (۱۰۰۰) په شاوخوا کښې وه او په وسله او نورو جنګي تجهیزاتو باندې په پوره توګه مجهز وه. خو د دې سره-سره بری د مسلمانانو په برخه شو ځکه چې دوی صابران وه او په الله ﷻ باندې یې پوره توکل درلود[1].

یوه پوښتنه او د هغې جواب

٢ـ که څوک وایي چې: په ﴿إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ ایت کښې د کومې غزا واقعه حکایت شوې ده؟ یعنې نبي کریم ﷺ د بدر د غزا په وخت کښې ذکره شوې خبره صحابه وو کرامو ﷺ ته کړې وه او که د احد په غزا کښې تېره شوې وه چې یو ځل د مسلمانانو توجه هغه وخت ته ورواړوله شوه؟

(١) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج١ ص۶۶۷

مونږ وایو چې: په دې کښې مفسرین کرام په دوه ډلو وېشل شوي دي چې تفصیل یې دا دی:

لومړۍ ډله مفسرین

دا ډله مفسرین وايي چې دا د احد د غزا پورې ارتباط لري او وراندېني ایت ﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ ﴾ پورې تعلق نیسي[١]. د دوی دلایل په لاندې ډول دي:

الف: د بدر په غزا کښې خو الله ﷻ یو زر ملائک رالښکته کړي وه لکه چې فرمایي: ﴿ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴾ [الأنفال: ٩] یعنې: هغه وخت دریه زره کړئ چې تاسو د خپل رب څخه د نصرت سوالونه کول نو الله ﷻ درته سوالونه قبول کړه چې بې شکه زه په یو زر ملائکو سره، چې یو په بل پسې به وي، ستاسو کومک کوونکی یم.

نو که دلته د بدر د غزا حکایت مطلب وی نو د یو زر ملائکو ذکر به راغلی وی.

مګر دا دلیل د پوره اعتماد وړ نه دی ځکه څه لرې نه ده چې د بدر په غزا کښې د درې زرو (٣٠٠٠) او بیا د پنځو زرو (۵٠٠٠) ملائکو د نزول وعده هم ورکړه شوې وی لکه څنګه چې د یو زر (١٠٠٠) ملائکو وعده ورکړه شوې ده. او په دې مقام کښې چې د احد د غازیانو تسکین مطلب دی د یو زر ملائکو ذکر ونه کړی شو البته د دې کبله چې یو زر ملائک د انفال په سورت کښې په صراحت سره ذکر دي. او درې زرو او پنځو زرو ته د ﴿ مُرْدِفِينَ ﴾ په کلمې سره هلته اشاره شوې وه او دلته په صراحت ذکر شوه او دا ځکه چې "مُرْدِفِينَ" د هغې ډلې نوم دی چې وروسته ورپسې بله ډله هم ورتلونکې وي[٢]، چې درې زره او پنځه زره ملائک دي.

د همدې دلیل کمزورې هغه روایت هم تائیدوي چې د بدر په غزا کښې مسلمانانو ته اطلاع ورکړه شوه چې "کرز" نامی کافر په خپل ټول قوت سره غواړي چې د مشرکانو په کومک جنګ ته راشي نو دغه خبر په مسلمانانو ډېر درونډ تمام شو، نو الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته امر وکړ چې دوی ته ووایه چې: ﴿ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ ﴾ الآیة[٣] یعنې: ایا دا مو بس نه ده چې خپل رب مو په درې زرو ملائکو سره امداد وکړي او بیا په پنځو زرو سره.

ب: د دې مقام مخکښې او وروستنې ایتونه د احد د غزا په حالاتو باندې د رڼا اچولو دپاره نازل شوي دي. نو مناسبه دا ده چې د ملائکو د نزول وعده به هم د همدغې غزا په ابتدائي حالاتو کښې نبي کریم ﷺ د الله ﷻ په هدایت باندې مسلمانانو ته ورکړې وي چې وروسته یې په بیان کښې ذکر شوي ایتونه نازل شوه.

مګر دا دلیل هم نوموړی مطلب په اثبات نه شي رسولی. ځکه لکه څنګه چې د بدر د غزا ذکر ایت شریف د سیاق څخه نه شي ویستلی نو د ملائکو د نزول زیات تفصیل یې هم نه شي ویستلی.

---

(١) تفسیر الکشاف ج١ ص۴١١

(٢) مفردات الراغب ص١٩٨

(٣) تفسیر ابن کثیر ج١ ص۴٠١

يعني اى مسلمانانو! تاسو خو بايد د احد په غزا كښې د صبر او استقامت څخه كار اخستى وى او مورچه مو نه وى خوشې كړې. ايا تاسو په بدر كښې د صبر او استقامت فوائد هېر كړي وه؟ ايا تاسو هلته دومره كمزوري نه وئ چې ستاسو د اطمنان دپاره په يو زر ملائكو باندې علاوه د درې زرو او بيا پنځو زرو ملائكو د نزول وعده هم دركړه شوه ترڅو ستاسو زړونه ارام پيدا كړي؟

خو د دې كمزورۍ سره‌سره الله ﷻ برى درپه برخه كړ، نو تاسو ته په كار وه چې د احد په غزا كښې مو هم صبر او استقامت د لاسه نه وى وركړى.

ج: د دې ايتونو په مجموعه كښې [١٢٨] ايت دلالت كوي چې دا د احد د غزا حكايت دى. او دا ځكه چې د دغه ايت شان نزول هغه وخت ښودل شوى دى چې د نبي كريم ﷺ غاښ مبارك د احد په غزا كښې مات او مبارك مخ يې په وينو باندې رنګ شو. نو مباركې خولې ته يې څه ښېرا راغله خو الله ﷻ ورته نوموړى ايت نازل كړى چې: ﴿ لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَيْءٌ ﴾.

مګر په اتمه (٨) توضيح كې به ـان شاء اللهـ راشي چې هلته نور روايات هم شته چې ذكر شوى ايت شريف په بله حادثه كښې نازل شوى دى.

دوهمه ډله مفسرين

٣ـ دا ډلـه مفسـرين، چې دوى اكثريت دي، وايي چې په دې ايتونو كښې د بدر د غزا حالات راحكايت شوي دي او د متصل نژدې ايت ﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ ﴾ پورې ارتباط نيسي[1]. مونږ ته همدا تفسير قوي ښكاري.

سوال جواب

كه څوک وايي چې: ايا د احد په غزا كښې ملائک نه وه نازل كړى شوي؟

مونږ وايو چې: د جمهورو مفسرينو كرامو په نزد د ملائكو د نزول حكايت د بدر د غزا پورې اړه لري چې هلته د يو زر ملائكو تائيد د قرآن كريم په [الأنفال: ٩] ايت باندې ثابت دى او د درې زرو او پنځو زرو ملائكو تائيد د ﴿ مُرْدِفِينَ ﴾ د كلمې څخه اشارةً معلومېږي، لكه چې وړاندې واضح كړى شو.

اما دا خبره چې د احد په غزا كښې الله ﷻ ملائک رالېږلي كړي وه او كه څنګه؟ نو څه لږ نه ده چې هلته يې نه وي نازل كړي او دا هم نژدې ده چې هلته يې هم نازلې كړي وي. څوک چې دې ته ګوري چې د مسلمانانو د احد په غزا كښې فتحه په نصيب نه شوه هغوى وايي چې دلته ملائک نه وه نازل كړى شوي او كه نه نو فتحه به ضرور راغلې وى[2].

مګر دا دليل د منلو وړ نه دى، ځكه چې د احد په غزا كښې هم برياليتوب د مجاهدينو په برخه وه خو څرنګه چې د غشو ويشتونكو ګروپ په خپله مورچه كښې صبر ونه كړ او د نبي كريم ﷺ

---

(١) البحر المحيط ج٣ ص٤٨

(٢) تفسير الطبري ج٤ ص٨٠

توصیه یې عملي نه کړه نو فتحه یې د لاسه ووتله. الله ﷻ همدې ته اشاره کوي او فرمايي چې: ﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ﴾ [آل عمران:۱۵۲] یعني: او بې شکه الله ﷻ خپله وعده رښتیا کړه په کوم وخت کښې چې تاسو د الله ﷻ په اذن سره کافران وژل. نو معلومه شوه چې ذکر شوی دلیل د اعتبار قابل نه دی.

د احد په غزا کښې ملائک نازل شوي وه

۴_ داسې ښکاري چې د احد په غزا کښې هم ملائک نازل کړی شوي وه که څه هم تعداد یې الله ﷻ ته معلوم دي چې څومره به وه. د نزول دلایل یې دا دي:

الف: سعد بن أبي وقاص ﷺ وايي چې ما د احد په غزا کښې دوه سړي ولیده چې سپینې جامې یې اغوستې وې او د نبي کریم ﷺ څخه یې شدیده دفاع کوله دغه دواړه سړي مې نه پخوا لیدلي وه او نه مې وروسته ولیده چې یو جبرائیل ﷺ او بل میکائیل ﷺ وه[۱].

ب: د الحسن او عامر الشعبي څخه روایت دی چې همدغه پنځه زره ملائکې چې د بدر په غزا کښې الله ﷻ رانازلې کړې وې دوی د قیامت د ورځې پورې د ټولو مجاهدینو سره د جنګ میدان ته حاضرېږي[۲].

مونږ ته د دغو مجاهدو ملائکو ډله هغو ملائکو ته ورته ښکاري کومې چې په ځمکه کښې د ذکر کوونکو د مجالسو لټونه کوي. نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايي چې: «مَا مِنْ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللهَ إِلَّا حَفَّتْ بِهِمُ الْمَلَائِكَةُ»[۳] یعني: هیڅ قوم د الله ﷻ ذکر نه کوي مګر ملائک ترې چار چاپېره حلقه جوړوي.

د بدر د ملائکو علامات څه شی وه؟

۵_ د دغو مجاهدو ملائکو علامات په لاندې دوه ډوله وه:

الف: د بدر په غزا کښې د ملائکو اسونه برګ وه همدارنګه مجاهدینو یو اس درلود چې هغه هم برګ رنګی وه.

کله چې قریش بېرته ستانه شوه نو ابو رافع ﷺ ـ چې لا په مکه کښې وه او په اسلام مشرف شوی وه ـ وايي چې دوی به ویلې چې مونږ ملامته نه وو چې مقاومت مو ونشو کړی ځکه چې مونږ د داسې سړیو سره مخامخ شوو چې سپینې جامې یې اغوستې وې او په برګو آسونو باندې سواره وه چې د هیچا سره یې د مقابلې توان نه وه[۴].

بر سېره په دې د علي ﷺ په روایت د آسونو په یالونو او لکیو کښې یې سپینې وړې تومبلې وې[۵].

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۵۸۰؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۵۲
(۲) البحر المحیط ج۳ ص۴۹؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۳۱۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۵
(۴) تفسیر الطبري ج۴ ص۷۸
(۵) الدر المنثور ج۲ ص۳۱۰

ب: د علي ﷺ څخه روایت دی چې ملائکو سپینې پګړۍ وهلې وې او شملې یې شاته د اوږو په منځو کښې خوشې کړې وې.

همدارنګه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یوازې د جبرائیل امین ﷺ داسې زیړه پګړۍ وه لکه د الزبیر بن عوام ﷺ[1].

ملائک او غزاګانې

۶ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ملائک ټولو غزاګانو ته حاضر شوې دي مګر په جنګ کښې یې په عملي توګه یوازې د بدر په غزا کښې برخه اخستې ده او بس. څکه چې: د مسلمانانو په ګټه باندې د ملائکو جنګ کول لویه معجزه ده، او په معجزه کښې د الله ﷻ سنت دا دی چې د تکلیف په دوران کښې یې د الجاء درجې ته نه رسوي چې کافران ایمان راوړلو ته مجبور شي ترڅو ابتلاء او امتحان د منځه لاړ نه شي. هو! کله چې د امتحان دوره ختمه شي نو په هغه وخت کښې الله ﷻ داسې معجزې هم ښکاره کوي چې کافران ایمان ته مجبوروي، خو په هغه وخت کښې ایمان راوړل څه فائده نه کوي.

د ښه وضاحت دپاره د فرعون حالات راپه زړه کړئ چې موسی ﷺ ورته ډول ډول معجزات د تکلیف په دوران کښې وړاندې کړه. مګر کله یې چې د تکلیف دوره پوره شوه نو په هغه وخت کښې یې ورته داسې معجزه وښودله چې ایمان راوړلو ته مجبور شو او ناره یې کړې چې په هغه معبود باندې ما هم ایمان راوړی دی چې بني اسرائیل ورباندې معتقد دي، خو دا ایمان یې د الله ﷻ په نزد مقبول نه شو او ورته وویل شوه چې ﴿ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴾ [یونس: ۹۱] یعني: ایا ته اوس ایمان راوړې او حال دا چې مخکښې (د تکلیف په دوره کښې) دې عصیان کاوه او د مفسدانو څخه وې؟.

د همدې قانون په بناء الله ﷻ د بدر په غزا کښې ملائک راښکته کړه او هغوی په جنګ کښې په خارق العاده توګه ګډون وکړ او کافران یې هم ووژل او هم یې وتړل. مګر په نورو غزاګانو کښې ملائکو دغه ډول اشتراک ونه کړ ترڅو کافران ایمان راوړلو ته مجبور نه شي. او دا څکه چې د مجبوریت ایمان د الله ﷻ په نزد باندې منظور نه دی، که بالفرض منظور وی نو دغه کار ورته هم څه مشکلات نه درلوده لکه چې فرمایي: ﴿ إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةً فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا خَٰضِعِينَ ﴾ [الشعراء: ۴] یعني: که زمونږ اراده وشي نو په دوی باندې به د اسمان د طرفه داسې معجزه ورښکته کړو چې هغې ته به یې غاړې ذلیله وګرځي (ایمان به راوړي)، خو دا کار مونږ نه کوو).

برسېره په دې که په نورو غزاګانو کښې هم الله ﷻ مجاهدین په خارق العاده ډول کامیاب کړي وی نو د قیامت د ورځې پورې مسلمانان به د عبرتي درس څخه محروم شوي وی او همېشه

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۹۶

به په غزاګانو کښې معجزاتو ته منتظر وی. حال دا چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ ﴾ [الأنفال: ۶۰] یعنې: او څومره مو چې وسه کېږي د کافرانو د مقابلې دپاره جنګي سامان تهیه کړئ (معجزانه فتحې ته انتظار مه کوئ).

یو مفسر (الشیخ محمد عبد ربه) علیه الرحمه وایي چې نبي کریم ﷺ مې په خوب کښې ولید چې د احد د غزا څخه د صحابه وو کرامو ﷺ سره راروان وه او دا جمله یې په خوله وه چې "لَوْ خُيِّرْتُ بَيْنَ النَّصْرِ وَالْهَزِيْمَةِ لَاخْتَرْتُ الْهَزِيْمَةَ"[١] یعنې: که بالفرض د احد د غزا په هکله ماته اختیار راکړی شوی وی چې فتحه خوښوې او که ماتې نو ما به ماتې خوښه کړې وی، ځکه چې په دې کښې د قیامت د ورځې پورې ټولو مسلمانانو ته د عبرت درسونه دي چې باید اختلاف او خپلمنځي جګړې ونه کړي، ظاهري جنګي سامان برابر کړي او د معجزې په توګه فتحې ته انتظار ونه باسي.

نو د بدر د غزا څخه په غیر په نورو غزاګانو کښې ملائک لاندې وظائف اجراء کوي او اجراء کړي یې دي:

الف: دوی ته بشارت ورکوي چې بری ستاسو په برخه دی، د هر زړ به وګورئ چې دښمنان مو مخ په شا او تېښتې ته مجبور شي ﴿ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ ﴾.

ب: غازیانو ته جرئت ورکوي چې هلئ تکړه شئ په مورچه ورورخېږئ، وهئ یې، چې درڅخه خلاص نه شي او داسې نور ﴿ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ﴾.

دا هم څه لرې نه ده چې د دغو دوارو وظائفو څخه پرته څه نور وظایف هم اجراء کړي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: چې د سړیو په څېرو کښې د مسلمانانو جمعیت غټ کړي او د کافرانو په زړونو کښې رعب او دار پرېوزي.

دوهم: چې چرته کوم مجاهد یوازې پاتې وي او د هغه سره د یو بل مجاهد په څېره کښې اندیوالي وکړي ترڅو هغه داډه کړي او وحشت او وېره یې لرې کړي.

درېم: چې مجاهدینو ته د کافرانو د حملې او تعرض خبر په زړونو کښې ورواچوي، ترڅو دوی ورته تیاري ونیسي.

څلورم: چې په ځینو مواقعو کښې ورته د الله ﷻ د پلوه په جنګ کښې د عملي اشتراک امر وکړی شي او د مجاهدینو په څېرو کښې وجنګېږي، چې د افغانستان په جهاد کښې یې څه نظائر پېښ شوي دي، او داسې نور.

۷ـ اما د بدر په غزا کښې د ملائکو د اجراءاتو لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې یوه مجاهد یو کافر په مخه کړی وه چې د متروکې ترپ او په آس باندې د سور سړي چیغه یې واورېده چې «أَقْدِمْ حَيْزُوم» حیزومه ورباندې

[١] تفسیر المنار ج۴ ص۱۴۶

وروړاندې شه (حَیزوم د ملائکو د آس نوم دی)، نو مجاهد چې کافر ته وکتل غزېدلی پروت وه او پوزه او مخ یې شکېدلي وه[١].

ب: کوم کافران چې ملائکو وژلي وه په هغوی باندې داسې زخمونه وه لکه په اور باندې چې سوزول شوي وي.

ج: ابو جهل د مرګ په حالت کښې پروت وه او عبد الله بن مسعود ﷺ یې مخاطب کړ چې زه خو تا نه یم وژلی بلکې هغه چا ووژلم چې هر څه کوښښ مې وکړ د هغه د اس سوم ته زما توره ور ونه رسېدله[٢].

د: عباس ﷺ یوه کمزوري مجاهد نیولی وه نو نبي کریم ﷺ ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کریم ﷺ: اې ابو الیسره! د عباس غوندې قوي سړی دې څنګه بندي کړی شو؟

ابو الیسر: ای د الله ﷻ پیغمبره! یوه سړي راسره کومک وکړ چې داسې- داسې سړی وه، نه مې هغه سړی پخوا لیدلی وه او نه وروسته.

نبي کریم ﷺ: «لَقَدْ أَعَانَكَ عَلَيْهِ مَلَكٌ كَرِيمٌ»[٣] یعنې: بې شکه د کرامت والا ملکې درسره په هغه کومک کړی دی.

"فور" څه معنی؟

٨_ د "فور" کلمه اصلا د اوبو خوټېدلو ته وايي خو په استعمال کښې په لاندې شیانو کښې اوړېدله کېږي[۴]:

الف: په اور کښې، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَهِيَ تَفُورُ ﴾ [الملك: ۷] یعنې: او حال دا چې دوزخ به خوټېږي.

ب: "فُلَانٌ فَارَ مِنَ الْحُمَّى" فلانی دتبې د کبله خوټېږي.

ج: د ځمکې څخه اسمان طرف ته د اوبو دارې وهل د "فوارې" په نوم یادېږي حتی چې په پښتو کښې هم ورته همدا نوم اخستلی کېږي.

د: "فُلَانٌ فَارَ مِنَ الْغَضَبِ" پلانی د غضبه وخوټېده.

په دې مقام کښې مجاهد رحمه الله په غضب سره تفسیر کړی دی[۵]، او ځینو نورو مفسرینو کرامو په سرعت سره معنی کړی دی[۶]، چې د دواړو تفسیرونو د مجموعې څخه داسې معنی راوځي چې ای مؤمنانو! الله ﷻ به ستاسو سره په پنځو زرو ملائکو باندې کومک وکړي که چرته کفار د همدغه

(١) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۹۳

(٢) تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۹۴

(٣) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۵۵

(۴) مفردات الراغب ص۴۰۱

(۵) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۰۱

(۶) روح المعاني ج۴ ص۴۵

غضب د کبله چې اوس پرې اخته دي همدا سمدستي ورته درشي او ستاسو د دښمنانو تقویه وکړي، یعنې د الله ﷻ لښکرې د بندګانو د لښکرو په شان نه دي چې تیارسۍ کول یې څه وخت وغواړي؛ نو که هغوی هرڅومره سرعت وکړي هم په عین وخت کښې به الله ﷻ تاسو ته کومک دررسوي نو پام کوئ چې جرئت د لاسه ورنه کړئ.

یو شان نزول

۸_ د [۱۲۸] ایت د دې ټکړې چې ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ﴾ د شان نزول په باره کښې څو متعدد روایتونه راغلي دي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د احد په غزا کښې د نبي کریم ﷺ یو غاښ مات شو او مبارک سر یې زخمي شو نو په داسې حال چې وینې یې پاکولې دا کلمات یې په مبارکه خوله جاري وه چې: «كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا نَبِيَّهُمْ وَكَسَرُوا رَبَاعِيَتَهُ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ»[۱] یعنې: داسې قوم به څنګه فلاح (کامیابي) ومومي چې د خپل پیغمبر ﷺ سر یې زخمي کړ او غاښ یې ورته مات کړ او حال دا چې هغه یې الله ﷻ ته وربللې. نو الله ﷻ ذکره شوې ټکړه نازله کړه چې لاندې دوه مطلبونو ته اشاره کوي:

اول: یو دا چې د دوی په کفر باندې دومره زیات مه غمژن کېږه چې خپل ځان د غمه مړ کړې . څکه چې تا خو په خپله وظیفه کښې څه قصور نه دی کړی تا خو خپله وظیفه انجامه کړې ده. نور د الله ﷻ کار دی چې هدایت ورته کوي او که نه، لکه چې فرمایي: ﴿لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ﴾ [البقرة: ۲۷۲] یعنې: په تا باندې د دوی هدایت نشته مګر الله ﷻ چې هر چا ته اراده وشي هغه ته هدایت کوي.

دوهم: بل دا چې د دوی د ایمان څخه خپل تمه مه پرې کوه چې د ایمان توفیق به ونه مومي، څه لرې نه ده چې د همدوی څخه ځینې کسان په ایمان باندې مشرف شي.

شاید چې نبي کریم ﷺ به همدغه مطلب ته اشاره کړې وي چې کله یې د پیغمبرانو څخه د یوه پیغمبر حال راحکایت کړ چې «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ»[۲] یعنې: ای الله زما قوم ته مغفرت وکړې (بښخ یې مه اوباسې) څکه چې دوی نه پوهېږي.

ب: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ د ځینو خاصو کافرانو په باره کښې (د قنوت نازله په توګه) ښېراوې کولې، ترڅو چې ذکره شوې ټکړه نازله شوه چې بیا ترې صرف نظر شو[۳].

ج: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ به د سهار په لمانځه کښې د قنوت نازله په توګه د څو خاصو مسلمانانو نومونه اخستل نو دوی ته او ټولو مستضعفینو مسلمانانو ته به یې د

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۸
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۴۹۵
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۵

خیر دعاوې کولې او د کافرانو څو قومونو ته به یې ښېراوې کولې[1]، نو ذکره شوې آیت نازل شو[2].

تبصره

د ذکر شوې ټکړې د شان نزول په باره کښې څه نور روایات هم شته ټولو روایتو ته په کتلو سره د سړي ته ذهن ته ورځي چې یا به نوموړې ټکړه څو کرته نازله شوې وي او یا به په یوه حادثه کښې نازله شوې وي، خو څرنګه چې په نورو واقعاتو باندې هم صادقېدله نو صحابه وو کرامو ﷺ به په هرې یوې باندې د شان نزول اطلاق کړی وي لکه چې هغوی دا ډول اطلاقات کول[3].

د عربیت یو تحلیل

۹ـ که څه هم مفسرینو کرامو د ﴿ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ﴾ په اعراب کښې مختلفې وجې ذکرې کړې دي مګر کوم شی چې مونږ ته ښه ښکاري هغه دا دی چې دا جمله په ﴿ لِيَقْطَعَ طَرَفًا ﴾ باندې عطفه ده او په ﴿ لِيَقْطَعَ ﴾ کښې د "لام" کلمه په هغه فعل پورې تعلق نیسي چې د الله ﷻ دوه صفتونه ﴿ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴾ ورباندې دلالت کوي. کېدلی شي چې په "يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ وِفْقَ الْحِكْمَةِ" سره ترې مونږ تعبیر وکړو. نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې الله ﷻ د بالغه حکمت په مقتضی د کافرانو په هکله لاندې څلور کارونه کوي:

الف: چې د دوی څخه یوه ډله یا هغه ډله چې د ټولو په اول سر کښې روانه وي (یعنې مشران) د مسلمانانو په لاس هلاک کړي.

ب: چې غمژن او ذلیل یې کړي، چې مړي ترې د جنګ په میدان کښې پاتې شي او په ډېرې ناامیدۍ سره بېرته ستانه شي.

ج: چې په رحمت سره ورباندې الله ﷻ رجوع وکړي او د توبې توفیق ورکړي او په اسلام باندې مشرف شي.

د: چې هغوی ته تعذیب ورکړي او اسماني آفت ورباندې نازل کړي، او یا یې په دنیا کښې معذب نه کړي د آخرت د ابدي عذاب څخه خو نه شي خلاصېدلی، ځکه چې دوی ظالمان دي او په کفر باندې کلک ولاړ دي.

نو څرنګه چې اولنۍ دواړه وجهې د مجاهدینو په لاس باندې اجراء کېږي، نو د دې دپاره چې کوم یو مجاهد دا خیال ونه کړي چې کافران یا ما مړه کړه او یا ما غمژن کړی شوي وشړل، نو د جملې د تمام څخه مخکښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ مخاطب کړ چې: ﴿ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ﴾ یعنې: ای پیغمبره! تاته هم په دې باره کښې وسه نشته چې د الله ﷻ د ارادې څخه په غیر یا کافران ووژنې او یا یې بېرته وشړې بلکې دا کاره یوازې د الله ﷻ دی، حتی ته چې کوم غشی د کافرانو په

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۳۶
(۲) تفسیر الطبري ج۴ ص۸۹
(۳) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۶ ص۹۴۲

لور باندې ورولې هغه هم په حقیقت کښې الله ﷻ ورولي، نو کله چې ستا توان نشته نو د بل چا توان به د کومه شي؟.

دغه نکړه د څلورو وارو وجو څخه خکه وروسته نه کړی شوه چې انسانان نه په توبه کښې ظاهري اشتراک لري او نه په اسماني یا اخروي عذاب کښې، نو چا ته یې د ګډون خیال هم نه پیدا کیږي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأْكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضْعَٰفًا مُّضَٰعَفَةً ۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ
تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتْ لِلْكَٰفِرِينَ ﴿١٣١﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ
أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ
عَنِ ٱلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓاْ
أَنفُسَهُمْ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ فَٱسْتَغْفَرُواْ لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّواْ عَلَىٰ مَا
فَعَلُواْ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّٰتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَٰمِلِينَ ﴿١٣٦﴾ ﴾

[۱۳۰] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو سود په داسې حال کښې مه خورئ (مه اخلئ) چې چندونه وي، چندونه کړی شوي وي (کامل چندونه وي)، او د الله ﷻ څخه وډار شئ شاید چې (د عذاب څخه) فلاح (نجات) ومومئ.

[۱۳۱] او د هغه اور څخه خانونه وساتئ کوم چې د کافرانو دپاره تیار کړی شوی دی (تاسو ته مناسب نه دی).

[۱۳۲] او د الله ﷻ او (د ده ﷺ) د لیږلي شوي (پیغمبر) اطاعت وکړئ شاید چې په تاسو باندې رحمت وکړی شي.

[۱۳۳] او د خپل رب ﷻ د پلوه ښښنې ته جلتي وکړئ او هم داسې جنت ته (جلتي وکړئ) چې پلنوالی یې اسمانونه او ځمکې دي (اوږدوالی خو یې یوازې الله ﷻ ته معلوم دی، او داسې جنت دی چې) متقیانو ته تیار کړی شوی دی (همدوی ته مناسب جوړ شوی دی).

[۱۳۴] (متقیان) هغه کسان دي چې په خوشالی او خپګان کښې (في سبیل الله) انفاق کوي، او (دوی د قدرت سره-سره) د خپلو غُصو زغمونکي دي، او (دوی) د خلکو څخه عفو کوونکي دي. او (دوی احسان کوونکي دي چې) الله ﷻ احسان کوونکي خوښوي.

[۱۳۵] او (دوی) هغه کسان دي چې کله دوی ډېر بدکار وکړي (چې متعدي ګناه وي) او یا په خپلو ځانو باندې ظلم وکړي (چې لازمي ګناه وي) نو دوی الله ﷻ یاد کړي (د هغه ﷻ د شان د عظمت د اغېز لاندې راشي) نو د خپلو ګناهونو څخه ترې ښښنه وغواړي؛ او څوک دی هغه چې ګناهونه ښښي (هیڅوک نشته) مګر یو الله ﷻ دی (او بس). او (د همدې کبله) دوی په هغه شي (عصیان) باندې اصرار (همېشه والی) نه کوي چې دوی کړي دي، حال دا چې دوی په دې پوهېږي (چې بل څوک نجات نه شي راکولی، د ګناه عواقب ډېر مشکل دي).

[۱۳۶] (نو) دغه کسان چې دي د خپل رب د پلوه د دوی جزا مغفرت او داسې جنتونه دي چې لاندې ترې ویالې بهېږي په داسې حال کښې چې دوی به پکښې همېشه وي. او د (نېکو) عمل کوونکو دپاره ډېر ښه اجر دی (دغه جنتونه او مغفرتونه).

ارتباط

څرنګه چې د دې ایتونو څخه وړاندې او وروسته ایتونه د احد د غزا په اړه مضامین تعقیبوي او ذکر شوي نهه ایتونه ظاهراً داسې ښکاري چې د نوموړې غزا سره څه اړیکه نه لري، نو ځکه ځینو مفسرینو ویلي دي چې قرآن کریم په درویشتو کلونو کښې نازل شوی دی او ضرور نه ده چې د ایتونو د ارتباط دپاره یې ځانونه په تکلیف کړو[۱]، مګر دوی دې ته نه ګوري چې دا هم د قرآن کریم یو اعجاز دی چې په درویشتو کلونو کښې نازل شوی دی خو سره د دې د ایتونو اړیکې یې داسې ټینګې دي ته به وایې چې ټول په یوه ورځ کښې نازل شوي او واقعات یې په یوه ورځ کښې موجود شوي دي. هو! دا بېله خبره ده چې ناقص انسان په ځینو ځایونو کښې څه ویلی شي او په نورو کښې ګونګ پاتې کېږي.

همدا موضوع د [البقرة:۱۲۲] ایت لاندې ښه شرحه شوې ده مګر په دې مقام کښې مونږ ته د الله ﷻ په توفیق د ارتباط په هکله لاندې وجې په نظر راځي:

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانو ته توصیه کړې وه چې د کافرانو څخه د ځانو دپاره رازدار مه جوړوئ ځکه چې هغوی په هیڅ وجه ستاسو په خیر باندې نه راضي کېږي دهمدې کبله یې د احد په غزا کښې درسره خیانت وکړ او د لارې د نیمانې څخه بېرته ستانه شوه.

په دې ایتونو کښې د هغوی سره یو بل ډول اړیکه حرامه ګرځولې شوې ده چې هغه د سودخورۍ اړیکه ده. که څه هم د سودخورۍ معامله د مسلمانانو او کافرو ټولو سره حرامه ده او ایت شریف مطلق دی مګر د یهودانو سره د نه یو ځای کېدو په بحث پورې ځکه متصله ذکر شوه چې دا کار په دوی کښې ډېر زیات وه.

۲_ د احد په غزا کښې د ماتې اصلي لامل دا وه چې یوه ټولګې مجاهدینو د غنیمت هڅه وکړه او خپله مورچه یې پرېښودله[۲]، نو الله ﷻ ورسره د سودخورۍ بحث ځکه متصل ذکر کړ چې

(۱) تفسیر نمونه ج۳ ص۸۶
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۵۵

مسلمانان وپوهوي د دې څخه خپل خانونه وساتئ ترڅو مو حرص مات شي خکه چې دا د مادیت (دنیا خوښوني) یو لوی بنسټ دی.

۳ـ د مال اهمیت د احتیاج په وخت کښې سړي ته ښه څرګندیږي، نو د احد په غزا کښې مجاهدین د مال په اهمیت باندې ډېر ښه پوه شوه، خکه چې د ناداری د کبله یې د شهیدانو د تکفین وسه نه درلوده تردې چې د سید الشهداء (حمزه ﷺ) او ځینو نورو صحابه وو کرامو ﷺ[۱] پښې یې په سرګرو پټې کړې او سره د دې د غزا په پای کښې ورباندې کافرانو دا غږ هم کړی وه چې کال ته به بیا د بدر په موقعیت کښې جنګیږو، نو څه لرې نه ده چې د دوی په زړونو کښې د راتلونکې غزا د تجهیزاتو دپاره د مال د تحصیل فکر پیدا شوی وی. نو الله ﷻ د سودخوری د تحریم ایت ورسره متصل رانازل کړ چې د غزاګانو تجهیزات وکړئ خو پام کوئ چې سود خوري ونه کړئ. د سود نوم خکه واخستل شو چې هلته یې ډېر رواج درلود او د وخت د مشهورو معاملاتو څخه ګڼل کېده. یعنې مال حاصل کړئ خو د حلالو څخه، نه د حرامو څخه.

۴ـ بالآخره، د احد په غزا کښې صحابه وو کرامو ﷺ د بې صبری او د تقوی د کمزوری عواقب په سترګو ولیده او د قیامت د ورځې پورې ورباندې الله ﷻ ټول مسلمانان خبر کړه، تردې چې د ټولو ذهنونه د صبر او تقوی دپاره ښه اماده شوه نو د بحث په منځکښې یې څه اوامر او نواهي توصیه کړه چې صبر او تقوی یوازې په وسلواله غزا کښې ضرور نه ده بلکې دا دواړه په هره یوه غزا کښې، برابر خبره ده چې د انسي شیطانانو سره وي او که د جني، د فتحې او نصرت دپاره د مهمو عواملو څخه دي. نو باید چې په ټولو معاملاتو کښې د حرامخوری څخه صبر او تقوی وکړئ.

هو! دا ایتونه د معترضه جملو په شکل کښې خکه دلته کېښودل شوه ترڅو لوستونکي ورته ښه متوجه شي او فکر پکښې وکړي. او دا څکه چې کله یوه جمله د خپله ځایه بې ځایه ذکره شي نو د لوستونکو توجه ځان ته راکاږي.

د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! باید د احد د غزا شکست درباندې دومره تاثیر ونه کړي چې ټوله توجه مو همدغه پلو ته ورتاوه شي او نور احکام د نظره وغورځوئ بلکې د الله ﷻ په ټولو احکامو کښې هم تقوی وکړئ او هم صبر او استقامت د لاسه مه ورکوئ، ترڅو تاسو په دنیا او آخرت کښې د فلاح خاوندان شئ: د احکامو څو مثالونه دا دي:

۱ـ ای مؤمنانو! تاسو سود خوري مه کوئ خصوصاً په هغه بې رحمه شکل سره چې په کافرانو کښې رواج ده چې د سرمایې چندونه‌چندونه ترې جوړیږي خو بیا هم اصلي سرمایه په ځای پرته وي.

۲ـ د ټولو مناهیو څخه خانونه وساتئ خکه چې دا د دوزخ اسباب دي او دوزخ خو د کافرانو دپاره تیار کړی شوی دی، مسلمانانو ته مناسبه نه ده چې خانونه پکښې ورواچوي، که څه هم په موقته توګه وي.

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۵۷۹

۳_ د الله ﷻ او د ده د لېږلي شوي (پیغمبر ﷺ) اطاعت وکړي او ټول اوامر یې په عمل کښې پیاده کړئ. چې کله مو دا کار وکړ بیا نو همدې ته په امید اوسئ چې په تاسو باندې رحم وکړی شي او په دنیا او آخرت کښې د مشکلاتو څخه د نجات خاوندان شئ، او په دې باندې علاوه د زیات توفیق منونکي به هم جوړ شئ.

۴_ په عمرونو باندې اعتماد مه کوئ څه لرې نه ده چې ډېر ژر درته مرگ ورسېږي نو د خپل رب مغفرت ته جلتي وکړئ او هغه جنت ترلاسه کړئ چې ډېر پراخه وي، پلنوالی یې د اسمانونو او ځمکو په شان دی او د اوږدوالي اندازه خو یې یوازې الله ﷻ ته معلومه ده او بس.

دا جنت متقیانو ته تیار کړی شوی دی چې په ټولو شرعي احکامو کښې (د غزا په شمول) د تقوی خاوندان وي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: متقیان هغه څوک دي چې د الله ﷻ په لار کښې په هر حالت کښې د خپلې وسې په اندازه نفقه کوي، خوشالي وي او که خپگان، غنا وي او که فقر، صحت وي او که مرض، او داسې نور.

ب: چې دوی خپله غُصه د قدرت سره-سره زغمي او بهر یې نه اوباسي.

ج: چې دوی خلکو ته عفوه کوي او د گناه څخه ورتېرېږي که څه هم هغوی داسې بې اطاعتي کړې وي چې د هغې په سبب غټ مصیبت نازل شوی وي لکه د احد په غزا کښې یې چې د غشو ویشتونکو د ډلې اکثره مجاهدین مرتکب شوي وه او خپله مورچه یې پرېښې وه.

د: چې دوی برسېره په عفوه باندې، د هغوی سره نیکي هم کوي او په نېک نظر ورته گوري او دا ځکه چې الله ﷻ احسان کوونکي خوښوي.

هـ: د متقیانو څخه هغه کسان هم دي چې کله هغوی د متعدي جنایت مرتکب شي (چې ضرر یې نورو خلکو ته هم رسېږي) او یا په خپلو ځانو ظلم وکړي (چې لازمه گناه وکړي او بل چا ته یې ضرر نه رسېږي) نو په دواړو حالاتو کښې الله ﷻ یادوي او په خپلو گناهونو باندې پښېمانه کېږي او د الله ﷻ څخه بښنه غواړي (د دوی دا کرنلاره ډېره په ځای ده ځکه چې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک گناهونه نه شي بښلی او دوی واقعیت درک کړی دی).

دا وه په تېر شوي حالت کښې د دوی تگلاره. د راتلونکي حالت تگلاره یې دا ده چې دستي د گناه څخه لاس اخلي او په داسې حال کښې وربانديې اصرار (دوام) نه کوي چې دوی د یو پلوه پوهېږي چې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک گناه نه شي بښلی او د ده ﷻ څخه نااُمیدي کفر دی چې رحمت یې ډېر پراخه دی، او د بله پلوه د گناهونو په عاقبت باندې هم یقین لري چې په دنیا کښې شکست دی او په آخرت کښې هغه دوزخ دی چې کافرانو ته تیار کړی شوی دی.

نو هغه متقیان چې ذکر شوي پنځه صفات ولري د دوی به هغه مغفرت هم په نصیب شي کوم ته چې دوی جلتي کوله او هغه جنت ته به هم په دوامداره توگه داخل شي کوم چې د همدوی دپاره تیار شوی دی چې ډېر ښه ځای دی او همدغو عمل کوونکو ته منظور کړی شوی دی.

توضیحات

١ـ د "أضْعَاف" کلمه د "ضَعْف" جمعه ده او "ضَعْف" یو چند (مثل) ته وایي نو "أضْعَاف" د امثالو او چندونو په معنی سره دی. همدارنګه د "ضَعْف" څخه "مُضَاعَفَة" هم اشتقاق شوې ده چې په تاکید باندې دلالت کوي. په دې اړه مونږ د ﴿ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ ﴾ [آل عمران: ١۴] ایت لاندې څه بحث کړی دی چې یو خل کتل یې بد نه دي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای مؤمنانو! په زښتو ډېرو چندونو سره سود خوري مه کوئ. په لاندې دوه صورتونو کښې نوموړي چندونه ښه واضحه کېږي:

الف: د جاهلیت په زمانه کښې رواج وه چې کله به د قرض (دَین) نېټه پوره شوه د مال خاوند به مدیون (پوروړي) ته اختیار ورکړ چې خوښه دې چې زما قرض راکوې او که په قرض کښې زیادت کوې نو زه به په نېټه کښې اضافه وکړم. که هغه به اول شق اختیار کړ نو خبره به فیصله شوه او که نه نو په قرض باندې به څه برخه ورزیاته کړی شوه او په نېټه کښې به څه ټاکلی وخت وراضافه شو[1]. دغې سلسلې څه انقطاع نه درلود، کله-کله به همدغو زیادتونو دومره دوام وکړ چې سودونه به د اصلي سود (لومړي سود) څو چندۀ ته ورسېده. او همدارنګه به کله-کله د اصلي پور (دَین) څو چنده جوړېده.

ب: ځینې مفسرین کرام وایي چې په مصر کښې یې د سود خورۍ داسې رواج هم لیدلی دی چې په ورځ کښې ځینې سود خواره د اصلي قرض درې فیصده (٣٪ ګټه اخلي[2]، چې تقریباً په درې دېرش ورځو کښې د سود د اصلي سرمایې یو مثل (یو چند) جوړېږي او په دیارلس میاشتو کښې دولس چنده کېږي.

سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې د هغه سود څخه مؤمنان منعه کړی شوه چې په چندونو باندې وي، نو ایا د دې څخه خفیف سود جائز دی؟

مونږ وایو چې: د چندونو قید د دې دپاره نه دی چې خفیف سود به جائز وي. د همدې کبله په بل خای کښې مطلقًا ذکر شوی دی لکه چې فرمایي: ﴿ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ ﴾ [البقرة: ٢٧٥] یعني: او الله ﷻ سود حرام کړی دی. بلکې دغه قید د واقع د بیان دپاره دی. یعني د ایت د نزول په وخت کښې همدغه ډول بې رحمه سود رواج وه. د دې قید مثال داسې دی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم ﴾ [النساء: ٢٣] یعني: په تاسو باندې د هغو پرکتیانو انجونو نکاح حرامه ده چې هغوی ستاسو په کورونو کښې استوګنه لري. او دا څکه چې د پرکتیو انجونو نکاح کول خو په مطلقه توګه حرام دي چې د سړي په خپل کور کښې استوګنه لري او که

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج١ ص۴٠۴

(٢) تفسیر المنار ج۴ ص١٣١

د بل چا په کور کښې اوسېږي، خو عادت دا دی چې دغسې یتیمانې انجونې هملته اوسېږي جرته یې چې مور مېره کړی وي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ﴿ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴾ څخه څرګندېږي چې دوزخ د کافرانو دپاره تیار کړی شوی دی، نو ایا عاصي مؤمن ته دوزخ نشته؟

مونږ وایو چې:

الف: د ﴿ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴾ څخه دا نه معلومېږي چې د کافرانو څخه پرته ګناهګار مؤمنان به پکښې نه شي معذبه کېدلی، لکه چې د جنت په باره کښې د ﴿ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ﴾ څخه هم دا نه معلومېږي چې لېونیان او ماشومان به نه شي ورتلی(۱). یا په بل عبارت: دوزخ په قصدي توګه کافرانو ته تیار کړی شوی دی او مؤمنان ګناهګاران بالتبع ورداخلېږي چې په عمل کښې یې د کافرانو په قدم باندې قدم ایښی دی اګر که عقیده یې برابره ده.

نو دوی ته مناسبه نه ده چې د هغوی په قدم باندې لاړ شي بلکې د هغوی تګلارې ته ادامه ورکول د دې خطر لري چې عقیده یې خرابه شي او بالکل کافر شي. نو مؤمنانو ته په کار دي چې د سودخورۍ څخه ځانونه بچ وساتي چې دا د کافرانو کار دی.

بالمقابل جنت په قصدي توګه متقیانو ته تیار کړی شوی دی او لېونیان او ماشومان بالتبع ورداخلېږي خکه چې دوی هم د متقیانو غوندې په امتحان کښې ناکام شوي نه دي، چې بالکل د امتحان لاندې نه دي راغلي.

ب: په دوزخ کښې مختلف مواقع دي لکه چې ﴿ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ [النساء: ۱۴۵] ایت وربانديې دلالت کوي. نو کوم موقعیت چې د کافرانو دپاره تیار کړی شوی دی هغه ته مؤمنان ګناهګا ـ ن نه ورداخلېږي(۲). مګر دا جواب متبادر نه دی.

د جنت عرض څه معنی؟

۴ـ ځینې مفسرین کرام دا خبره چې د جنت عرض (پلنوالی) د اسمانو او ځمکو په اندازه دی د کاملې پراخۍ څخه کنایه اخلي(۳). یعنې انسان ته د اسمانو او ځمکو څخه په غیر بل کوم پراخه شی معلوم نه دی نو دوی پوه کړی شوه چې جنت د اسمانونو او ځمکو غوندې پراخه دی بلکې د دې څخه لا زیات پراخه دی خو ستاسو ورته فکر نه رسېږي، لکه چې فرمایي: ﴿ فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم ﴾ [السجدة: ۱۷] یعنې: نو هیڅوک په هغه شي باندې اوس نه پوهېږي چې جنتیانو ته پټ ساتلی شوي دي.

(۱) المدارک ج۱ ص۲۵۴
(۲) روح المعاني ج۴ ص۵۶
(۳) التفسير الكبير ج۹ ص۶

مګر جمهور مفسرین دلته "عَرْض" په خپله معنی باندې اخلي چې د "طُول" مقابل دی. عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې که اوه اسمانونه او اوه ځمکې يو تربله پيوسته کړی شي نو دا د جنت عرض (پلنوالی) دی[۱]. اما په طول (اوږدوالي) باندې يې د الله ﷻ څخه پرته بل هيڅوک نه پوهېږي لکه چې الله ﷻ د جنت د فرشونو په باره کښې فرمايي چې: ﴿ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ [الرحمن: ۵۴] يعنې: استرونه به يې د ورېښمو وي. او مخونه يې يوازې الله ﷻ ته معلوم دي.

سوال جواب

۵ـ که څوک وايي: چې کله جنت هسدومره پراخه دی نو دوزخ چرته دی، سره د دې چې هغه هم په عالم کښې موجود دی؟

مونږ وايو چې: همدغه پوښتنه د نبي کريم ﷺ څخه د يوه کاغذ په مخ هرقل (د روم پاچا) کړې وه، چې نبي کريم ﷺ جواب ورکړی دی چې: «سُبْحَانَ اللهِ فَأَيْنَ اللَّيْلُ إِذَا جَاءَ النَّهَارُ»[۲] سبحان الله (تعجب دی) شپه چرته خي کله چې ورځ راشي؟!. يعني کله چې د شپې د موجوديت څخه انکار نه کوئ سره د دې چې کيفيت يې درته معلوم نه دي چې په کومو-کومو خايونو باندې به وي، نو د جنت او دوزخ د موجوديت څخه ولې انکار کوئ چې نور کيفيات يې درته څرګند نه دي؟

نو اصل خبره دا ده چې د ټول عالم طول او عرض په اوه اسمانونو او اوه ځمکو پورې محدود نه دی، د الله ﷻ څخه په غير ورباندې بل هيڅوک نه پوهېږي، لکه چې د [البقرة:۲۵۵] ايت لاندې يې څه بيان تېر شوی دی که يو ځل بيا وکتل شي مفيد به واقع شي.

او ذکر شوی سوال چې د چا ذهن ته تشويش وراچوي وجه يې دا ده چې هغه ټول عالم (هغه موجودات چې د الله ﷻ څخه په غير دي) په اوه اسمانونو او اوه ځمکو کښې محدودوي او حال دا چې خبره داسې نه ده. عرش او کرسي هم د عالم څخه شمېرل کېږي خو په اوه اسمانو کښې شامل نه دي. څه لرې نه ده چې الله ﷻ د عرش عظيم څخه لاندې او د اسمانونو څخه دباندې د متقيانو دپاره جنتونه تيار کړي وي.

"السَّرَّاء" او "الضَّرَّاء" څه معنی؟

۶ـ که څه هم مفسرينو کرامو د ذکر شوو دواړو کلمو ډېر تفسيرونه کړي دي[۳]، مګر ډېر واضحه او جامع تفسير يې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما کړی دی چې د اسانۍ او سختۍ دوه حالتونه دي[۴]، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې متقيان په هيڅ حالت کښې هم د في سبيل الله انفاق څخه لاس نه اخلي، که صدقه يې لږه وي، وي به، مګر اخلاص به يې ډېر وي. لکه چې نبي کريم ﷺ

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۳۱۵
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۳۱۷
(۳) تفسير القرطبي ج۴ ص۲۰۶
(۴) تفسير الطبري ج۴ ص۹۳

فرمايي: «اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ»[١] يعني: د دوزخ څخه خانونه وساتئ اگر چې د يوې خرما په يوه څنډه باندې وي چې نيمائي خرما خيرات كړئ او په سخيانو كښې خانونه حساب كړئ.

غَيظ او غَضَب څه فرق لري؟

٧ـ "غَيظ" او "غَضَب" تقريبًا مترادفان دي. مگر دومره فرق لري چې "غَيظ" هغې غُصې ته وايي چې اثار يې په جوارحو باندې ښكاره نه شي او "غَضَب" هغې غُصې ته وايي چې اثار يې پرې ځرگند شي. او يا په بل عبارت: د غضب سره انتقام ملگرى وي او د غَيظ سره ملگرى نه وى[٢].

په هر تقدير، د غضب نسبت الله ﷻ ته شرعًا صحت لري او د غَيظ نسبت ورته صحت نه لري.

په دې مقام كښې يې د معنى حاصل داسې كېږي چې متقيان هغه كسان دي چې خپله غُصه پټه زغمي او د غضب رتبې ته يې نه رسوي چې آثار يې ځرگند شي.

په همدې متعلق لاندې يو حديث ولولئ:

نبي كريم ﷺ فرمايي: «مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ دَعَاهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أَيِّ الْحُورِ شَاءَ»[٣] يعني: هرڅوك چې خپله غُصه وزغمي حال دا چې په اجراء كولو باندې يې قدرت لري نو الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ د ټولو خلكو په وړاندې وروبلي ترڅو اختيار وركړي چې كومه يوه حوره يې خوښه ده (چې ورېې كړي).

د فاحشه او د ظلم على النفس څه فرق دى؟

٨ـ په هر شي كښې چې د يو حد څخه تجاوز وشي هلته د "فحش" كلمه او نور مشتقات يې استعمالېږي. د همدې كبله فقهاء كرام "غَبن فَاحِش" هغې غولېدنې ته وايي چې د مبيعې د رواجي قيمت څخه داسې ښكاره زيادت وشي چې د هيچا د نظره پټ نه وي او هيڅ قيمت كوونكى يې ورباندې قناعت نه لري[۴].

نو په گناهونو كښې فاحشه د هغې گناه نوم دى چې په عصيان كښې يې د حده تجاوز كړى وي، د همدې كبله مفسرينو كرامو د ﴿ فَٰحِشَةً ﴾ كلمه په دې مقام كښې په متعددو معناوو باندې تفسيره كړې ده، لكه كبيره گناه او زنا او داسې نور[۵].

مگر مونږ ته داسې ښكاري چې دلته فاحشه گناه د متعدي گناه څخه عبارت ده چې په بل چا باندې ظلم وي. ځكه چې په مقابل كښې يې د ﴿ أَوْ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمْ ﴾ جمله ذكره شوې ده چې د دې څخه په واضحه توگه لازمه گناه مطلب ده چې بل چا ته يې تجاوز نه وي كړى.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٨٩٠
(٢) تفسير المنار ج۴ ص١٣۴
(٣) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٣٠٣
(۴) رد المختار على الدر المختار ج۴ ص١٧٨
(۵) التفسير الكبير ج٩ ص١٠

نو د معنی حاصل به یې داسې کېږي چې په تقوی کښې دا شرط نه ده چې بالکل دې گناه ونه کړي او عصمت دې ولري، که دا پکښې شرط وی نو د پيغمبرانو سيوا بل څوک به هيڅوک متقي نه وی جوړ شوی.

هوا دا پکښې شرط ده چې گناه باندې اصرار (دوام) ونه کړي، متعدي گناه وني او که لازمي گناه وي، څکه چې په دې صورت کښې ورته د متقي په عوض د فاسق نوم اېښودل کېږي.

سوال جواب

٩ ـ که څوک وايي چې: د اېتونو څخه څرګندېږي چې جنتونه هغو مؤمنانو ته ورکول کېږي چې يا يې د ګناهونو څخه خانونه ساتلي وي او صالح عملونه يې کړي وي او يا يې ګناه کړې وي خو د ګناه څخه توبه تائب شوي وي او اصرار يې ورباندې نه وي کړی. نو پوښتنه دا ده چې ايا هغه ګناهګار ته جنت شته چې نه د ګناه څخه توبه تائب شوی وي او نه يې ورباندې اصرار کړی وي؟

مونږ وايو چې: ګناهګار مؤمن اګر چې دوزخ ته تلای شي خو دائم پکښې نه پاتې کېږي، دلايل يې د [آل عمران:٢٤] ايت لاندې ذکر شوي دي بيا ليکلو ته يې حاجت نه ګورو.

هوا دغو ايتونو نوموړی د جنتيانو څخه ونه شمېره او سکوت يې ورباندې وکړ، څکه چې دا د مدحې مقام دی، په دې مقام کښې د هغو جنتيانو ذکر ته حاجت نشته چې هغوی د دوزخ د دورې څخه وروسته جنت ته لاړ شي. يا په بل عبارت: هغوی د دې وړ نه دي چې د جنتيانو په ډله کښې ياد کړی شي که څه هم جنتيان دي (د ابدي دوزخ مستحق نه دي).

﴿ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ (١٣٧)
هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ (١٣٨) وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ
الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (١٣٩) إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ
الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا
يُحِبُّ الظَّالِمِينَ (١٤٠) وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ (١٤١) أَمْ حَسِبْتُمْ أَن
تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ (١٤٢) وَلَقَدْ كُنتُمْ
تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ (١٤٣) ﴾

[١٣٧] يقيناً ستاسو څخه وړاندې لارې تېرې شوي دي (چې تاسو ته پکښې د عبرت درسونه شته) نو په ځمکه کښې وګرځئ نو وګورئ چې (د پيغمبرانو) د تکذيب کوونکو عاقبت څنګه شو.

31

[۱۳۸] دا (ذکر شوي مضامین) د ټولو خلکو دپاره بیان دی او د متقیانو دپاره هدایت او موعظه ده (چې دوی ترې ګټه پورته کوي).

[۱۳۹] او مه سستېږئ او مه غمژن کېږئ حال دا چې تاسو (سمدستي هم) غالب یاست که باور کوونکي یاست (نو باور پرې وکړئ).

[۱۴۰] که تاسو زخمونه مسه کړي نو بې شکه (دغه کافر) قوم هم ستاسو د زخمونو غوندې زخمونه مسه کړي وه (په بدر کښې یا په احد کښې مګر په اول پیل کښې).

او دغه (ښې او بدې) ورځې مونږ د خلکو په منځو کښې اړوو او را اړوو (کله یې د یوې ډلې په برخه کړو او کله یې بلې ډلې ته ورکړو، د ډېرو حکمتونو دپاره) او د دې دپاره چې الله ﷻ هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی معلوم کړي. او (د دې دپاره چې) ستاسو څخه یو ټولګی (د خپل خان دپاره) شهیدان جوړ کړي. او الله ﷻ ظالمان نه خوښوي (بلکې شهیدان خوښوي).

[۱۴۱] او د دې دپاره چې هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی (د ګناهونو او منافقت څخه) سوچه او پاک وګرځي او هم د دې دپاره چې کافران محوه او نابود کړي (چې د نابود کولو د قانون لاندې راشي).

[۱۴۲] ایا تاسو ګومان کوئ چې جنت ته به داخل شئ حال دا چې الله ﷻ به نه هغه کسان معلوم کړي وي چې هغوی ستاسو د ډلې څخه ښه جهاد کوي او نه به یې ښه صبر کوونکي معلوم کړي وي.

[۱۴۳] او بې شکه تاسو د دې څخه وړاندې د مرګ (شهادت) آرزو کوله (نو نور خو څه نه دي شوي فقط همدا شوي دي چې) هغه مو ولید او حال دا چې تاسو ورته (په ړنو سترګو) کتل (چې کله به په یوه باندې شهادت واقع شو او کله به په بل).

د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د معترضه ایتونو څخه وروسته د بیان مخه بېرته د احد د غزا په لور اړوله شوې ده او ډېره دقیقه تبصره وړاندې شوې ده چې نه یوازې صحابه وو کرامو ﷺ ته بلکې د قیامت د ورځې پورې ټولو مجاهدینو ته پکښې ډېر زیات د عبرت درسونه ځای کړی شوي دي. تفصیل یې دا دی:

یعني: ای مؤمنانو! تاسو ولې د احد په غزا کښې په شکست باندې دومره زیات متاثر یاست؟ ایا تاسو غوښتل چې د همېشه دپاره به په معجزانه توګه فتحه ترلاسه کوئ، که څه هم د الله ﷻ مقرره اسبابو او سنتو مراعات مو نه وي کړی؟ ایا ستاسو دا خیال دی چې شکست مو ناکامي ده؟

۱_ دغسې نه ده، تاسو خو لاړ شئ د ځمکې په مخ باندې د پخوانیو کافرانو اثار او نښې وګورئ چې د هغوی انجام څه شی شو؟ هغوی د الله ﷻ په غضب باندې هلاک کړی شوي دي او بری د مؤمنانو په نصیب شوی دی. نو ستاسو دښمنان به هم الله ﷻ هلاک کړي او د عاقبت بری به

ستاسو په برخه شي. تېره شوې غزا خو وروستنۍ غزا نه ده چې فیصله کوونکې وګڼله شي بلکې ستاسو مخې ته به ډېرې نورې غزاګانې راشي که تاسو تقوی درلوده نو فتحه به ستاسو په خوا وي.

برسېره په دې الله ﷻ په عالم الاسباب کښې د هر شي دپاره سبب ټاکلی دی، نو د فتحې او کامیابۍ سبب اتفاق او د آمر اطاعت دی. په نوموړې غزا کښې تاسو په خپل منځکښې اتفاق خراب کړ چې د غشو ویشتونکو ډله مو په دوه برخو ووېشله شوه، یوې ډلې برسېره په بې اتفاقۍ نه د خپل سرګروپ خبره ومنله او نه یې د عمومي آمر په امر عمل وکړ.

الله ﷻ کولی شو چې د دې تخلف سره-سره یې د معجزې په توګه فتحه درکړې وی خو دا کار یې ونه کړ ترڅو تاسو همېشه معجزې ته منتظر نه شئ او د اسبابو څخه هم پوره کار واخلئ لکه چې ستاسو دښمنان یې ترې اخلي.

دا قرآن کریم د ټولو خلکو دپاره بیان دی چې د تکلیف په دوران کښې وربانديې ایمان راوړي هسې نه چې ایمان راوړلو ته مجبور شي. نو که د احد په غزا کښې هم د بدر د غزا په شان په معجزانه توګه غالب شوي وی نو دا معنی به یې ورکړې وی چې کافران ایمان راوړلو ته مجبور دي.

دا قرآن کریم ستاسو دپاره د دنیا او آخرت رڼا ده او همدا ستاسو دپاره نصیحت دی ځکه چې تاسو متقیان یاست او همدا تاسو ترې ګټه اخلئ او عمل وربانديې کوئ.

۲ـ نو که څه هم تاسو د احد په غزا کښې زخمیان شوئ او ډېر مجاهدین مو په شهادت ورسېده مګر په دې باندې د جهاد څخه مه ستړېږئ او مه پرې دومره غمژن کېږئ چې د جهاد سره مو ارتباط قطعه شي. او دا ځکه چې همدا تاسو په کافرانو باندې د همدغه (شکست) په حالت کښې هم برلاسي یاست، که تاسو رښتیا باورکوونکي یاست نو مه ستړېږئ او مه غمژن کېږئ ځکه چې:

۳ـ ای مؤمنانو! لکه څنګه چې تاسو د غوښو څخه جوړ یاست، هم زخمي کېږئ او هم وژل کېږئ همدارنګه ستاسو دښمنان (کافران) هم د غوښو څخه جوړ دي، د ژوبلېدلو او وژلو څخه خلاصون نه شي موندلی. لاندې دوه مثالونه ولولئ:

الف: د احد په غزا کښې د جهاد په پیل کښې کافرانو ماتې وخوړه چې ډېر کسان یې زخمیان او ډېر یې ووژل شوه. خو په پای کښې ستاسو زخمیان او وژل شوي په هغوی باندې زیات شوه مګر په اصلي زخمیتوب او وژنه کښې سره دواړه ډلې یو برابر وې، خو کومه هیله چې ستاسو سره وه، چې د الله ﷻ رضا ده،د هغې څخه ستاسو دښمنان محروم وه، ستاسو شهیدان په جنت کښې دي او د هغوی وژلي شوي په دوزخ کښې، تاسو الله ﷻ راضي کړ او هغوی شیطان.

ب: د بدر په غزا کښې خو تاسو په هغوی باندې د هر حیثه د پاسه وئ، ځکه چې ستاسو صرف څوارلس کسان شهیدان شوه او د هغوی اویا کسان ووژل شوه او اویا نفره یې ستاسو په لاسونو کښې اسیران ولوېده او مالونه یې درته د ولجې په توګه لاس ته درغله.

۴ـ تاسو پوه شئ چې د دنیا ښې ورځې او بدې ورځې اوړي او راوړي، نه په ښه ورځ دومره خوشالي په کار ده چې بده ورځ سوچه هېره شي او نه په بده ورځ دومره مایوسي او خپګان په کار

دی چې د ښې ورځې څخه امید قطعه کړی شي. هوا د آخرت د ورځې ښې او بدې ستاسو او ستاسو د دښمنانو په منځکښې بدلون نه مومي، چې تاسو به همېشه په جنت کښې یاست او هغوی به همېشه دوزخیان وي.

۵ـ د احد په غزا کښې چې تاسو د ماتې سره مخامخ شوئ په دې کار کښې زښت ډېر حکمتونه او اسرار نغښتي دي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: ترڅو الله ﷻ منافقان معلوم کړي. او دا څکه چې دوی د ماتې په وخت کښې بې پردې خبرې کوي او په خپل منافقت باندې پرده نه شي اچولی نو کله چې تاسو د هغوی څخه د کفر خبرې واورېدې نو تاسو به هم پوه شئ چې دوی حقیقي مؤمنان نه دي. نو که دا کار الله ﷻ نه وی کړی تاسو به منافقان څه پېژاندلي وی؟ که بالفرض تاسو ته پیغمبر ﷺ دربښودلي وی نو د پیغمبر ﷺ د وفات څخه وروسته به دا کار چا کړی وی؟.

ب: ترڅو ستاسو د جملې څخه الله ﷻ یوه ډله شهیدان جوړ کړي چې ډېره معززه او محترمه ډله ده، په هر قوم کښې چې د شهیدانو ډله غتېږي د هغه قوم عزت او آبرومندي هم اضافه کېږي. نو که دا کار نه وی شوی تاسو به د شهیدانو د ډېروالي څخه محروم پاتې شوي وی، او حال دا چې الله ﷻ خو ظالمان نه خوښوي چې ستاسو شهیدان کېدل یې د هغوی د خوښې دپاره واقع کړي وي. بلکې ستاسو ډله یې د خپلې خوښې دپاره شهیدان جوړ کړه چې دوی په الله ﷻ باندې ډېر ګران دي او د قیامت په ورځ به د هغه ﷻ په حضور کښې ستاسو شفاعت کوونکي وګرځي چې هلته به تاسو وریاندې په خپله خوښ او راضي شئ.

ج: ترڅو الله ﷻ مؤمنان د منافقانو څخه سوچه او خالص وګرځوي. که دا کار نه وی شوی نو مؤمنان به د منافقانو څخه نه وی جدا شوي او دواړه ډلې به سره خلطې ملطې اوسېدلی. یعنې د منافقانو ښکاره کول یو مطلب دی او د مؤمنانو صفونه د هغوی څخه سوچه جوړول دوهم مطلب دی که څه هم دواړه مطلبونه یو تربله سره لازم او ملزوم دي.

برسېره په دې، ترڅو الله ﷻ د مؤمنانو ګناهونه عفوه کړي او د معاصیوو څخه یې سوچه او خالص جوړ کړي.

د: ترڅو کافران محوه کړي او صفونه یې مات کړي. که بالفرض دا کار (شکست) نه وی شوی نو دوی به بیا د مؤمنانو جنګ ته زړه نه وی ښه کړی او مقابلې ته به یې نه وی راوتلي، کله چې دا کار واقع شو نو دوی (کافرانو) ته د بریالیتوب امیدونه پیدا شوه چې د نورو جنګونو اورونه یې بل کړه او په نتیجه کښې دوی نابود او بالکل د منځه لاړل.

ه: ترڅو په تاسو کښې د مجاهدینو او صابرینو مراتب وټاکل شي چې څوک په جهاد او صبر کښې څومره کلک دي او څوک پکښې سست دي؟ که دا کار نه وی شوی د قیامت په ورځ به هر یو مجاهد او هر یوه صابر په خپله برخه باندې قناعت نه کولی دا به یې ویلی چې ایا زه د فلاني څخه په جهاد او صبر کښې کمزوری وم؟.

ای مؤمنانو! ستاسو څه خیال دی چې د مراتبو د تاکنې څخه ورانديږ به تاسو جنت ته داخل شئ؟ نه، هیڅکله داسې نه شي کېدلی.

۶_ ای مؤمنانو! ولې په ماتې باندې دومره زیات متاثر یاست؟ په جنګونو کښې خو هم زخمونه شته او هم وژنې، بلکې د جنګ سره مخامخ کېدل داسې دي لکه د مرګ سره مخامخ کېدل. ایا تاسو پخپله د جنګ آرزو نه کوله چې کاشکې د کافرانو د مقابلې سره مخ شو نو که بیا مړه یو مړه به یو؟ په دې کار کښې خو نور څه نه دي شوي فقط ستاسو آرزو پوره کړی شوې ده چې یقیناً مرګ مو ولیده او په غړېدلو سترګو مو ورته کتل چې کله به په یوه صحابي ﷺ باندې واقع شو او کله به بې په بل صحابي ﷺ باندې حمله وروړه. ایا تاسو هم په همدې انتظار کښې نه وئ چې په مونږ به څه وخت مرګونی ګوزار کېږي؟.

توضیحات

۱_ "سُنَن" د "سُنَّة" جمعه ده، "سُنَّة" هغې برابرې لارې ته وایي چې سمه سیده وي او یوې خوا ته هم کوږوالی ونه لري[1]، خو دلته ترې هغه الهي قوانین او طریقې مرادې دي چې په هغو باندې الله ﷻ د دنیا نظام روان کړی دی. د ښه وضاحت دپاره د الهي سُنَنُو لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: هر څوک چې د ځان دپاره خپل دښمن رازدار جوړوي هغه په حقیقت کښې په لستوني کښې ځان ته مار روزي، برابره خبره ده چې نوموړی کس مسلمان وي او که کافر وي.

ب: هر څوک چې د جنګ په میدان کښې دخپل قاند اطاعت کوي هغه به په دښمن باندې غلبه مومي او بالعکس هر څوک یې چې د اطاعت څخه غاړه غړوي که څه هم په سهوه او خطا سره وي هغه به د مصیبت سره مخامخ کېږي چې دغه دواړه منظرې د بدر او د احد په غزاګانو کښې په سترګو ولېدل شوې او حال دا چې په دواړو غزاګانو کښې نبي کریم ﷺ تشریف درلود.

ج: هره یوه ټولنه چې ایمانداره وي، اګر که د عمر په اوږدو کښې به ورباندې هر ډول خوږې او ترخې ورشي، د عاقبت کامیابي او نصرت د همدوی په برخه دی، الله ﷻ د همدوی څخه راضي دی او د همدوی په دښمنانو باندې په غضب دی چې هم به یې په دنیا کښې د غضب آثار ولیده شي او هم په آخرت کښې، لکه عادیان، فرعونیان او داسې نور.

یادونه

۲_ په دې مقام کښې د ﴿فَسِيرُوا﴾ څخه دوه ډوله سَیر (تلل) مطلب دي:

الف: په پښو یا په نورو وسائلو باندې سَیر (تلل)، ترڅو د پخوانیو کافرانو د خرابو شوو ابادیو آثار وګوري او د هغوی عاقبت د نظره تېر کړي.

ب: فکري سَیر (تلل)، ترڅو د هغوی په قیصو او نورو احوالاتو کښې فکر وکړي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۲۱۶

بَيَان، هِدَايَة، مَوْعِظَة

۳_ که څه هم د ذکرو درېوو کلماتو معناوې څرګندې دي او يو تربله سره چندان لرېوالی نه لري مګر څرنګه چې په دې مقام کښې درېواړه په اجتماعي توګه ذکر شوي دي نو مفسرينو کرامو ورته په لاندې توګه تفصيل ورکړی دی[1]:

الف: "بَيَان" هغه دلالت ته وايي چې څوک پرې د شبهاتو او اشتباهاتو مخه نيولی شي.

ب: "هِدَايَة" هغه دلالت ته وايي چې د وضاحت څخه وروسته يې څوک د خپل خان دپاره تګلاره جوړه کړي او عمل پرې وکړي.

ج: "مَوْعِظَة" هغه دلالت ته وايي چې څوک د هغه کار څخه منعه کوي کوم چې په دين کښې غير مناسب وي.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې ذکر شوي مضامين د ټولو خلکو اشتباهات د منځه وړي خو عمل ورباندې يوازې متقيان کوي او هم همدوی ورباندې د هغه کار څخه لاس اخلي کوم چې هغه په دين کښې غير مناسب دي.

"وَهْن" څه معنی؟

۴_ د ﴿ وَلَا تَهِنُوا ﴾ کلمه د "وَهْن" څخه اخستله شوې ده، "وَهْن" اصلا ضعف او کمزورۍ ته وايي[2]، مګر په دې مقام کښې په لاندې حديث شريف کښې ډېر ښه تفسير شوی دی:

نبي کريم ﷺ يوه ورځې صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې: نژدې ده چې کافران او ګمراهان ستاسو په مقابل کښې سره لاسونه يو کړي او يو بل ستاسو مقابلې ته داسې راوغواړي لکه چې يوه ډله خوراک کوونکي اندېوالان يو بل هغې کاسې ته راوغواړي چې د خوړلو دپاره يې پکښې څه تيار کړي وي.

چا پوښتنه وکړه: ايا زمونږ دښمنان به دا کار ځکه کوي چې په هغه وخت کښې به مونږ د شمار د حيثه لږ ياستو؟

نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه، بلکې تاسو به په هغه وخت کښې ښه ډېر ياست خو د سيلاب د خګ په څېر به بې وزنه او سپک ياست او الله ﷻ به ستاسو د دښمنانو د زړونو څخه ستاسو هيبت او رعب وباسي او ستاسو په زړونو کښې به "وَهْن" واچوي.

چا پوښتنه وکړه چې: ای د الله پيغمبره! او "وَهْن" څه شی دی؟

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ»[3] وهن د دنيا محبت او د مرګ څخه کرکه کول دي. يعنې دغه دواړه د سړي د کمزورۍ او سستۍ باعث ګرځي. لکه چې د أحد په غزا

---

(١) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج١ ص٦٧٣

(٢) مفردات الراغب ص٥٧٢

(٣) سنن ابي داوُد ج٢ ص٢٣٤

کښې د غشو ویشتونکو د ډلې څخه ځينو کسانو د غنيمت راغونډولو ته ورودانګل او په نتيجه کښې يې په ټولو صحابه وو کرامو ﷺ باندې بد اثر پرېووت.

مؤمنان همېشه عالي دي

۵_ ښکاره ده چې دغه ايت شريف ﴿ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ ﴾ په داسې وخت کښې نازل شوی دی چې په مجاهدينو کښې اويا کسه شهيدان شوي وه او زخميان هم پکښې ډېر وه، خو د دې ټولو سره- سره الله ﷻ دوی ته زېری ورکړ چې دغه ظاهري حالت ته مه ګورئ په عين وخت کښې تاسو برلاسي ياست که باور مو کېږي. نو د برلاسي وجې يې لاندې ولولئ:

الف: ستاسو شان ډېر لوړ دی ځکه چې ستاسو مشقات او تکليفونه د کلمة الله د إعلاء (لوړولو) دپاره دي چې په دنيا او آخرت کښې به درته ګټه ورسوي. او ستاسو د دښمن ټولې هلې ځلې د شيطان او د "كلمةُ الكُفْر" د لوړولو دپاره دي چې په دنيا او آخرت کښې به يې په زيان تمام شي.

ب: ستاسو شهيدان په جنت کښې دي او د هغوی وژل شوي په دوزخ کښې دي.

ج: ستاسو عاقبت برلاسي او غلبه ده او د هغوی عاقبت هلاک او نابودي ده.

سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ کښې د "وَ" کلمه عاطفه ده نو معطوف عليه يې کومه يوه جمله ده؟

مونږ وايو چې: معطوف عليه کلام يې د دې کبله نه دی ذکر کړی ترڅو په عموم باندې دلالت وکړي، چې د أحد د غزا اسرار او حکمتونه زښت ډېر دي خو دغه او دغه يې د مثالونو په توګه ولولئ: نو ټول عبارت يې داسې جوړېږي: "فَعَلَ اللهُ مَا فَعَلَ فِيْ أحُد لأجْلِ كَذَا وَكَذَا وَلِيَعْلَمَ" الآية.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ څخه ظاهراً داسې ښکاري چې د أحد په غزا کښې يو حکمت دا هم وه چې الله ﷻ خپل ځان ته معلومات کاوه چې څوک مؤمن دي او څوک منافق دي، څوک ښه مجاهد دی او څوک ښه صابر دی، حال دا چې د الله ﷻ علم خو أزلي او ابدي دی؟!

مونږ وايو چې: د همدې پوښتنې جواب مونږ په ډېره دقيقه توګه د [البقرة: ۱۱۲، ۱۴۳] ايتونو لاندې ليکلي دي (والحمد لله ﷻ) هيله ده هلته وکتل شي، دوهم ځل ليکلو ته يې ضرورت نه وينو.

سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: د احد د غزا د ماتې په حکمتونو کښې دا هم شمېرله شوې ده چې دا کار د دې دپاره وکړی شو چې کافران محوه او نابود کړي، نو پوښتنه دا ده چې ايا د دوی روغ پاتې

ستنبدل نابودي ده؟ ايا د دوى محوه كول به دا نه وه چې تول پوهنا شوي وى او يو كس هم كور ته نه وى ستون شوى؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ سنت په دې جاري دي چې تر هغه يو قوم نه پوهنا كوي چې ترڅو د هغه پوهنا كولو اسباب موجود نه شي او ښكاره ده چې كه كافرانو د أُحد په غزا كښې هم داسې ماتې خوړلې وى لكه د بدر په غزا كښې يې چې خوړلې وه نو دوى به د مؤمنانو په مقابله كښې هيڅكله لښكر كشي نه وى كړې او عداوت او طغيان به يې آخرني پړاو ته نه وى رسېدلى، نو دوى به هغې نابودى سره نه وى مخامخ شوي لكه چې ورسره مخامخ شوه چې د جزيرة العرب څخه يې په بشپړه توګه لاسونه وخاته او بوتخانې يې په دائمي توګه د خاورو سره برابرې شوې.

نو همدغې موقتي كاميابى هغوى ته جرئت وركړ چې بيا-بيا د مؤمنانو مقابله وكړي او د اسلام د ترقى دپاره خنډ جوړ شي، ترڅو يې طغيان انتهاء ته ورسېږي او د بشپړې نابودى وړ وګرځي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره كوي او فرمايي چې: ﴿ وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ﴾ [الإسراء: ۱۶] يعني: او كله چې مونږ د يوې قريې د هلاكولو اراده وكړو نو د هغې قريې مخورو ته (په اطاعت سره) امر كوو نو هغوى پكښې فسق كوي نو په هغوى باندې د هلاكولو خبره ثابتېږي نو دوى هلاكوو هلاكول.

يادونه

۹_ په دې باره كښې چې د مرګ آرزو كول جواز لري او كه نه؟ مونږ د [البقرة: ۹۴] ايت لاندې د دې آرزو دولونه په مفصله توګه ليكلي دي، دلته همدومره اضافه كوو چې صحابه وو كرامو ﷺ د شهادت آرزو د زړونو د كومې كړې وه، د همدې كبله الله ﷻ په ﴿ وَلَقَدۡ ﴾ سره تانيد كړه چې يقينًا تاسو دغه آرزو په اخلاص سره كړې وه خو د عمل په ميدان كښې لړو مجاهدينو تصديق كړه.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره كوي او فرمايي: ﴿ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٞ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِ ﴾ [الأحزاب: ۲۳] د مؤمنانو څخه ځينې داسې سړي هم دي چې دوى هغه خبره رښتيا كړه چې په هغې باندې يې د الله ﷻ سره عهد كړى وه. يعني په ډېره مېړانه باندې وجنګېدل چې ځينې شهيدان شوه او ځينې لا تر اوسه ژوندي دي.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ كه څوک وايي چې: صحابه وو كرامو ﷺ خو د شهادت آرزو كړې وه لكه چې د [آل عمران: ۱۲۱] ايت لاندې يو مثال تېر شوى دى او ځينو مفسرينو كرامو د دوى د خولو څخه ليكلي دي چې ځينو صحابه وو كرامو به (چې بدر ته نه وه حاضر شوي) سوال كاوه چې: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ أَنْ تُرِيَنَا يَوْمًا كَيَوْمِ بَدْرٍ»[1] يعني: اى الله! مونږ درڅخه سوال كوو چې مونږ ته هم داسې ورځ راوليده كړې لكه

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۱۱۰

د بدر د غزا ورخ، ترڅو مونږ په مېړانه جهاد وکړو او د هغو اجرونو مستحق شو چې د بدر مجاهدین یې مستحق شوي دي.

نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت د کبله الله ﷻ د صحابه وو کرامو آرزو د دوی په الفاظو سره تعبیر نه کړه چې: "وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الشَّهَادَةَ فِيْ سَبِيْلِ الله" او بې شکه تاسو د الله په لار کښې د شهادت آرزو کوله؟

مونږ وایو ـوالله أعلمـ چې: د لاندې وجو د کبله د "شَهَادَة" ځخه په "مَوْت" سره تعبیر وکړی شو:

الف: د مرګ آرزو خو د کلک جهاد ځخه کنایي ده. یعنې ای الله ﷻ مونږ ته دومره ثبات او استقامت راپه برخه کړې چې د مرګ د وخته پورې ستا په لاره کښې وجنګېږو او فرار (تېښته) ونه کړو. په همدې مطلب باندې لاندې دوه روایتونه دلالت کوي چې ځینو محدثینو د حدیبیه د بیعت په هکله روایت کړی دي:

اول: د سلمه ؓ ځخه چا پوښتنه وکړه چې: د حدیبیې په ورځ مو د نبي کریم ﷺ سره په څه شي باندې بیعت وکړ؟ هغه وویلې چې: «عَلَى الْمَوْتِ»[۱] په مرګ مو ورسره بیعت وکړ.

دوهم: جابر ؓ وایي چې مونږ د نبي کریم ﷺ سره په دې بیعت کړی دی چې: «أنْ لَا نفِرّ»[۲] تېښتو به نه. نو دا دوهم روایت د اول روایت دپاره بیان واقع شوی دی.

نو ځرنګه چې دغه ډول کنایه د مَوت په کلمه کښې مروجه ده او د شهادت په کلمه کښې یې رواج نه درلود نو ځکه الله ﷻ ﴿ وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ ٱلْمَوْتَ ﴾ نازل کړ او "تَمَنَّوْنَ الشَّهَادَةَ" یې نازل نه کړ.

ب: د شهادت مرګ لاندې دوه حیثیته لري:

اول: د الله ﷻ په لار کښې مړینه، ترڅو د همده ﷻ رضا حاصله شي. همدا د صحابه وو کرامو ؓ قصدي غوښتنه وه.

دوهم: د کافرانو د لاسه وژنه. دا د هغوی قصدي غوښتنه نه وه خو په ضمني توګه یې د تحقق ځخه خلاصون نه وه. نو که بالفرض د ﴿ ٱلْمَوْتَ ﴾ په عوض د "الشَّهَادَةَ" کلمه نازله شوې وی نو د ځینو خلکو ذهن ته به دا خبره ورغلې وی چې هغوی محض د ځان وژنې (انتحار) آرزو کړې ده. حال دا چې دا کار نه د هغوی آرزو وه او نه د الله ﷻ خوښ دی لکه چې فرمایي: ﴿ وَلَا تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ ﴾ [البقرة: ۱۹۵] یعنې: تاسو د هلاکت ځای ته په خپلو لاسونو سره ځانونه مه وراچوئ.

د دې نظیر دا دی چې یو مسلمان مریض د کافر ډاکتر ځخه د خپلې روغتیا دپاره دارو درمل کوي، که څه هم دا کار ډاکتر ته ګټه رسوي چې ډاکترۍ یې شهرت پیدا کوي او دارو درمل یې ښه خرڅېږي، مګر دا په ضمني توګه تحقق مومي نه په قصدي ډول باندې، ځکه چې د مسلمان مریض نیت دا وي چې خپل صحت یې ښه شي.

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۸
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۲۹

﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِين مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَـٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ۚ وَسَنَجْزِى ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٥﴾ ﴾

[۱۴۴] او محمد ﷺ نه دی مگر یو پیغمبر دی، بې شکه د ده څخه وړاندې (ډېر) پیغمبران تېر شوي دي. ایا نو که هغه (محمد ﷺ) مړ شي او یا (بالفرض) ووژل شي نو تاسو به بېرته په خپلو پوندو باندې ستنېږئ (او مرتد کېږئ به)؟. او هرڅوک چې په خپلو پوندو باندې بېرته ستون شي نو هیڅکله به الله ﷻ ته څه ضرر ونه شي رسولی (او د دین د وړاندې تللو په لار کښې به خنډ جوړ نه شي). او ډېر ژر به الله ﷻ شاکرانو ته جزا ورکړي (چې قدمونه به یې لا پسې ثابت کړي او د نېکیو توفیق به یې په برخه شي).

[۱۴۵] او هیڅ نفس لره دا نشته چې مړ شي مگر د الله ﷻ په اذن (ارادې) سره (د مرگ نېټه لیکلې شوې ده) داسې لیکل چې نېټه یې ټاکلې شوې ده.

او څوک چې د دنیا اجر غواړي نو هغه ته به د همدې اجر څخه (زمونږ د خوښې په اندازه) څه ورکړو. او څوک چې د آخرت اجر غواړي نو هغه ته به د همدې اجر څخه (زمونږ د خوښې په اندازه) څه ورکړو. او هم به مونږ ډېر ژر (په دنیا کښې هم) شکر گذارانو ته (چې همدغه ثابت قدمه خلک دي) عوضونه ورکړو.

ارتباط او شان نزول

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې یوې هولناکې واقعې ته اشاره ده چې د همدغې واقعې په نسبت ذکر شوي ایتونه نازل شوي دي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

الف: د أحد د غره په نسبت پاسنۍ څنډه کښې دوه ژۍ رابښکته شوې دي چې یوه ناله یې تشکیله کړې ده، دغه ځای نبي کریم ﷺ د مجاهدینو د مرکز دپاره وټاکه چې د په شاتگ دپاره ضرور وه[۱].

ب: د همدغه غره په لمن کښې یې د مجاهدینو صفونه جوړ کړه چې خپل مرکز ته یې شا وه او مدینې منورې ته بالکل مخامخ وه.

ج: د مجاهدینو کیڼ لاس ته یو وړوکی غر وه چې فعلاً د جَبَلُ الرُّمَاة (د غشو ویشتونکو غر) په نامه یادېږي او په هغه وخت کښې د جبل عینین په نوم بلل کېده. نبي کریم ﷺ په دغه غره باندې

---

(۱) تفهیم القرآن د ج۱ ص ۳۷۰ ضمیمه نقشه.

پنځوس کسه غشي ویشتونکي کښېنول چې تاسو د همدې خوا ځارنه وکړئ چې دښمن راباندې د دې طرفه حمله ونه کړي، د دې ټولګي مشر عبد الله بن جبیر ﷛ نومېده.

دغه ټولګي ته نبي کریم ﷺ توصیه کړې وه چې تاسو به په هیڅ صورت دغه کنډو نه پرېږدئ که مونږ غالب شو او که مغلوب، باید تاسو د همدې ځایه حرکت ونه کړئ ترڅو چې زه دوهم هدایت درکړم. حتی ورته یې فرمایلي وه چې: «إِنْ رَأَيْتُمُونَا تَخْطَفُنَا الطَّيْرُ فَلَا تَبْرَحُوا مَكَانَكُمْ»[1] «وَإِنَّا لَنْ نَزَالَ غَالِبِينَ مَا ثَبَتُّمْ مَكَانَكُمْ»[2]. یعني: که بالفرض مونږ وګورئ چې مرغان مو غوښې تښتوي هم تاسو به د خپله ځایه حرکت نه کوئ، او مونږ به تر هغه همېشه غالب یاستو ترڅو چې تاسو په خپل ځای باندې ثابت پاتې یاستئ.

د: کله چې جنګ تود شو نو کافرانو ماتې وخوړه او حتی هغو کافرو زنانه وو هم پیښې راپورته کړې او د میدانه څخه وتښتېدلې چې تر اوسه پورې یې د خپلو جنګیالیو دپاره سندرې ویلې او داریالونه یې ورته درزول.

هـ: کله چې غشو ویشتونکو دغه حالت ولید نو یو تربله یې سره نارې کړې چې «الْغَنِيمَةَ الْغَنِيمَةَ» غنیمت! غنیمت!، یعنې کافران خو وتښتېدل نور نو دلته زمونږ کښېناستل څه فائده نه کوي، ښه دا ده چې ورښکته شو او د غنیمت مالونه راغونډ کړو. دوی ته خپل مشر (عبد الله بن جبیر ﷛) ډېره توصیه وکړه چې داسې مه کوئ او د نبي کریم ﷺ آوامر یې ورپه زړه کړه چې مونږ ته یې داسې-داسې فرمایلي وه، خو د دې ټولو هلو ځلو سره-سره د مشر په شمول یوولس کسه دلته پاتې شوه او نور د غنائمو د راټولولو دپاره د خپلې مورچې څخه ورښکته شوه.

و: کافرانو د جنګ دپاره دوه نیم سوه (۲۵۰) کسان سواره درلوده، کله چې دوی ولیده چې کنډو د مجاهدینو څخه لږ څه خالي شو او په دې پوه شوه چې پاتې کسان مو د حملې مخه نه شي نیولی نو دغې (د سورو ډلې) د کنډو په پاتې مجاهدینو باندې برید وکړ چې هغوی یې شهیدان کړه او د جنګ په میدان کښې یې د شا د پلوه نور مجاهدین د حملې لاندې راوستل چې د کافرانو په ځار او د غنیمت په راغونډولو بوخت وه.

ز: په عین وخت کښې تښتېدونکي کافران بېرته راتاو شوه او مجاهدین د دوه طرفه حملې لاندې واقع شوه او داسې توره شپه جوړه شوه چې خپل او پردي نه معلومېده. حتی چې الیمان ﷛ پخپله د مجاهدینو د لاسه په دې ګومان شهید شو چې کافر دی، که څه هم د هغه زوی (حذیفه ﷛) ډېرې نارې وکړې چې: «أَبِي أَبِي»[3] یعنې دا زما پلار دی، دا زما پلار دی. مګر په دغسې حال کښې چا خبره اورېده؟!.

ح: په دغه وخت کښې اویا (۷۰) کسه مجاهدین شهیدان او ډېر زخمیان شوه چې هر چا خپل مرګ په سترګو ولیده.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۲۶

(۲) البحر المحیط ج۳ ص۳۷۹؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۳۵۷

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۵۸۱

ط: په عین وخت کښې نبي کریم ﷺ هم د حملې لاندې راغی چې مبارک غاښ یې شهید شو او د زغرو دوه کړۍ یې په مبارک مخ کښې ننوتلې او مبارکې وینې ورباندې رارواني شوې[1].

ي: د نبي کریم ﷺ څخه په دفاع کښې مصعب بن عُمیر ﷺ شهید شو او قاتل یې ګومان وکړ چې دا نبي کریم ﷺ دی، نو کافرانو ته بېرته ورستون شو او خبر یې ورووړ چې نبي کریم ﷺ مې وواژه.

یا: په همدې وخت کښې یوه نامعلومه چیغې وهونکي چیغه کړه چې: "إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ"[2] یعنې: بې شکه محمد (ﷺ) ووژل شو. ځینې لا وایي چې دا چیغه ابلیس علیه اللعنة وکړه.

یب: په هر تقدیر، د همدې چیغې سره د اکثرو مجاهدینو جنګي مورال ټیټ شو او روحیات یې کمزوري شوه او هغو منافقینو چې په غزا کښې د غنیمت دپاره ګډون کړی وه په تحریک آمېزه خبرو شروع وکړه، چې په نتیجه کښې په مجاهدینو کښې لاندې ډلې جوړې شوې:

اول: ځینې مجاهدین لاس ترخنې کښېناستل چې اوس نو جنګ څه په کار دی چې نبي کریم ﷺ شهید شو. د همدې جملې څخه عمر ﷺ او طلحه ﷺ هم دي[3].

دوهم: ځینو وویلې چې اوس نو ژوند څه په کار دی، باید چې په هغې لارې باندې مونږ هم ووژل شو په کومې چې نبي کریم ﷺ وژلی شوی دی. د همدې ډلې څخه أنس بن النضر ﷺ هم وه چې په شدت سره یې په جنګ پیل وکړ ترڅو چې شهید شو او څه د پاسه اتیا ټپونه یې وخواړه چې د شهادت څخه وروسته د ډېرو ټپونو له وجې چا نه پېژانده، ترڅو چې د هغه خور د ګوتو څخه وپېژانده چې دا د أنس بن النضر ﷺ مړی دی[4].

دریم: ځینو وویلې چې راځئ ابو سفیان ته تسلیم شو، هغوی زمونږ عزیزان او د تره زامن دي[5].

څلورم: منافقانو وویلې چې کاشکې عبد الله بن أُبي (رئیس المنافقین) ته مو څوک استولي وی چې د ابو سفیان څخه یې را ته امان اخستی وی، محمد(ﷺ) که پیغمبر وی نو وژل شوی به نه وی، باید چې خپل پخواني دین ته بېرته ورستانه شو[6].

یج: د همدې چیغې په اورېدلو سره په مجاهدینو کښې شکست ګډ شو او داسې منډه پیل شوه چې د هیچا یو بل ته فکر نه وه. د نبي کریم ﷺ په شاوخوا کښې ایله څوارلس کسان پاتې وه چې اوه کسان انصار وه او اوه مهاجرین[7].

ید: نبي کریم ﷺ د ماتې خوړلو مجاهدینو په آخر کښې نارې وهلې چې: «إِلَيَّ عِبَادَ اللهِ، إِلَيَّ عِبَادَ اللهِ»[8] یعنې ماته راشئ ای د الله ﷻ بندګانو، ماته راشئ ای د الله ﷻ بندګانو. تردې چې ډېرش

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٢٩
(٢) تفسیر الطبري ج۴ ص١١٢
(٣) تفسیر البغوي ج١ ص٣۵٧
(۴) صحیح البخاري ج١ ص٣٩٢، ج٢ ص۵٧٩
(۵) البحر المحیط ج٣ ص۶٨
(۶) الدر المنثور ج٢ ص٣٢۵
(٧) التفسیر الکبیر ج٩ ص۵١
(٨) تفسیر الطبري ج۴ ص١١٢؛ تفسیر الخازن ج١ ص۵٩٨

کسه صحابه کرام ﷺ ورته راټول شوه.

يه: کله چې د نبي کريم ﷺ په شاوخوا کښې دېرش کسه مجاهدين راغونډ شوه نو دوی يې د ملامتې لاندې راوستل چې تاسو ولې وتښتېدلئ او زه مو په خای پرېښودلم؟ نو دوی خپل اعتذار داسې وړاندې کړ چې يا رسول الله! زمونږ مور او پلار دې ستا څخه خار شي «أتانا الخبرُ بأنك قُتلتَ فزُعِبَتْ قلوبُنا فوَلّينا مُدبِرِين»[١] مونږ ته خبر راغی چې ته ووژلی شوې نو زمونږ زړونه د رعب (ډار) لاندې راغله چې په نتيجه کښې مونږ ميدان ته شا کړه او وتښتېدلو.

يو: په ذکر شوي حالت کښې مجاهدين د دومره زيات رعب لاندې راغلي وه او دومره زيات وارخطا شوي وه چې ډېر بسيط معلومات يې هم د ماغزو څخه وتلي وه تا به ويل چې دوی ته هيڅ معلومات نشته. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: دوی مرګ په سترګو باندې وليد خو دا بسيط حقيقت يې د نظره پټ پاتې شو چې نبي کريم ﷺ د پيغمبرانو د جملې څخه يو پيغمبر دی، لکه د هغوی د ژوند دورې چې تېرې شوې دي د ده ﷺ د ژوند دوره به هم ضرور يو وخت تېره شي، مرګ خو د رسالت سره څه منافات نه لري.

ب: نبي کريم ﷺ خو د دين اصلي مالک نه دی، اصلي مالک خو يې يوازې الله ﷻ دی چې مسلمانان يې عبادت او بندګي کوي. نو که د دين رسوونکی وفات شي، وفات به شي، الله ﷻ خو همېشه ژوندی دی او هيڅکله وربانديې زوال نه راځي.

ج: ټولو صحابه وو کرامو ﷺ ته څرګنده وه چې نبي کريم ﷺ به يو وخت وفات شي مګر وژل کېږي نه. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ﴾ [المائدة: 67] يعني: (ای پيغمبره!) او الله ﷻ دې د خلکو څخه ساتي (دوی دې وژلی نه شي). خو د وارخطائی د کبله ترې همدغه الهي فرمان هم هېر شوی وه.

لنډه دا چې په دغسې هولناک حالت کښې ذکر شوي ايتونه نازل شوه[٢]، چې د مضامينو خلاصه يې لاندې لوستلی شئ:

د مطلب خلاصه

١ـ يعني: محمد ﷺ خو الله نه دی چې نه به مړ کېږي او نه به وژل کېږي او همېشه به ژوندی وي، بلکې د پيغمبرانو د جملې څخه يو پيغمبر دی. لکه څنګه چې د هغوی دورې تېرې شوې دارنګه به د ده د ژوند دوره هم يو وخت ضرور ختمېږي. او دا څکه چې نومړی ﷺ د دين مالک نه دی بلکې د دين رسوونکی دی، کله يې چې خپله وظيفه ترسره کړه نو بيا يې د ژوند ادامې ته څه اړتيا نشته.

٢ـ ای مؤمنانو د نبي کريم ﷺ د وژنې په دروغژن خبر باندې ولې دومره وارخطا شوئ چې وړاندې او بېرته درڅخه غلط شوه او په تښتېدلو مو پيل وکړ؟ نن چې په دروغژن خبر باندې تاسو

---

(١) روح المعاني ج۴ ص۷۳

(٢) تفسير ابن کثير ج١ ص۴۰۹؛ تفسير البغوي ج١ ص۳۵۸

د غه حالت ته ورسیدئ نو بله ورځ چې خبر رښتیا شي او نبي کریم ﷺ وفات شي او یا بالفرض ووژل شي نو ایا تاسو به دین ته شا کوئ او بېرته به کفر ته اوړئ؟.

۳ـ که ستاسو دا خیال وي چې نبي کریم ﷺ د دین ساتونکی دی او کله چې دی د منځه لاړ شي دین به هم د منځه ځي، نو دغسې نه ده. د دین حافظ او ناصر الله ﷻ دی او بس. ستاسو ځخه په غیر یې هم ساتلی شي. نو که څوک مرتد شي یو ازې خپل ځان ته به ضرر ورسوي د الله ﷻ دین ته ضرر نه شي رسولی. الله ﷻ تاسو ته څه ارتیا او احتیاج نه لري بلکې د همده ﷻ په تاسو باندې یو لوی نعمت ایښی دي چې په اسلام باندې یې مشرف کړي یاست. که د همدې نعمت شکریه وکړئ او په اسلام باندې کلک شئ (نبي کریم ﷺ ژوندی وي او که نه) نو الله ﷻ شکر گزاران بې اجره نه پرېږدي، ډېر ژر به په دنیا او آخرت کښې اجرونه درکړي.

۴ـ ای مؤمنانو! لاندې څو حقائق په یاد ولرئ:

الف: هر نفس ضرور د مرگ څکونکی دی که څه هم یا پیغمبر وي او یا مقرب ملائک وي. نو خپله مسلماني د نبي کریم ﷺ په حیات پورې مه تړئ د الله ﷻ پورې یې وتړئ چې ازلاً او ابداً ژوندی دی.

ب: هیڅوک د الله ﷻ د حکم ځخه په غیر نه شي مړ کېدلی نو که د ده ﷻ اراده نه وی شوې کافران تاسو نه شي وژلی. نو په جهاد کښې بې زړه کېږئ مه او مه پکښې سستي کوئ.

ج: د مرگ نېټه بالکل د الله ﷻ په نزد باندې ټاکله شوې ده چې نه وړاندې کېږي او نه وروسته کېږي، نه څوک بې وخته مړ کېږي او نه د وخت ځخه وروسته څوک ژوندي پاتې کېدلی شي. نو هیڅوک په تېښته باندې د مرگ ځخه نجات نه شي موندلی.

د: خو دا کېدلی شي چې د اجرونو ځخه خپل ځان محروم او بې برخې کړئ، او دا ځکه چې:

اول: څوک چې د دنیا اجر غواړي او د دې دپاره په جهاد کښې مشغول وي چې څه غنائم په لاس ورشي. نو هغه ته مونږ د دنیا اجر ورکوو مگر څومره چې زمونږ اراده وي، نه هغومره چې هغوی یې غواړي.

دوهم: څوک چې د آخرت اجرونه غواړي نو هغه ته هم د آخرت اجرونه ورکوو او هم د دنیا، ځکه چې دوی شاکران دي او مونږ به دوی ته د آخرت ځخه مخکښې په دنیا کښې هم ډېر ژر اجرونه ورکړو او هم به یې د زیاتو نېکیو توفیق په نصیب کړو.

توضیحات

۱ـ صحابه وو کرامو ﷺ د نبي کریم ﷺ سره افراطي محبت درلود، داسې محبت چې په تاریخ کښې ساری نه لري. او دا قانون دی چې د هر شي سره څوک زیات محبت ولري د هغه د زوال اوازه وریاندې بې اندازې درنه تمامېږي، د همدې کبله د احد په غزا کښې د نبي کریم ﷺ د وژنې دروغژنې اوازې دوی ډېر متاثر کړه او مورال یې بنکته شو. تردې چې ځینې لاس تر زنې کښېناستل او د جنگ ځخه یې صرف نظر وکړ او ځینو تېښتېدلو ته مخه کړه.

الله ﷻ لطف وکړ او دوی یې په همدې باره کښې هم د ابتلاء (ازمېښت) لاندې ونیول او د نبي کریم ﷺ په ژوند کښې یې د نوموړي دهشتناک خبر سره لاس او ګرېوان کړه، ترڅو دوی د یو پلوه د نبي کریم ﷺ د رښتیاني مرګ په وخت کښې روحیات د لاسه ورنه کړي او د بله پلوه ورته په همدې اړه هدایات او لارښوونې نازلې کړې چې د رښتیاني مرګ په وخت کښې پرې ډاډینه حاصله کړي او ښپله وارخطائي ورباندې لرې کړي ته به وایي چې نبي کریم ﷺ د مرګ څخه وروسته بېرته راژوندی شو او دوی ته یې لارښوونې وکړې.

که دا واقعه نه وی پېښه شوې او نبي کریم ﷺ وفات شوی وی نو وحې به قطعه وی څوک به نه وی چې صحابه کرام ﷺ یې ډاډه کړي وی.

د همدې کبله کله چې رښتیا نوموړې واقعه پېښه شوه، صحابه کرام ﷺ د ذکر شوي ایت په اورېدلو باندې مطمئن شوه او وارخطائي یې ورکه شوه. د ښه وضاحت دپاره لاندې توضیح ولولئ:

د نبي کریم ﷺ وفات او د صحابه کرامو حال

۲_ کله چې نبي کریم ﷺ وفات شو ابو بکر الصدیق ﷺ غائب وه، او په نورو صحابه وو کرامو ﷺ باندې د غم توره شپه جوړه شوه او ټول د وارخطائي سره مخامخ شوه، تر دې چې[۱]:

الف: عثمان بن عفان ﷺ بالکل ژبون وتاړه شو چې خبرې یې نه شوې کولې.

ب: علي ﷺ د خلکو څخه پټ شو، تا به ویل چې په خبرو باندې یې زور نه رسېږي.

ج: عمر بن الخطاب ﷺ توره ووېستله او اعلان یې وکړ چې د هر چا د خولې څخه واورم چې نبي کریم ﷺ وفات شوی دی په دې توره به یې سر پرې کړم!

د: مګر کله چې ابو بکر الصدیق ﷺ راغی او په همدې غملړلې پېښه باندې پوه شو نو په نبي کریم ﷺ باندې یې مبارک مخ لوڅ کړ او په اوچولي باندې یې مچې کړ او بیا یې مخاطب کړ چې ای د الله ﷻ پیغمبره! کوم مرګ چې الله ﷻ درته مقرر کړی وه هغه درته ورسېده. او الله ﷻ به په تا باندې دوه ځله مرګ رانه ولي.

بیا جومات ته لاړ او په ممبر باندې پورته شو او دغه ایتونه ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ﴾ الآیات یې ولوستل (چې د احد په غزا کښې د دروغژن خبر د وجې نازل شوی وه) او خلک یې مخاطب کړه چې: ای خلکو! «مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ فَإِنَّ اللهَ حَيٌّ لَمْ يَمُتْ وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ»[۲] یعني: چا چې د الله ﷻ عبادت کاوه نو په خپل دین باندې دې کلک پاتې شي ځکه چې الله ﷻ ژوندی دی، نه مړ شوی دی او نه مړ کېږي، او چا چې د محمد ﷺ عبادت کاوه نو یقیناً محمد ﷺ خو وفات شو.

کله چې خلکو د ابو بکر الصدیق ﷺ وینا واورېدله نو وارخطائي یې پورته شوه. عمر ﷺ په خپل اعلان باندې پښېمانه شو. تا به ویل چې ذکر شوی ایت شریف همدا دستي نازل شو، د دې څخه لې مخکښې ورته د هیچا توجه نه وه او د ټولو صحابه وو کرامو د اذهانو څخه وتلی وه.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۲۲۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۱۷

نبي كريم ﷺ دفن كړى شو

۳ـ كله چې د ابو بكر الصديق رضي الله عنه خطابې صحابه كرام رضي الله عنهم راويښ كړه او حقيقت ته يې متوجه كړه نو دوى د نبي كريم ﷺ د دفن كولو تجهيزات په لاندې ډول سره ونيول؛ په داسې حال كښې چې لږ وخت وړاندې يې تجهيزات بالكل په فكر كښې نه ګرځېده:

الف: نبي كريم ﷺ د دوشنبې په ورځ وفات شو او د سې شنبې په ورځ دفن كړى شو.

د مړي د تدفين شرعي مسئله دا ده چې بايد په تعجيل سره دفن كړى شي مګر دوى پكښې د لاندې وجو د كبله ټال واقع كړ[1].

اول: څه وخت په دې باندې تېر شو چې صحابه كرام رضي الله عنهم د نبي كريم ﷺ په وفات باندې متفق نه وو.

دوهم: بيا يې په مدفن كښې اختلاف پېښ شو، د ځينو رايه دا وه چې بايد د البقيع په هديره كښې دفن كړى شي او د ځينو نظر دا وه چې بايد په جومات كښې يې دفن كړو. بالآخره ابو بكر الصديق رضي الله عنه فيصله وكړه چې بايد په همغه ځاى كښې دفن كړى شي په كوم كښې چې وفات شوى دى. يعني د بي بي عائشې رضي الله عنها په هغې كوټه كښې، چې په ﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ﴾ [آل عمران: ۱۲۱] ايت كښې ورته اشاره شوې ده.

ابو بكر الصديق رضي الله عنه ووېلې چې ما د نبي كريم ﷺ څخه اورېدلي دي چې «مَا قُبِضَ نَبِيٌّ إِلَّا دُفِنَ حَيْثُ يُقْبَضُ»[2] يعني: د هيڅ پيغمبر روح نه دى قبض شوى مګر په همغه ځاى كښې دفن كړى شوى دى چرته يې چې روح قبض كړى شي.

درېم: بيا څه وخت د خليفه په ټاكلو باندې هم ولګېد، ترڅو چې د ابو بكر الصديق رضي الله عنه سره بيعت تمام شو او د اختلاف دروازه بنده شوه او د منافقانو د شيطانت مخه ونيوله شوه.

مونږ ته داسې ښكاري چې كه د خلافت د ټاكنې مسئله يې د تدفين څخه نه وى مخكښې كړې دومره ژر به نه وى فيصله شوې. او دا ځكه چې نبي كريم ﷺ لا د دوى د منځه جسماً نه وه وتلى او انوار يې لا نه وه تت شوي.

أنس رضي الله عنه وايې چې مونږ لا د نبي كريم ﷺ د تدفين څخه لاسونه نه وه څنډلي «حَتَّى أَنْكَرْنَا قُلُوبَنَا»[3] چې خپل زړونه مو نااشنا وګڼل، يعني پخوانى حالت پكښې نه وه پاتې.

برسېره په دې د منافقانو ټګى ته هم موقع ورنه كړى شوه، او د دې كبله چې د ټولو صحابه وو كرامو رضي الله عنهم تدفين ته عجله وه نو چندان جنجال يې هم د خلافت په مسئله كښې ونه كړ.

په هر تقدير، كله چې ذكر شوې درې مسئلې حل شوې نو نبي كريم ﷺ ته غسل وركړى شو او د تكفين څخه وروسته يې جنازه اداء كړى شوه.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۴ ص۲۲۴
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۱۷
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۱۸

د نبي کريم ﷺ د جنازې کيفيت

۴ـ د نبي کريم ﷺ د جنازې په لمانځه کښې صحيح خبره دا ده چې په لاندې کيفيت باندې اداء کړې شو[١]:

د نبي کريم ﷺ مبارکه جنازه په کوټه کښې په کټ باندې کېښودله شوه او ډلې-ډلې سړي ورننوتل، کله چې نارينه د جنازې څخه فارغ شوه نو بيا زنانه په همدې کيفيت باندې ورداخلې شوې او د جنازې لمونځونه يې ورباندې وکړه، او په آخر کښې هلکانو ته هم په ذکر شوي ډول باندې د جنازې د اداء کولو موقع ورکړې شوه.

سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې نبي کريم ﷺ په نامه (محمد ﷺ) باندې ياد کړې شو چې د ولادت په اومه ورځ ورباندې خپل نيکه عبد المطلب ايښی وه؟

مونږ وايو چې[٢]:

الف: د احد په غزا کښې چې کوم منافق د نبي کريم ﷺ د وژل کېدو دروغينه چيغه کړه، هغه چيغه د نبي کريم ﷺ په نوم (محمد) سره وه، نو الله ﷻ د همدغې دروغينې چيغې د رد کولو او د صحابه وو کرامو ﷺ د تسکين دپاره هم د نبي کريم ﷺ محضه نوم ياد کړ او ايتونه يې رانازل کړه ترڅو تشويش او د تشويش پورته کول دواړه سره مطابق شي.

ب: دا د مرګ د يادونې مقام وه، او څرنګه چې نبي کريم ﷺ د نورو خلکو څخه صرف په مړه کېدلو کښې څه فرق نه لري، نو په نامه باندې ياد کړې شو چې يوازې د ده ﷺ په مبارک شخصيت باندې دلالت کوي او بس. يا په بل عبارت: نبي کريم ﷺ د رسالت له حيثه د قيامت تر ورځې ژوندی دی خو د شخص له حيثه وفات شوی دی او بس.

خلوة څه معنی؟

۶ـ د ﴿ خَلَتْ ﴾ کلمه د "خِلوة" څخه اشتقاق شوې ده او "خلوة" د خاليوالي په معنی سره دی[٣]، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِ ﴾ [آل عمران:١١٩] يعني: او کله چې دوی خالي شي نو په تاسو باندې د غُصې د کبله د خپلو ګوتو څوکي چيچي. مګر څرنګه چې د يو شي وخت تېر شي نو په حقيقت کښې هغه د نورو شيانو څخه خالي شي د همدې وجې کله-کله د مرګ په معنی هم استعمال مومي.

---

(١) سنن ابن ماجه ص١١٨

(٢) روح المعاني ج۴ ص٧٣

(٣) مفردات الراغب ص١٥٩

په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې کېږي چې ستاسو پيغمبر ﷺ خو د نورو پيغمبرانو عليهم السلام په څېر يو پيغمبر دی، الله ﷻ خو نه دی چې همېشه به ژوندی وي، که نن مړ نه دی سبا به مړ شي او دوره به يې تېره شي لکه چې د نورو پيغمبرانو عليهم السلام دورې تېرې شوې، څينې وفات شوه لکه موسی عليه السلام، هارون عليه السلام او نور. څينې ووژل شوه لکه زکريا عليه السلام، يحيی عليه السلام او نور. او عيسی عليه السلام لا ژوندی اسمان ته وخېژول شو او دوره يې ختمه شوه.

خو په دې ټولو صورتونو کښې د هغوی امتيانو نه په جهاد کښې سستي وکړه او نه د دين څخه بېرته ستانه شوه. نو ای محمدي (ﷺ) امته! چې تاسو په ټولو امتونو کښې مختار امت یاست ايا ستاسو سره دا خبره مناسبه ده چې د خپل پيغمبر ﷺ د وفات څخه وروسته يا په جهاد کښې سستي وکړئ او يا دين ته شا کړئ؟ ستاسو څه خيال دی چې نبي کريم ﷺ به همېشه ژوندی وي؟.

سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: د نبي کريم ﷺ د مرګ په اوازې سره خو څينې مجاهدين وارخطا شوه او په جهاد کښې سست شوه، مرتد خو نه شوه، نو څنګه ورته الله ﷻ داسې کلمات استعمال کړه چې هغه د مرتد دپاره استعمالېږي او وېئ فرمايل چې: ﴿ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ﴾؟

مونږ وايو چې:

الف: د څينو صحابه وو کرامو ﷺ جهاد ته شا کول د دوی شان او رتبې ته په کتلو سره داسې وګڼل شوه لکه چې د دوی څخه ارتداد واقع شوی وي، لکه چې وايي "حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ" د نېکانو حسنات د مقربينو دپاره د ګناه په منزله دي.

ب: چې نن په يوه دروغژن خبر باندې په جهاد کښې سست شوئ ايا نو سبا به په رښتياني خبر باندې د جنګ په ميدان کښې مرتد کېږئ او د اسلام څخه به لاس اخلئ؟

ج: څينې خلک واقعاً هم مرتد شوي وه او د کفر خبرې يې د خولو څخه وتلې وې لکه چې مونږ د همدې ايتونو د شان نزول او ارتباط په بحث کښې واضحه کړي دي. مګر هغوی اصلا منافقان وه مونږ ورته څکه مرتدان وايو چې ظاهراً مؤمنان وه او بيا يې خپل باطني کفر ښکاره کړ او کفري خبرې يې وکړې.

په عربي لغت بلکې په ټولو لغاتو کښې قاعده ده چې د څينو خلکو د فعل نسبت کله-کله ټولو خلکو ته هم کېږي، لکه چې د [البقرة: ۷۲] ايت لاندې پکښې مکمل بحث تېر شوی دی.

هېر مو نه شي!

۸_ هېر مو نه شي چې په عربي کلام کښې دا ډول جمله "وَمَا كَانَ لِزَيْدٍ اَنْ يَّفْعَلَ" په هغه حال کښې استعمالېږي چې د مجرور څخه فعل منفي وګرځولی شي. مګر دغه منفي کول په لاندې صورتونو کښې تحقق مومي[1]:

---

(۱) البحر المحيط ج۳ ص۷۰

الف: چې فعل د مجرور دپاره حقيقةً محال وي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ﴾ [النمل: ۶۰] يعنې: تاسو لره دا نشته چې د باغونو ونې رازرغونې کړئ. دا کار تاسو ته محال دی.

د همدې ډول څخه دا ايت شريف هم دی چې: ﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ يعنې: هر نفس ته محال ده چې د الله ﷻ د اجازې څخه په غير مړ شي نو د جنګ د ميدان څخه تښتېدل څه فائده کوي.

ب: چې فعل د مجرور دپاره په عادت کښې محال وي. لکه چې مونږ ووايو "مَا كَانَ لَكَ أَنْ تَطِيْرَ" تا ته دا نشته چې ته والوزې. يعنې دا کار عادةً محال دی چې انسان مستقيمًا پرواز وکړي.

ج: چې فعل د مجرور دپاره شرعًا ممنوع وي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا ﴾ [النساء: ۹۲] او يوه مؤمن لره دا نشته چې بل مؤمن ووژني. يعنې: دا کار په شريعت کښې ممنوع دی.

د: چې فعل د مجرور څخه ادبًا منفي کړی شوی وي. لکه "مَا كَانَ لِلتِّلْمِيذِ أَنْ يَتَقَدَّمَ الْأُسْتَاذَ" شاګر ته دا نشته چې د استاذ څخه وړاندې شي. يعنې دا کار هغه ته بې ادبي ده.

﴿ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا۟ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا۟ وَمَا ٱسْتَكَانُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِىٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ ٱلْـَٔاخِرَةِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٤٨﴾ ﴾

[۱۴۶] او د پيغمبرانو څخه ډېر (داسې) وه چې د دوی په ملګرتيا سره ډېر ربانيان (متقيان د کافرانو په مقابل کښې) جنګېدلي وه نو دوی د هغو مصيبتونو د کبله نه وه سست شوي چې دوی ته د الله ﷻ په لار کښې رسېدلي وه، او نه کمزوري شوي وه، او نه يې (دښمنانو ته) عاجزي کړې وه (نو تاسو ولې د هغوی په شان جوړ نه شوئ).

او الله ﷻ صبر کوونکي خوښوي (په هره زمانه کښې چې وي).

[۱۴۷] او د دوی (ربانيانو) بله خبره نه وه مګر دا وه چې دوی به ويلې: اې زمونږ ربه! مونږ ته ګناهونه راوبښه او هم (مونږ ته) زمونږ په کار کښې د حد څخه تېرېدنه (راوبښه)، او پښې مو (په جنګ کښې) کلکې کړه، او په کافر قوم باندې راسره نصرت وکړه.

[۱۴۸] نو دوی ته الله ﷻ د دنيا اجرونه هم ورکړه او د آخرت ډېر ښائسته اجرونه يې هم (ورکړه).

او الله ﷻ محسنان (نيکي کوونکي) خوښوي.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ دا ایتونه هم وړاندېنی مضمون تعقیبوي چې د نبي کریم ﷺ د مرګ په دروغژنه اوازه پالندې په تاسو کښې ولې کمزوري او سستي موجوده شوه او حتی ځینو کسانو مو وغوښتل چې د کافرانو اطاعت ته سرونه ټیټ کړي.

۲ـ یعنې ای مؤمنانو! څرنګه چې تاسو په ټولو امتونو کښې مختار امت یاست نو په کار ده چې ستاسو مقاومت هم د نورو امتونو په پرتله قوي او کلک وي، حال دا چې په پخوانیو امتونو کښې داسې ډېر خلک تېر شوي دي چې د خپلو پیغمبرانو علیهم السلام په اندیوالۍ کښې ستاسو غوندې د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوي وه خو د لاندې درې کارونو څخه یې یو هم نه دی کړی:

الف: د همدغو مصیبتونو د کبله د جهاد څخه سست نه شوه چې وتښتي او میدان خوشې کړي.

ب: کمزوري نه شوه چې وسله په ځمکه کېږدي او د جنګ په میدان کښې لاس تر زنې کېني.

ج: د خپلو دښمنانو څخه د امان غوښتلو ته نه دي چمتو شوي.

خو په تاسو کښې داسې خلک وه چې ذکر شوي درېواړه کارونه یې وکړه. ایا دغسې کارونه کول بې صبري نه ده؟ ایا دا کارونه د مختار امت سره مناسب دي؟ الله ﷻ خو صبر کوونکي خوښوي ایا ذکر شوي کارونه بې صبري نه ده؟.

دا وه د پخوانیو امتونو عملي کړنلاره، اما د هغوی قولي کړنلاره دا وه چې هغوی به په عین اطاعت کښې الله ﷻ ته سوالونه کول او خپله ناتواني او کمزوري به یې ورته وړاندې کوله.

یا په بل عبارت: هغوی د دښمن په مقابل کښې کمزوري نه وه خو د الله ﷻ په وړاندې یې خپل ځانونه ډېر کمزوري او ګناهګار معرفي کول ترڅو دوی لاندې دوه نکتو ته اشاره وکړي:

اول: د دښمن په مقابل کښې په قوت سره ودرېدل د الله ﷻ فضل دی.

دوهم: ګناهونه د شکست اسباب دي.

نو دوی به څکه ویلې چې ای زموږ ربه! موږ ته زموږ ګناهونه راوبښه او جزا ورباندې مه راکوه او هم د هغه اسراف (د حد څخه تېرېدنې) څخه راتېر شه چې په دغه کار کښې زموږ څخه واقع شوی دی او ته ورباندې نارضا یې. موږ چې د کافرانو په مقابل کښې کلک ولاړ یو دا ستا فضل دی که نه نو موږ به هیڅکله مقاومت نه وی کړی. نو ای ربه! زموږ قدمونه محکم کړه او په کافر قوم باندې نصرت راکړه.

نو الله ﷻ به د دوی سوالونه قبول کړه په کافر قوم باندې به یې نصرت وکړ او په دښمن باندې به برلاسي شوه او هم به یې ګناهونه وروبښل او د مصیبتونو اجرونه به یې ورکړه چې د آخرت د ډېرو ښو اجرونو مستحق به وګرځېده او دا ځکه چې دوی محسنان وه او الله ﷻ محسنان خوښوي.

نو ای مختار امته! تاسو ته په کار دي چې تاسو د پخوانیو امتونو څخه په مصیبتونو کښې قولا او عملا سبقیت وکړئ او وروسته پاتې نه شئ:

توضیحات

١ـ د ذکر شوو ایتونو څخه معلومېږي چې د جنګ په میدان کښې الله ﷻ سوالونه قبلوي، نو ذکر شوي ایتونه مجاهدینو ته ارشاد کوي چې د موقع څخه استفاده وکړي او په همدې وخت کښې ډېر-ډېر سوالونه وکړي.

هیدارنګه مونږ ته د سوال کولو طریقه هم رازده کوي چې د هر څه څخه وړاندې د ګناهونو مغفرت وغواړو او بیا خپل احتیاجات وړاندې کړو. او دا ځکه چې ګناهونه د سوالونو د اجابت مخه نیسي.

د "رِبِّیُّونَ" د کلمې تحلیل

٢ـ د ﴿ رِبِّیُّونَ ﴾ کلمه د "رِبِّيٌّ" جمعه ده، چې "رَبّ" ته یې نسبت شوی دی. په عربي ژبه کښې د نسبتي "ي" په پیوستون سره کله-کله په کلماتو کښې بې قانونه تغیرونه واقع کېږي. مثلا د "رَبّ" په کلمه پورې چې نسبتي "ي" ونښلي نو لاندې دوه ډوله تغیرات پکښې پېښېږي:

الف: یو "الف" او یو "ن" پکښې اضافه کېږي چې د "رَبِّيٌّ" په عوض "رَبَّانِيٌّ" لوستل کېږي، چې د [آل عمران: ٨١] ایت لاندې یې څه بیان تېر شوی دی.

ب: د "ر" زوَر په زیر باندې بدلېږي نو د "رَبِّيٌّ" په عوض "رِبِّيٌّ" جوړېږي او روغه جمعه یې "رِبِّیُّونَ" راځي. نو مونږ یې په پښتو کښې په متقیانو خلکو باندې معنی کوو. یعنې هغه خلک چې د هغو ټول کره وړه د الله ﷻ د رضا دپاره وي.

د "اسْتَكَانُوا" تحلیل

٣ـ د ﴿ اَسْتَكَانُوا ﴾ په کلمه کښې لاندې دوه تحلیلونه شوي دي[1]:

الف: ځینې وایي چې د ﴿ اَسْتَكَانُوا ﴾ مجرد "سکون" دی او د "افْتَعَلُوا" په وزن ده چې اشباعي "الف" پکښې زیات شوی دی نو وزن یې "افتعالوا" جوړ شوی دی لکه چې د "عَقْرَب" په کلمه کښې "عَقْرَاب" اوربدلی شوی دی.

ب: اکثریت په دې عقیده دي چې نوموړې کلمه د "كَوْن" څخه اخستله شوې ده، وزن یې اصلا "اسْتَفْعَل" دی، "الف" پکښې زائد نه دی بلکې اصلي دی چې د "واو" څخه بدل راغلی دی.

مفسرینو کرامو خو دواړه تحلیل ظاهر ګڼلی دی ځکه چې په لومړي تحلیل کښې د "الف" زیادت متبادر نه دی، مګر مونږ ته همدا لومړی تحلیل بهتر ښکاري چې د معنی حاصل یې د مقام سره ډېر ښه تناسب لري. یعنې د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام امتونو د خپل دښمن په مقابل کښې سکون نه دی کړی چې د حرکته لویدلي وي او هغوی ته تسلیم شوي وي، ته به وایې چې په سیکّین (چړې) باندې وهل شوي دي؛ بلکې هغوی یې په مقابل کښې مقاومت کاوه.

(١) البحر المحيط ج٣ ص٧٥

إسراف څه ته وايي؟

۴ـ د "إِسْرَاف" معنی معلومه ده چې د حد څخه تېرېدنه ده، خو ځينو مفسرينو کرامو يې په دې مقام کښې په گناه کښې د حد څخه تېرېدنه اخستې ده[1]، چې لويو گناهونو ته اشاره ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې اى زمونږ ربه! مونږ ته واړه گناهونه هم راوبښې او لوى گناهونه هم راته عفوه کړې.

مگر مونږ ته دا ښه ښکاري چې په دې مقام کښې د "إِسْرَاف" څخه په جائزو کارونو کښې إسراف مراد دى تر دې چې د گناه اندازې ته ورسېږي، لکه چې يو مجاهد د کافرانو په وژنه کښې اسراف وکړي حتى چې ماشومان او زنانه هم ووژني. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې هغوى به د خپل قصور او تيري دواړو ښښنه غوښته چې د حق په اداء کولو کښې ترې پېښ شوي وه.

سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: ظاهراً خو داسې ښکاري چې په ﴿ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا ﴾ کښې د غنيمت مالونه هم داخل دي چې د مجاهدينو دپاره د دنيا اجر دى، حال دا چې پخوانيو امتونو ته خو د غنيمت د مال خوراک جائز نه وه، حتى چې غنيمت ته به يې اور اچاوه ترڅو معلومه کړي چې جهاد د الله ﷻ په دربار کښې قبول شوى دى او که نه؟

برسېره په دې د غنيمت د مالونو خوراک خو محمدي (ﷺ) امت ته حلال گرځولى شوى دى او د همدې امت خاصه ده، نو د پخوانيو امتونو د مجاهدينو په دنياوي اجرونو کښې په څه اعتبار سره ذکر شوى دى؟

مونږ وايو چې: پخوا به هغه غنيمت ته اور وراچول کېده کوم به چې جمادات وه لکه پيسې، خوراکي شيان او داسې نور[2]، اما ژونديو غنيمتي مالونو ته اور نه وراچول کېده لکه اوښ، غوايه او داسې نور، چې دا د پيغمبرانو عليهم السلام څخه په غير د مجاهدينو په ملکيت کښې داخلېدل. اما مونږ ته ـ الحمد لله ـ د هر ډول غنيمت خوراک جائز دى.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ فَتَنقَلِبُواْ خَـٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ بَلِ ٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلنَّـٰصِرِينَ ﴿١٥٠﴾ سَنُلْقِى فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعْبَ بِمَآ أَشْرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَـٰنًا ۖ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٥١﴾ ﴾

---

(١) تفسير الطبري ج۴ ص١٢٠
(٢) روح المعاني ج۴ ص٨۶

[۱۴۹] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! که (بالفرض) تاسو د هغو کسانو متابعت وکړئ چې هغوی کافر شوي دي، نو هغوی به (تر هغه تاسو پرېنږدي ترڅو مو چې) په خپلو پوندو باندې بېرته تاو کړي (او مرتد مو کړي)، نو زیانکاران به وګرځئ.

[۱۵۰] (د دوی په متابعت کښې هیڅ ګټه نشته) بلکې الله ﷻ ستاسو کار ساز دی او همدی ﷻ د ټولو کومک کوونکو څخه خیر (بهتر) دی (د ده ﷻ غوندې کار سازي بل هیڅوک نه شي کولی).

[۱۵۱] ډېر ژر به د هغو کسانو په زړونو کښې (ستاسو) دار ورواچوو چې هغوی کفر اختیار کړی دی، د دې کبله چې هغوی د الله ﷻ سره هغه څیزونه شریک جوړوي چې په هغو باندې الله ﷻ هیڅ دلیل نه دی نازل کړی (او نه وربانديې دلیل شته) او د دوی پناځای اور (دوزخ) دی. (دوی ظالمان دي) او د ظالمانو د اوسېدلو ځای ډېر بد دی (چې همدغه اور دی).

ارتباط

د وراندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې تاسو په جهاد کښې د پخوانیو امتونو په پل باندې پل کېږدئ چې هغوی په مصیبتونو کښې ثابت قدمه وه. د دې ایتونو مضمون دا دی چې د کافرانو او منافقانو خبره مه منئ؛ او اطاعت یې مه کوئ که نه نو هم به مو په دنیا کښې پښې وښویږي او هم په آخرت کښې، او د هلاکت کندې ته به ولوېږئ.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ای مؤمنانو! تاسو خو ایمان راوړی دی او د ایمان غوښتنه دا ده چې د کافرانو اطاعت او متابعت به نه کوئ. منافقان خو تاسو ته همدا خبره وراندې کوي چې د عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) په ذریعه د کافرانو د مشر څخه امان وغواړئ او ورته تسلیم شئ.

که بالفرض تاسو د هغوی متابعت وکړئ نو د زیان او تاوان څخه په غیر به هیڅ شی ترلاسه نه کړی شئ. او دا ځکه چې د یو پلوه به مو د ایمان غنته سرمایه په کفر بدله شي او د بله پلوه هغوی تاسو ته نه په دنیا کښې خیر رسولی شي او نه په آخرت کښې. د هغوی دا وسه نشته چې تاسو ته د الله ﷻ د غضب څخه نجات درکړی شي او یا مو څه مشکل حل کړي او کار مو درجوړ کړي.

بلکې الله ﷻ ستاسو کارسازی دی. مشکلات مو حل کوي او کارونه مو درجوړوي. نن ورځ چې په تاسو باندې څه مصیبتونه درنازل کړی شوه دا د دې کبله نه دي چې الله ﷻ ستاسو کارسازی نه دی، بلکې د څه حکمتونو په بنا دربانديې نازل کړی شوي دي. الله ﷻ ستاسو ناصر دی. ستاسو هیڅا نه حاجت نشته چې کومک او نصرت ترې وغواړئ. د الله ﷻ غوندې بهتر کومک کوونکی بل هیڅوک نشته او نه کېدلی شي. دا کار به هغه څوک کوي چې الله ﷻ د هغه مولی او ناصر نه وي چې هغه کافران او منافقان دي.

۲ـ د الله ﷻ د نصرت یوه غیر مرئي نمونه همدا دښې درواخلئ: چې ډېر ژر به ستاسو د دښمنانو په زړونو کښې رعب واچوو او دا ځکه چې هغوی د الله ﷻ سره شریکان جوړوي او د

هغوی څخه د نصرت امید لري حال دا چې په دغه شرکي عمل باندې هيڅ دليل نه لري او د خپلو خانو څخه يې اختراع کړي دي.

که بالفرض الله ﷻ شريک درلودی نو پخپله به يې د هغه د ثبوت دپاره ايتونه نازل کړي وی. ايا دا عجيبه نه ده چې الله ﷻ وايي چې ما سره شريک نشته او هغوی وايي چې ته خبر نه يې، يو شريک لا څه چې تا سره ډېر شريکان دي. نو کله چې دوی په غير الله باندې اتکا لري او د هغوی د لاسه هيڅ پوره نه دي نو همدا کفايت کوي چې د دوی زړونه ستاسو څخه په ډار کښې وي او رعب ورباندې مسلط وي.

٣ـ دا وه د دوی د دنياوي ژوند حالت، اما په آخرت کښې خو د دوی بل پناځای نشته په غير د دوزخ څخه چې دا ډېر ناکاره استوګنځای دی، او دا ښکاره دوی ته ټاکلی شوی دی چې دوی ظالمان دي او دغسې بد ځای د ظالمانو سره مناسب دی.

توضيحات

١ـ دا خو يقيني ده چې په هره زمانه کښې مؤمنان مکلف دي چې د کافرانو اطاعت ونه کړي، که څه هم د حکم په عموم باندې د شان نزول خصوص څه اغېز نه شي غورځولی مګر په دې مقام کښې د ﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ په تفسير کښې مفسرين کرام لاندې اختلاف لري:

الف: دلته ترې ابو سفيان او د ده نور لښکر مراد دی، لکه چې منافقانو همداسې آرزو کړې وه چې د ده څخه امان وغواړي او خانونه ورتسليم کړي[١].

ب: دلته ترې عبد الله بن أبي (رئيس المنافقين) او د ده ډله مطلب ده[٢]، او دا ښکاره چې کله مجاهدين مدينې منورې ته بېرته ورستانه شوه نو دوی په پروپاګند شروع وکړه چې که محمد ﷺ رښتيا پيغمبر وی نو د ده حالت به په جنګونو کښې د نورو خلکو څخه فرق درلودی او په هر حال کښې به غالب وی نو بايد چې د ده ملګري بېرته خپل پلرني دين ته ورتاو شي. څرنګه چې الله ﷻ ته دا معلوم وه چې کله صحابه کرام ﷺ مدينې منورې ته لاړ شي دوی (منافقان) به دغسې چتيات وايي، نو د بېرته ستنېدلو څخه وړاندې يې د جنګ په ميدان کښې دوی ته ارشاد وکړ چې پام کوئ چې نښتنه ورسره ونه کړئ.

ج: دلته ترې يهود او نصارا مراد دي[٣]. ښکه چې دوی هم نومورې خبره کوله کله چې صحابه کرام ﷺ مدينې منورې ته ورستانه شوه.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې دلته هم د وخت ټول کافران مطلب دي چې مشرکانو، منافقانو، يهودو، نصاراوو او نورو ته شامليږي، او څه حاجت نشته چې يوې ډلې پورې تخصيص ورکړو.

---

(١) التفسير الکبير ج٩ ص٣٠
(٢) تفسير المنار ج٤ ص١٧٦
(٣) روح المعاني ج٤ ص٨٧

رُعب څه ته وايي؟

۲_ "رُعْب" هغه ډار ته وايي چې د انسان زړه د تاثير لاندې راولي او د جرئت مخه يې ونيسي. په دې مقام کښې چې الله ﷻ وعده وکړه چې د کافرانو په زړونو کښې به رعب واچوو، دا په حقيقت کښې د الهي نصرت يوه بېلګه وښودله شوه چې په داسې ډول به د دوی په زړونو کښې ډار واچوو چې دوی به يې هيڅ مقابله هم ونه کړی شي. د همدې ډول رعب لاندې دوه مثالونه ولولئ:

الف: الله ﷻ د بني نضيرو يهودانو په زړونو کښې رعب واچاوه کله چې هغوی په قوي کلاګانو کښې د صحابه وو کرامو ﷺ د پلوه محاصره شوي وه، لکه چې فرمايي: ﴿ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ ﴾ [الحشر: ۲] يعني: او الله ﷻ د دوی په زړونو کښې رعب واچاوه چې په نتيجه کښې د کلابندۍ څخه راښکته او د وطنه وشړل شوه.

ب: کله چې د احد د غزا څخه مشرکان بېرته ستانه شوه نو په لاره کښې ورته دا فکر پيدا شو چې بايد د صحابه وو کرامو ﷺ تولنې ته بالکل خاتمه ورکړو. او دا ځکه چې قوت يې مات شوی دی او د منځه وړل يې هيڅ مشکلات نه لري، خو الله ﷻ د دوی په زړونو کښې رعب واچاوه او دغه کار ته يې اقدام ونه کړی شو.

برسېره په دې د جنګ په ميدان کښې هم دوی د مجاهدينو کمزوري په سترګو وليده خو جنګ ته يې ادامه ورنه کړی شوه، که د دوی په زړونو کښې د مجاهدينو رعب نه وی نو د هغوی پوپنا کول ورته چندان مشکل نه وه.

بالمقابل د صحابه وو کرامو جرئت دومره قوي وه چې د حمراء الأسد پورې يې هغوی تعقيب کړه[1]، کله چې ورته ښه څرګنده شوه چې دښمن خپل وطن ته مخ په حرکت دی او د راستنېدلو جرئت نه لري نو دوی هم بېرته راستانه شوه. دغې غزا ته په [آل عمران: ۱۷۲] ايت کښې اشاره شوې ده.

دوه عجيبه خبرې

۳_ يوه عجيبه خبره خو دا ده چې د احد په غزا کښې مجاهدينو فاحشه ماتې وخوړه چې بايد تر ډېره وخته پورې دوی په دښمن باندې د حملې جرئت نه وی کړی، خو د دې سره- سره دوی د احد په دوهمه ورځ آن تر حمراء الأسد پورې دښمن تعقيب کړ، ته به وايې چې پرون ورځ د دوی څخه نه څوک شهيد او نه زخمي شوی دی.

مګر د دوی په مقابله کښې مشرکان د جنګ د ميدان څخه د غلبې په حال کښې ستانه شوه او د مجاهدينو شهيدان او زخميان يې په سترګو وليده خو د دې سره-سره مورال يې دومره ټيټ وه چې د بېرته راستنېدلو جرئت يې ونه کړی شو.

دغه دواړه عجيبه خبرې نور څه نه دي بې د دې څخه چې الله ﷻ د صحابه وو کرامو ﷺ په زړونو

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۳۴۲

کښې اطمنان واچاوه او د مشرکانو زړونه يې په رعب باندې ډک کړه ﴿ وَهُوَ خَيْرُ ٱلنَّـٰصِرِينَ ﴾ د ده ﷻ په شان بل کومک کوونکی چرته دی؟

یادونه

۳_ د هغو امتيازاتو څخه چې نبي کريم ﷺ پرې د نورو پيغمبرانو څخه مختص ګرځولی شوی دی همدغه رعب هم دی. همدې مطلب ته نبي کريم ﷺ په خپل يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ»[1] يعني: زما بله ځانګړنه دا ده چې د الله ﷻ د پلوه زما سره د مياشتې په مسافه کښې په رعب سره نصرت کړی شوی دی چې د همدغه رعب د کبله په ډېره لرې مسافه کښې زما دښمنان ډارېږي او لبنګي يې رېږي.

الحمد لله ﷻ همدغه رعب د نبي کريم ﷺ اُمت ته هم ورکړی شوی دی چې تر قيامته پورې به باقي وي. يوه غټه نمونه يې مونږ د افغانستان په مجاهدينو کښې ګورو چې د ټولې نړۍ کافران ترې ډارېږي، د همدې کبله مستقيمې او غير مستقيمې هلې ځلې کوي چې د مجاهدينو سوچه اسلامي حکومت جوړ نه شي او په ځای يې مختلط حکومت ځای په ځای شي، دوی پوهېږي چې سوچه اسلامي حکومت به په دنيا کښې د کفر جرړې وباسي.

سوال جواب

که څوک وايي چې: په ځينو ځايونو کښې مسلمانان د کافرانو د رعب لاندې راځي او همدارنګه په ځينو ځايونو کښې کافران زيات جرئت کوي ته به وايې چې د دوی په زړونو کښې هيڅ رعب نشته؟!

مونږ وايو چې: په دې کښې شک نشته چې محمدي (ﷺ) اُمت ته رعب ورکړی شوی دی مګر په ځينو ځايونو کښې يې چې آثار نه ليده کېږي هلته به يې څه مانع موجود وي. لکه چې د احد په غزا کښې د کنډو د مجاهدينو اختلاف د دې سبب شو چې د دوی په زړونو کښې په موقت ډول رُعب واقع شي او د کافرانو جرئت د لږ وخت دپاره زيات شي.

د دې مثال داسې دی چې اوبه د ترږي سرې تنده ماتوي مګر د ځينو ترږو مريضانو تنده نه شي ماتولی، څوک چې د استسقاء په مرض باندې مبتلا وي هغه په اوبو باندې نه مړېږي.

﴿ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْـَٔاخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى

(١) صحيح البخاري ج١ ص٦٢

ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٥٢﴾ إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ
أُخۡرَىٰكُمۡ فَأَثَٰبَكُمۡ غَمَّۢا بِغَمّٖ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمۡۗ وَٱللَّهُ
خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

[۱۵۲] او بې شکه الله ﷻ خپله (د نصرت) وعده ستاسو سره په هغه وخت کښې رښتيا کړه چې تاسو کافران د الله ﷻ په حکم وژل، تر هغه وخته پورې چې تاسو بې زړه شوئ (د بې زړه توب په لار روان شوئ) او په خپلو منځو کښې سره د جهاد په کار کښې په جګړه شوئ، او د هغه څخه وروسته مو (د شرعي حکم څخه) نافرماني وکړه چې (الله ﷻ) تاسو ته هغه شی په خپلو سترګو باندې دروليد کړ چې خوښ مو وه (يعني نصرت او غنيمت).

ستاسو څخه ځينې هغه کسان دي چې دنيا غواړي او ستاسو څخه ځينې هغه کسان دي چې آخرت غواړي.

بيا الله ﷻ تاسو د هغوی څخه راتاو کړئ (د کافرانو تعقيب مو پرېښود) د دې دپاره چې تاسو امتحان کړي. او بې شکه تاسو ته يې عفوه وکړه، او الله ﷻ په مؤمنانو باندې د فضل خاوند دی.

[۱۵۳] په هغه وخت کښې (تاسو د امتحان لاندې راغلئ) چې بنکته پورته وتښتېدلئ او په هيچا باندې نه راتاوېدلئ حال دا چې رسول ﷺ ستاسو په آخره کښې دريسې نارې وهلې (چې ای د الله ﷻ بندګانو ماته راشئ، خو ستاسو ورته هيڅ توجه نه وه)، نو ځکه الله ﷻ تاسو ته د غم د پاسه بل غم دوروساوه ترڅو (د غمونو په ډېروالي سره تمرين شئ او) په هغه شي باندې غمګين نه شئ چې ستاسو څخه فوت شو (چې هغه نصرت او غنيمت وه) او نه په هغه شي باندې (خپه شئ) چې تاسو ته رسېدلی وه (چې هغه د صحابه وو کرامو ﷺ شهادت او زخمي کېدل وه).

او الله ﷻ په هغه عمل باندې خبردار دی چې تاسو يې په راتلونکي کښې کوئ (نو ځکه يې د دغسې غمونو لاندې راوستلئ چې د عبرت درس زده کړئ او مصيبتونو ته وارخطا نه شئ).

شان نزول

کله چې صحابه کرام ﷺ د احد د غزا څخه مدينې منورې ته ورستانه شوه نو هلته دا خبره وښورېده چې مونږ سره خو الله ﷻ د نصرت وعده کړې وه نو دا ماتې مو ولې وخوړه؟، لرې نه ده چې دغې خبرې ته منافقانو نشر او اشاعت ورکړی وی.

په هر تقدير، الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه او ذکر شوې اشتباه يې پورته کړه.

ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې د کافرانو اطاعت مه کوئ ځکه چې د هغوی زړونه ستاسو

په رعب باندې ډک دي بلکې په الله ﷻ باندې اتکا وکړئ چې هغه ستاسو کارسازی دی او تاسو ته يې داسې رعب درکړی دی چې دښمن درڅخه د جنګ څخه په غير هم دارېږي.

په دې ايتونو کښې د منافقانو هغه استدلال جواب شوی دی په کوم باندې به يې چې مسلمانان د کافرانو اطاعت ته وربلل چې محمد ﷺ رښتينی پيغمبر نه دی ځکه چې د نصرت وعده يې دروغ شوه او د جنګ نتيجه د کافرانو په ګټه تمامه شوه.

د مطلب خلاصه

١ـ يعني منافقان دروغ وايي چې الله ﷻ خپله وعده رښتيا نه کړه، ده ﷻ خو خپله د نصرت وعده رښتيا کړه او نښه يې دا ده چې تاسو يې په کافرانو باندې مسلط کړئ او د الله ﷻ په حکم مو وژل او د حس او حرکت څخه مو غورزول او د ميدان پرېښودلو ته مو مجبور کړه. مګر دغې وژنې او پرزونې تر هغه وخته پورې دوام وکړ چې په تاسو کښې د بې زړه توب نښې پېل شوې او د مورچې په ساتنه کښې سره په جګړه شوئ چې په نتيجه کښې تاسو د خپل ګروپ د قومندان څخه عصيان وکړ او هم مو د نبي کريم ﷺ څخه نافرماني وکړه چې د غشو ويشتلو مورچه مو پرېښودله او د ماتې خوړلو کافرانو د مالونو د راغونډلو دپاره ميدان ته ورښکته شوئ. تاسو ځکه دغه کار ته بډې ووهلې چې هغه شيان مو په سترګو وليده کوم چې تاسو ته ډېر محبوب او ګران دي، د همدې کبله مو خپل ځانونه اداره نه کړی شوه او د مورچې پرېښودل مو خوښ کړه؛ که دا خبره نه وی نو په هغسې حساس وخت کښې مورچه پرېښودل او د اوامرو اطاعت نه کول بايد هيڅوک ونه کړي پاتې خو لا تاسو چې مختار امت ياست.

نو اوس تاسو په انصاف سره ووايئ چې الله ﷻ خپله وعده ترسره کړه او که نه؟

٢ـ اصلي خبره دا ده چې په تاسو کښې ځينې خلک دنيا غواړي، کله چې ورته دنيا لاس ته ورنه شي نو بيا مرور وي او په الله ﷻ باندې اعتراض کوي چې خپله وعده يې رښتيا نه کړه. او ځينې نور آخرت غواړي چې دوی په هر حالت کښې د الله ﷻ رضا لټوي، دوی پوهېږي لکه څنګه چې الله ﷻ پخپله وعده باندې کلک دی بل هيڅوک نه دومره کلک دي او نه کلکېدلی شي.

الله ﷻ خو تاسو سره داسې وعده نه وه کړې چې که تاسو تقوی او صبر ونه کړئ هم نصرت به مو په برخه کېږي، نو تر هغه چې تاسو صابران وئ په کافرانو باندې يې مسلط کړي وئ چې هغوی مو د تعقيب لاندې نيولي وه. خو کله چې په تاسو کښې بې صبري پيدا شوه نو د هغوی د تعقيب څخه يې راتاو کړئ ترڅو چې تاسو د مصيبت لاندې راشئ او د بې صبرۍ د ګناه مجازات په دنيا کښې وڅکئ که نه نو په آخرت کښې خو الله ﷻ تاسو ته عفوه کړې ده، په همدې عصيان باندې به هلته ونه نيولی شئ.

٣ـ الله ﷻ کولی شو چې په دنيا کښې يې هم درته عفوه کړې وی خو دا کار يې ځکه ونه کړ چې ترڅو تاسو د مصيبتونو سره اشنا شئ چې د يو پلوه اجرونه وګټئ او د بله پلوه ستاسو څخه پاخه

سړي جوړ شي چې په مصیبتونو باندې مو جرئت کم نه شي او مورال مو ټیټ نه شي. همېشه خو به په تاسو کښې نبي کریم ﷺ ژوندی نه وي چې ټول غمونه به د هغه په سر وي.

نو اوس خو پوه شوئ چې الله ﷻ په مؤمنانو باندې د فضل خاوند دی، که په تاسو باندې یې فضل نه وی نو ستاسو مجازات به یې آخرت ته پرېښې وي او په دنیا کښې به یې نه وی مجازات کړي، او نه به یې تمرین کړي وی. نو ستاسو نصرت هم د الله ﷻ فضل دی او ستاسو ماتې هم د الله ﷻ فضل دی. تاسو په هر یو حالت کښې کامیاب او بریالي یاست.

۴_ ای مؤمنانو! کله چې الله ﷻ تاسو د کافرانو د تعقیب څخه ستانه کړئ نو په دغه وخت کښې په تاسو باندې داسې حالت درغی چې ټول خواره واره شوئ، ځینې پورته په غره باندې ختلئ او چا په هواره کښې یو پلو او بل پلو ته منډې وهلې، تردې چې یو کس هم په بل باندې نه راتاوېده چې په حال باندې یې خان پوه کړي.

په عین وخت کښې نبي کریم ﷺ ستاسو په آخره کښې تاسو ته نارې وهلې چې ای د الله بندګانو! ماته راشئ، زه د الله ﷻ پیغمبر یم زما خبره ومنئ او منډې مه وهئ. مګر تاسو په دومره اندازې سره وارخطا وئ چې د ده ﷺ اواز ته مو هم فکر نه وه، ته به وایې چې ټول کاڼه یاست.

۵_ ای مؤمنانو! که څه هم ستاسو ماتې د ګناه نتیجه وه او پخپله ګناه نه وه، ځکه چې کافرانو ستاسو نږدې څلور چنده جوړېده، مګر دا مو ګناه وه چې د ماتې په وخت کښې مو نبي کریم ﷺ هېر کړی وه چې د هغه به څه حال وي او هم مو د هغه ﷺ بلنه قبوله نه کړه چې نارې یې درپسې وهلې چې «اِلَيَّ عِبَادَ الله» ماته واشئ ای د الله ﷻ بندګانو!.

نو د همدې ګناه په سبب باندې الله ﷻ دربانديې د غم د پاسه بل غم درنازل کړ او دا اواز یې هم ستاسو غوږونو ته درورساوه چې نبي کریم ﷺ وژلی شوی دی، دا داسې غم وه چې پخواني غمونه پرې درڅخه ټول هېر شوه. د دې ګناه څخه هم الله ﷻ درته د آخرت عفوه وکړه خو دنیاوي مجازات یې درکړه ترڅو تاسو په هغه څه باندې غمژن نه شئ کوم چې ستاسو د لاسه ووت، چې نه غنیمت په لاس درغی او نه مو فتحه په نصیب شوه. او په هغه څه باندې هم ونه ژړېږئ کوم چې درورسېده او اویا کسان مو شهیدان او زیات شمېر مو زخمیان شوه. په دې ټولو باندې د پاسه نبي کریم ﷺ هم زخمي شو چې په هغه ﷺ باندې د هر څه څخه زیات خپه او غمژن وئ.

او الله ﷻ په هغه څه باندې خبردار دی چې تاسو یې کوئ. نو په راتلونکي کښې به درته ځرګنده شي چې تاسو د احد غزا څخه څومره عبرت اخلئ او څه ډول کړنلاره غوره کوئ.

توضیحات

١_ ځینې مفسرین کرام وایي چې نبي کریم ﷺ د احد د غزا د پیل څخه مخکښې مجاهدینو ته وعده ورکړې وه[1] چې مونږ به په کافرانو باندې غالب شو، البته په هغه وخت کښې چې د غشو

(١) روح المعاني ج۴ ص۸۹

ویشتلو تولګی یې مخاطب کړ چې: «وَإِنَّا لَنْ نَزَالُ غَالِبِيْنَ مَا ثَبَتُّمْ مَكَانَكُمْ»[١] مونږ به دوامداره غالب یاستو ترڅو چې تاسو په خپل ځای باندې ثابت پاتې یاست.

او خینې نور وایې چې دغه وعده په هغو عموماتو کښې داخله ده چې الله ﷻ په قرآن کریم کښې مؤمنانو ته ځای په ځای ورکړې ده[٢]، لکه چې فرمایي: ﴿ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ [الصافات: ١٧٣] یعني: او یقینًا زمونږ لښکر (مؤمنان) ضرور همدوی غلبه موندونکي دي او یا داسې نور ایتونه چې همدغه مضمون پکښې واضحه شوی دی.

مونږ ته داسې ښکاري چې دا څه منافات نه لري چې په دې مقام کښې یې په دواړه ډولو وعدو سره تفسیر کړو چې دواړه واقع شوي دي. مګر اولنی وعده ډېره واضحه ښکاري چې ډېره نږدې (د جنګ په پیل کښې) ورکړه شوې وه.

"حس" څه ته وایي؟

٢ـ د ﴿ تَحُسُّونَهُم ﴾ کلمه د "حِس" څخه اخستله شوې ده، د "حِس" مشتقات په عربي ژبه کښې په لاندې دوه معناوو باندې استعمالېږي[٣]:

الف: "حَسِسْتُ زَيْدًا" زید ته مې خپله حاسه وررسولې وه. یعنې یا مې لیدلی وه او یا مې لاس وروړی وه.

ب: "حَسَسْتُ زَيْدًا" د زید حاسه مې د منځه وړې وه. یعنې هغه مې وژلی وه چې ټولو حواسو یې کار پرېښود او یخ پخ په ځمکه مړ پرېووت.

دلته همدغه دوهمه مراده ده[٤]، چې الله ﷻ خپله د نصرت وعده په هغه وخت کښې پوره کړه چې تاسو د کافرانو حواس د منځه وړل او د حس او حرکت څخه مو غورزول.

صحابه کرام ﷺ او دنیا

٣ـ په جهاد کښې دنیا غوښتنه په لاندې دوه ډولونو باندې وېشله کېږي:

الف: چې سړی جهاد ته صرف د غنیمت دپاره تللی وي او د ثواب او اجر هیڅ نیت یې نه وي. دا ډول دنیا غوښتنه صحابه وو کرامو ﷺ نه کوله هغوی د الله ﷻ محبوب بندګان وه. هوا د دوی په ډله کښې خینې منافقان د همدې مطلب دپاره غزا ته وتلي وه. لکه چې د [آل عمران:١٤٥] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شوی دی.

خو الله ﷻ په دنیا پرستانو باندې پرده واچوله او په عامه توګه یې وفرمایل چې: ﴿ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا ﴾، ترڅو دنیا پرستان په غوږ ووهي چې د منافقت څخه په پټه کښې لاس واخلي.

---

(١) تفسیر البغوي ج١ ص٣٥٧
(٢) تفسیر المنار ج٤ ص١٨١
(٣) مفردات الراغب ص١١٥
(٤) تفسیر القاسمي ج٤ ص٢٥١

ب: چې جهاد ته صرف د الله ﷻ د رضا دپاره تللي وي خو کله چې هلته د غنيمت مال وګوري نو زړه يې ورته ميلان وکړي. دا ډول دنيا غوښتنه خو څه مذمومه نه ده او غوښتوتکي ته څه عيب نه ده. لکه چې د غشو ويشتونکو د ډلې ځخه اکثرو کسانو همدا ډول دنيا غوښتنه وکړه چې د غنيمت په راغونډولو مصروف شوه، اما کله چې د همدې ډول غوښتنې سره د نبي کريم ﷺ هدايت د پښو لاندې شو او مورچه پرېښودله شوه نو الله ﷻ په کلکو تعبيراتو سره تعبير کړه چې ﴿ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا ﴾ ځينې ستاسو دنيا غواړي، يعنې ته به وايې چې جهاد ته صرف د غنيمت دپاره تللي دي. دا ځکه چې د "حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِينَ" په بناء د صحابه وو کرامو دا ډول دنيا طلبي تغليظًا داسې وګڼله شوه لکه چې د تګ په وخت کښې يې همدا نيت وي. او دا ځکه چې د دوی د شان سره دا هم مناسبه نه وه.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي چې د أُحد د غزا پورې زما دا شعور نه وه چې د نبي کريم ﷺ په صحابه وو کښې به داسې څوک هم وي چې «يُرِيدُ الدُّنْيَا وَعَرَضَهَا»[1] دنيا به غواړي او د دنيا سازوسامان به اراده کوي.

"إصعاد" څه معنی؟

۴_ د ﴿ تُصْعِدُونَ ﴾ کلمه د "إِصْعَاد" ځخه اخستله شوې ده، "إِصْعَاد" په هسواره ځمکه باندې تللو ته وايي او "صعود" په لوړو ځايونو باندې د پورته کېدلو نوم دی[2].

د احد په غزا کښې مجاهدين د ماتې په وخت کښې خواره واره شوه، څوک په غره وختل او څوک يو طرف ته لاړه او څوک بل طرف ته[3] حتی چې ځينې لا آن مدينې منورې ته ورسېده.

زمونږ په خيال په دې مقام کښې الله ﷻ د هغو خلکو ذکر وکړ کوم چې په هسواره ځمکه باندې تېتبدلي وه ځکه چې دوی نسبت هغو کسانو ته لرې لاړه کوم چې په غره باندې ختلي وه. او دا ځکه چې د غره والا خو هلته بيا تم شوي او په نبي کريم ﷺ باندې لږ وخت وروسته ورغونډ شوي وه، اما د هسوارې ځمکې والاوو د ببرته راغونډېدلو وخت اوږد وه حتی ځينې لا درې ورځې وروسته ورغله[4].

د غم د پاسه غم

۵_ ځينې مفسرين کرام د ﴿ فَأَثَٰبَكُمْ غَمًّۢا بِغَمٍّ ﴾ تفسير داسې کوي چې الله ﷻ تاسو ځکه په غم کړئ چې تاسو نبي کريم ﷺ غمژن کړی وه، کله يې چې تاسو ته نارې وهلې چې ماته راشئ مګر تاسو په تېښته وئ[5].

(١) الدر المنثور ج٢ ص٣٤٨
(٢) تفسير الطبري ج٤ ص١٣٣
(٣) تفسير القرطبي ج٤ ص٢٣٩
(٤) روح المعاني ج٤ ص٩٩
(٥) تفسير القرطبي ج٤ ص٢٤٠

او ځيني نور يې داسې تفسيروي چې الله ﷻ تاسو ته د يو غم د پاسه بل غم درورساوه، چې دوى د غمونو شمېره په لاندې ډول باندې ښيي[١]:

د ګټلې نصرت د لاسه وتل، د لاس ته ورغلي غنيمت فوت کېدل، شهيدان، زخميان، د نبي کريم ﷺ د شهادت د اواز اورېدل.

او هم د دې خبرې خطره چې کافران خپلې تعرضي حملې ته دوام ورکړي، بل غم وه. خصوصاً په هغه وخت کښې چې ابو سفيان ورته په يوه لوړه غونډۍ باندې کښېناست او سوال جواب يې ورسره شروع کړ چې: فلانى ژوندى دى؟ فلانى ژوندى دى؟ او بيا يې يو بوت ته ـ چې هبل نومېده ـ وويلې چې: "اُعْلُ هُبَلُ" اى هُبَله! ـ لوړ اوسېږې چې مونږ ته دې غلبه راپه برخه کړه. او داسې نورې خبرې يې هم وکړې[٢].

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې ښکاري چې د وروستني متصل کلام سره ښه مناسب دى. يعنې: خکه درباندې الله ﷻ د يو غم دپاسه بل غم درنازل کړ ترڅو د غمونو سره اشنا شئ او پوه شئ چې په هر حالت کښې شکر په کار دى.

خلک وايي چې غم د غم ځخه نه شرمېږي او په يوه غم باندې بل غم هېرېږي، لکه چې وايي:

دا دستور دى چې لوى غم په سرې ورشي :: واړه غمونه يې همه شي تر پښو لاندې[٣]

﴿ ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنۢ بَعْدِ ٱلْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَآئِفَةً مِّنكُمْ ۖ وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ ظَنَّ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ مِن شَىْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ ۗ يُخْفُونَ فِىٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِىَ ٱللَّهُ مَا فِى صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِى قُلُوبِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ مِنكُمْ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ إِنَّمَا ٱسْتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا۟ ۖ وَلَقَدْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾ ﴾

[١٥٤] بيا د غم ځخه وروسته الله ﷻ په تاسو باندې د داد (اطمنان) دپاره پرکالي نازله کړه، چې ستاسو يوه ډله يې پټه کړه (او خوب ورباندې ورغى). او يوه بله ډله مو داسې وه چې خپلو

(١) تفسير القاسمي ج٤ ص٢٥٧؛ التفسير الكبير ج٩ ص٤١
(٢) تفسير البغوي ج١ ص٣٥٦
(٣) د عبد الرحمن مومند ديوان

خانونو په غم کښې اچولې دي (او د داوه کېدلو استعداد نه لري) دوی په الله ﷻ باندې ناحقه د جهالت ګومانونه کوي؛ دوی وايي چې ايا مونږ لره د دې کار (غزا) څخه (د نصرت) څه شی شته؟ (بلکې نشته نو معلومه شوه چې د نبي کريم ﷺ د نصرت وعده دروغ ده). ورته ووايه چې يقيناً ټول کار الله ﷻ لره دی (د حکمت په اقتضاء هم نصرت ورکوي او هم شکست).

(ای پيغمبره! دغه ډله) د خانو سره داسې خبرې (نورې هم) پټې ساتي چې تاته يې نه ښکاره کوي. دوی وايي چې که مونږ لره د دې کار (غزا) څخه برخه وی (او زمونږ خبره چا منلې وی چې د جنګ نقشه د مدينې منورې په داخل کښې عملي شوې وی) نو مونږ به دلته نه وی وژل شوي.

ورته ووايه چې که (بالفرض) تاسو په خپلو کورونو کښې وی هم (او مدينه منوره د جنګ ميدان جوړ شوی وی هم) نو ضرور به هغه کسان چې په هغوی باندې وژل کېدل (په تقدير کښې) تاکلي شوي وه د خپل ارخ لګولو (وژل کېدلو) ځايونو ته ورتللي وی.

او (دا کار د ډېرو حکمتونو دپاره عملي شو چې ځينې دا دي:) ترڅو الله ﷻ هغه شی وازمايي چې هغه ستاسو په سينو کښې دی. او چې ترڅو هغه شی سوچه وګرځوي چې هغه ستاسو په زړونو کښې دی. او الله ﷻ په هغو (اعتقاداتو او تصوراتو) باندې پوه دی چې د سينو اندېوالان دي (او دباندې نه دي راوتلي).

[۱۵۵] او بې شکه ستاسو د جملې څخه هغه کسان چې هغوی په هغې ورځ د جنګ څخه بېرته تاو شوه (او ماتې يې وخوړه) په کومه ورځ کښې چې دوه لوېې ډلې سره د جنګ دپاره مخامخې شوې (يعنې د احد په غزا کښې)، يقيناً دوی د ځينو هغو ګناهونو د کبله شيطان ولغزول چې دوی کړې وه (د غښو ويشتلو مورچه يې پرېښې وه). او يقيناً دوی ته الله ﷻ عفوه کړې ده، بې شکه الله ﷻ ښبونکی (او) د حلم ښښتن دی.

ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ د وړاندېنيو ايتونو څخه معلومېږي چې د احد په غزا کښې غازيانو دوه ګناهونه کړي وه يو دا چې د نبي کريم ﷺ تاکلې مورچه يې پرېښې وه او د غنيمت په مالونو پسې روان شوي وه. او بله دا چې نبي کريم ﷺ وريسې ناري وهلې چې مه تښتئ؛ بېرته راوګرځئ، ماته راشئ. خو د ډېرې وارخطائی د کبله ورته د غازيانو فکر نه شو او د نبي کريم ﷺ حکم ترې فوت شو.

د دغو دواړو ګناهونو څخه الله ﷻ په [آل عمران:۱۵۲] ايت کښې عفوه وکړه. که عفوه يې ورته نه وی کړې، د اطمنان ورکولو مستحق به هم نه وی. نو د دې دپاره چې دوی ښه مطمئن شي چې مونږ الله ﷻ وښېلو، لاندې اطمنانونه يې ورکړه:

الف: يو دا چې د دوی د دښمنانو په زړونو کښې يې رعب واچاوه چې زړونه يې د ډاره ډک شوه او دا جرئت يې د لاسه ورکړ چې د ماتې خوړلو صحابه کرامو ﷺ د پوښنا کولو دپاره بېرته راتاو شي. او بالمقابل د غازيانو جرئت دومره قوي شو چې د حمراء الأسد پورې يې تعقيب کړه

ته به وايي چې آن د هماغه ځايه پورې يې وځغلول. همدې مضمون ته په [آل عمران:۱۷۲] ايت کښې اشاره شوې ده.

ب: په عين جنګ کښې يې په دوى باندې خوب وروووست چې غازيانو د خوب د کبله سرونه ته شوه پورته کولى او تورې يې د لاسونو څخه ښوېبدلې، تا به ويل چې دوى د جنګ په ميدان کښې واقع نه دي بلکې په کوم تفريح ځاى کښې سيل ته وتلي دي.

ج: د دوهم ځل دپاره بيا الله ﷻ د عفوې اعلان وکړ چې: ﴿ وَلَقَدْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهُمْ ﴾ او يقيناً الله ﷻ دوى ته عفوه کړې ده. ترڅو د يو پلوه صحابه کرام ﷺ ښه مطمئن شي چې الله ﷻ د ګناهونو څخه راتېر شو. او د بله پلوه د قيامت د ورځې پورې د معاندينو د اعتراض مخه ونيوله شي چې په هغوى باندې د اعتراض خولې خلاصې کړې او په همدې پلمه باندې د صحابه کرامو ﷺ پسې د اقتداء کولو څخه خپلې اوږې سپکې کړې.

۲ـ يعنې الله ﷻ تاسو په غمونو باندې د حکمت د غوښتنې سره سم مبتلا کړئ خو بيا يې د غمونو څخه وروسته په تاسو باندې اطمنان او ډاډينه هم نازله کړه ترڅې چې ټول غمونه درڅخه هېر او زړونه مو ارام شوه حتى چې خوب درغى، ته به وايې چې دا د جنګ ميدان نه بلکې نرمه بستره ده چې د ارام کولو دپاره درته اواره کړى شوې ده.

مګر نوموړى اطمنان ستاسو د ټولو په برخه نه شو، په تاسو کښې صرف د يوې ډلې په برخه شو چې هغوى جهاد ته صرف د الله ﷻ د رضا دپاره وروتلي وه او نيتونه يې سوچه وه.

په تاسو کښې يوه بله ډله وه چې د هغوى تشويش لا پسې زيات شو، نه يې زړونه ارام شوه او نه د غمونو څخه خلاص شوه، هغوى د خپلو ځانو په غم کښې اخته وه چې ابو سفيان به امان راکړي او که نه؟ دوى په الله ﷻ باندې د جاهليت د زمانې باطل ګومانونه کول او دا يې خيال نه وه چې اسلام به مخ په وړاندې لاړ شي. هغوى الله ﷻ هېر کړ او په غير الله باندې يې اتکا وکړه.

۳ـ اى پيغمبره! دوى وايي چې ايا مونږ ته د نصرت او غلبې څخه څه شى شته؟ مطلب يې دا دى چې د نصرت وعده دروغ شوه، کله چې دا وعده دروغ شوه نو د نبي کريم ﷺ نورې وعدې هم دروغ دي. دوى ته اسلام باطل دين ښکاري، د دوى په نزد حق دين هغه دى چې په هيڅ وخت کښې يې پيروان مغلوب نه شي بلکې دوى صرف د دې دپاره کلمه طيبه وايي چې غنيمت ترلاسه کړي. او د دې څخه منکر دي چې الله ﷻ دنياوي کارونه په اسبابو باندې بنا کړي دي (د معجزې په توګه کله-کله اجراء کېږي) که نه نو کافران به په ايمان راوړلو باندې مجبور شوي وى، خو د مجبورى ايمان د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دى.

نو ته ورته ووايه چې ټول کارونه د الله ﷻ په واک او اختيار کښې دي، زما په لاس کښې څه شى نشته او د الله ﷻ کارونه په حکمت باندې ولاړ دي. ايا الله ﷻ درسره خپله وعده رښتيا نه کړه چې کافرانو ته مو ماتې ورکړه او د هغوى د مالونو په راغونډولو باندې مصروف شوئ؟ ايا هغه

نصرت نه وه؟، خو د بې صبرۍ د کبله درڅخه الله ﷻ خپل نصرت بېرته واخست. ایا تاسو سره یې د داسې نصرت وعده کړې وه چې که تاسو جنایت کوئ هم تاسو به غالب یاست؟!.

۴_ ای پیغمبره! د دوی په زړونو کښې څه نورې کفري خبرې هم شته چې هغه لا تاسو ته نه ښکاره کوي، ستاسو په وړاندې څه نرمې کلمې استعمالوي خو کوم شی چې د دوی په زړونو کښې دي هغه صریح کفر دی. مثلا دوی وایي چې که مونږ په دې غزا کښې د نصرت څه برخه درلودی نو مونږ به دلته نه وی وژل شوي. ایا نصرت دې ته وایي چې چې اویا نفره ووژل شي او ښه ډېر زخمیان شي؟.

برسېره په دې دوی د الله ﷻ په تقدیر باندې هم قائل نه دي. دوی وایي چې که مونږ په مدینه منوره کښې پاتې شوي وی او یا د عبد الله بن اُبَي (رئیس المنافقین) سره بېرته ستانه شوې وی نو هم دغه مرګ او ژوبله به نه وی واقع شوې.

۵_ نو ای پیغمبره! ته ورته ووایه چې که بالفرض تاسو په کورونو کښې وی او هیڅ د جنګ میدان ته نه وی راوتلي هم، نو د چا چې نېټه پوره وه او په دنیا کښې یې روزي خلاصه وه هغه به د اُحد د غره لمن ته وروتلې وی او په هغه ځای باندې به یې سا ورکړې وی په کوم ځای باندې چې اوس شهید پروت دی. او دا ځکه چې د هر چا دپاره لکه څنګه چې د ژوند وخت ټاکلی شوی دی همدارنګه ورته د روح ورکولو ځای او موقعیت هم تعین شوی دی، چې نه ځای بدلون موندلی شي او نه زمانه.

۶_ ذکر شوي واقعات الله ﷻ د ډېرو حکمتونو په بناء واقع کړي دي چې د هغو د جملې څخه لاندې دوه حکمتونه هم دي:

الف: ترڅو ستاسو اخلاص د ابتلاء او ازمېښت لاندې راولي چې څوک په رښتیا مؤمنان دي او څوک منافقان دي. که ذکر شوي واقعات یې نه وی پېښ کړي نو د منافقانو منافقت به هم پټ پاتې شوی وی او دغه خبرې به یې نه وی کړې چې اوس یې کوي.

ب: ترڅو چې ستاسو ایمانونه سوچه او خالص وګرځوي او دغه تشویشونه او شبهات جواب کړي چې منافقان یې تاسو ته دراچوي، اوس ښه څرګنده شوه چې د هغوی شبهات هیڅ مؤثر واقع نه شوه او نه به مؤثر واقع شي.

ذکر شوي دوه شیان (منافقت او ایمان) خو الله ﷻ ته معلوم وه ځکه چې هغه ﷻ په زړونو باندې پوه دی او ټول کیفیات یې ورته ښکاره دي، خو الله ﷻ د لاندې دوه وو مطلبونو دپاره رابرسېره کړه:

اول: چې تاسو ورباندې پوه شئ او هر چا ته د خپل ځان وزن څرګند شي.

دوهم: چې الله ﷻ هیڅچا ته تر هغه نېکه یا بده جزا نه ورکوي ترڅو چې خپل معلومات پیاده نه کړي، که یوازې په علم باندې یې چا ته جزا ورکولی نو پیغمبران علیهم السلام به یې نه وی استولي او مخلوق به یې د پیدا کولو څخه وروسته متصل څوک جنت ته بیولي وی او څوک دوزخ ته؛ لکه څنګه چې ورته په ازل کښې معلوم وه.

٧_ ای مؤمنانو! ټول شيطانان (انسي دي او که جني) غواړي چې تاسو د الله ﷻ د لارې څخه بې لارې کړي، د همدې کبله تشویشونه او اشتباهګانې دراچوي. خو ترڅو چې تاسو په برابره لار باندې روان یاست څه وسه به یې دربانديې ونه شي.

يقيناً ستاسو د جملې څخه چې ځینې کسان د جنګ د میدان څخه وتښتېدل او د نبي کریم ﷺ دعوت ته متوجه نه شوه (چې ای د الله ﷻ بندګانو! ماته راشئ) هغوی هم د ځینو ګناهونو د کبله جنې شیطان خطا کړه. که بالفرض د غشو ویشتونکو ټولګي ګناه نه وی نو نه به شکست واقع شوی وی او نه به یې میدان پرېښی وی.

لنډه دا چې د هغوی تښتېدل د عقیدې په بناء باندې نه وه بلکې یوه عملي خطا ترې واقع شوه نو ځکه الله ﷻ دوی ته عفوه وکړه. او دا ځکه چې الله ﷻ بښونکی دی.

هو! چا چې دغه کار د منافقت د عقیدې په بناء کړی دی نو هغوی ته عفوه نشته سمدستي هغوی ته پوره جزا ورنه کړی شوه ځکه چې الله ﷻ حلیم دی، کارونه په عجله نه کوي.

توضیحات

١_ د الله ﷻ په نومونو کښې یو نوم "ستّار" دی، یعنې پرده پوښ. نو د همدې کبله یې په دې مقام کښې د منافقانو نومونه وانخستل، چې ته منافق یې او ته منافق یې. او نه یې ګناهګاران څرګند کړه چې فلاني دا ګناه وکړه او فلاني دا ګناه وکړه. بلکې په ټولو ارشاداتو کښې یې د مجاهدینو ټولګې مخاطب کړ چې ترڅو هر څوک ترې د خپل ځان سره مناسب ارشاد ترلاسه کړي، او هم منافقين دې خبرې ته وهڅوي چې د منافقت څخه لاس واخلي ترڅو داسې وګڼل شي چې دوی هیڅکله د نفاق څخه کار نه دی اخستی، او نه ورته څوک پیغور ورکړی شي چې په یو وخت کښې یې منافقت کړی وه.

د بیان دا طرز هم په دې دلالت کوي چې قرآن کریم په حقه د الله ﷻ کتاب دی، د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک خپل ځان دومره نه شي اداره کولی او نه د منافقانو او ګناهګارانو ذکر په پورتني سویه کولی شي.

د احد غزا او منافقان

٢_ په دې ایتونو کښې چې کومو خبرو ته اشاره شوې ده ځینې مفسرین کرام وايي[1] چې دا د کمزورو مؤمنانو خبرې دي، نه د منافقانو. ځکه چې:

الف: منافقان د عبد الله بن بن اُبيّ په مشرۍ د غزا د پیل څخه وړاندې د نیمائي لارې څخه بېرته ستانه شوي وه او په غزا کښې یې ګډون نه وه کړی.

مګر دا دلیل ضعیف دی. څه لرې نه ده چې ځینې منافقان د غنیمت دپاره د نیمائي لارې څخه بېرته نه وی ستانه شوي او په جهاد کښې یې اشتراک کړی وی.

(١) تفسیر المنار ج۴ ص١٨٧

ب: د غازیانو په باره کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَلَقَدْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهُمْ ﴾ او ښکاره ده چې منافقان خو د عفوې مستحق نه دي.

دا جواب هم مزه ناک نه دی. څه لرې نه ده چې په عفوه کښې هغه څوک مراد وي چې هغوی د عفوې مستحق وه، نو نه پکښې منافقان داخلېږي او نه هغه صحابه کرام ﷺ چې د هغوی څخه په نوموړې غزا کښې هیڅ قصور نه وه شوی، نه یې مورچه پرېښې وه او نه د نبي کریم ﷺ د څنګ څخه د ډېر لږ وخت دپاره په څنګ شوي وه. مګر الله ﷻ د خپل ستاریت په غوښتنه د چا په نامه باندې صراحت ونه کړ.

عام مفسرین کرام څه وایي؟

۳. عام مفسرین کرام وایي چې نوموړې خبرې منافقانو کړې وې. ځکه چې:

الف: په راتلونکي [۱۵۶] ایت کښې الله ﷻ صراحت کړی چې د ذکرو شوو خبرو سره مشابه خبرې کافرانو کړې دي چې: ﴿ لَّوْ كَانُوا۟ عِندَنَا مَا مَاتُوا۟ وَمَا قُتِلُوا۟ ﴾ یعني: که دوی زمونږ سره وی (غزا ته نه وی تللي) نو نه به مړه شوي وی او نه به وژل شوي وی. نو معلومه شوه چې ذکر شوې خبرې هم منافقانو (کافرانو) کړې دي، چې په همدې باندې پخوانیو مفسرینو کرامو اجماع کړې ده[۱].

ب: د زبیر ﷺ څخه روایت دی چې زه د جنګ په میدان کښې نعاس (پرکالی) نیولی وم چې نیم ویده او نیم ویښ وم او د مُعتب بن قُشیر څخه مې ذکر شوې خبرې واورېدې، او دغه (معتب) خو د منافقانو څخه وه[۲].

تبصره

۴_ مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي دواړه قولونه سره څه منافات نه لري، ممکنه ده چې خبرې به اصلا منافقانو کړې وي خو ځینو په اسلام باندې نوي مشرف شوو ساده لوحو خلکو به هم ورسره د خبرو لکۍ تاوه کړې وي. لکه چې د بي بي عائشې رضی الله عنها د افک (بهتان) خبره اصلاً منافقانو کړې وه خو ځینې ساده ګان مسلمانان هم ورسره بې اړیکو نه وه پاتې شوي.

نُعَاس څه ته وایي؟

۵_ لږ خوب ته نُعاس وایي[۳]، او یا د خوب هغه مقدمه د نعاس په نامه یادېږي چې د سرې سترګې د تاثیر لاندې راولي او په ټول بدن باندې یې تسلط نه وي موندلی[۴]، چې مونږ ترې په پرکالي سره تعبیر کوو.

---

(۱) البحر المحیط ج۳ ص۸۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۴ ص۲۴۲

(۳) مفردات الراغب ص ۵۲۰

(۴) المدارک ج۱ ص۱۷۸

په هر تقدير، کله چې جنګ پای ته ورسېد او کافرانو خپلو ځارويو ته مراجعه وکړه نو د صحابه کرامو ﷺ سره دا تشويش پيدا شو چې کافران دا ځل په مدينه منوره باندې حمله ونه کړي، حال دا چې هلته د دفاع هيڅوک نشته. نو نبي کريم ﷺ يو ځارونکی ورواستاوه او ورته يې وويلې چې لاړ شه د کافرانو ځارنه وکړه چې دوی د کوچېدلو په وخت کښې په اسونو باندې سورېږي او که په اوښانو؟، که په اوښانو سواره شوه نو دوی په مدينه منوره باندې د حملې نيت نه لري او که په اسونو سواره شوه نو بيا جنګ ته خانونه تکره کړئ چې دوی دا ځل هلته د حملې اراده لري[۱].

ځارونکی بېرته راغی او خبر يې راوړ چې کافران په اوښانو باندې سواره شوه. نو دوی خوشاله، بې غمه ويده او د نبي کريم ﷺ په اخبار باندې مطمئن شوه چې کافران په مدينه منوره باندې حمله نه کوي، او اطمنان يې د خوب حالت ته ورسېده.

مګر بالمقابل منافقانو د نبي کريم ﷺ په اخبار باندې اعتناء ونه کړه او تشويش يې پورته نه شو او په همدې غم کښې وه چې کافران دا ځل په مدينه منوره باندې ـچې هلته زمونږ کور کهول دی ـ حمله کوي.

تبصره

۶ـ مونږ دا خبره تائيدوو چې مسلمانان د نبي کريم ﷺ په اطمنان باندې مطمئن شوه چې کافران په مدينه منوره باندې حمله نه کوي، مګر دا مو زړه ته نه لوېږي چې په آيت شريف کښې به همدغه مطلب وي. او دا ځکه چې:

الف: د ابو طلحه ﷺ څخه روايت دی چې په مونږ باندې الله ﷻ نعاس (پرکالي) نازله کړه «وَنَحْنُ فِي مَصَافِّنَا يَوْمَ أُحُدٍ»[۲] حال دا چې مونږ د احد د غزا په ورځ د جنګ په صفونو کښې ولاړ وو، تردې چې د نعاس د کبله به مو توره د لاسه ښويېدله او بېرته به مو راټينګوله، د لاسه به مو ښويېدله او بېرته به مو راټينګوله. نو معلومه شوه چې په صحابه وو کرامو ﷺ باندې نعاس په عين جنګ کښې نازل کړی شوی وه.

ب: په دې کښې خو شک نشته چې ذکره شوې پرکالي په مجاهدينو باندې د معجزې په توګه الله ﷻ نازله کړې وه او ښکاره خبره ده چې په هر څومره خطرناکه مرحله کښې نازله شوې وي هغومره به غټه معجزه وي. او دا هم ښکاره ده چې د جنګ د اختتام په پرتله د جنګ ميدان ډېر خطرناک دی چې د تورو پرقهار، د غشو پرهار او د جنګياليو شورماشور او هاها وي، دا داسې خطرناک وخت دی چې د جنګ د پيل څخه خو ورځې وړاندې لا بايد چا ته خوب ورنه شي، پاتې خو لا د جنګ ميدان، نو په داسې خطرناک وخت کښې د ذکر شوې معجزې تحقق موندل ښه سمون خوري.

---

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۱۴۰؛ الدر المنثور ج۲ ص۳۵۲

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۱۵۵؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۰

ج: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «النُّعَاسُ فِي الْقِتَالِ مِنَ اللهِ وَفِي الصَّلَاةِ مِنَ الشَّيْطَانِ»[١] په جنګ کښې پرکالي د الله ﷻ د پلوه ده او په لمانځه کښې د شيطان د طرفه. او پوره څرګنده ده چې نوموړي صحابي ﷺ په عين لمانځه کښې پرکالي د شيطان د طرفه ګڼلي ده نو معلومه شوه چې د جهاد پرکالي هم په عين جنګ کښې مطلب ده چې الله ﷻ يې د خپل نصرت د نژدېوالي نښه ګرځوي او په مجاهدينو باندې يې نازلوي. لکه چې عين کيفيت الله ﷻ د افغانستان په جهاد کښې هم په مجاهدينو باندې ځای په ځای نازل کړی دی.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

٧_ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې کوم ګومان ته د ناحقه او جاهل ګومان لقب ورکړی شوی دی؟

مونږ وايو چې: هر هغه ګومان چې د الله ﷻ د نه پېژاندنې څخه يې منشا نيولې وي د ناحقه او جاهلي ګومان په نامه يادېږي. که څه هم هغه ګومانونه چې منافقانو د احد په غزا کښې کړي وه زښت ډېر وه لکه چې په ﴿يُخْفُونَ فِىٓ أَنفُسِهِم﴾ کښې ورته اشاره شوې ده، مګر په عين ايت کښې لاندې ګومانونو ته الله ﷻ جواب ورکړی دی:

الف: منافقانو به ويلې چې: ﴿هَل لَّنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ مِن شَىْءٍ﴾ ايا مونږ ته اوس د نصرت څه برخه شته؟ نو کله چې مونږ سمدستي د نصرت برخه نه لرو او د ماتې سره مخامخ ياستو نو زمونږ دا عقيده ده چې د دې پيغمبر ﷺ خبره دروغ ده چې الله ﷻ به ورسره نصرت وکړي او دين به يې په ټوله دنيا باندې غالب شي.

الله ﷻ جواب ورکړ چې: ﴿إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ﴾ يقيناً ټول کار الله ﷻ لره دی، هيڅ شی د ده ﷻ د قدرت څخه وتلی نه دی او همدې ﷻ په هر وخت کښې غالب دی، اوسنۍ ماتې د مغلوبيت معنی نه ورکوي بلکې دا د حکمت غوښتنه وه چې د الله ﷻ په اراده باندې واقع شوې ده او الله ﷻ به ضرور د خپل پيغمبر ﷺ سره خپلې ژمنې ترسره کوي او د ده دين ته به په ټوله دنيا غلبه ورکوي.

ب: هغوی به ويلې چې: ﴿لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَـٰهُنَا﴾ يعني: که مونږ لره د دې کار (جهاد) څخه څه برخه وی نو مونږ به دلته نه وی وژل شوي او د ماتې سره به نه وی مخامخ شوي. او دا ځکه چې زمونږ نظر خو دا وه چې د جنګ دپاره بايد د مدينې منورې څخه دباندې د احد د غره لمنې ته بېرون لاړ نه شو، نو که زمونږ تدبير منلی شوی وی نو اوس به دغه مرګ ژوبله نه وی واقع شوې او زمونږ تدبير به يې مخه نيولې وی. نو الله ﷻ د دوی دغه ناحقه ګومان په لاندې وجو سره جواب کړ چې:

اول: د الله ﷻ تقدير ته نه تدبير جوړېږي او نه يې مخه نيولی کېږي. که بالفرض ستاسو په تدبير

---

(١) تفسير ابن کثير ج١ ص٤١٨

باندې عمل شوی هم وی نو څوک چې ژوبل شوي دي دوی به ژوبل شوي وی او څوک چې وژل شوي دي دوی به په عین موقع کښې وژل کېده. دا د تقدیر غوښتنه وه چې سر ته ورسېده او د تقدیر په پیاده کولو کښې د الله ﷻ بې شمېره حکمتونه نغاړل شوي دي چې ځینې یې دا دي.

دوهم: د دې دپاره دا کار واقع شو چې ترڅو هغه څه چې ستاسو په زړونو کښې دي داسې څرګند شي چې حتی تاسو هم ترې انکار ونه شئ کړی. که بالفرض همدغه ماتې نه وی واقع شوې نو ای منافقانو! ستاسو دغه خبرې به چې اوس یې ښکاره کوئ ټولې پټې پاتې شوې وی، دا خو د همدې شکست برکت دی چې د منافقت خبرې مو په زړونو کښې ونه شوې ساتلې او بهر مو راووېستلې.

درېم: د دې دپاره چې د سمې عقیدې خاوندان سوچه وګرځوي، چې تاسو (ای منافقانو!) هرڅومره وسواس او تشویشونه ورواچوئ په هغوی باندې څه اثر ونه غورځوي، تر اوسه پورې خو ورته ستاسو تمه وه چې د هغوی عقائدو ته به انحراف ورکړئ خو اوس پوه شوئ چې هغوی ستاسو د تشویشاتو د اغېزې لاندې نه شي راتلی او په عقائدو کښې یې خلل نه شئ وراچولی.

ذات الصدور څه معنی؟

۸ـ د "ذَات" کلمه په عربي ژبه کښې په لاندې دوه معناوو باندې استعمالېږي:

الف: "ذَاتُ الشَيء" یعنې عین شی.

ب: "ذَاتُ الشَيء" یعنې د یو شي انډیوال او مصاحب.

په دې مقام کښې په دوهمه معنی باندې استعماله شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ په هغو احوالاتو باندې پوه دی چې هغه د سینو سره مصاحب او انډیوالان دي. یعنې الله ﷻ ته هغه اعتقادات او تصورات معلوم دي چې هغه په زړونو کښې دي، خو د کنایې په توګه د زړونو څخه په سینو باندې تعبیر وکړی شو ځکه چې سینې د زړونو لرونکې دي، نو څه چې په زړونو کښې وي هغه په سینو کښې هم وي.

د ایتونو ارشاد

۹ـ ذکر شوي ایتونه مونږ لاندې حقائقو ته زیات متوجه کوي:

الف: یوه ګناه سړی بلې ګناه ته راکاږي. لکه چې صحابه کرام ؓ د جنګ د میدان څخه د دې کبله وتښتېدل او د نبي کریم ﷺ اوازونو ته یې فکر نه شو چې دوی د مورچې په پرېښودلو کښې د ګناه مرتکب شوي وه، هغې ګناه دوی دغې ګناه ته راکش کړه.

نو مسلمانانو ته په کار دي چې د دې کبله هم د ګناه څخه ځانونه بچ وساتي ترڅو د ګناه په تسلسل سره یوه ګناه د بلې سبب نه شي.

ب: په دنیا کښې د ګناه تاثیرات او اغېزې د ګناه کوونکي څخه نور بې ګناه خلکو ته هم ورتېرېږي، حتی چې د غشو ویشتونکو د ګناه د کبله د نبي کریم ﷺ (چې د ګناه څخه معصوم و) مبارک مخ هم په وینو رنګ شو.

نو هر مسلمان ته په کار دي چې د دې امله هم د ګناه څخه ځان وساتي ترڅو نور مسلمانان د ده د ګناه د کبله په مصيبت باندې اخته نه شي.

ج: الله ﷻ په مکرر ډول باندې د صحابه کرامو ﷺ څخه عفوه اعلان کړه. نو د همدې کبله مونږ عقيده لرو چې دوی ټول عادلان دي او ټول د امت دپاره امامان دي چې دوی په هغې زمانه کښې ژوند کړی دی کومې ته چې نبي کريم ﷺ "خير القُرون" لقب ورکړی دی[1].

پاتې شوه د صحابه وو کرامو ﷺ خپلمنځي اختلافات، نو په دغو اختلافاتو کښې بايد مونږ سکوت وکړو او په اجتهادي اختلافاتو باندې يې حمل کړو، مونږ نه په دې باندې مکلف ياستو چې څوارلس سوه کاله وروسته يوه ته د ملامتی ګوتې ونيسو او بل په حقه وبولو. او نه به راځخه ـ ان شاء الله ـ د قيامت په ورځ الله ﷻ پوښتنه وکړي چې ولې دې د صحابه وو کرامو ﷺ په باره کښې خپل نظر نه دی ښکاره کړی؟.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقَالُوا۟ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُوا۟ غُزًّى لَّوْ كَانُوا۟ عِندَنَا مَا مَاتُوا۟ وَمَا قُتِلُوا۟ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِى قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾ وَلَئِن قُتِلْتُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿١٥٧﴾ وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحْشَرُونَ ﴿١٥٨﴾ ﴾

[١٥٦] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ چې هغوی کافر شوي دي، او د خپلو ورونو (يا هم مسلکو) په باره کښې وايي کله چې هغوی په ځمکه کښې اوږد سفر وکړي او يا غزا کوونکي وي (يا ووژل شي او يا په خپل مرګ مړه شي چې:) که هغوی زمونږ سره وی (د کوره نه وی وتلي) نو نه به مړه شوي وی او نه به وژل شوي وی.

(د دوی د وينا) عاقبت دا جوړېږي چې الله ﷻ ورته خپله وينا په زړونو کښې حسرت (ارمان) وګرځوي. (ځکه چې په مرګ او ژوند کښې اسباب موثر نه دي) يوازې الله ﷻ ژوندي کول کوي او مړه کول کوي او الله ﷻ په هغو کارونو باندې بينا دی چې تاسو يې کوئ.

[١٥٧] او خامخا که تاسو د الله ﷻ په لار کښې ووژل شئ او يا مړه شئ (نو دا خو ستاسو د مغفرت او رحمت سبب جوړېږي او) ضرور د الله ﷻ د پلوه (وړوکی) مغفرت او (کوچنی) رحمت هم د هغه شيانو څخه ډېر بهتر دی چې (کافران او منافقان) يې راغونډوي (نو ستاسو په مرګ او وژنه کښې تاوان نشته).

[١٥٨] او ضرور چې تاسو مړه شئ او يا ووژل شئ (ټول به) خاص الله ﷻ ته ورغونډ کړی شئ (او د عدل فيصله به درسره وکړي).

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٣٠٩

ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د منافقانو خبرې مؤمنانو ته څرګندې کړې وې چې دوی د احد د شهیدانو په باره کښې وایي چې که دوی جهاد ته نه وی تللي نو شهیدان شوي به نه وی ترڅو تاسو ته تشویش دراچوي او د تقدیر په مسئله باندې مو ـ العیاذ بالله ـ عقیده خامه کړي.

په دې ایتونو کښې فرمایي چې منافقان او کافران په تقدیر باندې عقیده نه لري، دوی غواړي چې تاسو هم ورباندې د خپلو ځانونو په څېر غیر معتقد کړي. نو پام کوئ چې د هغوی د خبرو د تاثیر لاندې را نه شئ او لکه چې هغوی خپل ځانونه د حسرت په دریاب کښې لاهو کړي دي تاسو پکښې ځانونه لاهو نه کړئ.

د مطلب خلاصه

١ـ یعنې: ای مؤمنانو! منافقان چې کومه خبره کوي هغه په حقیقت کښې د دې کېله کوي چې دوی کافر دي. د دوی په کلمه ویلو باندې مه تېروزئ، هغوی په زړونو کښې اسلام ته د حقانیت عقیده نه لري او د الله ﷻ په تقدیر باندې معتقد نه دي. د دوی ذکره شوې عقیده یوازې د احد په شهیدانو کښې نه ده بلکې دوی د خپلو نسبي یا عقیدوي ورونو په مړینه یا وژنه کښې همېشه د همدې عقیدې پیروي کوي، کله چې هغوی چرته په سفر لاړ شي او یا غزا ته ووځي او هلته یا ووژلی شي او یا مړه شي نو دوی د هغوی په باره کښې وایي چې که هغوی همدلته وی نو نه به مړه شوي او نه به وژل شوي وی. نه به وایي چې دوی د الله ﷻ د ارادې مخه نیولی شي او د مرګه یې خلاصولی شي.

دغسې نه ده لکه چې دوی اټکل کوي، بلکې مرګ او ژوند د الله ﷻ په لاس کښې دي او په ټاکلې نېټه باندې پیاده کېږي لکه څنګه چې جنګ ته تلل یا په سفر باندې وتل په مړینه کښې تاثیر نه لري، همدارنګه په کور کښې پاتې کېدل هم د ژوندي پاتې کېدلو تضمین نه شي کولی. نو ذکره شوې عقیده د دې څخه په غیر بله نتیجه نه لري چې د دوی دپاره د حسرت او افسوس سبب جوړه شي او د یوه عذاب په حیث یې الله ﷻ ورباندې نازله کړي.

٢ـ ای مؤمنانو! منافقان غواړي چې تاسو هم د دوی په څېر د خپلو ورونو شهیدانو په باره کښې همدا عقیده خپله کړئ چې که دوی د احد غزا ته نه وی وتلي نو دوی به نه وی شهیدان شوي. دا د کفر عقیده ده، دا د الهي تقدیر څخه انکار دی، دا اسبابو ته موثریت ورکول دي او بالآخره دا د حسرت یو لوی عذاب دی، ، د دې څخه ځانونه وساتئ؛

که بالفرض تاسو همدې عقیدې ته خوشبین شئ نو ضرور به ستاسو په اعمالو کښې د دې عقیدې تاثیرات ښکاره شي. او الله ﷻ خو ستاسو ټول اعمال ګوري او هیڅ شی ترې پټ نه دی نو په دنیا کښې به درباندې د حسرت عذاب درنازل کړي او د آخرت عذاب خو ښکاره دی.

٣ـ ای مؤمنانو! تاسو خو د هغوی په شان نه یاست، ستاسو مرګ او ژوند ټول د الله ﷻ دپاره دی، تاسو خو معتقد یاست چې په هر ځای او هره زمانه کښې واک او اختیار د الله ﷻ دی، نو

ستاسو هر حالت في سبیل الله ګڼل کېږي، که په کور کښې یاست او که غزا ته وتلي یاست، بالآخره که ووژل شئ او یا مړه شئ. په هر حال الله ﷻ تاسو ته مغفرت کوي او د رحمت باران درباندې وروي. او ښکاره ده چې دغه دواړه د منافقانو او کافرانو د غټو- غټو پانګو څخه بهتر دي چې هغه دواړه باقي دي او دغه دواړه فاني دي.

لنډه دا چې تاسو ته د الله په لار کښې مرګ ویاړ او افتخار دی، حسرت نه دی، بلکې تاسو ته د مغفرت او رحمت څخه محرومېدل حسرت دی.

۴ـ برسېره په دې دوی خو په خپلو سرمایو باندې غره دي او په دې باندې نه پوهېږي چې لکه څنګه چې د هر چا ژوند او مرګ د الله ﷻ په اختیار کښې دی همدارنګه د سرمایو څخه استفاده کول هم د ده ﷻ د ارادې څخه وتلي نه دي، څه لرې نه ده چې د دوی مالونه هم دوی ته حسرت او افسوس جوړ شي.

۵ـ ای مؤمنانو! تاسو او ستاسو حریفان (کافران او منافقان) که مړه شئ او که ووژل شئ په هر تقدیر الله ﷻ ته به ورغونډ کړی شئ او په انصاف سره به درسره محاسبه وکړي. دا کار به ضرور کېږي، دلته ستاسو ژوند دائمي نه دی.

توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ تفسیر په منافقانو سره کړې دی او ځینو نورو ترې د منافقانو څخه په غیر نور کافران مراد کړي دي[۱]، مګر مونږ ته داسې ښکاري چې دلته به عامه معنی مراد وي چې منافقانو او غیر منافقانو ټولو ته شامله شي.

دا د خطاب "ل" نه دی

۲ـ په ﴿ لِإِخْوَٰنِهِمْ ﴾ کښې د "ل" کلمه د خطاب دپاره نه ده. او دا ځکه چې په راتلونکي ﴿ مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ ﴾ کښې همدغه مجرور ﴿ لِإِخْوَٰنِهِمْ ﴾ ته ضمیرونه راجع دي او د مړو سره خو مخاطبه عادتاً محاله ده.

بلکې نوموړی "لام" یا اجلیه دی او یا د ظرف معنی ورکوي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای مؤمنانو! تاسو د کافرانو په شان مه جوړېږئ چې هغوی د خپلو ورونو د کبله او یا د دوی په باره کښې داسې-داسې خبرې کوي.

"إِخْوَانِهِمْ" څه معنی؟

۳ـ دلته "إِخْوَانِهِمْ" کلمه عامه ده. لاندې اشخاصو ته شاملېږي:

الف: هغو مسلمانانو ته چې د نسب په اعتبار سره د منافقانو ورونه وه. او دا ځکه چې د احد د شهیدانو اکثریت د خزرج د قبیلې څخه وه چې د عبد الله بن أبي (رئيس المنافقين) قبیله ده[۲].

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۳۵۷

(۲) البحر المحیط ج۳ ص۹۲

ب: هغو انډيوالانو ته چې په منافقت کښې د دوی هم مسلکه او هم مذهبه وه.

ج: دا هم لرې نه ده چې منافقانو د احد شهيدان د ورونو په نامه د دې دپاره ياد کړي وي چې مسلمانانو ته خپل خانونه خواخوږي معرفي کړي ترڅو دوی د خپلې عقيدې خوا ته وهڅوي.

سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ذکر شوې خبرې منافقانو د احد د غزا څخه وروسته کولې او که مخکښې يې کړې وې؟

موږ وايو چې: د ځينو مفسرينو کرامو نظر دا دی چې دوی د غزا څخه مخکښې ذکر شوې خبرې کولې ترڅو د مجاهدينو پښو ته تيرې ورواچوي چې جهاد ته لاړ نه شي[1]. مګر موږ ته دا ښه ښکاري چې په ايت شريف کښې د منافقانو صرف عقيده بيانه شوې ده، نو څه لرې نه ده چې وړاندې او وروسته بلکې په استمراري توګه يې د ذکر شوې عقيدې څرګندونه کړې وي.

دا "ل" څه معنی؟

۵_ که څه هم د ﴿ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ﴾ په "ل" کښې مفسرينو کرامو اوږد بحث کړی دی[2] خو بهتره دا ده چې نوموړی "لام" د عاقبت "لام" دی؛ چې په لاندې دوه ډوله سره يې د معنی حاصل اخستل کېږي:

الف: چې د ﴿ قَالُوا ﴾ پورې تعلق ونيسي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د منافقانو د ذکرې شوې وينا عاقبت دا جوړېږي چې الله ﷻ دوی ته د همدغې خپلې وينا څخه حسرت او غم جوړوي. دا ځکه چې د بې وخته لاس موښلو څخه د افسوس څخه په غير بله نتيجه نه اخستله کېږي.

ب: چې د ﴿ لَا تَكُونُوا ﴾ پورې متعلق شي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د منافقانو غوندې وينا مه کوئ ترڅو الله ﷻ هغوی د خپلې وينا د حسرت په اور کښې وسوزوي او تاسو ترې پاتې شئ؛ نو په دې سره به يې د حسرت اور لا تازه شي چې تاسو يې اطاعت ونه کړئ او توصيه يې د پښو لاندې کړئ. او دا ځکه چې هغوی درته د اطاعت په تمه ذکره شوې وينا دراوروي.

﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ (١٥٩) إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ (١٦٠) ﴾

---

(١) اضواء البيان ج١ ص٢٥٩

(٢) روح المعاني ج۴ ص١٠١؛ البحر المحيط ج٣ ص٩۴

[۱۵۹] نو په سبب د لوی رحمت سره د الله ﷻ د پلوه (چې په تا باندې شوی دی ای پیغمبره!) ته دوی (مؤمنانو) ته نرم شوی یې او که چېرې ته بدخویه، د سخت زړه خاوند وی نو دوی به ستا د شاوخوا څخه تار په تار شوي وی. نو دوی ته عفوه وکړه (د ګناه څخه ورتېر شه) او (د الله ﷻ څخه) ورته هم بښنه وغواړه او په کار کښې (خصوصاً په جهادي امورو کښې) ورسره مشوره وکړه.

نو کله چې دې (د مشورې څخه وروسته هوډ او) عزم وکړ نو یوازې په الله ﷻ باندې توکل وکړه (چې شورې څه موثریت نه لري او ترې پښېمانه کېږه مه) بې شکه الله ﷻ د توکل کوونکو سره محبت کوي (توفیق ورکوي).

[۱۶۰] که الله ﷻ تاسو ته نصرت درکړي نو په تاسو هیڅ غلبه کوونکی نشته. او که (الله ﷻ) توفیق ورنه کړي نو څوک دی هغه کس چې (د الله ﷻ د توفیق نه درکولو څخه) وروسته تاسو ته نصرت درکړي. او خاص په الله ﷻ باندې دې نو مؤمنان توکل وکړي (لکه چې د دوی پیغمبر ﷺ ورباندې توکل کوي).

ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنان منعه کړه چې د منافقانو په څېر خبرې مه کوئ او په دې ایتونو کښې ورته توصیه کوي چې د هغوی شوم غرضونه ترسره نه کړي. او دا څکه چې د ذکرې شوې وینا څخه د هغوی لاندې دوه مطلبه وه:

الف: چې د مؤمنانو په الله ﷻ توکل او اعتماد کمزوری او په اسبابو یې اتکا قوي شي.

ب: چې نبي کریم ﷺ د مؤمنانو څخه زړه بدی شي او په راتلونکي کښې ورسره مشوره ونه کړي. نو الله ﷻ دغه دواړه مطلبه رد کړه.

۲ـ هلته د الله ﷻ د رحمت او مغفرت بهترې بیانه شوې ده مګر مؤمنانو ته یې په ورکړه باندې صراحت نه وه شوی خو دلته یې د دواړو په ورکړې باندې یو-یو مثال په لاندې ډول ذکر کړ:

الف: د الله ﷻ د رحمت یوه بېلګه دا ده چې نبي کریم ﷺ یې د مؤمنانو دپاره "رَءُوفٌ رَحِيمٌ" ګرځولی دی.

ب: د مغفرت یوه کوچنۍ نښه یې دا ده چې نبي کریم ﷺ ته یې امر کړی دی چې د مؤمنانو دپاره زما څخه بښنه وغواړه. او ښکاره ده چې کله الله ﷻ په استغفار سره مامور کړ نو اجابت (مغفرت) یې یقیني دی.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ای پیغمبره! په مؤمنانو باندې د الله ﷻ د عظیم الشان رحمت یوه بېلګه دا ده چې ته د دوی دپاره نرم طبیعته او پوست جوړ کړی شوی یې چې د یو پلوه دې په دوی باندې زړه سوزي او د بله پلوه دې دوی ته سخته او ستغه خبره په خوله نه راځي. که منافقان هرڅومره هلې ځلې وکړي د همدې مبارک خوی څخه دې نه شي اړولی. او چې مؤمنان هرڅومره خطاوې وکړي ته ورته سپوره خبره نه کوې.

که بالفرض ته سپور خبرې او په زړه سخت وی نو یقینًا دوی به په تا باندې دغسې نه وی راټول شوي لکه اوس چې درباندې راټول دي، بلکې دوی به د منافقانو په منافقت او د دوی په خطاکاریو سره درڅخه تار په تار شوي وی.

۲ـ نو ای پیغمبره! همدې خوی ته ادامه ورکړه، مؤمنانو ته د خطاوو څخه عفوه وکړه لکه چې الله ﷻ ورته عفوه کړې ده او د الله ﷻ څخه ورته ښننه وغواړه چې د ګناهونو څخه تزکیه او پاک شي.

برسېره په دې په راتلونکي کښې هم ورسره په کارونو کښې مشورې کوه لکه څنګه چې دې ورسره پخوا مشورې کولې، ترڅو د یو پلوه دوی مطئمن او ډاډه شي او د بله پلوه د قیامت د ورځې پورې ټولو اسلامي حاکمانو ته د هدایت ډېره ښېښودله شي.

۳ـ هو! هر کله چې په کار کښې فیصله وشوه او تا د هغه کار کولو ته قصد وکړ نو بیا یوازې په الله ﷻ باندې اعتماد کوه او د الله ﷻ په توکل هغه ته اقدام کوه، په دغه وخت کښې زړه نازړه کېږه مه. او دا ځکه چې الله ﷻ د متوکلینو سره محبت کوي او متزلزل خلک یې خوښ نه وي.

۴ـ ای مؤمنانو! لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ ته په توکل باندې توصیه وشوه تاسو ته هم په توکل توصیه کېږي چې هر کار د الله ﷻ په ارادې پورې تړلی دی او اسباب هیڅ موثریت نه لري، نو که الله ﷻ درسره نصرت وکړي نو هیڅوک به درباندې غالب نه شي، او که نه نو هغه څوک دی چې د ده ﷻ څخه په غیر نصرت درکړي او د مغلوبیت مخه مو ونیسي؟.

نو څرنګه چې تاسو په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی ستاسو د ایمان غوښتنه دا ده چې په همده ﷻ باندې توکل وکړئ او اسبابو پورې زړه ونه تړئ، اګر که منافقان غواړي چې ستاسو اړیکې د الله ﷻ سره کمزوري کړي او د اسبابو سره مو علاقه قوي شي، مګر دا کړنلاره د ایمان غوښتنه نه ده.

توضیحات

۱ـ په ﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ ﴾ کښې د "مَا" کلمه د رحمت په عظمت باندې څکه دلالت کوي چې[۱]:

الف: د "شيْء" په معنیٰ واخستله شي او رحمت یې بیان شي ځکه چې د ابهام څخه وروسته بیان په عظمت دلالت کوي.

ب: د استفهام په معنی باندې واخستله شي چې په "أيّة رَحْمَةٍ" سره ترې تعبیر کوو او استفهام د تعجیب دپاره واخلو. په هر تقدیر، د "مَا" کلمه بې مطلبه زائده نه ده.

د "فَظّ" او "غَلِيظُ القَلْبِ" معناوې

۲ـ د "فَظّ" کلمه د سَيِّئ الخُلُق (بدخویه) معنی ورکوي چې په مقابل کښې یې حُسن الخُلُق (نېک خویه) استعمال مومي. نبي کریم ﷺ دومره عالي اخلاق درلوده چې حتی کافرو ته یې هم د ادب د

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۰۵

چوکاټ څخه وتلي خبره نه ده کړې. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ [القلم: ۴] يعني: او بې شکه ته په ډېرو عالي اخلاقو باندې يې.

"غَلِيظَ الْقَلْبِ" هغه چا ته ويل کېږي چې په زړه باندې سخت وي او په چا باندې يې زړه نه سوزي.

بدخويي د هر چا سره عيب دی اما د زړه سختي د دين د دښمنانو په باره کښې عيب نه دی، د همدې کبله نبي کريم ﷺ ته امر شوی دی چې په کافرانو باندې زړه سخت کړه لکه چې فرمايي: ﴿ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ﴾ [التوبة: ۷۳] يعني: او په دوی باندې زړه سخت کړه.

خو داسې ورته هيڅکله نه دي ويل شوي چې د دوی سره بداخلاقي وکړه او سپکې سپورې خبرې ورته وکړه. نو د دين داعيانو ته په کار دي چې د همېشه دپاره د بد اخلاقۍ څخه ځانونه بچ کړي ځکه چې دا د دعوت سره منافي کار دی.

شوری څه معنی؟

۳_ "شُورىٰ" په لغت کښې د خالي څخه د شاتو د راويستلو نوم دی، لکه چې عرب وايي: "شِرْتُ الْعَسَلَ" د ګبين (خالي) څخه مې شات راويستلي وه. او په عام عُرف کښې چې خينې خلک د خينو نورو نظريات په يوه موضوع کښې راښکاره کړي نو دې ته شوری وايي[۱]. او کله-کله لا هغو خلکو ته هم د شوری لقب ورکول کېږي چې هغوی د افکارو د څرګندونې دپاره سره راغونډ شوي دي.

د شوری اهميت

۴_ شوری په اسلام کښې لوړ شان لري د همدې کبله په همدې نوم باندې د قرآن کريم يو سورت نومولی شوی دی، ترڅو ورته مسلمانان زيات متوجه شي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾ [الشورى: ۳۸] يعني: د مسلمانانو يو خاصيت دا دی چې خپل مهم کارونه په مشوره باندې د عمل ميدان ته وړاندې کوي. او هم پکښې د نبي کريم ﷺ څخه زښت ډېر احاديث روايت کړی شوي دي لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

الف: د انس ﷺ په روايت نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا خَابَ مَنِ اسْتَخَارَ وَلَا نَدِمَ مَنِ اسْتَشَارَ»[۲] يعني: هغه څوک نااميده نه شو چې استخاره يې وکړه او نه هغه څوک پښېمانه شو چې مشوره يې وکړه.

ب: ابو هريره ﷺ وايي چې: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ مَشُورَةً لِأَصْحَابِهِ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»[۳] يعني: ما داسې څوک نه دی ليدلی چې هغه به د خپلو انديوالانو سره د نبي کريم ﷺ څخه زيات مشوره کوونکی وه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۷۷

(۲) المعجم الاوسط للطبراني ج۶ ص۳۶۵

(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۳۰۱

د نبي کريم ﷺ د شوراګانو څو مثالونه

۵_ په کومه مسئله کښې به چې په نبي کريم ﷺ باندې الهي حکم نه وه نازل شوی او حکم ته به حاجت شو نو نبي کريم ﷺ به د صحابه وو کرامو ﷺ سره پټکښې مشوره کوله او همدارنګه به يې د نازل شوي حکم د ترسره کولو په څرنګوالي کښې هم د هغوی شورى د نظره نه غورزوله. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د بدر په غزا کښې يې ورسره شورى وکړه، البته کله چې د قافلې خبره د منځه ووتله او د جنګ خبره يقيني شوه، نو صحابه وو کرامو ﷺ د جنګ مشوره ورکړه او په پوره جرئت سره يې وويلې چې مونږ به د موسى ﷺ د قوم په شان خبره هيڅکله ونه کړو چې ووايو ﴿ فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴾ [المائدة: ۲۴] يعني: ته او ستا رب لاړ شئ نو جنګ وکړئ مونږ به دلته ناست يو[۱].

ب: همدارنګه يې د الخباب بن المنذر ﷺ مشوره د بدر په غزا کښې قبوله کړه او مرکز يې د همده په مشوره باندې لږ څه وړاندې ښه موقعيت ته ورانتقال کړه[۲].

ج: د احد په غزا کښې يې د صحابه وو کرامو ﷺ د اکثريت خبره ومنله او د جنګ دپاره د احد خوا ته ورغی، که څه هم د ده ﷺ رايه دا وه چې بايد د مدينې منورې د داخل څخه وجنګېږي[۳].

دغسې نور زښت ډېر مثالونه يې د سيرت په کتابونو کښې ثبت شوي دي چې د ټولو رانقلول د دې کتاب د حوصلې څخه وتلی کار دی.

ايا په نبي کريم ﷺ باندې مشوره کول واجب وه؟

۶_ که څه هم فقهاء کرام په دې کښې اختلاف لري چې په نبي کريم ﷺ باندې مشوره کول واجب وه او که نه. مګر دا خبره اتفاقي ده چې په غير منصوصي قضاياوو کښې نبي کريم ﷺ د هر چا څخه زيات مشوره کوونکی وه. برابره خبره ده چې قضايا به ديني وې لکه د بدر د بنديانو قضيه او که به شخصي وې لکه چې د بي بي عائشې رضي الله عنها د بهتان په حادثه کښې يې د ځينو صحابه کرامو ﷺ سره مشوره وکړه چې ايا نوموړې بي بي رضي الله عنها ته طلاق وکړې او که نه؟[۴].

پاتې شوه دا خبره چې د مشورې اخستلو څخه وروسته ايا په نبي کريم ﷺ باندې د مشورې قبولول ضرور وه او که څنګه؟

زمونږ نظر په دې باره کښې دا دی چې د مشورې قبول ورباندې ضرور نه وه. او دا ځکه چې:

الف: که بالفرض د مشورې قبول ورباندې ضرور وی نو د مشاورينو نظر به په عزم کښې دخل

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۵۶۴
(۲) سيرة النبي لابن هشام ج۲ ص۲۵۹
(۳) سيرة النبي لابن هشام ج۳ ص۷
(۴) تفسير ابن کثير ج۱ ص۴۲۰

پیدا کړی وي، نو په کار وه چې د ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ ﴾ په نتیجه کښې داسې عبارت نازل شوی وی چې: "فَإِذَا عَزَمْتُمْ فَتَوَكَّلُوا عَلَى اللهِ" نو کله چې تاسو عزم وکړ نو په الله ﷻ باندې توکل وکړئ. حال دا چې الله ﷻ د عزم په مرحله کښې مشاورین نه دي شریک کړي او دغه مرحله يې یوازې په نبي کریم ﷺ پورې مختصه کړې چې: ﴿ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ یعنې: نو کله چې یوازې ته (ای پیغمبره!) عزم وکړې نو په الله ﷻ باندې توکل وکړه.

ب: څرنګه چې ټولو صحابه وو کرامو ؓ ته معلومه وه چې نبي کریم ﷺ په اجتهادي مسائلو کښې په خطا باندې نه پرهېښودل کېږي لکه چې د بدر د بندیانو په باره کښې چې ورته الله ﷻ وحې وکړه چې د فدیې په اخستلو کښې خطا شوې[1]؛ نو دوی ټول ډاډه او مطمئن وه چې نبي کریم ﷺ چې هره یوه کړنلاره غوره کړه همغه حقه ده او دا ځکه چې که بالفرض د لارې په انتخاب کښې خطا شي نو الله ﷻ به ورته د تنبیه دپاره وحې نازله کړي.

ج: علاوه په دې دا هم څرګنده وه چې نبي کریم ﷺ د الله ﷻ پیغمبر دی، د دنیا د جاه طلبانو په شان نه دی چې د مشاورینو نظر ته د استبداد او استکبار د کبله پاملرنه نه کوي، نو دوی د خپل نظر په غورځولو سره نه خپه کېده.

سوال جواب

٧_ که څوک وایي: چې هر کله په نبي کریم ﷺ باندې د مشورې قبول ضرور نه شو نو په دې کښې څه حکمت دی چې په مشوره کولو باندې مامور شو چې ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ ﴾؟.

مونږ وایو چې: البتـه د لاندې حکمتونو په بناء به ورته الله ﷻ په مشوره کولو امر کړی وي، والله ﷻ اعلم:

الف: ترڅو د قیامت د ورځې پورې اسلامي مشرانو ته وروښودل شي چې د خپلو کشرانو سره مشوره وکړي او خپل انفرادي نظر په نورو باندې تحمیل نه کړي، چې مینه او محبت يې سره زیات شي او د تفرق او تشتت مخه ونیوله شي.

ب: ترڅو ټول امت په دې پوه شي چې صحابه کرام ؓ د ډېر زیات قدر او عزت وړ دي او درجې يې ډېرې اوچتې دي، د همدې کبله الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته توصیه وکړه چې د دوی سره په غیر منصوصي مسائلو کښې او خصوصاً په جهادي امورو کښې مشوره وکړي.

ج: ترڅو ټول امت په دې باندې پوه شي چې په غیر منصوصي مسائلو کښې د اجتهاد څخه کار واخلي. او دا ځکه چې په یوه مسئله کښې نظر ورکول هم یو ډول اجتهاد دی چې ـالحمد لله ـ فقهاوو کرامو د همدې اصل څخه استفاده کړې ده او د قیامت د ورځې پورې د ټولو تازه پېښېدونکو مسائلو شرعي احکام يې څرګند کړي او د دین تکمیل ته يې عملي بڼه ورکړې ده.

---

[1] [الأنفال ٦٧]

د: که څه هم نبي کريم ﷺ د خپلو صحابه وو کرامو ﷺ سره د ذکر شوي ایت د نزول څخه پخوا هم مشورې کولې مګر د احد د غزا څخه وروسته ورته په مشوره ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ باندې ځکه توصیه وکړی شوه ترڅو دوی مطمئن شي چې الله ﷺ زمونږ څخه راضي دی څه قصور چې راڅخه واقع شوی وه هغه یې راته عفوه کړی دی او د هغې درجې څخه نه یو لوېدلي چې نبي کریم ﷺ به راسره مشورې کولې، بلکې زمونږ حیثیت لا د پخوا څخه لوړ شوی دی. ځکه چې الله ﷺ زمونږ په مشوره کولو باندې دا اول ځل دی چې په قرآن کریم کښې خپل پیغمبر ته امر کوي، که بالفرض الله ﷺ زمونږ څخه راضي نه وی نو نوموړی امر به یې ورته زمونږ په باره کښې نه وی کړی.

د شورى غړي باید څومره وي؟

۸ـ د ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ جمله مطلقه ذکره ده چې د مشاورینو شمېر او د هغوی څرنګوالی پکښې نه دی ښودلی شوی، نو ځکه لاندې ټول صورتونه د ایت شریف د ارشاداتو څخه ګڼل کېږي:

الف: چې څوک د امکان تر حده پورې د عامو خلکو مشورې ته خبره واچوي، لکه چې نبي کریم ﷺ د احد په غزا کښې (چې د جنګ میدان کوم خای وټاکي) تقریباً د عامو خلکو سره مشوره کړې وه تردې چې عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) یې هم وریللی وه.

ب: چې د هغه شخص سره مشوره وکړی شي کوم چې په مجلس کښې حاضر وي او یا یې په ډېر لږ وخت کښې په اسانی سره نظر څرګندولی شي، لکه د حدیبې په سوله کښې چې کله مسلمانانو د خپلو هدایاوو په ذبحه کولو کښې سستي وکړه نو نبي کریم ﷺ یوازې د أم سلمه (أم المؤمنین) رضي الله عنها سره مشوره وکړه، نوموړې بي بي رضي الله عنها مشوره ورکړه چې ای د الله رسوله! که تاسو خپله هدیه ذبحه کړئ نو دوی به درپسې عملا اقتداء وکړي او د ذبحې کار به عملا پیل شي. چې په نتیجه کښې همدا نظر ګټور واقع شو او مسلمانانو هم خپلې هدایا ذبحه کړې[١].

ج: چې مشوره اخستونکی په خپله خوښه څه کسان د خپلې مشورې دپاره وټاکي، لکه چې عمر (أمیر المؤمنین) ﷺ د خپل مرګ څخه وروسته د مشر ټاکلو دپاره شپږ کسان انتصاب کړي وه، چې په نتیجه کښې یې حضرت عثمان ﷺ د خلیفه په حیث تعین کړی شو. د شپږو کسانو نومونه دا دي[٢]: عثمان ﷺ، علي ﷺ، طلحه ﷺ، الزبیر ﷺ، سعد ﷺ، عبد الرحمن بن عوف ﷺ.

اهل التشیع څه وایي؟

۹ـ اهل التشیع د عمر ﷺ شپږ نفري مشورتي کمیسون د لاندې وجوهو د کبله د ایت څخه مخالف ګڼي[٣]:

الف: دوی وایي چې په امام کښې عصمت شرط دی او په عصمت باندې خو د الله ﷺ څخه په غیر

(١) صحیح البخاري ج١ ص٣٠٨
(٢) تفسیر ابن کثیر ج٣ ص١٢٠
(٣) تفسیر نمونه ج٣ ص١٤٧

بل څوک نه پوهېږي، نو مشورتي کمیسون دا حق نه درلود چې عثمان ﷺ یې د درېیم خلیفه په صفت انتخاب کړی دی.

دا وجه یې په لاندې دلایلو سره د قبول وړ نه ده:

اول: د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته خو وحې قطعه شوې ده نو ایا د قیامت د ورځې پورې د اسلامي مشرانو په ټاکنه کښې مسلمان وحې ته منتظر شي؟! دلته د [البقرة:۱۲۴] ایت تفسیر یو ځل وګورئ.

دوهم: شک نشته چې د فاطمةُ الزّهراء رضي الله عنها زوزات او نسل د قدر وړ دي، په ټولو مسلمانانو باندې د احترام کولو حق لري، مګر د پیغمبرانو علیهم السلام څخه په غیر هیڅوک د عصمت درجې ته نه شي رسېدلی که څه هم پلار یا نیکه یې پیغمبر وي. د همدې کبله په یهودانو باندې الله ﷻ د هغوی عقیده رد کړه چې مونږ د پیغمبرانو علیهم السلام د نسل څخه یو او په الله ﷻ باندې زېښت ډېر ګران یو. او ورته یې اعلان کړ چې: ﴿بَلۡ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنۡ خَلَقَ﴾ [المائدة: ۱۸] یعني: بلکې تاسو د هغه مخلوق د جملې څخه یو مخلوق یاست چې الله ﷻ پیدا کړي دي.

درېیم: که بالفرض ذکر شوي کمیسون علي ﷺ د خلیفه په توګه ټاکلی وی نو ګومان نه کوم چې اهل التشیع به د هغوی څخه د خلیفه د ټاکلو حق سلب کړی وی، بلکې ویلی به یې چې ډېر په ځای کار یې وکړ چې د عصمت خاوند یې د وحې څخه په غیر وپېژاند.

ب: ذکر شوی مشورتي کمیسون د مشورې په موازینو باندې برابر نه وه، ځکه چې عام نه وه چې ټول مسلمانان پکښې شریک وي او نه د نظر خاوندانو پورې مختص وه ځکه چې نور د نظر خاوندان هم هلته موجود وه، لکه سلمان ﷺ، ابو ذر ﷺ او داسې نور.

مونږ وایو چې: ایت شریف مطلق دی ذکر شوي صورت ته هم شامل دی او په مطلق باندې څوک په خپله رایه هیڅ قید نه شي اضافه کولی.

ج: دغه کمیسون په مرګ باندې تهدید شوی وه که چرته دوې د یوه مشر په ټاکلو باندې توافق ته ونه رسېده، او دا ډېر مشکل شرط وه.

مونږ وایو چې: د مشورې ایت په خپل اطلاق سره همدغه صورت ته هم شاملېږي، نو عمر ﷺ غیر شرعي کار نه دی کړی بلکې په همدې شرط سره یې د فتنې مخه ونیوله او په لږ وخت کښې خلیفه وټاکل شو، او د دین دښمنانو ونه شو کړی چې د اختلاف اور ته لمن ووهي او مسلمانان په خپلو منځو کښې په جګړه اخته کړي. لکه چې همدا اوس[1] یې د افغانستان مجاهدین سره په جنګ اچولي دي چې تقریبًا په لسو میاشتو کښې د یوه مشر په ټاکلو باندې موفق نه شوه او په زرګونو ناروا قتلونه وشوه.

---

(۱) ۱۲/۱۲/۱۳۷۱ هـ ش

د شورئ غړي باید څنګه وي؟

۹ـ د شورئ د اعضاوو د څرنګوالي په باره کښې باید لاندې ټکي په نظر کښې ونیولی شي:
الف: په مطرحه شوې موضوع کښې د هوښیارانو او باتجربه اشخاصو څخه کار واخستل شي ترڅو یې ټول اړخونه وڅېړلی شي.
ب: هغه څوک د دې کار دپاره انتخاب شي چې د مشوره کوونکي سره دښمني او عداوت ونه لري ترڅو د حسد د کبله غلطه مشوره ورنه کړي.
ج: د هرې مسئلې د متخصص څخه مشوره واخستلی شي. نو د همدې کبله د علماوو، سیاستمدارانو، اینجنرانو او نورو مختلفو ډلو څخه په خپل وار مشوره اخستل ګټور واقع کېږي. نو ځکه د اهل الحل والعقد مشورتي ټولګی هم د مسلمانانو د عمومي مشر د ټاکلو یوه شرعي طریقه ګڼله شوې ده چې د [البقرة:٢٤٧] ایت لاندې یې څه بحث تېر شوی دی.
د: د مسئلې د مربوطو خلکو سره مشوره کول ضرور دي، د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تُنْكَحُ الثَّيِّبُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ وَإِذْنُهَا الصُّمُوتُ»[1] یعنې: کونډه تر هغه په نکاح نه ورکوله کېږي ترڅو چې ورسره مشوره وکړی شي او پېغله هم تر هغه په نکاح نه ورکوله کېږي ترڅو چې ترې اجازه واخستله شي او اجازه یې چپ کېدل دي.

سوال جواب

۱۰ـ که څوک وایي چې: د مسلمانانو عمومي مشر خو د عوامو او خواصو سره ارتباط لري حال دا دی چې د ده ټاکنه یوازې د خواصو (اهل الحل والعقد) کار دی؟
مونږ وایو چې: که د عوامو څخه د خواصو د تحدید دپاره کار واخستلی شي نو په دې تقدیر به دوی هم په مشورتیانو کښې د ګډون څښتنان شي. لکه چې همدا طریقه په موجوده نړۍ کښې د اجراء لاندې ده. او دا ډېره بهتره طریقه ده ځکه چې:
اول: په دې تقدیر د عمومي امیر په ټاکنه کښې ټولې ذي دخلې خواوې ګډون کولی شي.
دوهم: د اهل الحل والعقد شمېره دومره اندازې ته رابنکته کولی شي چې راغونډول یې عادتاً محال نه لیده کېږي.
درېیم: په دې تقدیر د خواصو په منځو کښې د جګړې او زړه بداوي مخه هم نیوه کېږي.
خو لنډه دا چې که څه هم په موجوده نړۍ کښې د انتخاباتو طریقه ډېره ښه طریقه ده مګر غیر شرعي برخه پکښې دا ده چې په دغې مروجه طریقه کښې کاندیدل دود دي، چې د شریعت څخه مخالف کار دی. لکه چې د [البقرة:٢٤٧] ایت لاندې ورته اشاره شوې، او د انتخاباتو مشروعه طریقه هم هلته ښودلې شوې ده ـ ولله ﷺ الحمد ـ هیله ده هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۲۱۰

د شورى د اختلاف حل لاره

۱۱_ كه په يوه موضوع كښې د شورى غړي په اتفاق سره يوې نتيجې ته ونه رسېږي نو د حل لار يې دا ده چې بايد وكتل شي كه اهل الشورى د فيصلې دپاره څه معيار په اتفاق سره منلى وه، لكه د تصويب دپاره دوه ثُلثه بس دي او يا داسې نور، نو بايد چې همغه منلي شوي معيار باندې عمل وشي. ځكه چې نبي كريم ﷺ فرمايي چې: «الْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ»[1] مسلمانان په خپلو شرطونو باندې دي. يعنې دوى په خپلو شرطونو باندې عمل كوي.

او كه د فيصلې دپاره معيار د مخكې څخه نه وه شرط كړى شوى نو په كار دي چې د اكثريت نظر د فيصلې معيار وګڼل شي، لكه چې نبي كريم ﷺ د احد په غزا كښې د جنګ د ميدان د ټاكلو دپاره د اكثريت په نظر باندې فيصله وكړه[2].

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۲_ كه څوک وايي چې: د اصول الفقه مسئله ده چې د دلايلو د تعارض په صورت كښې بايد د دلايلو اكثريت ته ونه كتل شي بلكې د دلايلو قوت په نظر كښې ونيولى شي، نو بايد چې د شورى اختلاف هم په اكثريت سره حل نه كړى شي؟.

مونږ وايو ـوالله ﷻ اعلمـ چې: دلته د ضرورت د كبله په اكثريت باندې ترجيح وركوله كېږي. او دا ځكه چې كه په شوراګانو كښې د فيصلې دپاره سابق معيار هم نه وي ټاكلى شوى او اختلاف په اكثريت باندې هم پورته نه كړى شي نو مسئله به بې حله پاتې شي. او فقهاء وايي چې: "الضُّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ" ضرورتونه ناجائزو احكامو ته د جواز لاره پيدا كوي.

په شورى كښې تګي كول خيانت دى

۱۳_ ټولو مشاورينو ته په كار دي چې د مشورې وركولو په وخت كښې هغه نظر ښكاره كړي چې ده ته صواب او ښه ښكاري، لكه چې نبي كريم ﷺ فرمايي: «الْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ»[3] د چا څخه چې شورى غوښتله كېږي هغه ته امانت اېښودلى شوى دى. يعنې بايد چې مستشار د امانتګر په شان د خيانت څخه ځان وساتي.

د ګوډ تيمور شورى

۱۴_ هو! دا بېله خبره ده چې شورى غوښتونكي د دې دپاره شورى نه غواړي چې حقه لاره ځان ته معلومه كړي بلكې د دې دپاره يې غواړي چې خپل نظر په نورو باندې تحميل كړي. لكه چې ګوډ تيمور د خپلې شورى د غړو سره همدا چال چلند غوره كړى وه چې هر چا به د ده د نظر څخه مخالف

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۰۳؛ سنن ابي داوْد ج۲ ص۱۵۰

(۲) تفسير الطبري ج۴ ص۷۰؛ سيرة النبي لابن هشام ج۳ ص۷

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۹

نظر ورکړ هغه به یې داسې تهدیداوه لکه چې لوی جنایت یې کړی وي، حتی په ښځو وختونو کښې به یې ترې د شوری غړیتوب سلباوه او یو چپړاسي به یې ترې جوړاوه[١].

په دغسې وختونو کښې د ایمان قوت ته ضرورت دی، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمايي: «إِنَّ مِنْ أَعْظَمِ الْجِهَادِ كَلِمَةَ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»[٢] یعني: د لوی جهاد څخه د انصاف خبره هم ده چې د جابر (ظالم) پاچا په وړاندې وویلی شي.

﴿ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾ أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَن بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾ ﴾

[١٦١] او نشته (صحت نه لري) هیڅ پیغمبر لره چې څه خیانت وکړي. او هرڅوک چې څه خیانت وکړي نو هغه شی به د قیامت په ورځ راوړي په کوم کښې یې چې خیانت کړی وي. بیا به (علاوه په دې) هر نفس ته (د) هغه شي (جزا) ورکړی شي چې کوم یې کسب کړی وي. او په دوی به هیڅ تېری ونه کړی شي.

[١٦٢] ایا نو هغه څوک چې هغه د الله ﷻ رضا پسې ګرځي د هغه چا په شانته دی چې هغه د الله ﷻ د پلوه په غضب سره رجوع وکړي (خان ته یې وګټي) او د ده استوګنځای دوزخ دی او (دا دوزخ) د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

[١٦٣] دوی ټول (نېکان دي او که بدان) د الله ﷻ په نزد د ډېرو منازلو خاوندان دي (یو برابر نه دي) او الله ﷻ په هغه څه باندې بینا دی چې دوی یې کوي.

شان نزول او ارتباطونه

۱ـ که څه هم مفسرینو کرامو د ذکر شوو ایتونو په شان نزول کښې ګڼ شمېر روایات ذکر کړي دي چې ټول تقریباً اوو ته رسېږي[٣]، او څه لرې نه ده چې د یوه ایت دپاره د نزول اسباب متعدد وي، مګر مونږ دلته په لاندې دوه روایتو سره اکتفاء کوو او بس:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت ګڼې چې د بدر د غزا په ورځ د غنیمت د مالونو څخه یو سور رنګی څادر ورک شو، نو ځینو خلکو وویل چې: «لَعَلَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَخَذَهَا»[٤] شاید چې نبي کریم ﷺ اخستی وي. نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه.

---

(١) تاریخ تیمور لنګ

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٤٠

(٣) زاد المسیر ج٢ ص٤٨؛ التفسیر الکبیر ج٩ ص٧٠؛ تفسیر القرطبي ج٤ ص٢٥٤

(٤) جامع الترمذي ج٢ ص١٣٠

ب: د الکلبي او مقاتل بن حیان رحمهما الله څخه روایت دی چې، ذکر شوي ایتونه د هغو غازیانو په باره کښې نازل شوي دي چې، هغوی د احد په غزا کښې، د ګټلو مورچه پرېښې، وه او پخپله د غنیمت د مالونو په راغونډولو باندې بوخت شوي وه چې په نتیجه کښې، د هغوی پاتې، ملګري شهیدان او مسلمانان د ماتې سره مخامخ شوه. او دا ځکه چې د هغوی دا خیال وه چې، احتمال شته چې نبي کریم ﷺ د غنیمت مالونه هغه چا ته ورکړي چا چې نیولي دي، نو که موږ ځنډ شو، وبه نیسو د غنیمت څخه به محروم شو[1].

۲ـ په هر تقدیر د ذکرو ایتونو ارتباط د تېرو شوو ایتونو څخه د لاندې وجوهو د کبله په نظر راځي:

الف: د تېرو شوو ایتونو مضمون دا وه چې الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره نبي کریم ﷺ نېک خویه او زړه سوونکی پیدا کړی دی. په دې ایتونو کښې، د همدغه مضمون تاکید دی چې، د هیڅ پیغمبر سره خیانت او ټګي برګي مناسبت نه لري ځکه چې دا د بدخویه او سخت زړي سړي کار دی.

ب: هلته نبي کریم ﷺ ته امر شوی وه چې مؤمنانو ته عفوه وکړي او دلته اشاره شوې ده چې، عفوه یوازې هغو غازیانو پورې خانګړې نه ده کومو چې ستا د امر څخه د احد په غزا کښې، مخالفت کړی وه، بلکې د نورو سادګیو څخه هم ورتېر شه چې ستا په باره کښې، داسې خبره وکړي کومې چې ستا سره مناسبه نه وي لکه په وېش کښې بې عدالتي کول، د غنیمتي مالونو څخه د ځان دپاره څه شي پټول او داسې نور.

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې هیڅ پیغمبر ته د دې خبرې نسبتول صحت نه لري چې هغه دې په وېشلو کښې بې عدالتي وکړي او یا دې د غنیمت د مالونو څخه کوم شی د خپل استحقاق څخه اضافه په غلا باندې واخلي. او دا ځکه چې هر یو پیغمبر څمکې ته د خیانت د ورکولو او د عدالت د پیاده کولو دپاره رالېږلي شوي دي. نو په همدې بناء خیانت کول د نبوت سره منافي شی دی.

۲ـ که بالفرض یو پیغمبر ﷺ د بنده په حقوقو کښې خیانت وکړي نو په هغه به څه اعتماد پاتې شي چې هغه دې په وحې کښې خیانت نه وي کړی او یا د بې عدالتي څخه عصمت ولري؟. نو تاسو ته په کار دي چې په هیڅ پیغمبر باندې په عامه توګه او په نبي کریم ﷺ (مختار الرسل) باندې په خانګړې توګه هیڅکله د خیانت او بې عدالتي تور ونه لګوئ. او دا ځکه چې په دې تقدیر به تاسو خیانت کړی وي چې په معصوم پیغمبر باندې مو د خاین تور ایښی وي.

۳ـ او همدارنګه تاسو پخپله د خپلو خالونو اصلاح ته متوجه شئ او په هیڅ شي کښې خیانت مه کوئ او د غنیمت د مالونو څخه څه شی په غلا سره مه اخلئ؛ که نه نو د قیامت په ورځ به د ځلې رسوایي سره مخامخ شئ چې همدغه په خیانت سره اخستل شوی شی به مو په شا وي او د محشر میدان ته به راشئ.

---

[1] تفسیر البغوي ج۱ ص۳۶۴

په دې صورت کښې به ستاسو د خیانت جزا په همدې خای باندې ختمه نه شي بلکې هر چا ته به د هغه عمل په مېچ پوره جزا ورکړی شي او څه تېری به ورباندې ونه کړی شي.

۴ـ او دا حساب کتاب ځکه ضرور دی چې ترڅو د هغه عدالت ښه مظاهره وشي د کوم د پیاده کولو دپاره چې ځمکې ته د پیغمبرانو علیهم السلام سلسله جاري شوې ده. او که نه نو د الله ﷻ د رضا غوښتونکي او د الله ﷻ د غضب غوښتونکي به سره یو برابر شي، خو الله ﷻ د ذکر شوو دواړو اشخاصو په منځکښې هیڅکله مساوات نه راولي. د همدې کبله یې د غضب ککړ شخص دپاره دوزخ ټاکلی دی چې ناکاره ځای دی او د الله ﷻ د رضا غوښتونکو دپاره یې جنت مقرر کړی دی چې ډېر د خوشالۍ او خوښۍ ځای دی.

خو په یاد ولرئ! چې جنتیان او هم دوزخیان په خپلوخپلو ځایونو کښې مختلف منازل لري چې الله ﷻ د هر چا په کړو وړو باندې بینا دی او هیڅ عمل ورڅخه پټ نه دی.

توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ذکر شوی پروپاګند منافقانو کړی وه[۱]. مګر مونږ ته داسې ښکاري چې د پروپاګند تیره به منافقانو اینښې وي او په لا شعوري توګه به پکښې ځینې ساده لوحې مسلمانان هم ښکېل شوي وي. لکه د "افک" په پېښه کښې چې اصلا منافقان د بهتان بنیاد اینښودونکي وه خو ځینې مسلمانان پکښې په لا شعوري توګه واقع شوي وه.

غلول څه معنی؟

۲ـ دغه دواړه کلمې (یَغُلَّ، غَلَّ) د "غ، ل، ل" څخه اخستلې شوې دي چې د لغت کتابونو ورته زښتې ډېرې معناوې کړې دي، لکه خیانت، کینه، عداوت او داسې نورې[۲].

خو مفسرین کرام په دې مقام کښې "غلول" په هغه حرام شي باندې تفسیروي چې د غنیمت څه مال د وېشلو څخه مخکښې په پټه سره واخستلی شي[۳]، چې په همدې معنی باندې زښت ډېر احادیث دلالت کوي. که څوک غواړي چې ټول احادیث د نظره تېر کړي نو لطفًا دې اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي[۴].

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې دلته به ترې هر یو حرام مال مطلب وي. او دا ځکه چې ځینو مفسرینو کرامو حکامو ته تحفې ورکول هم د "غلول" څخه ګڼلې دي[۵] او په همدې باره کښې یې د "غلول" د احادیثو څخه یو حدیث دلیل نیولی دی.

---

(۱) في ظلال القرآن ج۱ ص۵۰۴؛ تفسیر الکشاف ج۱ ص۴۳۴

(۲) مفردات الراغب ص۳۷۵؛ لسان العرب ج۱۱ ص۴۹۹

(۳) تفسیر المنار ج۴ ص۲۱۵

(۴) الدر المنثور ج۲ ص۳۶۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۲۱

(۵) تفسیر القرطبي ج۴ ص۲۶۱

مسئله

۳_ مجاهدینو ته روا ده چې د غنیمت د مالونو څخه پخپله خوراک او څښاک وکړي او یا ترې خپلو آسونو ته خوراک، څښاک ورکړي. دا حکم تقریبًا د ټولو علماوو اتفاقي حکم دی[۱]، البته دا پکښې شرط ده چې د خوراک او څښاک څخه څه اضافه شي نو هغه به بېرته په غنیمتي مالونو کښې وراچوي او پانګه به ترې نه جوړوي.

مونږ ته ـوالله ﷻ اعلمـ د همدې قبیلې څخه د موټر تېل او روغنیات هم ښکاري، مجاهدینو ته روا ده چې د دار الحرب په داخل کښې ترې د ضرورت په اندازه استفاده وکړي.

حرام مال به د حرامخور په شا وي

۴_ د ایت شریف مضمون دا دی چې د قیامت په ورځ به حرامخور سړی په داسې حال کښې چې ټول حرام مالونه به یې په شا وي، د محشر میدان ته ورشي او هلته به د لویې رسوایۍ سره مخامخ شي. په نوموړي باندې به په اصطلاح د درې ژبې دا متل صادق وي چې وایي: "دُز با پشتاره".

نو ځینې مفسرین کرام همدا مضمون د کنایې په توګه د ګناه څخه عبارت اخلي[۲]. یعنې غل سړی به د غلا ټول ګناهونه په غاړه د محشر په میدان کښې ودرېږي.

دوی ترې څکه د کنایې په توګه ګناه اخلي چې د ایت شریف ظاهري مضمون ورته لرې ښکاري، او آخرت یې په دنیا باندې قیاس کړی دی چې یو سړی په خرورونو وزن نه شي پورته کولی او په غلو کښې خو به داسې غل هم وي چې هغه به په خرورونو مالونه غلا کړي وي.

مونږ ته دا ښه بریښي چې باید د ایت شریف مضمون ته تاویل ورنه کړی شي. او دا څکه چې:

الف: همدا مضمون په یوه اوږد حدیث کښې په دومره تفصیل سره بیان شوی دی[۳] چې بالکل د تاویل قابل نه دی.

ب: هغه ښل ژوندون دی او دا بېل، باید چې یو په بل باندې قیاس نه کړی شي. هلته داسې ډېر کارونه شته چې دلته سړي ته لرې ښکاري.

ج: د قیامت په ورځ خو هر یو ګناهګار (حرامخور وي او که نه) د ګناهونو خپل-خپل پېټي په غاړه لري. که داسې شي نو د حرامخور هغه خاصه رسوايي د منځه ځي کومه چې نورو ګناهګارانو ته نشته. لنډه دا چې بې ضرورته ایت شریف ته تاویل ورکول ښه کار نه دی.

درجات او درکات څه فرق لري؟

۵_ ﴿دَرَجٰتٌ﴾ د "دَرَجَة" جمعه ده لکه "دَرکات" چې د "دَرکَة" جمعه ده. دا دواړه نومونه د زینې هغو لنډو-لنډو لرګیو ته وایي چې سړی ورباندې پښې ږدي. نو د پورته کېدلو په اعتبار سره ورته

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۲
(۲) تفسیر المنار ج۴ ص۲۱۶
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۳۲

درجات وايي او د ښکته کېدلو په لحاظ سره يې درکات بولي[۱].

څرنګه چې په دې مقام کښې يوازې د ﴿ دَرَجَٰتٌ ﴾ کلمه استعماله شوې ده چې يوازې د جنتيانو سره ښه مناسبه ده او حال دا دی چې وړاندې دوزخيان هم ذکر دي نو ځکه ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې دلته د تغليب د لحاظه "درکات" هم د "درجات" د اطلاق لاندې راوستلی شوی دی[۲] لکه چې شمس او قمر ته "شمسين" وويلی شي.

نو حاصل يې داسې کېږي چې: جنتيان او دوزخيان دواړه د مختلفو طبقاتو خاوندان دي چې چا د الله ﷻ څومره رضا حاصله کړې وي په هماغې اندازه به يې درجې لوړې شي او چې چا يې څومره غضب ـ العياذ بالله ـ تر لاسه کړی وي په همغې اندازه به په دوزخ کښې د ښکته درکاتو خاوند جوړ کړی شي.

د مصير او مرجع تر منځ فرق

۶ـ د مصير کلمه د "صَيْرُورة" څخه ده، "صيرورة" د حالت بدلېدلو ته وايي لکه د خاورې څخه چې خټه جوړه شي. او د مرجع کلمه د رجوع څخه ده او رجوع خپل اصلي حالت ته د ورتاوېدلو څخه عبارت دی لکه انسان چې بېرته خاورې شي.

د الله ﷻ په حضور کښې ودرېدلو ته په دې اعتبار سره مصير وايي چې هلته سړي ته بل حالت وربه مخه کېږي، چې د هغه حالت سره په دنيا کښې هيڅ اشنا نه وي.

او په دې اعتبار سره ورته مرجع وايي چې هلته سړی خپلې اصلي ناتوانۍ ته بېرته ستنېږي، ته به وايي چې نه يې په دنيا کښې پاچاهي کړې وه او نه يې کومه خوښي تېره کړې ده.

﴿ لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ ﴾

[۱۶۴] يقيناً الله ﷻ په مؤمنانو باندې احسان کړی دی چې په دوی کښې يې د همدوی د نوعې (انسان) څخه استاذی مبعوث کړی دی چې په دوی باندې د الله ﷻ ايتونه لولي او دوی (د شرک او ګناهونو څخه) تزکيه کوي او هم ورته د کتاب (قرآن کريم) او حکمت (د واقعي علم) ښودانه کوي.

او بې شکه چې دوی (د نوموړي استاذي څخه) مخکښې په ښکاره ګمراهۍ کښې (پراته) وه (او د واقعيتونو څخه ناخبره وه).

د مطلب خلاصه

دا ايت شريف د تېرو شوو ايتونو مضمون تاييدوي. يعني الله ﷻ په ټولو انسانانو باندې عموماً او په مؤمنانو باندې خصوصاً لوی احسان کړی دی چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۷۰

(۲) تفسير المنار ج۴ ص۲۱۹

١_ په دوی کښې یې خپل استازی مبعوث کړی دی او د دوی ټولګی یې پرې متبرک ګرځولی دی، که نه نو د دوی ټولنه به جاهلي ټولنه وي او بس.

٢_ بیا ذکر شوی استازی یې د همدوی د جملې څخه په همدوی کښې پیدا کړی دی چې خلکو ته یې څلوېښت کاله عمر (د نبوت څخه وړاندې) او د دې څخه وروسته عمر ښه څرګند دی او پاک لمنې او صداقت یې ورته ښه معلوم دی، نو باید چې د پیغمبر په صفت یې وپېژني.

په دې باندې علاوه، که الله ﷻ خپل استازی د پرښتې یا پیري په شکل استولی وي نو دومره استفاده به یې ترې نه شوی کولی لکه چې اوس یې ترې کولی شي. په عامو انسانانو کښې د دې خبرې توان نشته چې د پرښتې یا پیري سره لږ تر لږه ملاقات قدرې وکړي پاتې خو لا استفاده او یو څه زده کول.

٣_ ذکر شوی استازی په دوی باندې د الله ﷻ ایتونه لولي. که په دوی کښې نه وی مبعوث شوی نو د غیبو سره به یې هیڅ تعلق نه وی او د غیبو څخه به هیڅ نه وی خبر شوي.

۴_ د الله ﷻ استازی دوی د ګناه څخه تزکیه کوي او داسې لارې چارې ورزده کوي چې دوی وریاندې د ګناهونو څخه پاک او د الله ﷻ د نورو نعمتونو جوګه شي.

۵_ همدارنګه دوی ته د الله ﷻ کتاب (قرآن کریم) ورزده کوي او د ده ﷻ په احکامو باندې یې پوهوي، چې دا کوئ او دا مه کوئ. او په خپله ژبه، یعنې د احادیثو په رڼا کښې یې ورته شرحه کوي.

۶_ او هم ورته د حکمت ښودانه کوي او واقعیتونه ورته څرګندوي چې د بتانو د لاسه هیڅ پوره نه دي او نه د الله ﷻ په مقابل کښې ملائک څه کولی شي او نه څه کوي.

٧_ یقینًا د الله ﷻ د استازي څخه وړاندې دوی په ښکاره ګمراهۍ کښې وه او د ذکر شوو شیانو څخه ورته یو هم څرګند نه وه، ځکه چې د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام د نبوت پلوشې مړې شوې وې. نو چې کله الله ﷻ په دوی باندې دا لوی نعمت او رحمت پېرزو کړی دی نو دوی ته په کار دي چې مننه یې وکړي او ناشکري یې ونه کړي چې یا یې لارښوونو ته غوږونه ونه نیسي او یا ورته په لا شعوري توګه د منافقانو په لمسون سپکې سپورې خبرې وکړي چې د غنیمت څخه دې څه شی پټ کړی دی.

﴿أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٌ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٦٥﴾ وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ

بِأَفْوَٰهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ لِإِخْوَٰنِهِمْ وَقَعَدُوا۟
لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا۟ ۗ قُلْ فَٱدْرَءُوا۟ عَنْ أَنفُسِكُمُ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٦٨﴾ ﴾

[۱۶۵] ایا (تاسو عصیان کوئ) او کله چې درته داسې مصیبت ورسېږي چې د هغه مصیبت دوه چنده تاسو (خپل دښمن ته) رسولی وي هم وایاست چې دا (غم مونږ ته) څنګه راورسېده.

(ای پیغمبره!) ته ورته ووایه چې دا (غم) ستاسو د خپلو خانونو څخه دی. یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت خاوند دی.

[۱۶۶] او هغه (مصیبت) چې تاسو ته د دوه لښکرو د ملاقات په ورځ کښې ورسېده، نو هغه د الله ﷻ په حکم سره وه (ترڅو تاسو پوه شئ چې هغه د الله ﷻ د اجازې څخه په غیر نه دی دررسېدلی) او (هم) د دې دپاره چې (الله ﷻ) مؤمنان معلوم کړي.

[۱۶۷] او (هم) د دې دپاره چې (الله ﷻ) هغه کسان معلوم کړي چې هغوی منافقت کاوه او چې دوی ته ویل شوي وه چې راشئ د الله ﷻ په لار کښې غزا وکړئ یا دفاع وکړئ، (نو دوی ویلي وه چې که مونږ په جنګ باندې پوهېدلی نو مونږ به ستاسو متابعت کړی وی (درسره به تللي وی).

دوی چې وه په دغې ورځ کښې کفر ته ډېر ورنږدې وه د دوی څخه ایمان ته.

دوی په خولو باندې هغه څه وایي چې هغه یې په زړونو کښې نه وي. او الله ﷻ په هغه څه باندې ډېر ښه پوهېږي چې دوی یې (ستاسو څخه) پټوي.

[۱۶۸] (دوی) هغه کسان دي چې دوی د خپلو نسبي ورونو په باره کښې (چې شهیدان شوي دي) وایي، په داسې حال کښې چې پخپله ناست دي (جهاد ته نه دي تللي)، که دوی زمونږ اطاعت کړی وی (دوی هم جهاد ته نه وی تللي) نو دوی به نه وی وژل شوي.

(ای پیغمبره!) ته ووایه چې د خپلو خانونو څخه مرګ دفعه کړئ (مخه یې ونیسئ) که تاسو رښتیا ویونکي یاست (چې ستاسو په اطاعت سره به دوی د وژلو څخه بچ شوي وی).

ارتباط

په دې ایتونو کښې د تېرو شوو ایتونو په څېر د منافقانو یو بل اعتراض جواب شوی دی چې دوی به د احد د غزا څخه وروسته په غیر مستقیمه توګه ساده لوحو مسلمانانو ته تلقین کاوه چې نبي کریم ﷺ خو د فتحې وعده کړې وه. برسېره په دې مونږ مسلمانان یو او مقابل طرف مو کافران دي نو دوی ولې په مونږ باندې بریالي شوه او د نبي کریم ﷺ وعدې مصداق پیدا نه کړ؟ د جواب حاصل یې دا دی:

د مطلب خلاصه

ایا تاسو د نبي کریم ﷺ څخه نافرماني هم کوئ او کله چې درته داسې مصیبت ورسېږي چې د هغه مصیبت دوه چنده مصیبت مو دښمن ته رسولی وي هم وایئ چې ﴿ أَنَّىٰ هَٰذَا ﴾ دا ولې؟ مونږ ته

دا مصیبت ولې ورسېده حال دا دی چې مونږ مسلمانان يو او دښمنان مو كافران دي؟ زمونږ سره نبي كريم ﷺ د نصرت وعده كړې وه او د دښمنانو شكست يې راته اوروله وه. بالاخره په مونږ كښې نبي-كريم ﷺ (فخر عالم) موجود دی او دښمن مو د شيطان په لار روان دی، مونږ د اسلام د پرمختګ دپاره هلې ځلې كوو او دښمن مو د شيطان د لارې ترقي غواړي.

ښه! نو د دې ټولو خبرو سره-سره هم مونږ ماتې خورو او دښمن مو راباندې برياله کېږي. دا ولې؟ ايا دا د نبي كريم ﷺ د وعدې څخه تخلف نه دی؟

نو ای پيغمبره! د دوی ذكره شوې اشتباه په لاندې نكاتو سره پورته كړه چې:

١ـ د هر څه څخه وړاندې تاسو ته مناسب وه چې د احد ماتې دومره نه وی ورخطا كړې څومره چې فعلا تاسو وارخطا ياست. او دا ځكه چې ستاسو مصيبت د كافرانو په نسبت سپک وه چې ستاسو اويا نفره شهيدان شوه، خو څوک مو اسيران شوي نه دي. او په بدر كښې تاسو د خپل دښمن اويا نفره ووژل او اويا نفره نور مو د هغوی اسيران كړه، تاسو كولی شوه چې هغه مو هم وژلي وی خو تاسو په خپله خوښه د هغوی څخه فديه واخستله او ژوندي مو پرېښودل، ته به وايې چې هغه مو هم وژلي دي.

لنډه دا چې كله ستاسو دښمن په دوه چنده مصيبت وارخطا نه شو، چې د همدې كبله يې سږ كال د احد غزا پيل كړه، نو تاسو په يو چند مصيبت باندې ولې دومره وارخطا شوئ چې وايئ: ﴿ أَنَّىٰ هَٰذَا ﴾ دا ولې؟.

دا ځكه چې تاسو همدا شی كړلی وه او څوک چې څه كړي هغه به ريبي. تاسو ته خو نبي كريم ﷺ د نصرت وعده دركړې وه چې الله ﷻ به د كافرانو چلونه او مكرونه بې نتيجې كړي خو كه تاسو ثبات او استقامت د لاسه ورنه كړئ ﴿ وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ﴾ [آل عمران: ١٢٠].

اما تاسو دا كار ونه كړ، د كنډو مورچه مو پرېښودله او په غنيمت باندې مشغول شوئ.

٢ـ ستاسو څه خيال دی چې تاسو هره ګناه وكړئ هم الله ﷻ به جزا نه دركوي؟ داسې نه ده، يقينًا الله ﷻ په هر څه باندې قدرت لري چې د دې جملې څخه ستاسو مصيبت (د ګناه جزا) هم ده.

هو! الله ﷻ په تاسو باندې داسې مصيبت درنازل نه كړ چې ستاسو بېخ يې وېستلی وی. الله ﷻ دا كولی شو او تاسو يې مستحق وئ خو دا كار يې ونه كړ. ايا تاسو اوس هم شكايت كوئ؟.

بالآخره دومره وارخطائي څه په كار ده؟، الله ﷻ كولی شي چې تاسو ته بيا په دښمن باندې غلبه دركړي، د ده ﷻ قدرت دائمي دی، د يو وخت او يو ځای پورې منحصر نه دی.

٣ـ علاوه په دې، په ذكر شوي مصيبت كښې لاندې فوائد او ګټې مرموزې دي چې:

الف: ترڅو تاسو پوه شئ چې دا كار د الله ﷻ په تكويني امر سره ترسره شوی دی، د كافرانو په لاس كښې هيڅ شی نشته. او هم پوه شئ چې د معصيتونو نتيجې دغسې دي لكه چې تاسو په

سترګو ولیده، نو په کار دي چې تاسو ټول د قیامت د ورځې پورې ترې د عبرت درس زده کړئ او د الهي احکامو ساتنه وکړئ.

که بالفرض نوموړی مصیبت تاسو ته نه وی رسېدلی نو تاسو به په هر حال کښې فتحې ته په تمه ناست وی، که څه هم د الله ﷻ احکام مو د پښو لاندې کړي وی.

ب: ترڅو الله ﷻ واقعي مؤمنان معلوم کړي چې په غم او ښادۍ کښې یې په عقیده باندې څه اثر نه پرېوزي[1].

ج: ترڅو منافقان هم معلوم کړي چې په خوشالۍ کښې خانونه مؤمنان معرفي کوي مګر د غم په وخت کښې په الله ﷻ باندې اعتراض کوي او خپلو جنایتونو ته یې نه پام کېږي.

که څه هم دغو منافقانو په دائمي توګه منافقت کړی دی خو تاسو وربانديې نه پوهېدلی، دوی په خپل نفاق باندې دومره پرده اچولې وه چې تاسو ته د مؤمنانو د ډلې څخه او یا د مؤمنانو ډلې ته نژدې ښکارېده مګر یوازې په هغه وخت کښې تاسو پوه شوئ چې دوی د ایمان څخه کفر ته نژدې دي چې کله دوی ته د احد د غزا په پیل کښې وویلی شوه چې راشئ د مسلمانانو په شان د الله ﷻ په لار کښې جهاد وکړئ او د کافرانو سره مخامخ وجنګېږئ او که دا نه کوئ نو لږ تر لږه په دفاعي ګروپ کښې خو ودرېږئ ترڅو د یو پلوه دربانديې د مجاهدینو ډله غټه ښکاره شي او د بل پلوه د جهاد څخه بې برخې پاتې نه شئ.

نو منافقانو په جواب کښې وویلې چې که مونږ پوهېدلی چې تاسو جنګ ته روان یاست نو مونږ به ضرور ستاسو خبره منلې وی او درپسې به درغلي وی (په دفاعي ګروپ کښې به شامل شوي وی)، خو مونږ پوهېږو چې تاسو جنګ ته روان نه یاست بلکې فقط خان وژنې ته روان یاست، تاسو د دښمن په شان جنګي وسائل نه لرئ او جنګي پرسونل مو دومره لږ دي چې د هغوی درېمې برخې ته نه شئ رسېدلی.

د: نو په دغه وخت کښې ایله په ایله تاسو پوه شوئ چې دوی خو ذکر شوی استدلال زمونږ د غولونې دپاره محض په خولو بانديې جاري کوي او په زړونو کښې یې داسې نه ده.

خو د دې سره-سره په هغو مفاسدو بانديې تاسو څه پوهېږئ کوم چې د دوی په زړونو کښې پټ دي، په هغو بانديې یوازې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي.

د هغو مفاسدو څخه یو دا دی چې دوی خپلو همجنسو ته په پټه کښې وایي چې که د احد شهیدان زمونږ په شان په کورونو کښې ناست وی، او کله چې مونږ د لښکر څخه رابېل شوو دوی مو متابعت کړی وی، نو دوی به اوس زمونږ په شان ژوندي وی او وژل شوي به نه وی.

۴ـ نو ای پیغمبره! دوی ته ووایه که همداسې وي لکه چې تاسو خیال کوئ چې په کور کښې پاتې کېدل د ژوند باعث وي، نو تاسو د خپلو خانونو څخه مرګ ایسار کړئ چې مړه نه شئ؛ خو

---

(١) د الله ﷻ د علم په اړوند د [البقرة: ١۴٣] آیت لاندې بحث تیر شوی.

خبره دغسې نه ده، د هر چا د مرګ وخت چې ورسېږي بیا نو ښکته پورته نه کېږي، که څوک په کور کښې وي او که د جنګ په میدان کښې وي او یا په بل ځای کښې وي.

نو بالفرض که د احد د غزا مصیبت په تاسو باندې نه وی نازل شوی نو د منافقانو په منافقت باندې به دومره چرته پوه شوي وی لکه څومره چې ورباندې اوس پوهېږئ.

توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: د منافقانو دغه اعتراض چې د نبي کریم ﷺ د نصرت وعده ترسره نه شوه، یو ځل په [آل عمران:۱۵۲] ایت کښې جواب شوی وه، په دوهم ځل جوابولو کښې یې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: په اعتراض کښې دوه لحاظه دي، یو دا لحاظ چې الله ﷻ خپله وعده رښتیا نه کړه او بله دا چې نبي کریم ﷺ د الله ﷻ رښتیانی وعده مونږ ته نه ده رارسولې.

نو ذکر شوی اعتراض په اول لحاظ سره هلته جواب شوی وه، د همدې کبله ورسره ﴿ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ ﴾ کلمه اضافه شوې ده. یعنې الله ﷻ خپله وعده په یقین سره رښتیا کړه.

او په دې مقام کښې په دوهم لحاظ سره جواب شو، د همدې کبله دغه ایتونه د ﴿ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ ﴾ [آل عمران: ۱۶۱] ایت په تعقیب نازل شوه، یعنې هیڅ پیغمبر ته د دې خبرې صحت نشته چې هغه دې خیانت وکړي.

علاوه په دې، دلته په ذکر شوي جواب کښې د مؤمنانو د تسلی ځنډه هم په جدیت سره په نظر کښې نیولې شوې ده، نو څکه ورپسې د شهیدانو مناقب او فضائل بیان شوي دي چې تاسو خپه کېږئ مه، په ذکر شوي مصیبت کښې تاسو ډېره لویه ګټه کړې ده چې د شهادت لوړ مقام د اویا کسانو په نصیب شوی دی، آن تردې پورې چې هغوی ستاسو د شهادت په خبر باندې ډېر خوشالېږي هم.

مصیبت مو د خپله لاسه دی

۲_ مونږ خو د ﴿ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾ معنی دا واخستله چې د احد د غزا مصیبت د مجاهدینو د خپله لاسه وه چې غشو ویشتونکو خپله مورچه پرېښې وه. مګر ځینو مفسرینو کرامو یې لاندې دوه نورې معناوې هم کړې دي:

الف: دا مصیبت څکه ستاسو د خپله لاسه دی چې تاسو اصرار کاوه چې باید د دښمن مقابلې ته د مدینې منورې څخه دباندې ورووځو، که تاسو دا اصرار نه وی کړی نو مصیبت به نه وی درپېښ شوی[۱].

---

(۱) زاد المسير ج۲ ص۵۲

مونږ ځکه دا خوښه نه کړه چې د نصرت وعده د خروج څخه وروسته ورکړه شوې وه. دا معنی هلته صحت پیدا کوي چې د نصرت وعده د خروج څخه وړاندې ورکړه شوې وي[1].

ب: عمر ﷜ (امیر المؤمنین) د ﴿ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾ په هکله وايي چې: «عُوقِبُوا بِمَا صَنَعُوا يَوْمَ بَدْرٍ مِنْ أَخْذِهِمُ الْفِدَاءَ»[2] یعني: مجاهدین (صحابه کرام ﷢) ځکه د احد په غزا کښې معذب کړی شو (مصیبت ورباندې نازل شو) چې د بدر په غزا کښې یې د اسیرانو څخه فدیه اخستې وه.

همدغه تفسیر ته ځینو مفسرینو کرامو د علي ﷜ په روایت ښه تفصیل ورکړی دی[3] چې حاصل یې داسې راځېږي:

جبرائیل امین ﵇ نبي کریم ﷺ ته وویلې چې: د الله ﷻ دا کار خوښ نه شو چې صحابه وو کرامو ﷢ د بدر په غزا کښې بندیان ونیول، په کار وه چې ټول یې وژلي وی. نو ای پیغمبره! اوس نو دوی ته اختیار ورکړه چې یا همدا بندیان ووژني او یا پرې فدیه واخلي، خو که فدیه یې واخسته نو په مقابل کښې به د دوی څخه د بندیانو په اندازه باندې شهیدان شي.

نو کله چې نبي کریم ﷺ دوی ته ذکر شوې خبره وروړاندې کړه نو دوی فدیه خوښه کړه، چې خیر دی زمونږ څخه دې اویا نفره شهیدان شي خو چې په فدیه باندې د جهاد دپاره ځانونه قوي کړو.

په دې تقدیر یې د ﴿ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾ معنی دا ده چې: دا مصیبت همدا تاسو خوښ کړی وه نو اوس ورباندې ولې دومره وارخطا یاست؟!.

نو که دا تفسیر مراد کړی شي هم څه مانع نشته. مګر زمونږ په نظر د وړاندې او بېرته ایتونو سره د غشو ویشتونکو د مورچې خوشې کولو تفسیر ښه پیوند اخلي، او هم د قیامت د ورځې پورې د ډېرو اعتراضونو جواب ګرځي. مثلاً:

اول: که څوک وايي چې په ۱۳۷۱/۲/۵ هـ ش نېټه مجاهدین کابل ته د فاتحینو په توګه ورداخل شوه خو د نن ورځې (۱۳۷۲/۴/۱۹ هـ ش) پورې چې تقریبًا څوارلس میاشتې کېږي په افغانستان کښې امنیت نه دی ټینګ شوی او جنګونه پکښې روان دي نو "أَنَّىٰ هَٰذَا" دا ولې؟

جواب یې همدا دی چې "مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ" دا ستاسو د خپله لاسه دی؛ چې بې اتفاقي کوئ او شریعت مو د پښو لاندې کړی دی او په دښمنانو باندې اعتماد کوئ او خبرې یې منئ.

دوهم: که څوک وايي چې مونږ (افغانانو) خو روسان وشړل مګر داخلي کمونستان اوس هم په قدرت کښې پاتې دي، دا ولې؟

دا ځکه چې مونږ ورته په خپلو اجتماعګانو کښې ځای ورکړی دی او د لستوڼي ماران ترې جوړوو.

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۱۶

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۵: اسباب النزول للواحدي ص۸۵

(۳) الدر المنثور ج۲ ص۳۶۸

دریم: که څوک وایي چې زمونږ څخه خو ټوله کفري نړۍ داربدله حال دا چې اوس په مونږ کښې مداخله کوي او په مونږ کښې ګرځي راځي، دا ولې؟

دا ځکه چې مونږ په بې اتفاقۍ باندې اخته یاستو.

څلورم: که څوک وایي چې مونږ خو د ټولې اسلامي نړۍ د سترګو تور وو حال دا چې اوس نوکاني راتو کوي، دا ولې؟

دا ځکه چې مونږ اسلامي جهادي لاره پرېښې ده او ترې منحرف شوي یاستو.

پنځم: که څوک وایي چې مونږ خو د کفاروڅخه کرکه کوله حال دا چې اوس یې په څنګ کښې ناست یاستو او لا په ناسته یې افتخار خپلوو، دا ولې؟

دا ځکه چې مونږ خپل مجاهدین ورونه دښمنان او ترهګر ګڼو.

سوال جواب

٣_ که څوک وایي چې په ﴿ قِيلَ لَهُمْ ﴾ کښې قائل څوک وه او په څه منظور وریاندې صراحت ونه کړی شو؟

مونږ وایو چې: قائل ابو جابر بن عبد الله ﷺ وه، قیصه یې دا ده[1]:

کله چې نبي کریم ﷺ د احد د غزا دپاره یو زر (١٠٠٠) کسه مجاهدین تیار کړه او د أحد د غره په لورې روان شوه نو د لارې د منځ څخه ترې عبد الله بن أبيّ (رئیس المنافقین) د درې سوه (٣٠٠) کسانو سره راستون شو چې د مجاهدینو شمېر اوه سوه (٧٠٠) تنو ته راښکته شو او په مقابل کښې یې کافران درې زره (٣٠٠٠) تنه وه.

نو دغې منافقې ډلې ته ابو جابر بن عبد الله ﷺ ورستون شو او دغه سوال جواب یې ورسره وکړ کوم چې په ایت شریف کښې ذکر دی.

خو الله ﷻ د ابو جابر ﷺ نوم وانخست ترڅو دې ته اشاره شي چې دا یوازې د همدغه صحابي ﷺ خبره نه وه بلکې نوموړي صحابي ﷺ هغوی سره د ټولو صحابه وو کرامو ﷺ او حتی د نبي کریم ﷺ په استازیتوب سوال جواب کړی وه.

لرې نه ده چې دې ته هم اشاره وي چې منافقانو ته که هر څه ذکر شوی وراندیز کړی وی نو هغوی به همدغه جواب ورکړی وی، حتی چې که قائل نبي کریم ﷺ وی هم دوی به بل جواب نه وی ورکړی.

راشئ دفاع وکړئ!

۴_ مفسرینو کرامو د دې جملې چې ﴿ أَوِ ادْفَعُوا ﴾ لاندې بېلابېلې معناوې کړې دي[2]:

الف: راشئ د خپل حریم څخه دفاع وکړئ، که بالفرض د قریشو لښکر زوروړ شي نو ته به د

(١) تفسیر القرطبي ج۴ ص۲۶۶
(٢) زاد المسیر ج۲ ص۵۳

مدینې منورې کښت او زراعت په امن پاتې شي او نه ابادي او وداني. ځکه چې د لښکر په ورانديوچ او لامده یو شي وي.

ب: که جګړه نه کوئ نو راشئ د مجاهدینو ډله خو غټه کړئ چې د مسلمانانو لښکر ستاسو په موجودیت سره لوی ورځګند شي او مورال يې کمزوری شي.

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې مطلب به يې د ا وي ـ والله ﷻ اعلم ـ چې راشئ مستقيماً د الله په لار کښې جهاد ته وروړاندې شئ او په تعرضي ګروپ کښې شامل شئ. او که نه نو د دفاع په ګروپ کښې خو ګډون وکړئ.

مونږ ځکه دا معنی خوښه کړه چې دا د منافقانو د جواب سره ښه مناسبه ده چې ﴿ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالاً لَّاتَّبَعْنَكُمْ ﴾ که مونږ په جنګ پوهېدلی نو مونږ به درسره تللي وی او د ذکرو شوو دواړو ګروپونو ځخه به په یوه کښې شامل شوي وی؛ خو مونږ په جنګ نه پوهېږو.

مونږ په جنګ نه پوهېږو

۵ـ مفسرينو کرامو(۱) د منافقانو د دې خبرې چې ﴿ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالاً لَّاتَّبَعْنَكُمْ ﴾ د جواب متعددې معناوې کړې دي، هغه دا چې:

الف: که مونږ پوهېدلی چې جنګ به واقع شي نو مونږ به درسره تللي وی خو مونږ پوهېږو چې جنګ نه واقع کېږي.

ب: که مونږ پوهېدلی چې تاسو د الله په لار کښې جهاد کوئ نو مونږ به درسره تللي وی خو مونږ پوهېږو چې ستاسو في سبيل الله نيت نه دی.

ج: که مونږ پوهېدلی چې هغوی زمونږ سره جنګ کوي نو مونږ به درسره تللي وی خو مونږ پوهېږو چې د هغوی زمونږ سره څه کار نشته، نو تاسو پوهېږئ او جنګ مو.

د: که مونږ پوهېدلی چې په مونږ کښې د جنګ وسه شته نو مونږ به یوازې نه وی پرېښې خو په مونږ کې د جنګ وسه او توان نشته.

هـ: که مونږ پوهېدلی چې دا جنګ دی مونږ به هم پکښې برخه اخستې وی خو دا محض د ځپل ځان وژنه ده ځکه چې د مقابل لوري سره تاسو په هيڅ وجه سیالي نه شئ کولی، هغوی د هر حیثه په تاسو باندې قوي دي. نو مونږ خو ستاسو غوندې ځپل ځانونه په لوی لاس د هلاکت ځای ته نه شو اچولی.

و: بالآخره، دوی د مسخرو په توګه مسلمانانو ته خبره ورتاو کړه چې مونږ خو تاسو ته د جنګ سره نابلده ښکارو ځکه مو زمونږ خبره ونه منله او د جنګ دپاره د مدینې ځخه دباندې ورو تلئ. نو بیا ولې مونږ ته وړاندیز کوئ چې مونږ سره لاړ شئ؟. که مونږ تاسو ته د جنګ په تکتیک باندې

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۱۸؛ تفسير المراغي ج۴ ص۱۲۸

پوه ښکارېدلی نو مونږ به درسره تللي وی، لکه چې په جنګ باندې تاسو ډېر ښه پوه یاست! چې نه د جنګ میدان پېژنئ او نه یې نقشه برابرولی شئ.

په ایت شریف کښې د ذکر شوو تولو معناوو ځای شته او احتمال لري چې د منافقانو په درې سوه کسېزه ډله کښې به چا یوه خبره کړې وي او چا بله. اما مونږ ته د تولو معناوو څخه شپږمه معنی په زړه پورې ښکاري چې د دوی د حالت سره ښه مطابقت لري، لکه چې په درېمه توضیح کښې ورته اشاره شوې ده او څه بیان یې د [آل عمران:١٢٢] ایت لاندې تېر شوی دی.

یادونه

۶ـ د ﴿ لِإِخْوَٰنِهِمْ ﴾ د لام په باره کښې د [آل عمران:١٥۶] ایت لاندې بحث تېر شوی دی چې بیا لیکنې ته یې اړتیا نه وینو نو هیله ده علاقمندان یو خل هلته مراجعه وکړي.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

٧ـ که څوک وایي چې: د ﴿ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ د معنی حاصل دا دی چې که تاسو د قتل څخه ربښتیا څوک بچ کولی شئ نو خپل ځانونه خو باید د مرګ څخه بچ کړئ. نو پوښتنه دا ده: که دوی ووایي چې مونږ خو په کور کښې اوسېدانه د قتل څخه د خلاصون چاره ګڼلې ده، د مرګ څخه د خلاصون چاره خو مو نه ده ګڼلې ترڅو چې مونږ ته ذکر شوی سوال متوجه شي. بیا به مونږ دوی ته څه جواب ورکړو؟

مونږ وایو چې: دوی ذکر شوې خبره خکه نه شي کولی چې:

الف: دوی نه د مرګ او قتل دواړو څخه د نجات سبب د کور اوسېدانه ښکارېده لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکایت کوي: ﴿ لَّوْ كَانُوا۟ عِندَنَا مَا مَاتُوا۟ وَمَا قُتِلُوا۟ ﴾ [آل عمران: ١٥۶] یعني: که دوی زمونږ سره وی نو نه به مړه شوي وی او نه به وژل شوي وی. نو دلته هم داسې وګڼل شوه لکه چې دوی ویلي وي "لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا وَمَا مَاتُوا" که زمونږ خبره یې منلې وی نو نه به وژل شوي او نه به مړه شوي وی.

ب: څرنګه چې مرګ او قتل هر یو د الله ﷻ په قضاء او قدر سره دي او د دوی د وینا څخه څرګندېدله چې مونږ په وژنه کښې قضا او قدر ته تغیر ورکولی شو، نو دوی ته وویل شوه چې که هغه کار کولی شئ دا کار هم وکړئ او د مرګ څخه ځان بچ کړئ. نو کله چې دا نه شئ کولی نو معلومه شوه چې هغه هم نه شئ کولی.

ج: څه لرې نه ده چې په دوی باندې ذکر شوی تور د استهزاء په توګه لګولی شوی وي چې تاسو خو نور خلک په خپل تدبیر سره د وژنې څخه بچ کولی شئ نو خپل ځانونه خو به د مرګ څخه هم بچ کولی شئ: دا کار وکړئ چې سند په لاس درشي.

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ ﴾

[۱۶۹] او نه (هرڅوک چې یې او یا ای پیغمبره!) په هغو کسانو باندې د مړو ګومان مه کوه چې هغوی د الله ﷻ په لاره کښې وژل شوي وي بلکې دوی د خپل رب په نزد ژوندي دي چې (په دایمي توګه) دوی ته روزي ورکوله کېږي (لکه څنګه چې ژوندیو ته روزي ورکوله کېږي).

[۱۷۰] حال دا چې ـ ری په هغه شي باندې خوشاله دي چې الله ﷻ دوی ته ورکړی دی چې هغه د ده ﷻ فضل دی. او په هغو کسانو باندې هم خوشالېږي چې دوی پسې وروسته لا نه دي پیوسته شوي (ژوندي دي) د دې کبله چې په هغوی باندې هم نه ډار شته او نه به غمژن شي (البته کله چې هغوی شهیدان او یا وفات شي).

[۱۷۱] شهیدان د الله ﷻ د پلوه په لوی نعمت باندې (لکه شهادت) او په فضل (د الله ﷻ په دیدار) باندې هم خوشالېږي او هم په دې چې بې شکه الله ﷻ د مومنانو اجرونه نه ضائع کوي (برابره خبره ده چې شهیدان شي او که وفات شي).

شان نزول

د ذکر شوو ایتونو په شان نزول کښې داسې روایات هم راغلي دي چې د بدر د شهیدانو یا د بئر معونه د شهیدانو په باره کښې نازل دي[۱]. مګر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او د نورو لویانو روایات دا دي چې دا ایتونه د احد د شهیدانو په هکله نازل شوي دي چې کله الله ﷻ ورته نعمتونه ورکړه نو هغوی الله ﷻ ته سوال وکړ چې ای الله! مونږ بیرته دنیا ته واستوه ترڅو ستا په لار کښې د دوهم ځل دپاره شهیدان شو. نو کله چې د دوی دا سوال د الله ﷻ په دربار کښې منظور نه شو نو بیا یې د الله ﷻ څخه وغوښتل چې ای ربه! زمونږ دغه ښه حالت او خوشالي زمونږ پاتې ژوندیو وروڼو ته ورسوه ترڅو هغوی په جهاد کښې سستي ونه کړي او د شهادت د ګټلو هڅې وکړي. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه رانازل کړه[۲].

مونږ وایو چې د روایتونو ترمنځه څه منافات او ټکر نشته ځکه چې ټول شهیدان د ذکر شوو ایتونو مصداقونه ګڼل کېږي او په مصداقونو باندې د شان نزول اطلاق څه لرې نه دی.

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۵۵
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۵

ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې منافقان پوهول شوي وه چې یوه ورځ به ضرور په تاسو باندې د (أموات) مړو نوم اېښودل کېږي. او په دې ایتونو کښې هغه چاره ښودله شوې ده چې د هغې په برکت باندې خلک د ذکر شوي نوم د اېښودلو څخه نجات پیدا کوي او دایمي ژوند یې په برخه کېږي چې هغه د الله ﷻ په لار کښې د شهادت مقام دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي:

د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ای انسانه! هرڅوک چې یې، هیڅکله په شهیدانو باندې دا ګومان قدرې هم مه کوه (پاتې خو لا یقین شو) چې دوی د خپل رب په نزد باندې هم مړه دي لکه څنګه چې د دنیاوي حالاتو په اعتبار سره مړه دي چې مال یې وارثان وړي او ښځه یې بل مېړه کولی شي بلکې شي بلکې دوی د خپل رب ﷻ په نزد باندې ژوندي دي. د دوی ژوند داسې خاص ژوند دی چې د شهیدانو څخه پرته د بل چا نه په برخه کېږي. او هم د شهیدانو ژوند یوازې روحي او برزخي ژوند نه دی چې هر یو مړی په هغه ژوند سره ژوندی دی بلکې د دوی ژوند جسمي ژوند دی، که څه هم جسم یې منحل شي او انسان یې په دنیاوي حواسو باندې درک نه شي کولی، هم دوی ته د ژوندیو غوندې خاصه روزي ورکوله کېږي.

۲ـ نو ای انسانه! پام کوه چې ستا خیال ته درنه شي چې شهیدان به په دنیاوي ژوند باندې خپه وي چې د لاسه یې وتلی دی، بلکې هغوی د الله ﷻ په فضل باندې ډېر خوشاله دي چې په شهادت باندې یې مشرف کړي دي او نور مادي او معنوي نعمتونه یې ورکړي دي، چې کیفیت یې د الله ﷻ څخه په غیر بل چا ته معلوم نه دي.

۳ـ نو تاسو د هغوی په شهادت باندې مه غمژن کېږئ خکه چې هغوی په خپل شهادت باندې خوشاله دي او حتی د خپلو دوستانو په شهادت باندې هم خوشالېږي چې کله دوی ته خبر ورکړی شي چې فلانی دوست به دې تا پسې د شهادت په ګټلو سره درشي. او دا خکه چې دوی پوهېږي چې په دوی باندې به هم زمونږ په شان نه ډار وي او نه به غمژن شي. نو کله چې هغوی ستاسو په باره کښې د شهادت په خبر باندې خوشالېږي نو تاسو ولې د دوی په شهادت باندې غمژن یاست.

۴ـ علاوه په دې، دوی د الله ﷻ په لوی نعمت او لوی فضل باندې خوشالېږي چې همدوی ته او هم د دوی دوستانو ته د الله ﷻ د پلوه ورعنایت کېږي.

او هم دوی په دې خوشالېږي چې الله ﷻ د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي، برابره خبره ده چې هغوی شهیدان شوي وي او که په خپل مرګ باندې مړه شوي وي. او دا خکه چې دوی پوهېږي چې ایماندارانو ته هم الله ﷻ ډېر لوی اجرونه ساتلي دي که څه هم دوی شهیدان نه شي.

۵ـ لنډه دا چې په شهیدانو باندې باید هیڅوک حسرت او غم ونه کړي خکه چې دوی د خپلو خانونو په شهادت او هم د نورو دوستانو په شهادت باندې خوشالېږي. او هم په دې خوشالېږي چې د دوی دوستان د دنیا د حقیرو نعمتونو څخه د ایمان په درلودلو سره لاس په سر شي او وفات شي.

توضيحات

۱ـ د شهيدانو په اړه مونږ د [البقرة:۱۵۴] ايت لاندې څه بحثونه ليکلي دي نو دلته يې بيا ليکلوته ضرورت نه وينو، يوازې لاندې څو وضاحتونه وراضافه کوو.

د شهيدانو فضائل

۲ـ د شهيدانو د فضائلو په باره کښې زښت ډېر احاديث روايت کړې شوي دي چې دلته رانقلول يې د دې کتاب د حوصلې څخه وتلي دي. که څوک يې شوق لري نو هيله ده څينو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي⁽¹⁾ او وياړ ورباندې ترلاسه کړي.

د "فَرَح" معنى

۳ـ د ﴿ فَرِحِينَ ﴾ کلمه د "فَرَح" څخه اخستله شوې ده، فرح هغې خوشالۍ ته وايي چې په عاجل لذت سره حاصله شي، خو اکثره په بدني لذتونو کښې استعمالېږي[2].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ فَرِحِينَ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې شهيدانو ته الله ﷻ په عالم برزخ کښې په معنوي نعمتونو باندې د پاسه بدني او مادي نعمتونه هم ورکوي لکه چې د ﴿ يُرْزَقُونَ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي.

هو! دا ښه خبره ده چې مونږ ورباندې شعور نه لرو لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴾ [البقرة: ۱۵۴]. په دې دنيا کښې مونږ د آخرت په کيفيتونو باندې نه شو پوهېدلی او نه ورباندې مکلف ياستو چې ځانونه ورباندې پوه کړو.

"استبشار" څه معنی؟

۴ـ د ﴿ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ کلمه د "اسْتِبْشَار" څخه اشتقاق شوې ده، استبشار دې ته وايي چې سړی هغه شی ترلاسه کړي په کوم باندې چې ورته خوشالي (فرح) حاصلېږي[3]، چې مفسرينو کرامو په دې مقام کښې د "استبشار" لاندې معناوې کړې دي[4]:

الف: کله چې الله ﷻ د شهيدانو کرامات او عزتونه په نبي کريم ﷺ باندې نازل کړه نو د همدې نزول خبر يې شهيدانو ته هم ورکړ چې ستاسو په پيغمبر ﷺ باندې مې ستاسو د اعزاز ايتونه ورنازل کړه. نو هغوی په دې باندې لا زيات خوشاله شوه چې دا ايتونه به د مسلمانانو مينه د جهاد سره لا زياته کړي او شهادتونه به يې په نصيب شي.

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۱ ص۴۲۶؛ تفسير القرطبي ج۴ ص۲۷۶؛ الدر المنثور ج۲ ص۳۷۶
(۲) مفردات الراغب ص۳۸۹
(۳) مفردات الراغب ص۴۵
(۴) زاد المسير ج۲ ص۵۶؛ تفسير الطبري ج۴ ص۱۷۵

ب کله چې شهیدانو ته لوړې درجې ورکړې شي نو دوی په دې لا زیات خوشالېږي چې که زموږ وروسته پاتې وروڼه شهیدان شي نو هغوی ته به هم زموږ غوندې درجې ورکړې شي.

ج: شهید ته د شهادت څخه وروسته یو کتاب ورکول کېږي چې په هغه کښې مفصل معلومات لیکلي شوي وي چې ستا خپلوان او دوستان به فلانی په فلانی ورځ تاته وصل شي او فلانی به په فلانی ورځ درشي، نو شهید به د هغه د ورتللو په خبر باندې داسې خوشالېږي چې د چا کوم یو خپلوان د سفر څخه ورستون شي.

سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې د ﴿يَسْتَبْشِرُونَ﴾ کلمه دوه خله استعماله شوې ده نو په تکرار کښې یې څه حکمت دی؟

موږ وایو چې: د اول څخه د شهیدانو هغه خوشالي مطلب ده چې دوی ته د نورو وروڼو په ورتللو او هم په شهید کېدلو باندې حاصلېږي. او په دوهم خل ذکر کښې د هغوی په خپلو خانونو باندې خوشالي مراده ده.

که څه هم په ﴿فَرِحِينَ﴾ کلمه کښې هم د دوی په خپلو خانونو باندې خوشالي مطلب وه خو (لکه څنګه چې مخکښې ووېل شوه) هلته د شهیدانو د مادي نعمتونو خوشالیو ته اشاره ده. لکه خوراک، څښاک او داسې نور، او دلته یې معنوي نعمتونو ته اشاره کېږي لکه په شهادت باندې کامیاب کېدل، د ګناهونو مغفرت او داسې نور.

یوه پوښتنه او د هغې جواب

که څوک وایي چې: په دې تقدیر د ﴿بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ﴾ ټکی ټولو معنوي نعمتونو ته شامل دی نو په ﴿وَفَضْلٍ﴾ کښې څه شی مراد دی؟

موږ وایو چې: د ﴿وَفَضْلٍ﴾ ټکی ـ والله ﷻ اعلم ـ د الله ﷻ دیدار ته اشاره ده، لکه چې په بل ځای کښې تري په ﴿وَزِيَادَةٌ﴾ سره تعبیر شوی الله ﷻ فرمایي: ﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ﴾ [یونس: ۲۶] یعني: خاص هغو کسانو ته چې نیکو کاران دي، نیکې درجې دي او زیادت (د الله ﷻ دیدار) ورته هم دی[۱].

﴿ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ مِنْهُمْ وَٱتَّقَوْا۟ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ

(۱) تفسیر تبصیر الرحمن ج۱ ص۳۲۵

فَزَادَهُمْ إِيمَـٰنًا وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَٱنقَلَبُوا۟ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوٓءٌ وَٱتَّبَعُوا۟ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾ ﴾

[۱۷۲] (مؤمنان) هغه کسان دي چې دوی د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ (د حکم) دپاره اجابت (قبولتیا) وکړه، (البته) د هغه ځخه وروسته چې دوی ته (یوه ورځ مخکښې د أحد د غزا) زخمونه رسېدلي وه.

نو خاص هغو کسانو لره چې دوی نیکي او تقوا کوي (چې د دوی ټولو ځخه عبارت دی) لوی اجر دی.

[۱۷۳] (دوی) هغه کسان دي چې دوی ته خلکو (د عبد القیس قوم جوپه والو) وویلې چې بې شکه تاسو ته خلک راغونډ شوي دي (چې په تاسو باندې حمله وکړي) نو دوی یې ډار کړه (مگر دوی ونه ډار شوه) نو دغې خبرې دوی د ایمان (عقیدې) د حیثه لا قوي کړه او وېې ویلې چې الله ﷻ مو بس دی او همدی ښه کار سازی دی.

[۱۷۴] نو دوی د الله ﷻ د پلوه په لوی نعمت او فضل سره بېرته راستانه شوه چې هیڅ بدي ورته ونه رسېده (مشکلات ورته پېښ نه شوه) او د الله ﷻ د رضا پسې لاړه. او الله ﷻ د لوی فضل خاوند دی.

[۱۷۵] یقینًا دغه (خبرې کوونکی) شیطان دی چې د خپلو دوستانو ځخه (تاسو) ډاروي. نو د دوی ځخه مه ډارېږئ او خاص زما ځخه وډار شئ که تاسو (رښتیاني) ایمان درلودونکي یاست.

شان نزول

د ذکر شوو ایتونو په شان نزول کښې لاندې دوه ډوله روایتونه روایت شوي دي:

۱ـ اکثره مفسرین کرام وایي چې دغه ایتونه د حمراء الاسد د غزا په باره کښې نازل شوي دي[١] چې لنډ مضمون یې دا دی:

کله چې د احد د غزا توده لمبه سړه شوه او د کافرانو لښکر د مکې معظمې په لور روان شو نو د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته دا خیال پیدا شو هسې نه چې کافران بېرته راتاو شي. نو د احد د غزا په دوهمه ورځ یې د جهاد نفیر اعلان کړ، مجاهدینو هم ناخواني ونه کړه او په داسې حال چې تازه زخمونه یې خوړلي وه (په اصطلاح وینې ترې ځڅېدلې) د قریشي لښکر په تعقیب روان شوه، ترڅو چې حمراء الاسد مقام ته ورسېده چې د مدینې منورې په اته میله فاصله کښې واقع دی.

په همدې مقام کښې د نبي کریم ﷺ سره معبد الخزاعي ولیده، که څه هم معبد تر هغه وخته

(١) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۲۸

پورې نه وه مسلمان شوی مگر د مسلمانانو سره يې اخلاص درلود، نوموړي (معبد) نبي کريم ﷺ ته وعده ورکړه چې زه به د قريشي لښکر پښو ته تيرې ورواچوم چې بېرته راستانه نه شي[١].

او د بله پلوه، د قريشي لښکر د مشر (ابو سفيان) سره ـ چې په هغه وخت کښې د "رضي الله عنه" لائق نه وه ـ په "الروحاء" مقام کښې دا خيال پيدا شو چې بايد بېرته ورستانه شو او د مسلمانانو بېخ وباسو.

په همدې مقام کښې د قريشي لښکر سره نوموړي معبد الخزاعي وليده او د خپلې ژمنې په اساس يې ورته د مسلمانانو د قوت ډېرې خبرې وکړې ترڅو چې هغوی د بېرته ورستنېدلو څخه پښېمانه شوه.

خو په عين حال کښې دوی غوښتل چې په مسلمانانو خپل رعب او ډار کښېنوي نو د عبد القيس قوم جوپه والو ته يې څه رشوت ومانه او دا وعده يې ترې واخستله چې نبي کريم ﷺ او د ملګري غازيانو ته د دروغو خبر ورسوي چې قريشي لښکر درېسې بېرته درستنېدونکی دی ترڅو تاسو پوپنا کړي.

ذکر شوي جوپه د نبي کريم ﷺ سره په حمراء الاسد کښې ملاقي شوه (چرته چې نبي کريم ﷺ او صحابه کرام ﷺ د جهاد په انتظار ناست وه) او د قريشي لښکر زيات ساز او سامان يې بيان کړ او د خپلې وعدې په اساس يې دا خبره هم وکړه چې هغوی ستاسو دپاره په ټولونه بوخت دي او ډېر ژر به په تاسو باندې دوهمه حمله پيل کړي. نو په همدغه وخت کښې اسلامي غازيانو په يوه خوله وويلې چې: ﴿ حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴾ الله ﷻ مو بس دی او دی ﷻ ډېر ښه کار سازی دی.

٢ ـ لنډه دا چې کله غازيان د کافرانو په بېرته ورستنېدلو باندې خبر شوه نو خانونه يې الله ﷻ ته وسپارل او هوډ يې لا پسې پياوړی شو. مګر بالمقابل چې کافرانو ته د غازيانو د تعقيب خبر ورسېده نو وارخطا شوه او د مکې معظمې په لور وتښتېدل.

دا وه د الله ﷻ د دوستانو او شيطان د دوستانو يو بارز توپير.

٣ ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې دا ايتونه د بدر الصغری د غزا په باره کښې نازل شوي دي چې لنډ مضمون يې دا دی:

کله چې د احد د غزا څخه قريشي لښکر وغوښتل چې بېرته ستانه شي نو د دوی مشر (ابو سفيان) په نبي کريم ﷺ باندې غږ وکړ چې که خوښه دې وي په راتلونکي کال کښې به د بدر په مقام کښې سره مقابله وکړو، په اصطلاح هلته به زور ازمايي وکړو. نو نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې: «ذَلِكَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ إِنْ شَاءَ اللهُ»[٢] يعني: که د الله ﷻ رضا وي نو زمونږ او ستاسو په منځکښې همدا وعده شوه.

---

(١) سيرة النبي لابن هشام ج٣ ص٥٣

(٢) تفسير البغوي ج١ ص٣٧٤

نو کله چې بل کال ته د وعدې وخت راورسېده نو قريشي لښکر د مکې معظمې څخه د بدر په لور روان شو. خو چې "مَرّ الظهران" ته ورسېده، په خپله لښکر کښې باندې پښېمانه شوه. مګر د يو پلوه ورته دا خبره سخته ښکارېده چې خپل عهد مات کړي او بېرته ستون شي په داسې حال کښې چې مقابل طرف به يې په عهد کلک ولاړ وي او په موعد کښې به د دوی د ورتللو انتظار کوي، او د بله پلوه يې په زړونو کښې رعب ننوتلی وه او جرئت يې نه شو کولی چې د بدر د مقام په لور وړاندې لاړ شي چرته يې چې تقريبًا دوه کاله وړاندې غښتې- غښتې مشران اويا تنه اسيران شوي او د اويا کسانو جسدونه يې په څا کښې اچولي شوي وه او تر ابده پورې هملته پاتې شوه.

خو په عين حال کښې يې يو چل جوړ کړ ترڅو بېرته ستانه شي او پړه په مسلمانانو غازيانو باندې واچوي چې تاسو د بدر مقام ته حاضر نه شوئ.

د ابو سفيان چل

۴ـ د قريشي لښکر مشر (ابو سفيان) يوه سړي ته ـچې نُعيم بن مسعود الاشجعي نومېده ـ ښه غښتې رشوت ومانه چې مديني منورې ته لاړ شه او غازيانو ته زمونږ قوت او سازو سامان وستايه ترڅو هغوی جرئت ونه کړي چې موعد ته راشي او ترڅو پړه په دوی باندې ولوېږي او مونږ د جنګ څخه خلاص شو.

نوموړی رشوتخور مديني منورې ته لاړ او د مسلمانانو پښنو ته يې ډېرې تيرې وراچولې چې پام کوئ بدر ته د جنګ دپاره لاړ نه شئ، هغوی ډېر قوي تجهيزات نيولي دي او چتې په چتې به پرې خانونه سټ کړئ. څه لږې نه ده چې د ذکر شوي "نُعيم" سره به خينو منافقانو هم د خبرې لکۍ تاوه کړې وي او په لا شعوري ډول به پکښې خينې ساده لوحه مسلمانان هم شريک شوي وي، نو د همدې کبله نبي کريم ﷺ وفرمايل چې زما دې په خپل رب ﷻ قسم وي چې زه به د بدر مقام ته ورشم «وَلَوْ وَحْدِيْ» اګر که يوازې وم.

لنډه دا چې په دغه وخت کښې مجاهدين تللو ته تيار شوه او په خولو باندې يې دا کلمه جاري وه چې ﴿ حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴾ الله ﷻ مو بس دی او همدی ډېر ښه کارسازی دی.

نو نبي کريم ﷺ د يو نيم زره (۱۵۰۰) تنه غازيانو سره[1] د بدر مقام ته لاړ او هلته يې اته شپې وکړې خو د نېکه مرغه همدا وخت داسې وخت وه چې هر کال به په همدې وخت کښې هلته سيار بازار جوړېده او د هره خايه به ورته تجاران ورتولېده، نو صحابه وو کرامو ﷺ په دې عوض چې هلته د کافرانو سره جهاد وکړي د تجارانو سره يې راکړه ورکړه پيل کړه چې په نتيجه کښې يې هم دنياوي ګټې وکړې او هم يې د الله ﷻ رضا حاصله کړه.

ذکر شوي ايتونه په همدې کښې نازل شوي دي.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۴ ص۲۹۷

تبصره

په ذکر شوو ایتونو کښې د دواړو نظرونو د خاوندانو دپاره اشارات موندل کېږي، لاندې اشاراتو ته متوجه شئ:

د لومړي نظر تائید

١ـ د ﴿ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُ ﴾ څخه متبادر تازه زخمونه دي. نو د دې څخه معلومېږي چې دلته د حمراء الاسد غزا مراده ده. ځکه چې دا غزا د احد د غزا په دوهمه ورځ پېل شوې ده او ښکاره ده چې په یوه ورځ کښې زخمونه نه جوړېږي.

که څه هم د بدر الصغری په غزا باندې هم دا جمله صادقه ده چې غازیانو د الله ﷻ او د ده رسول ﷺ د امر منښه وکړه، د هغه څخه وروسته چې دوی یو کال مخکښې زخمونه خوړلي وه. مګر دا معنی سړي ته په تبادر سره ذهن ته نه ورځي.

٢ـ د ﴿ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ ﴾ څخه هم همدغه غزا معلومېږي ځکه چې په همدې غزا کښې ابو سفیان د عبد القیس د جوپه والاوو څخه د جاسوسی کار اخستی وه چې هغوی غټه ډله وه او په ایت شریف کښې په ﴿ ٱلنَّاسُ ﴾ سره تعبیر شوی دی، اما د بدر الصغری په غزا کښې خو دغه کار یوازې یو سړي (نُعیم) کړی وه.

مګر کېدلی شي چې په یوه سړي باندې هم د "الناس" اطلاق د دې کبله شوی وي چې په مدینه منوره کښې د هغه په خبره کښې، منافقانو هم اشتراک کړی وي او هغوی هم د قریشي لښکر سازوسامان ستایلی وي.

د دوهم نظر تائید

١ـ د ﴿ فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ ﴾ څخه معلومېږي چې دلته د بدر الصغری غزا مراده ده. ځکه چې په همدې غزا کښې مجاهدینو مالي ګټې هم وکړې چې په تجارتي سیار بازار کښې یې اته ورځې تېرې کړې او تجارتي مالونه یې تبادله کړه، د حمراء الأسد مقام خو تجارتي مرکز نه وه. او دا ځکه چې ځینو مفسرینو کرامو په دې ایت شریف کښې "فضل" په مادي ګټو باندې تفسیر کړی دی[١]، مګر دا هم امکان لري چې " فضل " دلته هم په معنوي ګټو باندې تفسیر شي لکه چې په [١٧١] ایت کښې ترې معنوي فوائد اخستلی شوي دي. نو په دې تقدیر به ترې د حمراء الأسد د غزا مرادول هم څه لرې نه وي.

٢ـ د ﴿ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ ﴾ څخه هم معلومېږي چې دلته د بدر الصغری غزا مراده ده ځکه چې هلته د قریشي لښکر د پلوه یوه سړي (نُعیم) د جاسوسی وظیفه اخستې وه او په حمراء الأسد

---

(١) تفسیر ابي السعود ج٢ ص١١٤

کښې خو دغه کار جوپه والاوو کړی وه چې د هغې څخه باید په جمعي (الشیاطین) باندې تعبیر شوی وی، نه په مفرد سره.

هو! که د ﴿ٱلشَّیۡطَٰنُ﴾ څخه د همدې جوپې اصلي استاذ (ابلیس) مراد کړی شي او یا ټوله ډله د یوه شیطان په نامه خکه یاده شوې وي چې د ټولو هدف یو وه، نو بیا د حمراء الأسد د غزا مرادول هم لرې نه دي.

زمونږ نظر

څرنګه چې صالحینو سلفو د ایتونو مصداقات هم د شان نزول په نامه یادول[1] نو زمونږ نظر دا دی ـوالله ﷻ اعلم ـ چې [١٧٢] ایت به د حمراء الأسد په باره کښې نازل شوی وي او د بدر الصغری غزا یې خکه شان نزول ګڼلی شوی دی چې هغه یې هم یو مصداق وه. او متباقي درې ایتونه به د بدر الصغری په متعلق نازل شوي وي او د حمراء الأسد غزا ته یې خکه شان نزول ویل شوی دی چې هغه یې هم یو مصداق دی.

نو په دې تقدیر د ټولو مفسرینو کرامو تفسیرونه سره تطبیق مومي او اختلاف یې د منځه پورته کېږي.

ارتباط

د ایتونو ارتباط دلته پوره واضحه دی خکه چې وړاندیني ایتونه په دې تمام شوي وه چې الله ﷻ د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي او په دې ایتونو کښې یې د نه ضائع کولو وجه ذکر شوې ده چې اجرونه به یې ولې ضائع کوي په داسې حال کښې چې دوی په خپل رب ﷻ باندې دومره قوي اعتماد لري او په نیک عمل کښې دومره اخلاص لري چې مثالونه یې په حمراء الأسد او بدر الصغری کښې د هیچا څخه پټ نه دي.

د مطلب خلاصه

١ـ یعني الله ﷻ به د مؤمنانو اجر ولې ضائع کوي چې دوی په ډېرو مشکلو شرائطو کښې هم د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ د امر منته کوي او په داسې حال کښې غزا ته روان دي چې د زخمونو څخه یې وینې خاخي البته هغه زخمونه چې یوه ورځ مخکښې د الله ﷻ په لار کښې دوی ته رسیدلي وه. دوی په خپلو زخمونو افتخار کوي او د الله ﷻ څخه یې اجرونه غواړي، نه شکایت کوي او نه په الله ﷻ باندې احسان اچوي.

نو دوی ټول نېکان او متقیان دي، دوی ته د الله ﷻ په دربار کښې د استحقاق څخه اضافه ډېر لوی اجرونه دي چې د الله ﷻ څخه په غیر د هیچا په اندازه کښې نه راځي.

٢ـ په دې باندې علاوه، مؤمنان هغه کسان دي چې په الله ﷻ باندې یې اعتماد دومره قوي دی

---

(١) تفسیر القاسمي ج١ ص٢٧

چې هيڅوک پکښې ضعف او کمزوري نه شي اچولی. دوی ته چې شيطانانو خلکو هرڅومره ډار ورواچاوه چې په مقابل کښې مو دومره دښمنان ټول شوي دي چې بايد په خلکو سره تري تعبير وشي، خکه چې د ډېروالي د کبله يې سر بسر معلوم نه دی؛ نو د دوی په هغه اعتماد کښې چې په الله ﷻ باندې يې درلود هيڅ ضعف او کمزوري واقع نه شوه، بلکې عقيدې يې په الله ﷻ باندې لا قوي شوې او ويې ويلې چې زمونږ الله ﷻ بس دی او د الله ﷻ څخه په غير بل څوک ښه کارسازی نشته، مونږ ستاسو په چل او فريب باندې نه غولېږو او هم تاسو زمونږ په ارادو کښې تزلزل نه شئ واقع کولی.

نو دوی د خلکو د خبرو سره-سره د جنګ په موعد کښې څو ورځې او شپې منتظر وه چې په نتيجه کښې دوی خپلو کورونو ته د الله ﷻ د نعمت سره ورستانه شوه چې د غزا اجرونه يې وګټل او هم يې د الله ﷻ فضل (حلاله ګټه) لاس ته راوړه او د هيڅ مشقت (جنګ) او جدل) سره مخامخ نه شوه.

٣ ـ برسېره په دې ټولو باندې، د الله ﷻ رضا پلټنه يې وکړه او هغه يې ترلاسه کړه، ذکر شوي احسانات يوازې د همدوی پورې مختص نه دي بلکې الله ﷻ د لوی فضل خاوند دی، د قيامت د ورځې پورې يې د ټولو مخلصو بندګانو سره کوي او د آخرت احسانات خو يې ورته ساتلي دي.

۴ ـ نو ای مؤمنانو! هغه کسان چې ستاسو پښو نه تيږې دراچوي چې جهاد ته لاړ نه شئ او يا په هغه اعتماد کښې چې په الله ﷻ باندې يې لرئ څه قصور واقع کړئ، دا شيطانان دي او غواړي چې تاسو د خپلو دوستانو څخه وډار کړي چې تاسو يې د مقابلې څخه لاس واخلئ: نو که تاسو رښتيا مؤمنان ياست د دوی څخه مه ډارېږئ، د دوی د لاسه هيڅ شی نه کېږي، زما څخه وډار شئ چې هر څه زما واک او قدرت کښې دي او بس.

توضيحات

١ ـ دغه جمله ﴿ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴾ ابراهيم ﷺ په هغه وخت کښې ويلې وه چې نمرود په اور کښې واچاوه نو الله ﷻ ورباندې اور ګل ګلزار جوړ کړ. او نبي کريم ﷺ د حمراء الأسد په غزا کښې وويلې، چې الله ﷻ د دنيا او آخرت دواړه نعمتونه ورپېرزو کړه او د ده د دښمن په زړه کښې يې رعب واچاوه چې د جنګ ته د ورتللو اراده يې سلبه شوه[١].

نو هيله ده دغه جمله مؤمنان په سختو خايونو کښې هېره نه کړي چې الله ﷻ ورباندې اساني راولي او د مشکلاتو څخه يې خلاص کړي.

څلور اجرونه

٢ ـ کله چې مؤمنانو په ذکره شوې غزا کښې زيات اخلاص ښکاره کړه او د شيطانانو خبرو ورباندې څه تاثير ونه کړ نو الله ﷻ لاندې څلور اجرونه ورکړه:

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦۵۵؛ تفسير ابن کثير ج١ ص٤٣٠

الف: نعمت، يعني ثبات او د ايمان قوت.
ب: فضل، يعني حلاله ګټه او حلال مال.
ج: عافيت، چې د کافرانو زړونه رعب ونيوه او د جنګ جرئت يې ونه کړ.
د: رضوان الله، يعني الله ﷻ ترې راضي شو که څه هم دوی څه سخت او درووند عبادت ترسره نه کړ مګر الله ﷻ د دوی اخلاص د خپلې رضا سبب جوړ او محض سفر يې په غزا مجرا کړ.
دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ﴾ د تعقيب څخه څرګنديږي چې د قيامت د ورځې پورې چې هرڅوک په ډېر اخلاص سره نېک عمل ته وړاندې کېږي همدغسې اجرونه به ترلاسه کوي.

د الله ﷻ څخه ډارېدل څه معنی؟

٣_ د الله ﷻ څخه خوف (ډار) دې ته وايي چې سړی د هغو شيانو څخه اجتناب وکړي چې په هغو کښې د الله ﷻ د تعذيب خطر وي. نو هغه څوک چې د الله ﷻ د ډاره زاري خو د معاصيو څخه اجتناب نه کوي، د الله ﷻ څخه په ډارېدونکو کښې نه شمېرل کېږي[١].

د بدر دوه غزاګانې

۴_ د بدر مقام ته مجاهدين دوه ځلې د جهاد دپاره ورغلي دي:
الف: د هجرت په دوهم کال چې جنګ واقع شو او کافرانو سخته ماتې وخوړه. دې ته بدر الکبری (د بدر لويه غزا) وايي.
ب: د هجرت په څلورم کال مجاهدين هلته ورغله. مګر مقابل لوري حاضر نه شو ترڅو جنګ واقع شوی وی. نو الله ﷻ د صحابه وو کرامو ﷺ محض سفر په غزا باندې مجرا کړ. دې ته بدر الصغری (د بدر وړه غزا) وايي.

﴿ وَلَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظّٗا فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٧٧﴾ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٧٨﴾ ﴾

[١٧۶] او تا دې (ای پيغمبره!) هغه کسان غمژن نه کړي چې هغوی په کفر کښې تاند وهي (ځکه چې) يقيناً دوی به هيڅکله الله ﷻ ته د هيڅ شي ضرر ونه شي رسولی. (الله ﷻ چې دوی ته د تاند

(١) تفسير القرطبي ج۴ ص٢٨٣

وهلو وخت ورکړی دی دا ځکه چې) الله ﷻ اراده لري چې دوی لره په آخرت کښې هیڅ برخه ونه ټاکي (په کفر باندې مړه شي). او دوی لره لوی عذاب دی.

[۱۷۷] بې شکه هغه کسان چې په ایمان باندې یې کفر اخستی دی دوی به هم هیڅکله الله ﷻ ته د هیڅ شي ضرر ونه شي رسولی. او دوی لره دردناک عذاب دی.

[۱۷۸] او هغه کسان دې چې کافر شوي دي دا ګومان نه کوي چې دوی ته زمونږ مهلت ورکول د دوی د ځانونو دپاره ګټور دي (او مونږ ورته ګټه رسوو).

بې شکه مونږ دوی ته د دې دپاره مهلت ورکوو چې دوی (پکښې) د ګناه د حیثه ښه زیات شي (او د جنایتونو پېټې یې ښه درانه شي). او دوی لره سپکوونکی عذاب دی.

شان نزول

که څه هم مفسرینو کرامو د ذکر شوو ایتونو مختلف وجوهات بیان کړي دي چې[1]:

الف: نبي کریم ﷺ د منافقانو په منافقت باندې ډېر خفه شوی وه چې دوی هیڅ یوه دلیل ته غوږ نه نیسي او د اسلام په تخریب کښې یې د مشرکانو سره یې لاس یو کړی دی.

ب: نبي کریم ﷺ د ځینو مرتدینو د ارتداد د کبله د خپګان سره مخامخ شوی وه.

ج: نبي کریم ﷺ د یهودانو د مشرانو د اوږدو هلو ځلو څخه غمګین شوی وه چې د اسلام د پرمختګ په لار کښې خنډ واقع کېدل.

د: بالآخره، د قریشو کافرانو نبي کریم ﷺ غمژن کړی وه چې د اسلام په تخریب پسې یې ښښې لوڅې کړې وې.

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې ذکر شوي څلور واړه وجوهات یو تربله سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې د ټولو وجو د کبله غمژن شوی وي او الله ﷻ د ده د تسکین او اطمنان دپاره ذکر شوي ایتونه نازل کړي وي.

د ایتونو اړوند

د [آل عمران: ۱۲۱] ایت څخه را په دې خوا د احد په غزا کښې بحث راروان دی او د همدې غزا په مختلفو اړخونو باندې په ډول-ډول اسالیبو سره رڼا اچولې شوې ده، آن تردې چې په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانو ته توصیه وکړه چې ﴿ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ یعني: کله چې زه ستاسو ملګری یم او په ماباندې مو په واقعي ډول سره عقیده کلکه وي نو بیا د هیچا څخه مه ډارېږئ او مه غمژن کېږئ چې د اسلام د ترقی مخه به ونیسي؛

نو په دې ایتونو کښې الله ﷻ د خبرو مخ نبي کریم ﷺ ته اړولی دی چې ته هم مه غمژن کېږه چې کافران به اسلام د منځه یوسي. لکه چې د دوی زړه دی، او مسلمانان به پوپنا کړي، لکه چې دوی ورته نیت کړی دی.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۴ ص۲۸۴؛ زاد المسیر ج۲ ص: ۶

يعني دومره حسرت او خپګان ورباندې مه کوه چې بالکل خان د هلاکت د خطر سره مخامخ کړې.

ج: چې د دې کبله پرې سرې خپه شې چې هسې نه چې دوی د اسلام د پرمختګ ونيسي او يا يې بالکل د منځه يوسي.

نو په دې مقام کښې وروستني دواړه ډولونه مراد دي چې کافران نه اسلام د منځه وړلی شي او نه يې د وړاندې تګ مخه نيولی شي او نه يې په الله ﷻ باندې زور رسېږي چې څه ضرر ورته ورسولی شي.

يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وايي چې: ايا د کافرانو سره دا خيال وه چې الله ﷻ ته ضرر ورسوي چې الله ﷻ رد کړ؟

مونږ وايو چې:

الف: څرنګه چې الله ﷻ غواړي چې د اسلام دين ته د ټولې دنيا په اديانو باندې غلبه ورکړي لکه چې فرمايي: ﴿ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ ﴾ [الفتح:۲۸] يعني: ترڅو د اسلام دين ته په ټولو اديانو باندې غلبه ورکړي، او کافران غواړي چې د اسلام دين د منځه يوسي، نو دا کار داسې وګڼل شو لکه چې کافرانو نيت کړی وي چې الله ﷻ ته ضرر ورسوي او د ارادې مخه يې بنده کړي.

ب: الله ﷻ مسلمانانو ته ضرر رسول داسې وګڼل لکه چې پخپله الله ﷻ ته څوک ضرر رسوي ترڅو د يو پلوه کافران پوه کړي چې مسلمانانو ته ضرر رسول (د دوی بالکل د منځه وړل) الله ﷻ ته ضرر رسول دي، نو څرنګه چې تاسو دا کار نه شئ کولی نو مسلمانان به هم پوهنا نه کړی شئ: او د بله پله مسلمانان ډاډه او مطمئن کړی شوه چې ستاسو کار زما کار دی او ستاسو لار زما لار ده، ډاډه اوسېږئ زه ستاسو ملګری يم.

سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ايت شريف څخه څرګندېږي چې کافران هيڅکله او هيڅ ډول ضرر مسلمانانو ته نه شي رسولی لکه چې فرمايي ﴿ لَن يَضُرُّوا۟ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ﴾ يعني: دوی به هيڅکله او د هيڅ شي ضرر الله ﷻ ته ونه شي رسولی. حال دا چې کافرانو اويا (۷۰) کسه په احد کښې شهيدان کړه او څه نور يې زخميان کړه. برسېره په دې د تاريخ په اوږدو کښې ډا ډول واقعات ډېر پېښ شوي دي او ډېر به لا پېښ شي؟

مونږ وايو چې:

الف: دلته خاص ضرر مطلب دی (چې د اسلام او مسلمانانو بالکل د منځه وړل دي) لکه څنګه چې د کافرانو آرزو ده[۱]. همدې مضمون ته په [الفتح:۲۸] ايت کښې اشاره شوې ده.

(۱) البحر المحيط ج۳ ص۱۲۱

ب. دلته عام ضرر مراد دی لږ وي او که ډېر. ځکه چې هر څه د الله ﷻ په ارادې پورې تړلي دي، د احد په غزا او يا په نورو غزاګانو کښې چې مسلمانانو ته څه مشکل پېښ شوی دی او يا پېښېږي هغه د الله ﷻ په اراده صورت نيولی دی او په څه حکمتونو پورې ارتباط لري.

نو د دې جواب حاصل دا دی چې کافران مسلمانانو ته په خپله اراده باندې هيڅ ضرر نه شي رسولی، څه چې دوی ته رسېږي هغه د الله ﷻ اراده ده او الله ﷻ د مسلمانانو دوست دی، د دوست د لاسه هرڅه خوندور وي.

د ايمان خرڅوونکي څوک دي؟

۴ـ که څه هم د ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ﴾ څخه په اول نظر کښې څرګندېږي چې دلته په يوازې مرتدان مراد وي ځکه چې دوی ايمان درلود خو په کفر باندې يې تبديل کړ. مګر په دقيق نظر سره په ټولو کافرانو باندې دا مضمون صادقېږي ځکه چې[1]:

الف. مرتدانو خو خپل بالفعل ايمان په کفر باندې بدل کړی دی.

ب. اهل الکتابو کافرانو خپل قريب استعدادي ايمان په کفر باندې تبديل کړ ځکه چې دوی خو نبي کريم ﷺ په خپلو کتابونو کښې پېژانده، نو د هر چا څخه په دوی کښې نژدې استعداد وه چې ايمان يې وړباندې راوړی وي. نو کله چې دوی ايمان رانه وړ، داسې وګڼل شوه لکه چې استعدادي ايمان يې په کفر باندې خرڅ کړی وي.

ج. د ټولو کافرانو سره د ايمان د راوړلو فطري استعداد شته چې همدغه استعداد په انفسي او آفاقي دلايلو سره تقويه شوی دی خصوصاً د نبوت د معجزاتو په ليدلو سره خو لا زيات قوي شوی دی. نو کله چې دوی ايمان رانه وړي، داسې ګڼل کېږي لکه چې دغه فطري ايمان يې په کفر باندې ورتبديل کړ.

تبصره

۵ـ د پورتني تفصيل څخه څرګندې چې په دې مقام کښې ټول کافران مطلب دي ځکه چې ټولو خپل ايمانونه خرڅ کړي دي البته د درجو په تفاوت سره، چې چا فعلي ايمان او چا استعدادي او چا فطري ايمان په کفر باندې بدل کړدی دی.

همدارنګه په لومړني ايت شريف ﴿ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ﴾ کښې هم ټول کافران شامل دي ځکه چې ټول د کفر په ترقۍ او د اسلام په تخريب کښې د مراتبو په تفاوت سره تاند وهي.

نو په دواړو ايتونو کښې د ټولو کافرانو دوه ناکاره صفتونه (د ايمان تبديل او د اسلام تخريب) ذکر شوي دي ترڅو مسلمانان ښه پوه شي او اعتماد وړباندې ونه کړي.

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۳۴

ایا ډېر عمر بهتر دی؟

٦ـ نبي کریم ﷺ د عمر اوږدوالی او لنډوالی په یوه حدیث کښې په ډېر ښه توګه بیان کړی دی چې د ذکر شوي درېم ایت شریف ته بهترین تفسیر واقع کېږي، هغه حدیث دا دی چې:

یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه یوه سړي پوښتنه وکړه چې: ای د الله ﷻ پیغمبره! په خلکو کښې څوک بهتر دی؟. نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ» یعني: هغه څوک چې عمر یې اوږد وي او عمل یې نېک وي. بیا یې ترې پوښتنه وکړه چې: په خلکو کښې څوک بدتر دی؟. جواب یې ورکړ چې: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ» [١] یعني: هغه څوک چې عمر یې اوږد وي او عمل یې بدوي.

نو څرنګه چې د کافرانو عقیده فاسده ده نو نېک عمل یې هم په درد باندې نه خوري نو د هر یوه کافر چې څومره عمر اوږد شي او په کفر باندې مړ شي په هماغې اندازه به د سپکوونکي عذاب سره مخامخ شي. نو دوی دې د جنایتونوسره-سره د عمرونو په اوږدوالي او د نعمتونو په ډېروالي باندې نه خوشالېږي او نه دې وربانډې استدلال کوي چې مونږ په حقه لاره باندې روان یاستو.

﴿ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى ٱلْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾ ﴾

[١٧٩] الله ﷻ داسې نه دی چې مؤمنان په هغه حالت باندې پرېږدي چې تاسو (مؤمنان او منافقان) وربانډې یاست (چې هغه ګډوډ حالت دی) ترڅو چې الله ﷻ پلیت (منافق) د پاکیزه (مؤمن) څخه جدا کړي.

او الله ﷻ داسې هم نه دی چې تاسو (ټولو) ته په غیبو باندې اطلاع درکړي (چې هر یو یې په وحې سره وپېژنئ) مګر الله ﷻ هغه څوک غوره کوي چې اراده یې وشي چې هغوی د ده ﷻ د پیغمبرانو علیهم السلام څخه عبارت دی (نو هغوی ته وحې کوي او بس).

نو تاسو په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبرانو علیهم السلام باندې خپل ایمان ته ادامه ورکړئ. او که تاسو ایمان ته دوام ورکړئ او هم تقوی ته دوام ورکړئ نو تاسو لره لوی اجر دی.

ارتباط او شان نزول

١ـ ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت شریف د شان نزول په باره کښې څو متعدد روایات لیکلي دي[٢]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هیله ده چې مراجعه وکړي.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٥٩

(٢) زدا المسیر ج٢ ص٦١

مګر مونږ ته يې د وړاندېنيو ايتونو سره اړوند داسې ښکاري:

۲_ د [آل عمران: ۱۲۱] ايت څخه را په دې خوا د اُحد د غزا په مختلفو اړخونو باندې بحث شوی دی مګر په مختلفو اساليبو سره په دې خبره باندې زيات زور اچولی شوی دی چې په نوموړې غزا سره د منافقانو پټې څېرې راڅرګندې شوې او چا چې د مسلمان په لباس کښې د اسلام تخريب کاوه هغه راښکاره شو.

نو امکان لري چې د چا په ذهن کښې ګرځېدلي وي چې اول خو د منافقانو جدا کول څه ضرور وه؟ ترڅې چې د همدې مطلب دپاره د احد غزا واقع شوه او هلته مسلمانانو ماتې وخوړه، ايا دا به ښه نه وه چې منافقان همداسې پټ پاتې شوي وی او مسلمانانو ماتې نه وی خوړلې؟.

او دوهمه دا چې هر کله الله ﷻ د منافقانو او د مؤمنانو په منځکښې ضرور بېلتون واقع کاوه نو د جدا کولو خو همدا يوه لار نه وه چې په مؤمنانو باندې مصيبت نازل شو او په دې مصيبت باندې منافقانو خپل مخونه رالوڅ کړه. ايا داسې به ښه نه وه چې الله ﷻ د وحې په ذريعې سره منافقان د مؤمنانو څخه جدا کړي وی چې فلانی منافق دی او فلانی مؤمن؟.

نو دغه دواړه اشتباهګانې الله ﷻ جواب کړې او ذکر شوی ايت شريف يې نازل کړ.

برسېره په دې، څه لرې نه ده چې د ارتباط وجه دا هم وګڼله شي چې په مخکنې ايت کښې د منافقانو اخروي عذاب بيان شوی وه او په دې ايت کښې يې دنياوي عذاب بيانېږي چې رسوايي او فضيحت دی.

د مطلب خلاصه

۱_ يعنې د ډېرو حکمتونو په بناء الله ﷻ داسې نه کوي چې پاک او ناپاک سره ګډوډ پرېږدي. يا په بل عبارت: الله ﷻ ضرور په دنيا کښې منافقان او مؤمنان سره جدا کوي.

هو! دا کار الله ﷻ د وحې په ذريعه هم کولی شو چې خپلو پيغمبرانو عليهم السلام ته يې وحې کړې وی چې هغه منافق دی او هغه مؤمن دی.

خو دا طريقه يې خکه خوښه نه کړه چې په دې طريقه باندې يوازې د نبي کريم ﷺ په متبرکه زمانه کښې نوموړې تميز ممکن وه چې وحې جاري وه او نبي کريم ﷺ ژوندی وه.

که بالفرض الله ﷻ دا طريقه غوره کړې وی نو په کار وه چې تاسو ټولو ته مو په هره زمانه کښې وحې درنازله کړې وی او په غيبو باندې مو خبر کړې وی، په اصطلاح په دې تقدير بايد نبوت ختم نه شي او په هر مؤمن وحې نازله شي. خو الله ﷻ داسې نه کوي بلکې څوک يې چې د همدې کار دپاره غوره کړي دي وحې همغوی پورې مختصه ده چې هغه د پيغمبرانو عليهم السلام ډله ده او بس.

۲_ نو ای مؤمنانو! مستقيماً د علم الغيب تمه مه کوئ بلکې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پيغمبرانو عليهم السلام باندې خپل ايمان ته ادامه ورکړئ چې په غيبو باندې د پوهېدلو همدغه يوه لار ده او بس.

د پيغمبرانو وظيفه ده چې خلک په هغې اندازې په غيبي علومو باندې خبر کړي چې دوی ورته ضرورت لري لکه قرآن کريم، جنت، دوزخ، بالآخره د الله ﷻ د رضا د حاصلولو طريقه او داسې نور.

٣ـ نو ای مؤمنانو! که تاسو په همدې توګه ایمان ته ادامه ورکړئ او د بې خایه شیطاني وهمونو څخه خانونه وساتئ نو برسېره په دې چې تاسو ته په آخرت کښې لوی اجر دی، په دنیا کښې به هم د تشویشونو څخه بچ شئ.

توضیحات

١ـ په دنیا کښې د حوادثو په ذریعه د منافقانو د جدا کولو حکمتونه دا دي:

الف: که منافقان جدا نه کړی شي نو مؤمنانو ته په داخل کښې سخت ضرر رسولی شي. په اصطلاح دوی د لستوڼي ماران دي چې خان بچ کول ترې ګران کار دی.

ب: کله چې دوی په حوادثو جدا شي نو د نادریو مخه یې نیوه کېږي او دا بهانه نه شي کولی چې مونږ خو سم ایمان لرو خو تاسو راته د منافقانو لقب راکوئ. همدارنګه په آخرت کښې یې هم د استدلال خوله ماتېږي چې مونږ د هر ښه مخلص مؤمنان وو.

ج: په حوادثو او مصیبتونو، خصوصاً په جهاد او هجرت باندې بېلتون راوستل څکه بهتر دي چې د یو پلوه عمومیت لري، د پیغمبر ﷺ په زمانه پورې مختص نه دي، او د بله پلوه مؤمنانو ته هم هر یوه ته د خپل خپل ایمان وزن معلومېږي چې زه څومره اخلاص لرم او فلانی څومره مخلص دی.

د: که څه هم په نوموړي طریقې سره منافقان څه ناڅه پېژندل کېږي مګر کفر یې په شریعت کښې رسمیت نه پیدا کوي، د مسلمانانو د قطاره نه اوځي چې د وسلوال جهاد څخه خلاص وي، په غزاګانو کښې اشتراک کولی شي او په غنیمت کښې هم بې برخې نه پاتې کېږي.

بالآخره، د جوماتونو دروازې ورته بېرته دي او تکفین او تجهیز یې په شرعي توګه زمونږ په زمانه کښې صورت نیسي چې د کفر قاطع حکم ورباندې نه شو کولی.

نو د یو پلوه لرې نه ده چې د مسلمانانو د نېکې ګوزارې د اغېز لاندې راشي او سم مسلمان شي او د بله پلوه یې مسلمانانو ته منافقت ښکاره شي او د ضرر څخه یې خانونه وساتي.

د همدې کبله نبي کریم ﷺ د خپلې زمانې منافقان د کافرانو په صف کښې نه وه ودرولي او د کافرانو غوندې معامله یې ورسره نه کوله، که څه هم په نوموړي طریقې سره یې ښه پېژاندلي وه، ترڅو چې الله ﷻ ورته توصیه وکړه چې: ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ﴾ [التوبة: ٨٤] یعني: او هیڅکله د منافقانو څخه په یوه باندې هم د جنازې لمونځ مه کوه او مه یې په قبر باندې ودرېږه.

سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف څخه څرګندېږي چې الله ﷻ د منافقانو د څېرو څخه د وحې په ذریعه پرده نه پورته کوي، حال دا دی چې تاسو د [البقرة: ٩] ایت لاندې لیکلي دي چې نبي کریم ﷺ په یوه مجلس کښې شپږ دېرش (٣٦) تنه منافقان په ګوته کړه. او ښکاره ده چې دا کار د وحې څخه په غیر بل شی نه وه؟

مونږ وایو چې: ایت شریف د منافقانو د ښودانې عمومي فارمول (قانون) بیان کړی دی چې د دې سره په ځینو خاصو حالاتو کښې د وحې په ذریعه ښودانه څه منافات نه لري ځکه شاذ او نادر په هر قانون کښې تحقق موندلی شي.

همدارنګه ځینو خاصو کسانو ته په وحې سره د هغوی ښودانه هم ورسره منافات نه لري لکه چې نبي کریم ﷺ خاص یوه صحابي (حذیفه ﷺ) ته د منافقانو نومونه ښودلي وه[١].

یادونه

٣ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د منافق څخه په خبیث (پلیت) سره او د مؤمن څخه یې په طیب (پاکیزه) سره تعبیر وکړ ترڅو د جدا کولو وجې ته اشاره وکړی شي. یعنې الله ﷻ منافق ځکه د مؤمن څخه جدا کوي چې د پلیت او پاکیزه ګډون ډېر نامناسبه کار دی.

که بالفرض داسې نازل شوی وی چې "لِیَمِیزَ اللهُ الْمُنَافِقَ مِنَ الْمُؤمِنِ" نو ذکره شوې وجه به پټه پاتې وی، او هم به مؤمنان د منافقت څخه خان ساتلو ته نه وی هڅولي شوي.

ایا علم غیب پیغمبرانو علیهم السلام پورې مختص دی؟

٤ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف څخه څرګندېږي چې غیبي علوم د الله ﷻ د پلوه پیغمبرانو علیهم السلام څخه په غیر بل چا ته نه ورکول کېږي او حال دا چې ځینې اهل الکشف اولیاء علیهم الرحمة هم د غیبي علم څخه بې برخې نه دي؟!

مونږ وایو چې: اول خو د اهل الکشف علم یقین ته نه رسېږي، په هر وخت کښې ورسره دا اشتباه وي چې دا شیطاني نه وي. او په ایت شریف کښې یقیني علم مطلب دی.

او بیا دا وایو چې که بالفرض دوی ته یقیني کشف هم وشي نو هغه به ضرور د نبي کریم ﷺ د متابعت د کبله وي او په کامل اطاعت سره به کشف ته رسېدلي وي چې دې ته وراثي علم وايي[٢].

د دې مثال داسې دی لکه چې د سلیمان ﷺ په متابعت سره د هغه وخت یو سړي ته یو خاص علم ورکړی شوی وه لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ [النمل: ٤٠] یعنې: هغه چا وویلې د کوم سره چې د کتاب څخه څه خاص علم موجود وه.

نو څرنګه چې نوموړي سړي ته د سلیمان ﷺ په متابعت سره خاص علم ورکړی شوی وه نو سلیمان ﷺ نوموړی علم د خپل ځان دپاره امتحان وباله، لکه چې الله ﷻ د ده دخولې څخه فرمایي: ﴿ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِيٓ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ﴾ [النمل: ٤٠] یعنې: ده وویلې چې دا زما د رب د فضل یوه څنډه ده چې ما امتحان کړي چې زه شکر کوم او که ناشکري کوم.

لنډه دا چې د اولیاء الله کشفي علم د ثبوت په تقدیر سره د پیغمبرانو علیهم السلام د غیبي علم د توابعو څخه ګڼل کېږي او د ایت شریف سره څه منافات نه لري.

---

(١) صحیح البخاري ج١ ص٥٣٠

(٢) روح المعاني ج٤ ص١٣٨

یوه عجیبه قیصه

۵ـ وایي چې حجاج بن یوسف یوه ورځې څو شګې (ګټکی) په موټي کښې ونیولې خو شمېر یې ورته معلوم وه. نو یوه نجومي ته یې وویلې چې: زما په موټي کښې څو ګټکی دي؟
نجومي وویل: ستا په موټي کښې دومره ګټکی دي. البته هغه اندازه چې حجاج په موټي کښې نیولې وې.
حجاج بیا څو نورې ګټکی په موټي کښې ونیولې خو ده ته یې هم شمېر معلوم نه وه او ورته یې وویلې چې دا څو دي؟
نجومي یو ځل دوه خله خپل علم په کار واچاوه خو په هر ځل خطا کېده او ربښتیانی عدد یې نه شو ښودلی نو بیا یې حجاج ته مخ وروا ړاوه او ورته یې وویلې چې ای پاچا! ګومان کوم چې ته پخپله هم د ګټکیو په شمېر باندې علم نه لرې چې څو دي.
حجاج وویلې: هو! زه یې هم دا ځل په شمېر باندې پوه نه یم، خو دا راته ووایه چې زما پوهه ستا په پوهه څه تاثیر اچوي؟.
نجومي جواب ورکړ: کله چې په اول ځل کښې تا د خپل موټي ګټکی شمېرلې وې او تا ته معلومې وې نو ستا د علم څخه زما علم څه رڼا واخستله او شمېر مې ټیک وښودلی شو. اما په دوهم ځل کښې تا په ګټکیو باندې علم نه درلود نو په هغو باندې علم راوستل علم غیب وه او علم غیب خو د الله ﷻ خاصه ده نو ما ونه کړی شو چې ورباندې پوه شم.

﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٨٠﴾ ﴾

[۱۸۰] او هیڅکله دې هغه کسان ګومان نه کوي چې هغوی په هغه شي باندې بخل کوي چې الله ﷻ ورته د خپل فضل څخه ورکړی دی (داسې ګومان چې) همدا بخل ورته بهتر دی. بلکې دا ورته شر دی چې ډېر ژر به د قیامت په ورځ هغه شی د دوی په غاړو کښې ورواچولی شي چې دوی پرې بخل کاوه. او (دوی ته په کار نه ده چې بخل وکړي ځکه چې) خاص الله ﷻ لره د اسمانونو او ځمکو پاتې کېدل دي او الله ﷻ په هغه شي باندې خبردار دی چې دوی یې کوي (ښه وي او که بد).

ارتباطونه

۱ـ ذکر شوی ایت که د هغو شپېتو (۶۰) ایتونو څخه وشمېرل شي چې د احد په غزا پورې مربوط دي او د [آل عمران: ۱۲۱] ایت څخه پیل شوی دی، نو د ترون وجه یې دا کېږي چې د دې

څخه مخکښې په جهاد کښې د سرښندنې بحث وه او دلته د مال ښندنه بیانه شوې ده چې جهاد دوارو ډولونو ته اړتیا لري[١].

٢ـ او که د هغو ایتونو څخه ونه شمېرل شي نو د ارتباط وجه یې یا دا ده چې هلته د کافرانو دپاره د مهلت په ورکولو باندې د خیر ګومان کول غلط ښودلي شوي دي، او دلته په بخل باندې دا اټکل بې ځایه معرفي شوی دی.

٣ـ او یا دا ده چې هلته په دې خبره باندې زور اچولی شوی وه چې خبیث به ضرور د طیب څخه بېلتون مومي، او دلته یې د بېلتون یو صورت ښودلی شوی دی چې خبیثان د الله ﷻ په فضل باندې بخل کوي او خپل ځان په لوی لاس په دنیا او آخرت کښې د پاکیزه خلکو څخه جدا کوي[٢].

۴ـ مګر مونږ ته یې د ارتباط قوي وجه دا ښکاري چې د [آل عمران: ١٢١] ایت څخه مخکښې بحث په یهودانو پورې مربوط وه چې هغوی به هیڅکله ستاسو دوستان نه شي او همېشه ستاسو دپاره په شر او فساد کښې کوښښ کوي، همدې مطلب باندې یې د احد غزا شرحه کړه او د یهودانو او منافقانو څېرې یې پکښې ځای په ځای څرګندې کړې.

خو څرنګه چې د احد د غزا بحث پای ته ورسېد نو د ایتونو مخه بېرته اصلي مطلب ته وراوړلې شوې ده او د یهودانو لازم صفت بیان کړی شوی دی چې خلاصه یې داسې کېږي:

د مطلب خلاصه

یعني: یهودان خو بخل کوي او د الله ﷻ ورکړی شوی فضل د خلکو څخه منعه کوي، نه په درست صورت باندې د تورات محتویات څرګندوي او نه په خپلو مالونو کښې د سخاوت څخه کار اخلي بلکې په حق باندې خولې پټوي او د ورکړې څخه خپل لاسونه تړي.

او دا خکه چې دوی ته د صدقاتو ورکول اتلاف ښکاري نو طبعي ده چې په بخل باندې د خیر (ښېګڼې) ګومان وکړي چې د هر ښه کار کوي او خانونو ته ګټه رسوي مګر دغسې نه ده همدا کار به ورته د غاړې غاړکۍ جوړه شي او د ګناهونو پېټی به یې په غاړو کښې ولوېږي چې هیڅکله به ترې د قیامت په ورځ خانونه بچ نه شي کړی.

اسمانونه او ځمکې د الله ﷻ مخلوق دي او همده ﷻ ته به پاتې وي، ضرور به دا دنیا په یو وخت کښې د غټو- غټو حارصانو څخه خالي کېږي او هیڅوک به یې د خانه سره یونه سي، نن پرې د آخرت سودا لاس ته راځي خو سبا به بې عوضه پاتې وي.

هو! هرڅوک به د خپلو کړو وړو پېټي د خانهٔ ګیوسي او بس. که د دوی څخه هېر وي د الله ﷻ څخه نه هېرېږي او که دوی ترې ناخبره وي نو الله ﷻ ترې ناخبره نه دی او په ټولو باندې خبردار دی.

---

(١) التفسیر الکبیر ج۹ ص۱۱۳

(٢) روح المعاني ج۴ ص۱۳۹

توضيحات

۱_ د ﴿ يَبۡخَلُونَ ﴾ کلمه د "بُخل" څخه اخستله شوې ده او بخل دې ته وايي چې سړی د واجب شي د ورکړې څخه ډډه وکړي[۱]. لکه:

اول: په خپل ځان باندې د مال نه مصرف کول.

دوهم: خپلو اقاربو ته (چې نفقه يې په سړي باندې واجبه وي) خرڅه نه ورکول.

دریم: د زکات نه ورکول.

څلورم: يو مضطر انسان ته خواړه نه ورکول چې د اضطرار څخه پرې خلاص شي او داسې نور.

د "بُخل" او "شُح" توپير

۲_ کله چې بخل ښه قوي شي او حرص هم ورسره ملګرى شي نو بيا د شُح په نامه يادېږي، چې څه ورسره وي په هغو باندې يې موټى کلک کړی وي او د نورو په لاس ته راوړنه کښې هم افراطي هڅه کوي[۲].

"فَضل" څه ته وايي؟

۳_ د هغه شي ورکړې ته فضل ويل کېږي چې په ورکوونکي باندې يې ورکړه واجبه نه وي، برابره خبره ده چې علم وي، که مال او که بل شی[۳]. د الله ﷻ ورکړه ټول فضل دی ځکه چې په ده ﷻ باندې څه شی واجب نه دی.

هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ په خپل ځان باندې څه شی واجب وګرځوي لکه چې فرمايي: ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ [الروم: ۴۷] يعني: په مونږ باندې د مؤمنانو نصرت حق دی.

دلته کوم بخيلان مراد دي؟

۴_ دلته مفسرين کرام د بخيلانو په باره کښې د نظر اختلاف لري[۴]:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دلته يهودان مراد دي ځکه چې هغوی ته الله ﷻ د خپل فضل څخه د نبي کريم ﷺ په نبوت او صفاتو باندې علم ورکړی وه خو هغوی پرې بخل وکړ او علاوه په پټولو باندې يې تحريف هم ورکړ.

ب: د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې دلته هغه کسان مراد دي چې هغوی په زکات باندې بخل کوي. همدا نظر امام البخاري عليه الرحمة غوره کړی دی چې ذکر شوی ايت شريف يې د زکات په نه ورکوونکو باندې تفسير کړی دی، لکه چې لږ وروسته ـ ان شاء الله ـ راځي.

(۱) التفسير الكبير ج۹ ص۱۱۳
(۲) تفسير القرطبي ج۴ ص۲۹۳
(۳) مفردات الراغب ص۳۹۶
(۴) زاد المسير ج۲ ص۶۳، تفسير المنار ج۴ ص۲۵۸

تبصره

۵ـ په دې کښې شک نشته چې د ایت شریف مفهوم عام دی، د زکات نه ورکوونکو او یهودانو ټولو ته شامل دی. خو مونږ ته داسې ښکاري چې په یهودانو باندې به په عبارة النص سره دلالت کوي، لکه چې راتلونکي ایتونه ورته اشاره کوي، خکه چې هلته خو یقیناً یهودان مراد دي. او په زکات خورو باندې به په اشارة النص سره دلالت کوي.

نو د همدې قاعدې په بناء مونږ وایو چې دغه ایت په یهودانو کښې نص دی چې د همدوی په باره کښې په قصدي توګه نازل شوی دی، او د زکات خورو په باره کښې ظاهر دی خکه چې په مفهوم کښې یې دوی هم په څرګنده توګه شامل دي. نو په دې تقدیر د نظریاتو منافات د منځه ځي او د روایتونو تطبیق لاس ته راځي.

"طوق" څه معنی؟

۶ـ د ﴿ سَيُطَوَّقُونَ ﴾ کلمه اصلا د "طَوْق" څخه اخستله شوې ده او طوق هغه شي ته ویل کېږي چې هغه په غاړه کښې اچول کېږي[١]، لکه د سرو زرو یا سپینو زرو هار چې زنانه یې په غاړو کښې اچوي. همدارنګه هغه رنګه کرښه هم د هار په نامه یادېږي چې د ځینو حیواناتو په غاړو کښې پیدایښي جوړ شوي وي، لکه د پیل مرغ یا د زرکو د غاړو خطونه.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د قیامت په ورځ به بخیلانو ته همغه شی د غاړې هار جوړ کړی شي چې دوی ورباندې بخل کاوه.

دا څنګه غاړکۍ ده؟

۷ـ ځینې مفسرین کرام وايي چې دلته غاړکۍ (د غاړې هار) د ګناه څخه کنایه ده[٢]، یعنې بخیلان به د بخل د ګناه څخه په هیڅ ډول خلاصون ونه مومي ته به وایې چې ګناه ورته غاړکۍ جوړه شوې ده. نو څرنګه چې ګناه دوزخ ته د داخلېدلو سبب دی نو ځکه ترې د اور په غاړکۍ سره هم تعبیر کړی شوی دی[٣].

مګر بهتره دا ده چې غاړکۍ د متبادرې معنی څخه په څنګ نه کړی شي چې په زیاتو ډېرو احادیثو کښې ورباندې صراحت کړی شوی دی[٤]، د هغو ټولو احادیثو څخه مونږ د لنډون په غرض لاندې یو حدیث رانقلوو:

---

(١) مفردات الراغب ص ٣٢٠

(٢) تفسیر المنار ج ۴ ص ٢۵٩

(٣) زاد المسیر ج ٢ ص ۶۴

(۴) تفسیر ابن کثیر ج ١ ص ۴٣٣

د ابو هریره ﷛ په روایت نبي کریم ﷺ یوه ورځې وفرمایل چې: «مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ»[۱]

یعني: هغه څوک چې هغه ته الله ﷻ مال ورکړی وي خو زکات یې ورنه کړي نو د قیامت په ورځ به همدې مالدار ته خپل مال ګنجی مار جوړ کړی شي (چې د زهرو د شدت او د عمر د ډېروالي د کبله به یې سر ګنجی وي) دغه مار به د سترګو دپاسه دوه تور-تور خالونه ولري (چې دا په مارانو کښې ډېره خبیثه نوعه ده)، دغه مار به د مالدار دواړه ولښکي (په خوله باندې) نیسي او ورته به وایي چې زه خو ستا مال یم، زه خو ستا خزانه یم (اوس دې ولې نه خوښېږم).

بیا نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف (د استشهاد په توګه) ولوست.

هو! د دې باک نشته چې فعلا یې مونږ په کیفیت باندې ښه نه پوهېږو. او دا ځکه چې آخرت بېله دنیا ده او کوائف یې هم بېل دي، په اصطلاح وربه شي خبر به شي.

په دې باندې علاوه د دې تفسیر سره اول تفسیر هم څه منافات نه لري چې برسېره په غاړکی د ګناه څخه به یې هم خلاصون ونه مومي.

سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: مخکښې تاسو ولیکل چې مفسرینو کرامو د ﴿ مِن فَضْلِهِ ﴾ کلمه په دوه معناوو باندې تفسیره کړې ده چې یو علم دی او بل مال. مال خو مادي شی دی نو څه لرې نه ده چې د قیامت په ورځ ترې مار جوړ کړی شي او د مالدار د غاړې هار شي، اما علم خو معنوي څیز دی نو د مار جوړېدنه ترې لرې لرې برېښي؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، تول دنیا یې د نشت څخه پیدا کړې ده نو د ده ﷻ د قدرت سره دا خبره هیڅ لرې نه ده چې معنوي شی د مادي شي په څېره باندې د قیامت په ورځ ښکاره کړي.

دا خبره په هغه حدیث کښې ډېره ښه واضحه شوې ده چې د قیامت په ورځ به هر خائن لره د خیانت څخه بېرغ جوړ شي او د خیانت په اندازه به یې په کوناتي باندې ربېږي[۲]، نو دلته اګر که خیانت معنوي شی دی خو د قیامت په ورځ به ترې مادي بېرغ جوړ کړی شي.

تول دنیا الله ﷻ ته پاتې ده

۹_ که څه هم د "میراث" کلمه اصلا په هغه مال کښې استعمالېږي چې مالک یې وفات شي او ملکیت یې غیر مالک ته ورانتقال شي، خو په دې مقام کښې د هغه حالت څخه په میراث باندې


(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۵
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۷

تعبیر کړی شوی دی چې ټول مخلوقات مړه شي او الله ﷻ د خپل ځانه سره ووایي چې: ﴿ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ [غافر: ١٦] یعني: نن ورځ پاچاهي چا لره ده؟ خاص الله ﷻ لره ده چې واحد (لا شریک) او غالب دی. او دا ځکه چې په دغې ورځ کښې د خلکو ظاهري تصرفات اختتام مومي او هیڅوک د ملکیت دعوه نه شي کولی، لکه چې د مړي ټول تصرفات ختم او خوله یې په مرګ باندې بنده شي چې د ظاهري ملکیت دعوه هم نه شي کولی.

په همدې ځای دوهم ټوک د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

د دوهم ټوک محتویات

آل عمران (۳)





کفایت دینی کتب خانہ
رابطہ نمبر
کفایت اللہ ٹیلی گرام واٹس
ایپ نمبر
+923247442395
واٹس ایپ
+923052488551